# مشکوٰة المصابیح

عربي - پښتو

امام ولی الدین الخطیب محمد بن عبدالله

الخطیب التبریزی رحمه الله

Maktaba Tul Ishaat

تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

| | | |
|---|---|---|
| تفاسیر | خطبات | منطق |
| احادیث | سیرت | معانی |
| فقہ | تاریخ | تصوف |
| سوانح حیات | صرف | تقابل ادیان |
| درس نظامی | نحو | تجوید |
| لغت | فلسفہ | نعت |
| فتاوی | حکمت | تراجم |
| اصلاحی | بلاغت | تبلیغ و دعوت |
| آڈیو دروس | مناظرے | تمام فنون |

Contact Us: maktaba.tul.ishaatofficial.com

# مشكوٰة المصابيح

(څلورم جلد)

۴

- كتاب الصيد والذبائح
- كتاب الاطعمة
- كتاب اللباس
- كتاب الطب
- كتاب الرؤيا
- كتاب الادب
- كتاب الرقاق

تاليف

امام ولي الدين محمد بن عبدالله
الخطيب العمري التبريزي رحمه الله

صداقت كتب خانه
ارک بازار، کندهار

د چاپ حقوق په خپرندوی اړه لري

**د کتاب پېژندنه :**

- ❖ د کتاب نوم :: مشكوة المصابيح
- ❖ مصنف :: امام ولي الدين محمد بن عبدالله الخطيب
- ❖ تصحیح کوونکي :: ملا محمد ابراهيم ،محمد اسماعيل او مولوي احمدزي صاحب
- ❖ خپرندوی :: **صداقت کتب خانه ، کندهار**
- ❖ کمپوزر :: محمد رسول سعيد
- ❖ ډيزاين :: محمد عمر
- ❖ جلد :: څلورم
- ❖ چاپکال :: ۱۳۹۰ ش – ۱۴۳۲ ق
- ❖ چاپشمېر :: ۱۰۰۰ توکه

**د ترلاسه کولو پته:**

**صداقت خپرندویه ټولنه**

ارگ بازار ، کندهار – افغانستان ،

اړيکي : ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷

ایمیل ادرس :

sadaqat.books@yahoo.com

Sadaqat.books@gmail.com

**په کوټه کې د ترلاسه کولو پته:**

**مکتبه سلطانيه** ، کاسي روډ ، کوټه -پاکستان ، مسؤل :

حاجي سلطان محمد –

تلیفون : ۰۳۳۳۷۸۸۳۰۰۰

امين الله امين : ۰۳۰۱۳۷۳۷۰۳۰

# فهرست مضامین

## مشکوة المصابیح جلد (۴)


| شمیره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| | **کتاب الصید والذبائح** | |
| ۱ | د ښکار او حلال سوو حیوانانو بیان | ۱ |
| ۲ | د سپیانو بیان | ۱۱ |
| ۳ | د حلالو او حرامو حیوانانو بیان | ۱۳ |
| ۴ | د عقیقې بیان | ۲۵ |
| | **کتاب الاطعمة** | |
| ۵ | د خوراکونو بیان | ۲۹ |
| ۶ | د مېلمستیا بیان | ۵۰ |
| ۷ | د مجبورتیا د خوراک بیان | ۵۸ |
| ۸ | د څیښلو د شیانو بیان | ۵۹ |
| ۹ | دخوړو اوبو او د خرماوو د اوبو بیان | ۶۵ |
| ۱۰ | د لوښو او وغیره پټولو بیان | ۶۷ |
| | **کتاب اللباس** | |
| ۱۱ | د جامو بیان | ۷۱ |
| ۱۲ | د ګوتمې بیان | ۹۱ |
| ۱۳ | د څپلیو بیان | ۹۸ |
| ۱۴ | د ږمونځ کولو بیان | ۱۰۰ |
| ۱۵ | د عکسونو بیان | ۱۲۰ |
| | **کتاب الطب والرقی** | |
| ۱۶ | د طب او جادو بیان | ۱۲۸ |
| ۱۷ | د ښه او بد فال بیان | ۱۴۵ |
| ۱۸ | د فال ویلو بیان | ۱۴۹ |
| | **کتاب الرؤیا** | |
| ۱۹ | د خوبونو بیان | ۱۵۶ |
| | **کتاب الاداب** | |
| ۲۰ | د ادبونو بیان | ۱۶۸ |
| ۲۱ | د سلام بیان | ۱۶۸ |
| ۲۲ | د اجازې غوښتلو بیان | ۱۸۱ |
| ۲۳ | د لاس د روغبړ او د غاړې د روغبړ بیان | ۱۸۴ |
| ۲۴ | د تعظیم لپاره د دریدو بیان | ۱۹۰ |
| ۲۵ | د ناستې، خوب او تګ بیان | ۱۹۳ |
| ۲۶ | د ترچې او ارږمې بیان | ۱۹۹ |
| ۲۷ | د خندا بیان | ۲۰۳ |
| ۲۸ | د نوم ایښودلو بیان | ۲۰۵ |

| شمیره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۲۹ | د بیان او شعر بیان | ۲۱۳ |
| ۳۰ | د ژبې ساتنه، غیبت او بد ویلو بیان | ۲۲۱ |
| ۳۱ | د وعدې بیان | ۲۳۹ |
| ۳۲ | د خوش طبعې مسخرو بیان | ۲۴۲ |
| ۳۳ | د فخر او عصبیت بیان | ۲۴۵ |
| ۳۴ | د نیکۍ او خپلوۍ پاللو بیان | ۲۵۱ |
| ۳۵ | د الله ﷻ پر مخلوق د شفقت او رحمت بیان | ۲۶۳ |
| ۳۶ | د الله ﷻ سره مینه او د الله ﷻ لپاره د مینې کولو بیان | ۲۸۰ |
| ۳۷ | د منعه خبرو، تعلق پرېښودلو، دوستي پرېښودلو او عیب ویلو بیان | ۲۸۸ |
| ۳۸ | په کارونو کې د منعه او زنډ کولو بیان | ۲۹۵ |
| ۳۹ | د نرمۍ، حیاء او ښه اخلاقو بیان | ۲۹۹ |
| ۴۰ | د غصې او تکبر بیان | ۳۰۷ |
| ۴۱ | د ظلم بیان | ۳۱۳ |
| ۴۲ | د نیکۍ حکم کولو بیان | ۳۱۸ |


## كتاب الرقاق


| شمیره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۴۳ | زړه نرمونکي حدیثونه | ۳۲۹ |
| ۴۴ | د فقیرانو فضیلت او د نبي ﷺ د ژوند بیان | ۳۵۳ |
| ۴۵ | د حرص او آرزوګانو بیان | ۳۶۵ |
| ۴۶ | د الله ﷻ د عبادت لپاره د مال او عمر سره مینه کولو بیان | ۳۷۰ |
| ۴۷ | د توکل او صبر بیان | ۳۷۵ |
| ۴۸ | د ریا او شهرت بیان | ۳۸۳ |
| ۴۹ | د ژړا او بیرې بیان | ۳۹۱ |
| ۵۰ | د خلکو د حالاتو د بدلون بیان | ۴۰۰ |
| ۵۱ | د بیرولو او نصیحت کولو بیان | ۴۰۴ |

# كِتَابُ الصَّيْدِ وَالذَّبَائِح

## (د ښکار او حلال سوو حيوانانو بيان)

## لومړى فصل

### د سپي او غشي ښکار

﴿۳۸۸۷﴾: عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرْسَلْتَ كَلْبَكَ فَاذْكُرْ اسْمَ اللّٰهِ فَإِنْ أَمْسَكَ عَلَيْكَ فَأَدْرَكْتَهُ حَيًّا فَاذْبَحْهُ وَإِنْ أَدْرَكْتَهُ قَدْ قَتَلَ وَلَمْ يَأْكُلْ مِنْهُ فَكُلْهُ وَإِنْ أَكَلَ فَلَا تَأْكُلْ فَإِنَّمَا أَمْسَكَ عَلَى نَفْسِهِ فَإِنْ وَجَدْتَ مَعَ كَلْبِكَ كَلْبًا غَيْرَهُ وَقَدْ قَتَلَ فَلَا تَأْكُلْ فَإِنَّكَ لَا تَدْرِي أَيُّهُمَا قَتَلَ وَإِذَا رَمَيْتَ بِسَهْمِكَ فَاذْكُرْ اسْمَ اللّٰهِ فَإِنْ غَابَ عَنْكَ يَوْمًا فَلَمْ تَجِدْ فِيهِ إِلَّا أَثَرَ سَهْمِكَ فَكُلْ إِنْ شِئْتَ وَإِنْ وَجَدْتَهُ غَرِيقًا فِي الْمَاءِ فَلَا تَأْكُلْ. متفق عليه.

د حضرت عدي بن حاتم ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چي تاسو د روزل سوو سپيانو (په ښكار پسي) د لېږلو اراده وكړئ نو د الله تعالى نوم اخلئ (يعني بسم الله الله اكبر واياست) بيا كه ستا سپى ښكار ونيسي او ته هغه ژوندى تر لاسه كړې نو ذبح يې كړه او كه ښكار مړ تر لاسه كړې او سپي د هغه غوښه خوړلې نه وي نو د هغه غوښه خوره او كه سپي د هغه ښكار څخه څه خوړلي وي نو بيا د هغه ښكار څخه مه خوره ځكه چي هغه سپي د خپل خوراك لپاره ايښي ده ، كه ستا د سپي سره د بل چا سپى هم وي او په دواړو كي يوه سپي ښكار وژلى وي نو د هغه غوښه مه خوره ځكه چي تا ته معلومه نه ده چي په هغوئ كي كوم يوه ښكار وژلى دئ هر كله چي ته پر ښكار غشي ولې نو د الله تعالى نوم اخله بيا كه ښكار يوه ورځ تا ته په لاس درنه سي او په دويمه ورځ ته هغه تر لاسه كړې او په هغه شي كي ستا د غشي نښه موجوده وي نو هغه وخوره كه ستا زړه غواړي، او كه ته ښكار په اوبو كي پروت او مړ تر لاسه كړې نو مه يې خوره كه څه هم په هغه كي د غشي نښه موجوده وي (ځكه چي كيداى سي چي هغه په اوبو سره مړ سوى وي . بخاري او مسلم)

﴿۳۸۸۸﴾: وَعَنْهُ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّا نُرْسِلُ الْكِلَابَ الْمُعَلَّمَةَ قَالَ كُلْ مَا أَمْسَكْنَ عَلَيْكَ قُلْتُ وَإِنْ قَتَلْنَ قَالَ وَإِنْ قَتَلْنَ قُلْتُ وَإِنَّا نَرْمِي بِالْمِعْرَاضِ قَالَ كُلْ مَا خَزَقَ وَمَا أَصَابَ بِعَرْضِهِ فَقَتَلَهُ فَإِنَّهُ وَقِيذٌ

د حضرت عدي بن حاتم ﷺ څخه روايت دئ چي ما وويل: اي دالله رسوله ! موږ روزل سوي سپي په ښكار پسي استوو (يعني د دې څه حكم دئ) رسول الله ﷺ وفرمايل كه هغه سپى ستا لپاره

فَلَا تَأْكُلْ . متفق عليه .

ښکار نیولي وي نو د هغه غوښه خوره ، ما وویل که سپي زما ښکار مړ کړي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : که څه هم مړ یې کړي، ما وویل: موږ د غشي څوکه نه ورته برابروو یعني په پلنوالي یې ولو (نو ایا دا ښکار حلال دئ؟) رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم ښکار چې غشي زخمي کړي هغه خوره او کوم غشي چې د څوکې د خوا څخه نه بلکه د عرض (پلنوالي) له لوري ولګیږي او هغه مړ کړي نو هغه وقید دئ (یعني هغه ښکار دئ چې هغه په لرګي یا ډبرې سره ووژل او مړ سي نو هغه مه خوره). بخاري او مسلم.

(۳۸۸۹): وَعَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ قَالَ قُلْتُ يَا نَبِيَّ اللَّهِ إِنَّا بِأَرْضِ قَوْمٍ أَهْلِ الْكِتَابِ أَفَنَأْكُلُ فِي آنِيَتِهِمْ وَبِأَرْضِ صَيْدٍ أَصِيدُ بِقَوْسِي وَبِكَلْبِي الَّذِي لَيْسَ بِمُعَلَّمٍ وَبِكَلْبِي الْمُعَلَّمِ فَمَا يَصْلُحُ لِي قَالَ أَمَّا مَا ذَكَرْتَ مِنْ آنِيَةِ أَهْلِ الْكِتَابِ فَإِنْ وَجَدْتُمْ غَيْرَهَا فَلَا تَأْكُلُوا فِيهَا وَإِنْ لَمْ تَجِدُوا فَاغْسِلُوهَا وَكُلُوا فِيهَا وَمَا صِدْتَ بِقَوْسِكَ فَذَكَرْتَ اسْمَ اللَّهِ فَكُلْ وَمَا صِدْتَ بِكَلْبِكَ الْمُعَلَّمِ فَذَكَرْتَ اسْمَ اللَّهِ فَكُلْ وَمَا صِدْتَ بِكَلْبِكَ غَيْرِ مُعَلَّمٍ فَأَدْرَكْتَ ذَكَاتَهُ فَكُلْ . متفق عليه

د حضرت ابو ثعلبه خشني رضی الله عنه څخه روایت دئ چې ما وویل: اې د الله رسوله ! موږ په اهل کتاب خلکو کې اوسیږو ایا موږ د هغوئ د لوښو څخه خوراك کوو؟ او موږ د اهل کتاب په مځکه کې اوسیږو چې هلته ښکار زیات دئ او زه په خپله لیندۍ او ناروزل سوو سپیانو او روزل سوو سپیانو سره ښکار کوم په دې کې کوم شی زما لپاره صحیح دئ؟ رسول الله ﷺ را ته وفرمایل : تا چې د اهل کتابو د لوښو کومه یادونه وکړه (ددې په اره دا حکم دئ چې) که نور لوښي وي نو په هغه کې یې مه خوره او که نور لوښي نه وي نو هغه ښه پرېوله او په هغه کې خوراك کوه او کوم شی چې ته په خپل لیندۍ سره ښکار کړې او پر هغه د الله نوم واخلې هغه خوره او کوم حیوان چې په روزل سوو سپیانو سره ښکار کړې او پر هغه دې د الله نوم اخیستی وي نو هغه هم خوره او کوم شی چې په ناروزل سوو سپیانو سره ښکار کړې او هغه ژوندی تر لاسه کړې نو ذبح یې کړه او خوره یې . بخاري او مسلم.

**د بوی ناکه غوښو حکم**

(۳۸۹۰): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَمَيْتَ بِسَهْمِكَ فَغَابَ عَنْكَ فَأَدْرَكْتَهُ فَكُلْهُ مَا لَمْ يُنْتِنْ . رواه مسلم .

د حضرت ابو ثعلبة خشني رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چې ته خپل غشي وچلوئ او ستا ښکار غائب سي او بیا ته هغه تر لاسه کړې (او په هغه کې ستا د غشي نښه موجود وي) نو هغه خوره تر څو

پوري چي ښکار بوی نه وي پيدا کړی . مسلم.

| | |
|---|---|
| (۳۸۹۱): وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي الَّذِي يُدْرِكُ صَيْدَهُ بَعْدَ ثَلَاثٍ فَكُلْهُ مَا لَمْ يُنْتِنْ . رواه مسلم . | د حضرت ابو ثعلبة خشني ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د هغه په اړه چي د ښكار كولو څخه وروسته يې ښكاري په دويمه ورځ تر لاسه |

كړي وفرمايل كه هغه بوی نه وي اخيستی نو هغه خوري. مسلم.

**د نوو مسلمانانو خوراك**

| | |
|---|---|
| (۳۸۹۲): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ هُنَا أَقْوَامًا حَدِيثٌ عَهْدُهُمْ بِشِرْكٍ يَأْتُونَا بِلُحْمَانٍ لَا نَدْرِي يَذْكُرُونَ اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا أَمْ لَا قَالَ اذْكُرُوا أَنْتُمْ اسْمَ اللّٰهِ وَكُلُوا . رواه البخاري . | د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي صحابه كرامو وويل: اې دالله رسوله ! په دغه خاى كي داسي خلك اوسيږي چي د هغوئ د شرك زمانه ډيره نژدې ده (يعني نوي مسلمانان |

سوي دي ) دا خلك موږ ته غوښه راوړي او موږ ته ددې خبر نه وي چي هغوئ د ذبح پر وخت د الله ﷻ نوم اخلي يا نه، رسول الله ﷺ وفرمايل د خوراك پر وخت تاسو بسم الله پر واياست او خورئ يې.بخاري .

**د غير الله په نامه ذبحه حرامه ده**

| | |
|---|---|
| (۳۸۹۳): وَعَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ قَالَ سُئِلَ عَلِيٌّ هَلْ خَصَّكُمْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَيْءٍ فَقَالَ مَا خَصَّنَا بِشَيْءٍ لَمْ يَعُمَّ بِهِ النَّاسَ إِلَّا مَا فِي قِرَابِ سَيْفِي هٰذَا فَأَخْرَجَ صَحِيفَةً فِيهَا لَعَنَ اللّٰهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللّٰهِ وَلَعَنَ اللّٰهُ مَنْ سَرَقَ مَنَارَ الْأَرْضِ وفي رواية من غير منار الارض وَلَعَنَ اللّٰهُ مَنْ لَعَنَ وَالِدَهُ وَلَعَنَ اللّٰهُ مَنْ آوَى مُحْدِثًا . رواه مسلم . | د حضرت ابو طفيل ﷛ څخه روايت دئ چي د حضرت علي ﷛ څخه پوښتنه وسول چي ايا رسول الله ﷺ تاسو (يعني اهل بيت) په يو خاص شي سره خاص كړي او ممتاز كړي ياست ؟ حضرت علي ﷛ وفرمايل: موږ په هيڅ يو خاص شي سره خاص كړل سوي نه يو چي خلكو ته په عامه توگه سره نه وي وركړل سوي البته په دې شي سره يې خاص كړي يو چي زما د توري په |

پوښ كي دننه دي (يعني دا شي موږ ته په خاصه توگه سره راكړل سوي دی مگر زه دا نسم ويلای چي په دې كي كوم احكام دي هغه د عامو مسلمانانو لپاره دي يا خاص زموږ لپاره) په دې ويلو سره حضرت علي ﷛ د توري د پوښ څخه يو كاغذ راوكښی چي په هغه كي ليكلي وه پر هغه چا دي د الله ﷻ لعنت وي چي د الله د نامه څخه پرته د بل چا پر نامه حيوان ذبح كړي او پر هغه چا دي

د الله ﷺ لعنت وي چي د مځکي نښه (د حدودو د نښه ډبري وغيره) پټ کړي ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي پر هغه چا دي د الله ﷺ لعنت وي چي د مځکي په پېژندلو کي تغير او تبديل وکړي او پر هغه چا چي پر خپل پلار لعنت وکړي او پر هغه چا دي د الله لعنت وي چي بدعتي ته پناه ورکړي . مسلم.

### چي په کوم شي سره وينه بهيږي په هغه سره ذبحه

(۳۸۹۴): وَعَنْ رَافِعِ ابْنِ خَدِيْجٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّا لَاقُو الْعَدُوِّ غَدًا وَلَيْسَتْ مَعَنَا مُدًى فَنَذْبَحُ بِالْقَصَبِ قَالَ مَا أَنْهَرَ الدَّمَ وَذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ فَكُلْ لَيْسَ السِّنَّ وَالظُّفُرَ وَسَأُحَدِّثُكَ عَنْهُ أَمَّا السِّنُّ فَعَظْمٌ وَأَمَّا الظُّفُرُ فَمُدَى الْحَبَشِ فَأَصَبْنَا نَهْبَ إِبِلٍ وَغَنَمٍ فَنَدَّ مِنْهَا بَعِيرٌ فَرَمَاهُ رَجُلٌ بِسَهْمٍ فَحَبَسَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِهٰذِهِ الْإِبِلِ أَوَابِدَ كَأَوَابِدِ الْوَحْشِ فَإِذَا غَلَبَكُمْ مِنْهَا شَيْءٌ فَافْعَلُوا بِهِ هٰكَذَا . متفق عليه .

د حضرت رافع بن خديج ؓ څخه روايت دئ چي ما وويل: اې دالله رسوله ! سبا موږ د دښمن سره مقابله کونکي يو او زموږ سره چړې نسته ايا موږ په بانړس سره ذبح وکړو ، رسول الله ﷺ وفرمايل کوم شی چي وينه بيوي او پر کومه ذبيحه چي د الله نوم واخيستل سي هغه خوري، مگر په غاښ او نوك سره ذبح کول صحيح نه دي او ددې دواړو شيانو حال ما تاسو ته بيان کړی دئ، غاښ خو هډوکی دئ او نوك د حبشيانو چړې دي ، د راوي بيان دئ موږ ته د لوټ اوښان او پسونه تر لاسه سول په هغو کي يو اوښ وتښتېدئ يو سړي هغه اوښ په غشي وويشتئ او هغه يې تم کړ ، ددې په ليدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل په ساتل سوو او په کورني اوښانو کي تښتېدونکي او نفرت کونکي اوښان هم وي لکه څرنگه چي ځنګلي حيوانان تښتېدونکي او نفرت کونکي وي هر کله چې په کورني حيوانانو کي وحشت پيدا سي او دواك څخه ووځي نو د هغوئ سره دا عمل کوئ (يعني د ځنګلي حيوان په ډول ښکار او ذبح يې کړئ). بخاري او مسلم.

### په ډبره ذبح سوی حيوان حلال دی

(۳۸۹۵): وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ كَانَ لَهُ غَنَمٌ تَرْعَى بِسَلْعٍ فَأَبْصَرَتْ جَارِيَةٌ لَنَا بِشَاةٍ غَنَمِنَا مَوْتًا فَكَسَرَتْ حَجَرًا فَذَبَحَتْهَا بِهِ فَسَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَهُ بِأَكْلِهَا . رواه البخاري .

د حضرت کعب بن مالك ؓ څخه روايت دئ چي د هغه سره د پسو يوه رمه وه چي پر سلع غونډۍ باندي به څريدل ، يوه ورځ زموږ وينځي يو پسه د مرگ په حالت کي وليدئ نو هغې د ډبري يوه تيره ټوټه راواخيستل او په هغه سره يې ذبح کړ بيا کعب ددې په اره د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه

وکړه ، رسول الله ﷺ د هغه د خوړلو اجازه ورکړه . بخاري.

**په ارامه سره ذبح کول**

| | |
|---|---|
| (۳۸۹۶): وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى كَتَبَ الْإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذَّبْحَ وَلْيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ فَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ. رواه مسلم . | د حضرت شداد بن اوس ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل الله تعالى پر هر شي احسان کول واجب گرځولي دي (يعني د هر شي په ښه طريقه سره د استعمال حکم يې کړی دئ) بيا هر کله چي تاسو (په قصاص وغيره کي) |

خوک وژنئ نو په ښه طريقه يې وژنئ او هر کله چي تاسو ذبح کوئ نو په ښه طريقه ذبح کوئ چي د ذبح کولو لپاره خپله چاړه په ښه ډول تيره کړئ او مذبوح حيوان ته آرام ورکړئ . مسلم.

**په ارامه ذبح کول**

| | |
|---|---|
| (۳۸۹۷): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَى أَنْ تُصْبَرَ بَهِيمَةٌ أَوْ غَيْرُهَا لِلْقَتْلِ . متفق عليه. | د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي دده څخه يې منع کړي ده چي کوم حيوان په ولاړه قتل يا ذبح کړل سي .بخاري او مسلم. |
| (۳۸۹۸): وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَنَ مَنِ اتَّخَذَ شَيْئًا فِيهِ الرُّوحُ غَرَضًا . متفق عليه . | د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ پر هغه سړي لعنت ويلي دئ چي يو ساه |

لرونکي شی په نښه کړل سي. (د ويشتلو لپاره) .بخاري او مسلم.

| | |
|---|---|
| (۳۸۹۹): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَتَّخِذُوا شَيْئًا فِيهِ الرُّوحُ غَرَضًا . رواه مسلم | د حضرت ابن عباس ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په کوم شي کي چي ساه وي هغه نښه مه جوړوئ . مسلم. |

**پر مخ وهل او داغ لګول**

| | |
|---|---|
| (۳۹۰۰): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الضَّرْبِ فِي الْوَجْهِ وَعَنِ الْوَسْمِ فِي الْوَجْهِ . رواه مسلم . | د حضرت جابر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ پر مخ باندي د وهلو څخه يا پر مخ باندي د داغ لګولو څخه منع کړي ده . مسلم. |

| | |
|---|---|
| (۳۹۰۱): وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَيْهِ حِمَارٌ قَدْ وُسِمَ فِي وَجْهِهِ قَالَ لَعَنَ اللّٰهُ الَّذِي وَسَمَهُ . رواه مسلم . | د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دئ چي د رسول الله ﷺ په خوا کي يو خر تير سو چي پر مخ يې داغ لګول سوی وو ، رسول الله ﷺ وفرمايل پر |

هغه سړي دي د الله لعنت وي چي پر ده يې داغ لګولی دئ. مسلم.

**په کوم وخت کي داغ جائز دی**

| | |
|---|---|
| (۳۹۰۲): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ غَدَوْتُ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ لِيُحَنِّكَهُ فَوَافَيْتُهُ فِي يَدِهِ الْمِيسَمُ يَسِمُ إِبِلَ الصَّدَقَةِ . متفق عليه . | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي ما د سهار په وخت کي عبدالله بن ابو طلحه رسول الله ﷺ ته بوتلی چي رسول الله ﷺ خرما وژويي او د هغه پر تالو يې وموږي ما وليدل چي هغه |

وخت د رسو ل الله ﷺ په لاس مبارك کي د داغ ورکولو آله وه چي په هغه سره يې د زکوة اوښانو ته داغ ورکوئ. بخاري او مسلم.

| | |
|---|---|
| (۳۹۰۳): وَعَنْ هِشَامِ بْنِ زَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي مِرْبَدٍ فَرَأَيْتُهُ يَسِمُ شَاةً حَسِبْتُهُ قَالَ فِي آذَانِهَا . متفق عليه . | حضرت هشام بن زيد د حضرت انس ﷺ څخه روايت کوي چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم ، رسول الله ﷺ د حيوانانو د |

ترلو په ځای کي وو ، ما وليدل چي رسول الله ﷺ د پسو يو اندام ته داغ ورکوئ ، د هشام بيان دئ چي زما خيال دئ چي انس وويل چي د پسو غوږونو ته يې داغ ورکوئ. بخاري او مسلم.

## دويم فصل

**چي وينه بهيوي په هغه شي ذبح جائز ده**

| | |
|---|---|
| (۳۹۰۴): وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ إِنْ أَحَدُنَا أَصَابَ صَيْدًا وَلَيْسَ مَعَهُ سِكِّينٌ أَيَذْبَحُ بِالْمَرْوَةِ وَشِقَّةِ الْعَصَا فَقَالَ أَمْرِرِ الدَّمَ بِمَا شِئْتَ وَاذْكُرِ اسْمَ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ . رواه ابوداؤد والنسائي . | د حضرت عدي بن حاتم ﷺ څخه روايت دئ چي ما وويل: اې د الله رسوله! که په موږ کي چا ته ښکار تر لاسه سي او د هغه سره چاړه نه وي نو ايا په ډبره يا لرګي سره هغه ذبح کولای سي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: ته چي په کوم |

شي سره غواړې وينه وبيوه او د ذبح په وخت کي د الله نوم واخله. ابوداؤد او نسائي.

## د تلواري ذبح حکم

| | |
|---|---|
| (۳۹۰۵): وَعَنْ اَبِي الْعَشْرَاءِ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّهُ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَمَا تَكُوْنُ الذَّكَاةُ اِلَّا فِي الْحَلْقِ وَاللَّبَّةِ فَقَالَ لَوْ طَعَنْتَ فِي فَخِذِهَا لَاَجْزَاَ عَنْكَ. رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي وقال ابوداؤد و هذا ذكوة المتردي و قال الترمذي هذا في الضرورة . | حضرت ابو عشراء د خپل پلار ځخه روایت کوي چي هغه وویل: اي دالله رسوله ! ایا ذبح یوازي پر غاره او د سیني په سر کي کیږي. رسول الله ﷺ وفرمایل که ته دښکار په ورانه کي زخم وکړې نو هم ستا لپاره بس ده . |

ترمذي، ابوداؤد، نسائي، ابن ماجة، دارمي، ابوداؤد ویلي دي دا حکم د هغه ښکار لپاره دئ چي په څاه کي لویدلی وي یا د لوړي ځخه را لغړیدلی وي او ترمذي ویلي دي دا حکم پر ضرورت موقوف دئ.

## په تربیه سپي یا باز سره ښکار کول

| | |
|---|---|
| (۳۹۰۶): وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا عَلَّمْتَ مِنْ كَلْبٍ اَوْ بَازٍ ثُمَّ اَرْسَلْتَهُ وَذَكَرْتَ اسْمَ اللّٰهِ فَكُلْ مِمَّا اَمْسَكَ عَلَيْكَ قُلْتُ وَاِنْ قَتَلَ قَالَ اِذَا قَتَلَهُ وَلَمْ يَاْكُلْ مِنْهُ شَيْئًا فَاِنَّمَا اَمْسَكَهُ عَلَيْكَ. رواه ابوداؤد . | د حضرت عدي بن حاتم ؓ ځخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم سپی یا باز چي تا روزلی وي او بیا هغه پر یو ښکار پریږدې او د الله نوم واخلې نو کوم حیوان چي هغه ستا لپاره ونیسي او خپله یې ونه خوري نو هغه ته خوره ، |

ما وویل: که څه هم هغه ښکار مړ کړي؟ رسو ل الله ﷺ وفرمایل: هو که څه هم سپی یا باز ښکار مړ کړي او خپله د هغه ځخه څه ونه خوري نو هغه ستا لپاره نیولی دئ. ابوداؤد.

## په غشي سره د ښکار کولو حکم

| | |
|---|---|
| (۳۹۰۷): وَعَنْهُ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَرْمِي الصَّيْدَ فَاَجِدُ فِيْهِ مِنَ الْغَدِ سَهْمِيْ قَالَ اِذَا عَلِمْتَ اَنَّ سَهْمَكَ قَتَلَهُ وَلَمْ تَرَ فِيْهِ اَثَرَ سَبُعٍ فَكُلْ. رواه ابوداؤد | د حضرت عدي بن حاتم ؓ ځخه روایت دئ چي ما وویل: اي دالله رسوله ! زه پر ښکار غشي ولم بیا په دویمه ورځ په هغه ښکار کي خپل غشي |

تر لاسه کرم ، رسول الله ﷺ وفرمایل که تا ته ددې یقین وسي چي ستا غشي هغه وژلی دئ او په هغه کي د درنده نښنه نه وي نو هغه خوره . ابوداؤد.

## د غیر مسلم د لاس ذبح حلاله نه ده

| | |
|---|---|
| (۳۹۰۸): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نُهِيْنَا عَنْ صَيْدِ كَلْبِ الْمَجُوْسِ . رواه الترمذي . | د حضرت جابر ؓ ځخه روایت دئ چي د مجوسي (د اور عبادت کونکو) د سپي ښکار کړل سوي شیانو |

ځخه موږ منع کړل سوي يو . ترمذي

**د غير مسلم په لوښي کي د خوراک حکم**

| | |
|---|---|
| (۳۹۰۹): وَعَنْ اَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّا أَهْلُ سَفَرٍ نَمُرُّ بِالْيَهُودِ وَالنَّصَارَى وَالْمَجُوسِ فَلَا نَجِدُ غَيْرَ آنِيَتِهِمْ قَالَ فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا غَيْرَهَا فَاغْسِلُوهَا بِالْمَاءِ ثُمَّ كُلُوا فِيهَا وَاشْرَبُوا. رواه الترمذي . | د حضرت ابو ثعلبة خشني ﷺ ځخه روايت دئ چي وويـل اي دالله رسوله ! موږ اکثره وخت سفر کـوو او د يهـودو ، نصـاراوو او مجوسيانو په منځ کي تګ راتګ کوو او د |

هغوئ د لوښو ځخه پرته نور لوښي نه وي، رسول الله ﷺ راته وفرمايل که تاسو نور لوښي تر لاسه نه کړئ نو په اوبو سره هغه ښه پريولئ او بيا په هغه کي خوراک کوئ. ترمذي.

**د اهل کتابو خوراک**

| | |
|---|---|
| (۳۹۱۰): وَعَنْ قَبِيصَةَ بْنِ هُلْبٍ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ طَعَامِ النَّصَارَى و في رواية ساله رجل فقال ان من الطعام طعاما اتحرج منه فقال لَا يَتَخَلَّجَنَّ فِي صَدْرِكَ شَيْءٌ ضَارَعْتَ فِيهِ النَّصْرَانِيَّةَ . رواه الترمذي و ابوداؤد . | حضرت قبيصه بن هلب ﷺ دخپل پلار ځخه روايت کـوي چي مـا د نبـي کـريم ﷺ ځخـه د نصاراوو د خوراک په اره پوښتنه وکړه ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي يو سړي دا پوښتنه وکړه چي په خوراکونو کي يو خوراک داسي وي چي د هغه ځخه زه پرهيز کوم ، |

رسول الله ﷺ راته وفرمايل ستا په زړه کي دي اندېښنه پيدا نه وي ځکه چي د شك او شبې پيدا کېدل د نصرانيت مشابه وي يعني ددې خوراکونو په باره کي ته په خپل زړه کي شکونه رانه ولې پر ظاهر امر باندي عمل کوه . ترمذي او ابوداؤد.

**د مجثمه د خوړلو منع**

| | |
|---|---|
| (۳۹۱۱): وَعَنْ اَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْلِ الْمُجَثَّمَةِ وَهِيَ الَّتِي تُصْبَرُ بِالنَّبْلِ . رواه الترمذي . | د حضرت ابـو درداء ﷺ ځخـه روايـت دئ چـي رسـول الله ﷺ د مجثمـه د خوړلـو ځخـه منـع فرمايلي ده او د مجثمه معنا داده چي حيوان |

مخته ودرول سي او په نښه کولو سره په غشي وويشتل سي . ترمذي.

**هغه ځناور چي خوراک يې حرام دي**

| | |
|---|---|
| (۳۹۱۲): وَعَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ وَعَنْ كُلِّ ذِي مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ | د حضرت عرباض بن ساريه ﷺ ځخه روايت دئ چي د خيبر په ورځ رسول الله ﷺ ددغه شيانو د خوړلو ځخه منع وفرمايل : (۱) په حيوانانو کي |

| | |
|---|---|
| وَعَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ وَعَنْ الْمُجَثَّمَةِ وَعَنْ الْخَلِيسَةِ وَأَنْ تُوطَأَ الْحَبَالَى حَتَّى يَضَعْنَ مَا فِي بُطُونِهِنَّ قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى سُئِلَ أَبُو عَاصِمٍ عَنْ الْمُجَثَّمَةِ فَقَالَ أَنْ يُنْصَبَ الطَّيْرُ أَوْ الشَّيْءُ فَيُرْمَى وَسُئِلَ عَنْ الْخَلِيسَةِ فَقَالَ الذِّئْبُ أَوْ السَّبُعُ يُدْرِكُهُ الرَّجُلُ فَيَأْخُذُهُ مِنْهُ فَيَمُوتُ فِي يَدِهِ قَبْلَ أَنْ يُذَكِّيَهَا . رواه الترمذي . | خيرونكي حيوانان (يعني دارونكي لكه زمري، شـرموښ، گيـدړه، پړانـگ او داسـي نـور) (۲) پنجه دار مرغان يعني كوم مرغان چي په پنجه سره ښكار كوي (لكه باز) (۳) د كورني او ساتل سوي خرونو غوښه (۴) مجثمه (۵) خليسه او رسول الله ﷺ د هغه مينځي سره هم د كوروالي څخه منع كړې ده د كومي چي اميد (حامله |

وي تر څو پوري چي كوچنى يې پيدا نسي ، محمد بن يحيى وايي ابو عاصم څخه د مجثمه د معنا پوښتنه وسول نو هغه وويل مجثمه داده چي مرغان يا بل حيوان مخته ودرول سي او په غشي وويشتل سي ، بيا د خليسه معنا څيني و پوښتل سوه نو هغه وويل چي شرمښ يا بل درنده يو حيوان نيولى وي او د هغه څخه يو څوك هغه حيوان په زور واخلي او بيا هغه حيوان د ذبح كولو څخه مخكي د هغه په لاسونو كي مر سي . ترمذي.

**د ژوندي حيوان پوست ايستل منع دى**

| | |
|---|---|
| (۳۹۱۳): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَأَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ شَرِيطَةِ الشَّيْطَانِ زَادَ ابْنُ عِيسَى وَهِيَ تُذْبَحُ فَيُقْطَعُ منها الْجِلْدُ وَلَا تُفْرَى الْأَوْدَاجُ ثُمَّ تُتْرَكُ حَتَّى تَمُوتَ . رواه ابوداؤد . | د حضرت ابن عباس او ابوهريرة (رضي الله عنهم) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د شريطه شيطان څخـه منـع فرمـايلي ده ، ابـن عيسـى راوي وايـي شريطه شيطان څخه مراد هغه حيوان دئ چي د هغه پوست وكښل سي او ذبح نه كړل سي تر څو چي په خپله مر سي. ابوداؤد. |

**د حيوان د نس چيچي خوړلو حكم**

| | |
|---|---|
| (۳۹۱۴): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ذَكَاةُ الْجَنِينِ ذَكَاةُ أُمِّهِ . رواه ابوداؤد والدارمي و رواه الترمذي عن ابي سعيد . | د حضرت جابر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د مور ذبح كول، د هغې د نـس د چيچي ذبح كول دي (يعني د يو حمل داره |

حيوان حلالولو سره د هغه د نس چيچى هم حلال سي او د هغه خوړل جائز دي ، ابوداؤد ترمذي او دارمي

| | |
|---|---|
| (۳۹۱۵): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَنْحَرُ النَّاقَةَ وَنَذْبَحُ | د حضرت ابو سعيد خدري ؓ څخه روايت دئ چي مونږ وويل: اي دالله رسوله ! مونږ اوښه، غوا |

الْبَقَرَةَ وَالشَّاةَ فَنَجِدُ فِي بَطْنِهَا الْجَنِينَ أَنُلْقِيهِ أَمْ نَأْكُلُهُ قَالَ كُلُوهُ إِنْ شِئْتُمْ فَإِنَّ ذَكَاتَهُ ذَكَاةُ أُمِّهِ . رواه ابوداؤد وابن ماجة .

او پسه ذبح کوو او مور د هغه په نس کي بيا مړ چيچی تر لاسه کړو نو مور هغه وغورځوو او که يې وخورو؟ رسول الله ﷺ وفرمايل که تاسو خوښوئ نو وه يې خورئ ځکه چي د هغه د مور ذبح کول د هغه ذبح کول دي. ابوداؤد او بن ماجه.

**حيوان بې ګټي مه وژنئ**

(۳۹۱۶): وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَتَلَ عُصْفُورًا فَمَا فَوْقَهَا بِغَيْرِ حَقِّهَا سَأَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ عَنْهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ فَمَا حَقُّهَا قَالَ حَقُّهَا أَنْ تَذْبَحَهَا فَتَأْكُلَهَا وَلَا تَقْطَعْ رَأْسَهَا فَيُرْمَى بِهَا . رواه احمد والنسائي والدارمي .

د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي په ناحقه يا پرته د ضرورته يو چوغکه يا تر دې لوی مرغه ووژني الله تعالی به د هغه د قتل پوښتنه ځيني کوي، پوښتنه وسول اي دالله رسوله! د چوغکي وغيره څه حق دئ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل د هغه ذبح کول او خوړل، دا نه چي ببله ګټي سر ځيني پرېکړي او وه يې غورځوي. احمد، نسائي او دارمي.

**د ژوندي حيوان د جسم څخه پرېکړل سوي غوښه مرداره ده**

(۳۹۱۷): وَعَنْ أَبِيْ وَاقِدِ اللَّيْثِيِّ قَالَ قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ وَهُمْ يَجُبُّونَ أَسْنِمَةَ الْإِبِلِ وَيَقْطَعُونَ أَلْيَاتِ الْغَنَمِ فَقَالَ مَا قُطِعَ مِنَ الْبَهِيمَةِ وَهِيَ حَيَّةٌ فَهِيَ مَيْتَةٌ لا توكل . رواه الترمذي و ابوداؤد .

د حضرت ابو واقد ليثي ؓ څخه روايت دئ چي کله رسول الله ﷺ مدينې ته تشريف راوړ هغه وخت په مدينه کي دا رواج وو چي د ژوندو اوښانو قب او د پسو لمان به پرېکېدل او خوړل کېدل به، رسول الله ﷺ وفرمايل کوم شی چي د حيوان د بدن څخه پرېکړل سي او هغه حيوان ژوندی وي نو هغه شی مردار دئ هغه دي نه خوړل کېږي. ترمذي او ابوداؤد.

## دريم فصل

**وينه بيول ضروري دي**

(۳۹۱۸): وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي حَارِثَةَ أَنَّهُ كَانَ يَرْعَى لِقْحَةً بِشِعْبٍ مِنْ شِعَابِ أُحُدٍ فرأى بها الْمَوْتَ فَلَمْ يَجِدْ مَا يَنْحَرُهَا بِهِ فَأَخَذَ وَتِدًا

حضرت عطاء بن يسار ؓ د بني حارث د يو سړي څخه روايت کوي چي هغه يوه اوښه چي لنګېدو ته نژدې وه د احد د غره سره نژدې په يوه دره کي څرول، هغه يوه ورځ په هغه اوښه

فَوَجَأَ بِهِ فِي لَبَّتِهَا حَتَّى أَهْرِيقَ دَمُهَا ثُمَّ أَخْبَرَ رسول الله فَأَمَرَهُ بِأَكْلِهَا. رواه ابوداؤد ومالك و في روايته قال فذكها بشظاظ .

کي د مرګ اثار وليدل هغه ته يو شی په لاس نه ورغلئ چي په هغه سره اوښه حلاله کړي آخر هغه ميخ پورته کړ او د بوك د لوري يې د هغه په سينه کي چخ کړ تر څو چي د هغه وينه يې په ښه ډول و بيول ، بيا ددې پېښي ذکر رسول الله ﷺ ته وکړل سو ، رسول الله ﷺ د هغه د غوښو خوړلو هغه ته اجازه ورکړه . ابوداؤ، مالك، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي هغه سري هغه اوښه په تيره لرګي سره ذبح کړل .

**په دريابي حيوانانو کي ماهي حلال دی**

(۳۹۱۹): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الْبَحْرِ إِلاَّ وَ قَدْ ذَكَّاهَا اللهُ لِبَنِيْ آدَمَ . رواه الدار قطني .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د درياب هر حيوان (چي خوراك يې حلال وي) الله تعالى د خلکو لپاره ذبح کړی دی (يعني پرته د ذبح کولو څخه جائز دئ) . دار قطني.

## بَابُ ذِكْرِ الْكَلْبِ (د سپيانو بيان)

### لومړی فصل

**د شوق سپيان ساتل په ثواب کي کمي راولي**

(۳۹۲۰): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اقْتَنَى كَلْبًا إِلَّا كَلْبَ مَاشِيَةٍ أَوْ ضَارٍ يُنْقِصُ مِنْ عَمَلِهِ كُلَّ يَوْمٍ قِيرَاطَانِ . متفق عليه .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي: څوك چي د حيوانانو د ساتني او ښکار لپاره نه بلکه يوازي د شوق لپاره سپي ساتي د هغه د عمل څخه هره ورځ دوه قيراطه ثواب کميږي . بخاري او مسلم

(۳۹۲۱): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اتَّخَذَ كَلْبًا إِلَّا كَلْبَ مَاشِيَةٍ أَوْ صَيْدٍ أَوْ زَرْعٍ انْتَقَصَ مِنْ أَجْرِهِ كُلَّ يَوْمٍ قِيرَاطٌ . متفق عليه .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د حيوانانو د ساتني ، ښکار کولو او د فصل د ساتني لپاره نه بلکه د شوق په توګه سپی ساتي نو د هغه د ثواب څخه هره ورځ د يو قيراط په اندازه ثواب کميږي . بخاري او مسلم

د سپیانو د وژلو حکم

(۳۹۲۲): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ أَمَرَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَتْلِ الْكِلَابِ حَتّٰى إِنَّ الْمَرْأَةَ تَقْدَمُ مِنَ الْبَادِيَةِ بِكَلْبِهَا فَنَقْتُلُهُ ثُمَّ نَهٰى رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَتْلِهَا وَقَالَ عَلَيْكُمْ بِالْأَسْوَدِ الْبَهِيمِ ذِي النُّقْطَتَيْنِ فَإِنَّهُ شَيْطَانٌ: رواه مسلم.

د حضرت جابر ؓ څخه روایت دئ چي موږ ته رسول الله ﷺ د سپیانو د وژلو حکم راکړ (موږ سپیان وژل پیل کړل) تر څو چي کومه ښځه به د ځنګل څخه راتلل او سپی به د هغې سره وو موږ به هغه هم وژئ، بیا رسول الله ﷺ موږ ددغه ډول سپیانو د وژلو څخه منع کړو (یعني د کومو سپیانو څخه چي د ساتني او ښکار کار اخیستل کیږي) او دا حکم یې راکړ چي پر تاسو د تورو سپیانو وژل واجب دي چي په سترګو کي یې دوه سپین ټکي وي ځکه چي هغه شیطان دئ. مسلم

(۳۹۲۳): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِقَتْلِ الْكِلَابِ إِلَّا كَلْبَ صَيْدٍ أَوْ كَلْبَ غَنَمٍ أَوْ مَاشِيَةٍ. متفق علیه.

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د سپیانو د وژلو حکم وکړ خو دښکارې سپیانو، د پسو د ساتني لپاره او د حیوانانو د ساتني لپاره د سپیانو د وژلو څخه یې منع وفرمایل. بخاري او مسلم.

## دویم فصل

د ټولو سپیانو نه وژل

(۳۹۲۴): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْلَا أَنَّ الْكِلَابَ أُمَّةٌ مِنَ الْأُمَمِ لَأَمَرْتُ بِقَتْلِهَا كلها فَاقْتُلُوا مِنْهَا كُلَّ أَسْوَدَ بَهِيمٍ، رواه ابوداؤد و الدارمي و زاد الترمذي والنسائي وَمَا مِنْ أَهْلِ بَيْتٍ يَرْتَبِطُونَ كَلْبًا إِلَّا نَقَصَ مِنْ عَمَلِهِمْ كُلَّ يَوْمٍ قِيرَاطٌ إِلَّا كَلْبَ صَيْدٍ أَوْ كَلْبَ حَرْثٍ أَوْ كَلْبَ غَنَمٍ.

د حضرت عبدالله بن مغفل ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: که سپیان د قومونو څخه یو قوم نه وای نو ما به ددې ټولو د وژلو حکم کړی وای په هر حال په دې کي یوازې تور سپیان وژنئ. ابوداؤد، دارمي. او ترمذي او نسائي په دې روایت کي دا الفاظ زیات کړي دي چي کوم کورو الا سپی ساتي د هغه د عمل څخه هره ورځ یو قیراط ثواب کمیږي مګر ښکاري سپیان او د فصلونو د ساتني سپي او د رمې سپیان ددې څخه مستثنا دي.

**د حیوانانو جنګول حرام دي**

| | |
|---|---|
| (۳۹۲۵): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ التَّحْرِيشِ بَيْنَ الْبَهَائِمِ . رواه الترمذي وابوداؤد. | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د حیوانانو د جنګولو څخه منع فرمایلي ده (یعني سپیان، چرګان، کرکان وغیره) . ترمذي، ابوداؤد. |

# بَابُ مَا يَحِلُّ اَكْلُهُ وَمَايُحَرَّمُ

## (د حلالو او حرامو حیوانانو بیان)

## لومړی فصل

**ذي ناب درنده حرام دی**

| | |
|---|---|
| (۳۹۲۶): عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ فَأَكْلُهُ حَرَامٌ . رواه مسلم . | د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر خیرونکي درنده (یعني چي هغه په غاښونو سره ښکار کوي) حرام دی . مسلم. |

**په پنجه ښکار کونکو مرغانو غوښي حرامي دي**

| | |
|---|---|
| (۳۹۲۷): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ نَهَى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ وَعَنْ كُلِّ ذِي مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ .رواه مسلم . | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د خیرونکو درندګانو او په پنجه سره د ښکار کونکي مرغانو (د خوراك) څخه منع فرمایلي ده . مسلم. |

**د کورني خره غوښي حرامي دي**

| | |
|---|---|
| (۳۹۲۸): وَعَنْ اَبِيْ ثَعْلَبَةَ قَالَ حَرَّمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لُحُومَ الْحُمُرِ الْاَهْلِيَّةِ . متفق عليه. | د حضرت ابو ثعلبه ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د کورني خرونو غوښه خوړل حرام ګرځولي ده . بخاري او مسلم. |

**د اس حکم**

| | |
|---|---|
| (۳۹۲۹): وَعَنْ جَابِرٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الْاَهْلِيَّةِ وَاَذِنَ فِي لُحُومِ الْخَيْلِ . متفق عليه . | د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د خیبر په ورځ د کورني خرونو د غوښو خوړلو څخه منع وفرمایل او د اسانو د غوښو اجازه یې ورکړه . بخاري او مسلم. |

### د ځنګلي خره غوښي جائز دي

(۳۹۳۰): وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّهُ رَأَى حِمَارًا وَحْشِيًّا فَعَقَرَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ مَعَكُمْ مِنْ لَحْمِهِ شَيْءٌ قَالَ مَعَنَا رِجْلُهُ فَأَخَذَهَا فَأَكَلَهَا . متفق علیه.

د حضرت ابو قتاده ؓ څخه روایت دئ چي هغه یو ځنګلي خر ولیدئ او هغه یې وویشتئ ، بیا رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ایا ستاسره ددغه ځنګلي خره د غوښو څخه یو څه سته ؟ ابو قتاده وویل : یوه پښه یې زموږ سره سته ، رسول الله ﷺ هغه واخیستل او وه یې خوړل . بخاري او مسلم.

### سویګی حلال دئ

(۳۹۳۱): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ أَنْفَجْنَا أَرْنَبًا بِمَرِّ الظَّهْرَانِ فاخذها فاتیت أَبَا طَلْحَةَ فَذَبَحَهَا فَبَعَثَ إِلَى رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِوَرِكِهَا أَوْ فَخِذَيْهَا فَقَبِلَهُ . متفق علیه.

د حضرت انس ؓ څخه روایت دئ چي موږ په مر الظهران نامي خای کي په یوه سویګی پسي وځغاستو ما هغه ونیوئ او ابو طلحه ته مي یووړ نو هغه ذبح کړ او هغه دواړه ورنونه یې او دمچې رسول الله ﷺ ته ولیږل ، رسول الله ﷺ هغه قبول کړل . بخاري او مسلم.

### د سمساري غوښي

(۳۹۳۲): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الضَّبُّ لَسْتُ آكُلُهُ وَلَا أُحَرِّمُهُ . متفق علیه.

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زه نه سمساره خورم او نه یې حراموم . بخاري او مسلم.

(۳۹۳۳): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ دَخَلَ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى مَيْمُونَةَ وَهِيَ خَالَتُهُ وَخَالَةُ ابْنِ عَبَّاسٍ فَوَجَدَ عِنْدَهَا ضَبًّا مَحْنُوذًا فَقَدَّمَتِ الضَّبَّ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَفَعَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ عَنِ الضَّبِّ فَقَالَ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ أَحَرَامٌ الضَّبُّ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ لَا وَلَكِنْ لَمْ يَكُنْ بِأَرْضِ قَوْمِي فَأَجِدُنِي أَعَافُهُ قَالَ خَالِدٌ فَاجْتَرَرْتُهُ فَأَكَلْتُهُ وَرَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْظُرُ إِلَيَّ . متفق علیه .

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روایت دئ چي د حضرت خالد بن ولید ؓ بیان دئ چي هغه د رسول الله ﷺ سره د بي بي میموني کره چي د هغه او د ابن عباس خاله وه داخل سوو . او د هغې سره یوه پخه سوې سمساره وه . بي بي میموني هغه سمساره د رسول الله ﷺ په مخکي کښېښودل ، رسول الله ﷺ خپل لاس مبارک را ایسته کړ (یعني هغه یې ونه خوړل) حضرت خالد ؓ پوښتنه وکړه اې د الله رسوله : ایا سمساره حرامه ده ؟ رسول الله ﷺ ورته

وفرمایل یا ، دا زما د قوم په مخکه کي نه ده له دي کبله زه خیني کرکه کوم ، د حضرت خالد ﷺ بیان دئ چي هغه سمساره ما خپل په لور را کش کړل او وه مي خوړل او رسول الله ﷺ ما ته کتل بخاري او مسلم.

**د چرگ غوښي خوړل حلال دي**

(۳۹۳۴): وَعَنْ اَبِيْ مُوْسٰى قَالَ رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَاْكُلُ لَحْمَ الدُّجَاجِ . متفق علیه.

د حضرت ابو موسی ﷺ څخه روایت دئ چي ما لیدلي دي چي رسول الله ﷺ د چرگ غوښه خوړل. بخاري او مسلم.

**ملخ حلال دئ**

(۳۹۳۵): وَعَنِ ابْنِ اَبِيْ اَوْفٰى قَالَ غَزَوْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ كُنَّا نَاْكُلُ معه الْجَرَادَ . متفق علیه.

د حضرت ابن ابي اوفی ﷺ څخه روایت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ سره په اوو غزاوو کي گډون کړی دئ موږ به د رسول الله ﷺ سره ملخان خوړل. بخاري او مسلم.

**په دریاب کي د مړ سوي ماهي خوراک**

(۳۹۳۶): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ غَزَوْتُ جَيْشَ الْخَبَطِ وَاُمِّرَ اَبُوْ عُبَيْدَةَ فَجُعْنَا جُوْعًا شَدِيْدًا فَاَلْقَى الْبَحْرُ حُوْتًا مَيِّتًا لَمْ نَرَ مِثْلَهٗ يُقَالُ لَهُ الْعَنْبَرُ فَاَكَلْنَا مِنْهُ نِصْفَ شَهْرٍ فَاَخَذَ اَبُوْ عُبَيْدَةَ عَظْمًا مِنْ عِظَامِهٖ فَمَرَّ الرَّاكِبُ تَحْتَهٗ فَلَمَّا قَدِمْنَا ذَكَرْنَا لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ كُلُوْا رِزْقًا اَخْرَجَهُ اللّٰهُ وَاَطْعِمُوْنَا اِنْ كَانَ مَعَكُمْ قَالَ فَاَرْسَلْنَا اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهُ فَاَكَلَهٗ . متفق علیه .

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دئ چي موږ د خبط د یو لښکر سره جهاد وکړ ددې لښکر امیر ابوعبیده وو موږ د لوږي څخه ډېر تنگ سوو په دغه ورځو کي موږ د دریاب پر غاړه یو مړ ماهي تر لاسه کړ دومره لوی ماهي موږ هیڅکله نه وو لیدلی دا ډول ماهي ته عنبر وایي دا ماهي موږ پنځلس ورځي وخوړی . ابوعبیده ﷺ د هغه د هډوکو څخه یو هډوکی واخیستی او هغه یې ودرولئ تر هغه لاندي بسپور سری تیریدای سوای موږ چي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوو نو موږ رسول الله ﷺ ته د هغه یادونه وکړه ، رسول الله ﷺ وفرمایل هغه رزق چي الله تعالی تاسو ته رالیږلی دئ په موږ یې هم وخورئ که د هغه څخه ستاسو سره یو څه وي ، حضرت جابر ﷺ وایي موږ د هغه ماهی څخه یو څه رسول الله ﷺ ته ولیږل چي رسول الله ﷺ هغه وخوړل . بخاري او مسلم

**د مچ په خوراک کي لویدل**

(۳۹۳۷): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلّٰى

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي

| | |
|---|---|
| اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا وَقَعَ الذُّبَابُ فِي إِنَاءِ أَحَدِکُمْ فَلْیَغْمِسْهُ کُلَّهُ ثُمَّ لِیَطْرَحْهُ فَإِنَّ فِي أَحَدِ جَنَاحَیْهِ شِفَاءً وَفِي الْآخَرِ دَاءً . رواه البخاري. | رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي ستاسو په لوښي کي مچ ولويږي نو پکار ده چي مچ ته غوټه ورکړئ او بیا يې راوکاږئ ځکه چي د هغه |

په يوه وزر کي شفا ده او په بل کي ناروغي . بخاري.

**په غوړو کي د مږي لويدلو حکم**

| | |
|---|---|
| (۳۹۳۸): وَعَنْ مَیْمُونَةَ أَنَّ فَأْرَةً وَقَعَتْ فِي سَمْنٍ فَمَاتَتْ فَسُئِلَ رسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنْهَا فَقَالَ أَلْقُوهَا وَمَا حَوْلَهَا وَکُلُوهُ . رواه البخاري. | د حضرت میموني (رض) څخه روایت دئ چي يوه مږه (موږك) په غوړو کي ولويدل ، د هغه په اره د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول ، نو رسول الله ﷺ وفرمایل مږه راوکاږئ او وه يې |

غورځوئ دا شاوخوا غوړي ځيني ليري کړئ او پاته وخورئ. بخاري.

**د مارانو د وژلو حکم**

| | |
|---|---|
| (۳۹۳۹): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّه سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُولُ اقْتُلُوا الْحَیَّاتِ وَاقْتُلُوا ذَا الطُّفْیَتَیْنِ وَالْأَبْتَرَ فَإِنَّهُمَا یَطْمِسَانِ الْبَصَرَ وَیَسْتَسْقِطَانِ الْحَبَلَ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ فَبَیْنَا أَنَا أُطَارِدُ حَیَّةً لِأَقْتُلَهَا نَادَانِي أَبُو لُبَابَةَ لَا تَقْتُلْهَا فَقُلْتُ إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِقَتْلِ الْحَیَّاتِ فَقَالَ إِنَّهُ نَهَی بَعْدَ ذٰلِكَ عَنْ ذَوَاتِ الْبُیُوتِ وَهُنَّ الْعَوَامِرُ . متفق علیه . | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي هغه د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي ماران وژنئ ، (په خاصه توګه) هغه مار چي د هغه پر شا دوې کرښي وي او د تور رنګ وي او هغه مار چي د هغه نوم ابتر دئ (يعني هغه مار چي د هغه لکۍ کوچنۍ وي) ځکه چي دا دواړه ماران بنائي زائل کوي (يعني د دوئ په ليدو سره سړی ړنديږي) او حمل غورځوي ، عبدالله وايي يو وار ما د يو |

مار د وژلو لپاره حمله وکړه نو ابو لبابه راته آواز وکړ خبردار! دا مه وژنه ، ما ورته وويل رسول الله ﷺ د مارانو د وژلو حکم کړی دئ ، هغه وويل رسول الله ﷺ د حکم ورکولو څخه وروسته د هغه مارانو د وژلو څخه منع کړي ده کوم چي په کورونو کي اوسيږي او هغه کورونه ابادونکي دي. بخاري اومسلم.

| | |
|---|---|
| (۳۹۴۰): وَعَنْ أَبِي السَّائِبِ قَالَ دَخَلْنَا عَلَی أَبِي سَعِیدٍ الْخُدْرِيِّ فَبَیْنَا نَحْنُ جُلُوسٌ إِذْ سَمِعْنَا تَحْتَ سَرِیْرِهِ حَرَکَةً فَنَظَرْنَا فَإِذَا فِیهِ حَیَّةٌ فَوَثَبْتُ لِأَقْتُلَهَا وَ | د حضرت ابو سائب ﷺ څخه روایت دئ چي موږ د ابو سعید خدري ﷺ کره ورغلو موږ د هغه په کور کي ناست وو چي د هغه تر تخت لاندي حرکت محسوس سو ، موږ چي وکتل چي مار |

أَبُوْ سَعِيْدٍ يُصَلِّيْ فَأَشَارَ إِلَيَّ أَنْ اجْلِسْ فَجَلَسْتُ فَلَمَّا انْصَرَفَ أَشَارَ إِلَى بَيْتٍ فِي الدَّارِ فَقَالَ أَتَرَى هٰذَا الْبَيْتَ فَقُلْتُ نَعَمْ قَالَ كَانَ فِيهِ فَتًى مِنَّا حَدِيثُ عَهْدٍ بِعُرْسٍ قَالَ فَخَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْخَنْدَقِ فَكَانَ ذٰلِكَ الْفَتَى يَسْتَأْذِنُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَنْصَافِ النَّهَارِ فَيَرْجِعُ إِلَى أَهْلِهِ فَاسْتَأْذَنَهُ يَوْمًا فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُذْ عَلَيْكَ سِلَاحَكَ فَإِنِّي أَخْشَى عَلَيْكَ قُرَيْظَةَ فَأَخَذَ الرَّجُلُ سِلَاحَهُ ثُمَّ رَجَعَ فَإِذَا امْرَأَتُهُ بَيْنَ الْبَابَيْنِ قَائِمَةً فَأَهْوَى إِلَيْهَا بِالرُّمْحِ لِيَطْعُنَهَا بِهِ وَأَصَابَتْهُ غَيْرَةٌ فَقَالَتْ لَهُ اكْفُفْ عَلَيْكَ رُمْحَكَ وَادْخُلِ الْبَيْتَ حَتّٰى تَنْظُرَ مَا الَّذِي أَخْرَجَنِي فَدَخَلَ فَإِذَا بِحَيَّةٍ عَظِيمَةٍ مُنْطَوِيَةٍ عَلَى الْفِرَاشِ فَأَهْوَى إِلَيْهَا بِالرُّمْحِ فَانْتَظَمَهَا بِهِ ثُمَّ خَرَجَ فَرَكَزَهُ فِي الدَّارِ فَاضْطَرَبَتْ عَلَيْهِ فَمَا يُدْرَى أَيُّهُمَا كَانَ أَسْرَعَ مَوْتًا الْحَيَّةُ أَمِ الْفَتَى قَالَ فَجِئْنَا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَذَكَرْنَا ذٰلِكَ لَهُ وَقُلْنَا ادْعُ اللّٰهَ يُحْيِيهِ لَنَا فَقَالَ اسْتَغْفِرُوا لِصَاحِبِكُمْ ثُمَّ قَالَ إِنَّ لِهٰذِهِ الْبُيُوتِ عَوَامِرَ فَإِذَا رَأَيْتُمْ مِنْهَا شَيْئًا فَحَرِّجُوا عَلَيْهَا ثَلَاثًا فَإِنْ ذَهَبَ وَإِلَّا فَاقْتُلُوهُ فَإِنَّهُ كَافِرٌ وَقَالَ لَهُمُ اذْهَبُوا فَادْفِنُوا صَاحِبَكُمْ، وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ إِنَّ بِالْمَدِينَةِ جِنًّا قَدْ أَسْلَمُوا فَإِذَا رَأَيْتُمْ مِنْهُ شَيْئًا فَآذِنُوهُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فَإِنْ بَدَا لَكُمْ بَعْدَ ذٰلِكَ فَاقْتُلُوهُ فَإِنَّمَا هُوَ شَيْطَانٌ . رواه مسلم

دئ زه د هغه ذ وژلو لپاره سمدستي ولاړ سوم هغه وخت ابو سعيد لمونځ كوئ هغه په اشاره سره وويل چي كښينه، كوم وخت چي هغه لمونځ وكړ نو هغه د كور د يوې خونې په لور اشاره وكړه او وه يې ويل تا دا خونه ليدلې ده ؟ ما ورته وويل :هو، حضرت ابو سعيد ﷺ وويل په دغه خونه كي زما د كورنۍ يو زلمي اوسيدئ چي نوی واده يې سوی وو، بيا زه او هغه زلمي د رسول الله ﷺ سره د خندق په غزا كي شريك سوو دا زلمي په غرمه كي د رسول الله ﷺ په اجازه سره كور ته تلئ، يوه ورځ هغه د معمول سره سم د رسول الله ﷺ څخه اجازه واخيستل ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : خپل وسله د ځان سره واخله ځكه چي ما ته د بنو قريظه څخه اندېښنه ده (يعني يهود بني قريظه چي په مدينه منوره كي اوسيدل او دمسلمانانو سره يې معاهده كړې وه) هغه زلمي وسله واخيستل او روان سو ، كله چي هغه كور ته ورسيدئ نو هغه وليدل چي د هغه ښځه (ناوې) د دوو تنبو په منځ كي ولاړه ده هغه د شرم او غيرت څخه متاثره سو (چي د هغه بي بي دباندي ولې ولاړه ده) د هغې په لور يې نيزه پورته كړه چي هغه په ووهي ، بي بي ورته وويل نيزه سنبال كړه او دومره تيزي مه كوه كورته دننه ورسه او وګوره نو درته معلومه به سي چي زه څه شي د كور څخه د باندي را ايستلې يم ، زلمي چي كور ته داخل سو نو يو لوی مار يې وليدئ چي پر بستره باندي يې حلقه جوړه كړې ناست دئ ، زلمي پر هغه په نيزې سره حمله وكړه او مار يې په نيزه كي وپيوئ

بيا د كور ښځه د باندې راووتې او نيزه يې په غولي كې ښخه كړه ، مار پر هغه زلمي حمله وكړل او بيا دا معلومه نه سوه چې په هغوئ كې كوم يو (زلمي كه مار) ژر مړه سو؟ ابو سعيد ﷺ وايي موږ د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر سو تول پېښه مو ورته بيان كړه او رسول الله ﷺ ته مو خواست وكړ چې د الله ښخه دعاء و غواړې چې دا زلمی زموږ په مخكې ژوندی كړي ، رسول الله ﷺ راته وفرمايل د خپل دوست لپاره بخښنه وغواړئ بيا رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ددغه كورونو لپاره ابادونكي دي (يعني مؤمن او كافر پيريان چې دا كورونه آباد ساتي هر كله چې تاسو د هغوئ ښځه يو څوك ووينئ (يعني د مار په شكل كې) نو ورته وواياست چې ته په تنگي كې يې كه بيا راووتلې نو موږ به دې مړ كړو د آئنده لپاره ستا اختيار دئ ، درې واره دا الفاظ ورته وواياست كه هغه ولاړ سي نو خير كنه مړ يې كړئ ځكه چې هغه كافر دئ ، رسول الله ﷺ انصارو ته وفرمايل ولاړ سئ او خپل دوست ښخ كړئ او په يوه روايت كې دا الفاظ دي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل په مدينه كې د پيريانو يوه ډله ده چې مسلمانان سوي دي هر كله چې تاسو په هغوئ څوك (د مار په شكل كې ، ووينئ نو د درو ورځو اجازه وركړئ كه د درو ورځو څخه وروسته بيا ښكاره سي نو مړ يې كړئ ځكه چې هغه شيطان دئ . مسلم.

## د كربوړي وژلو حكم

| | |
|---|---|
| (۳۹۴۱): وَعَنْ أُمِّ شَرِيكٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِقَتْلِ الْوَزَغِ وَقَالَ كَانَ يَنْفُخُ عَلَى إِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ السَّلَام . متفق عليه . | د حضرت ام شريك (رض) ښخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ د وزغ (د كربوړي په دول يو حيوان) د وژلو حكم وركړ او وه يې فرمايل چې دغه |

حيوان به د حضرت ابراهيم ﷺ اور پوكئ . بخاري او مسلم.

| | |
|---|---|
| (۳۹۴۲): وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِقَتْلِ الْوَزَغِ وَسَمَّاهُ فُوَيْسِقًا . رواه مسلم . | د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ ښخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ د كربوړي د وژلو حكم كړی دئ او ددې نوم يې د كوچني فاسق اينبی دئ . مسلم. |

| | |
|---|---|
| (۳۹۴۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَتَلَ وَزَغًا فِي أَوَّلِ ضَرْبَةٍ كُتِبَتْ لَهُ مِائَةُ حَسَنَةٍ وَفِي الثَّانِيَةِ دُونَ ذَلِكَ وَفِي الثَّالِثَةِ دُونَ ذَلِكَ . رواه مسلم . | د حضرت ابوهريرة ﷺ ښخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چې كربوړی په اول گذار (وهلو) مړ كړي د هغه په حساب كې سل نيكی ليكل كيږي او څوك چې يې په دويم |

گذار مر کړي د هغه په حساب کي تر سلو کمي او څوک چي يې په دريم گذار مر کړي نو د هغه په حساب کي تر دې هم کمي نيکى ليکل کيږي. مسلم.

**د ميږي د وژلو مسئله**

| | |
|---|---|
| (۳۹۲۴): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَصَتْ نَمْلَةٌ نَبِيًّا مِنَ الْأَنْبِيَاءِ فَأَمَرَ بِقَرْيَةِ النَّمْلِ فَأُحْرِقَتْ فَأَوْحَى اللّٰهُ إِلَيْهِ أَنْ قَرَصَتْكَ نَمْلَةٌ أَحْرَقْتَ أُمَّةً مِنَ الْأُمَمِ تُسَبِّحُ . متفق عليه . | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : يو ميږي يو نبي وچيچئ هغه نبي حکم وکړ چي د ميږيانو غار دي وسوځل سي ، الله تعالى هغه نبي ته وحي |

راوليږل چي ته خو يوه ميږي وچيچلې نو تا يې ټول قوم وسوزئ چي د الله پاکي يې بيانول . بخاري او مسلم.

## دويم فصل

**په غوړو کي د مږي لويدلو مسئله**

| | |
|---|---|
| (۳۹۲۵): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وَقَعَتِ الْفَأْرَةُ فِي السَّمْنِ فَإِنْ كَانَ جَامِدًا فَأَلْقُوهَا وَمَا حَوْلَهَا وَإِنْ كَانَ مَائِعًا فَلَا تَقْرَبُوهُ . رواه احمد وابوداؤد و رواه الدارمي عن ابن عباس . | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي مږه په غوړو کي ولويږي نو که غوړي يخى وي نو مږه خيني وکاږئ وه يې غورځوئ او په څلورو خواوو کي لږ لږ غوړي وکاږئ (او بيا يې وخورئ) او که |

غوړي ويلي وي نو نژدې مه ورځئ (يعني مه يې استعمالوئ)، احمد، ابوداؤد او دارمي د ابن عباس څخه روايت کړی دئ.

**د سرخاب غوښه**

| | |
|---|---|
| (۳۹۲۶): وَعَنْ سَفِينَةَ قَالَ أَكَلْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَحْمَ حُبَارَى . رواه ابوداؤد . | د حضرت سفينه (رض) څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ سره د سرخاب (يو دول حيوان |

غوښه خوړلې ده . ابوداؤد. (سرخاب ته په فارسي کي چرز او تغدري ويل کيږي).

**مرداري خوړونکي حيوانان حرام دي**

| | |
|---|---|
| (۳۹۲۷): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْلِ الْجَلَّالَةِ | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ د جلالة (مرداري خوړونکي حيوان) د غوښو خوړلو څخه او د هغه د شيدو چيښلو څخه منع |

وَأَلْبَانِهَا . رواه الترمذي و في رواية ابي داؤد وقال نهى عن ركوب الجلالة .

فرمايلي ده . د ابوداؤد په روايت کي دي چي پر جلالة باندي د سپرلۍ څخه هم منع فرمايلي ده . ترمذي

## د سمسارې خوړل حرام دي

(۳۹۴۸): وَعَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ بْنِ شِبْلٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ اَكْلِ لَحْمِ الضَّبِّ . رواه الترمذي .

د حضرت عبدالرحمن بن شبل ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د سمسارې د غوښو خوړلو څخه منع فرمايلي ده . ترمذي.

## د پشي خوړل حرام دي

(۳۹۴۹): وَعَنْ جَابِرٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ اَكْلِ الْهِرَّةِ وَ اَكْلِ ثَمَنِهَا . رواه ابوداؤد والترمذي .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د پشي د خوړلو او د هغې د قيمت خوړلو څخه منع فرمايلي ده . ابوداؤد او ترمذي.

## د خرو، غاترو او درندګانو غوښه حرامه ده

(۳۹۵۰): وَعَنْهُ قَالَ حَرَّمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْنِي يَوْمَ خَيْبَرَ الْحُمُرَ الْاِنْسِيَّةَ وَلُحُوْمَ الْبِغَالِ وَكُلَّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ وَذِي مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د خيبر په ورځ د کورني خرونو، غاترو او هر خيرونکي درنده او په پنجو سره د ښکار کونکو مرغانو غوښه حرامه ګرځولې ده . ترمذي ،

او ترمذي ويلي دي چي دا حديث غريب دئ.

## د اس د غوښو خوړل منع دي

(۳۹۵۱): وَعَنْ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيْدِ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ اَكْلِ لُحُوْمِ الْخَيْلِ وَالْبِغَالِ وَالْحَمِيْرِ . رواه ابوداؤد والنسائي .

د حضرت خالد بن وليد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د آس ، غاترې او خره د غوښې خوړلو څخه منع فرمايلي ده . ابوداؤد او نسائي .

## د معاهد د مال حکم

(۳۹۵۲): وَعَنْهُ قَالَ غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ خَيْبَرَ فَاَتَتِ الْيَهُوْدُ فَشَكَوْا اَنَّ النَّاسَ قَدْ اَسْرَعُوْا اِلٰى حَظَائِرِهِمْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلَا لَا تَحِلُّ اَمْوَالُ الْمُعَاهَدِيْنَ اِلَّا

د حضرت خالد بن وليد ﷺ څخه روايت دئ چي د خيبر په ورځ ما د نبي کريم ﷺ په ملګرتيا کي جهاد وکړ ، يهوديان د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول او دا شکايت يې وکړ چي خلکو د هغوئ د خرماوو په لور تلوار وکړ (يعني

بِحَقِّهَا . رواه ابوداؤد .

خرماوي يې وشكولې رسول الله ﷺ مسلمانانو ته وفرمايل : خبردار! د هغه خلكو مال حلال نه دئ د چا سره چې معاهده سوې ده مگر په حق سره . ابوداؤد. يعني كه ذمي وي جزيه حق ده او كه مستامن وي نو په سوداگرۍ سره يې د مال اخستل روا دي . ابوداؤد.

### ماهي، ملخ، اينه او توري

(۳۹۵۳): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُحِلَّتْ لَنَا مَيْتَتَانِ وَدَمَانِ الْمَيْتَتَانِ الْحُوتُ وَالْجَرَادُ وَ الدَّمَانِ الْكَبِدُ وَالطِّحَالُ . رواه احمد و ابن ماجة والدار قطني .

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : موږ ته دوه مړه بېله حلالولو او دوې وينې حلالې كړل سوي دي مړه خو ماهيان او ملخان دي او دوې وينې اينه او توري دئ. احمد ، ابن ماجه او دار قطني.

### پر وچه پاته ماهيان

(۳۹۵۴): وَعَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَلْقَاهُ الْبَحْرُ أَوْ جَزَرَ عَنْهُ فَكُلُوهُ وَمَا مَاتَ فِيهِ وَطَفَا فَلَا تَأْكُلُوهُ . رواه ابوداؤد وابن ماجه و قال محي السنة الاكثرون على انه موقوف على جابر .

حضرت ابو زبير ؓ د حضرت جابر ؓ څخه روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل : كوم شی چې درياب وغورځوئ يعني ماهي ، يا اوبه وچې سوې يا اوبه په بل لوري ولاړې (او ماهيان پاته سول) نو هغه ماهيان خورئ او كوم ماهيان چې په اوبو كي مړه سي او د اوبو پر سر راسي هغه مه خورئ. ابوداؤد، ابن ماجه ، امام محي السنة ويلي دي چې د اكثرو محدثينو په نزد دا پر حضرت جابر ؓ موقوف دئ.

### د ملخ حكم

(۳۹۵۵): وَعَنْ سَلْمَانَ قَالَ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْجَرَادِ فَقَالَ أَكْثَرُ جُنُودِ اللّٰهِ لَا آكُلُهُ وَلَا أُحَرِّمُهُ . رواه ابوداؤد وقال محي السنة ضعيف .

د حضرت سلمان ؓ څخه روايت دئ چې د نبي كريم ﷺ څخه د ملخانو په اره پوښتنه وسول، رسول الله ﷺ وفرمايل ملخان اكثر د الله لښكر دي نه يې زه خورم (ځكه چې زما زړه يې نه غواړي) او نه يې زه حرام گرځوم . ابوداؤد، محي السنة ويلي دي چې دا حديث ضعيف دئ.

### چرگ ته بد مه واياست

(۳۹۵۶): وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ

د حضرت زيد بن خالد ؓ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ چرگ ته د بد ويلو څخه منع

| | |
|---|---|
| اللّٰهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ سَبِّ الدِّيْكِ وَقَالَ إِنَّهُ يُؤَذِّنُ لِلصَّلَاةِ . رواه في شرح السنة | فرمايلي ده او دا يې فرمايلي دي چې چرگ د لمانځه لپاره اذان کوي . شرح السنة. |
| (۳۹۵۷): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَسُبُّوا الدِّيْكَ فَإِنَّهُ يُوقِظُ لِلصَّلَاةِ . رواه ابوداؤد . | د حضرت زيد بن خالد ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : چرگ ته بد مه واياست څکه چې هغه د لمانځه لپاره ويښول کوي . ابوداؤد. |

**په کور کې بايد د مار سره څرنګه چلن وسي**

| | |
|---|---|
| (۳۹۵۸): وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي لَيْلٰى قَالَ قَالَ أَبُو لَيْلٰى قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا ظَهَرَتِ الْحَيَّةُ فِي الْمَسْكَنِ فَقُولُوا لَهَا إِنَّا نَسْأَلُكِ بِعَهْدِ نُوحٍ وَبِعَهْدِ سُلَيْمَانَ بْنِ دَاوُدَ أَنْ لَا تُؤْذِيَنَا فَإِنْ عَادَتْ فَاقْتُلُوهَا . رواه الترمذي و ابوداؤد . | د حضرت عبد الرحمن بن ابو ليلى ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : په کور کې چې کله مار راووځي هغه ته دا ووایاست چې موږ ستا څخه د حضرت نوح عليه السلام او حضرت سليمان بن داؤد عليه السلام د عهد په ذريعه دا غواړو چې ته موږ ته تکليف مه رسوه |

که ددې څخه وروسته هغه بيا وليدل سو نو مړ يې کړئ. ترمذي او ابوداؤد.

**د مار د انتقام څخه بېرونکي باندې وعيد**

| | |
|---|---|
| (۳۹۵۹): وَعَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَا أَعْلَمُهُ إِلَّا رَفَعَ الْحَدِيْثَ أَنَّهُ كَانَ يَأْمُرُ بِقَتْلِ الْحَيَّاتِ وَقَالَ مَنْ تَرَكَهُنَّ خَشْيَةَ ثَائِرٍ فَلَيْسَ مِنَّا . رواه في شرح السنة . | حضرت عکرمة ﷺ د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت کوي چې رسول الله ﷺ به د مارانو د وژلو حکم کوئ او فرمايل يې چې څوک مار |

ددې انديښنې څخه مړ نه کړي چې دويم مار به د هغه څخه بدل واخلي نو هغه زموږ څخه نه دئ. شرح السنة.

| | |
|---|---|
| (۳۹۶۰): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا سَالَمْنَاهُمْ مُنْذُ حَارَبْنَاهُمْ وَمَنْ تَرَكَ شَيْئًا مِنْهُنَّ خِيفَةً فَلَيْسَ مِنَّا . رواه ابوداؤد . | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د کوم وخت څخه چې موږ د مارانو سره جگړه پيل کړې ده د هغه وخت څخه موږ (هيڅکله) د هغوئ سره صلح نه ده کړې |

څوک چې مار ددې بيرې څخه پرېږدي او مړ يې نه کړي چې هغه به بدله څيني واخلي نو هغه زموږ څخه نه دئ. ابوداؤد.

(۳۹۶۱): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْتُلُوا الْحَيَّاتِ كُلَّهُنَّ فَمَنْ خَافَ ثَأْرَهُنَّ فَلَيْسَ مِنِّي . رواه ابوداؤد والنسائي .

د حضرت ابن مسعود ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: تول ماران وژنئ (یعني هر ډول ماران) څوک چي ددې د بدلې څخه بیرېږي هغه زما څخه نه دئ. ابوداؤد او نسائي.

(۳۹۶۲): وَعَنِ الْعَبَّاسِ قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّا نُرِيدُ أَنْ نَكْنُسَ زَمْزَمَ وَإِنَّ فِيهَا مِنْ هٰذِهِ الْجِنَّانِ يَعْنِي الْحَيَّاتِ الصِّغَارَ فَأَمَرَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَتْلِهِنَّ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روایت دئ چي ما وویل: اې د الله رسوله! زمونږ اراده ده چي د زمزم څاه پاک کړو په هغه کي پیریان یعني کوچني ماران دي. رسول الله ﷺ د هغو د وژلو حکم وکړ. ابوداؤد.

## سپین کوچني ماران مه وژنئ

(۳۹۶۳): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اقْتُلُوا الْحَيَّاتِ كُلَّهَا إِلَّا الْجَانَّ الْأَبْيَضَ الَّذِي كَأَنَّهُ قَضِيبُ فِضَّةٍ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابن مسعود ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: تول ماران وژنئ مګر هغه نري سپین چي د سپینو زرو د لښتی په ډول معلومیږي هغه مه وژنئ. ابوداؤد.

## کله چي په لوښي کي مچ ولوېږي نو هغه ته غوټه ورکړئ او را وه یې کاږئ

(۳۹۶۴): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وَقَعَ الذُّبَابُ فِي إِنَاءِ أَحَدِكُمْ فَامْقُلُوهُ فَإِنَّ فِي أَحَدِ جَنَاحَيْهِ دَاءً وَفِي الْآخَرِ شِفَاءً وَإِنَّهُ يَتَّقِي بِجَنَاحِهِ الَّذِي فِيهِ الدَّاءُ فَلْيَغْمِسْهُ كُلَّهُ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابوهریرة ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي د چا (د خوراک او چیښاک) په لوښي کي مچ ولوېږي نو هغه ته دي غوټه ورکړي څکه چي ددغه په یوه وزر کي ناروغي ده او په دویم کي شفا، مچ هغه وزر په لوښي کي مخکي اچوي په کوم کي چي ناروغي ده له دې کبله هغه باید په لوښي کي غوټه سي. ابوداؤد.

(۳۹۶۵): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا وَقَعَ الذُّبَابُ فِي الطَّعَامِ فَامْقُلُوهُ فَإِنَّ فِي أَحَدِ جَنَاحَيْهِ سَمًّا وَفِي الْآخَرِ شِفَاءً وَإِنَّهُ يُقَدِّمُ

د حضرت ابو سعید خدري ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي د چا په خوراک کي مچ ولوېږي نو هغه ته دي غوټه ورکړي څکه چي د هغه په یوه وزر کي زهر دي او په دویم کي شفاء.

السُمُّ وَ يُؤَخِّرُ الشِّفَاءَ . رواه في شرح السنة .

او مچ زهر والا وزر مخکي اچوي بيا شفاء والا مرحب

**د څلورو حيواناتو وژل منع دي**

(۳۹۶۶): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَتْلِ اَرْبَعٍ مِنَ الدَّوَابِّ النَّمْلَةِ وَالنَّحْلَةِ وَالْهُدْهُدِ وَالصُّرَدِ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د څلورو ډولو حيواناتو د وژلو څخه منع فرمايلې ده : (۱) ميږي (۲) د شاتو مچ موچي (۳) ملا چرگگ (هد هد) (۴) او لاټو (يو ډول مرغى ده چي توره يا توربخونه وي) . ابوداؤد . وژل يې ځکه منع دي چي چوغکي خوري نو په دې خاطر غوښه يې حرامه ده نو چي غوښه يې حرامه سوه نو بې گټې وژل يې منع دي.

## دريم فصل

**حلال او حرام د الله ﷻ کار دئ**

(۳۹۶۷): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ اَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ يَاْكُلُوْنَ اَشْيَاءَ وَيَتْرُكُوْنَ اَشْيَاءَ تَقَذُّرًا فَبَعَثَ اللّٰهُ تَعَالٰى نَبِيَّهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَنْزَلَ كِتَابَهُ وَاَحَلَّ حَلَالَهُ وَحَرَّمَ حَرَامَهُ فَمَا اَحَلَّ فَهُوَ حَلَالٌ وَمَا حَرَّمَ فَهُوَ حَرَامٌ وَمَا سَكَتَ عَنْهُ فَهُوَ عَفْوٌ وَتَلَا { قُلْ لَا اَجِدُ فِيمَا اُوحِيَ اِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلٰى طَاعِمٍ يَطْعَمُهُ اِلَّا اَنْ يَكُوْنَ مَيْتَةً } اَلْآيَةَ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي د جاهليت په زمانه کي خلکو ځيني شيان خوړل او ځيني يې نه خوړل ، بيا الله تعالى خپل نبي راوليږئ او خپل کتاب يې نازل کړ او خپل حلال شيان يې حلال او حرام شيان يې حرام گرځولي دي ، اوس کوم شيان چي الله تعالى حلال کړي دي هغه حلال دي او کوم شيان چي الله تعالى حرام کړي دي هغه حرام دي، او په کوم شي کي چي يې سکوت (چپتيا) اختيار کړي ده هغه معاف دي ، بيا يې دا آيت تلاوت کړ (قل لا اجد...) اې محمد ﷺ ! خلکو ته ووايه کوم شى چي د وحي په ذريعه ما ته راليږل سوى دئ زه په هغه کي هيڅ شى پر خوړونکي حرام بيا نه تر لاسه کوم مگر چي هغه مردار وي . ابوداؤد.

**د خره د غوښي ممانعت**

(۳۹۶۸): وَعَنْ زَاهِرٍ الْاَسْلَمِيِّ قَالَ اِنِّي لَاُوقِدُ تَحْتَ الْقِدْرِ بِلُحُوْمِ الْحُمُرِ اِذْ نَادٰى مُنَادِي رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت زاهر اسلمي ﷺ څخه روايت دئ چي ما د خره غوښه په خپل کټو کي پخول چي د رسول الله ﷺ اعلان کونکي دا اعلان وکړ چي

وَسَلَّمَ يَنْهَاكُمْ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ . رواه البخاري .

رسول الله ﷺ د خرو د غوښو خوړلو څخه منع فرمايلي ده . بخاري.

**د پيريانو دولونه**

(۳۹۶۹): وَعَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ يَرْفَعُهُ اَلْجِنُّ ثَلَاثَةُ أَصْنَافٍ صِنْفٌ لَهُمْ أَجْنِحَةٌ يَطِيْرُوْنَ فِي الْهَوَاءِ وَصِنْفٌ حَيَّاتٌ وَكِلَابٌ وَصِنْفٌ يَحُلُّوْنَ وَيَظْعَنُوْنَ . رواه في شرح السنة .

د حضرت ابو ثعلبه خشني رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي : د پيريانو درې دوله دي يو خو هغه دي چي د هغوئ وزران وي او هغوئ الوځي دويم دول ماران دي او سپيان دي او دريم دول هغه دي چي په كورو كي ديره كيږي هم او كوچ هم كوي . شرح السنة.

## بَابُ الْعَقِيْقَةِ (د عقيقې بيان)

## لومړی فصل

**د عقيقې كولو حكم**

(۳۹۷۰): عَنْ سَلْمَانَ بْنِ عَامِرٍ الضَّبِّيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَعَ الْغُلَامِ عَقِيقَةٌ فَأَهْرِيقُوا عَنْهُ دَمًا وَأَمِيطُوا عَنْهُ الْأَذَى . رواه البخاري .

د حضرت سلمان بن عامر ضبي رضی الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا واوريدل چي د هلك د پيدا كېدو سره عقيقه كول سنت ده د هغه د لوري خون (ذبح) وركړئ او د هغه څخه ضرر من شی ليري كړئ . بخاري .

**تحنيك**

(۳۹۷۱): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُؤْتَى بِالصِّبْيَانِ فَيُبَرِّكُ عَلَيْهِمْ وَيُحَنِّكُهُمْ .رواه مسلم .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ته به ددعاء لپاره كوچني راوستل سو . رسول الله ﷺ به د هغه لپاره د بركت دعاء كول او د هغه د تالو سره به يې ژوول سوي خرما موښول . مسلم.

(۳۹۷۲): وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ أَنَّهَا حَمَلَتْ بِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الزُّبَيْرِ بِمَكَّةَ قَالَتْ فَوَلَدْتُ بِقُبَاءٍ ثُمَّ أَتَيْتُ بِهِ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَضَعْتُهُ

د حضرت اسماء بنت ابي بكر (رض) څخه روايت دئ چي په مكه كي عبد الله بن زبير د هغې په نس سو بيا هغه په قبا كي پيدا سو ، زه د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضره سوم او هغه مي د

| | |
|---|---|
| فِي حَجْرِهِ ثُمَّ دَعَا بِتَمْرَةٍ فَمَضَغَهَا ثُمَّ تَفَلَ فِي فِيهِ ثُمَّ حَنَّكَهُ بِالتَّمْرَةِ ثُمَّ دَعَا وَبَرَّكَ عَلَيْهِ وَكَانَ أَوَّلَ مَوْلُودٍ وُلِدَ فِي الْإِسْلَامِ . متفق عليه . | رسول الله ﷺ په غيږ مبارکه کي کښېښـودئ ، رسول الله ﷺ خرما راوغوښتل هغه يې په خپلو غاښونو مبارك پسته کړل بيا يې د خپل خولي |

مبارکي ناري د عبد الله په خوله کي واچولي او د خرما لعاب يې د هغه د تالو سره ومښلول بيا يې هغه لپاره دعاء وکړه او (بارك الله عليك) يې ورته وويل، عبد الله لومړی کوچنی وو چي د اسلام په عهد کي پيدا سوی دئ. بخاري او مسلم.

## دويم فصل

### د عقيقي د حيوانانو شمېر

| | |
|---|---|
| (۳۹۷۳): عَنْ أُمِّ كُرْزٍ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَقِرُّوا الطَّيْرَ عَلَى مَكِنَاتِهَا قَالَتْ وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ عَنِ الْغُلَامِ شَاتَانِ وَعَنِ الْجَارِيَةِ شَاةٌ لَا يَضُرُّكُمْ أَذُكْرَانًا كُنَّ أَمْ إِنَاثًا . رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي من قوله يقول عن الغلام الى آخره و قال الترمذي هذا حديث صحيح . | د حضرت ام کرز (رض) څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي مرغان د هغوئ په خالو کي په کراره پرېږدئ (يعني د هغوئ خالي مه خرابوئ) او د رسول الله ﷺ څخه مي دا اوريدلي دي چي د هلك په عقيقه کي دوه پسونه او د انجلۍ په عقيقه کي يو پسه او د دوئ په نر او ښځي کي څه تاوان نه رسيږي يعني د نر او ښځي حيوان |

تخصيص نسته. ابوداؤد او ترمذي، او د نسائي په روايت کي د يقول عن الغلام څخه تر آخري پوري دئ. او ترمذي ويلي دي چي دا حديث صحيح دئ.

### د عقيقي اهميت

| | |
|---|---|
| (۳۹۷۴): وَعَنِ الْحَسَنِ عَنْ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْغُلَامُ مُرْتَهَنٌ بِعَقِيقَتِهِ تُذْبَحُ يَوْمَ السَّابِعِ وَ يُسَمَّى وَيُحْلَقُ رَأْسُهُ . رواه احمد والترمذي و ابوداؤد والنسائي لكن في روايتهما رهينة بدل مرتهن و في رواية لاحمد و ابي داؤد يدمي مكان و يسمى و قال ابوداؤد يسمى اصح . | حضرت حسن د سمرة (رض) څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل چي هلك د عقيقي په بدله کي ګرو دئ ، په اوومه ورځ دي پسه ذبح کړي عقيقه دي وکړي د هغه نوم دي کښېږدي او د هغه سر دي وخريي. احمد، ترمذي او ابوداؤد او نسائي دواړو په روايت |

کي د مرتهن پر ځای د رهينة لفظ دئ او د احمد او ابوداؤد په روايت کي د يسمى پر ځای و يدعى

دئ. ابوداؤد ويلي دي چي يسمى زيات صحيح دئ.

**د حضرت حسن ؓ عقيقه**

(۳۹۷۵): وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ الْحُسَيْنِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ قَالَ عَقَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْحَسَنِ بِشَاةٍ وَقَالَ يَا فَاطِمَةُ احْلِقِي رَأْسَهُ وَتَصَدَّقِي بِزِنَةِ شَعْرِهِ فِضَّةً فَوَزَنَتْهُ فَكَانَ وَزْنُهُ دِرْهَمًا أَوْ بَعْضَ دِرْهَمٍ . رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن و اسناده ليس بمتصل لان محمد بن علي بن حسين يدرك على بن ابي طالب .

حضرت محمد بن علي بن حسين ؓ د حضرت علي ؓ څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ د حسن عقيقه په يوه پسه سره وکړه او وه يې فرمايل اي فاطمې! دده سر وخريه او د وريښتانو په وزن سپين زر صدقه کړه ، موږ وريښتان وزن کړل نو هغه يو درهم يا تر د.هم کم وه. ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دئ. ددي حديث اسناد مسلسل او متصل نه دي

څکه چي محمد بن علي بن حسين حضرت علي ابن طالب نه وو لبدلی.

**د حسنينو عقيقه**

(۳۹۷۶): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَقَّ عَنِ الْحَسَنِ وَالْحُسَيْنِ كَبْشًا كَبْشًا . رواه ابوداؤد و عند النسائي كبشين كبشين .

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د حضرت حسن او حضرت حسين رضي الله عنهما عقيقه په يوه يوه پسه سره وکړه

. ابوداؤد، او نسائي د دوو دوو پسونو روايت کړی دئ.

**د عقوق معنا**

(۳۹۷۷): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْعَقِيقَةِ فَقَالَ لَا يُحِبُّ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ الْعُقُوقَ وَكَأَنَّهُ كَرِهَ الِاسْمَ وَ قَالَ مَنْ وُلِدَ لَهُ وَلَدٌ فَأَحَبَّ أَنْ يَنْسُكَ عَنْهُ فَلْيَنْسُكْ عَنِ الْغُلَامِ شَاتَانِ وَعَنِ الْجَارِيَةِ شَاةٌ . رواه ابوداؤد والنسائي .

حضرت عمرو بن شعيب ؓ د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ څخه د عقيقي د مسئلي په اره وپوښتل سوه ، رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى عقوق نه خوښوي (د عاق معنا ده نافرماني کونکی) مطلب رسول الله ﷺ د عقوق لفظ بد ګڼئ بيا

رسول الله ﷺ وفرمايل د چا چي کوچنی پيدا سي نو غوره داده چي د هغه د لوري ذبح وکړي يعني د هلك د لوري دوه پسونه او د انجلۍ د لوري يو پسه . ابوداؤد او نسائي.

**د کوچني په غوږکي اذان سنت دی**

(۳۹۷۸): وَعَنْ أَبِي رَافِعٍ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ

د حضرت ابو رافع ؓ څخه روايت دئ چي ما وليدل

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَذَّنَ فِي أُذُنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ حِينَ وَلَدَتْهُ فَاطِمَةُ بِالصَّلَاةِ . رواه الترمذي و ابوداؤد وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح .

كله چې حسن بن علي ﷺ د بي بي فاطمې رضي الله عنها څخه وزېږېد نو رسول الله ﷺ د لمانځه په دول د هغه په غوږ كې آذان وكړ . ترمذي او ابوداؤد .ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دى.

## دريم فصل

### د عقيقې ورځ

(۳۹۷۹): عَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ كُنَّا فِي الْجَاهِلِيَّةِ إِذَا وُلِدَ لِأَحَدِنَا غُلَامٌ ذَبَحَ شَاةً وَلَطَخَ رَأْسَهُ بِدَمِهَا فَلَمَّا جَاءَ اللّٰهُ بِالْإِسْلَامِ كُنَّا نَذْبَحُ شَاةً يوم السابع وَنَحْلِقُ رَأْسَهُ وَنَلْطَخُهُ بِزَعْفَرَانٍ . رواه ابوداؤد وَ زَادَ رزين و نُسَمِّيْهِ .

د حضرت بريدة ﷺ څخه روايت دئ چې د جاهليت په ورځو كې كله چې به په موږ كې د يو چا كوچنى پيدا سو نو يو پسه به يې ذبح كوئ او د هغه په وينه به يې د كوچني سر لړى ، بيا چې اسلام راغلى نو موږ به اوومه ورځ پسه ذبح كوئ د كوچني سر به مو خروئ او سر به مو په ميده زعفران ورلړى . ابوداؤد ، رزين په خپل روايت كې دا الفاظ زيات كړي دي او موږ به د هغه نوم اېښودى .

# كِتَابُ الْاَطْعِمَةِ

## (دَخوراكونو بيان)

## لومړى فصل

**د خوراک دري ادبونه**

| | |
|---|---|
| (۳۹۸۰): عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ قَالَ كُنْتُ غُلَامًا فِي حَجْرِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَتْ يَدِي تَطِيشُ فِي الصَّحْفَةِ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِّ اللّٰهَ وَكُلْ بِيَمِينِكَ وَكُلْ مِمَّا يَلِيكَ . متفق عليه | د حضرت عمر بن ابي سلمة ﷺ څخه روايت دئ چي زه كوچنى وم او د رسول الله ﷺ په روزنه كي وم زما لاس به په كاسه كي آخوا ديخوا كيدئ ، رسول الله ﷺ (يوه ورځ) ما ته وفرمايل بسم الله وايه، په راسته لاس سره خوره او د خپل مخ |

څخه خوراك كوه. بخاري او مسلم.

**په بسم الله سره دخوراک پيل كولو اهميت**

| | |
|---|---|
| (۳۹۸۱): وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَسْتَحِلُّ الطَّعَامَ أَنْ لَا يُذْكَرَ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ . رواه مسلم . | د حضرت حذيفة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كه پر خوراك باندي د الله نوم وانه خيستل نو شيطان د ځان لپاره هغه خوراك حلال گڼي . مسلم. |
| (۳۹۸۲): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الرَّجُلُ بَيْتَهُ فَذَكَرَ اللّٰهَ عِنْدَ دُخُولِه وَعِنْدَ طَعَامِه قَالَ الشَّيْطَانُ لَا مَبِيتَ لَكُمْ وَلَا عَشَاءَ وَإِذَا دَخَلَ فَلَمْ يَذْكُرِ اللّٰهَ عِنْدَ دُخُولِه قَالَ الشَّيْطَانُ أَدْرَكْتُمُ الْمَبِيتَ وَإِذَا لَمْ يَذْكُرِ اللّٰهَ عِنْدَ طَعَامِه قَالَ أَدْرَكْتُمُ الْمَبِيتَ وَالْعَشَاءَ . رواه مسلم . | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي څوك خپل په كور كي داخل سي او په كور كي په قدم ايښودولو سره الله ﷻ ياد كړي او د خوراك پر وخت هم نو په داسي كولو سره شيطان خپلو ملگرو ته وايي ځئ په دې كور كي نه خو تم ځاى سته او نه خوراك، او څوك چي داسي په كور كي داخل |

سي چي الله ياد نه كړي نو شيطان وايي تم ځاى خو مو تر لاسه كړ او كله چي د خوراك په وخت كي د الله ﷻ نوم وانخلي نو شيطان وايي تم ځاى او خوراك دواړه تر لا سه سول . مسلم.

## په راسته لاس خوراک

| | |
|---|---|
| (۳۹۸۳): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اَكَلَ اَحَدُكُمْ فَلْيَاكُلْ بِيَمِينِهِ وَإِذَا شَرِبَ فَلْيَشْرَبْ بِيَمِينِهِ . رواه مسلم . | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي په تاسو کي يو کس خوراك کوي نو په راسته لاس دي خوراك کوي |

او هر کله چي چېښل کوي نو په راسته لاس دي چېښل کوي . مسلم.

## په چپه لاس د خوراک ممانعت

| | |
|---|---|
| (۳۹۸۴): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَاْكُلَنَّ اَحَدٌ مِنْكُمْ بِشِمَالِهِ وَلَا يَشْرَبَنَّ بِهَا فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَاْكُلُ بِشِمَالِهِ وَيَشْرَبُ بِهَا . رواه مسلم . | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هيڅوك دي په چپه لاس سره يو شی نه خوري او نه چېښي څکه چي شيطان په چپه لاس سره خوري او چېښي . مسلم |

## په درو گوتو خوراک سنت دی

| | |
|---|---|
| (۳۹۸۵): وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قال كان رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَاْكُلُ بِثَلٰثَةِ اَصَابِعَ وَ يَلْعَقُ يَدَهُ قَبْلَ اَنْ يَمْسَحَهَا. رواه مسلم . | د حضرت کعب بن مالك ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به په درو گوتو سره خوراك کوئ (يعني بتي گوتي سره، د شهادت په گوته سره |

او په منځنۍ گوته سره) او د لاس وچولو يا پريوللو څخه تر مخه به يې لاس څټئ. مسلم.

| | |
|---|---|
| (۳۹۸۶): وَعَنْ جَابِرٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَمَرَ بِلَعْقِ الْاَصَابِعِ وَالصَّحْفَةِ وَقَالَ اِنَّكُمْ لَا تَدْرُوْنَ فِي اَيِّهِ الْبَرَكَةُ . رواه مسلم . | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ د گوتو او کاسې څټلو حکم وکړ او وه يې فرمايل تاسو نه پوهيږئ چي په کومي گوتي يا گولې کي برکت دئ . مسلم. |

| | |
|---|---|
| (۳۹۸۷): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا اَكَلَ اَحَدُكُمْ فَلَا يَمْسَحْ يَدَهُ حَتّٰى يَلْعَقَهَا اَوْ يُلْعِقَهَا . متفق عليه. | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي څوك ډوډۍ خوري نو د لاسونو وچولو يا پريوللو څخه |

ترمخه دي يې وڅټي يا په بل چا دي يې و څټي ، بخاري او مسلم.

## كه ګوله ايله سي نو بايد پاكه يې كړي او وه خوري

(۳۹۸۸): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَحْضُرُ أَحَدَكُمْ عِنْدَ كُلِّ شَيْءٍ مِنْ شَأْنِه حَتّٰى يَحْضُرَهُ عِنْدَ طَعَامِه فَإِذَا سَقَطَتْ مِنْ أَحَدِكُمُ اللُّقْمَةُ فَلْيُمِطْ مَا كَانَ بِهَا مِنْ أَذًى ثُمَّ لِيَأْكُلْهَا وَلَا يَدَعْهَا لِلشَّيْطَانِ فَإِذَا فَرَغَ فَلْيَلْعَقْ أَصَابِعَهُ فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي فِي أَيِّ طَعَامِه تَكُونُ الْبَرَكَةُ. رواه مسلم .

د حضرت جابر ﷛ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي ستاسو په هر كار كي شيطان ستاسو سره موجود وي تر دې چي د خوراك كولو په وخت كي هم هر كله چي په تاسو كي د يو چا څخه ګوله ايله سي نو هغه ته پكار ده چي هغه پورته كړي ، پاكه يې كړي او وه يې خوري او د شيطان لپاره هغه پرې نه ږدي او هر كله چي خوراك كوي نو ګوتي دې وڅټي ځكه چي هغه ته نه ده معلومه چي د خوراك په كومه برخه كي بركت دئ. مسلم.

## په تكيه كولو سره خوراك منع دي

(۳۹۸۹): وَعَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا آكُلُ مُتَّكِئًا . رواه البخاري .

د حضرت ابو حجيفة ﷛ څخه روايت دئ چي نبي كريم ﷺ فرمايلي دي زه په تكيه لګولو سره خوراك نه كوم. بخاري.

## د نبوي خوراك طريقه

(۳۹۹۰): وَعَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ مَا أَكَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى خِوَانٍ وَلَا فِي سُكُرُّجَةٍ وَلَا خُبِزَ لَهُ مُرَقَّقٌ قِيلَ لِقَتَادَةَ عَلَى مَا يَأْكُلُونَ قَالَ عَلَى السُّفَرِ . رواه البخاري .

حضرت قتادة ﷛ د حضرت انس بن مالك ﷛ څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ هيڅكله پر خوانچه (مجمه) باندي ډوډۍ نه ده خوړلې او نه يې په ركيبۍ كي او نه د رسول الله ﷺ لپاره نرمه ډوډۍ پخه سوې ده . د قتاده څخه پوښتنه وسول نو بيا پر څه شي باندي رسول الله ﷺ ډوډۍ خوړل ، هغه وويل پر دسترخوان باندي . بخاري .

## د نبي كريم ﷺ خوراك

(۳۹۹۱): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ مَا أَعْلَمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَغِيفًا مُرَقَّقًا حَتّٰى لَحِقَ بِاللّٰهِ وَلَا رَأَى شَاةً سَمِيطًا بِعَيْنِه قَطُّ . رواه البخاري .

د حضرت انس ﷛ څخه روايت دئ چي ما ته نه ده معلومه چي رسول الله ﷺ د خپل وفات پوري چپاتي (نرمه ډوډۍ) ليدلې وي او نه رسول الله ﷺ دم پخته پسه ليدلى دئ چي د هغه د سترګو په مخكي دم پخته كړل سوى وي . بخاري.

## د نبي کریم ﷺ ژوند

(۳۹۹۲): وَعَنْ سَهْلَ بْنَ سَعْدٍ قَالَ مَا رَأَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّقِيَّ مِنْ حِينَ ابْتَعَثَهُ اللَّهُ حَتَّى قَبَضَهُ اللَّهُ قَالَ مَا رَأَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْخُلًا مِنْ حِينَ ابْتَعَثَهُ اللَّهُ حَتَّى قَبَضَهُ اللَّهُ قِيل كَيْفَ كُنْتُمْ تَأْكُلُونَ الشَّعِيرَ غَيْرَ مَنْخُولٍ قَالَ كُنَّا نَطْحَنُهُ وَنَنْفُخُهُ فَيَطِيرُ مَا طَارَ وَمَا بَقِيَ ثَرَّيْنَاهُ فَأَكَلْنَاهُ . رواه البخاري .

د حضرت سهل بن سعد ﷺ څخه روایت دئ چي د کله څخه رسول الله ﷺ ته نبوت ورکړل سوی دئ د هغه وخت څخه تر آخر عمر پوري رسول الله ﷺ هيڅکله ميده نه ده ليدلي (يعني د ميدې څخه تيار کړل سوی شی یې نه دی خوړلي او نه يې د نبوت څخه تر وفات پوري غلبيل ليدلی دئ (يعني بې چڼه اوړه يې خوړل د سهل بن سعد ﷺ څخه پوښتنه وسول چي تاسو به پرته د چڼ کولو څخه د اوربشو ډوډی څنګه خوړل هغه وويل موږ به اوربشي تکولې او په پوه کولو سره به مو ځيني بوس په هوا کول، بيابه مو اوړه واغږل او د هغه ډوډی به مو پخول او خوړل. بخاري.

## نبي ﷺ خوراک ته بد نه دي ويلي

(۳۹۹۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ مَا عَابَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا قَطُّ إِنِ اشْتَهَاهُ أَكَلَهُ وَ انْ كَرِهَهُ تَرَكَهُ . متفق عليه .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ هيڅکله يو خوراک ته بد نه دي ويلي او نه يې بد ګڼلی دئ که خواهش به يې وو نو خوړل به يې او که رغبت به يې نه وو نو پرېښودل به يې . بخاري او مسلم

## مؤمن په يوه کولمه او کافر په اوو کولمو خوراک کوي

(۳۹۹۴): وَعَنْهُ أَنَّ رَجُلًا كَانَ يَأْكُلُ أَكْلًا كَثِيرًا فَأَسْلَمَ وَكَانَ يَأْكُلُ قَلِيلًا فَذُكِرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ الْمُؤْمِنَ يَأْكُلُ فِي مِعًى وَاحِدٍ وَالْكَافِرَ يَأْكُلُ فِي سَبْعَةِ أَمْعَاءٍ، رواه البخاري و روى مسلم عن ابي موسى وابن عمر المسند منه فقط و في اخرى له عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَافَهُ ضَيْفٌ وَهُوَ كَافِرٌ فَأَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَاةٍ فَحُلِبَتْ فَشَرِبَ حِلَابَهَا ثُمَّ أُخْرَى فَشَرِبَهُ ثُمَّ أُخْرَى فَشَرِبَهُ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړي به ډير خوراک کوئ بيا هغه مسلمان سو او کم به يې خوړل ، نبي کريم ﷺ ته د هغه يادونه وسول نو رسول الله ﷺ وفرمایل : مؤمن په يوې کولمې سره خوراک کوي او کافر په اوو کولمو سره خوراک کوي . بخاري. او مسلم د حضرت موسی او حضرت ابن عمر څخه يوازي دده مسند روايت کړی دئ د مسلم په يو بل روايت کي چي د ابوهريرة څخه منقول دئ دا الفاظ دي چي يو کافر د سول الله ﷺ ميلمه سو ، رسول الله

حَتّٰى شَرِبَ حِلَابَ سَبْعِ شِيَاهٍ ثُمَّ إِنَّهُ أَصْبَحَ فَأَسْلَمَ فَأَمَرَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَاةٍ فحلبت فشرب ثُمَّ أَمَرَ بِأُخْرَى فَلَمْ يَسْتَتِمَّهَا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُؤْمِنُ يَشْرَبُ فِي مِعًى وَاحِدٍ وَالْكَافِرُ يَشْرَبُ فِي سَبْعَةِ أَمْعَاءٍ .

ﷺ د يوې ميږې د لوشلو حکم وکړ نو هغه ولوشل سول او هغه ميلمه تولي شيدې وچښلې ، بيا د دويمې ميږې شيدې ولوشل سوې د هغه تولې شيدې هم وچښل سوې داغسې هغه د اوو ميږو شيدې وچښلې، سبا ته هغه کافر مسلمان سو ، رسول الله ﷺ د هغه لپاره د يوې ميږې د لوښلو حکم وکړ ، شيدې راوړل سوې هغه شيدې وچښلې بيا دويمه ميږه ولوشل سوه او د هغې تولې شيدې هغه ونه چښلې ، رسول الله ﷺ وفرمايل مؤمن په يوې کولمې سره چښل کوي او کافر په اوو کولمو سره چښل کوي .

### د دو خوراک د درو کسانو بس دئ

(۳۹۹۵): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامُ الِاثْنَيْنِ كَافِي الثَّلَاثَةِ وَطَعَامُ الثَّلَاثَةِ كَافِي الْأَرْبَعَةِ . متفق عليه .

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي د دوو کسانو خوراک د درو کسانو لپاره بس دئ او د درو کسانو خوراک د څلورو لپاره بس دئ. بخاري او مسلم.

(۳۹۹۶): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ طَعَامُ الْوَاحِدِ يَكْفِي الِاثْنَيْنِ وَطَعَامُ الِاثْنَيْنِ يَكْفِي الْأَرْبَعَةَ وَطَعَامُ الْأَرْبَعَةِ يَكْفِي الثَّمَانِيَةَ . رواه مسلم .

د حضرت جابر ؓ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي د يوه کس خوراک د دوو لپاره بس دئ او د دوو کسانو خوراک د څلورو کسانو لپاره بس دئ او د څلورو کسانو خوراک د اتو کسانو لپاره بس دئ. مسلم.

### تلبينه د مريض لپاره ښه شی دی

(۳۹۹۷): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ التَّلْبِينَةُ مُجِمَّةٌ لِفُؤَادِ الْمَرِيضِ تُذْهِبُ بِبَعْضِ الْحُزْنِ . متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي تلبينه (د اوړو او شيدو څخه تيار سوې شيره چي په هغه کي خيني وخت شات هم گډيږي) د ناروغ زړه ته سکون او راحت رسوي او غمونه خيني ليري کوي. بخاري او مسلم.

### د نبي کريم ﷺ کدو ډېر خوښ وو

(۳۹۹۸): وَعَنْ اَنَسٍ اَنَّ خَیَّاطًا دَعَا النبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لِطَعَامٍ صَنَعَهُ فَذَهَبْتُ مَعَ النبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَّبَ خُبْزَ شَعِیْرٍ وَّمَرَقًا فِیه دُبَّاءٌ وَقَدِیْدٌ فَرَاَیْتُ النَّبِيَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَتَتَبَّعُ الدُّبَّاءَ مِنْ حَوَالَيِ الْقَصْعَةِ قَالَ فَلَمْ اَزَلْ اُحِبُّ الدُّبَّاءَ بعد یَوْمِئِذٍ . متفق علیه

د حضرت انس ﵁ څخه روایت دئ چي يو خياط د رسول الله ﷺ مېلمستيا وکړه کوم خوراك چي هغه تيار کړی وو چي هغه په رسول الله ﷺ وخوري ، زه هم د رسول الله ﷺ سره ولاړم هغه د اوربشو ډوډۍ او ښوروا راوړل چي په هغه کي کدو او وچه غوښه وه ، ما نبي کريم ﷺ وليدئ چي د پيالې په شاوخوا کي يې کدو لټوئ او خوړئ يې ددغه ورځي څخه زه کدو ډېر خوښوم . بخاري او مسلم.

### د خوراک وروسته اودس نه کول

(۳۹۹۹): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ اُمَیَّةَ اَنَّهُ رَاٰی رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَحْتَزُّ مِنْ کَتِفِ شَاةٍ فَدُعِيَ اِلَی الصَّلَاةِ فَاَلْقَاهَا السِّکِّیْنَ الَّتِيْ یَحْتَزُّ بِهَا ثُمَّ قَامَ فَصَلّٰی وَلَمْ یَتَوَضَّاْ . متفق علیه .

د حضرت عمرو بن اميه ﵁ څخه روایت دئ چي ما رسول الله ﷺ وليدئ چي د پسه د ولي (اوږې) څخه يې غوښه پرېکول ، کله چي رسول الله ﷺ دلمانځه لپاره وبلل سو نو غوښه او چاړه يې پرېښودل او لمانځه ته يې تشريف يووړ او اودس يې ونه کړ. بخاري او مسلم.

### د نبي کريم ﷺ خوږ شی ډېر خوښ وو

(۴۰۰۰): وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ کَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یُحِبُّ الْحَلْوَاءَ وَالْعَسَلَ . رواه البخاري .

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ به حلوا او شات خوښول. بخاري.

### سورکه غوره کتغ دئ

(۴۰۰۱): وَعَنْ جَابِرٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ سَاَلَ اَهْلَهُ الْاُدُمَ فَقَالُوا مَا عِنْدَنَا اِلَّا خَلٌّ فَدَعَا بِهِ فَجَعَلَ یَاْکُلُ بِهِ وَیَقُوْلُ نِعْمَ الْاُدُمُ الْخَلُّ نِعْمَ الْاُدُمُ الْخَلُّ .رواه مسلم .

د حضرت جابر ﵁ څخه روایت دئ چي نبي کريم ﷺ د خپلي کورنۍ څخه کتغ وغوښتئ ، هغوی ورته وويل پرته د سرکې څخه بل شی نسته، رسول الله ﷺ سورکه وغوښتل او د هغې سره يې ډوډۍ خوړل او وه يې فرمايل سورکه غوره کتغ دئ ، سورکه غوره کتغ دئ . مسلم.

## د پوخکی خاصیت

| | |
|---|---|
| (۲۰۰۲): وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكَمْأَةُ مِنَ الْمَنِّ وَمَاؤُهَا شِفَاءٌ لِلْعَيْنِ . متفق عليه و في رواية لمسلم من المن الذي انزل الله تعالى على موسى عليه السلام . | د حضرت سعيد بن زيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: پوخکی د من څخه دئ يعني د نعمت الهي څخه دئ ددي اوبه د سترگو لپاره شفاء ده. بخاري او مسلم. او د |

مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي پوخکی د من څخه دئ چي الله تعالى پر حضرت موسى عليه السلام نازل کړی وو چي د هغه يادونه د قرآن کريم په دې آيت کي ده: «و انزلنا عليکم المن والسلوى».

## بادرنګ او خرما

| | |
|---|---|
| (۲۰۰۳): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ جَعْفَرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ الرُّطَبَ بِالْقِثَّاءِ . متفق عليه . | د حضرت عبدالله بن جعفر ﷺ څخه روايت دئ چي ما رسول الله ﷺ وليدی چي تازه خرما يې د بادرنگو سره خوړل. بخاري او مسلم. |

## هر نبي پسونه پيولي دي

| | |
|---|---|
| (۲۰۰۴): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَرِّ الظَّهْرَانِ نَجْنِي الْكَبَاثَ فَقَالَ عَلَيْكُمْ بِالْأَسْوَدِ مِنْهُ فَإِنَّهُ أَيْطَبُ فَقَالَ أَكُنْتَ تَرْعَى الْغَنَمَ قَالَ نَعَمْ وَهَلْ مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا رَعَاهَا . متفق عليه . | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي موږ په الظهران نامي ځای کي د رسول الله ﷺ سره وو هلته موږ د پيليو د درختو ميوه جمع کړه رسول الله ﷺ وفرمايل توره توره ميوه واخلئ دا مزه داره وي، د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه |

وسول ايا تاسو پسونه پيولي دي (ځکه چي شپانه خلك دا خوري او ددې ښه او بد پيژني) رسول الله ﷺ وفرمايل کوم نبي دئ چي هغه پسونه نه وي پيولي. بخاري او مسلم.

## نبي کريم ﷺ څه ډول کښېناستی

| | |
|---|---|
| (۲۰۰۵): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُقْعِيًا يَأْكُلُ تَمْرًا . و في رواية ياكل منه اكلا ذريعا. رواه مسلم . | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي ما رسول الله ﷺ ورون پر مخکه لګولی او زنګون پورته کړی پر خرما خوړلو باندي ليدلی دئ، او په يوه |

روايت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ خرماوي ژر ژر خوړلي. مسلم

## دوې خرماوې په يو وار خوړل

| | |
|---|---|
| (۴۰۰۶): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ نَهَى رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَقْرُنَ الرَّجُلُ بَيْنَ التَّمْرَتَيْنِ حَتَّى يَسْتَأْذِنَ أَصْحَابَهُ . متفق عليه. | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ د دوو خرماوو په يو وار خوړلو څخه منع فرمايلې ده البته که ورته ملګرى اجازه ورکړي |

نو جائز دي. بخاري او مسلم.

## د خرما تعريف

| | |
|---|---|
| (۴۰۰۷): وَعَنْ عَائِشَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَجُوعُ أَهْلُ بَيْتٍ عِنْدَهُمُ التَّمْرُ، و في رواية قال يَا عَائِشَةُ بَيْتٌ لَا تَمْرَ فِيهِ جِيَاعٌ أَهْلُهُ قَالَهَا مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا . رواه مسلم. | د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د هغه كور خلك وږي نه وي چې په هغه كې خرماوې وي او په يوه روايت كې دا الفاظ دي چې اې عائشې ! په كوم كور |

كې چې خرماوې نه وي د هغه خلك وږي وي ، د االفاظ رسول الله ﷺ دوه واره يا درې واره وفرمايل. مسلم.

## د عجوه خرماوو ګټه

| | |
|---|---|
| (۴۰۰۸): وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ تَصَبَّحَ بِسَبْعِ تَمَرَاتٍ عَجْوَةً لَمْ يَضُرَّهُ فِي ذَلِكَ الْيَوْمِ سُمٌّ وَلَا سِحْرٌ . متفق عليه . | د حضرت سعد ﷺ څخه روايت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل چې څوك د سهار په وخت كې اووه عجوه خرماوې وخوري نو په |

هغه ورځ به هغه ته زهر تاوان نه سي رسولاى او نه يو جادو . بخاري او مسلم. عجوه: د مدينې غوره خرماوې دي چې تورې دي.

| | |
|---|---|
| (۴۰۰۹): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ فِي عَجْوَةِ الْعَالِيَةِ شِفَاءً أَوْ إِنَّهَا تِرْيَاقٌ أَوَّلَ الْبُكْرَةِ . رواه مسلم . | د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د عاليه نامي ځاى په عجوه خرماوو كې شفاء ده او ددې په سهار |

وخت كې خوړل د زهرو لپاره ترياق دي. مسلم.

## د نبي كريم ﷺ په لوږه وخت تيرول

| | |
|---|---|
| (۴۰۱۰): وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ يَأْتِي عَلَيْنَا الشَّهْرُ مَا نُوقِدُ فِيهِ نَارًا إِنَّمَا هُوَ التَّمْرُ وَالْمَاءُ إِلَّا أَنْ نُؤْتَى | د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې خينې مياشتې به پر موږ داسې تيريدلې چې |

باللَّحِيْمِ . متفق عليه.

موږ به اور نه بلوی او يوازي خرماوي او اوبه مو خوراك وو ، مګر دا چي کله به لږ غوښنه راغلل نو اور به مو بل کړی . بخاري او مسلم.

(۴۰۱۱): وَعَنْهَا قَالَتْ مَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَيْنِ مِنْ خُبْزِ بُرٍّ إِلَّا وَأَحَدُهُمَا تَمْرٌ. متفق عليه.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ د کورنی خلکو هيڅکله تر دوو ورځو پوري غنم نه دي خوړلي په دغه دوارو کي به د يوي ورځي غذا خرماوي وي . بخاري او مسلم.

(۴۰۱۲): وَعَنْهَا قَالَتْ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ مَا شَبِعْنَا مِنَ الْأَسْوَدَيْنِ . متفق عليه.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفات سو او موږ هيڅکله په دوو تورو شيانو نس ډك نه کړ (يعني په خرماوو ماړه نه سوو) .بخاري او مسلم.

(۴۰۱۳): وَعَنِ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ قَالَ أَلَسْتُمْ فِي طَعَامٍ وَشَرَابٍ مَا شِئْتُمْ لَقَدْ رَأَيْتُ نَبِيَّكُمْ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا يَجِدُ مِنَ الدَّقَلِ مَا يَمْلَأُ بِهِ بَطْنَهُ . رواه مسلم.

د حضرت نعمان بن بشير ﷺ څخه روايت دئ چي هغه (د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته خلکو ته وويل) ايا تاسو د خوراك او چښاك په شيانو کي په عيش او آرام سره وخت نه تيروئ او څه چي مو زړه غواړي هغه نه خورئ او چښئ ؟ ما رسول الله ﷺ ليدلی دئ چي وچي خرماوي به يې هم نه درلودلې چي په هغه سره رسول الله ﷺ موړ سوی وای . مسلم.

## د وږي خوراک ښه نه دی

(۴۰۱۴): وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ كَانَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُتِيَ بِطَعَامٍ أَكَلَ مِنْهُ وَبَعَثَ بِفَضْلِهِ إِلَيَّ وَإِنَّهُ بَعَثَ إِلَيَّ يَوْمًا بِفَضْلَةٍ لَمْ يَأْكُلْ مِنْهَا لِأَنَّ فِيهَا ثُومًا فَسَأَلْتُهُ أَحَرَامٌ هُوَ قَالَ لَا وَلَكِنِّي أَكْرَهُهُ مِنْ أَجْلِ رِيحِهِ قَالَ فَإِنِّي أَكْرَهُ مَا كَرِهْتَ . رواه مسلم.

د حضرت ابو ايوب انصاري ﷺ څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ ته به څومره خوراك راوړل سو څومره چي به يې خواهش وو د هغه څخه به يې وخوړل او پاته به يې ما ته راليږل . يوه ورځ رسول الله ﷺ ما ته يوه پياله راوليږل چي د هغې څخه يې خوراك نه وو کړی ځکه چي په هغه کي وږه وه ، ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه ايا وږه حرامه ده ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل يا، مګر زما ددې بوی خوښ نه دئ ، ابو ايوب وايي ما وويل کوم شی چي تاسو نه خوښوی هغه زه هم نه خوښوم . مسلم.

**د وريې نو خوړلو وروسته مسجد ته مه ځئ**

(۲۰۱۵): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَكَلَ ثُومًا أَوْ بَصَلًا فَلْيَعْتَزِلْنَا أَوْ قَالَ فَلْيَعْتَزِلْ مَسْجِدَنَا وَلْيَقْعُدْ فِي بَيْتِهِ وَأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِقِدْرٍ فِيهِ خَضِرَاتٌ مِنْ بُقُولٍ فَوَجَدَ لَهَا رِيحًا فَقَالَ قَرِّبُوهَا إِلَى بَعْضِ أَصْحَابِهِ وَقَالَ كُلْ فَإِنِّي أُنَاجِي مَنْ لَا تُنَاجِي . متفق عليه.

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دئ چې نبي کریم ﷺ وفرمایل : څوک چې (اوم) پیاز یا اوږه وخوري هغه دې زموږ څخه بېل سي (یعني زموږ په مجلس کې دې ګډون نه کوي) ، یا رسول الله ﷺ داسې وفرمایل چې هغه دې خپل په کور کې کښېني، او نبي کریم ﷺ ته یوه ورځ کټو راوړل سوه چې په هغه کې سبزي (ترکاري) وه رسول الله ﷺ ته د هغه بوی ورغلئ نو وه یې فرمایل ، دا فلاني صحابي ته نژدې کړئ او وه یې فرمایل چې ته یې خوره ځکه چې زه د هغه چا سره مناجات کوم چې تاسو یې ورسره نه کوئ، یعني په هغه ترکاۍ کې پیاز یا اوږه ګډه وه . بخاري او مسلم.

**د خوراک د شیانو تلل**

(۲۰۱۶): وَعَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِي كَرِبَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كِيلُوا طَعَامَكُمْ يُبَارَكْ لَكُمْ فِيهِ . رواه البخاري.

د حضرت مقدام بن معدیکرب ﷺ څخه روایت دئ چې نبي کریم ﷺ وفرمایل : د خپل خوراک د شیانو تول کوئ (یعني په اندازه کولو سره یې رانیسئ او خرڅوئ) ځکه ستاسو لپاره به په دې کې برکت واچول سي . بخاري.

**د خوراک وروسته د الله ﷻ حمد او ثناء**

(۲۰۱۷): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا رَفَعَ مَائِدَتَهُ قَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ غَيْرَ مَكْفِيٍّ وَلَا مُوَدَّعٍ وَلَا مُسْتَغْنًى عَنْهُ رَبَّنَا . رواه البخاري.

د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روایت دئ چې کله به د رسول الله ﷺ څخه دسترخوان پورته کړل سو نو رسول الله ﷺ به فرمایل : (الحمدلله ....) د الله لپاره تعریف دئ دېر تعریف او برکت ناک تعریف دهمېشه لپاره نه کفایت کړل سو او نه ترک کړل سو او نه د هغه څخه اې زموږ ربه بې پرواهي وکړل سوه . بخاري.

(۲۰۱۸): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ لَيَرْضَى عَنِ الْعَبْدِ أَنْ يَأْكُلَ الْأَكْلَةَ فَيَحْمَدَهُ عَلَيْهَا أَوْ يَشْرَبَ الشَّرْبَةَ فَيَحْمَدَهُ عَلَيْهَا .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالی د خپل بنده په دې حال لیدو سره خوشحاله کېږي چې هغه یوه ګوله وخوري او پر هغه د الله تعالی تعریف وکړي یا

رواه مسلم ، و سنذكر حديثي عائشة و ابي هريرة ما شبع آل محمد وخرج النبي صلى الله عليه وسلم من الدنيا في باب فضل الفقراء ان شاء الله تعالى .

يو غرپ وچښني او پر هغه د الله تعالى تعريف وكړي . مسلم. او دير ژر به مونږ انشاء الله د فضل الفقراء په باب كي د بي بي عائشي او

حضرت ابوهريرة ﷺ دوه حديثونه بيان كړو چي آل محمد ﷺ هيڅكله په ماړه نس دوډۍ نه ده خوړلې تر څو چي نبي كريم ﷺ ددنيا څخه تشريف يوړ.

## دويم فصل

### د خوراك په شروع كي بسم الله ويل

(۲۰۱۹): عَنْ اَبِيْ اَيُّوْبَ قَالَ كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُرِّبَ طَعَامٌ فَلَمْ اَرَ طَعَامًا كَانَ اَعْظَمَ بَرَكَةً مِّنْهُ اَوَّلَ مَا اَكَلْنَا وَلاَ اَقَلَّ بَرَكَةً فِيْ آخِرِهِ قُلْنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ كَيْفَ هٰذَا ؟ قَالَ اِنَّا ذَكَرْنَا اسْمَ اللهِ عَلَيْهِ حِيْنَ اَكَلْنَا ثُمَّ قَعَدَ مَنْ اَكَلَ وَلَمْ يُسَمِّ اللهَ فَاَكَلَ مَعَهُ الشَّيْطَانُ . رواه في شرح السنة.

د حضرت ابو ايوب انصاري ﷺ څخه روايت دئ چي مونږ د رسول الله ﷺ په خدمت كي ناست وو چي رسول الله ﷺ ته خوراك نژدې راوړل سو ما تر اوسه پورې دومره د بركت خوراك نه وو ليدلى چي د هغه په شروع كي بركت وو او په آخر كي بركت بېخي ولاړى . . مونږ وويل : اې دالله رسوله ﷺ دا څنګه وسول؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: مونږ د خوراك د شروع كولو په وخت كي د الله ﷺ نوم اخيستئ وو بيا په هغه كي هغه سړي د خوراك خوړلو لپاره شريك سو چي هغه د الله ﷺ نوم نه واخيستئ او د هغه سره شيطان خوراك وكړ. شرح السنة.

### د خوراك په مينځ كي دعاء

(۲۰۲۰): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اَكَلَ اَحَدُكُمْ فَنَسِيَ اَنْ يَّذْكُرَ اللهَ تَعَالٰى على طعامه فَلْيَقُلْ بِسْمِ اللهِ اَوَّلَهُ وَآخِرَهُ . رواه الترمذي و ابوداؤد.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كله چي په تاسو كي يو څوك خوراك شروع كړي او د الله ﷺ نوم اخيستل ځيني هېر سي نو هغه ته پكار ده چي دا الفاظ ووايي بسم الله اوله واخره . ترمذي او ابوداؤد.

(۲۰۲۱): وَعَنْ اُمَيَّةَ بْنِ مَخْشِيٍّ قَالَ كَانَ رَجُلٌ يَاْكُلُ فَلَمْ يُسَمِّ حَتّٰى لَمْ يَبْقَ مِنْ طَعَامِهٖ اِلَّا لُقْمَةٌ فَلَمَّا

د حضرت اميه بن مخشي ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړي دوډۍ خوړل او بسم الله يې نه ويل

رَفَعَهَا إِلَى فِيهِ قَالَ بِسْمِ اللَّهِ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ فَضَحِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ مَا زَالَ الشَّيْطَانُ يَأْكُلُ مَعَهُ فَلَمَّا ذَكَرَ اسْمَ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ اسْتَقَاءَ مَا فِي بَطْنِهِ . رواه ابوداؤد.

هر کله چي يې يوه ګوله پاته سوه هغه چي خولې ته پورته کول نو ويل يې بسم الله اوله وآخره ، رسول الله ﷺ وخندل او بيا يې وفرمايل : شيطان دده سره خوراک کوئ کله چي ده بسم الله وويل نو هغه د خپل نس ټول خوراک د باندي وغورځوئ. ابوداؤد.

## د خوراک وروسته شکر او حمد

(۴۰۲۲): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا فَرَغَ مِنْ طَعَامِه قَالَ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِينَ . رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به کله د خوراک څخه فارغ سو نو «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِينَ» به يې ويل . ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجة.

(۴۰۲۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الطَّاعِمُ الشَّاكِرُ الصَّائِمِ الصَّابِرِ . رواه الترمذي و رواه ابن ماجه والدارمي عن سنان بن سنة عن ابيه.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د خوراک وروسته شکر کونکی د صبرناک روژه دار په ډول دئ ، ترمذي، او ابن ماجه او دارمي د سنان بن سنة څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کړی دئ.

(۴۰۲۴): وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَكَلَ أَوْ شَرِبَ قَالَ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَ وَسَقَى وَسَوَّغَهُ وَجَعَلَ لَهُ مَخْرَجًا . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابو ايوب ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به کله خوراک يا چيښاک وکړ نو «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَ وَسَقَى وَسَوَّغَهُ وَجَعَلَ لَهُ مَخْرَجًا» به يې ويل . ابوداؤد.

## د خوراک تر مخه او وروسته اودس

(۴۰۲۵): وَعَنْ سَلْمَانَ قَالَ قَرَأْتُ فِي التَّوْرَاةِ أَنَّ بَرَكَةَ الطَّعَامِ الْوُضُوءُ بعده فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رسول الله صلى الله عليه وسلم بَرَكَةُ الطَّعَامِ الْوُضُوءُ قَبْلَهُ وَالْوُضُوءُ بَعْدَهُ .

د حضرت سلمان ﷺ څخه روايت دئ چي ما په تورات کي ولوستل چي د خوراک د برکت سبب د خوراک څخه وروسته اودس کول دي ، ما رسول الله ﷺ ته ددې يادونه وکړه ، رسول الله ﷺ

رواه الترمذي و ابوداؤد.

وفرمايل د خوراك بركت د خوراك څخه تر مخه اودس او د خوراك څخه وروسته اودس كول دي. ترمذي، ابوداؤد.

(۴۰۲۶): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ مِنَ الْخَلَاءِ فَقدم إِلَيْهِ طَعَامٌ فَقَالُوا أَلَا نَأتِيكَ بِوَضُوءٍ قَالَ إِنَّمَا أُمِرْتُ بِالْوُضُوءِ إِذَا قُمْتُ إِلَى الصَّلَاةِ. رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي و رواه ابن ماجه عن ابي هريرة.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د بيت الخلاء څخه راووتى نو رسول الله ﷺ ته خوراك راوړل سو ، صحابه كرامو وويل: موږ د اوداسه لپاره اوبه راوړو؟ رسول الله ﷺ وفرمايل ما ته دا حكم سوى دئ چي كله دلمانځه لپاره ودريږم نو اودس وكړم. ترمذي، ابوداؤد، نسائي او ابن ماجه د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت كړى دئ.

## د خپل مخ څخه خوراک

(۴۰۲۷): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ أُتِيَ بِقَصْعَةٍ مِنْ ثُرِيْد فَقَالَ كُلُوا مِنْ جَوَانِبِهَا وَ لَا تَأكُلُوْا مِنْ وَسَطِهَا فَاِنَّ الْبَرَكَةَ تَنْزِلُ فِيْ وَسْطِهَا .رواه الترمذي و ابن ماجة والدارمي و قال الترمذي هذا حديث حسن صحيح و في رواية ابوداؤد قَالَ اذا أَكَلَ أَحَدُكُمْ طَعَامًا فَلَا يَأكُلْ مِنْ أَعْلَى الصَّحْفَةِ وَلَكِنْ لِيَأكُلْ مِنْ أَسْفَلِهَا فَإِنَّ الْبَرَكَةَ تَنْزِلُ مِنْ أَعْلَاهَا .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ته د ښوروا پياله راوړل سوه ، رسول الله ﷺ صحابه كرامو ته وفرمايل د غاړو څخه خورئ د منځ څخه مه خورئ ځكه چي بركت په منځ كي نازليږي، ترمذي، ابن ماجه او دارمي، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دئ. او د ابوداؤد په يوه روايت كي دا الفاظ دي څوك چي خوراك كوي نو د خپل مخ د خوا دي يې خوري د منځ يا د بلي خوا دي يې نه خوري ځكه چي بركت پر سربېره برخه نازليږي.

## په تكيه كولو سره يې خوراک نه دی كړی

(۴۰۲۸): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ مَا رُئِيَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأكُلُ مُتَّكِئًا قَطُّ وَلَا يَطَأُ عَقِبَهُ رَجُلَانِ . رواه ابوداؤد.

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ هيڅكله خوراك په داسي حالت كي نه دى كړى چي تكيه دي يې لګولې وي او په رسول الله ﷺ پسي به دوه كسان هم نه تلل. حاصل دا چي د كمال تواضع څخه به رسول الله ﷺ د صحابه كرامو څخه مخكي نه تلى ځكه چي دا د متكبرانو عادت دى. ابوداؤد.

په مسجد کي د خوراک مسئله

(۴۰۲۹): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ جَزْءٍ قَالَ أُتِيَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِخُبْزٍ وَّ لَحْمٍ وَّ هُوَ فِي الْمَسْجِدِ فَاَكَلَ وَ اَكَلْنَا مَعَهُ ثُمَّ قَامَ فَصَلّٰى وَ صَلَّيْنَا مَعَهُ وَ لَمْ نَزِدْ عَلٰى اَنْ مَسَحْنَا اَيْدِيَنَا بِالْحَصْبَاءِ . رواه ابن ماجه.

د حضرت عبدالله بن حارث بن جزء ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ته ډوډۍ او غوښه راوړل سوه ، رسول الله ﷺ دغه وخت په مسجد کي وو ، رسول الله ﷺ او موږ يو ځای ډوډۍ وخوړل بيا رسول الله ﷺ ولاړ سو او لمونځ يې وکړ او موږ هم د رسول الله ﷺ سره لمونځ وکړ موږ يوازي دومره وکړل چي خپل لاسونه مو د مسجد په کوچنيو ډبرو وچ کړل . ابن ماجه .

دلاس غوښه

(۴۰۳۰): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أُتِيَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِلَحْمٍ فَرُفِعَ إِلَيْهِ الذِّرَاعُ وَكَانَتْ تُعْجِبُهُ فَنَهَسَ مِنْهَا . رواه الترمذي و ابن ماجة.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ته پخه غوښه راوړل سوه او په هغه کي رسول الله ﷺ ته د ورانه (لاس) غوښه ورکړل سوه چي د رسول الله ﷺ ډېره خوښه وه ، رسول الله ﷺ غوښې په خوله څني شکولې او خوړلې . ترمذي او ابن ماجه .

غوښه په چاړې پريکولو سره مه خورئ

(۴۰۳۱): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقْطَعُوا اللَّحْمَ بِالسِّكِّيْنِ فَإِنَّهُ مِنْ صَنِيْعِ الْأَعَاجِمِ وَانْهَسُوْهُ فَإِنَّهُ أَهْنَأُ وَأَمْرَأُ . رواه ابوداؤد والبيهقي في شعب الايمان و قالا ليس هو بالقوي .

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : غوښه په چاړه پريکولو سره مه خورئ ځکه چي دا د عجمي خلکو طريقه ده (بلکه) په غاښونو پريکولو سره يې خورئ ځکه چي په غاښونو سره خوړل يې خوندور او هاضم وي . ابوداؤد او بيهقي په شعب الايمان کي او دواړو ويلي دي چي دا قوي نه دئ .

د مريض لپاره پرهيز ضروري دئ

(۴۰۳۲): وَعَنْ أُمِّ الْمُنْذِرِ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهُ عَلِيٌّ وَلَنَا دَوَالٍ مُعَلَّقَةٌ فَجَعَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ وَعَلِيٌّ مَعَهُ يَأْكُلُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ام منذر (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ زموږ کره تشريف راوړ او د رسول الله ﷺ سره حضرت علي ﷺ هم وو ، زموږ په کور کي د خرماوو غونچه زړېدل ، ددغه غونچې

وَسَلَّمَ لِعَلِيٍّ مَهْ يَا عَلِيُّ فَإِنَّكَ نَاقِهٌ قَالَتْ فَجَعَلْتُ لَهُمْ سِلْقًا وَشَعِيرًا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَلِيُّ مِنْ هٰذَا فَأَصِبْ فَإِنَّهُ أَوْفَقُ لَكَ . رواه احمد والترمذي وابن ماجة.

ښخه رسول الله ﷺ او حضرت علي ؓ خوړل، رسول الله ﷺ حضرت علي ؓ ته وفرمايل اې علي ! ته يې مه خوره ځکه چې ته اوس جوړ سوی يې (ناروغ وو او سترګې يې خوږيدلې) بي بي ام منذر. وايي ما د رسول الله ﷺ او د هغوئ د ملګرو لپاره چغندر او اوربشې تيارې کړې وې رسول الله ﷺ وفرمايل اې علي ! دا خوره ځکه چې دا ستا لپاره ډېر ګټور دي . احمد، ترمذي او ابن ماجه

**د نبي كريم ﷺ خوښ کنغ**

(٢٠٣٣): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْجِبُهُ الثُّفْلُ . رواه الترمذي والبيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت انس ؓ ښخه روايت دئ چې د رسول الله سفل (کوينی يعني د ديګ پاى) ډېر خوښ وو. ترمذي او بيهقي په شعب الايمان کې.

**د پيالې څټل د مغفرت ذريعه ده**

(٢٠٣٤): وَعَنْ نُبَيْشَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَكَلَ فِي قَصْعَةٍ فَلَحَسَهَا اسْتَغْفَرَتْ لَهُ الْقَصْعَةُ .رواه احمد والترمذي وابن ماجة والدارمي و قال الترمذي هذا حديث غريب .

د حضرت نبيشه ؓ ښخه روايت دي چې رسو ل الله ﷺ وفرمايل : څوك چې دپيالې ښخه خوراك وكړي او بيا هغه وڅټي نو پياله د هغه لپاره استغفار كوي (بخښنه غواړي) . احمد، ترمذي ، ابن ماجه او دارمي، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

**د خوراک وروسته لاسونه پرېولل**

(٢٠٣٥): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ بَاتَ وَفِي يَدِهِ غَمَرٌ لَمْ يَغْسِلْهُ فَأَصَابَهُ شَيْءٌ فَلَا يَلُومَنَّ إِلَّا نَفْسَهُ . رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت ابوهريرة ؓ ښخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چې بيده سي او د هغه پر لاس (د خوراك) غوړ والى وي چې د خوړلو ښخه وروسته يې پرېولى نه وي او په دغه حالت كې هغه ته تاوان ورسيږي نو هغه دي خپل ځان ملامت كړي . ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجه .

**ثريد د نبي ﷺ خوښ خوراک وو**

(٢٠٣٦): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ أَحَبُّ الطَّعَامِ إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الثَّرِيدُ مِنَ الْخُبْزِ وَالثَّرِيدُ مِنَ الْحَيْسِ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عباس ؓ ښخه روايت دئ چې په ټولو خوراكونو كي د رسول الله ﷺ ښوروا ډېره خوښه وه يعني د ډوډۍ ښوروا او د حيس

بنوروا .ابوداؤد. (حیس: خرما، غوړي، اوړه او د پنیر یو خای کولو څخه جوړیږي).

د زیتون د تیلو فضیلت

| | |
|---|---|
| (۲۰۳۷): وَعَنْ اَبِي اُسَيْدٍ الْاَنْصَارِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُوا الزَّيْتَ وَادَّهِنُوا بِهِ فَاِنَّهُ مِنْ شَجَرَةٍ مُبَارَكَةٍ . رواه الترمذي وابن ماجة والدارمي . | د حضرت ابو اسید انصاري ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د زیتون تیل خوری او بدن په غوړوئ څکه چي دا د یو برکتناکي درختي تیل دي. ترمذي، ابن ماجه او دارمي. |

د سرکې فضیلت

| | |
|---|---|
| (۲۰۳۸): وَعَنْ اُمِّ هَانِئٍ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَعِنْدَكِ شَيْءٌ فَقُلْتُ لَا اِلَّا خُبْزٌ يَابِسٌ وَخَلٌّ فَقَالَ هَاتِيْ مَا اَقْفَرَ بَيْتٌ مِنْ اُدْمٍ فِيْهِ خَلٌّ . رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن غريب. | د حضرت ام هانئ (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ زموږ کره تشریف راوړ او وه یې فرمایل: د خوراك یو شی سته ؟ ما ویل: هیڅ نسته مگر وچه ډوډۍ او سورکه سته، |

رسول الله ﷺ وفرمایل هغه راوړه، هغه کور د کتغ څخه خالي نه دئ چي په هغه کي سورکه وي. ترمذي، ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن غریب دئ

خرما کتغ دی

| | |
|---|---|
| (۲۰۳۹): وَعَنْ يُوسُفَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَلَامٍ قَالَ رَاَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَخَذَ كِسْرَةً مِنْ خُبْزِ شَعِيْرٍ فَوَضَعَ عَلَيْهَا تَمْرَةً وَقَالَ هٰذِهِ اِدَامُ هٰذِهِ وَاَكَلَ. رواه ابوداؤد. | د حضرت یوسف بن عبدالله بن سلام ﷺ څخه روایت دئ چي ما رسول الله ﷺ ولیدئ چي د اوربشو د ډوډۍ یوه ټوټه یې واخیستل د هغه سربیره یې یوه خرما کښېښودل او وه یې |

فرمایل دا ددې کتغ دئ او هغه یې وخوړل. ابوداؤد.

غیر مسلم ته د علاج لپاره ورتګ

| | |
|---|---|
| (۲۰۴۰): وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ مَرِضْتُ مَرَضًا اَتَانِي النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُوْدُنِي فَوَضَعَ يَدَهُ بَيْنَ ثَدْيَيَّ حَتّٰى وَجَدْتُ بَرْدَهَا عَلٰى فُؤَادِي فَقَالَ اِنَّكَ رَجُلٌ مَفْئُوْدٌ اِئْتِ الْحَارِثَ بْنَ كَلَدَةَ اَخَا ثَقِيْفٍ فَاِنَّهُ رَجُلٌ يَتَطَبَّبُ فَلْيَاْخُذْ سَبْعَ تَمَرَاتٍ مِنْ عَجْوَةِ الْمَدِيْنَةِ فَلْيَجَاْهُنَّ بِنَوَاهُنَّ ثُمَّ لِيَلُدَّكَ بِهِنَّ . رواه ابوداؤد. | د حضرت سعد ﷺ څخه روایت دئ چي زه ناروغ سوم او رسول الله ﷺ زما پوښتني ته راغلئ او خپل لاس مبارك يې زما پر سینه کښېښودئ چي د هغه یخ والی زما زړه ته ورسیدئ بیا یې وفرمایل: ته د زړه په درد اخته یې ته حارث بن کلده ته ورسه چي د قبیله ثقیف څخه دئ هغه په |

طب پوهيږي ، ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه دې د مديني د عجوه خرماو څخه اووه داني واخلي او هغه دې په هډوكي سره وكوټي بيا دې يې ستا په خوله كې واچوي . ابوداؤد.

**غذا معتدله كړئ**

(۲۰۲۱): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْكُلُ الْبِطِّيخَ بِالرُّطَبِ .رواه الترمذي و زاد ابوداؤد يقول يكسر حر هذا ببرد هذا و برد هذا بحر هذا وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې نبي كريم ﷺ به تازه هندوانه (خټكي) د خرماوو سره خوړل . ترمذي، ابوداؤد دا الفاظ زيات ليكلي دي چې رسول الله ﷺ به فرمايل ددې يخوالى ددې گرمي ماتوي او ددې گرمي ددې يخوالي ماتوي . ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دئ.

**چينجني خرماوي**

(۲۰۲۲): وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَمْرٍ عَتِيقٍ فَجَعَلَ يُفَتِّشُهُ يُخْرِجُ السُّوسَ مِنْهُ . رواه ابوداؤد.

د حضرت انس بن مالك ﷺ څخه روايت دئ چې نبي كريم ﷺ ته زړې خرماوې راوړل سوې (چې چينجي يې كړي وه) رسول الله ﷺ به هغه څيرلې چينجي به يې د هغه څخه ايستل او غورځول به يې . ابوداؤد.

**د پنيرو خوراك**

(۲۰۲۳): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِجُبْنَةٍ فِي تَبُوكَ فَدَعَا بِسِكِّينٍ فَسَمَّى وَقَطَعَ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ ته د تبوك په غزا كې د پنير يوه ټوټه راوړل سوه ، رسول الله ﷺ چاړه را وغوښتل بسم الله يې وويل او هغه يې پريكړل . ابوداؤد.

**حلال او حرام د الله ﷻ له لوري دي**

(۲۰۲۴): وَعَنْ سَلْمَانَ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ السَّمْنِ وَالْجُبْنِ وَالْفِرَاءِ فَقَالَ الْحَلَالُ مَا أَحَلَّ اللّٰهُ فِي كِتَابِهِ وَالْحَرَامُ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ فِي كِتَابِهِ وَمَا سَكَتَ عَنْهُ فَهُوَ مِمَّا عَفَا عَنْهُ . رواه ابن ماجة والترمذي وقال هذا حديث غريب موقوف على الاصح .

د حضرت سلمان ﷺ څخه روايت دئ چې د رسول الله ﷺ څخه د غوړو، پنير او ځنگلي خره په اره پوښتنه وسول ، رسول الله ﷺ وفرمايل : حلال هغه دي چې الله تعالى خپل په كتاب كې حلال كړي دي او حرام هغه دي چې الله تعالى په خپل كتاب كې حرام كړي دي او د كوم شي څخه چې الله تعالى خاموشي اختيار كړي ده هغه

معاف دي . ابن ماجه او دارمي، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ او د صحيح قول سره سم موقوف هم دئ.

د نبي كريم ﷺ د طرفه د ښه خوراك خواهش

(۴۰۲۵): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَدِدْتُ أَنَّ عِنْدِي خُبْزَةً بَيْضَاءَ مِنْ بُرَّةٍ سَمْرَاءَ مُلَبَّقَةً بِسَمْنٍ وَلَبَنٍ فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ فَاتَّخَذَهُ فَجَاءَ بِهِ فَقَالَ فِي أَيِّ شَيْءٍ كَانَ هٰذَا قَالَ فِي عُكَّةِ ضَبٍّ قَالَ ارْفَعْهُ . رواه ابوداؤد وابن ماجة و قال ابوداؤد و هذا حديث منكر.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زړه مي غواړي چي زما سره د سپينو ښه غنمو ډوډۍ وي او هغه په غوړو او شيدو كي خشته سوې وي ، د مسجد څخه يو سړى ولاړ سو او دغه ډول ډوډۍ يې تياره كړې راوړل ، رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه په كومو غوړو سره دا ډوډۍ خشته سوې ده هغه په كوم لوښي كي وه ، هغه وويل: د سمسارې د پوست په كپۍ كي ، رسول الله ﷺ وفرمايل دا پورته كړه . (يعني يوسه) . ابوداؤد، ابن ماجه او ابوداؤد، ترمذي ويلي دي دا حديث منكر دئ.

اومه وږه مه خورئ

(۴۰۲۶): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ نُهِيَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْلِ الثُّومِ إِلَّا مَطْبُوخًا . رواه الترمذي و ابوداؤد.

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د اومي وږې د خوړلو څخه منع كړې ده خو كله چي پخه سي نو د هغه خوړل صحيح دي . ترمذي او ابوداؤد.

پاخه پياز خوړل

(۴۰۲۷): وَعَنْ أَبِي زِيَادٍ قَالَ سُئِلَتْ عَائِشَةُ عَنِ الْبَصَلِ فَقَالَتْ إِنَّ آخِرَ طَعَامٍ أَكَلَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامٌ فِيهِ بَصَلٌ . رواه ابوداؤد

د حضرت ابو زياد ﷺ څخه روايت دئ چي د بي بي عائشي (رض) څخه د پيازو په اړه پوښتنه وسول، هغې وويل : رسول الله ﷺ چي په خپل ژوند كي كوم آخري خوراك په آخري وار خوړلى وو په هغه كي پياز وو . (يعني پاخه پياز) . ابوداؤد.

كوچي د نبي كريم ﷺ خوښي وه

(۴۰۲۸): وَعَنِ ابْنَيْ بُسْرٍ السُّلَمِيَّيْنِ قَالَا دَخَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَدَّمْنَا زُبْدًا وَتَمْرًا وَكَانَ يُحِبُّ الزُّبْدَ وَالتَّمْرَ . رواه ابوداؤد.

د حضرت بسر سلمي ﷺ د دوو زامنو څخه روايت دئ چي هغوئ وويل : رسول الله ﷺ زموږ كره تشريف راوړ موږ كوچي او خرماوي په مخ

كي ورته كښېنښودلې ، رسول الله ﷺ به كوچې او خرماوي ډير خوښول . ابوداؤد.

## د خوراک ادبونه

(۲۰۴۹): وَعَنْ عِكْرَاشِ بْنِ ذُؤَيْبٍ قَالَ أُتِيْنَا بِجَفْنَةٍ كَثِيرَةِ الثَّرِيدِ وَالْوَذْرِ فَخَبَطْتُ بِيَدِي فِي نَوَاحِيهَا وَأَكَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ فَقَبَضَ بِيَدِهِ الْيُسْرَى عَلَى يَدِي الْيُمْنَى ثُمَّ قَالَ يَا عِكْرَاشُ كُلْ مِنْ مَوْضِعٍ وَاحِدٍ فَإِنَّهُ طَعَامٌ وَاحِدٌ ثُمَّ أُتِينَا بِطَبَقٍ فِيهِ أَلْوَانُ التمر فَجَعَلْتُ آكُلُ مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ وَجَالَتْ يَدُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الطَّبَقِ وَقَالَ يَا عِكْرَاشُ كُلْ مِنْ حَيْثُ شِئْتَ فَإِنَّهُ غَيْرُ لَوْنٍ وَاحِدٍ ثُمَّ أُتِينَا بِمَاءٍ فَغَسَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَيْهِ وَمَسَحَ بِبَلَلِ كَفَّيْهِ وَجْهَهُ وَذِرَاعَيْهِ وَرَأْسَهُ وَقَالَ يَا عِكْرَاشُ هَذَا الْوُضُوءُ مِمَّا غَيَّرَتْ النَّارُ . رواه الترمذي.

د حضرت عكراش بن ذؤيب ﷺ څخه روايت دئ چي موږ ته يو تالى راوړل سول چي په هغه كي ښوروا او غوښه وه ما خپل لاس د تالى په شاوخوا كي په تيزي سره وګرځوئ او رسول الله ﷺ د خپل مخ څخه خوړل ، رسول الله ﷺ په خپل چپه لاس سره زما راسته لاس ونيوئ او وه يې فرمايل اې عكراش ! د يو ځاى څخه خوراک كوه ځكه چي دا يو خوراک دئ ، بيا زموږ په مخكي غاب كښېنښودل سو چي په هغه كي ډول ډول خرماوي وې ما د خپل مخ څخه خوراک پېل كړ او د رسول الله ﷺ مبارک لاس په غاب كي ګرځيدئ ، رسول الله ﷺ وفرمايل اې عكراش ! د كوم ځاى څخه چي دي زړه غواړي خوره يې په دغه غاب كي يو ډول شى نه دئ ، بيا موږ ته اوبه راوړل سوې رسول الله ﷺ خپل دواړه لاسونه مبارک پريولل او د خپلو لاسونو لوندوالى يې پر خپل مخ ، څنګلو او سر باندي ومورل او وه يې فرمايل اې عكراش ! دا دهغه خوراک اودس دئ چي هغه اور متغير كړى وي (يعني پخ كړي يې وي) . ترمذي.

## د حريرې ګټې

(۲۰۵۰): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَخَذَ أَهْلَهُ الْوَعَكُ أَمَرَ بِالْحَسَاءِ فَصُنِعَ ثُمَّ أَمَرَهُمْ فَحَسَوْا مِنْهُ وَكَانَ يَقُولُ إِنَّهُ لَيَرْتُقُ فُؤَادَ الْحَزِينِ وَيَسْرُو عَنْ فُؤَادِ السَّقِيمِ كَمَا تَسْرُو إِحْدَاكُنَّ الْوَسَخَ بِالْمَاءِ عَنْ وَجْهِهَا . رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن صحيح .

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ په كورنى كي به يو څوک ناروغ سو نو رسول الله ﷺ به د حريره (نرمي شيري) تيارولو حكم كوئ ، نو حريره به تياره سوه بيا به رسول الله ﷺ د حريره د څښلو حكم كوئ او هغوئ به حريره څښل . او رسول الله ﷺ به دا فرمايل چي حريره غمجن زړه ته قوت وركوي او د ناروغ

د زړه څخه ناروغي ليري کوي لکه څرنګه چې تاسو په اوبو سره د مخ څخه خيري ليري کوي. ترمذي، او ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دئ.

**عجوه د جنت خرما ده**

(۴۰۵۱): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَجْوَةُ مِنَ الْجَنَّةِ وَفِيهَا شِفَاءٌ مِنَ السُّمِّ وَالْكَمْأَةُ مِنَ الْمَنِّ وَمَاؤُهَا شِفَاءٌ لِلْعَيْنِ . رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: عجوه د جنت څخه ده او په دې کې د زهرو څخه شفاء ده او خريړي د من څخه دی او ددې اوبه د سترګو لپاره شفاء ده. ترمذي.

## دريم فصل

**په چاړه پريکولو سره خوراک**

(۴۰۵۲): عَنِ الْمُغِيْرَةَ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ ضِفْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ فَأَمَرَ بِجَنْبٍ فَشُوِيَ ثُمَّ أَخَذَ الشَّفْرَةَ فَجَعَلَ يَحُزُّ لِي بِهَا مِنْهُ فَجَاءَ بِلَالٌ يُؤْذِنُهُ بِالصَّلَاةِ فَأَلْقَى الشَّفْرَةَ فَقَالَ مَا لَهُ تَرِبَتْ يَدَاهُ قَالَ وَكَانَ شَارِبُهُ وَفَاءً فَقَالَ لِي أَقُصُّهُ لَكَ عَلَى سِوَاكٍ ؟ أَوْ قُصَّهُ عَلَى سِوَاكٍ . رواه الترمذي.

د حضرت مغيره بن شعبة ﷺ څخه روايت دئ چې يوه شپه (د يو چا کره) رسول الله ﷺ ميلمه سو (هغه سړي پسه حلال کړ) رسول الله ﷺ هغه ته د ورانه کبابولو امر وکړ وروں کباب سو، رسول الله ﷺ چاړه واخيستل او غو ښه يې زما لپاره پريکول، په دغه وخت کې حضرت بلال ﷺ راغلئ او د لمانځه خبر يې ورکړ، رسول الله ﷺ چاړه هلته کښېښودل او وه يې فرمايل: بلال ته څه وسول د هغه دې لاس په خاورو ولړل سي، مغيره وايي چې د هغه (يعني مغيره) بريتونه لوي سوي وه، رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل چې زه ستا بريت په مسواک (يعني مسواک سربيره ايښودو سره) غوڅې کړم يا دا يې وفرمايل چې خپل بريت په مسواک غوڅې کړه. ترمذي.

**د خوراک شروع په بسم الله**

(۴۰۵۳): وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ كُنَّا إِذَا حَضَرْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا لَمْ نَضَعْ أَيْدِيَنَا حَتَّى يَبْدَأَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَضَعَ يَدَهُ وَإِنَّا حَضَرْنَا مَعَهُ مَرَّةً طَعَامًا فَجَاءَتْ جَارِيَةٌ كَأَنَّهَا تُدْفَعُ فَذَهَبَتْ لِتَضَعَ يَدَهَا فِي الطَّعَامِ فَأَخَذَ

د حضرت حذيفه ﷺ څخه روايت دئ چې کله موږ د رسول الله ﷺ سره په يو خوراک کې ګډ سوي يو نو موږ به تر هغه وخته پوري خوراک ته لاس نه وړ وړئ تر څو پوري چې رسول الله ﷺ پيل نه وای کړی، يو وار موږ د رسول الله ﷺ

| | |
|---|---|
| رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهَا ثُمَّ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ كَأَنَّمَا يُدْفَعُ فَأَخَذَ بِيَدِه فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَسْتَحِلُّ الطَّعَامَ أَنْ لَا يُذْكَرَ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُ جَاءَ بِهٰذِهِ الْجَارِيَةِ لِيَسْتَحِلَّ بِهَا فَأَخَذْتُ بِيَدِهَا فَجَاءَ بِهٰذَا الْأَعْرَابِيِّ لِيَسْتَحِلَّ بِه فَأَخَذْتُ بِيَدِه وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِه إِنَّ يَدَهُ فِي يَدِي مَعَ يَدِهَا، و زاد في رواية ثم ذكر اسم الله واكل. رواه مسلم . | سره په يو خوراك كي حاضر سوو يوه انجلۍ د خوراك لپاره راغلل يعني د لوږي څخه بې اختياره پر خوراك را پريوتل هغې غوښتل چي خوراك ته لاس كړي چي رسول الله ﷺ د هغې لاس ونيوئ بيا يو صحرائي راغلئ هغه هم پر خوراك راوغورځيدئ رسول الله ﷺ د هغه لاس هم ونيوئ ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل شيطان هغه خوراك د ځان لپاره حلال ګڼي چي پر هغه د الله نوم نه واخيستل سي ، شيطان هغه انجلۍ |

راوستل چي د ځان لپاره (يعني شيطان) خوراك حلال كړي (ځكه چي هغه پرته دبسم الله ويلو څخه خوراك پيل كونكي وه) ، نو ما د هغې لاس ونيوئ ، بيا شيطان دغه صحرائي راوستئ چي دده په ذريعه د ځان لپاره خوراك حلال كړي ما دده لاس هم ونيوئ ، په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په واك كي زما ساه ده د شيطان لاس ددغه انجلۍ د لاس سره زما په لاس كي دئ ، حذيفه وايي ددې څخه وروسته په بسم الله ويلو سره خوراك پيل سو . مسلم.

**زيات خوراك د بې بركتۍ علامه ده**

| | |
|---|---|
| (۴۰۵۴): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَادَ أَنْ يَشْتَرِيَ غُلَامًا فَأَلْقَى بَيْنَ يَدَيْهِ تَمْرًا فَأَكَلَ الْغُلَامُ فَأَكْثَرَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ كَثْرَةَ الْأَكْلِ شُؤْمٌ وَأَمَرَ بِرَدِّه . رواه البيهقي في شعب الإيمان . | د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د يو غلام رانيولو اراده وكړه ، رسول الله ﷺ د هغه غلام مخ ته خرماوي وغورځولې غلام ډيري خرماوي وخوړلې ، ددې په ليدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل زيات خوراك |

د بې بركتۍ سبب دئ بيا د هغه غلام د بيرته وركولو حكم يې وكړ . بيهقي.

**د مالګې تعريف**

| | |
|---|---|
| (۴۰۵۵): وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَيِّدُ إِدَامِكُمُ الْمِلْحُ . رواه ابن ماجة. | د حضرت انس بن مالك ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : مالګه ستاسو د كټغونو سرداره ده . ابن ماجه . |

**د خوراك لپاره چمچل كښل**

| | |
|---|---|
| (۴۰۵۶): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ | د حضرت انس ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله |

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وُضِعَ الطَّعَامُ فَاخْلَعُوْا نِعَالَكُمْ فَإِنَّهُ أَرْوَحُ لِأَقْدَامِكُمْ .

ﷺ وفرمايل : هر كله چي خوراك كښېښودل سي نو چمپل وكاږئ ځكه چي د چمپلو په كښلو سره پښو ته ډير آرام رسيږي . دارمي.

**د خوراک پخول به دي**

(۴۰۵۷): وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِيْ بَكْرٍ أَنَّهَا كَانَتْ إِذَا أُتِيَتْ بِثَرِيْدٍ أَمَرَتْ بِهِ فَغُطِّيَ حَتّٰى تَذْهَبَ فَوْرَةُ دُخَانِه وَتَقُوْلُ إِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ هُوَ أَعْظَمُ لِلْبَرَكَةِ . رواهما الدارمي .

د حضرت اسماء بنت ابوبكر (رض) څخه روايت دئ چي كله به هغې ته ښوروا راوړل سوه نو د هغې د پټولو حكم به يې وركړ هغه به پټه كړل سوه تر څو چي د هغې توږښ به ووتئ (يعني يخه به سول) او دا به يې فرمايل : ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي د خوراك څخه د گرمۍ وتل د لوی بركت سبب دئ . دارمي.

**د پيالې ځټل**

(۴۰۵۸): وَعَنْ نُبَيْشَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَكَلَ فِيْ قَصْعَةٍ ثُمَّ لَحِسَهَا تَقُوْلُ لَهُ الْقَصْعَةُ أَعْتَقَكَ اللّٰهُ مِنَ النَّارِ كَمَا أَعْتَقْتَنِيْ مِنَ الشَّيْطَانِ . رواه رزين .

د حضرت نبيشة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي په كاسه كي خوراك وكړي او بيا هغه وڅټي نو كاسه هغه مخاطب كړي ورته وايي الله تعالی دي. تا د دوږخ څخه داسي وساتي لكه څرنگه چي تا زه د شيطان څخه وساتلم . رزين.

## بَابُ الضِّيَافَةِ (د مېلمستيا بيان)

## لومړی فصل

**د مېلمه عزت كول**

(۴۰۵۹): عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يُؤْذِ جَارَهُ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ ، و في رواية بدل

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي پر الله ﷻ او د آخرت پر ورځ ايمان لري هغه دي د خپل ميلمه عزت كوي او څوك چي پر الله ﷻ او د آخرت پر ورځ ايمان لري هغه دي خپل همسايه ته تكليف نه وركوي او څوك چي پر الله ﷻ او د آخرت پر

الجار وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ . متفق عليه.

ورځ ايمان لري دي هغه دي ښه خبره كوي يا دي پټه خوله اوسي ، او په يوه روايت كې دهمسايه پر ځاى دا الفاظ دي چې څوك پر الله ﷻ او د آخرت پر ورځ ايمان لري هغه دي صله رحمي كوي (يعني د خپلوانو سره دي ښه چلن كوي) . بخاري او مسلم.

**ميلمه دې تر درو ورځو زيات نه پاته كيږي**

(۴۰۶۰): وَعَنْ أَبِي شُرَيْحٍ الْكَعْبِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ جَائِزَتُهُ يَوْمٌ وَلَيْلَةٌ وَالضِّيَافَةُ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ فَمَا بَعْدَ ذٰلِكَ فَهُوَ صَدَقَةٌ وَلَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَثْوِيَ عِنْدَهُ حَتّٰى يُحْرِجَهُ .متفق عليه.

د حضرت ابو شريح كعبي ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي پر الله ﷻ او د آخرت پر ورځ ايمان لري هغه ته پكار ده چي د خپل ميلمه عزت كوي، د خاطر او دار مدار وخت يوه ورځ او شپه ده (يعني دتكلفاتو او احسان كولو) او د ميلمه د ميلمستيا وخت درې ورځې او درې شپې دي او ددې څخه وروسته ميلمستيا صدقه او خيرات ده او ميلمه ته پكار ده چي هغه دي د خپل كوربه سره دومره نه پاته كيږي چي هغه تنگ سي . بخاري او مسلم.

**ميلمستيا كول واجب نه ده**

(۴۰۶۱): وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قُلْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّكَ تَبْعَثُنَا فَنَنْزِلُ بِقَوْمٍ لَا يَقْرُونَا فَمَا تَرَى فِيهِ فَقَالَ لَنَا إِنْ نَزَلْتُمْ بِقَوْمٍ فَأَمَرَ لَكُمْ بِمَا يَنْبَغِي لِلضَّيْفِ فَاقْبَلُوا فَإِنْ لَمْ يَفْعَلُوا فَخُذُوا مِنْهُمْ حَقَّ الضَّيْفِ الَّذِي يَنْبَغِي لَهُمْ . متفق عليه

د حضرت عقبه بن عامر ؓ څخه روايت دئ چي ما وويل: اې دالله رسوله ! تاسو موږ (د جهاد يا بل كار لپاره) ليږئ او موږ د يو قوم سره تم سو مگر هغوئ زموږ ميلمستيا نه كوي ددې په اره تاسو څه حكم كوئ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل هر كله چي تاسو د يو قوم ميلمانه سئ او هغوئ ستاسو لپاره د ميلمستيا مناسب بندوبست وكړي نو هغه قبول كړئ او كه داسي ونه كړي نو تاسو د هغوئ څخه د ميلمستيا حق واخلئ يعني دومره خومره چي دميلمنو لپاره مناسب وي . بخاري او مسلم

**د نبي او ياړانو د لوږې څخه د شپې وتل**

(۴۰۶۲): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ أَوْ لَيْلَةٍ فَإِذَا هُوَ بِأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ فَقَالَ مَا أَخْرَجَكُمَا مِنْ بُيُوتِكُمَا هٰذِهِ السَّاعَةَ قَالَا الْجُوعُ قَالَ وَأَنَا وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي يوه وار د ورځي يا د شپې په وخت كي رسول الله ﷺ د كور څخه ووتئ ، ناڅاپه د حضرت ابوبكر صديق او حضرت عمر رضي الله عنهما سره يو

لَأَخْرَجَنِي الَّذِي أَخْرَجَكُمَا قُومُوا فَقَامُوا مَعَهُ فَأَتَى رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ فَإِذَا هُوَ لَيْسَ فِي بَيْتِهِ فَلَمَّا رَأَتْهُ الْمَرْأَةُ قَالَتْ مَرْحَبًا وَأَهْلًا فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْنَ فُلَانٌ قَالَتْ ذَهَبَ يَسْتَعْذِبُ لَنَا مِنَ الْمَاءِ إِذْ جَاءَ الْأَنْصَارِيُّ فَنَظَرَ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَاحِبَيْهِ ثُمَّ قَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ مَا أَحَدٌ الْيَوْمَ أَكْرَمَ أَضْيَافًا مِنِّي قَالَ فَانْطَلَقَ فَجَاءَهُمْ بِعِذْقٍ فِيهِ بُسْرٌ وَتَمْرٌ وَرُطَبٌ فَقَالَ كُلُوا مِنْ هَذِهِ وَأَخَذَ الْمُدْيَةَ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِيَّاكَ وَالْحَلُوبَ فَذَبَحَ لَهُمْ فَأَكَلُوا مِنَ الشَّاةِ وَمِنْ ذَلِكَ الْعِذْقِ وَشَرِبُوا فَلَمَّا أَنْ شَبِعُوا وَرَوُوا قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتُسْأَلُنَّ عَنْ هَذَا النَّعِيمِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَخْرَجَكُمْ مِنْ بُيُوتِكُمُ الْجُوعُ ثُمَّ لَمْ تَرْجِعُوا حَتَّى أَصَابَكُمْ هَذَا النَّعِيمُ. رواه مسلم و ذکر حدیث ابي مسعود کان رجل من الانصار في باب الولیمة.

خاى سو ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه تاسو کوم شي د خپلو کورونو څخه په دغه وخت کي را ایستلي یاست ؟ هغوئ وویل د لوږي له کبله ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : قسم په هغه ذات چي د هغه په واك کي زما ساه ده زه هم دغه شي د کور څخه را ایستلی یم کوم چي تاسو را ایستلي یاست، راځئ ! نو دواړه د رسول الله ﷺ سره سول او د یو انصاري کور ته ورسیدل هغه وخت هغه په کور کي موجود نه وو د هغه ښځي چي رسول الله ﷺ ولیدئ نو وه یې ویل مرحبا واهلا ، رسول الله ﷺ د هغې څخه پوښتنه وکړه فلانی چیري دئ ؟ هغې وویل زموږ لپاره د خوږو اوبو راوړلو لپاره تللی دئ، په دغه وخت کي هغه انصاري هم راغلئ ، رسول الله ﷺ او دهغوئ دواړه ملګري چي یې ولیدل نو هغه وویل د الله ﷻ شکر دئ نن ورځ د بزرګو میلمنو د اعتبار څخه زما څخه زیات خوش بخته څوك نسته ، د راوي بیان دئ بیا هغه سرې روان سو

او د خرماوو یو وانښکی یې ورته راوړ چي په هغه کي نیم پخته او پخې او وچې خرماوي وې او عرض یې وکړ دا وخورئ ، بیا یې چاړه راواخیستل او د پسه ذبح کولو اراده یې وکړه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل د شیدو پسونه مه ذبح کوه نو هغه د میلمنو لپاره پسه ذبح کړه ، لنډه دا چي رسول الله ﷺ، ابوبکر صدیق ﷺ او حضرت عمر ﷺ د پسه غوښه او د خرماوو وانښکي وخوړئ او اوبه یې وڅښلې ، هر کله چي ماړه سول نو رسول الله ﷺ ابوبکر او عمر ته وفرمایل په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په واك کي زما ساه ده د قیامت په ورځ به ستاسو څخه ددغه نعمتونو په اړه پوښتنه کیږي لوږي تاسو د کور څخه را ایستلي واست او کور ته لا تللي نه واست چي الله تعالی دا نعمتونه درکړل . مسلم، او د ولیمې په باب کي د حضرت ابو مسعود ﷺ حدیث : کان رجل من الانصار ، بیان سوي دئ .

## دویم فصل

### د میلمه پالني اهمیت

(۴۰۶۳): عَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِيْ كَرِبَ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ أَيُّمَا مسلم ضَافَ قَوْمًا فَأَصْبَحَ الضَّيْفُ مَحْرُوْمًا كَانَ حَقًّا عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ نَصْرُهُ حَتّٰى يَأْخُذَ لَهُ بِقِرَاهُ مِنْ وَمَالِهِ وَ زَرْعِه. رواه الدارمي و ابوداؤد ، و في رواية له و ايما رجل ضاف قوما فلم يقروه كان له ان يعقبهم بمثل قراه .

د حضرت مقدام بن معدیکرب ﷺ څخه روایت دیٔ چي هغه د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي کوم مسلمان د یو قوم میلمه سي او په داسي حال کي سبا کري چي د هغه میلمستیا ونه سي یعني د شپې د هغه میلمستیا یې ونه کړه نو بیا پر هر مسلمان د هغه مرسته فرض سي یعني دهر مسلمان دا فرض دي چي د هغویٔ څخه د هغه د میلمستیا حق واخلي تر څو چي هغه خپل حق د هغویٔ د مال او زراعت څخه تر لاسه کړي . دارمي او ابوداؤد، او دده په یوه روایت کي داسي دي چي که څوك د یو قوم میلمه سي او هغویٔ یې میلمستیا ونه کړه نو حق یې سته چي د هغویٔ دمال څخه پرته د پوښتني د خپلي میلمستیا حق واخلي .

### د میلمستیا بدله میلمستیا نه ده

(۴۰۶۴): وَعَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ الجشمي عَنْ أَبِيْهِ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَرَاَيْتَ اِنْ مَرَرْتُ بِرَجُلٍ فَلَمْ يَقْرِنِيْ وَلَمْ يُضَيِّفْنِيْ ثُمَّ مَرَّ بِيْ بَعْدَ ذَالِكَ اَقْرِيْهِ اَمْ اَجْزِيْهِ قَالَ بَلْ اَقْرِهِ .رواه الترمذي.

حضرت ابو الاحوص ﷺ د خپل پلار څخه روایت کوي چي هغه وویل: اې دالله رسوله ! که زه د یو چا میلمه سم او هغه زما د میلمستیا حق ادا نه کړي نو بیا هغه سړی راسي زما سره میلمه سي نو ایا زه د هغه میلمستیا وکړم یا د هغه څخه بدله واخلم؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : دهغه میلمستیا وکړه. ترمذي.

### بېله اجازې د بل کور ته مه داخلېږه

(۴۰۶۵): وَعَنْ أَنَسٍ أَوْ غَيْرِهِ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَأْذَنَ عَلَى سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ فَقَالَ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ فَقَالَ سَعْدٌ وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَلَمْ يُسْمِعِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى سَلَّمَ ثَلَاثًا وَرَدَّ عَلَيْهِ سَعْدٌ ثَلَاثًا وَلَمْ

د حضرت انس ﷺ څخه او یا د یو بل چا څخه دا روایت دیٔ چي رسول الله ﷺ سعد بن عبادة ﷺ ته ورغلئ د هغه څخه یې د ننه ورتلو اجازه وغوښتل ، رسول الله ﷺ وفرمایل السلام علیکم ورحمة الله ، سعد ﷺ وویل وعلیکم السلام

يُسْمِعْهُ فَرَجَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاتَّبَعَهُ سَعْدٌ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ بِأَبِيْ أَنْتَ وَأُمِّيْ مَا سَلَّمْتَ تَسْلِيْمَةً إِلاَّ هِيَ بِأُذُنِيْ وَلَقَدْ رَدَدْتُ عَلَيْكَ وَلَمْ أُسْمِعْكَ أَحْبَبْتُ أَنْ أَسْتَكْثِرَ مِنْ سَلاَمِكَ وَمِنَ الْبَرَكَةِ ثُمَّ دَخَلُوا الْبَيْتَ فَقَرَّبَ لَهُ زَبِيْبًا فَأَكَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا فَرَغَ قَالَ أَكَلَ طَعَامَكُمُ الْأَبْرَارُ وَصَلَّتْ عَلَيْكُمُ الْمَلاَئِكَةُ وَأَفْطَرَ عِنْدَكُمُ الصَّائِمُوْنَ. رواه في شرح السنة.

ورحمة الله، سعد ﷺ دا الفاظ په كراره وويل چي رسول الله ﷺ يې نه واوري ، تر څو چي رسول الله ﷺ دري واره سلام ادا كړ او سعد ﷺ دري واره همداسي په كراره جواب وركړ ، مګر په رسول الله ﷺ يې نه اوريدل «د خاموشۍ د دي حالت په ليدو سره» رسول الله ﷺ ولاړی ، سعد ور پسي ورغلی او عرض يې وكړ اي دالله رسوله! زما مور او پلار دي پر تاسو قربان وي هر څو واره چي تاسو سلام ووايه زما دواړو غوږونو واوريدل او ما د هغه جواب هم دركړی مګر خپل جواب مي ستاسو غوږونو ته ونه رسوئ ځكه چي زه ستاسو د سلام او بركت زيات خواهشمند وم ، بيا رسول الله ﷺ او هغه د هغه كور ته دننه راغلل ، سعد ﷺ د رسول الله ﷺ په خدمت كي وچ انګور راوړل او نبي كريم ﷺ هغه وخوړل بيا ورته رسول الله ﷺ وفرمايل : نيكانو ستاسو خوراك وخوړئ او ملائكو ورته دعاء وكړه او روژه دارانو ورسره روژه ماته كړه . شرح السنه

د پرهيزګاره خلكو ميلمستيا بنه ده

(۴۰۶۶): وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَثَلُ الْمُؤْمِنِ وَمَثَلُ الْإِيْمَانِ كَمَثَلِ الْفَرَسِ فِيْ آخِيَّتِهِ يَجُوْلُ ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى آخِيَّتِهِ وَإِنَّ الْمُؤْمِنَ يَسْهُوْ ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى الْإِيْمَانِ فَأَطْعِمُوْا طَعَامَكُمُ الْأَتْقِيَاءَ وَأَوْلُوْا مَعْرُوْفَكُمُ الْمُؤْمِنِيْنَ . رواه البيهقي.

د حضرت ابو سعيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ايماندار سړی او ايمان د هغه آس په ډول دئ چي په رسۍ سره تړلی وي چي هغه په هغه رسۍ سره هر لوري ته ګرځي او بيا خپل ځای ته راځي، همدا ډول مؤمن سهو او غفلت كوي او بيا د ايمان په لور راګرځي نو ته خپل خوراك په پرهيزګارانو خلكو وخوره او خپل بخښنښ تولو مسلمانانو ته وركړئ . بيهقي.

د خوراك په وخت كي پر زنګنو كينستل

(۴۰۶۷): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُسْرٍ قَالَ كَانَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَصْعَةٌ يَحْمِلُهَا أَرْبَعَةُ رِجَالٍ يُقَالُ لَهَا الْغَرَّاءُ فَلَمَّا أَضْحَوْا وَسَجَدُوا الضُّحَى أُتِيَ بِتِلْكَ الْقَصْعَةِ وَقَدْ ثُرِدَ فِيْهَا فَالْتَفُّوْا عَلَيْهَا فَلَمَّا

د حضرت عبدالله بن بسر ﷺ څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ سره يوه پياله وه چي څلورو كسانو به پورته كول د هغې نوم غراء وو ، كله چي به دڅاښت وخت سو او خلكو به دڅاښت

كَثَرُوا جَثَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَعْرَابِيٌّ مَا هٰذِهِ الْجِلْسَةُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ جَعَلَنِي عَبْدًا كَرِيمًا وَلَمْ يَجْعَلْنِي جَبَّارًا عَنِيدًا ثُمَّ قَالَ كُلُوا مِنْ حوانبها وَدَعُوا ذِرْوَتَهَا يُبَارَكْ فِيهَا . رواه ابوداؤد.

لمونځ وکړ نو هغه پیاله به راوړل سوه او په هغې کې به ښوروا تیاره سوه او خلك به شاوخوا کښېښستل او د خلکو شمیر چې به زیات سو نو رسول الله ﷺ به پر ګونډو کښېښستئ، يوه ورځ يو صحرائي وويل ستاسو دا ناسته څنګه ده ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل زه الله ﷻ يو متواضع (عاجزه) انسان جوړ کړی يم سرکش ا و ضدي يې نه يم جوړ کړي، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : د خپل خپل لوري څخه خوراك کوئ . په منځ کې او د سربيره څخه لاسونه مه وهئ ستاسو لپاره به په دې کې برکت واچول سي . ابوداؤد.

**په يو ځاى خوراك كولو كي بركت وي**

(۴۰۶۸): وَعَنْ وَحْشِيِّ بْنِ حَرْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ أَصْحَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّا نَأْكُلُ وَلَا نَشْبَعُ قَالَ فَلَعَلَّكُمْ تَفْتَرِقُونَ قَالُوا نَعَمْ قَالَ فَاجْتَمِعُوا عَلَى طَعَامِكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهِ يُبَارَكْ لَكُمْ فِيهِ . رواه ابوداؤد

حضرت وحشي بن حرب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت كوي چې د رسول الله ﷺ اصحابو يوه ورځ وويل: اې د الله رسوله ! موږ خوراك كوو او زموږ نس نه مړيږي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل كيداى سي تاسو بيل بيل خوراك كوئ، هغوي وويل: هو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل خپل خوراك پر يو ځاى خورئ او پر هغه د الله نوم اخلئ ستاسو لپاره به په دې كې بركت وي . ابوداؤد.

## دريم فصل

**ډوډۍ، كالي او كور د انسان اساسي ضرورت**

(۴۰۶۹): عَنْ أَبِي عَسِيبٍ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلًا فَمَرَّ بِي فَدَعَانِي فَخَرَجْتُ اليه ثُمَّ مَرَّ بِأَبِي بَكْرٍ فَدَعَاهُ فَخَرَجَ إِلَيْهِ ثُمَّ مَرَّ بِعُمَرَ فَدَعَاهُ فَخَرَجَ إِلَيْهِ فَانْطَلَقَ حَتَّى دَخَلَ حَائِطًا لِبَعْضِ الْأَنْصَارِ فَقَالَ لِصَاحِبِ الْحَائِطِ أَطْعِمْنَا بُسْرًا فَجَاءَ بِعِذْقٍ فَوَضَعَهُ فَأَكَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ بَارِدٍ فَشَرِبَ فَقَالَ

د حضرت ابو عسيب ؓ څخه روايت دئ چې يوه شپه رسول الله ﷺ د کور څخه دباندي راووتی ، زما سره تيريدئ زه يې وغوښتلم ، زه د رسول الله ﷺ سره ملګری سوم ، بيا يې حضرت ابوبکر ؓ راوغوښتئ هغه راغلئ بيا يې حضرت عمر ؓ راوغوښتئ هغه هم راغلئ ، بيا موږ ټول د رسول الله ﷺ سره يو ځای روان سوو او د يو

لَتُسْأَلُنَّ عَنْ هٰذَا النعيم يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ فَأَخَذَ عُمَرُ الْعِذْقَ فَضَرَبَ بِهِ الْأَرْضَ حَتّٰى تَنَاثَرَ الْبُسْرُ قِبَلَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَنَّا لَمَسْئُولُونَ عَنْ هٰذَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ نَعَمْ إِلَّا مِنْ ثَلَاثٍ خِرْقَةٍ كَفَّ بِهَا الرَّجُلُ عَوْرَتَهُ أَوْ كِسْرَةٍ سَدَّ بِهَا جَوْعَتَهُ أَوْ حَجَرٍ يَتَدَخَّلُ فِيهِ مِنَ الْحَرِّ وَالْقُرِّ. رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان مرسلاً.

انصاري باغ ته ورسيدو ، رسول الله ﷺ د باغ خاوند ته وفرمايل : پر موږ خرماوي وخوره، هغه د خرماوو يو وانبكي راوړ ، رسول الله ﷺ د ملګرو سره خرماوي وخوړلې، بيا يې يخې اوبه وغوښتلې او وه يې چېښلې د هغه څخه وروسته يې وفرمايل : د قيامت په ورځ به ستاسو څخه ددغه نعمت په باره كي پوښتنه كيږي ، د راوي بيان دئ چي ددې په اوريدو سره حضرت عمر ﷺ د خرماوو وانبكى راواخيست او پر مخكه يې وغورځوئ چي د هغه تولي خرماوي د رسول الله ﷺ مخ ته دانه دانه سوې او عرض يې وكړ ايا د قيامت په ورځ به زموږ څخه ددې په اړه هم پوښتنه كيږي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :هو، مګر د درو شيانو پوښتنه به نه كيږي يو هغه جامه چي په هغه سره سړى خپل ستر پټوي ، دويم د ډوډۍ ټوټه چي په هغې سره انسان خپل لوږه دفع كوي. او دريم كوچنۍ خونه چي په هغې كي انسان خپل خان دګرمۍ او يخ څخه ساتي . احمد او بيهقي.

**د خو كسانو يو ځاى خوراک**

(۴۰۷۰): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وُضِعَتِ الْمَائِدَةُ فَلَا يَقُومُ رَجُلٌ حَتّٰى تُرْفَعَ الْمَائِدَةُ وَلَا يَرْفَعُ يَدَهُ وَإِنْ شَبِعَ حَتّٰى يَفْرُغَ الْقَوْمُ وَلْيُعْذِرْ فَإِنَّ ذَالِكَ يُخْجِلُ جَلِيسَهُ فَيَقْبِضُ يَدَهُ وَعَسَى أَنْ يَكُونَ لَهُ فِي الطَّعَامِ حَاجَةٌ . رواه ابن ماجة والبيهقي في شعب الايمان.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي دسترخوان وغوړول سي نو هيڅوك دي تر هغه وخته پوري د هغه څخه نه ولاړيږي تر څو پوري چي دسترخوان پورته نه سي او نه دي تر هغه وخته پوري د خوراك څخه لاس نيسي تر څو پوري چي تول خلك فارغ نه سي كه څه هم چي دده نس موړ سوى وي، مګر كه د يو وجې څخه زياته ملګرتيا نسي كولاې نو په معذرت كولو سره دي بيل سي ځكه چي د خوراك څخه په لاس نيولو سره ناست كسان شرمنده كيږي او خپله هم د خوراك څخه لاس نيسي او ډير ممكنه ده چي هغه تر اوسه لا وږى وي. ابن ماجه او بيهقي.

(۴۰۷۱): وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا

حضرت جعفر بن محمد ﷺ د خپل پلار څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ به د خلكو سره خوراك كوئ نو

| | |
|---|---|
| أَكَلَ مَعَ قَوْمٍ كَانَ آخِرَهُمْ أَكْلاً . رواه البيهقي في شعب الإيمان مرسلا . | تر آخر وخته پوري به يې خوراك كوئ . دا حديث بيهقي په شعب الايمان كي مرسلا روايت كړی دئ . |

## لوږه او درواغ مه يو ځای کوئ

| | |
|---|---|
| (۴۰۷۲): وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ قَالَتْ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِطَعَامٍ فَعَرَضَ عَلَيْنَا فَقُلْنَا لَا نَشْتَهِيهِ قَالَ لَا تَجْمَعْنَ جُوعًا وَكَذِبًا . رواه ابن ماجة. | د حضرت اسماء بنت يزيد (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ته خوراك راوړل سو بيا هغه خوراك موږ ته كښېښودل سو موږ وويل |

زموږ خوا ته نه كيږي (يعني خوراك ته مو زړه نه كيږئ) رسو ل الله ﷺ وفرمايل لوږه او درواغ مه يو ځاى كوئ . ابن ماجه .

## يو ځای خوراک کول د برکت باعث دی

| | |
|---|---|
| (۴۰۷۳): وَعَنْ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُوا جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا فَإِنَّ الْبَرَكَةَ مَعَ الْجَمَاعَةِ . رواه ابن ماجة. | د حضرت عمر بن خطاب ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ټول يو ځاى خوراك كوئ ، بيل بيل يې مه خورئ ځكه چي په يو ځاى خورك كي بركت وي . ابن ماجه. |

## د مېلمه استقبال او رخصتول

| | |
|---|---|
| (۴۰۷۴): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ السُّنَّةِ أَنْ يَخْرُجَ الرَّجُلُ مَعَ ضَيْفِهِ إِلَى بَابِ الدَّارِ . رواه ابن ماجة و رواه البيهقي في شعب الايمان عنه و عن ابن عباس و قال في اسناده ضعف . | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : سنت دادئ چي سړی د خپل ميلمه د رخصت په وخت كي د كور تر دروازې پوري ووځي، ابن ماجه او بيهقي، او بيهقي په شعب الايمان كي د ابوهريره او ابن عباس (رض) |

څخه روايت كړ او ويلي يې دي چي ددې په اسناد كي ضعف دئ .

## د مېلمه لرونکي روزي

| | |
|---|---|
| (۴۰۷۵): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْخَيْرُ أَسْرَعُ إِلَى الْبَيْتِ الَّذِي يُؤْكَلُ فِيهِ مِنَ الشَّفْرَةِ إِلَى سَنَامِ الْبَعِيرِ . رواه ابن ماجة. | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : نيكي، روزي او بركت د هغه كور په لوري په تيزي سره ځي په كوم كور |

كي چي (په ميلمنو) خوراك خوړل كيږي ، دا ډول لكه څرنګه چي د اوښ د بوك په غوښنه پريكولو كي چاړه په تيزي سره ننوزي .ابن ماجه .

# بَابُ فِيْ اَكْلِ الْمُضْطَرِ (دمجبورتيا د خوراک بيان)

## لومړی فصل

په دې باب کي لومړی فصل نشته.

## دويم فصل

د سخت حالت مسئله

(۴۰۷۶): عَنِ الْفُجَيْعِ الْعَامِرِيِّ أَنَّهُ أَتَى النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا يَحِلُّ لَنَا مِنَ الْمَيْتَةِ قَالَ مَا طَعَامُكُمْ قُلْنَا نَغْتَبِقُ وَنَصْطَبِحُ قَالَ أَبُو نُعَيْمٍ فَسَّرَهُ لِي عُقْبَةُ قَدَحٌ غُدْوَةً وَقَدَحٌ عَشِيَّةً قَالَ ذَاكَ وَأَبِي الْجُوعُ فَأَحَلَّ لَهُمُ الْمَيْتَةَ عَلَى هَذِهِ الْحَالِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت فجيع عامري ﷺ څخه روايت دئ چي هغه رسول الله ﷺ ته راغلی او وه يې ويل چي د مردار په باره کي تاسو څه حکم کوئ ؟ رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه تاسو خومره خوراك کوئ ؟ موږ وويل چي هم يې ماښام څښو او هم يې سهار څښو، ابونعيم ويلي دي چي ددې تفسير ما ته عقبه داسي وکړی چي يوه پياله د شېدو ماښام او يوه پياله د شيدو سهار، رسول الله ﷺ وفرمايل دومره خوراك، په خپل پلار دې مې قسم وي د لوږي موجب دئ (رسول الله ﷺ د غير الله قسم منع کېدو څخه مخکي دا قسم خوړلی وو) رسول الله ﷺ د هغوئ لپاره مردار حلال کړل. ابوداؤد.

(۴۰۷۷): وَعَنْ أَبِي وَاقِدٍ اللَّيْثِيِّ أَنَّ رَجُلاً قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّا نَكُوْنُ بِأَرْضٍ فَتُصِيْبُنَا بِهَا الْمَخْمَصَةُ فَمَتَى يَحِلُّ لَنَا الْمَيْتَةُ ؟ قَالَ مَا لَمْ تَصْطَبِحُوْا أَوْتَغْتَبِقُوْا أَوْ تَحْتَفِئُوْا بِهَا بَقْلاً فَشَأْنَكُمْ بِهَا مَعْنَاهُ إِذَا لَمْ تَجِدُوْا صَبُوْحًا أَوْ غَبُوْقًا وَلَمْ تَجِدُوْا بَقْلَةً تَأْكُلُوْنَهَا حَلَّتْ لَكُمُ الْمَيْتَةُ . رواه الدارمي.

د حضرت ابو واقد ليثي ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړي وويل: اې دالله رسوله ! کله موږ داسي مځکي ته ورسيږو چي موږ ته لوږه تکليف راکوي (يعني هلته دخوراك شی نه وي) زموږ لپاره مردار کله حلال کيږي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل هر کله چي تاسو تر سهاره پوري خوراك تر لاسه نه کړئ او په هغه مځکه کي تاسو ته د سبزيو د ډول څخه هيڅ شی په لاس رانسي نو ستاسي کار له مرداری سره دی معنی يې داده چي تاسو د ماښام يا سهار خوراك پيدا نه کړئ او سبزي هم پيدا نه کړئ چي وه يې خورئ نو مرداره درته حلاله ده ، دارمي.

# بَابُ الْأَشْرِبَةِ (د چيښلو دشيانو بيان)

## لومړی فصل

**په درو ساه سره اوبه څښل**

(۴۰۷۸): عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَنَفَّسُ فِي الشَّرَابِ ثَلَاثًا، متفق عليه و زاد مسلم في رواية وَيَقُولُ إِنَّهُ أَرْوَى وَأَبْرَأُ وَأَمْرَأُ .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به داوبو چيښلو په منځ کي درې واره ساه کښل . بخاري او مسلم.او د مسلم په يوه روايت کي دي چي رسول الله ﷺ به دا فرمايل چي داسي اوبه چيښل سری ښه مړوي ، صحت مند وي او ژر هضم کيږي .

**د ژي د خولي څخه اوبه مه چيښئ**

(۴۰۷۹): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ نَهَى رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الشُّرْبِ مِنْ فِي السِّقَاءِ . متفق عليه

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د ژي د خولي څخه اوبه چيښل منع فرمايلي دي . بخاري او مسلم.

(۴۰۸۰): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ اخْتِنَاثِ الْأَسْقِيَةِ و زاد في رواية وَاخْتِنَاثُهَا أَنْ يُقْلَبَ رَأْسُهَا ثُمَّ يُشْرَبَ مِنْهُ. متفق عليه.

د حضرت ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ددې څخه منع فرمايلې ده چي په ژي پورته کولو سره دي اوبه وچيښل سي او په يوه روايت کي داسي دي چي ژی پورته کول دادي چي هغه خوله لاندي کړل سي او بيا دهغه څخه اوبه وچيښل سي (مطلب دا چي د ژي څخه اول بل لوښي ته اوبه واچوئ او بيا يې وچيښئ) . بخاري او مسلم.

**په ولاړه اوبه مه چيښئ**

(۴۰۸۱): وَ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ نَهَى أَنْ يَشْرَبَ الرَّجُلُ قَائِمًا. رواه مسلم.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ په ولاړه د اوبو چيښلو څخه منع فرمايلې ده . مسلم.

(۴۰۸۲): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَشْرَبَنَّ أَحَدٌ مِنْكُمْ قَائِمًا

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هيڅوک دي په ولاړه اوبه

فَمَنْ نَسِيَ فَلْيَسْتَقِئْ . رواه مسلم .

نه چيښي او څوك چي يې په هيره وچيښي هغه ته پكار ده چي هغه قئ كړي . مسلم

## د زمزم اوبه په ولاړه چښل

(٢٠٨٣): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِدَلْوٍ مِنْ زَمْزَمَ فَشَرِبَ وَهُوَ قَائِمٌ. متفق عليه.

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روايت دئ چي ما دزمزم د اوبو يو سلواغه رسول الله ﷺ ته راوړل رسول الله ﷺ هغه په ولاړه وچيښلې. بخاري او مسلم

## د اوداسه او زمزم اوبه په ولاړه چښل

(٢٠٨٤): وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّهُ صَلَّى الظُّهْرَ ثُمَّ قَعَدَ فِي حَوَائِجِ النَّاسِ فِي رَحَبَةِ الْكُوفَةِ حَتّٰى حَضَرَتْ صَلَاةُ الْعَصْرِ ثُمَّ أُتِيَ بِمَاءٍ فَشَرِبَ وَغَسَلَ وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ وَذَكَرَ رَأْسَهُ وَرِجْلَيْهِ ثُمَّ قَامَ فَشَرِبَ فَضْلَهُ وَهُوَ قَائِمٌ ثُمَّ قَالَ إِنَّ نَاسًا يَكْرَهُونَ الشُّرْبَ قِيَامًا وَإِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَنَعَ مِثْلَ مَا صَنَعْتُ . رواه البخاري .

د حضرت علي ؓ څخه روايت دئ چي هغه دماپښين لمونځ وكړ بيا د كوفې په يو پراخ ځاى كي د خلكو د معاملاتو د فيصله كولو لپاره كښېنستئ تر څو چي د مازديگر وخت سو بيا د هغه لپاره اوبه راوړل سوې چي د هغه څخه يې لومړى وچيښلې او بيا يې مخ پريولئ او لاسونه يې پريولل راوي وايي او د سر مسح يې وكړل او پښي يې پريولې بيا (د اوداسه څخه) چي كومي اوبه پاته سوې هغه يې په ولاړه وچيښلې ، بيا يې وفرمايل خلك په ولاړه اوبه چښل بد گڼي او رسول الله ﷺ داسي كړي دي څنگه چي ما وكړل. بخاري.

## د اوبو چښلو طريقه

(٢٠٨٥): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَى رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ وَمَعَهُ صَاحِبٌ لَهُ فَسَلَّمَ فَرَدَّ الرَّجُلُ وَهُوَ يُحَوِّلُ الْمَاءَ فِي حَائِطٍ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ كَانَ عِنْدَكَ مَاءٌ بَاتَ فِي شَنَّةٍ وَإِلَّا كَرَعْنَا فَقَالَ عِنْدِي مَاءٌ بَاتَ فِي شَنٍّ فَانْطَلَقَ إِلَى الْعَرِيشِ فَسَكَبَ فِي قَدَحٍ مَاءً ثُمَّ حَلَبَ عَلَيْهِ مِنْ دَاجِنٍ فَشَرِبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ أَعَادَ فَشَرِبَ الرَّجُلُ الَّذِي جَاءَ مَعَهُ . رواه البخاري.

د حضرت جابر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د يو انصاري كره تشريف يوړ ، د رسول الله ﷺ سره يو صحابي هم وو . رسول الله ﷺ هغه انصاري ته سلام وكړ هغه د سلام جواب وركړ ، انصاري هغه وخت باغ اوبه كوئ . نبي كريم ﷺ هغه ته وفرمايل : كه ستاسره په ژي كي اوبه وي چي په دغه ژي كي يې شپه تيره كړې وي نو موږ ته يې راكړه كنه نو موږ به پر يو وياله يا تالاب باندي په خوله لگولو سره اوبه وچيښو ،

انصاري وويل زما سره په ژي کي اوبه سته چې شپه یې په ژي کي تیره کړې ده ، د دې په ويلو سره هغه خپل خیمې ته ولاړ په يوه پياله کي یې اوبه راواخیستلې او په هغه کي یې د كور د میږو څخه شیدې ولويشلې ، نبي کريم ﷺ هغه وڅښلې او بیا یې بله پياله راوړل هغه یې هغه صحابي ته ورکړه چې د رسول الله ﷺ سره راغلی وو . بخاري.

**د سرو او سپينو زرو په لوښي کي خوړک حرام دی**

(۴۰۸۶): وَعَنْ اُمِّ سَلَمَةَ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الَّذِي يَشْرَبُ فِي آنِيَةِ الْفِضَّةِ إِنَّمَا يُجَرْجِرُ فِي بَطْنِهِ نَارَ جَهَنَّمَ . متفق عليه و في رواية لمسلم ان الذي ياكل و يشرب في آنية الفضة والذهب.

د حضرت ام سلمه (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چې د سپينو زرو په لوښو کي د څښلو يو شي څښي د هغه دا څښل به د هغه په نس کي د دوږخ اور بل کړي . بخاري او مسلم ، او د بخاري په يوه روايت کي د االفاظ دي څوك چې د سپينو يا سرو زرو په لوښو کي خوري يا څښي .(د هغه به دغه حال وي كوم چې ذكر سو) .

(۴۰۸۷): وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا تَلْبَسُوا الْحَرِيرَ وَلَا الدِّيبَاجَ وَلَا تَشْرَبُوا فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَلَا تَأْكُلُوا فِي صِحَافِهَا فَإِنَّهَا لَهُمْ فِي الدُّنْيَا وَهِيَ لَكُمْ فِي الْآخِرَةِ . متفق عليه.

د حضرت حذيفة رضی الله عنه څخه روايت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چې حرير او ديباج (ريښمني جامې) مه اغوندئ ، د سرو او سپينو زرو په لوښو کي مه څښئ او د سرو او سپينو زرو په پيالو کي خوراك مه کوئ ځکه چې دا شيان په دنيا کي د کافرانو لپاره دي او ستاسو لپاره په آخرت کي دي . بخاري او مسلم.

**د راسته خوا څخه شروع**

(۴۰۸۸): وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ حُلِبَتْ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَاةٌ دَاجِنٌ وَشِيبَ لَبَنُهَا بِمَاءٍ مِنَ الْبِئْرِ الَّتِي فِي دَارِ اَنَسٍ فَأَعْطَى رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقَدَحَ فَشَرِبَ وَعَلَى يَسَارِهِ اَبُو بَكْرٍ و يمينه اَعْرَابِيٌّ فَقَالَ عُمَرُ اَعْطِ اَبَا بَكْرٍ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَأَعْطَى الْاَعْرَابِيَّ الَّذِي عَنْ يَمِينِهِ ثُمَّ قَالَ الْاَيْمَنَ فَالْاَيْمَنَ ، و في رواية الايمنون الايمنون الا فيمنوا. متفق عليه.

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روايت دئ چې د رسو ل الله ﷺ لپاره په كور کي د ساتل سوې بزې څخه شيدې ولويشل سوې بيا په هغه کي د څاه اوبه گډې کړل سوې چې د انس رضی الله عنه په كور کي وو ، بيا هغه شيدې رسول الله ﷺ ته ورکول سوې رسول الله ﷺ د هغه څخه يو څه وڅښلې دغه وخت د رسول الله ﷺ چپه طرف ته ابوبکر صديق رضی الله عنه وو او راسته طرف ته يې

يو صحرائي وو، حضرت عمر ﷺ وويل ابوبكر ته يې ورکړئ اې د خداى رسوله! ، رسول الله ﷺ هغه پياله صحرائي ته ورکړه چې د رسول الله ﷺ راسته طرف ته ناست وو ، رسول الله ﷺ وفرمايل اول راسته دئ او بيا چپه، او په يوه روايت کې داسې دي چې د راسته خوا خلك مستحق دي د راسته خوا خلك مستحق دي ، خبردار! د راسته خوا کسانو ته يې ورکوې. بخاري او مسلم.

(۴۰۸۹): وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَدَحٍ فَشَرِبَ مِنْهُ وَعَنْ يَمِينِهِ غُلَامٌ أَصْغَرُ الْقَوْمِ وَالْأَشْيَاخُ عَنْ يَسَارِهِ فَقَالَ يَا غُلَامُ أَتَأْذَنُ لِي أَنْ أُعْطِيَهُ الْأَشْيَاخَ فَقَالَ مَا كُنْتُ لِأُوثِرَ بِفَضْلِي مِنْكَ أَحَدًا يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَأَعْطَاهُ إِيَّاهُ. متفق عليه و حديث ابي قتادة سنذكر في باب المعجزات ان شاء الله تعالى .

د حضرت سهل بن سعد ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ ته يوه پياله د شيدو راوړل سوه ، رسول الله ﷺ د هغې څخه وچيښل او هغه وخت د رسول الله ﷺ راسته طرف ته يو هلك وو چې تر ټولو کوچنی وو او د پوخ عمر سړي چپه طرف ته ناست وه، رسول الله ﷺ د هغه هلك (يعني ابن عباس ﷺ) څخه پوښتنه وکړه ته اجازه کوې چې زه دا پياله مشرانو خلکو ته ورکړم؟ (په مشرانو کې خالد بن وليد هم وو) هلك وويل: اې د الله رسوله! ستاسو د پاته شونو د چيښلو څخه زه تر خپل خان ماسوا بل څوك نه غوره کوم، نو رسول الله ﷺ هغه پياله هغه کوچني ته ورکړل . بخاري او مسلم . او د ابوقتاده ﷺ حديث به موږ په باب المعجزات کې دير ژر بيان کړو . ان شاء الله تعالى .

## دويم فصل

### په ولاړه خوراك او چيښاك

(۴۰۹۰): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنَّا نَأْكُلُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ نَمْشِي وَنَشْرَبُ وَنَحْنُ قِيَامٌ . رواه الترمذي و ابن ماجة والدارمي و قال الترمذي هذا حديث حسن صحيح غريب .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې به موږ تللو او په ولاړه به مو خوراك او چيښاك کوئ. ترمذي، ابن ماجه او دارمي، او ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح غريب دئ.

(۴۰۹۱): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَشْرَبُ قَائِمًا وَقَاعِدًا ؟ رواه الترمذي.

حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار څخه او هغه د پلار څخه روايت کوي چې ما رسول الله ﷺ په ولاړه او په ناسته په چيښلو ليدلی دئ . ترمذي.

د چښلو په وخت کي د اوبو په لوښي کي ساه مه کاږئ

| | |
|---|---|
| (۴۰۹۲): وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُتَنَفَّسَ فِي الْإِنَاءِ أَوْ يُنْفَخَ فِيهِ . رواه ابوداؤد و ابن ماجة. | د حضرت ابن عباس ﷠ څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ د اوبو په لوښي کي د چښلو په وخت کي د ساه کښلو څخه او پوه کولو څخه منع فرمايلي ده . ابوداؤد او ابن ماجه. |

په يوه ساه اوبه مه چښئ

| | |
|---|---|
| (۴۰۹۳): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَشْرَبُوا وَاحِدًا كَشُرْبِ الْبَعِيرِ وَلَكِنْ اشْرَبُوا مَثْنَى وَثُلَاثَ وَسَمُّوا إِذَا أَنْتُمْ شَرِبْتُمْ وَاحْمَدُوا إِذَا أَنْتُمْ رَفَعْتُمْ . رواه الترمذي. | د حضرت ابن عباس ﷠ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو په يو دم (يعني يوه ساه ) د اوښ په ډول اوبه مه چښئ بلکه په دوه يا دري واره ساه اخيستلو سره يې چښئ، |

او هر کله چي تاسو چښښل شروع کړئ نو بسم الله واياست کله چي په دويم وار د لوښي سره خوله لګوئ نو الحمدلله واياست . ترمذي.

که په اوبو کي خاشه وي هم په اوبو کي مه پوکه

| | |
|---|---|
| (۴۰۹۴): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ النَّفْخِ فِي الشَّرَابِ فَقَالَ رَجُلٌ الْقَذَاةُ أَرَاهَا فِي الْإِنَاءِ قَالَ أَهْرِقْهَا قَالَ فَإِنِّي لَا أَرْوَى مِنْ نَفَسٍ وَاحِدٍ قَالَ فَأَبِنِ الْقَدَحَ عَنْ فِيكَ ثُمَّ تَنَفَّسْ . رواه الترمذي و الدارمي. | د حضرت ابو سعيد خدري ﷠ څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ د اوبو چښښلو پر وخت په هغه کي د پوه کولو څخه منع فرمايلې ده ، يو سړي ووېل : ځيني وخت په اوبو کي يو شی وي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: لږ اوبه توی کړه ، |

بيا هغه پوښتنه وکړه زه په يوه ساه چښښلو سره نه اوبه کيږم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل پياله د خولې څخه لېري کړه او بيا ساه واخله . ترمذي او دارمي.

د لوښي د ماتي خوا څخه اوبه نه چښل

| | |
|---|---|
| (۴۰۹۵): وَعَنْهُ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الشُّرْبِ مِنْ ثُلْمَةِ الْقَدَحِ وَأَنْ يُنْفَخَ فِي الشَّرَابِ . رواه ابوداؤد. | د حضرت ابو سعيد خدري ﷠ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د پيالې د ماتي خوا څخه اوبه چښښل منع کړه او په اوبو کي د پوه کولو څخه |

يې هم منع کړې ده . ابوداؤد.

| | |
|---|---|
| (۲۰۹۶): وَعَنْ كَبْشَةَ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشَرِبَ مِنْ فِي قِرْبَةٍ مُعَلَّقَةٍ قَائِمًا فَقُمْتُ إِلَى فِيهَا فَقَطَعْتُهُ . رواه الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب صحيح . | د حضرت كبشه ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ زما په لور تشريف راوړ او د ژي د خولي سره ودريدئ په ولاړه يې اوبه وڅښلې ، ما د ژي د خولې څخه هغه ټوټه پريكړه پر كوم ځاى |

چي رسول الله ﷺ خوله مباركه لګولې وه . (يعني د بركت تر لاسه كولو لپاره) . ترمذي، ابن ماجه، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب صحيح دئ.

**د نبي كريم ﷺ خوږې او يخې اوبه خوښې وې**

| | |
|---|---|
| (۲۰۹۷): وَعَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ أَحَبُّ الشَّرَابِ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحُلْوَ الْبَارِدَ . رواه الترمذي وقال والصحيح ما روى عن الزهري عن النبي صلى الله عليه وسلم مرسلا. | حضرت زهري د عروة څخه او هغه د حضرت عائشي (رض) څخه روايت كوي چي د څښلو په شيانو كي به رسول الله ﷺ خوږې او يخې اوبه ډيري خوښولې . ترمذي، ترمذي ويلي صحيح هغه دي كوم چي زهري د نبي كريم ﷺ څخه مرسلا روايت كړى دئ. |

**په څښلو كي شيدې ښه شى دى**

| | |
|---|---|
| (۲۰۹۸): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ طَعَامًا فَلْيَقُلِ اللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَأَطْعِمْنَا خَيْرًا مِنْهُ وَإِذَا سُقِيَ لَبَنًا فَلْيَقُلِ اللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَزِدْنَا مِنْهُ فَإِنَّهُ لَيْسَ شَيْءٌ يُجْزِئُ مِنَ الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ إِلَّا اللَّبَنُ. رواه الترمذي و ابوداؤد. | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي په تاسو كي يو څوك خوراك وخوري نو دا كلمات دي وايي (اللهم بارك .....) اي الله ! زموږ لپاره په دې خوراك كي بركت واچوي او |

ددې څخه غوره طعام راباندې وخوري او هر كله چي شيدې څښيې نو دا دعاء دې كوي (اللهم بارك ...منه) اي الله په دغه شيدو كي زموږ لپاره بركت واچوې او تر دې زياتې راكړې، او ددې څخه غوره دې نه وايي څكه چي كوم شى د خوراك او څښاك دواړه لپاره كافي سي تر هغه بل غوره شى څه شي كيدلاى سي . ترمذي او ابوداؤد.

**د رسول الله ﷺ لپاره خوږې اوبه راوړل**

| | |
|---|---|
| (۲۰۹۹): وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسْتَعْذَبُ لَهُ | د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي دنبي كريم ﷺ لپاره به د سقيا څخه خوږې اوبه راوړل |

| | |
|---|---|
| الْمَاءُ مِنَ السُّقْيَا قِيْلَ هِيَ عَيْنٌ بَيْنَهَا وَبَيْنَ الْمَدِيْنَةِ يَوْمَانِ . رواه ابوداؤد. | سوي، سقيا د مديني منورې څخه د دوو ورځو په فاصله یوه چینه ده . ابوداؤد. |

## دریم فصل

### د سرو او سپينو زرو لوښي منع دي

| | |
|---|---|
| (۴۱۰۰): عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ شَرِبَ فِيْ إِنَاءِ ذَهَبٍ أَوْ فِضَّةٍ أَوْ إِنَاءٍ فِيْهِ شَيْءٌ مِّنْ ذٰلِكَ فَإِنَّمَا يُجَرْجِرُ فِيْ بَطْنِهِ نَارَ جَهَنَّمَ . رواه الدارقطني. | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د سرو او سپينو زرو په لوښو کي يا په هغه لوښي کي چي سره يا سپين زر پکښې وي يو شی وڅښي نو د هغه |

دا څښل د هغه په نس کي د دوږخ اور تيزوي . دار قطني.

# بَابُ النَّقِيْعِ وَالْاَنْبِذَةِ

## (دخوږو اوبو او دخرماوو داوبو بيان)

## لومړی فصل

### د حضرت انس ﷺ پياله

| | |
|---|---|
| (۴۱۰۱): عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَقَدْ سَقَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ بِقَدَحِي هٰذَا الشَّرَابَ كُلَّهُ الْعَسَلَ وَالنَّبِيذَ وَالْمَاءَ وَاللَّبَنَ . رواه مسلم . | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي ما په خپل دغه پياله کي په رسول الله ﷺ باندي د څښلو ټول شيان څښلي دي يعني شات، نبيذ، اوبه او شيدې . مسلم. |

### د نبيذ جوړولو ذکر

| | |
|---|---|
| (۴۱۰۲): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنَّا نَنْبِذُ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سِقَاءٍ يُوكَىٰ أَعْلَاهُ وَلَهُ عَزْلَاءُ نَنْبِذُهُ غُدْوَةً فَيَشْرَبُهُ عِشَاءً وَنَنْبِذُهُ عِشَاءً فَيَشْرَبُهُ غُدْوَةً . رواه مسلم . | د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دي چي موږ به د رسول الله ﷺ لپاره نبيذ (د خرماوبه نښتېږل) جوړول ، زموږ سره يو ژی وو چي د هغه به لوړ طرف بنديدئ او کښته طرف ته يې |

خوله وه موږ به هغه ژی د سهار په وخت کي د اوبو او خرماوو څخه ډکوي او رسول الله ﷺ به د

شپې هغه اوبه چېښلې او د شپې به مو د خرماوو او اوبو څخه ډکوئ او رسول الله ﷺ به د ورځې هغه اوبه چېښلې . مسلم.

(۴۱۰۳): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنْتَبَذُ لَهٗ أَوَّلَ اللَّيْلِ فَيَشْرَبُهٗ إِذَا أَصْبَحَ يَوْمَهٗ ذٰلِكَ وَاللَّيْلَةَ الَّتِي تَجِيءُ وَالْغَدَ وَاللَّيْلَةَ الْأُخْرٰى وَالْغَدَ إِلَى الْعَصْرِ فَإِنْ بَقِيَ شَيْءٌ سَقَاهُ الْخَادِمَ أَوْ أَمَرَ بِهٖ فَصُبَّ . رواه مسلم .

د حضرت ابن عباس ﷜ څخه روايت دئ چې د رسول الله ﷺ لپاره به د شپې په اول کې نبيذ تيارېدل او رسول الله ﷺ به هغه د هغه شپې د سهار څخه تر ماښام پورې چېښل بيا به يې توله شپه چېښل ، بيا په دويمه ورځ به يې د سهار څخه تر ماښام پورې چېښل ، بيا به يې توله شپه چېښل او په دريمه ورځ به يې د مازديگر پورې چېښل بيا که څه به پاته سول نو په خادم باندي به يې چېښل يا به يې تويول . مسلم.

(۴۱۰۴): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ يُنْبَذُ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ سِقَاءٍ فَاذَا لَمْ يَجِدُوْا سِقَاءً يُنْبَذُ لَهٗ فِي تَوْرٍ مِنْ حِجَارَةٍ . رواه مسلم ،

د حضرت جابر ﷜ څخه روايت دئ چې د رسول الله ﷺ لپاره به په ژي کې نبيذ جوړېدل او که ژی به نه وو نو بيا د ډبرې په لوښي کې به جوړېدل . مسلم

## د نبيذ منع لوښي

(۴۱۰۵): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْحَنْتَمِ وَالْمُزَفَّتِ وَالنَّقِيْرِ وَ اَمَرَ اَنْ يُنْبَذَ فِيْ اَسْقِيَةِ الْاَدَمِ . رواه مسلم.

د حضرت ابن عمر ﷜ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ د کدو په لوښي کې، په شنه منگي کې، د لاکو په لوښو کې او دلرگي په لوښي کې د نبيذ جوړولو څخه منع فرمايلې ده او دا حکم يې کړی دئ چې د پوست (څرمن) په لوښي کي دي نبيذ جوړ کړل سي . مسلم

## ټول د نشې شيان حرام دي

(۴۱۰۶): وَعَنْ بُرَيْدَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَهَيْتُكُمْ عَنِ الظُّرُوْفِ فَإِنَّ ظَرْفًا لَا يُحِلُّ شَيْئًا وَلَا يُحَرِّمُهٗ وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ ، و في رواية قَالَ نَهَيْتُكُمْ عَنِ الْأَشْرِبَةِ فِي ظُرُوْفِ الْأَدَمِ فَاشْرَبُوْا فِي كُلِّ وِعَاءٍ غَيْرَ أَنْ لَا تَشْرَبُوْا مُسْكِرًا.رواه مسلم .

د حضرت بريدة ﷜ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : ما تاسو د يو څو ډوله لوښو د استعمال څخه منع کړي واست مگر لوښي نه يو شی حلالوي او نه يې حراموي (حقيقت داد ئ) چې هر نشه راوستونکی شی حرام دئ . او په يوه روايت کې دي چې ما تاسو د يو څو لوښو کې د چېښلو څخه منع

كړي واست مګر د پوست په لوښي کي د څښلو اجازه مي درکړې وه (اوس هغه حکم منسوخ دئ) تاسو په هر لوښي کي څښل کوئ مګر هيڅ يو نشي والا شی مه څښئ مسلم

## دويم فصل

د شرابو نوم بدلول

| | |
|---|---|
| (۴۱۰۷): عَنْ أَبِيْ مَالِكِ الْأَشْعَرِيّ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَيَشْرَبَنَّ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي الْخَمْرَ يُسَمُّوْنَهَا بِغَيْرِ اسْمِهَا . رواه ابوداؤد و ابن ماجة. | د حضرت ابو مالك اشعري ﷺ څخه روايت دئ چي هغه د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي زما په امت کي به ځيني خلك شراب څښي او په نوم بدلولو سره به د هغه يو بل نوم ايږدي. |

ابوداؤد او ابن ماجه.

## دريم فصل

په شنه منګي کي نبيذ

| | |
|---|---|
| (۴۱۰۸): عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ نَهَى رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نبيذ الْجَرِّ الْأَخْضَرِ قُلْتُ أَنَشْرَبُ فِي الْأَبْيَضِ قَالَ لَا . رواه البخاري. | د حضرت عبدالله بن ابي اوفى ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د شين منګي د نبيذ څښلو څخه منع وفرمايل . ما عرض |

وکړ اې دالله رسوله ! ايا موږ د سپين منګی نبيذ څښو ، رسول الله ﷺ وفرمايل : يا ، (دا حکم په حديث نمبر ۴۱۰۶ سره منسوخ دئ) بخاري.

# بَابُ تَغْطِيَةِ الْأَوَانِيْ وَغَيْرِهَا

# (د لوښو او وغيره پټولو بيان)

## لومړی فصل

د شپې رانګ

| | |
|---|---|
| (۴۱۰۹): عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ جُنْحُ اللَّيْلِ أَوْ أَمْسَيْتُمْ فَكُفُّوا صِبْيَانَكُمْ فَإِنَّ الشَّيَاطِيْنَ يَنْتَشِرُ حِيْنَئِذٍ فَإِذَا ذَهَبَ | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي شپه شروع سي او مابنام سي نو تاسو خپل کوچنيان د باندي تلو |

سَاعَةٌ مِنَ اللَّيْلِ فَخَلُّوهُمْ فَأَغْلِقُوا الْأَبْوَابَ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَفْتَحُ بَابًا مُغْلَقًا وَأَوْكُوا قِرَبَكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ وَخَمِّرُوا آنِيَتَكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ وَلَوْ أَنْ تَعْرُضُوا عَلَيْهَا شَيْئًا وَأَطْفِئُوا مَصَابِيحَكُمْ، متفق عليه وفي رواية للبخاري قَالَ خَمِّرُوا الْآنِيَةَ وَأَوْكُوا الْأَسْقِيَةَ وَأَجِيفُوا الْأَبْوَابَ وَاكْفِتُوا صِبْيَانَكُمْ عِنْدَ الْمَسَاءِ فَإِنَّ لِلْجِنِّ انْتِشَارًا وَخَطْفَةً وَأَطْفِئُوا الْمَصَابِيحَ عِنْدَ الرُّقَادِ فَإِنَّ الْفُوَيْسِقَةَ رُبَّمَا اجْتَرَّتِ الْفَتِيلَةَ فَأَحْرَقَتْ أَهْلَ الْبَيْتِ، و في رواية لمسلم قَالَ غَطُّوا الْإِنَاءَ وَأَوْكُوا السِّقَاءَ وَأَغْلِقُوا الْبَابَ وَأَطْفِئُوا السِّرَاجَ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَحُلُّ سِقَاءً وَلَا يَفْتَحُ بَابًا وَلَا يَكْشِفُ إِنَاءً فَإِنْ لَمْ يَجِدْ أَحَدُكُمْ إِلَّا أَنْ يَعْرُضَ عَلَى إِنَائِهِ عُودًا وَيَذْكُرَ اسْمَ اللّٰهِ فَلْيَفْعَلْ فَإِنَّ الْفُوَيْسِقَةَ تُضْرِمُ عَلَى أَهْلِ الْبَيْتِ بَيْتَهُمْ، و في رواية له قَالَ لَا تُرْسِلُوا فَوَاشِيَكُمْ وَصِبْيَانَكُمْ إِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ حَتّٰى تَذْهَبَ فَحْمَةُ الْعِشَاءِ فان الشيطان يبعث اذا غابت الشمس حتى تذهب فحمة العشاء و في رواية له قَالَ غَطُّوا الْإِنَاءَ وَأَوْكُوا السِّقَاءَ فَإِنَّ فِي السَّنَةِ لَيْلَةً يَنْزِلُ فِيهَا وَبَاءٌ لَا يَمُرُّ بِإِنَاءٍ لَيْسَ عَلَيْهِ غِطَاءٌ أَوْ سِقَاءٍ لَيْسَ عَلَيْهِ وِكَاءٌ إِلَّا نَزَلَ فِيهِ مِنْ ذٰلِكَ الْوَبَاءِ .

ته مه پریږدئ ځکه چي دغه وخت شیطانان د څلورو خواوو څخه خپاره سي بیا چي د شپې یو گړی تیر سي نو په بسم الله ویلو سره د کور دروازې بندې کړئ او کوچنیان په کور کي د لوبو لپاره پریږدئ ځکه چي شیطانان بندې دروازې نه خلاصوي او د ژې دواړه غاړي په بسم الله ویلو سره بندې کړئ او په بسم الله ویلو سره خپل لوښي پټ کړئ که څه هم په پلنوالي کي یو داسي شی پر کښیږدئ چي څه اندازه لوښي پټ کړي او څراغ مړ کړئ . بخاري او مسلم، او د بخاري په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: لوښي پټ کړئ د ژیانو خولې بندې کړئ ، دروازې بندې کړئ او د ماښام په وخت کي خپل کوچنیان د ځان سره کښینوئ ځکه چي په دغه وخت کي پیریانان خپاره سي او تښتول (حمله) کوي ، د بیده کېدو پر وخت څراغ مړ کړئ ځکه چي ځیني وختونه موږ څراغ کښوي (چیه کوي یې) او کور والا سوځي . او دمسلم په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: لوښي پټ کړئ، د ژیانو خولې بندې کړئ ، دروازې بندې کړئ او څراغونه مړه کړئ ځکه چي شیطان (ترلې)ژی نه خلاصوي بنده دروازه نه خلاصوي

او نه (پټ کړي) لوښي خلاصوي، که د چا سره د لوښو پټولو یو شی نه وي نو په پلنوالي کي د الله ﷻ په نوم اخیستلو سره یو لرگی پر کښیږدئ دا کار وکړه ځکه چي کوچنی فاسق (مږه) ستاسي کور سوځي، او د مسلم په یو روایت کي دي چي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چي خپل رمې (پسونه) او کوچنیان مه پریږدئ هغه وخت چي لمر پریوځي بیا تر هغه وخته چي ماخستن سي ځکه چي شیطان

هغه وخت رالیږل کیږي چي لمر پریوځي تر هغه وخته چي د ماخستن تیاره ختمیږي او د مسلم په یوه روایت کي دي چي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چي لوښي پټوئ د مشکو (ژي) سرونه تړئ ځکه چي په کال کي یوه شپه ده چي وبا پکښي نازلیږي او تر هغه لوښي نه تیریږي چي سر یې نه وي یا تر مشک چي سر تړونی ونه لري مگر نازلیږي پکښي وبا.

### لوښي پټوئ

(۲۱۱۰): وَعَنْهُ قَالَ جَاءَ أَبُو حُمَيْدٍ رَجُلٌ مِّنَ الْأَنْصَارِ مِنَ النَّقِيعِ بِإِنَاءٍ مِّنْ لَّبَنٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا خَمَّرْتَهُ وَلَوْ أَنْ تَعْرُضَ عَلَيْهِ عُودًا . متفق علیه.

د حضرت جابر ؓ څخه روایت دئ چي یو انصاري سړي چي د هغه نوم ابو حمید وو د نقیع نامي ځای څخه د رسول الله ﷺ لپاره د شېدو یو لوښی راوړ ، نبي کریم ﷺ هغه ته وفرمایل: تا دا پټ ولي نه راوړ که نور څه نه وه نو یو لرگی به دي پر هغه په پلنوالی ایښی وای . بخاري او مسلم.

### د بېدېدو پر وخت اور مړ کړئ

(۲۱۱۱): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَتْرُكُوا النَّارَ فِي بُيُوتِكُمْ حِينَ تَنَامُونَ. متفق علیه.

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي تاسو بیده کیږئ نو په کور کي اور مه پرېږدئ. بخاري او مسلم.

(۲۱۱۲): وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ احْتَرَقَ بَيْتٌ بِالْمَدِينَةِ عَلَى أَهْلِهِ مِنَ اللَّيْلِ فَحُدِّثَ بِشَأْنِهِمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ هٰذِهِ النَّارَ إِنَّمَا هِيَ عَدُوٌّ لَكُمْ فَإِذَا نِمْتُمْ فَأَطْفِئُوهَا عَنْكُمْ . متفق علیه.

د حضرت ابو موسی ؓ څخه روایت دئ چي په مدینه کي د شپې یو کور وسوځیدئ ، رسول الله ﷺ ته د هغه یادونه وسول نو رسول الله ﷺ وفرمایل: دا اور ستاسو دښمن دئ هر کله چي تاسو بیده کیږئ نو دا اور وژنئ. بخاري او مسلم.

## دریم فصل

### د سپي یا خره اواز په شپه کي

(۲۱۱۳): عَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا سَمِعْتُمْ نُبَاحَ الْكِلَابِ وَنَهِيقَ الْحَمِيرِ مِنَ

د حضرت جابر ؓ څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي هر کله تاسو د شپې د سپیو غپا واورئ او د خرو

اللَّيْلِ فَتَعَوَّذُوْا بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ فَإِنَّهُنَّ يَرَيْنَ مَا لَا تَرَوْنَ وَأَقِلُّوْا الْخُرُوْجَ إِذَا هَدَأَتِ الْأَرْجُلُ فَإِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يَبُثُّ مِنْ خَلْقِه فِيْ لَيْلَتِه مَا يَشَاءُ وَأَجِيْفُوا الْأَبْوَابَ وَاذْكُرُوْا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهِ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَفْتَحُ بَابًا إِذَا أُجِيْفَ وَذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ وَغَطُّوْا الْجِرَارَ وَأَكْفِئُوا الْآنِيَةَ وَأَوْكُوا الْقِرَبَ . رواه في شرح السنة.

آواز واورئ نو د الله تعالى په ذريعه د شيطان خخه پناه غوارئ او اعوذبالله من الشيطان الرجيم واياست خكه چي هغوئ هغه شيانويني كوم چي تاسو نه وينئ . (يعني شيطانان) او هر كله چي د خلكو تگ راتگ (په شپه تيريدو آبادى كي) بندسي نو تاسو هم كم وځئ خكه چي دغه وخت الله تعالى خپل مخلوق غواړي خپروي ، د كورونو دروازې د الله په نامه اخيستلو سره بندوئ خكه چي شيطان هغه دروازه نه سي خلاصولاى چي بنده سي او د الله تعالى نوم پر واخيستل سي او لوښي پټ كړئ او ژيانو خولې وتړئ . شرح السنه .

## د مږي شرارت

(۴۱۱۴): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ جَاءَتْ فَأْرَةٌ تَجُرُّ الْفَتِيْلَةَ فَأَلْقَتْهَا بَيْنَ يَدَيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْخُمْرَةِ الَّتِيْ كَانَ قَاعِدًا عَلَيْهَا فَأَحْرَقَتْ مِنْهَا مِثْلَ مَوْضِعِ الدِّرْهَمِ فَقَالَ إِذَا نِمْتُمْ فَأَطْفِئُوْا سُرُجَكُمْ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَدُلُّ مِثْلَ هٰذِه عَلَى هٰذَا فَتُحْرِقُكُمْ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عباس ﷺ خخه روايت دئ چي يو موږك يو لگيدلى څراغ راوړ او د رسول الله ﷺ په مخ كي يې پر چټاني وغورځوئ چيري چي رسول الله ﷺ تشريف فرما وو او د يوه درهم په اندازه چټاني يې وسوځل ، ددې په ليدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل هر كله چي تاسو بيده كيږئ نو څراغ مړ كړئ خكه چي شيطان دغه ضررناك شي (موږك) ته داسي مشوره وركوي يا لاره ور ښيي او تاسو سوځي . ابوداؤد .

# كِتَابُ اللِّبَاسِ

## (دَ جامو بيان)

## لومړی فصل

### د نبي خوښې جامې

(۴۱۱۵): عَنْ اَنَسٍ قَالَ كَانَ أَحَبُّ الثِّيَابِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يَلْبَسَهَا الْحِبَرَةُ .متفق عليه.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي د اغستلو په جامو کي د نبي کريم ﷺ حبره (د سرو يا شنو کرښو لرونکي ځادر) ډير خوښ وو . بخاري او مسلم.

### تنگ لستوڼي جبه

(۴۱۱۶): وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَبِسَ جُبَّةً رُوْمِيَّةً ضَيِّقَةَ الْكُمَّيْنِ . متفق عليه.

د حضرت مغيره بن شعبه ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يوه رومي جبه وا غوستل چي د هغې لستوڼي تنگ وو . بخاري او مسلم.

### د نبي اخري دوې جامې

(۴۱۱۷): وَ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ قَالَ أَخْرَجَتْ إِلَيْنَا عَائِشَةُ كِسَاءً مُلَبَّدًا وَإِزَارًا غَلِيظًا فَقَالَتْ قُبِضَ رُوحُ رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هٰذَيْنِ . متفق عليه.

د حضرت ابو برده ﷺ څخه روايت دی چي بي بي عائشې (رض) موږ ته د ښکاره کولو لپاره يو توټه توټه گنډل سوی ځادر او يو لوی لنگ وښودی او و يې وفرمايل: په دې دوو کپړو کي د رسول الله ﷺ روح مبارك قبض سوی وو (يعني نبي کريم ﷺ وفات سوی وو) بخاري او مسلم.

### د نبي ﷺ بستره

(۴۱۱۸): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ فِرَاشُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي يَنَامُ عَلَيْهِ أَدَمًا حَشْوُهُ لِيفٌ. متفق عليه.

د بي بي عائشې رض څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ بستره چي پر هغې باندي دي به يې ارام کوی ، د څرمني وه چي د خرماوو د پوستکي څخه ډکه سوې وه . بخاري او مسلم.

### د نبي ﷺ بالښت

(۴۱۱۹): وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ وِسَادَةُ رَسُولِ اللّٰهِ

د بي بي عائشې رض څخه روايت دی چي د

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي يَتَّكِئُ عَلَيْهِ مِنْ أَدَمٍ حَشْوُهَا لِيفٌ . متفق علیه

رسول الله ﷺ بالښت چې په هغه باندې نبي کريم ﷺ تکيه وهله يا د بيده کېدو په وخت کې به يې تر سر لاندې کوی د څرمنې وو او هغه د خرماؤ د پوستکو څخه ډک سوی وو . بخاري او مسلم .

### د نبي ﷺ خادم

(۲۱۲۰): وَعَنْهَا قَالَتْ بَيْنَا نَحْنُ جُلُوسٌ فِي بَيْتِنَا فِي حَرِّ الظَّهِيرَةِ قَالَ قَائِلٌ لِأَبِي بَكْرٍ هَذَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُقْبِلًا مُتَقَنِّعًا. رواه البخاري .

د بي بي عائشې رض څخه روايت دی چې د غرمې په گرمۍ کې موږ په خپل کور کې د ننه ناست وو چې يو چا زما پلار (ابو بکر صديق رض) ته وويل ، چې رسول الله ﷺ پر سر پټو اچولي وو تشريف يې راوړ . بخاري .

### تر درو کوربچو بالا مه پرېږدئ

(۲۱۲۱): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ فِرَاشٌ لِلرَّجُلِ وَفِرَاشٌ لِامْرَأَتِهِ وَالثَّالِثُ لِلضَّيْفِ وَالرَّابِعُ لِلشَّيْطَانِ . رواه مسلم.

د حضرت جابر رض څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ و هغه ته و فرمايل : يوه کوربچه د سړي لپاره يوه کوربچه د ښځې لپاره دريمه کوربچه د ميلمه لپاره او څلورمه د شيطان لپاره (يعني د ضرورت څخه زياته کوربچه په فضول خرچۍ کې راځي) . مسلم

### پرتوگ تر بجلکو لوړ کول حرام دي

(۲۱۲۲): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَنْظُرُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى مَنْ جَرَّ إِزَارَهُ بَطَرًا. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره رض څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم سړی چې د تکبر او د رياڅخه پرتوگ د بجلکو څخه کښته ږغوندي ، د قيامت په ورځ به خداي تعالي و هغه ته د رحمت په نظر نه گوري . بخاري او مسلم .

### زږيدلي جامه

(۲۱۲۳): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ خُيَلَاءَ لَمْ يَنْظُرِ اللّٰهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. متفق عليه

د حضرت ابن عمر رض څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم سړی چې د تکبر له کبله خپله جامه زږيدلې ساتي ، الله ﷻ به د قيامت په ورځ د رحمت په نظر ور ته ونه گوري . بخاري او مسلم .

(۲۱۲۴): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَمَا رَجُلٌ يَجُرُّ إِزَارَهُ مِنَ الْخُيَلَاءِ

د حضرت ابن عمر رض څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : يوه سړي په مخکنيو امتونو

خسفَ بِهِ فَهُوَ يَتَجَلْجَلُ فِي الْأَرْضِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ . رواه البخاري.

كي خپل لنگ يا پرتوگ د تكبر په خاطر را كښته كري روان وو ، هغه په مځكه ننوت دا خسف به تر قيامته پوري جريان ولري يعني په دغه مځكه كي به تر قيامت پوري ننوځي . بخاري .

### په لباس كي ډېر توكر مه كاروئ

(۴۱۲۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ مِنَ الْإِزَارِ فَفِي النَّارِ . رواه البخاري.

د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د پرتوگ يا لنگ كومه برخه چي د بجلكو څخه كښته وي ، هغه به په دوزخ كي واچول سي (يعني د بدن هغه برخه چي په هغه باندي د پرتوگ هغه حصه وي). بخاري

### ممنوع كالي

(۴۱۲۶): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَأْكُلَ الرَّجُلُ بِشِمَالِهِ أَوْ يَمْشِيَ فِي نَعْلٍ وَاحِدَةٍ وَأَنْ يَشْتَمِلَ الصَّمَّاءَ وَأَنْ يَحْتَبِيَ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ كَاشِفًا عَنْ فَرْجِهِ . رواه مسلم

د حضرت جابر ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هيڅوك دي په چپه لاس خوراك نه كوي ، او نه دي په يوه چپلكه كي گرځي ، او يو څادر دي پر ټول بدن نه چاپيروي او داسي جامو د را نغښتلو سره دي نه كښيني چي ستر يې ورسره ښكاره سي . مسلم.

### د نارينوو لپاره وريښم حرام دي

(۴۱۲۷): وَعَنْ عُمَرَ وَأَنَسٍ وَابْنِ الزُّبَيْرِ وَأَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ لَبِسَ الْحَرِيرَ فِي الدُّنْيَا فَلَمْ يَلْبَسْهُ فِي الْآخِرَةِ . متفق عليه.

د حضرت عمر ؓ ،حضرت انس ؓ ، حضرت ابن زبير ؓ، او حضرت ابي امامه ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي په دنيا كي وريښم وا غوستل ، په اخرت كي به ورته د اغوستلو لپاره نه وركول كيږي بخاري او مسلم

(۴۱۲۸): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا يَلْبَسُ الْحَرِيرَ فِي الدُّنْيَا مَنْ لَا خَلَاقَ لَهُ فِي الْآخِرَةِ . متفق عليه.

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په دنيا كي چي څوك وريښم اغوندي ، نو په اخرت كي به د هغه لپاره د هغه برخه نه وي . بخاري او مسلم

### د ريښمو منعه

(۴۱۲۹): وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ نَهَانَا رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَشْرَبَ فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ

د حضرت حذيفه ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ موږ د سرو او سپينو زرو په لوښي كي د

وَالْفِضَّةِ وَأَنْ نَأْكُلَ فِيهَا وَعَنْ لُبْسِ الْحَرِيرِ وَالدِّيبَاجِ وَأَنْ نَجْلِسَ عَلَيْهِ . متفق عليه.

خوراك او څښاك څخه منعه كړي يو او د ورېښمو او ديباج (چي يو ډول د ورېښمو جامې

اغوستلو څخه او د هغې په فرش د كښېنستلو څخه منعه كړي يو. بخاري او مسلم.

(۴۱۳۰): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ أُهْدِيَتْ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُلَّةُ سِيَرَاءَ فَبَعَثَ بِهَا إِلَيَّ فَلَبِسْتُهَا فَعَرَفْتُ الْغَضَبَ فِي وَجْهِهِ فَقَالَ إِنِّي لَمْ أَبْعَثْ بِهَا إِلَيْكَ لِتَلْبَسَهَا إِنَّمَا بَعَثْتُ بِهَا إِلَيْكَ لِتُشَقِّقَهَا خُمُرًا بَيْنَ النِّسَاءِ .متفق عليه.

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ته د هديې په ډول كرښې لرونكي يو ځادر را ولېږل سو ، نبي كريم ﷺ و ماته را ولېږی ما هغه و اغوستی ما و ليدل چي د نبي كريم ﷺ پر مخ باندي د غصې اثار وه بيا نبي كريم ﷺ

وفرمايل :ما خو دا ستا د اغوستلو لپاره نه وو درلېږلي بلكه د دې لپاره مي در لېږلي وه چي ته دا پرېكړه او پورنی خيني جوړ كړه او په ښځو باندي يې تقسيم كړه .بخاري او مسلم.

(۴۱۳۱): وَعَنْ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ لُبْسِ الْحَرِيرِ إِلَّا هٰكَذَا وَ رَفَعَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِصْبَعَيْهِ الْوُسْطَى وَالسَّبَّابَةَ وَ ضَمَّهُمَا. متفق عليه و في رواية لمسلم أَنَّهُ خَطَبَ بِالْجَابِيَةِ فَقَالَ نَهَى رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ لُبْسِ الْحَرِيرِ إِلَّا مَوْضِعَ إِصْبَعَيْنِ أَوْ ثَلَاثٍ أَوْ أَرْبَعٍ .

د حضرت عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د ورېښمو د اغوستلو څخه منعه كړېده او وروسته يې و فرمايل : چي په دومره اندازه چي د شهادت گوته دواړي يو ځاي كړي و ښودل ( د دې مطلب دادي چي په قدر د دوو گوتو د ورېښمو استعمال د نارينه لپاره جائز دي ) . بخاري او مسلم . او

د مسلم په يوه روايت كي دا الفاظ دي ، د حضرت عمر ﷺ په ځاي جابيه كي خطبه وركړه او و يې فرمايل : چي رسول الله ﷺ د ورېښمو د اغوستلو څخه منعه كړېده خو دوه ، دري او د ځلورو گوتو په اندازه د نارينه لپاره جائز دي .

## طيلساني جبه

(۴۱۳۲): وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ أَنَّهَا أَخْرَجَتْ جُبَّةَ طَيَالِسَةٍ كِسْرَوَانِيَّةٍ لَهَا لِبْنَةُ دِيبَاجٍ وَفَرْجَيْهَا مَكْفُوفَيْنِ بِالدِّيبَاجِ وَقَالَتْ هٰذِهِ جُبَّةُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتْ عِنْدَ عَائِشَةَ

د بي بي اسماء بنت ابوبكر رض څخه روايت دی چي هغې د طيلساني ، كسرواني جبه را وكښل چي په هغه كي د ورېښمو يوه توټه د سنجاك په ډول لگېدلې وه او په لستونو (يا لمنو) په دواړو برخو يې ورېښم لگېدلي وه ، بيا يې و فرمايل :

فَلَمَّا قُبِضَتْ قَبَضْتُهَا وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلْبَسُهَا فَنَحْنُ نَغْسِلُهَا لِلْمَرْضَى نَسْتَشْفِي بِهَا . رواه مسلم

د رسول الله ﷺ دا جبه د بي بي عائشي رض سره وه کوم وخت چي هغه وفات سو نو (بي بي اسماء وايي) دا جبه ماته حاصله سوه ، نبي کريم ﷺ به دا (کله کله) اغوستله او اوس موږ د دې په برېولو سره د دې اوبه و ناروغانو ته ورکوو او د دې په ذريعه هغوئ لپاره شفاء غواړو . مسلم

**د ضرورت په وخت کي د ورېښمو اجازه**

(۴۱۳۳): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ رَخَّصَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلزُّبَيْرِ وَعَبْدِ الرَّحْمٰنِ بن عوف فِي لُبْسِ الْحَرِيرِ لحكّة بهمَا. متفق عليه و في رواية لمسلم قَالَ إِنَّهُمَا شَكَوَا الْقَمْلَ فَرَخَّصَ لَهُمَا فِيْ قُمُصِ الْحَرِيْرِ .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ و حضرت زبير ﷺ او عبد الرحمن بن عوف ﷺ ته د ورېښمو د اغوستلو اجازت ورکړی وو چي (د ښپږو په وجه به) د هغوئ بدن خارش کوی . بخاري او مسلم، او د مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي دوئ دواړو د ښپږو څخه شکايت وکړ نو رسول الله ﷺ هغوئ ته د ورېښمو د قميص د اغوستلو اجازه ورکړه .

**د کسم رنګ سوي کالي**

(۴۱۳۴): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ رَأَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيَّ ثَوْبَيْنِ مُعَصْفَرَيْنِ فَقَالَ إِنَّ هَذِهِ مِنْ ثِيَابِ الْكُفَّارِ فَلَا تَلْبَسْهُمَا، و في رواية قلت اغسلهما قال بل احرقهما . رواه مسلم ، و سنذكر حديث عائشة خرج النبي صلى الله عليه وسلم ذات غداة في مناقب اهل بيت النبي صلى الله عليه وسلم

د حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ څخه روايت دی ، رسول الله ﷺ زه کله د کسم (يو ډول ګل دي چي سور رنګ ور څخه تشکليږي) په رنګ سوي جامو اغوستلو کي وليدم نو ويې فرمايل :دا د کفارو لباس دی ، دا مه اغونده . او په يوه بل روايت کي دا الفاظ دي : ما عرض وکړ چي دا پرېولم نو نبي کريم ﷺ راته وفرمايل بلکه و يې سوځوه مسلم ،او ژر به د بي بي عائشي رضي الله عنها حديث : خرج النبي ﷺ : په مناقب اهل بيت کي بيان کړل سي .

## دویم فصل

### قمیص غوره جامه ده

| | |
|---|---|
| (۴۱۳۵): عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ كَانَ أَحَبُّ الثِّيَابِ إِلَى رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقَمِيصُ . رواه الترمذي و ابوداؤد. | د بي بي ام سلمه رض څخه روایت دی چې د رسول الله ﷺ په تولو جامو کي قمیص د هر څه خوښ وو . ترمذي او ابوداؤد |

### د لستونو اوږدوالی

| | |
|---|---|
| (۴۱۳۶): وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ قَالَتْ كَانَ كُمُّ قميص رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الرصغ . رواه الترمذي و ابوداؤد وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب . | د بي بي اسماء بنت یزید رض څخه روایت دی چي د نبي کریم ﷺ د قمیص لستوني تر مړوندو پوري وو . ترمذي او ابوداؤد ، او په ترمذي کي دا حدیث غریب ګڼل سوی دی . |

### د راسته لوري څخه اغوستل

| | |
|---|---|
| (۴۱۳۷): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا لَبِسَ قَمِيصًا بَدَأَ بِمَيَامِنِهِ . رواه الترمذي. | د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی رسول الله ﷺ چي به قمیص اغوستی نو د راسته طرفه به یې اغوستل شروع کول . ترمذي |

### پرتوګ تر نیمي پونډۍ پوري

| | |
|---|---|
| (۴۱۳۸): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِزْرَةُ الْمُؤْمِنِ إِلَى أَنْصَافِ سَاقَيْهِ لَا جُنَاحَ عَلَيْهِ فِيمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْكَعْبَيْنِ وَمَا أَسْفَلَ فَفِي النَّارِ قال ذالك ثلاث مرات وَلَا يَنْظُرُ اللَّهُ يوم القيامة إِلَى مَنْ جَرَّ إِزَارَهُ بَطَرًا . رواه ابوداؤد وابن ماجة. | د حضرت ابو سعید خدري رضی الله عنه څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا واورېدل: د مؤمن د پرتاګه غوره صورت دادی چي هغه تر نیمه پنډۍ پوري وي ، او د نیمي پنډۍ پوري په اغوستلو کي څه ګناه نسته لیکن د دې څخه (یعني د بجلکو څخه) لاندي ځاي په دوزخ کي |

دی ، نبي کریم ﷺ درې وراه دا الفاظ و فرمایل ، او د قیامت په ورځ به الله ﷻ د هغه نفرو طرف ته و نه ګوری چي د تکبر په خاطر خپل پرتوګ اوږد ساتي . ابوداؤد او ابن ماجه .

### اوږد قمیص منع دی

| | |
|---|---|
| (۴۱۳۹): وَعَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى | حضرت سالم رضی الله عنه د خپل پلاره څخه روایت کوي |

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْإِسْبَالُ فِي الْإِزَارِ وَالْقَمِيصِ وَالْعِمَامَةِ مَنْ جَرَّ مِنْهَا شَيْئًا خُيَلَاءَ لَا يَنْظُرُ اللّٰهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه النسائي و ابوداؤد وابن ماجة.

چې رسول الله ﷺ وفرمايل : اوږد لونګ، اوږد قميص او اوږده لنګوټه (په تولو کې) ګناه ده ، څوك چې په دې کې يو شی د تکبر په وجه اوږد ساتي ، د قيامت په ورځ به خداي تعالی و هغه ته و نه ګوري . نسائي ، ابوداؤد او ابن ماجه .

### د صحابوو خولۍ

(۴۱۴۰): وَعَنْ أَبِي كَبْشَةَ قَالَ كَانَ كِمَامُ أَصْحَابِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُطْحًا . رواه الترمذي وقال هذا حديث منكر.

د حضرت ابو كبشه ؓ څخه روايت دی چې د رسول الله ﷺ اصحابو کرامو خولۍ په سر باندي جوته (ټينګه) پر سر کوله . ترمذي ،او په ترمذي کې دا حديث منکر دی .

### د ښځي پرتوګ اوږدول

(۴۱۴۱): وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ ذَكَرَ الْإِزَارَ فَالْمَرْأَةُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ تُرْخِي شِبْرًا فَقَالَتْ إِذًا تَنْكَشِفُ عَنْهَا قَالَ فَذِرَاعًا لَا تَزِيدُ عَلَيْهِ . رواه مالك و ابوداؤد والنسائي وابن ماجة وفي رواية الترمذي والنسائي عن ابن عمر فقالت اذا تنكشف اقدامهن قال فيرخين ذراعا لا يزدن عليه.

د بي بي ام سلمه رض څخه روايت دی چې نبي کريم ﷺ د ازار (پرتوګ) ذکر و کړ، او ما عرض وکړ اې د الله ﷺ رسوله ! د ښځي لپاره څه حکم دی ؟ (يعني د پرتوګ په هکله يې) وفرمايل: د نيمي پنډۍ څخه يوه لويشت پوري دې زياتي کړي ، ما عرض وکړ که په دې سره د ستر د لڅېدو احتمال وي ، نو وه يې فرمايل : يوه لويشت نور او نه ددې څخه زيات (مالك ، ابوداؤد ، نسائي او ابن ماجه) او په ترمذي او نسائي کې چې کوم حديث د ابن عمر ؓ څخه نقل سوی دی په هغه کې دا الفاظ دي چې بي بي ام سلمه رض عرض وکړ په دې صورت کې (يعني د نيمو پنډيو څخه يوه لويشت په زياتوب کې)خو د ښځو قدم به ښکاري ، نبي کريم ﷺ وفرمايل نو يوه لويشت يې نوره زياته کړئ د دې څخه نور زيات نه .

### خلاص ګريوان

(۴۱۴۲): وَعَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ قُرَّةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَتْ أَتَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَهْطٍ مِنْ مُزَيْنَةَ فَبَايَعُوهُ وَإِنَّ لَمُطْلَقُ الْأَزْرَارِ فَأَدْخَلْتُ يَدَيَّ

حضرت معاويه بن قره ؓ د خپل پلاره څخه روايت کوي چې د مزينه قوم د يوې تولۍ سره زه د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر سوم ،

| | |
|---|---|
| فِي جَيْبِ قَمِيصِهِ فَمَسَسْتُ الْخَاتَمَ . رواه ابوداؤد. | هغو خلکو د نبي کريم ﷺ سره بيعت وکړ ، په |

دغه وخت کي د نبي کريم ﷺ د قميص تنۍ خلاصي ناست وو ، ما د نبي کريم ﷺ په ګريوان کي لاس د ننه کړ او په مهر نبوت باندي مي لاس را تير کړ . ابوداؤد .

**د سپيني جامي فضيلت**

| | |
|---|---|
| (۴۱۴۳): وَعَنْ سَمُرَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْبَسُوا الثِّيَابَ الْبِيْضَ فَاِنَّهَا أَطْهَرُ وَأَطْيَبُ وَكَفِّنُوا فِيهَا مَوْتَاكُمْ. رواه احمد والترمذي والنسائي وابن ماجة. | د حضرت سمره ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : سپيني جامي اغوندئ ځکه چي دا ډيري پاکي او په زړه پوري دي او په سپينو جامو کي خپل مړی دفن کوئ . احمد ، ترمذي ، نسائي او ابن ماجه |

**د لنګوټي ول**

| | |
|---|---|
| (۴۱۴۴): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اعْتَمَّ سَدَلَ عِمَامَتَهُ بَيْنَ كَتِفَيْهِ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب. | د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ به لنګوټه ترله نو شمله به يې د دواړو اوږو په مينځ کي زړوله. ترمذي، او په ترمذي کي دا حديث غريب ګڼل سوی دی . |
| (۴۱۴۵): وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ عَمَّمَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَدَلَهَا بَيْنَ يَدَيَّ وَمِنْ خَلْفِي . رواه ابوداؤد. | د حضرت عبد الرحمن بن عوف ؓ څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ و ما ته لنګوټه را وترله نو د هغې شمله يې زما مخ او شا دواړو طرفو |

ته و زړوله يعني و دواړو طرفو ته يې د دواړو سرونو شمله پرېښوده . ابوداؤد

**لنګوټه پر خولۍ تړل د مسلمان امتيازي علامه ده**

| | |
|---|---|
| (۴۱۴۶): وَعَنْ رُكَانَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَرْقُ مَا بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْمُشْرِكِينَ الْعَمَائِمُ عَلَى الْقَلَانِسِ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب واسناده ليس بالقائم. | د حضرت رکانه ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زموږ او د مشرکانو ترمينځ فرق دادی چي هغوئ بېله رخچيني لنګوټه تړي او موږ يې د رخچيني سره تړو . په ترمذي کي دا |

حديث غريب ګڼل سوی دی . او ابوداؤد د دې اسناد قائم نه بولي .

**د ښځو لپاره سره زر او ريښم حلال دي**

| | |
|---|---|
| (۴۱۴۷): وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْاَشْعَرِيِّ أَنَّ | د حضرت ابوموسی اشعري ؓ څخه روايت دی چي |

النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُحِلَّ الذَّهَبُ وَالْحَرِيْرُ لِإِنَاثِ مِن أُمَّتِي وَحُرِّمَ عَلَى ذُكُورِهَا. رواه الترمذي والنسائي و قال الترمذي هذا حديث حسن صحيح.

رسول الله ﷺ وفرمايل: زما په امت كي د ښځو لپاره سره زر او ورېښم حلال سوي دي او په نارينه وُ باندي حرام سوي دي. ترمذي او نسائي، او په ترمذي كي دا حديث حسن دى.

## د جامو اغوستلو دعاء

(۴۱۴۸): وَعَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَجَدَّ ثَوْبًا سَمَّاهُ بِاسْمِهِ عِمَامَةً أَوْ قَمِيصًا أَوْ رِدَاءً ثُمَّ يَقُولُ اللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ كَسَوْتَنِيهِ أَسْأَلُكَ خَيْرَهُ وَخَيْرَ مَا صُنِعَ لَهُ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهِ وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ. رواه الترمذي وابوداؤد.

د حضرت ابو سعيد خدري ؓ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ چي به نوي جامې اغوستلې نو د هغې نوم به يې اخيستى يعني دا لنګوټه ده دا قميص دي يا دا پټو دى بيا به يې فرمايل: اللهم......ما صنع له (اې الله! تا لره تعريف دى چي تا ماته دا جامه را واغوستل، زه ستا څخه د دې جامې خير غواړم او د هغه شي خير غواړم چي د كوم غرض لپاره دا جامه جوړه سوې ده او د دې د شر څخه او د هغه شي د شر څخه ستا په ذريعه پناه غواړم چي د هغه لپاره دا جوړه سوې ده).

(۴۱۴۹): وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَكَلَ طَعَامًا ثم قَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَطْعَمَنِي هَذَا الطعام وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلَا قُوَّةٍ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ. رواه الترمذي. وزاد ابوداؤد مَنْ لَبِسَ ثَوْبًا فَقَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي كَسَانِي هَذَا وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلَا قُوَّةٍ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ.

د حضرت معاذ بن انس ؓ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي طعام وخوري او دا ووايي: الحمدلله........ و لاقوة (ټوله تعريفونه د هغه خداي لپاره دي چي هغه په ما دا طعام و خوړى او دا طعام يې ماته پرته د حيلې او قوت را رسولى دى) نو د هغه مخكني (ټول) ګناهونه ور بخښي. ترمذي. او په ابوداؤد كي دا الفاظ زيات دي، څوك چي جامه واغوندي او دا ووايي: الحمد لله الذي كساني هذا و رزقنيه من غير حول مني و لاقوة نو د هغه ټول مخكني او وروستني ګناهونه ور بخښي.

## زړې جامې مه غورځوئ

(۴۱۵۰): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يا عائشة! ان أَرَدْتِ اللُّحُوقَ

د بي بي عائشې رض څخه روايت دى چي يوه ورځ نبي كريم ﷺ ماته وفرمايل: كه ته زما سره

| | |
|---|---|
| بلٰى فَلْيَكْفِكَ مِنَ الدُّنْيَا كَزَادِ الرَّاكِبِ وَإِيَّاكِ وَمُجَالَسَةَ الْأَغْنِيَاءِ وَلَا تَسْتَخْلِقِي ثَوْبًا حَتّٰى تُرَقِّعِيهِ . رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب لا نعرفه الا من حديث صالح بن حسان وقال محمد بن اسماعيل صالح بن حسان منكر الحديث. | په دنيا او اخيرت كي يوځاي كېدل غواړې نو ته د دينا څخه دومره اخله څومره چي د يوه سوار لپاره كافي وي د دولتمندو د خبرو څخه ليرې اوسېږه او جامه تر هغه وخته پورې د زوړتيا په خاطر مه غورځوه تر څو پورې چي هغه د |

اغوستلو قابله وي . ترمذي دا روايت كړى او ويلي يې دي چي دا حديث غريب دى .موږ ته يوازي دا د صالح بن حسّان څخه معلوم دى ، محمد بن اسماعيل ويلي چي صالح بن حسّان منكر الحديث دى

| | |
|---|---|
| (۴۱۵۱): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ اَيَاسِ بْنِ ثَعْلَبَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا تَسْمَعُونَ أَلَا تَسْمَعُونَ إِنَّ الْبَذَاذَةَ مِنَ الْإِيمَانِ إِنَّ الْبَذَاذَةَ مِنَ الْإِيمَانِ. رواه ابوداؤد. | د حضرت ابو امامه ؓ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل :ايا تاسو نه اورئ ؟ايا تاسو نه اورئ ؟ چي سادګي د ايمان علامه ده . سادګي د ايمان علامه ده . په دغه حديث كي د |

سادګۍ مطلب زړې جامې اغوستل دي چي د بر زيب او زينت پكښې نه وي .ابوداؤد .

**ګران بيه جامه نه ده پكار**

| | |
|---|---|
| (۴۱۵۲): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَبِسَ ثَوْبَ شُهْرَةٍ فِي الدنيا أَلْبَسَهُ اللّٰهُ ثَوْبَ مَذَلَّةٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه الترمذي و احمد وابوداؤد وابن ماجة . | د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل :څوك چي په دنيا كي د شهرت جامه اغوندي(يعني هغه جامې چي په هغه كي د تكبر او لويي اظهاركيږي) خداي تعالي به د |

قيامت په ورځ د ذلت لباس په واغوندي . ترمذي ، احمد ، ابوداؤد او ابن ماجه .

**د بل قوم مشابهت**

| | |
|---|---|
| (۴۱۵۳): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ . رواه احمد وابوداؤد. | د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د يوه قوم مشابهت اختيار كړي نو هغه د هغه قوم څخه دى .احمد او ابوداؤد |

**د زينت جامه پريږدئ**

| | |
|---|---|
| (۴۱۵۴): وَعَنْ سُوَيْدِ بْنِ وَهْبٍ عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَبْنَاءِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَبِيهِ | حضرت سويد بن وهب ؓ د يوه صحابي د زوى او هغه بيا د خپل پلاره څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د زينت جامه |

| | |
|---|---|
| قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَرَكَ لُبْسَ ثَوْبِ جَمَالٍ وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَيْهِ ، وفي رواية تَوَاضُعًا كَسَاهُ اللّٰهُ حُلَّةَ الْكَرَامَةِ وَمَنْ تَزَوَّجَ لِلّٰهِ تَعَالَى تَوَّجَهُ اللّٰهُ تَاجَ الْمُلْكِ . رواه ابوداؤد و روى الترمذي منه عن معاذبن انس حديث اللباس. | پرہیزدي په داسي حال کي چي د هغه توان او طاقت لري ، او په یوه بل یوه روایت کي راځي ، څوك چي د زینت لباس د تواضع او عاجزي په طور پرہیزدي خداي تعالی به و هغه ته د لويي او عظمت لباس ور واغوندي او څوك چي د خداي |

تعالی لپاره نکاح وکړي خداي تعالی به و هغه ته د باچاهی تاج ور په سر کړي .ابوداؤد . او په ترمذي کي دده څخه او د معاذ بن انس ؓ څخه حدیث د لباس روایت کړ .

**د الله تعالی نعمت څرګند کړئ**

| | |
|---|---|
| (۴۱۵۵): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ أَنْ يَرَى أَثَرَ نِعْمَتِهِ عَلَى عَبْدِهِ . رواه الترمذي. | حضرت عمرو بن شعیب ؓ د خپل پلاره څخه او هغه بیا د خپل پلاره څخه روایت کوي چي نبي کریم ﷺ و فرمایل : د خداي تعالی ډا خبره |

ډېره خوښه ده چي د هغه د نعمتو اثر د هغه په بندګانو کي ښکاره سي . ترمذي .

**وربښتان او جامه سم ساتئ**

| | |
|---|---|
| (۴۱۵۶): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ أَتَانَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَائِرًا فَرَأَى رَجُلًا شَعِثًا قَدْتَفَرَّقَ شَعْرُهُ فَقَالَ مَا كَانَ يَجِدُ هٰذَا مَا يُسَكِّنُ بِهِ رَأْسَهُ وَرَأَى رَجُلًا عَلَيْهِ ثِيَابٌ وَسِخَةٌ فَقَالَ مَا كَانَ يَجِدُ هٰذَا مَا يَغْسِلُ بِهِ ثَوْبَهُ . رواه احمدوالنسائي. | د حضرت جابر ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ زموږ د لیدو یا زموږ سره د کښېنستلو لپاره موږ ته تشریف راوړ ، نبي کریم ﷺ یو سړی و لیدي چي د هغه وربښتان ببر او ګډوډ وه ، نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : ایا دا سړی ته هغه شی |

حاصل نه دی چي په هغه سره خپل وربښتان سم کړي بیا یې یو بل سړی ولیدي چي د هغه جامې خیرني وې نبي و فرمایل : ایا دې سړي ته هغه شی نه حاصلیږي چي په هغه سره خپل جامې پرېولي . احمد او نسائي .

**د الله ﷻ نعمت پر خان څرګند کړئ**

| | |
|---|---|
| (۴۱۵۷): وَعَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ أَتَيْتُ رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيَّ ثَوْبٌ دُونٌ فَقَالَ لِيْ أَلَكَ مَالٌ قُلْتُ نَعَمْ قال مِنْ أَيِّ الْمَالِ قلت مِنْ كُلِّ الْمَالِ قَدْ آتَانِي اللّٰهُ مِنَ الْإِبِلِ والبقر وَالْغَنَمِ | حضرت ابو الاحوص ؓ د خپل پلاره څخه روایت کوي چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم هغه وخت زما پر بدن باندي خیرني جامې وې ، نبي کریم ﷺ زما څخه پوښتنه |

وَالْخَيْلِ وَالرَّقِيقِ قَالَ فَإِذَا آتَاكَ اللّٰهُ مَالًا فَلْيُرَ أَثَرُ نِعْمَةِ اللّٰهِ وَكَرَامَتِهِ . رواه النسائي و في شرح السنة بلفظ المصابيح.

وكړه ايا ستا سره مال سته ؟ ما عرض وكړ هو، نبي كريم ﷺ وفرمايل: څه دول مال سته ؟ ما عرض وكړ ، اوښان هم سته او پسونه هم ، اسان او غلامان هم ، نبي كريم ﷺ وفرمايل: كله چي خداي تعالى درته مال در كړي نو د الله ﷻ د نعمت اثر په ځان كي ښكاره كړه او هغه چي تاته كوم نعمت او عزت دركړي هغه څرګند كړه . نسائي او په شرح السنة كي د مصابيح الفاظ دي .

## د نارينه لپاره سري جامي حرامي دي

(۴۱۵۸): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ مَرَّ رَجُلٌ وَعَلَيْهِ ثَوْبَانِ أَحْمَرَانِ فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ. رواه الترمذي و ابوداؤد.

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت دى چي يوه سړي دوي سري جامي اغوستي وي د نبي كريم ﷺ سره تير سو او نبي كريم ﷺ ته يې سلام ادا كړ ، نبي كريم ﷺ د هغه د سلام جواب ورنه كړ . ترمذي او ابوداؤد

## خوشبويي

(۴۱۵۹): وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا أَرْكَبُ الْأُرْجُوَانَ وَلَا أَلْبَسُ الْمُعَصْفَرَ وَلَا أَلْبَسُ الْقَمِيصَ الْمُكَفَّفَ بِالْحَرِيرِ وَقَالَ أَلَا وَطِيبُ الرِّجَالِ رِيحٌ لَا لَوْنَ لَهُ أَلَا وَطِيبُ النِّسَاءِ لَوْنٌ لَا رِيحَ لَهُ . رواه ابوداؤد،

د حضرت عمران بن حصين ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زه د ارغواني (سور ، نارنجي ، سور رنګ يو ښائسته ګل چي خوند يې خوږوري وي)رنګه په زين پوښ پاندي نه سپرېږم ، په ژړ يا سور رنګ رنګ كړي جامي نه اغوندم ، او چي لستوڼي ، ګرېوان او لمن يې ګنډلي وي په وربښمو هغه قميص نه استعمالوم ، بيا يې وفرمايل: اګاه سئ ! په خوشبويي د سړي كي به يوازي بوي وي رنګ به نه وي او د ښځو خوشبوئ دي رنګداره وي ، خوشبوئي دي پكښي نه وي . ابوداؤد.

## د لسو خبرو ممانعت

(۴۱۶۰): وَعَنْ أَبِي رَيْحَانَةَ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ عَشْرٍ عَنِ الْوَشْرِ وَالْوَشْمِ وَالنَّتْفِ وَعَنْ مُكَامَعَةِ الرَّجُلِ الرَّجُلَ بِغَيْرِ شِعَارٍ وَعَنْ مُكَامَعَةِ الْمَرْأَةِ الْمَرْأَةَ بِغَيْرِ شِعَارٍ وَأَنْ يَجْعَلَ الرَّجُلُ فِي أَسْفَلِ ثِيَابِهِ حَرِيرًا مِثْلَ الْأَعَاجِمِ وَعَنِ

د حضرت ابو ريحانه ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د لسو شيانو څخه منعه كړېده :
(۱)- د غاښونو نو د تيره كولو څخه . (۲)- په بدن كي د خالو د وهلو څخه . (۳)- د وربښتانو د كښلو څخه . (۴)- د نارينه او نارينه د يو ځاي

النَّهَبِي وَعَنْ رُكُوبِ النُّمُورِ وَلُبُوسِ الْخَاتَمِ إِلَّا لِذِي سُلْطَانٍ .رواه ابوداؤد والنسائي.

پرېوتلو څخه چي په مینځ کي پرده حائله نه وي (۵)- د ښځي او ښځي د يو ځاي پرېوتلو څخه چي په مینځ کي پرده نه وي (۶)- او د دې څخه منعه کړې ده چي نارينه د خپلو جامو لاندي د ورېښمو استر ولګوي څنګه چي دعجمو خلک يې لګوي (۷)- يا په اوږو باندي د عجميانو په شان ورېښم لګوي (۸)- د لوټ څخه (۹)-د ښرموښ د پوست زين باندي دسپرېدو څخه (۱۰) د مهر انګشتري په لاسول خو دا د يوه حاکم لپاره جائزه ده . ابوداؤد او نسائي

### د نارينه لپاره سره زر او ريښم

(۴۱۶۱): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ نَهَانِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ خَاتَمِ الذَّهَبِ وَعَنْ لُبْسِ الْقَسِّيِّ وَالْمَيَاثِرِ. رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي وابن ماجة و في رواية لابي داؤد وقال نهى عن المياثر الارجوان.

د حضرت علي ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ زه منعه کړم د سرو زرو د انګشترۍ څخه او قسي څخه او د میاثر څخه (قسّي:- مصری جامه چي سوتي وي ليکن په هغه کي ورېښمني کرښي وي او میاثر:- سور زين پوښ ته وايي) . ترمذي ، ابوداؤد ، نسائي او ابن ما جه. او د ابوداؤد په يوه روايت کي دادي چي رسول الله ﷺ د سور رنګ پوښ څخه منع فرمايلې ده .

### پر کوم زين سپرېدل منع دي

(۴۱۶۲): وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَرْكَبُوا الْخَزَّ وَلَا النِّمَارَ. رواه ابوداؤد والنسائي.

د حضرت معاويه ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :په ريښمنو جامو او د شرموښ د پوستکي پر زين باندي مه سپرېږئ . ابوداؤد او نسائي

### د سور زين پوښ څخه منعه

(۴۱۶۳):وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْمِيثَرَةِ الْحَمْرَاءِ . رواه في شرح السنة

د حضرت براء بن عازب ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د سره زين د پوښ څخه منعه کړې ده . شرح السنه

### د نبي كريم ﷺ د ورېښتانو سپينوالي

(۴۱۶۴): وَعَنْ أَبِي رِمْثَةَ التَّيْمِيِّ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ ثَوْبَانِ أَخْضَرَانِ وَلَهُ شَعْرٌ قَدْ عَلَاهُ الشَّيْبُ وَشَيْبُهُ أَحْمَرُ . رواه الترمذي وفي رواية لأبي داود : وهو ذو وفرة وبها ردع من حناء .

د حضرت ابو رمثه تيمي ؓ څخه روايت دی چي زه د نبي كريم ﷺ په خدمت کي حاضر سوم او نبي کريم ﷺ دوې شنې جامې اغوستي وې او د نبي كريم ﷺ په ورېښتانو باندي يو څه سپين ږير واله غالب سوي وه يعني ږيره يې

سپينه سوې نه وه خو سوروالي ته مائله وه ترمذي، او د ابوداؤد په روايت کې دي چينبي کريم ﷺ صاحب د «وفر» وو او هغه رنګ د نکريزو وو . «وفرة د سر ورېښتانو ته ويل کيږئ چې د غوږو تر نرميو پورې رسيږي» .

**پر سرو ليکو والا پټو لمونځ**

| | |
|---|---|
| (۲۱۶۵): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ شَاكِيًا فَخَرَجَ يَتَوَكَّأُ عَلَى أُسَامَةَ وَعَلَيْهِ ثَوْبُ قِطْرٍ قَدْ تَوَشَّحَ بِهِ فَصَلَّى بِهِمْ . رواه في شرح السنة | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چې نبي کريم ﷺ ناروغ وو يوه ورځ پر اسامه ﷺ باندي په تکيه وهلو سره د باندي راووت او په دې |

وخت کې نبي کريم ﷺ سرو ليکو والا پټو پر ځان راګرزولی وو او نبي کريم ﷺ اصحابو کرامو ته لمونځ ورکړ . شرح السنه

| | |
|---|---|
| (۲۱۶۶): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَوْبَانِ قِطْرِيَّانِ غَلِيظَانِ وَكَانَ إِذَا قَعَدَ فَعَرِقَ ثَقُلَا عَلَيْهِ فَقَدِمَ بَزٌّ مِنَ الشَّامِ لِفُلَانٍ الْيَهُودِيِّ فَقُلْتُ لَوْ بَعَثْتَ إِلَيْهِ فَاشْتَرَيْتَ مِنْهُ ثَوْبَيْنِ إِلَى الْمَيْسَرَةِ فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ فَقَالَ قَدْ عَلِمْتُ مَا تُرِيدُ إِنَّمَا تُرِيدُ أَنْ يَذْهَبَ بِمَالِي أَوْ بِدَرَاهِمِي فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَذَبَ قَدْ عَلِمَ أَنِّي مِنْ أَتْقَاهُمْ وَآدَاهُمْ . رواه الترمذي والنسائي. | د بي بي عائشې رض څخه روايت دی چې نبي کريم ﷺ د قطر د ځاي کلکې غټې جامې اغوستې وې کله چې به نبي کريم ﷺ د بهر کښېنستې او خوله به ورباندي راغله نو هغه جامې په درنې سوې په دې ورځو کې يوه يهودي د شام څخه رخت راوړی ما عرض وکړ که تاسو څوك ولیږئ او د پراخې په وعده باندي «يعني د مال د راتلو يا د زر نقد رسولو په وعده» دوې جامې را وغواړئ نو بهتره به وي، نبي کريم |

ﷺ يو سړی ور ولیږئ، يهودي هغه ته وويل ، ستا اراده ماته معلومه ده ته غواړې چې زما مال و خورې «په ظاهره د دې الفاظو مخاطب هغه سړیوو ليکن په حقيقت کې د هغه مراد نبي کريم ﷺ وو» هغه سړی چې واپس راغی نو د يهودي الفاظ يې بيان کړه ، نبي کريم ﷺ و فرمايل : هغه درواغجن دی او د دې څخه خبر دی «په تورات کې دا خبره معلومه ده چې نبي کريم ﷺ د بر پرهيزګاره دی» چې زه د خداي تعالی څخه تر ټولو خلکو زيات بېرېږم او د امانتو په بېرته ورکولو سره ادا کونکي يم .ترمذي او نسائي.

**سرې جامې د ښځو لپاره جائز دي**

| | |
|---|---|
| (۲۱۶۷): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ رَآنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيَّ ثَوْبٌ | د حضرت عبد الله بن عمر بن عاص ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ زه په داسي حال |

مَصْبُوغٌ بِعُصْفُرٍ مُوَرَّدٌ فَقَالَ مَا هٰذَا فَعَرَفْتُ مَا كَرِهَ فَانْطَلَقْتُ فَأَحْرَقْتُهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا صَنَعْتَ بِثَوْبِكَ فَقُلْتُ أَحْرَقْتُهُ قَالَ أَفَلَا كَسَوْتَهُ بَعْضَ أَهْلِكَ فَإِنَّهُ لَا بَأْسَ بِهِ لِلنِّسَاءِ . رواه ابوداؤد.

كي وليدم چي ما د مصبوغ عصفر (سور رنگه گلابي جامه اغوستې وه . نبي كريم ﷺ پوښتنه وكړه دا څه دي ؟ زه پوه سوم چي نبي كريم ﷺ دا خوښه نه كړه زه سمدستي بيرته راغلم او هغه جامه مي و سوزل (دويم وار د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سوم نو) نبي كريم ﷺ راڅخه پوښتنه وكړه چي تا د هغه سرې جامې سره څه وكړه؟ ما ورته وويل : هغه مي وسوځلې ، نبي كريم ﷺ راته وفرمايل تا په خپل كورنۍ كي په يو ښځي ولي وانه غوستلې ځكه چي د ښځو لپاره د دې ډول جامو اغوستل گناه نه لري .ابوداؤد.

## د سرو ليكو والا څادر

(۴۱۶۸): وَعَنْ هِلَالِ بْنِ عَامِرٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ رَأَيْتُ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِنًى يَخْطُبُ عَلَى بَغْلَةٍ وَعَلَيْهِ بُرْدٌ أَحْمَرُ وَعَلِيٌّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَمَامَهُ يُعَبِّرُ عَنْهُ . رواه ابوداؤد.

حضرت هلال بن عامر ؓ د خپل پلاره څخه روايت كوي ، چي ما په منیٰ كي رسول الله ﷺ په خطبه ويلو باندي و ليدی ، نبي كريم ﷺ هغه وخت په قچره باندي سپور وو ، سره ليكي داره جامه يې پر بدن وه، حضرت علي ؓ يې و مخته ولاړ وو او د نبي كريم ﷺ الفاظ يې تكرارول ځكه چي گڼه گونه زياته وه. ابوداؤد .

## تور څادر

(۴۱۶۹): وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ صُنِعَتْ النبي اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُرْدَةٌ سَوْدَاءُ فَلَبِسَهَا فَلَمَّا عَرِقَ فِيهَا وَجَدَ رِيحَ الصُّوفِ فَقَذَفَهَا . رواه ابوداؤد.

د بي بي عائشي رض څخه روايت دی ، چي د رسول الله ﷺ لپاره تور څادر تيار سو ، نبي كريم ﷺ هغه استعمال كړ، كوم وخت چي ورته خوله راغله او د هغې بوی د وړيو خپور سو نو نبي كريم ﷺ هغه ليري كړ . ابوداؤد

## د نبي ﷺ د ناستي طريقه

(۴۱۷۰): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُحْتَبٍ بِشَمْلَةٍ وَقَدْ وَقَعَ هُدْبُهَا عَلَى قَدَمَيْهِ . رواه ابوداؤد.

د حضرت جابر ؓ څخه روايت دی چي زه د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سوم ، نبي كريم ﷺ دواړي گونډي درولي وي او گونډۍ يې په پتو باندي ترلي وي چي د هغه زورندوالي د نبي كريم ﷺ په پښو مباركو باندي پرهوتل . ابوداؤد .

**نازک توکر**

(۴۱۷۱): وَعَنْ دِحْيَةَ بْنِ خَلِيفَةَ قَالَ أُتِيَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَبَاطِيَّ فَأَعْطَانِي مِنْهَا قُبْطِيَّةً فَقَالَ اصْدَعْهَا صَدْعَيْنِ فَاقْطَعْ أَحَدَهُمَا قَمِيصًا وَأَعْطِ الْآخَرَ امْرَأَتَكَ تَخْتَمِرُ بِهِ فَلَمَّا أَدْبَرَ قَالَ وَأْمُرِ امْرَأَتَكَ أَنْ تَجْعَلَ تَحْتَهُ ثَوْبًا لَا يَصِفُهَا. رواه ابوداؤد.

د حضرت دحیه بن خلیفه ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ ته قباطي (مصری جامه چي سپینه او نازکه وه) تانونه راوړل ، په هغه کي یوه قبطي (تان ماته هم را کړ او راته یې وفرمایل: دا دوې ټکرې کړه د یوې ټکرې څخه قمیص جوړ کړه او دویمه ټکره و خپلي بي بي ته ورکړه ، هغه به و ځان ته پوړنی جوړکړي ، کوم وخت چي زه راتلم نو نبي کریم ﷺ راته وفرمایل: و خپلي بي بي ته دا هدایت وکړه چي د دې لاندي دي یوه بله جامه واغوندي چي د سر ورېښتان او بدن یې ښکاره نه سي . ابوداؤد.

**د پوړني طریقه**

(۴۱۷۲): وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا وَهِيَ تَخْتَمِرُ فَقَالَ لَيَّةً لَا لَيَّتَيْنِ . رواه ابوداؤد.

د بي بي ام سلمه رض څخه روایت دی ، چي نبي کریم ﷺ د هغې کره تشریف راوړ هغه وخت د هغې پوړنی پر سر وو ، نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : پر سر د پوړني یو پېچ کافي دی ، د دوو ضرورت نسته . ابوداؤد.

## دریم فصل

**پرتوگ تر نیمي پنډۍ پوري**

(۴۱۷۳): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ مَرَرْتُ بِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي إِزَارِي اسْتِرْخَاءٌ فَقَالَ يَا عَبْدَ اللّٰهِ ارْفَعْ إِزَارَكَ فَرَفَعْتُهُ ثُمَّ قَالَ زِدْ فَزِدْتُ فَمَا زِلْتُ أَتَحَرَّاهَا بَعْدُ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ إِلَى أَيْنَ فَقَالَ إِلَى أَنْصَافِ السَّاقَيْنِ . رواه مسلم.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چي زه د رسول الله ﷺ سره روان وم او زما پرتوگ زړېدی نبي کریم ﷺ راته وفرمایل: اې عبدالله! خپل پرتوگ پورته کړه ، ما یوڅه اندازه پورته کړ د دې څخه وروسته ما همېشه د نبي کریم ﷺ د ارشاد مطابق خپل پرتوگ پورته تړی ، ځینو خلکو پوښتنه ځیني وکړه چي څومره یې پورته کول ویلي وه ده وویل د پنډیو تر نیمی پوري . مسلم .

**د پرتوگ تړلو طریقه**

(۴۱۷۴): وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ خُيَلَاءَ لَمْ يَنْظُرِ اللّٰهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي د تکبر څخه خپله

| | |
|---|---|
| فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِزَارِي يَسْتَرْخِي إِلَّا أَنْ أَتَعَاهَدَهُ فَقَالَ لَهُ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْكَ لَسْتَ مِمَّنْ يَفْعَلُهُ خُيَلَاءَ. رواه البخاري | جامه (پرتوگ) كښته كړي ، د قيامت په ورځ به خداي تعالى هغه ته نه گوري . حضرت ابو بكر ﷺ عرض وكړ ، اي د الله ﷺ رسوله ! كه زه د |

خپل پرتوگ خاص خيال و نه كړم نو هغه اكثره كښته كيږي ، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : ته د تكبر په وجه داسي نه كوې (يعني ته د هغو خلكو څخه نه يې چي تكبر كوي) بخاري.

د پرتوگ ترلو طريقه

| | |
|---|---|
| (۴۱۷۵): وَعَنْ عِكْرِمَةَ قَالَ رَأَيْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ يَأْتَزِرُ فَيَضَعُ حَاشِيَةَ إِزَارِهِ مِنْ مُقَدَّمِهِ عَلَى ظَهْرِ قَدَمَيْهِ وَيَرْفَعُ مِنْ مُؤَخَّرِهِ قُلْتُ لِمَ تَأْتَزِرُ هٰذِهِ الْإِزْرَةَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتَزِرُهَا . رواه ابوداؤد. | د حضرت عكرمه ﷺ څخه روايت دى چي ما ابن عباس ﷺ په داسي لنگ ترلو باندي ليدلي دى چي د هغه مخكني برخه په قدمونو پرته وه او د شا برخه به يې پورته وه ، ما ورته وويل ، ته لنگ داسي ولي ترې ؟ هغه وويل ، ما |

رسول الله ﷺ په داسي لنگ ترلو باندي ليدلي دى . ابوداؤد.

د لنگوټې ترلو حكم

| | |
|---|---|
| (۴۱۷۶): وَعَنْ عُبَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْكُمْ بِالْعَمَائِمِ فَإِنَّهَا سِيمَاءُ الْمَلَائِكَةِ وَأَرْخُوْهَا خَلْفَ ظُهُوْرِكُمْ . رواه البيهقي. | د حضرت عباده ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل :تاسو لنگوټه ترئ ځكه چي لنگوټه ترل د ملائكو علامه ده او د لنگوټې شمله خپل د شا طرف ته پرېږدئ . بيهقي |

د ښځو لپاره نرۍ جامه منعه ده

| | |
|---|---|
| (۴۱۷۷): وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَنَّ أَسْمَاءَ بِنْتَ أَبِي بَكْرٍ دَخَلَتْ عَلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهَا ثِيَابٌ رِقَاقٌ فَأَعْرَضَ عَنْهَا وَقَالَ يَا أَسْمَاءُ إِنَّ الْمَرْأَةَ إِذَا بَلَغَتِ الْمَحِيضَ لَمْ تَصْلُحْ أَنْ يُرَى مِنْهَا إِلَّا هٰذَا وَهٰذَا وَأَشَارَ إِلَى وَجْهِهِ وَكَفَّيْهِ. رواه ابوداؤد. | د بي بي عائشې رض څخه روايت دى چي بي بي اسماء (رض) د ابوبكر ﷺ لور د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضره سوه ، هغه وخت د هغې پر بدن باندي نازكه جامه وه ، رسول الله ﷺ د هغې څخه مخ واړوى او ويې فرمايل :اي اسماء ! كله چي ښځه بالغه سي ،نو د هغې سره نه ښائي چي |

ددې اندامونه دي وليدل سي نبي كريم ﷺ خپل مخ او دواړو لاسونو ته اشاره وكړه . ابوداؤد.

**د نوو جامو اغوستلو دعاء**

(۴۱۷۸): وَعَنْ أَبِي مَطَرٍ أَنَّ عَلِيًّا اشْتَرَى ثَوْبًا بِثَلَاثَةِ دَرَاهِمَ فَلَمَّا لَبِسَهُ قَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي رَزَقَنِي مِنَ الرِّيَاشِ مَا أَتَجَمَّلُ بِهِ فِي النَّاسِ وَأُوَارِي بِهِ عَوْرَتِي ثُمَّ قَالَ هٰكَذَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ. رواه احمد.

د حضرت ابو مطر ؓ څخه روایت دی چې حضرت علي ؓ په درې درهمه يوه جامه رانيول ، کوم وخت چې يې واغوستل نو يې وويل: الحمد لله ......به عورتي. ټول ثنا او صفت و الله ﷻ ته دي چې ماته يې د زينت جامې را کړې او زه د خلکو په مينځ کې د دې د زينت اظهار کوم او په دې سره خپل ستر پټوم بيا يې وويل ، ما داسې د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي . احمد.

(۴۱۷۹): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ لَبِسَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ثَوْبًا جَدِيدًا فَقَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي كَسَانِي مَا أُوَارِي بِهِ عَوْرَتِي وَأَتَجَمَّلُ بِهِ فِي حَيَاتِي ثُمَّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ لَبِسَ ثَوْبًا جَدِيدًا فَقَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي كَسَانِي مَا أُوَارِي بِهِ عَوْرَتِي وَأَتَجَمَّلُ بِهِ فِي حَيَاتِي ثُمَّ عَمَدَ إِلَى الثَّوْبِ الَّذِي أَخْلَقَ فَتَصَدَّقَ بِهِ كَانَ فِي كَنَفِ اللّٰهِ وَفِي حِفْظِ اللّٰهِ وَفِي سَتْرِ اللّٰهِ حَيًّا وَمَيِّتًا. رواه احمد والترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث غريب.

د حضرت ابو امامه ؓ څخه روایت دی چې حضرت عمر بن خطاب نوې جامې واغوستلې او دا يې وويل : الحمد لله ..... فى حيوتي ټول تعريفونه خداي تعالي لره دي چې ما ته هغه جامې را واغوستلې چې زه ورسره خپل ستر پټوم او خپل ژوند ته ورباندي ښائست ورکوم بيايې وفرمايل: ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي څوک چې نوې جامې واغوندي او دا ووايي : الحمد لله الذي كساني ما اواري به عورتي و اتجمل به فى حيوتي . او بيا هغه جامه چې د بدن څخه يې کښلې وي (يعني زاړه کالي) صدقه کړي نو هغه په ژوند کې هم او د مرگ څخه وروسته هم د خداي تعالى په پناه او پرده کې وي احمد ، ترمذي او ابن ماجه ، ترمذي ويلي دي چې دا حديث غريب دی.

**نرۍ پورنۍ منع دي**

(۴۱۸۰): وَعَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ أَبِي عَلْقَمَةَ عَنْ أُمِّهِ قَالَتْ دَخَلَتْ حَفْصَةُ بِنْتُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَلَى عَائِشَةَ وَعَلَيْهَا خِمَارٌ رَقِيقٌ فَشَقَّتْهُ عَائِشَةُ وَكَسَتْهَا خِمَارًا كَثِيفًا. رواه مالك .

حضرت علقمه بن ابو علقمه ؓ د خپلې مور څخه روايت کوي چې د عبد الرحمن ؓ لور حفصه ؓ د بي بي عائشې ؓ په خدمت کې حاضره سوه هغه وخت هغې نازک پورنۍ پر سر وو ، بي بي عائشې ؓ د هغې نازک پورنۍ څيرې کړ او لوئ پورنۍ يې ورته په سر کړ. مالك .

## د بي بي عائشې فقر او زهد

(۴۱۸۱): وَعَنْ عَبْدِالْوَاحِدِ بْنِ اَيْمَنَ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا وَعَلَيْهَا دِرْعُ قِطْرٍ ثَمَنُ خَمْسَةِ دَرَاهِمَ فَقَالَتْ ارْفَعْ بَصَرَكَ إِلَى جَارِيَتِي انْظُرْ إِلَيْهَا فَإِنَّهَا تُزْهَى أَنْ تَلْبَسَهُ فِي الْبَيْتِ وَقَدْ كَانَ لِي مِنْهَا دِرْعٌ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا كَانَتْ امْرَأَةٌ تُقَيَّنُ بِالْمَدِينَةِ إِلَّا أَرْسَلَتْ إِلَيَّ تَسْتَعِيرُهُ. رواه البخاري.

حضرت عبد الواحد ﷺ بن ایمن د خپل پلاره څخه روایت کوي چي زه د بي بي عائشې رض په خدمت کي حاضر سوم هغه وخت هغې مصری قمیص اغوستي وو چي د هغې قیمت پنځه درهمه وو ، بي بي عائشې رض راته وویل ، ته زما د دې مینځي و لور ته وګوره چي څومره غرور کوي ، هغه په کور کي د دې جامو په اغوستلو باندي نه راضي کیږي ، د دې څخه وروسته بي بي عائشې وفرمایل: زما سره د رسول الله ﷺ د زماني د دې ډول یو قمیص وو ، په مدینه منوره کي چي به کومه انجلۍ واده کېده نو د هغې د ناوي کېدو لپاره به یې هغه غوښتی (یعني د برکت د حاصلولو لپاره). بخاري.

## ریښمنه قباء

(۴۱۸۲): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ لَبِسَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا قَبَاءً مِنْ دِيبَاجٍ أُهْدِيَ لَهُ ثُمَّ أَوْشَكَ أَنْ نَزَعَهُ فَأَرْسَلَ بِهِ إِلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ فَقِيلَ لَهُ قَدْ أَوْشَكْتَ مَا نَزَعْتَهُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَقَالَ نَهَانِي عَنْهُ جِبْرِيلُ فَجَاءَهُ عُمَرُ يَبْكِي فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ كَرِهْتَ أَمْرًا وَأَعْطَيْتَنِيهِ فَمَا لِي قَالَ إِنِّي لَمْ أُعْطِكَهُ لِتَلْبَسَهُ إِنَّمَا أَعْطَيْتُكَهُ تَبِيعُهُ فَبَاعَهُ بِأَلْفَيْ دِرْهَمٍ. رواه مسلم.

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي یوه ورځ رسول الله ﷺ یوه ریښمینه قبا وا غوستل چي د تحفې په ډول ورته را لېږل سوې وه ، بیا نبي کریم ﷺ سمدستي لیري کړه او حضرت عمر ﷺ ته یې را ولېږل ، عرض وسو (یعني اصحابو عرض وکړ) اې د الله ﷺ رسوله ! تاسو دومره زر دا قبا ولې لیري کړه؟ نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : زه جبرائیل ﷺ د دې د اغوستلو څخه منعه کړم، بیا حضرت عمر ﷺ په ژړا تشریف راوړ او عرض یې وکړ ، اې د الله ﷺ رسوله ! تاسو یو شی بد و ګڼئ او وروسته مو بیا ماته راکړ (چي زه یې وا غوندم)زما به څه حال وي ؟ نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : دا قبا ما تاته د اغوستلو لپاره نه ده درکړې بلکه د خرڅولو لپاره مي در لېږلې وه ، حضرت عمر ﷺ هغه په دوه زره درهمه باندي خرڅه کړه . مسلم.

**په کالو کي د وريښمو تارونه**

| | |
|---|---|
| (۴۱۸۳): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنَّمَا نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الثَّوْبِ الْمُصْمَتِ مِنَ الْحَرِيرِ فَأَمَّا الْعَلَمُ مِنَ الْحَرِيرِ وَسَدَى الثَّوْبِ فَلَا بَأْسَ بِهِ . رواه ابوداوٗد. | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د خاص وريښمني جامو څخه منعه کړېده ليکن د وريښم کناره يا ګوټ چي په اندازه د څلورو ګوتو وي يا بله جامه چي د هغې |

تنسته د وريښمو وي ، په هغه کي بيا څه ګناه نسته . ابوداوٗد.

**ښه جامه**

| | |
|---|---|
| (۴۱۸۴): وَعَنْ أَبِي رَجَاءٍ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا عِمْرَانُ بْنُ حُصَيْنٍ وَعَلَيْهِ مِطْرَفٌ مِنْ خَزٍّ وَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَنْعَمَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَيْهِ نِعْمَةً فَإِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يُحِبُّ أَنْ يُرَى أَثَرُ نِعْمَتِهِ عَلَى عَبْدِهِ. رواه احمد. | د حضرت ابو رجاء ﷺ څخه روايت دی چي عمران بن حصين ما ته راغی ، هغه وخت هغه وريښميني او وريني جامې اغوستي وې هغه وويل : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : الله ﷻ چي يو خوک په خپل نعمت سره و نازوي نو خدای تعالی |

دا خوښوي چي د هغه نعمت اظهار دي وکړي . احمد.

**اسراف او تکبر مه کوه**

| | |
|---|---|
| (۴۱۸۵): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كُلْ مَا شِئْتَ وَالْبَسْ مَا شِئْتَ مَا أَخْطَأَتْكَ اثْنَتَانِ سَرَفٌ أَوْ مَخِيلَةٌ. رواه البخاري في ترجمة باب. | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي وخوره څه چي دي زړه غواړي او اغونده څه چي دي خوښ وي ترڅو پوري چي ته په دوو شيانو |

کي اخته نه سې يعني په اسراف او تکبر کي . بخاري.

| | |
|---|---|
| (۴۱۸۶): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُوا وَاشْرَبُوا وَتَصَدَّقُوا وَالْبَسُوا مَا لَمْ يُخَالِطْ إِسْرَافٌ وَلَا مَخِيلَةٌ. رواه احمد والنسائي وابن ماجة. | حضرت عمرو بن شعيب ﷺ د خپل پلاره څخه او هغه بيا د خپل پلاره څخه روايت کوي ، چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي : وخورئ ، و څښئ او خيرات کوئ او اغوندئ تر څو پوري چي |

په دي کي اسراف او تکبر نه وي . احمد ، نسائي او ابن ماجه.

**د سپينو کالو فضيلت**

| | |
|---|---|
| (۴۱۸۷): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ | د حضرت ابو درداء ﷺ څخه روايت دی چي |

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَحْسَنَ مَا زُرْتُمُ اللّٰهَ بِهِ فِي قُبُورِكُمْ وَمَسَاجِدِكُمُ الْبَيَاضُ. ابن ماجة

رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه بهترینه جامه چې د هغې په اغوستلو سره تاسو په خپلو قبرونو او مسجدونو کې د الله ﷺ سره یو ځای کیږي، سپینه جامه ده. ابن ماجه.

# بَابُ الْخَاتَمِ (د ګوتمې بیان)

## لومړی فصل

### د سپینو زرو ګوتمې

(۲۱۸۸): عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ اتَّخَذَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ، و في رواية وجعله في يده اليمين ثُمَّ أَلْقَاهُ ثُمَّ اتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ وَرِقٍ وَنَقَشَ فِيهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللّٰهِ وَقَالَ لَا يَنْقُشُ أَحَدٌ عَلَى نَقْشِ خَاتَمِي هَذَا وَكَانَ إِذَا لَبِسَهُ جَعَلَ فَصَّهُ مِمَّا يَلِي بَطْنَ كَفِّهِ. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د سرو زرو ګوتمې (مُهر) جوړه کړه. او په یوه روایت کې دا الفاظ هم دي چې هغه ګوتمې یې په راسته لاس کړه او وروسته یې و کښل، وروسته یې د سپینو زرو څخه یوه ګوتمې جوړه کړه چې په هغه کې د محمد رسول الله الفاظ نقش سوي وه او دا یې وفرمایل: چې هیڅوک دي زما د مهر په شان الفاظ نه نقش کوي، کله چې په نبي کریم ﷺ دا ګوتمې په لاسه کړه نو د هغې غمی به یې د لاس د ورغوي خوا ته کوی. بخاري او مسلم.

(۲۱۸۹): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ لُبْسِ الْقَسِّيِّ وَالْمُعَصْفَرِ وَعَنْ تَخَتُّمِ الذَّهَبِ وَعَنْ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ فِي الرُّكُوعِ. رواه مسلم.

د حضرت علي رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ منعه کړېده (۱)- د وربښمو د مصري جامو د اغوستلو څخه. (۲)- د کسم (د سره رنګ) بانديي د رنګ سوي جامو د اغوستلو څخه. (۳)- د سرو زرو د ګوتمې د په لاسولو څخه. (٤)- او په رکوع کې د قرانکریم د تلاوت څخه. مسلم.

**د سرو زرو گوتمۍ منعه ده**

| | |
|---|---|
| (۴۱۹۰): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ فِي يَدِ رَجُلٍ فَنَزَعَهُ فَطَرَحَهُ فَقَالَ يَعْمِدُ أَحَدُكُمْ إِلَى جَمْرَةٍ مِنْ نَارٍ فَيَجْعَلُهَا فِي يَدِهِ فَقِيلَ لِلرَّجُلِ بَعْدَ مَا ذَهَبَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُذْ خَاتَمَكَ انْتَفِعْ بِهِ قَالَ لَا وَاللّٰهِ لَا آخُذُهُ أَبَدًا وَقَدْ طَرَحَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه مسلم . | د حضرت عبد الله بن عباس ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د يوه سړي په لاس کي د سرو زرو گوتمۍ وليدل ، نبي کريم ﷺ د هغه د لاسه څخه هغه را و کښل او ويې غورځول او ورسته يې ورته وفرمايل : په تاسو کي يو سړی د دوږخ د اور د سکروټو اراده کوي او هغه گوتمۍ په لاسه وي ، کوم وخت چي نبي کريم ﷺ تشريف يوړ نو هغه سړي ته يې وويل : ته خپله گوتمۍ |

پورته کړه او د دې څخه فائده واخله ، هغه ووېل ، يا ، په خدای دې مي قسم وي دا چي دا رسول الله ﷺ غورځولې ده نو زه به يې هيڅکله بيرته نه اخلم . مسلم.

**د نبي ﷺ مهر**

| | |
|---|---|
| (۴۱۹۱): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَادَ أَنْ يَكْتُبَ إِلَى كِسْرَى وَقَيْصَرَ وَالنَّجَاشِيِّ فَقِيلَ إِنَّهُمْ لَا يَقْبَلُوْنَ كِتَابًا إِلَّا بِخَاتَمٍ فَصَاغَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمًا حَلْقَتُهُ فِضَّةٌ وَنَقَشَ فِيهِ مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللّٰهِ . رواه مسلم وفي رواية للبخاري كَانَ نَقْشُ الْخَاتَمِ ثَلَاثَةَ أَسْطُرٍ مُحَمَّدٌ سَطْرٌ وَرَسُوْلُ سَطْرٌ وَاللّٰهِ سَطْرٌ . | د حضرت انس ﷛ څخه روايت دی کوم وخت چي رسول الله ﷺ کسری قيصر او نجاشي ته د اسلام د دعوت د خطونو د لېږلو اراده وکړه ، نبي کريم ﷺ ته عرض وسو چي دا خلک دا تحرير نه قبلوي(يعني خط مستند نه گڼي چي په هغه باندي مهر نه وي) نو نبي کريم ﷺ يوه گوتمۍ جوړه کړه چي حلقه يې د سپينو زرو وه او پر |

هغې باندي د محمدرسول الله الفاظ نقش سوي وه . مسلم، او د بخاري په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي د مُهر په دننه برخه کي درې ليکي وې په يوه ليکه کي محمد ليکلی وو او په دويمه ليکه کي رسول او په دريمه ليکه کي الله ليکل سوی وو .

**د نبي ﷺ د گوتمۍ غمی**

| | |
|---|---|
| (۴۱۹۲): وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ خَاتَمُهُ مِنْ فِضَّةٍ وَكَانَ فَصُّهُ مِنْهُ . رواه البخاري. | د حضرت انس ﷛ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ يوه گوتمۍ (مُهر) د سپينو زرو وه او غمی يې هم د سپينو زرو وو . بخاري |

| | |
|---|---|
| (۴۱۹۳): وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَبِسَ خَاتَمَ فِضَّةٍ فِي يَمِينِهِ فِيهِ فَصٌّ حَبَشِيٌّ كَانَ يَجْعَلُ فَصَّهُ مِمَّا يَلِي كَفَّهُ . متفق عليه | د حضرت انس ﷜ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د سپینو زرو ګوتمی په ښي لاس کړې وه چي په هغه کي حبشي غمی وو او هغه غمی به يې د ورغوي طرف ته کړی وو . بخاري او مسلم |
| (۴۱۹۴): وَعَنْهُ قَالَ كَانَ خَاتَمُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذِهِ وَأَشَارَ إِلَى الْخِنْصِرِ مِنْ يَدِهِ الْيُسْرَى. رواه مسلم. | د حضرت انس ﷜ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ ګوتمی په دې ګوته کړې وه يعني د ښي لاس په کچې ګوته کي . مسلم |

**ګوتمی په کومه ګوته کول**

| | |
|---|---|
| (۴۱۹۵): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ نَهَانِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَتَخَتَّمَ فِي إِصْبَعِي هَذِهِ أَوْ هَذِهِ قَالَ فَأَوْمَأَ إِلَى الْوُسْطَى وَالَّتِي تَلِيهَا . رواه مسلم. | د حضرت علي ﷜ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ زه د ګوتمی په دې ګوته کي د اچولو څخه منعه کړی يم (يعني په مينځنۍ ګوته او د شهادت په ګوته کي) . مسلم |

## دویم فصل

**ګوتمی په راسته لاس کول**

| | |
|---|---|
| (۴۱۹۶): عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ جَعْفَرٍ قال كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَخَتَّمُ فِي يَمِينِهِ . رواه ابن ماجة و رواه ابوداؤد والنسائي عن علي. | د حضرت عبدالله بن جعفر ﷜ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به د مهر ګوتمی په خپل لاس راسته کوله . ابن ماجه او په ابو داؤد او نسائي کي دا د حضرت علي ﷜ څخه روایت کړی دی . |
| (۴۱۹۷): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَخَتَّمُ فِي يَسَارِهِ. رواه ابوداؤد. | د حضرت ابن عمر ﷜ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به په ګڅه لاس کي مهر اچوی . ابوداؤد |

**ريښم او سره زر د نارينه لپاره حرام دي**

| | |
|---|---|
| (۴۱۹۸): وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَ حَرِيرًا فَجَعَلَهُ فِي يَمِينِهِ وَأَخَذَ ذَهَبًا فَجَعَلَهُ فِي شِمَالِهِ ثُمَّ قَالَ إِنَّ هَذَيْنِ حَرَامٌ عَلَى | د حضرت علي ﷜ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ ريښمينه جامه را واخيستل په راسته لاس کي يې کښېښودل او سره زر يې |

ذُكُورِ أُمَّتِي. رواه احمد وابوداؤد والنسائي .

راواخيستل په چپه لاس کې يې کنبښنودل او ، سادگی مطلب زرې جامې اغوستل دي چې ډېر زيب او زينت پکښې نه وي . ابوداؤد

(۴۱۹۹): وَعَنْ مُعَاوِيَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ رُكُوبِ النُّمُورِ وَعَنْ لُبْسِ الذَّهَبِ إِلَّا مُقَطَّعًا . رواه ابوداؤد والنسائي.

د حضرت معاويه ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د ښىرموښ د پوستـ پـه زيـن د سپرېدو څخه منعه کړې ده او نارينه يې د سرو زرو د گوتمۍ د په لاسولو څخه منعه کړی دی مگر چې د سروزرو مقدار ډېر کم وي (لکه د کمر بند ميخ چې د سروزرو وي نو بيا مباح دي . ابوداؤد او نسائي.

(۴۲۰۰): وَعَنْ بُرَيْدَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِرَجُلٍ عَلَيْهِ خَاتَمٌ مِنْ شَبَهٍ مَا لِي أَجِدُ مِنْكَ رِيحَ الْأَصْنَامِ فَطَرَحَهُ ثُمَّ جَاءَ وَعَلَيْهِ خَاتَمٌ مِنْ حَدِيدٍ فَقَالَ مَا لِي أَرَى عَلَيْكَ حِلْيَةَ أَهْلِ النَّارِ فَطَرَحَهُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ أَتَّخِذُهُ قَالَ اتَّخِذْهُ مِنْ وَرِقٍ وَلَا تُتِمَّهُ مِثْقَالًا. رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي وقال محي السنة و قد صح عن سهل بن سعد في الصداق ان النبي صلى الله عليه وسلم قال لرجل التمس ولو خاتما من حديد.

د حضرت بريده ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ يو سړي ته چې د ژړو گوتمۍ يې په گوته کړې وه و فرمايل : څه دي چې زه په تا کي د بتانو بوې حس کوم ؟ هغه سړي هغه گوتمۍ و غورځول بيا چې هغه سړی راغی نو د اوسپنې گوتمۍ يې په لاس کړې وه ، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : څه دي چې زه تا د دوزخ کالي (زېور) په لاس کړی وينم ، نو هغه گوتمۍ و غورځول او عرض يې وکړ ، اې د الله ﷺ رسوله ! د څه شي څخه گوتمۍ جوړه کړم؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : د سپينو زرو څخه او ديوه مثقال څخه يې کم وزن ساته . ترمذي ، ابو داؤد او نسائي، امام محي السنه وايي ، چې د سهل بن سعد ﷺ په صحيح حديث کي چې د ښځي د مهر په اره دی ، دا الفاظ دي چې نبي کريم ﷺ يوه سړي ته وفرمايل: د خپل ښځي د مَهر لپاره د يو شي تلاښ و کړه ، که څه هم د اوسپنې گوتمۍ وي .

## لس خراب شيان

(۴۲۰۱): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكْرَهُ عَشْرَ خِلَالٍ الصُّفْرَةَ يَعْنِي الْخَلُوقَ وَتَغْيِيرَ الشَّيْبِ وَجَرَّ الْإِزَارِ وَالتَّخَتُّمَ بِالذَّهَبِ

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به لس شيان بد گڼل : (۱)- زر دي يعني د خلوق د استعمال چې زعفران او داسي نورو څخه جوړ سوي وي . (۲): سپين ږيرو واله

وَالتَّبَرُّجَ بِالزِّيْنَةِ لِغَيْرِ مَحَلِّهَا وَالضَّرْبَ بِالْكِعَابِ وَالرُّقَى إِلَّا بِالْمُعَوِّذَاتِ وَعَقْدِ التَّمَائِمِ وَعَزْلَ الْمَاءِ لِغَيْرِ مَحَلِّهِ وَفَسَادَ الصَّبِيِّ غَيْرَ مُحَرِّمِهِ. رواه ابوداؤد والنسائي .

پتول ، يا خو يې سپين وربېنته. كښل يا توري نكروزي لګول .(۳)- اوږدول د لونګ .(٤)- د سرو زرو ګوتمې په لاسول .(٥)-د ښخي بې ځايه د زينت اظهار كول (يعني يوازي د مېړه لپاره ښځه خان ته زينت وركولای سي) . (٦)- نرد كول (د يوې لوبې نوم دی چې د چوسر د شطرنج ګوته).(٧)- دم كول پرته د معوذاتو يعني دم كول يا و چا ته ښودل پرته د سورة برب الفلق ، برب الناس څخه چې په دې سره پناه جائزه ده .(٨)- د كنجكو او منكو تړل يعني د بد نظر او داسي نور د دفعي لپاره (او څينو د كنجكو او منكونه د جاهليت جادو و مراد اخيستل كېدای سي)(٩)- عزل كول يعني د ښخي د مخصوص خايه څخه مني د باندي غورځول .(١٠)- بچی خرابول يعني د كوچني د شيدو رودلو په ورځو كي د خپلي كوروالا سره يو ځايوالي كول چې په هغه سره حمل وسي او د كوچني و شيدو ته نقصان ورسيږي ، اخيري شی يعني (١٠) نمبر نبي كريم ﷺ نه دی حرام كړی . ابوداؤد او نسائي .

**د ښځي لپاره پايزيبونه حرام دي**

(٤٢٠٢): وَعَنِ الزُّبَيْرِ أَنَّ مَوْلَاةً لَهُمْ ذَهَبَتْ بِابْنَةِ الزُّبَيْرِ إِلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ وَفِي رِجْلِهَا أَجْرَاسٌ فَقَطَعَهَا عُمَرُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَعَ كُلِّ جَرَسٍ شَيْطَانٌ. رواه ابوداؤد.

د حضرت زبير ؓ څخه روايت دی چې د هغه ازاده كړي مينځي د زبير ؓ لور د حضرت عمر بن خطاب په خدمت كي حاضره كړه او د انجلۍ په پښو كي پايزيب وو ، حضرت عمر ؓ د هغې څخه پايزيب پرې كړه او ورته يې وفرمايل:ما د نبي كريم ﷺ څخه دا اورېدلي دي چې د هر پايزيب سره شيطان وي . ابوداؤد.

(٤٢٠٣): وَعَنْ بُنَانَةَ مَوْلَاةِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ حَيَّانَ الْأَنْصَارِيِّ كَانَتْ عِنْدَ عَائِشَةَ إِذْ دُخِلَتْ عَلَيْهَا بِجَارِيَةٍ وَعَلَيْهَا جَلَاجِلُ يُصَوِّتْنَ فَقَالَتْ لَا تُدْخِلْنَهَا عَلَيَّ إِلَّا أَنْ تُقَطِّعْنَ جَلَاجِلَهَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ جَرَسٌ . رواه ابوداؤد.

د حضرت عبد الرحمن بن حيان انصاري ؓ مينځه بنانه روايت كوي ، هغه د بي بي عائشې رض په خدمت كي حاضره سوه چې و هغې ته يوه كوچنۍ انجلۍ راوستل سوه چې پايزيبونه اچولي وه او هغه شرنګاری كوی ، بـي بـي عائشې رض و هغې ښځي ته چې انجلۍ يې راوستلې وه وويل چې دا انجلۍ تر هغه وخته پوري زما و كور ته مه راوله ترڅو پوري چې د ا

پایزیب ور څخه پرې نه کړې او و یې نه غوړځوي ، ځکه چې ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي په کوم کور کې چې پایزیبونه وي و هغه کور ته ملائکې نه راځي . ابوداؤد .

**د مجبوری په وخت کې د سرو زرو استعمال**

(۴۲۰۴): وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ طَرَفَةَ أَنَّ جَدَّهُ عَرْفَجَةَ بْنَ أَسْعَدَ قُطِعَ أَنْفُهُ يَوْمَ الْكُلَابِ فَاتَّخَذَ أَنْفًا مِنْ وَرِقٍ فَأَنْتَنَ عَلَيْهِ فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان يتخذ أَنْفًا مِنْ ذَهَبٍ . رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي .

د حضرت عبد الرحمن رضی الله عنه بن طرفه څخه روایت دی چې د هغه د نیکه عرفجه بن اسعد پزه د کلاب په ځای په جګړه کې پرې سوې وه ، هغه د سپینو زرو پزه جوړه کړه ، په هغه کې بدبویي پیدا سوه ، نبي کریم ﷺ حکم ورته وکړ چې ته د سرو زرو پزه جوړه کړه ترمذي . ابوداؤد او نسائي

**د سرو زرو په باره کې وعید**

(۴۲۰۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُحَلِّقَ حَبِيبَهُ حَلْقَةً مِنْ نَارٍ فَلْيُحَلِّقْهُ حَلْقَةً مِنْ ذَهَبٍ وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُطَوِّقَ حَبِيبَهُ طَوْقًا مِنْ نَارٍ فَلْيُطَوِّقْهُ طَوْقًا مِنْ ذَهَبٍ وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُسَوِّرَ حَبِيبَهُ سِوَارًا مِنْ نَارٍ فَلْيُسَوِّرْهُ سِوَارًا مِنْ ذَهَبٍ وَلٰكِنْ عَلَيْكُمْ بِالْفِضَّةِ فَالْعَبُوا بِهَا . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : څوک چې خپل محبوب ته د اور حلقه اچول خوښوي هغه دي ورته د سرو زرو حلقه جوړه کړي او څوک چې و خپل محبوب ته د اور طوق اچول خوښوي ، هغه ته پکار ده چې هغه ته د سرو زرو طوق واچوي او څوک چې خپل محبوب ته د اور بنګړی اچول خوښوي هغه ته پکار ده چې هغه ورته د سرو زرو بنګړی ور په لاس کړي ، لیکن و تاسو ته د سپینو زرو استعمال جائز دی په دې سره چې څنګه غواړئ و لوبېږئ (د ضرورت څخه زیات د زېوراتو استعمال په لهو و لعب کې داخل دي) ابوداؤد.

(۴۲۰۶): وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَيُّمَا امْرَأَةٍ تَقَلَّدَتْ قِلَادَةً مِنْ ذَهَبٍ قُلِّدَتْ فِي عُنُقِهَا مِثْلَهُ مِنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَيُّمَا امْرَأَةٍ جَعَلَتْ فِي أُذُنِهَا خُرْصًا مِنْ ذَهَبٍ جُعِلَ فِي أُذُنِهَا مِثْلُهُ مِنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه ابوداؤد والنسائي .

د بي بي اسماء رض د یزید د لور څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کومه ښځه چې د سرو زرو امېل په غاړه کړي ، د قیامت په ورځ به د هغې په غاړه کې د هغه په شان د اور امېل واچول سي او کومه ښځه چې په خپلو غوږو باندې د سرو زرو والي په غوږو کړي د قیامت په ورځ به د هغې په غوږو کې د هغو په شان د اور والي واچول سي . ابوداؤد او نسائي.

| | |
|---|---|
| (۴۲۰۷): وَعَنْ أُخْتِ لِحُذَيْفَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ أَمَا لَكُنَّ فِي الْفِضَّةِ مَا تُحَلَّيْنَ بِهِ أَمَا إِنَّهُ لَيْسَ مِنْكُنَّ امْرَأَةٌ تُحَلَّى ذَهَبًا تُظْهِرُهُ إِلَّا عُذِّبَتْ بِهِ . رواه ابوداؤد والنسائي . | د حضرت حذیفه ﷺ خور بیان کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل اې ښځو! ستا سو لپاره سپین زر کافي نه دي چي تاسو د دې زر ښځه کالي جوړ کړئ ، آگاه سئ! په تاسو کي چي کومه |

ښځه د سرو زرو زیور جوړوي او بیا یې بېله موقع د هغو اظهار کوي نو هغې ته به د زرو په وجه عذاب ورکول کیږي . ابوداؤد او نسائي.

## دریم فصل

### که د جنت کالي غواړي

| | |
|---|---|
| (۴۲۰۸): عَنْ عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَمْنَعُ أَهْلَهُ الْحِلْيَةَ وَالْحَرِيرَ وَيَقُولُ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ حِلْيَةَ الْجَنَّةِ وَحَرِيرَهَا فَلَا تَلْبَسُوهَا فِي الدُّنْيَا . رواه النسائي . | د حضرت عقبه بن عامر ﷺ ښځه روایت دی چي رسول الله ﷺ به زیور(کالي) او وربښمو والا ته فرمایل: که تاسو د جنت کالي (زیور) او وربښم خوښوئ نو په دنیا کي د اشیان مه اغوندئ . نسائي |

### گوتمی

| | |
|---|---|
| (۴۲۰۹): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّخَذَ خَاتَمًا فَلَبِسَهُ قَالَ شَغَلَنِي هٰذَا عَنْكُمْ مُنْذُ الْيَوْمَ إِلَيْهِ نَظْرَةٌ وَإِلَيْكُمْ نَظْرَةٌ ثُمَّ أَلْقَاهُ . رواه النسائي . | د حضرت ابن عباس ﷺ ښځه روایت دی چي رسول الله ﷺ یوه گوتمی جوړه کړه او هغه یې په لاس کړه ، بیا یې وفرمایل: زه نن دې گوتمی ستاسو ښځه مشغوله کړم ، کله زه و دې ته گورم |

او کله تاسو ته په دې ویلو سره یې هغه و کښېل . نسائي.

### کوچنیانو ته سره زر حرام دي

| | |
|---|---|
| (۴۲۱۰): وَعَنْ مَالِكٍ قَالَ أَنَا أَكْرَهُ أَنْ يُلْبَسَ الْغِلْمَانُ شَيْئًا مِنَ الذَّهَبِ لِأَنَّهُ بَلَغَنِي أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ التَّخَتُّمِ بِالذَّهَبِ فَأَنَا أَكْرَهُ لِلرِّجَالِ الْكَبِيرِ مِنْهُمْ وَالصَّغِيرِ . رواه في الموطأ | د حضرت مالك ﷺ ښځه روایت دی چي زه دا نه خوښوم چي و کوچنیانو ته د سرو زرو شیان په وا غوندم ځکه چي ما ته معلومه سوې ده چي رسول الله ﷺ د سرو زرو د گوتمی ښځه منعه کړېده ، زه چي کوم شیان د لویانو لپاره نه خوښوم نو د کوچنیانو لپاره یې هم نه خوښوم . مؤطا |

# بَابُ النِّعَالِ (د څپلیو بیان)

## لومړۍ فصل

### د نبي ﷺ څپلۍ

(۴۲۱۱): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلْبَسُ النَّعْلَ الَّتِي لَيْسَ فِيهَا شَعَرٌ. رواه البخاري.

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روایت دی چي ما رسول الله ﷺ د داسي څپلۍ په پښو کولو کي لیدلي دی چي په هغه کي وریښته نه وه. بخاري

(۴۲۱۲): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ إِنَّ نَعْلَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَهَا قِبَالَانِ. رواه البخاري.

د حضرت انس ؓ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ په چوټو کي دوې تسمې وې (یعني یوه تسمه یې په بټه ګوته کي او بله تسمه په منځنۍ ګوته کي). بخاري

### د څپلیو اهمیت

(۴۲۱۳): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةٍ غَزَوْنَاهَا يَقُولُ اسْتَكْثِرُوا مِنَ النِّعَالِ فَإِنَّ الرَّجُلَ لَا يَزَالُ رَاكِبًا مَا انْتَعَلَ. رواه مسلم.

د حضرت جابر ؓ څخه روایت دی چي په یوه غزا کي ما د رسول الله ﷺ څخه دا واورېدل چي ډېري څپلۍ رانیسئ ځکه چي ترڅو پوري د یو سړي څپلۍ په پښو وي د سپور (سپاره) په ډول دی. مسلم

### اول راسته څپلۍ په پښو کوئ

(۴۲۱۴): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا انْتَعَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَبْدَأْ بِالْيَمِينِ وَإِذَا نَزَعَ فَلْيَبْدَأْ بِالشِّمَالِ لِيَكُنِ الْيُمْنَى أَوَّلَهُمَا تُنْعَلُ وَآخِرَهُمَا تُنْزَعُ. متفق عليه

د حضرت ابوهریره ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چي څوک څپلۍ په پښو کوي نو اول دي یې په راسته پښه کوي او کله چي څپلۍ کاږي نو د چپه پښي څخه دي یې کاږي چي راسته پښه په پښو کولو کي اوله سي او په کښلو کي دوهمه سي. بخاري او مسلم

### یوه څپلۍ په پښه کول منع دي

(۴۲۱۵): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَمْشِي أَحَدُكُمْ فِي نَعْلٍ وَاحِدَةٍ

د حضرت ابوهریره ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هیڅوک دي په یوه چپلکه کي

| | |
|---|---|
| لِيُحْفِهِمَا جَمِيعًا أَوْ لِيُنْعِلْهُمَا جَمِيعًا. متفق عليه | نه ګرځی ، یا دي دواړي پښي لڅي وي یا په |

دواړو پښو څپلې اغوندئ. بخاري او مسلم.

| | |
|---|---|
| (۴۲۱۶): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا انْقَطَعَ شِسْعُ نَعْلِه فَلَا يَمْشِ فِي نعل وَّاحدَة حَتّٰى يُصْلِحَ شِسْعَهُ وَلَا يَمْشِ فِي خُفٍّ وَاحِدٍ وَلَا يَأْكُلْ بِشِمَالِه وَلَا يَحْتَبِي بِالثَّوْبِ الْوَاحِدِ وَلَا يَلْتَحِفْ الصَّمَّاءَ. رواه مسلم . | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :کله چي د چا دڅپلي تسمه وشکيږي نو په یوه څپلې سره دي نه ګرځي ترڅو پوري چي د هغه بلي څپلې تسمه یې جوړه کړې نه وي او نه دي تګ کوي په یوه موزه کي او نه |

دي په چپه لاس باندي خوراك کوي او نه دي داسي کالي اغوندي چي په کښېنستلو سره یې ستر معلوميږي او نه دي داسي جامه اغوندي چي دواړه لاسونه یې د ننه راسي او. مسلم.

## دويم فصل

### د نبي کريم ﷺ د څپليو تسمې

| | |
|---|---|
| (۴۲۱۷):عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ لِنَعْلِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَالَانِ مُثَنًّى شِرَاكُهُمَا . رواه الترمذي | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ په دووڅپليو کي دوې دوې تسمې وې او هره تسمه غبرګه وه . ترمذي |

### په ولاړه څپلې په پښو کول

| | |
|---|---|
| (۴۲۱۸): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهَى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يَنْتَعِلَ الرَّجُلُ قَائِمًا . رواه ابوداؤد ورواه الترمذي وابن ماجة عن ابي هريرة. | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د دې څخه منعه کړېده چي سړی په ولاړه باندي څپلې په پښو کړي . ابوداؤد،او په |

ترمذي کي دا روايت د ابوهريره ﷺ څخه نقل کړی دی.

### يوه څپلې په پښو کول

| | |
|---|---|
| (۴۲۱۹): وَعَنِ القاسم بن محمد عن عَائِشَةَ قَالَتْ رُبَّمَا مَشَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي نَعْلٍ وَاحِدَةٍ ، وفي رواية انها مشت بنعل واحده. رواه الترمذي و قال هذا اصح. | حضرت قاسم بن محمد ﷺ د بي بي عائشي رض څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ به په ځينو وختو کي په يوه چمپل اغوستلو سره تلی او په يوه بل روايت کي :دا الفاظ دي چي بي بي |

عائشه رض په يوه چمپل په پښو کولو سره ولاړل . ترمذي ويلي چي دا روايت زيات صحيح دی .

**خپلي وکاږه کښېنه**

(۴۲۲۰): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مِنَ السُّنَّةِ إِذَا جَلَسَ الرَّجُلُ أَنْ يَخْلَعَ نَعْلَيْهِ فَيَضَعَهُمَا بِجَنْبِهِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عباس ﷛ څخه روایت دی چي دا طریقه سنت ده چي یو سړی چیري کښېني نو خپلي چپلکي دي و کاږي او خپل په بغل کي دي یې کښېږدي . ابوداؤد

**د نجاشي له طرفه تحفه**

(۴۲۲۱):وَعَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ النَّجَاشِيَّ أَهْدَى لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُفَّيْنِ أَسْوَدَيْنِ سَاذَجَيْنِ فَلَبِسَهُمَا ، رواه ابن ماجة و زاد الترمذي عن ابي بريدة عن ابيه ثم توضا ومسح عليها.

حضرت ابن بریده ﷛ د خپل پلاره څخه نقل کوي چي نجاشي پاچا د رسول الله ﷺ په خدمت کي دوې ساده توري موزې د تحفې په ډول را ولېږلې ، نبي کریم ﷺ هغه په پښو کړې. ابن ماجه،او د ترمذي د ابی بریده﷛ څخه دا روایت بیان کړي دی ، په هغه کي دا الفاظ دي ، نبي کریم ﷺ هغه موزې په پښو کړې وروسته یې اودس وکړ او پر هغو موزو یې مسحه وکړه.

## بَابُ التَّرَجُّلِ (د ږمونځ کولو بیان)

### لومړی فصل

**د حائضي بدن ناپاک نه دی**

(۴۲۲۲): عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أُرَجِّلُ رَأْسَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا حَائِضٌ . متفق عليه.

د بي بي عائشي رض څخه روایت دی چي ما په د حیض په ورځو کي د نبي کریم ﷺ سر ور ږمنځوی. بخاري او مسلم

**پنځه فطري خبري**

(۴۲۲۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ الْفِطْرَةُ خَمْسٌ الْخِتَانُ وَالْاِسْتِحْدَادُ وَقَصُّ الشَّارِبِ وَتَقْلِيمُ الْأَظْفَارِ وَنَتْفُ الْإِبْطِ. متفق عليه.

د حضرت ابوهریره ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : پنځه شیان فطري (پیدائشي )دي یعني د ټولو انبیاؤ کرامو په نیزد سنت دي (او هغه دادي) (۱)- سنتي کول . (۲)- د نامه لاندي ورېښتان خرول .(۳)- د بریتو کوچني کول .(۴)- نوکان پرېکول . (۵)- د بغلو ورېښتان کښل . بخاري او مسلم .

## د مشركانو مخالفت

| | |
|---|---|
| (۴۲۲۴): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَالِفُوا الْمُشْرِكِيْنَ اَوْفِرُوا اللِّحَى وَأَحْفُوا الشَّوَارِبَ، وفي رواية انهكوا الشوارب واعفوا اللحى . متفق عليه. | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د مشركانو مخالفت كوئ يعني ږيره لويوئ او بريتونه كوچني كوئ (يعني مشركان ږيره خروي او بريتونه پريږدي) او په يوه |

روايت كي دا الفاظ دي چي بريتونه ښه غڅي كوئ (مگر داسي نه چي خرولي يې وي) او ږيري اوږدي كړئ . بخاري او مسلم.

## د زائدو ورېښتانو صفا كولو وخت

| | |
|---|---|
| (۴۲۲۵): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ وُقِّتَ لَنَا فِي قَصِّ الشَّارِبِ وَتَقْلِيْمِ الْأَظْفَارِ وَنَتْفِ الْإِبِطِ وَحَلْقِ الْعَانَةِ أَنْ لَا نَتْرُكَ أَكْثَرَ مِنْ أَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً. رواه مسلم . | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي زموږ لپاره د ورېښتانو د غڅي كېدو او نوكانو د پرېكولو د بغل د ورېښته د كښلو او د نامه لاندي د ورېښتانو د خريلو وخت تاكل سوی |

دی ، داچي په هغو باندي تر څلوېښتو ورځو زيات وخت تېر نه سي . مسلم.

## د نكريزو استعمال

| | |
|---|---|
| (۴۲۲۶): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْيَهُوْدَ وَالنَّصَارَى لَا يَصْبُغُوْنَ فَخَالِفُوْهُمْ. متفق عليه. | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : يهودو او نصاراؤ به نكريزي نه لگولې تاسو د هغوئ مخالفت كوئ (يعني |

نكريزي لگوئ ليكن توري نكريزي نه په كوم چي نن سبا خلك سر يا ږيره توروي) بخاري او مسلم.

| | |
|---|---|
| (۴۲۲۷): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ أُتِيَ بِأَبِي قُحَافَةَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ وَرَأْسُهُ وَلِحْيَتُهُ كَالثَّغَامَةِ بَيَاضًا فَقَالَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيِّرُوْا هٰذَا بِشَيْءٍ وَاجْتَنِبُوا السَّوَادَ . رواه مسلم. | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي د ابوبكر صديق ﷺ پلار ابو قحافه د مكې د فتحي په ورځ و رسول الله ﷺ تـه راوستل سو (يعني د اسلام د قبلولو لپاره) په دې وخت كي د هغه د |

ږيري او د سر ورېښته د ثغامه په شان سپين وه (ثغامه د هغو ونو نوم دی چي د هغه شگوفه (غوټی) او ميوه سپينه وي)نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : د دې ورېښتانو سپينوالي په يو شی سره ور بدل كړئ ليكن د تور رنگ څخه خان و ژغورئ . مسلم.

### په سر كي لار ايستل او نه ايستل

| | |
|---|---|
| (۴۲۲۸): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ مُوَافَقَةَ أَهْلِ الْكِتَابِ فِيمَالَمْ يُؤْمَرْ فِيهِ وَكَانَ أَهْلُ الْكِتَابِ يَسْدِلُونَ أَشْعَارَهُمْ وَكَانَ الْمُشْرِكُونَ يَفْرُقُونَ رُءُوسَهُمْ فَسَدَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاصِيَتَهُ ثُمَّ فَرَقَ بَعْدُ. متفق عليه. | د حضرت ابن عباس ؓ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به په هغو خبرو كي د اهل كتابو موافقت خوښوى چي د هغه په اره به احكام نه وه نازل سوي ، په هغه زمانه كي به اهل كتابو خپل ورېښته دغسي پرېښول يعني په هغه كي به يې د ږمونځ كولو سره په سر كي لار نه ايستل |

او مشركانو به په سر كي لار ايستل، رسول الله ﷺ به په هغه زمانه كي د خپل تندي مبارك ورېښتان دغسي پرېښودل ليكن بيا يې په سر مبارك كي لار ايستل . بخاري او مسلم.

### د قزع څخه منعه

| | |
|---|---|
| (۴۲۲۹):وَعَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَى عَنِ الْقَزَعِ قِيلَ لِنَافِعٍ مَا الْقَزَعُ قَالَ يُحْلَقُ بَعْضُ رَأْسِ الصَّبِيِّ وَيُتْرَكُ الْبَعْضُ. متفق عليه. والحق بعضهم التفسير بالحديث. | حضرت نافع ؓ د ابن عمر ؓ څخه روايت كوي چي ما د رسول الله ﷺ څخه د «قزع» منعه واورېدل ، د نافع ؓ څخه پوښتنه وسوه «قزع» څشي ده ؟ هغه ورته وويل :د قزع معنى |

ده د كوچنى د سر د يوې برخي ورېښتان خرول او يو څه پرېښودل . بخاري او مسلم.

| | |
|---|---|
| (۴۲۳۰): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى صَبِيًّا قَدْ حُلِقَ بَعْضُ رَأْسِهِ وَتُرِكَ بَعْضُهُ فَنَهَاهُمْ عَنْ ذٰلِكَ وَقَالَ احْلِقُوا كُلَّهُ أَوِ اتْرُكُوا كُلَّهُ . رواه مسلم . | د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ يو كوچنى وليدي چي د هغه د سر د يوې برخي ورېښتان خرېل سوي وه |

او څه يې پرېښنبې وه ، نبي كريم ﷺ خلك د دې څخه منعه كړه او ارشاد يې وفرمايه: چي د سر ټول ورېښتان خروئ يا ټول پرېږدئ. مسلم.

### پر نرګديانو لعنت

| | |
|---|---|
| (۴۲۳۱): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَعَنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُخَنَّثِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالْمُتَرَجِّلَاتِ مِنَ النِّسَاءِ وَقَالَ أَخْرِجُوهُمْ مِنْ بُيُوتِكُمْ . رواه البخاري. | د حضرت ابن عباس ؓ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ پر نرګدي باندي لعنت ويلى دى (يعني په هغو خلكو باندي چي خپل ځانونه يې |

د ښځو په شكل او صورت باندي جوړكړي وي او پر هغو ښځو چي د سړو سره ځان مشابه كوي په كالو او نورو كارو كي) او حكم يې كړى دى چي هغوئ د خپلو كورونو څخه و باسئ . بخاري.

(۴۲۳۲): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَنَ اللّٰهُ الْمُتَشَبِّهِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ وَالْمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ. رواه البخاري.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په هغو خلکو باندي خداي تعالى لعنت ويلي دی کوم سړی چې د ښځو شکل او صورت اختيار کړی وي او کومي ښځي چې د نارينه شکل او صورت اختيار کړی وي. بخاري.

**د انسان د وربښتانو څخه فائده اخيستل حرام دي**

(۴۲۳۳): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَعَنَ اللّٰهُ الْوَاصِلَةَ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ وَالْوَاشِمَةَ وَالْمُسْتَوْشِمَةَ. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷺ پر: (۱) واصله (۲) مستوصله (۳) واشمه (٤) او مستوشمه باندي لعنت ويلي دی. بخاري او مسلم، (۱)- واصله: هغه ښځه چې د خپل سر د وربښتانو د اوږدولو لپاره د نورو وربښتان يو ځاي کړي. (۲)- مستوصله: هغه ښځه چې د نورو په وربښتانو کي د نورو وربښتان يو ځاي کړي. (۳)- واشمه: هغه ښځه چې په بدن کي خالونه وهي. (٤)- مستوشمه: هغه ښځه چې په بدن کي په بل چا باندي خالونه وهي..

**د الله ﷺ د تخليق پر بدلونکي سزا**

(۴۲۳۴): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ لَعَنَ اللّٰهُ الْوَاشِمَاتِ وَالْمُوْتَشِمَاتِ وَالْمُتَنَمِّصَاتِ وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللّٰهِ فَجَاءَتْهُ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ إِنَّهُ بَلَغَنِي عَنْكَ أَنَّكَ لَعَنْتَ كَيْتَ وَكَيْتَ فَقَالَ وَمَا لِي لَا أَلْعَنُ مَنْ لَعَنَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ هُوَ فِي كِتَابِ اللّٰهِ فَقَالَتْ لَقَدْ قَرَأْتُ مَا بَيْنَ اللَّوْحَيْنِ فَمَا وَجَدْتُ فِيهِ مَا تَقُولُ قَالَ لَئِنْ كُنْتِ قَرَأْتِيهِ لَقَدْ وَجَدْتِيهِ أَمَا قَرَأْتِ { وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا } قَالَتْ بَلَى قَالَ فَإِنَّهُ قَدْ نَهَى عَنْهُ. متفق عليه.

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دی چې خداي تعالى په خالو وهونکو ښځو باندي (که د ځان خالونه وهي او که د بل) او د مخ د وربښتانو په کښونکو ښځو باندي او يا خپل غاښونه په سوهان يا ريتي باندي سوهان کونکو ښځو باندي لعنت ويلي دی (د خينو ښځو په مخ باندي وربښتان وي د هغو خريل منعه دي ، البته که د يوې ښځي ږيره او بريت را ووځي نو د هغو خريل يا ليري کول منعه نه دي) يوه ښځه و حضرت ابن مسعود ﷺ ته راغله او ويې ويل ، چې ما اورېدلي دي چې تاسو په داسو داسو ښځو لعنت وايي ، ابن مسعود ﷺ ورته وفرمايل: زه په هغو ښځو باندي

ولي لعنت و نه وایم چي په هغوئ باندي نبي کریم ﷺ لعنت ویلي دی او هغوئ د خداي تعالی په کتاب کي ملعوني ګڼل سوي دي ، هغې ښځي وویل ، ما دا شیان ویلي دي چي د دوو تختو په مینځ کي نوشته سوي دي (یعني قرانکریم) خو دا خبره پکښي نسته کومه چي تاسو یې کوئ (یعني په صریحو الفاظو کي چیري لعنت ویل سوی دی)، ابن مسعود ؓ ورته وفرمایل : که تا (قرانکریم) په سوچ او فکر سره لوستی وي نو دا ځاي دي نه دي لوستی : وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا (څه چي نبي کریم ﷺ درکړی هغه اخلئ او د څه څخه چي مو منعه کوي د هغه څخه منعه سئ) هغې ښځي وویل : هو (دا خو مي لوستی دی) ابن مسعود ؓ ورته وفرمایل : نو رسول الله ﷺ د دي خبرو څخه منعه کړې ده . بخاري.

### بد نظر حق دی

(۴۲۳۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَيْنُ حَقٌّ وَنَهَى عَنِ الْوَشْمِ. رواه البخاري.

د حضرت ابوهریره ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: بد نظر یا د بد نظر تاثیر حق دی او نبي کریم ﷺ د خالو وهلو څخه منعه کړې ده . بخاري

### د سر د وریښتانو منبلول

(۴۲۳۶): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُلَبِّدًا . رواه البخاري.

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روایت دی چي ما رسول الله ﷺ په کونډرو سره د سر مبارک وریښتانو منبلولو باندي ولیدی . بخاري .

### د نارینه لپاره زعفران

(۴۲۳۷): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَتَزَعْفَرَ الرَّجُلُ . متفق علیه

د حضرت انس ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ نارینه د زعفران په بدن لګولو یا په جامو مږلو څخه منعه کړې دی . بخاري او مسلم

### رنګ لرونکي خوشبویي

(۴۲۳۸): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أُطَيِّبُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَطْيَبِ مَا يَجِدُ حَتَّى أَجِدَ وَبِيصَ الطِّيبِ فِي رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ . متفق علیه

د بي بي عائشي رض څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ په بدن باندي بهترینه خوشبوئي ولګوله کوم چي زما سره وه تر داسي حده چي د خوشبویي اثر به یې پر سر مبارک او ږیره مبارکه باندي معلومیدی . بخاري او مسلم .

**خوشبوداره لرگی دود کول**

| | |
|---|---|
| (۴۲۳۹): وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ كَانَ ابْنُ عُمَرَ إِذَا اسْتَجْمَرَ اسْتَجْمَرَ بِالْأَلُوَّةِ غَيْرَ مُطَرَّاةٍ وَبِكَافُورٍ يَطْرَحُهُ مَعَ الْأَلُوَّةِ ثُمَّ قَالَ هَكَذَا كَانَ يَسْتَجْمِرُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه مسلم . | د حضرت نافع ﷺ څخه روايت دی چي کله به حضرت عمر ﷺ (په کور کي) څه خوشبوداره شی دودوی نو داسي خوشبوداره لرگی به يې دود کوی چي په هغه کي به مشك نه وه او کله کافور |

او خوشبوداره لرگی دواړه به يې په يوځای کولو باندي دودول بيا به يې ويل : نبي کريم ﷺ به هم داسي خوشبويه بوټی دودول . مسلم.

## دويم فصل

**د بريتو کوچني کول سنت دي**

| | |
|---|---|
| (۴۲۴۰): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُصُّ أَوْ يَأْخُذُ مِنْ شَارِبِهِ وَكَانَ إِبْرَاهِيمُ خَلِيلُ الرَّحْمَنِ صلوات الرحمن عليه يَفْعَلُهُ. رواه الترمذي. | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د خپلو شونډو مبارکو وربښته غچي کول او يا يې اخستل او د خدای تعالی دوست حضرت ابراهيم ﷺ به هم د شونډو |

مبارکو وربښته غچي کول . ترمذي.

**بريتونه کوچني کوی**

| | |
|---|---|
| (۴۲۴۱): وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ لَمْ يَأْخُذْ مِنْ شَارِبِهِ فَلَيْسَ مِنَّا. رواه احمد والترمذي والنسائي . | د حضرت زيد بن ارقم ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د شونډو وربښته (يعني بريت) نه غچي کوي ، هغه زموږ څخه نه دی . احمد ، ترمذي او نسائي |

**د ږيري سمول**

| | |
|---|---|
| (۴۲۴۲): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْخُذُ مِنْ لِحْيَتِهِ مِنْ عَرْضِهَا وَطُولِهَا . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب. | حضرت عمرو بن شعيب ﷺ د خپل پلاره څخه او هغه بيا د خپل پلاره څخه روايت کوي چي نبي کريم ﷺ به خپله ږيره مبارکه په عرض او طول (پلنوالی او اوږدوالی) کي يعني د دواړو |

طرفو څخه نه برابروله . ترمذي، او په ترمذي کي دا حديث غريب دی.

## د زعفرانو خوشبوئي نارينه ته حرامه ده

(۴۲۴۳): وَعَنْ يَعْلَى بْنِ مُرَّةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى عَلَيْهِ خَلُوْقًا فَقَالَ أَلَكَ امْرَأَةٌ قَالَ لاَ قَالَ فَاغْسِلْهُ ثُمَّ اغْسِلْهُ ثُمَّ لاَ تَعُدْ. رواه الترمذي والنسائي.

د حضرت يعلى بن مره ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د هغه پر بدن د زعفرانو جوړه سوې خوشبوئي وليده ، نو يې وفرمايل: ايا ستا ښځه سته ؟ عرض يې وكړ، يا ! نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : دا پرېوله ، بيا يې پرېوله او بيا يې پرېوله او دا كار بيا مه كوه، (ايا ستا ښځه سته دلته يې مقصد دا وو چي كه چيري ستا ښځه وي او هغې پر ځان يا كالو باندي زعفران موښلي وي او د هغې اثر وتاته رسيدلى وي نو ته به معذوره يې يې والا فلا ) . ترمذي او بخاري.

(۴۲۴۴): وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقْبَلُ اللّٰهُ تَعَالَى صَلَاةَ رَجُلٍ فِي جَسَدِه شَيْءٌ مِنْ خَلُوقٍ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابوموسى ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خداي تعالى د هغه سرى لمونځ نه قبلوي چي د هغه پر جسم باندي لږ شان خلوق (يعني د زعفرانو څخه جوړه سوې خوشبوئي) هم لگيدلي وي . ابوداؤد .

(۴۲۴۵): وَعَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ قَالَ قَدِمْتُ عَلَى أَهْلِي مِن سفر وَقَدْ تَشَقَّقَتْ يَدَايَ فَخَلَّقُوْنِي بزَعْفَرَان فَغَدَوْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ وَقَالَ اذْهَبْ فَاغْسِلْ هٰذَا عَنْكَ. رواه ابوداؤد.

د حضرت عمار بن ياسر ﷺ څخه روايت دى چي زه د سفر څخه و كور ته راغلم نو زما دواړه لاسونه چاؤدلي وه ، كور والا زما په لاسونو باندي د زعفرانو خوشبوئي و موږل ، سهار زه د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سوم او سلام مي ادا كړ ، نبي كريم ﷺ زما د سلام جواب را نه كړ ، او ويې فرمايل چي ولاړ سه خپل لاسونه دي پرېوله . ابوداؤد .

(۴۲۴۶): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طِيبُ الرِّجَالِ مَا ظَهَرَ رِيحُهُ وَخَفِيَ لَوْنُهُ وَطِيبُ النِّسَاءِ مَا ظَهَرَ لَوْنُهُ وَخَفِيَ رِيحُهُ. رواه الترمذي والنسائي.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د نارينه ؤ خوشبوئي هغه ده چي په هغه كي يوازي بوى (ورمه) يې ښكاره وي او رنگ يې پټ وي او د ښځو خوشبوئي هغه ده چي د هغې رنگ ښكاره وي او خوشبوين يې پټه وي . ترمذي او نسائي.

## مرکبه خوشبويي

﴿۲۲۴۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَتْ لرسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُكَّةٌ يَتَطَيَّبُ مِنهَا. رواه ابوداؤد.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ سره يوه سُکّه (يوه ترکيب سوې خوشبوئي) وه چي د هغې څخه به يې خوشبوئي لګوله . ابوداؤد

## سر غوړول

﴿۲۲۴۸﴾: وَعَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكْثِرُ دَهْنَ رَأْسِهِ وَتَسْرِيْحَ لِحْيَتِهِ وَيُكْثِرُ الْقِنَاعَ كَأَنَّ ثَوْبَهُ ثَوْبُ زَيَّاتٍ . رواه في شرح السنة

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ اکثره وخت خپل سر مبارك په روغنو باندي غوړوی او اکثره وخت به يې ږيره مبارکه ږمونځ کوله او پر سر مبارك به يې اکثره وخت ټوکر هواروی (يعني د غوړولو څخه وروسته نبي کريم ﷺ پر سرمبارك ټوکر هواروی چي لنګوټه په غوړه نه سي ، هغه ټوکر به غوړ وو لکه د روغن خرخونکي کالي . شرح السنه.

## د نبي ﷺ زلفي

﴿۲۲۴۹﴾: وَعَنْ أُمِّ هَانِئٍ قَالَتْ قَدِمَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْنَا بِمَكَّةَ قَدْمَةً وَلَهُ أَرْبَعُ غَدَائِرَ. رواه احمد وابوداؤد والترمذي وابن ماجة.

د بي بي ام هانی رض څخه روايت دی ، چي يو ځل (د مکې د فتحې په ورځ) نبي کريم ﷺ و مکې ته تشريف راوړ ، دا وخت د نبي کريم ﷺ څلور زلفي وې . احمد ، ابوداؤد ، ترمذي او ابن ماجه .

## په سر کي لاره ايستل

﴿۲۲۵۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ اذَا فَرَقْتُ لِرَسُوْلِ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأْسَهُ صَدَعْتُ فَرْقَهُ عَنْ يَافُوخِهِ وَأَرْسَلْتُ نَاصِيَتَهُ بَيْنَ عَيْنَيْهِ. رواه ابوداؤد.

د بي بي عائشې رض څخه روايت دی چي ما به د رسول الله ﷺ په سر کي لاره ايستله نو ما به د نبي کريم ﷺ لاره د سر په منځ کي ځيرل او پر تندي به مي هغه پرېښودله ، د دوارو سترګو په مينځ کي (يعني لاره به مي د سر لوري خوا څخه پيل کول او تر تندي پوري به مي راو ستل او هغه به مي د دوارو سترګو مينځ ته راوستل) ابوداؤد.

## هره ورځ ږمونځ کول منع دي

﴿۲۲۵۱﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ نَهَى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ التَّرَجُّلِ إِلَّا

د حضرت عبدالله بن مغفل ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د هري ورځي ږمنځ کولو څخه

غبًا. رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي .

منع فرمایلې ده مګر په منځ کې د یوې ورځې په پرېښودو سره (یعني یوه نه بله ورځ) . ترمذي ابوداؤد او نسائي .

**هر عیش او ارام مه کوئ**

(۴۲۵۲): وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَجلَ إِلَى فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ مَا لِي أَرَاكَ شَعِثًا قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَنْهَانَا عَنْ كَثِيرٍ مِنَ الْإِرْفَاهِ قَالَ فَمَا لِي لَا أَرَى عَلَيْكَ حِذَاءً قَالَ كَانَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنَا أَنْ نَحْتَفِيَ أَحْيَانًا. رواه ابوداؤد.

د حضرت عبدالله بن بریده ؓ څخه روایت دی چې یوه سړي و فضاله بن عبید ته وویل ، څه خبره ده چې زه ستا ورېښتان پرېشانه وینم ؟ فضاله ورته وویل ، نبي کریم ﷺ به موږ د ډېر عیش او ارام د خبرو څخه منعه کولو ، وروسته یې پوښتنه وکړه چې ولې زه ستا په پښو باندې بوټونه نه وینم ؟ هغه ورته وویل ، رسول الله ﷺ موږ ته حکم را کړی دی چې کله کله به لڅې پښې هم ګرځو . ابوداؤد.

**ورېښتان سم ساتئ**

(۴۲۵۳) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَ لَهُ شَعْرٌ فَلْيُكْرِمْهُ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابوهریره ؓ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د کوم سړي په سر او ږیره باندې ورېښته وي نو هغه ته پکار ده چې په ښه شان سره یې ساتنه وکړي (یعني ښه پاك او خوشنما یې وساتي). ابوداؤد.

**د نکریزو استعمال**

(۴۲۵۴): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَحْسَنَ مَا غُيِّرَ بِهِ الشَّيْبُ الْحِنَّاءُ وَالْكَتَمُ . رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي .

د حضرت ابو ذر ؓ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د سپینو ورېښتو بدلونکي ښه شی نکریزي او وسمه ده . ترمذي ، ابوداؤد او نسائي

**تور خضاب**

(۴۲۵۵): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَكُونُ قَوْمٌ فِي آخِرِ الزَّمَانِ يَخْضِبُونَ بِهٰذَا السَّوَادِ كَحَوَاصِلِ الْحَمَامِ لَا يَرِيحُونَ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ . رواه ابوداؤد والنسائي.

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : په اخیره زمانه کې به یوه ډله وي چې د تور والي لپاره به د کوترې د جغورو په شان نکریزي استعمالوي (یعني څنګه چې د کوترو توري جغوري وي داسې نکریزي به استعمالوی ، داسې خلك به د جنت بوي و نه وینې . ابوداؤد او نسائي.

## ژړ خضاب

| | |
|---|---|
| (۴۲۵۶): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَلْبَسُ النِّعَالَ السِّبْتِيَّةَ وَيُصَفِّرُ لِحْيَتَهُ بِالْوَرْسِ وَالزَّعْفَرَانِ وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَفْعَلُ ذٰلِكَ . رواه النسائي. | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به د پخ کړی پوست څپلی په پښو کولي او ږیري ته به یې د زعفران او ورس (یو قسم وابنه) سره ژړ رنگ ورکوی او حضرت عمر ﷺ به هم داسي کول . نسائي |
| (۴۲۵۷): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَرَّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ قَدْ خَضَبَ بِالْحِنَّاءِ فَقَالَ مَا اَحْسَنَ هٰذَا قَالَ فَمَرَّ آخَرُ قَدْ خَضَبَ بِالْحِنَّاءِ وَالْكَتَمِ فَقَالَ هٰذَا اَحْسَنُ مِنْ هٰذَا ثم مر آخَرُ قَدْ خَضَبَ بِالصُّفْرَةِ فَقَالَ هٰذَا اَحْسَنُ مِنْ هٰذَا كُلِّه. رواه ابوداؤد. | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي د نبي کریم ﷺ و خواته یو سړی تېر سو چي هغه د نکریزو خضاب لگولي وو (د هغه په لیدو سره) نبي کریم ﷺ وفرمایل: خومره ښه ! ابن عباس ﷺ وایي ، وروسته بیا یو بل سړی تیر سو چي د نکروخو او وسمې خضاب یې لگولي وو ، نبي |

کریم ﷺ وفرمایل: دی د هغه څخه بهتر دی ، وروسته بیا بل سړی تیر سو چي هغه د ژړ رنگ خضاب لگولي وو ، نبي کریم ﷺ وفرمایل: دی د ټولو څخه بهتره دی . ابوداؤد.

## د خضاب حکم

| | |
|---|---|
| (۴۲۵۸): وَعَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيِّرُوا الشَّيْبَ وَلَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ. رواه الترمذي ورواه النسائي عن ابن عمر والزبير. | د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : سپین ږیر واله په خضاب سره بدل کړئ او د یهودو مشابهت مه کوئ (چي هغوئ به خضاب نه لگوی). |

ترمذي او نسائي د ابن عمر ﷺ او زبیر ﷺ څخه روایت کوي .

## سپین ورېښتان

| | |
|---|---|
| (۴۲۵۹): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ اَبِيهِ عَنْ جَدِّه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَنْتِفُوا الشَّيْبَ فَاِنَّهُ نُورُ الْمُسْلِمِ مَنْ شَابَ شَيْبَةً فِي الْاِسْلَامِ كَتَبَ اللّٰهُ لَهُ بِهَا حَسَنَةً وَكَفَّرَ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةً وَ رَفَعَهُ بِهَا دَرَجَةً. رواه ابوداؤد. | حضرت عمرو بن شعیب ﷺ د خپل پلاره څخه او هغه بیا د خپل پلاره څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: سپین ورېښته مه کاږئ ځکه چي سپین ورېښته د مسلمانانو لپاره د نورانیت سبب دی ، د اسلام په حالت کي که دکوم چا یو |

وربښته هم سپين سي نو د هغه لپاره د خداي تعالیٰ له طرفه يوه نيكي ليكل كيږي او يوه ګناه ورڅخه ليري كيږي او يوه درجه يې لوړيږي. ابوداؤد.

| | |
|---|---|
| (۴۲۶۰): وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مُرَّةَ عَنْ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ شَابَ شَيْبَةً فِي الْإِسْلَامِ كَانَتْ لَهُ نُورًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه الترمذي والنسائي. | د حضرت كعب بن مره ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چې د اسلام په حالت كې سپين ږيري سي د هغه دا سپين ږير والي به د قيامت په ورځ د هغه لپاره يو نور وي. ترمذي او نسائي |

## د نبي كريم ﷺ د سر مبارك وربښتان

| | |
|---|---|
| (۴۲۶۱): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَرَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ وَكَانَ لَهُ شَعْرٌ فَوْقَ الْجُمَّةِ وَدُونَ الْوَفْرَةِ. رواه الترمذي. | د بي بي عائشې رض څخه روايت دى چې ما او نبي كريم ﷺ به د يوه لوښي څخه غسل كوئ (يعني د اوبو لوښي به د دواړو په مينځ كې پروت وو) او د نبي كريم ﷺ د سر مبارك |

وربښته د اوږو څخه پورته او د غوږونو څخه كښته وه). ترمذي.

## نارينه بايد زائد وربښتان ايسته كړي

| | |
|---|---|
| (۴۲۶۲): وَعَنِ ابْنِ الْحَنْظَلِيَّةِ رَجُلٌ مِّنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِعْمَ الرَّجُلُ خُرَيْمٌ الْأَسَدِيُّ لَوْلَا طُولُ جُمَّتِهِ وَإِسْبَالُ إِزَارِهِ فَبَلَغَ ذَلِكَ خُرَيْمًا فَأَخَذَ شَفْرَةً فَقَطَعَ بِهَا جُمَّتَهُ إِلَى أُذُنَيْهِ وَرَفَعَ إِزَارَهُ إِلَى أَنْصَافِ سَاقَيْهِ. رواه ابوداؤد. | د حضرت ابن حنظليه ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كه د خريم اسدي د سر وربښته اوږده نه واى او د هغه لنګ اوږد نه واى نو هغه ډېر ښه سړى دى. دا الفاظ چې د خريم تر غوږو پوري ورسېدل نو هغه خپل د سر وربښتان د غوږونو پوري پرېكړل او لنګ يې تر نيمي پونډۍ پوري وترى. ابوداؤد |
| (۴۲۶۳): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَتْ لِي ذُؤَابَةٌ فَقَالَتْ لِي أُمِّي لَا أَجُزُّهَا كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمُدُّهَا وَيَأْخُذُ بِهَا. رواه ابوداؤد. | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چې زما څوني وې، زما مور ماته ووېل: زه دا هيڅكله نه پرېكوم ځكه چې رسول الله ﷺ به دا كشولې او نيول به يې. ابوداؤد |

## د ماتم كولو وخت

| | |
|---|---|
| (۴۲۶۴): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ جَعْفَرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْهَلَ آلَ جَعْفَرٍ ثَلَاثًا ثُمَّ أَتَاهُمْ | د حضرت عبد الله بن جعفر ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ د جعفر طيار اولاد ته درې |

فَقَالَ لَا تَبْكُوا عَلَى أَخِي بَعْدَ الْيَوْمِ ثُمَّ قَالَ ادْعُوا لِي بَنِي أَخِي فَجِيءَ بِنَا كَأَنَّا أَفْرُخٌ فَقَالَ ادْعُوا لِي الْحَلَّاقَ فَأَمَرَهُ فَحَلَقَ رُءُوسَنَا . رواه ابوداود والنسائي .

ورخي مهلت ورکړ (یعني کوم وخت چي د جعفر طیار د شهادت خبر راغی نو نبي کریم ﷺ هغوئ ته تر درو ورځو پورې د ماتم کولو اجازت ورکړ او بیا نبي کریم ﷺ د هغوئ و کور ته ورغی او ورته یې وفرمایل : د نن ځخه وروسته زما په ورور (جعفر) باندي ژړا مه کوئ ، بیا یې وفرمایل: زما د ورور جعفر زامن ماته راولئ ، موږ را وستل سوو ، موږ داسي وو لکه کوچني مرغان ، بیایې وفرمایل: (نائي) را وغواړئ ، هغه راغی نو نبي کریم ﷺ ورته د دې کوچنیانو د سر د خریلو حکم ور کړ نو زموږ سرونه وخریل سول . ابوداؤد او نسائي.

## د ښځو سنت کول

(۴۲۶۵): وَعَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ الْأَنْصَارِيَّةِ أَنَّ امْرَأَةً كَانَتْ تَخْتِنُ بِالْمَدِينَةِ فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُنْهِكِي فَإِنَّ ذَلِكَ أَحْظَى لِلْمَرْأَةِ وَأَحَبُّ إِلَى الْبَعْلِ . رواه ابوداؤد و قال هذا الحديث ضعيف و راويه مجهول.

د بي بي ام عطیه انصاریه رض ځخه روایت دی ، په مدینه منوره کي به یوې ښځي (د ښځو) سنتي کوله ، نبي کریم ﷺ و هغې ته وفرمایل: د سنت په ځای کي د پرېکولو زیاتوالی مه کوه (یعني زیاته غوښه یې مه پرېکوه) ځکه چي په زیاته غوښه نه پرېکولو سره د کوروالي په وخت کي ښځي ته زیات لذت او خوند حاصلیږي او خاوند ته هم دا خوښه ده او د زیات پرېکولو سره دا دواړي خبري ختميږي . ابوداؤد او په ابو داؤد کي دا حدیث ضعیف دی او د دې راوي نامعلوم دی .

## نکروزي د ښځو لپاره

(۴۲۶۶): وَعَنْ كَرِيمَةَ بِنْتِ هَمَّامٍ أَنَّ امْرَأَةً سَأَلَتْ عَائِشَةَ عَنْ خِضَابِ الْحِنَّاءِ فَقَالَتْ لَا بَأْسَ وَلَكِنْ أَكْرَهُهُ كَانَ حَبِيبِي يَكْرَهُ رِيحَهُ . رواه ابوداؤد والنسائي.

د بي بي کریمه بنت همام رض ځخه روایت دی چي یوې ښځي د نکروزو په هکله د بي بي عائشې رض ځخه پوښتنه وکړه ، هغې ورته وفرمایل : هیڅ ګناه نلري ، لیکن زه یې نه خوښوم ځکه چي زما دمحبوب (نبي کریم ﷺ) د دې بوی خوښ نه وو . ابوداؤد او نسائي.

## د ښځو پر لاسو نکروزي وهل مستحب دي

(۴۲۶۷): وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ هِنْدَ بِنْتَ عُتْبَةَ قَالَتْ يَا نَبِيَّ اللَّهِ بَايِعْنِي قَالَ لَا أُبَايِعُكِ حَتَّى

د بي بي عائشې رض ځخه روایت دی چي د عتبه لور هندې عرض وکړ اې د الله ﷺ

تُغَيِّرِي كَفَّيْكِ فَكَأَنَّهُمَا كَفَّا سَبُعٍ . رواه ابوداؤد.

رسوله ! زما سره بيعت وكړى ، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : يا ، زه تر هغه وخته پوري ستا سره بيعت نه كوم تر څو پوري چي ته دخپلو لاسونو ورغوي بدل نه كړې ، ستا دا لاسونه لكه د ليوه داسي دي (د هندۍ لاسونه تور وه نكريزي ورباندي نه وي لګېدلي)نبي كريم ﷺ د نارينوو سره د مشابهت كولو په وجه هغه بد وګڼل . ابوداؤد.

(۴۲۶۸): وَعَنْهَا قَالَتْ أَوْمَتْ امْرَأَةٌ مِنْ وَرَاءِ سِتْرٍ بِيَدِهَا كِتَابٌ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَبَضَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ فَقَالَ مَا أَدْرِي أَيَدُ رَجُلٍ أَمْ يَدُ امْرَأَةٍ قَالَتْ بَلْ امْرَأَةٌ قَالَ لَوْ كُنْتِ امْرَأَةً لَغَيَّرْتِ أَظْفَارَكِ يَعْنِي بِالْحِنَّاءِ. رواه ابوداؤد والنسائي .

د بي بي عائشي رض څخه روايت دى چي يوې ښځي د پردې د شا څخه خپل لاسونه را وكښل او دا اشاره يې وكړه چي د هغې په لاس كي د نبي كريم ﷺ په نامه يو خط دى ، نبي كريم ﷺ خپل لاس خيني ليرې كړ او ويې فرمايل چي زه نه پوهېږم چي دا لاس د نارينه دى او كه د ښځي هغې ښځي وويل : دا لاس د ښځي دى ، نبي كريم ﷺ وفرمايل: كه ته ښځه يې نو د خپل نوكانو رنګ به دې بدل كړى واى يعني په دې به دې نكريزي لګولي واى . ابوداؤد او نسائي.

**پر شپږ ښځو لعنت**

(۴۲۶۹): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لُعِنَتِ الْوَاصِلَةُ وَالْمُسْتَوْصِلَةُ وَالنَّامِصَةُ وَالْمُتَنَمِّصَةُ وَالْوَاشِمَةُ وَالْمُسْتَوْشِمَةُ مِنْ غَيْرِ دَاءٍ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دى چي لعنت ويل سوى دى خپل يا د بلي ښځي (يا مصنوعي) ورېښته يو ځاى كونكو باندي (ځان ته يا بلي ښځي ته) او چي د خپل مخ ورېښتان كاږي او يا د بل چا د مخ څخه ورېښتان كاږي او د خالو په وهونكو باندي (خواه خانته خالونه وهي يا بلي ښځي ته ببله مرضه) . ابوداؤد.

**د يو بل شكل اختيا رول**

(۴۲۷۰): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ لَعَنَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّجُلَ يَلْبَسُ لِبْسَةَ الْمَرْأَةِ وَالْمَرْأَةَ تَلْبَسُ لِبْسَةَ الرَّجُلِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ پر هغه سړي باندي چي د ښځو لباس اغوندي او پر هغه ښځه چي د نارينه لباس اغوندي ، لعنت ويلى دى . ابوداؤد

(۴۲۷۱): وَعَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ قِيلَ لِعَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا إِنَّ امْرَأَةً تَلْبَسُ النَّعْلَ فَقَالَتْ لَعَنَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّجُلَةَ مِنَ

د حضرت ابن ابي مليكه ﷺ څخه روايت دى چي بي بي عائشي رض ته وويل سوه چي يوه ښځه د نارينه ؤ په شان بوټونه په پښو كوي ، بي بي

النِّسَاء . رواه ابوداؤد.

عائشې رض ورته وفرمايل : نبي کريم ﷺ پر هغه ښځي باندي لعنت ويلی دی چي د نارينه ؤ سره مشابهت کوي . ابوداؤد.

**د راحت او ارام ژوند نه خوښول**

(۴۲۷۲): وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَافَرَ كَانَ آخِرُ عَهْدِهِ بِإِنْسَانٍ مِنْ أَهْلِهِ فَاطِمَةَ وَأَوَّلُ مَنْ يَدْخُلُ عَلَيْهَا فَاطِمَةَ فَقَدِمَ مِنْ غَزَاةٍ وَقَدْ عَلَّقَتْ مِسْحًا أَوْ سِتْرًا عَلَى بَابِهَا وَحَلَّتْ الْحَسَنَ وَالْحُسَيْنَ قُلْبَيْنِ مِنْ فِضَّةٍ فَقَدِمَ فَلَمْ يَدْخُلْ فَظَنَّتْ أَنَّ مَا مَنَعَهُ أَنْ يَدْخُلَ مَا رَأَى فَهَتَكَتْ السِّتْرَ وَفَكَّتْ الْقُلْبَيْنِ عَنِ الصَّبِيَّيْنِ وَقَطَعَتْهُ بَيْنَهُمَا فَانْطَلَقَا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَبْكِيَانِ فَأَخَذَهُ مِنْهُمَا وَقَالَ يَا ثَوْبَانُ اذْهَبْ بِهٰذَا إِلَى آلِ فُلَانٍ إِنَّ هٰؤُلَاءِ أَكْرَهُ أَنْ يَأْكُلُوا طَيِّبَاتِهِمْ فِي حَيَاتِهِمْ الدُّنْيَا يَا ثَوْبَانُ اشْتَرِ لِفَاطِمَةَ قِلَادَةً مِنْ عَصَبٍ وَسِوَارَيْنِ مِنْ عَاجٍ. رواه احمد وابوداؤد.

د حضرت ثوبان ؓ څخه روايت دی ، کله چي به رسول الله ﷺ په سفر تلی نو د کور د ټولو وګړو سره به يو ځای کېدی او رخصت به يې ځيني اخيستئ او په اخير کي به خپلي لور بي بي فاطمې رض ته ورغی (د رخصت اخيستلو لپاره) او کله چي به د سفر څخه بير ته راغی نو تر ټولو مخکي به (خپلي لور) بي بي فاطمې رض ته را تلی، يوه ورځ حسب معمول نبي کريم ﷺ د يوې غزا څخه تشريف راوړ او د بي بي فاطمې رض و کور ته داخل سو ، بي بي فاطمې د کور پر دروازه باندي ټاټ يا پرده اچولې وه او حضرت امام حسن او امام حسين رض ته يې دوې کړی د سپينو زرو اچولي وې ، نبي کريم ﷺ تر دروازې پوري تشريف راوړ او کور ته داخل نه سو ، بي بي فاطمې رض ته معلومه سوه چي نبي کريم ﷺ ولې و کور ته تشريف را نه وړ، نو هغې پرده ايسته کړه او د امام حسن او امام حسين رض څخه يې کړې ليري او ماتي کړې ، دواړه و نبي کريم ﷺ ته په ژړا راغله ، نبي کريم ﷺ د هغوئ څخه دواړي کړې واخيستلې او ويې فرمايل : اې ثوبان! دا زهور (کالي) د فلاني سړي کور والا ته يوسه (چي هغوئ ته ضرورت وو) او د نبي کريم ﷺ دوست وو ، هغوئ ته يې ورکړه ، ځکه چي دا بچي زما د اهل بيت څخه دی زه د دوئ لپاره دا بد ګنم چي په خپل دنيوي ژوند کي بهترينه غذاوي و خوري يا بهترين لباس و اغوندي يا د عيش وعشرت لذت حاصل کړي ، اې ثوبان! د فاطمې لپاره د هډوکو يو اميل واخله او د فيل د غاښو دوه باهوګان . احمد او ابوداؤد.

**رانجه**

(۴۲۷۳): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روايت دی چي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اكْتَحِلُوا بِالْإِثْمِدِ فَإِنَّهُ يَجْلُو الْبَصَرَ وَيُنْبِتُ الشَّعْرَ وَزَعَمَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتْ لَهُ مُكْحُلَةٌ يَكْتَحِلُ بِهَا كُلَّ لَيْلَةٍ ثَلَاثَةً فِي هٰذِهِ وَثَلَاثَةً فِي هٰذِهِ . رواه الترمذي.

رسول الله ﷺ وفرمايل: په سترګو کي اثمد رانجه لګوئ څکه چي دا د سترګو رڼا تېزه وي او د سترګو بانه غټوي. د ابن عباس رض بيان دی چي د نبي کريم ﷺ سره يوه رنجنوني وه او د هغې څخه به يې هره شپه درې سلائي په يوه سترګه کي او درې سلائي يې په بله سترګه کي اچول. ترمذي.

**ښه دوا**

(٤٢٧٤): وَعَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكْتَحِلُ قَبْلَ أَنْ يَنَامَ بِالْإِثْمِدِ ثَلَاثًا فِي كُلِّ عَيْنٍ قَالَ وَ قَالَ إِنَّ خَيْرَ مَا تَدَاوَيْتُمْ بِهِ اللَّدُودُ وَالسَّعُوطُ وَالْحِجَامَةُ وَالْمَشِيُّ وَخَيْرَ مَا اكْتَحَلْتُمْ بِهِ الْإِثْمِدُ فَإِنَّهُ يَجْلُو الْبَصَرَ وَيُنْبِتُ الشَّعْرَ وَإِنَّ خَيْرَ مَا تَحْتَجِمُونَ فِيهِ يَوْمَ سَبْعَ عَشْرَةَ وَيَوْمَ تِسْعَ عَشْرَةَ وَيَوْمَ إِحْدَى وَعِشْرِينَ وَإِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَيْثُ عُرِجَ بِهِ مَا مَرَّ عَلَى مَلَإٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ إِلَّا قَالُوا عَلَيْكَ بِالْحِجَامَةِ. روه الترمذي و قال هذا حديث حسن غريب.

د حضرت ابن عباس رض څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د بيدېدو څخه مخکي سترګي تورولي او هره سترګه به يې درې سلاياني تورولي ، د ابن عباس بيان دی ، نبي کريم ﷺ وفرمايل: په کومو شيانو سره چي تاسو دوا کوئ په هغوئ کي تر ټولو ښه دا شيان دي: (١):لدود (په خوله کي د اچولو دوا).(٢): سعوط (په پزه کي د اچولو يا د بويولو دوا).(٣):حجامت (وينه کښل).(٤):مشي (جلاب)) او په سترګو کي بهترين شی لګول اثمد رانجه دي هغه د سترګو ديد زياتوي او د بانو ورېښته ټينګوي او د وينې کښلو بهترينه ورځ (د سپوږمۍ اوولسم ، نوولسم او يو ويشتم تاريخونه دي)، او نبي کريم ﷺ چي معراج ته ولاړ او هلته چي د کومو ملائکو د صفو څخه تېرېدی نو ملائکو به نبي کريم ﷺ ته ويل ، چي وينه کښل ستاسو لپاره لازم ده . ترمذي ويلي چي دا حديث حسن غريب دی .

**حمام ته تګ**

(٤٢٧٥): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى الرِّجَالَ وَالنِّسَاءَ عَنْ دُخُولِ الْحَمَّامَاتِ ثُمَّ رَخَّصَ لِلرِّجَالِ أَنْ يَدْخُلُوا بِالْمَيَازِرِ. رواه الترمذي و ابوداؤد.

د بي بي عائشې رض څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ ښځه او سړی حمام ته د تلو څخه منعه کړی دی ، بيا په دې شرط سره نبي کريم ﷺ يوازې نارينه ؤ ته حمام ته د تلو اجازت ورکړ چي هغوئ لنګونه وهلي وي. ترمذي او ابوداؤد.

(۴۲۷۶): وَعَنْ أَبِي الْمَلِيحِ قَالَ قَدِمَ عَلَى عَائِشَةَ نِسْوَةٌ مِنْ أَهْلِ حِمْصَ فَقَالَتْ مِنْ أَيْنَ أَنْتُنَّ قُلْنَ مِنَ الشَّامِ قَالَتْ فَلَعَلَّكُنَّ مِنَ الْكُورَةِ الَّتِي تَدْخُلُ نِسَاؤُهَا الْحَمَّامَاتِ قُلْنَ بَلَى قَالَتْ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا تَخْلَعُ امْرَأَةٌ ثِيَابَهَا فِي غَيْرِ بَيْتِ زَوْجِهَا إِلَّا هَتَكَتِ السِّتْرَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ رَبِّهَا، وفي رواية في غير بيتها الا هتكت سترها فيما بينهما و بين الله عزوجل. رواه الترمذي و ابوداؤد.

د حضرت ابو المليح ﷺ څخه روايت دی چې د حمص په ښار کې څو ښځې د بي بي عائشې رض په خدمت کې حاضرې سوې ، بي بي عائشې رض د هغوئ څخه پوښتنه وکړه چې د کوم ځای اوسېدونکي ياست ؟ هغوئ ورته وويل ،د شام ، بي بي عائشې رض ورته وفرمايل : شايد تاسو د هغه ځای اوسېدونکي ياست کوم ځای چې ښځې و حمام ته ځي ، هغوئ ورته وويل ، هو ! بي بي عائشې رض ورته وفرمايل : ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي ، کومه ښځه چې د خپل خاوند د کور څخه پرته د بل چا په کور کې جامې و کاږي گواکې هغې پرده و شکوله کومه چې د هغې او د الله ﷻ په مينځ کې حائله وه او په يوه بل روايت کې راځي چې د خپل کور څخه پرته خو د هغې هغه پرده و شکيږي کومه چې د هغې او د الله ﷻ په مينځ کې وي . ترمذي او ابوداؤد.

(۴۲۷۷): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَتُفْتَحُ لَكُمْ أَرْضُ الْعَجَمِ وَسَتَجِدُونَ فِيهَا بُيُوتًا يُقَالُ لَهَا الْحَمَّامَاتُ فَلَا يَدْخُلَنَّهَا الرِّجَالُ إِلَّا بِالْأُزُرِ وَامْنَعُوهَا النِّسَاءَ إِلَّا مَرِيضَةً أَوْ نُفَسَاءَ. رواه ابوداؤد.

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :ستاسو لپاره به د عجمو مځکه فتحه کړل سي او تاسو ته به په هغه مځکه کې داسې کورونه پيدا سي چې هغوئ ته حمام ويل کيږي او په هغه کې به نارينه د لنگ ترلو سره داخليږي او ښځې د ورتلو څخه منعه کړئ پرته د هغو ښځو چې ناروغه يا نفاسه وي . ابوداؤد.

(۴۲۷۸): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يَدْخُلِ الْحَمَّامَ بِغَيْرِ إِزَارٍ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يُدْخِلْ حَلِيلَتَهُ الْحَمَّامَ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يَجْلِسْ عَلَى مَائِدَةٍ يُدَارُ

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :څوک چې پر الله ﷻ او د قيامت پر ورځ ايمان لري هغه دې بيله پرتوگه و حمام ته نه داخليږي او څوک چې پر الله ﷻ او د قيامت پر ورځ ايمان لري نو هغه دې خپله ښځه و حمام ته

عَلَيْهَا بِالْخَمْرِ . رواه الترمذي والنسائي .

نه بيايي او څوك چي پر الله ﷺ او د قيامت پر ورځ ايمان لري نو هغه دې په هغه سترخوان باندي نه کښيني چي پر هغه باندي د شرابو دور چليږي . ترمذي او نسائي.

## دریم فصل

**نبي ﷺ سر مبارك ته خضاب نه دی ورکړی**

(۴۲۷۹): عَنْ ثَابِت قَالَ سُئِلَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ عَنْ خِضَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَوْ شِئْتُ أَنْ أَعُدَّ شَمَطَاتٍ كُنَّ فِي رَأْسِهِ فَعَلْتُ وَقَالَ لَمْ يَخْتَضِبْ وزاد في رواية وَقَدِ اخْتَضَبَ أَبُو بَكْرٍ بِالْحِنَّاءِ وَالْكَتَمِ وَاخْتَضَبَ عُمَرُ بِالْحِنَّاءِ بَحْتًا. متفق عليه.

د حضرت ثابت ﷺ څخه روايت دی چي د حضرت انس ﷺ څخه د رسول الله ﷺ د رنګ ورکولو په باره کي پوښتنه وسوه ، حضرت انس ﷺ وويل :که ما د نبي کريم ﷺ د سر مبارك سپين ورېښتان شمېرل غوښتل نو هغه مي شمېرلای سوای (يعني د نبي کريم ﷺ په سر مبارك کي لږ ورېښتان سپين وه رنګولو ته يې حاجت نه وو نو په دې وجه نبي کريم ﷺ خضاب نه وو لګولی)او د انس ﷺ په يوه بل روايت کي دا الفاظ دي ، حضرت ابوبکر ﷺ په نکريزو او په وسمه رنګ کړی وو او حضرت عمر رض يوازي د نکروخو خضاب لګولي وو . بخاري او مسلم

**د ژړ رنګ استعمال**

(۴۲۸۰): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ كَانَ يُصَفِّرُ لِحْيَتَهُ بِالصُّفْرَةِ حَتّٰى تَمْتَلِئَ ثِيَابُهُ مِنَ الصُّفْرَةِ فَقِيلَ لَهُ لِمَ تَصْبُغُ بِالصُّفْرَةِ قَالَ إِنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْبُغُ بِهَا وَلَمْ يَكُنْ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْهَا وَقَدْ كَانَ يَصْبُغُ ثِيَابَهُ كُلَّهَا حَتّٰى عِمَامَتَهُ. رواه ابوداؤد والنسائي .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه نقل دي هغه به خپله ږيره په ژړ رنګ سره رنګوله تردې پوري چي د هغه جامې به ژړي سوې ، د هغوی څخه پوښتنه وسوه چي په ژړ رنګ سره ولي ږيره رنګوې ؟ هغه ورته وفرمايل : ما نبي کريم ﷺ په ژړ رنګ باندي ليدلي دی او نبي کريم ﷺ ته د ژړ رنګ څخه پرته بل زيات خوښ شی نه وو. نبي کريم ﷺ به خپلي ټولي جامې ژړې رنګولې تر دې چي لنګوټه هم . ابوداؤد او نسائي.

(۴۲۸۱): وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَوْهَبٍ قَالَ دَخَلْتُ عَلٰى أُمِّ سَلَمَةَ فَأَخْرَجَتْ إِلَيْنَا شَعَرًا مِنْ شَعَرِ

د حضرت عثمان بن عبد الله بن موهب ﷺ څخه روايت دی چي زه د بي بي ام سلمی رض په

النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَخْضُوبًا . رواه البخاري.

خدمت کي حاضر سوم هغې د نبي کريم ﷺ يو ورېښته مورِ ته را ښکاره کړې چي رنګ کړل سوي وو . بخاري .

### يو نرښځي يې د ښار څخه وايستی

(۴۲۸۲): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أُتِيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمُخَنَّثٍ قَدْ خَضَّبَ يَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ بِالْحِنَّاءِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَالُ هَذَا قَالُوْا يَتَشَبَّهُ بِالنِّسَاءِ فَأَمَرَ بِهِ فَنُفِيَ إِلَى النَّقِيعِ فَقِيْلَ يَا رَسُولَ اللهِ أَلَا نَقْتُلُهُ فَقَالَ إِنِّي نُهِيتُ عَنْ قَتْلِ الْمُصَلِّينَ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابوهريره ﷛ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ په خدمت کي يو نرګډی راوستل سو چي خپل لاس او پښې يې په نکروخو باندي سره کړي وه ، نبي کريم ﷺ پوښتنه وکړه چي دده څه حالت دی ؟ اصحابو کرامو عرض وکړ ، دا نرګډی د ښځو مشابهت کوي نبي کريم ﷺ د ښاره څخه د هغه د ايستلو حکم ورکړ ، نو هغه د نقيع و خاي ته ولېږل سو ، بيا و نبي کريم ﷺ ته عرض وکړل سو ايا موږ دی قتل کړو؟ويې فرمايل: زه د لمونځ ګزاره د قتل څخه منعه سوی يم . ابوداؤد.

### د نارينه لپاره د زعفرانو خوشبويي منع ده

(۴۲۸۳): وَعَنِ الْوَلِيدِ بْنِ عُقْبَةَ قَالَ لَمَّا فَتَحَ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ جَعَلَ أَهْلُ مَكَّةَ يَأْتُونَهُ بِصِبْيَانِهِمْ فَيَدْعُو لَهُمْ بِالْبَرَكَةِ وَيَمْسَحُ رُءُوسَهُمْ قَالَ فَجِيءَ بِي إِلَيْهِ وَأَنَا مُخَلَّقٌ فَلَمْ يَمَسَّنِي مِنْ أَجْلِ الْخَلُوقِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت وليد بن عقبه ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ کله مکه فتحه کړه نو د مکې معظمې خلکو خپل کوچنيان د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضرېدل شروع کړه نبي کريم ﷺ د هغوئ د کوچنيانو لپاره د برکت دعاوي کولې او د هغوئ په سرونو باندي به يې خپل مبارک لاس را تېروی ، زه هم و نبي کريم ﷺ ته راوستل سوم چي زما په بدن باندي د زعفرانو خوشبويي وه نو د دغه خوشبو په خاطر نبي کريم ﷺ زما په سر لاس تير نه کړ . ابوداؤد.

### ورېښتان ږمنځ کول او تيل پر لګول

(۴۲۸۴): وَعَنْ أَبِيْ قَتَادَةَ أَنَّهُ قَالَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِي جُمَّةً أَفَأُرَجِّلُهَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ وَأَكْرِمْهَا فَكَانَ أَبُو قَتَادَةَ رُبَّمَا دَهَنَهَا فِي الْيَوْمِ مَرَّتَيْنِ من اجل

د حضرت قتاده ﷛ څخه روايت دی چي هغه و رسول الله ﷺ ته عرض وکړ چي زما ورېښتان تر اوږو پوري رسېدلي دي ايا زه دا ږمونځ کړم ؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: د دي ورېښتانو پالنه کوه

| | |
|---|---|
| قول رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ وَأَكْرِمْهَا . رواه مالك. | (يعني ږمونځ او غوړوه يې) ابو قتاده ؓ فرمايي ما په اکثره وخت په ورځ کې دوه واره ورېښتان |

غوړول ځکه چې نبي کريم ﷺ دا فرمايلي وو چې او دا ږمونځوه او سالم يې ساته . مالك

**د يهودو وضع مه اختياروئ**

| | |
|---|---|
| (۴۲۸۵): وَعَنِ الْحَجَّاجِ بْنِ حَسَّانَ قَالَ دَخَلْنَا عَلَى أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ فَحَدَّثَتْنِي أُخْتِي الْمُغِيرَةُ قَالَتْ وَأَنْتَ يَوْمَئِذٍ غُلَامٌ وَلَكَ قَرْنَانِ أَوْ قُصَّتَانِ فَمَسَحَ رَأْسَكَ وَبَرَّكَ عَلَيْكَ وَقَالَ احْلِقُوا هَذَيْنِ أَوْ قُصُّوهُمَا فَإِنَّ هَذَا زِيُّ الْيَهُودِ . رواه ابوداؤد. | د حضرت حجاج بن حسان ؓ څخه روايت دی چې موږ د حضرت انس بن مالك ؓ ته ورغلو (زه هغه وخت کوچنی وم) زما خور بي بي مغيره د هغې ورځې واقعه ماته داسي بيان کړه چې ته په هغه ورځو کې هلك وې او ستا ورېښتانو |

دوې څونې وې او د تندي و لور ته زلفي پرتې وې ، انس بن مالك ؓ ستا پر سر باندې يې لاس تېر کړاو ستا لپاره يې د خير او برکت دعا وکړه او وه يې فرمايل: دا دواړې ور وخريه يا يې کوچنۍ کړه ځکه دا د يهوديانو شکل دی . ابوداؤد.

**د ښځو د سر خريلو منع**

| | |
|---|---|
| (۴۲۸۶): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تَحْلِقَ الْمَرْأَةُ رَأْسَهَا . رواه النسائي . | د حضرت علي ؓ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د ښځې د سر خريلو څخه منعه کړېده . نسائي |

**د سر او ږيرې ورېښتان سم کړئ**

| | |
|---|---|
| (۴۲۸۷): وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ فَدَخَلَ رَجُلٌ ثَائِرَ الرَّأْسِ وَاللِّحْيَةِ فَأَشَارَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ كَأَنَّهُ يَأْمُرُهُ بِإِصْلَاحِ شَعْرِهِ وَلِحْيَتِهِ فَفَعَلَ الرَّجُلُ ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَيْسَ هَذَا خَيْرًا مِنْ أَنْ يَأْتِيَ أَحَدُكُمْ ثَائِرَ الرَّأْسِ كَأَنَّهُ شَيْطَانٌ. رواه مالك . | د حضرت عطاء بن يسار ؓ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ په يوه مسجد کې وو ، يو سړی چې د هغه د سر او د ږيرې ورېښتان بېر وو ، نبي کريم ﷺ د هغه ولور ته په ګوته سره اشاره وکړه ، مطلب هغه ته يې حکم وکړ چې د سر او ږيرې ورېښتان سم کړي ، نو هغه ورېښتان سم کړه ، وروسته د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر سو ، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل :ايا دا (شکل او |

صورت) د هغه څخه بهتر نه دی چې په تاسو کې يو څوك بېر راسي لکه دی چې شيطان وي . مالك

**د ګوروټو څولي پاك ساتئ**

| | |
|---|---|
| (۴۲۸۸): وَعَنِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ سَمِعَ يَقُولُ إِنَّ اللّٰهَ | د حضرت ابن المسيب ؓ څخه روايت دی چې |

طَيِّبٌ يُحِبُّ الطَّيِّبَ نَظِيفٌ يُحِبُّ النَّظَافَةَ كَرِيمٌ يُحِبُّ الْكَرَمَ جَوَادٌ يُحِبُّ الْجُودَ فَنَظِّفُوا أُرَاهُ قَالَ أَفْنِيَتَكُمْ وَلَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ قَالَ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِمُهَاجِرِ بْنِ مِسْمَارٍ فَقَالَ حَدَّثَنِيهِ عَامِرُ بْنُ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ إِلَّا أَنَّهُ قَالَ نَظِّفُوا أَفْنِيَتَكُمْ . رواه الترمذي.

الله ﷺ نظیف دی نظافت خوښوي خداي تعالي پاك دي صفائي خوښوي کریم دي کرم سری خوښوي ، سخي دی سخاوت خوښوي نو تاسو خپل کورونه پاك صفا ساتئ . د راوي بیان دی ، ابن مسیب وویل ، خپل د کورونو غولي پاك ساتئ او د یهودو سره مشابهت مه کوئ . د راوي بیان دي چې د ابن مسیب د دې قول ذکر ما مهاجر بن مسمار ته وکړ هغه وویل ، ما ته د ا حدیث عامر بن سعد د خپل پلاره څخه او هغه د نبي کریم ﷺ څخه نقل کړی دی ، خو د هغه په روایت کې دا الفاظ دي ، هغوئ وویل ، چې خپل غولي پاك ساتي . ترمذي.

## بریتونه کوچني کول سنت ابراهیمي دی

(۴۲۸۹): وَعَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ أَنَّهُ سَمِعَ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ يَقُولُ كَانَ إِبْرَاهِيمُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَّلَ النَّاسِ ضَيَّفَ الضَّيْفَ وَأَوَّلَ النَّاسِ اخْتَتَنَ وَأَوَّلَ النَّاسِ قَصَّ الشَّارِبَ وَأَوَّلَ النَّاسِ رَأَى الشَّيْبَ فَقَالَ يَا رَبِّ مَا هَذَا فَقَالَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى وَقَارٌ يَا إِبْرَاهِيمُ فَقَالَ يَا رَبِّ زِدْنِي وَقَارًا . رواه مالك .

د حضرت یحیی بن سعید ﷺ څخه روایت دی چې هغه د مسیب څخه دا اورېدلي دي چې ابراهیم خلیل الله اولنی شخص وو چې هغه د مېلمه مېلمستیا وکړه او د ختنه (سنتي) رواج هم د هغه څخه شروع سوی دی او د بریتو وربښته غچي کول هم د هغه څخه شروع سوي دي او هغه تر ټولو اولنی شخص دی چې په سپین ږیر والي کي یې سپین وربښته ولیدلې نو عرض یې وکړ اې الله ﷺ دا څه دي ؟ خداي تعالی وفرمایل: اې ابراهیمه! دا عزت دی ، ابراهیم ﷺ عرض وکړ اې پروردګاره! دا عزت مې نور هم زیات کړې . مالك.

# بَابُ التَّصَاوِيْر (د عسكونوبيان)

## لومړی فصل

### سپي يا عکس

(۴۲۹۰): عَنْ أَبِي طَلْحَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلَا تَصَاوِيرُ. متفق عليه

د حضرت ابـو طلحـه ﷺ ځخـه روايـت دی چـي رسول الله ﷺ وفرمايل: په کوم کور کي چي سپي يـا تصـويرونه وي و هغـه کـور تـه ملائکـي نـه راځي. بخاري او مسلم

### ډير ضروري سپيان مړه کول

(۴۲۹۱): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ مَيْمُونَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصْبَحَ يَوْمًا وَاجِمًا وَقَالَ إِنَّ جِبْرِيلَ كَانَ وَعَدَنِي أَنْ يَلْقَانِي اللَّيْلَةَ فَلَمْ يَلْقَنِي أَمَ وَاللّٰهِ مَا أَخْلَفَنِي ثُمَّ وَقَعَ فِي نَفْسِهِ جِرْوُ كَلْبٍ تَحْتَ فُسْطَاطٍ لَهُ فَأَمَرَ بِهِ فَأُخْرِجَ ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِهِ مَاءً فَنَضَحَ مَكَانَهُ فَلَمَّا أَمْسَى لَقِيَهُ جِبْرِيلُ فَقَالَ لَقَدْ كُنْتَ وَعَدْتَنِي أَنْ تَلْقَانِي الْبَارِحَةَ قَالَ أَجَلْ وَلٰكِنَّا لَا نَدْخُلُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلَا صُورَةٌ فَأَصْبَحَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَئِذٍ فَأَمَرَ بِقَتْلِ الْكِلَابِ حَتّٰى إِنَّهُ يَأْمُرُ بِقَتْلِ كَلْبِ الْحَائِطِ الصَّغِيرِ وَيَتْرُكُ كَلْبَ الْحَائِطِ الْكَبِيرِ. رواه مسلم.

حضرت ابـن عبـاس ﷺ د بـي بـي ميمـونې رض ځخه روايت کوي چي يوه ورځ د سهار په وخت کي نبي کريم ﷺ خاموش او غمګين ناست وو، نبـي کـريم ﷺ وفرمايـل: نـن شـپه زمـا سـره جبرائيل ﷺ د ملاقات وعده کړې وه، ليکن ما سره يې ملاقات ونه کړ، قسم په خداي جبرائيل ﷺ هيځکله زما سره وعده خلافي نه ده کړې، وروسته د نبي کريم ﷺ په زړه کي د سپي د هغه بچي خيال راغی چي د نبي کريم ﷺ د خيمې لاندي پروت وو، حکم يې وکړ، نو هغه يې ليري کړ، وروسته نبي کريم ﷺ او به واخيستلې او په کوم ځاي چي سپی پروت وو هغه ځاي يې پاک کړ، کله چي ماښام سو نو جبرائيل ﷺ ورسره ملاقا ت وکړ، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل پرون شپه تا زما سره د ملاقات وعده کړې وه، جبرائيل ﷺ ورته وفرمايل: هو! ليکن موږ په هغه کور کي نه داخليږو په کوم ځاي کي چي سپي يا تصوير وي، په دويمه ورځ په سهار کي نبي کريم ﷺ حکم و کړ، ټول سپي ووژنئ تر دې چي د کوچنيو باغونو د سپو د وژلو يې هم حکم ورکړ او د لويو باغونو سپي يې پرېښودل. مسلم.

## تول عکسونه بې مات کړل

(۴۲۹۲): وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكُنْ يَتْرُكُ فِي بَيْتِهِ شَيْئًا فِيهِ تَصَالِيبُ إِلَّا نَقَضَهُ. رواه البخاري.

د بي بي عائشې رض څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ په خپل کور کې دا سې هیڅ شی پرې نه ښودی چې په هغه کې عکسونه وي ، مگر هغه یې مات کړه . بخاري

## په اخرت کې د عکس جوونکي عذاب

(۴۲۹۳): وَعَنْهَا أَنَّهَا اشْتَرَتْ نُمْرُقَةً فِيهَا تَصَاوِيرُ فَلَمَّا رَآهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ عَلَى الْبَابِ فَلَمْ يَدْخُلْهُ فَعَرَفْتُ فِي وَجْهِهِ الْكَرَاهِيَةَ قالت فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَتُوبُ إِلَى اللّٰهِ وَإِلَى رَسُوله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَاذَا أَذْنَبْتُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَالُ هَذِهِ النُّمْرُقَةِ قُلْتُ اشْتَرَيْتُهَا لَكَ لِتَقْعُدَ عَلَيْهَا وَتَوَسَّدَهَا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَصْحَابَ هَذِهِ الصُّوَرِ يعذبون يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيُقَالُ لَهُمْ أَحْيُوا مَا خَلَقْتُمْ وَقَالَ إِنَّ الْبَيْتَ الَّذِي فِيهِ الصُّوَرُ لَا تَدْخُلُهُ الْمَلَائِكَةُ. متفق علیه

د بي بي عائشې رض څخه روایت دی چې هغې یو بالښت رانیوی چې په هغه کې عکسونه وه ، نبي کریم ﷺ چې هغه ولیدی نو په دروازه کې و درېدی او د ننه را نه غی ، و ماته د نبي کریم ﷺ په مخ کې د ناراضي اثار په سترگو سول ، عرض مي وکړ ، اې د الله ﷺ رسوله ! زما څخه د خداي تعالی او د هغه د رسول الله ﷺ د مخالفت کولو څه گناه سوې ده ؟نبي کریم ﷺ وفرمایل: دا بالښت څنگه دی ؟ ما عرض وکړ ، ما دا ستاسو د ناستي او ارام کولو لپاره رانیولي دی ، نبي کریم ﷺ وفرمایل: د دې عکسونو جوړونکي ته به د قیامت په ورځ عذاب ورکول سي او هغوئ ته به وویل سي چې کوم شی تاسو جوړ کړی دی و هغه ته دي ساه ورکړئ ، بیا یې وفرمایل: په کوم کور کې چې عکسونه وي و هغه کور ته ملائکي نه داخلیږي . بخاري او مسلم

## ارایښي پردې خیرول

(۴۲۹۴): وَعَنْهَا أَنَّهَا كَانَتْ قد اتَّخَذَتْ عَلَى سَهْوَةٍ لَهَا سِتْرًا فيه تَمَاثِيلُ فَهَتَكَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاتَّخَذَتْ مِنْهُ نُمْرُقَتَيْنِ فَكَانَتَا فِي الْبَيْتِ يَجْلِسُ عَلَيْهِمَا . متفق علیه.

د بي بي عائشې رض څخه روایت دی هغې د کور په تاخچه یوه پرده واچوله چې په هغه کې عکسونه وه ، نبي کریم ﷺ هغه پرده څیري کړه ، وروسته بي بي عائشې رض د هغه ټوکر څخه دوه بالښتونه جوړ کړل چې په کور کې به رسول الله ﷺ پر هغو باندې په تکیه وهلو سره ناست وو . بخاري او مسلم

(۴۲۹۵): وَعَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ فِي غَزَاةٍ فَأَخَذْتُ نَمَطًا فَسَتَرْتُهُ عَلَى الْبَابِ فَلَمَّا قَدِمَ فَرَأَى النَّمَطَ فَجَذَبَهُ حَتَّى هَتَكَهُ ثُمَّ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ لَمْ يَأْمُرْنَا أَنْ نَكْسُوَ الْحِجَارَةَ وَالطِّيْنَ. متفق علیه.

د بي بي عائشې رض څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ و یوې غزا ته ولاړ ما (د نبي کریم ﷺ څخه وروسته)یو توکر رانیوی ، پرده مې ور څخه جوړه کړه په دروازه مې واچوله ، کوم وخت چې نبي کریم ﷺ واپس راغی او هغه پرده یې ولیدل نو را کش یې کړه او څیرې یې کړه ، بیا یې وفرمایل: خدای تعالی و موږ ته دا حکم نه دی را کړی چې موږ کانو او ختو ته کالي ور اغوندو . بخاري او مسلم.

**د عکس جوړونکي سزا**

(۴۲۹۶): وَعَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ الَّذِيْنَ يُضَاهُوْنَ بِخَلْقِ اللّٰهِ. متفق علیه.

د بي بي عائشې رض څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ به هغه خلك په سخت عذاب کې وي چې هغوئ د پیدائش په معامله کې د خدای تعالی سره مشابهت کړی وي (یعني عکسونه یې جوړ کړی وي) . بخاري او مسلم

(۴۲۹۷): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ قَالَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ ذَهَبَ يَخْلُقُ كَخَلْقِي فَلْيَخْلُقُوا ذَرَّةً أَوْ لِيَخْلُقُوا حَبَّةً أَوْ شَعِيْرَةً . متفق علیه.

د حضرت ابوهریره رض څخه روایت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي چې خدای تعالی وفرمایل: د هغه کس څخه زیات څوك ظالم دی چې زما د پیدائش په شان جوړول کوي (یعني څه ډول شکلونه چې زه جوړوم هغه یې هم جوړوي ، هغه ته پکار ده که هغه د پیدا کولو دعوی لري نو زما په شان یو کوچنی ذره دې پیدا کړي یا یوه دانه یا اوربشه . بخاري او مسلم

(۴۲۹۸): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ أَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا عِنْدَاللّٰهِ الْمُصَوِّرُوْنَ. متفق علیه.

د حضرت عبدالله بن مسعود رض څخه روایت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي چې د خدای تعالی په نیزد به د سخت څخه سخت عذاب و عکسونو جوړونکو ته ورکړي . بخاري او مسلم

(۴۲۹۹): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ كُلُّ مُصَوِّرٍ فِي النَّارِ

د حضرت ابن عباس رض څخه روایت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي ، هر عکس

يَجْعَلُ لَهُ بِكُلِّ صُورَةٍ صَوَّرَهَا نَفْسًا فَتُعَذِّبُهُ فِي جَهَنَّمَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَإِنْ كُنْتَ لَا بُدَّ فَاعِلًا فَاصْنَعِ الشَّجَرَ وَمَا لَا رُوحَ فِيْهِ. متفق عليه.

جوړونكي به په اور كي و غورځول سي او د هغه د هر عكس په بدله كي به هغه څوك چي د هغه عكس يې جوړ كړي وي پيدا كړل سي او هغه (جوړونكي) ته به په دوزخ كي عذاب وركوي ، ابن عباس وايي كه عكس جوړول ستا كار وي او ته دا كار خامخا كوې نو د درختي يا غير ذي روح شي عكس جوړ كړه . بخاري او مسلم.

(۴۳۰۰): وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ تَحَلَّمَ بِحُلْمٍ لَمْ يَرَهُ كُلِّفَ أَنْ يَعْقِدَ بَيْنَ شَعِيرَتَيْنِ وَلَنْ يَفْعَلَ وَمَنِ اسْتَمَعَ إِلَى حَدِيثِ قَوْمٍ وَهُمْ لَهُ كَارِهُونَ أَوْ يَفِرُّونَ مِنْهُ صُبَّ فِي أُذُنِهِ الْآنُكُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ صَوَّرَ صُورَةً عُذِّبَ وَكُلِّفَ أَنْ يَنْفُخَ فِيهَا وَلَيْسَ بِنَافِخٍ. رواه البخاري.

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي چي څوك داسي خوب بيان كړي چي نه يې وي ليدلي (يعني د دروغو خوب) هغه ته به وويل سي چي د دوو وربشو په مينځ كي غوټه وركړی او هغه به هيڅ كله داسي نه سي كولای او څوك چي د يو قوم خبرو ته په پټه غوږ ونيسي او هغه قوم د هغه خبري اورېدل بد گڼي يا نفرت ښيني كوي يا هغه خلك دده د غوږ نيولو په سبب بل خای ته تښتي (يعني چي دی زموږ خبري وا نه وري) نو د قيامت په ورځ به دهغه په غوږونو كي مس واچول سي او څوك چي (د يو ساه لرونكي) عكس جوړ كړي هغه به مجبور كړل سي چي په هغه كي روح واچوي او حال داچي هغه به هيڅ كله روح نه سي په كښي اچولای . بخاري .

### د نرد شير بدوالی

(۴۳۰۱): وَعَنْ بُرَيْدَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ لَعِبَ بِالنَّرْدَشِيرِ فَكَأَنَّمَا صَبَغَ يَدَهُ فِي لَحْمِ خِنْزِيرٍ وَدَمِهِ. رواه مسلم .

د حضرت بريده ؓ څخه روايت دی چاچي د نرد شير (سطرنج) وكړی نو هغه لكه خپل لاسونه چي د خنزير په غوښو او وينو رنگ كړل . مسلم

## دويم فصل

### د جبرائيل كور ته نه تلل

(۴۳۰۲): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَانِي جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام قَالَ أَتَيْتُكَ الْبَارِحَةَ فَلَمْ يَمْنَعْنِي أَنْ أَكُونَ دَخَلْتُ إِلَّا أَنَّهُ

د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : جبرائيل ؑ و ماته راغی او ويې فرمايل: پرون شپه زه ستاسو كره راغلی وم ليكن د ننه نه درغلم چي په دروازه كي عكسونه

كَانَ عَلَى الْبَابِ تَمَاثِيلُ وَكَانَ فِي الْبَيْتِ قِرَامُ سِتْرٍ فِيهِ تَمَاثِيلُ وَكَانَ فِي الْبَيْتِ كَلْبٌ فَمُرْ بِرَأْسِ التِّمْثَالِ الَّذِي على باب الْبَيْتِ يُقْطَعُ فَيَصِيرُ كَهَيْئَةِ الشَّجَرَةِ وَمُرْ بِالسِّتْرِ فَلْيُقْطَعْ فَلْيُجْعَلْ وِسَادَتَيْنِ مَنْبُوذَتَيْنِ تُوطَآنِ وَمُرْ بِالْكَلْبِ فَلْيُخْرَجْ فَفَعَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه الترمذي وابوداؤد.

وه او په كور كي يوه نقش داره توكر وو چي د هغې څخه پرده جوړه سوې وه او په دروازه اچول سوې وه او په هغې كي عكسونه وه او څكه داخل نه سوم چي په كور كي سپى وو تاسو حكم وكړئ چي كوم عكسونه په دروازه دي (يعني د پردې پر سر) د هغوئ سرونه دي پرېكړل سي، لپاره دې چي د هغوئ شكل د درختو په شان سي ، بيا د ا حكم وكړئ چي هغه دي پرېكړل سي د هغې څخه دي دوه بالښتونه جوړ سي چي پر فرش باندي پراته وي او د پښو لاندي راسي او حكم وكړئ چي سپى دي د كوره څخه و شړل سي ، نو نبي كريم ﷺ همداسي وكړل . ترمذي او ابوداؤد.

## د قيامت په ورځ دري دوږخيان

(۴۳۰۳): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَخْرُجُ عُنُقٌ مِنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَهَا عَيْنَانِ تُبْصِرَانِ وَأُذُنَانِ تَسْمَعَانِ وَلِسَانٌ يَنْطِقُ يَقُولُ إِنِّي وُكِّلْتُ بِثَلَاثَةٍ بِكُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ وَبِكُلِّ مَنْ دَعَا مَعَ اللّٰهِ إِلٰهًا آخَرَ وَبِالْمُصَوِّرِينَ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به يوه غاړه د دوږخ د ننه څخه را ووځي چي دوې سترگي به يې وي ، گوري به ، دوه غوږونه به يې وي اوريدل به كوي او ژبه به يې وي خبري به په كوي ، هغه غاړه به په خپلي ژبي سره دا وايي ، زه په درو كسانو باندي مقرر سوى يم(يعني د دې لپاره چي دا درې كسان به د ځانه سره و دوږخ ته بيايم او په عذاب كي به يې اچوم)(۱)-يو تكبر كونكي او بغض او عناد كونكي . (۲)-او بل هغه څوك چي د الله ﷻ څخه پرته د بل چا عبادت كوي او د هغه څخه كومك غواړي .(۳)- او هغه كسان چي عكسونه جوړوي . ترمذي

## شراب، خمار، طنبل

(۴۳۰۴): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى حَرَّمَ الْخَمْرَ وَالْمَيْسِرَ وَالْكُوبَةَ وَقَالَ كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ قِيلَ الْكُوبَةُ الطَّبْلُ . رواه البيهقي في شعب الإيمان .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل :خداي تعالى شراب خوړل ، خمار او كوبه (طنبل وهل) حرام گرځولي دي او فرمايلي يې دي چي هر نشه لرونكي شى حرام دى ، د ځينو بيان دي چي كوبه و ډول ته ويل كيږي . بيهقي

| | |
|---|---|
| (۴۳۰۵): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَالْكُوبَةِ وَالْغُبَيْرَاءِ، وَالْغُبَيْرَاءُ شَرَابٌ تَعْمَلُهُ الْحَبَشَةُ مِنَ الذُّرَةِ يُقَالُ لَهُ السُّكُرْكَةُ .رواه ابوداؤد. | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د شراب ، خمار ، کوبه او غبيرا څخه منعه کړي ده ، غبيرا يو ډول شراب دي چي د حبشي خلك يې د اوربشو څخه جوړوي او دې |

ته سکرګه و يل کيږي . ابوداؤد

**د الله ﷻ او رسول ﷺ نافرماني**

| | |
|---|---|
| (۴۳۰۶): وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ لَعِبَ بِالنَّرْدِ فَقَدْ عَصَى اللّٰهَ وَرَسُولَهُ . رواه احمد وابوداؤد. | د حضرت ابو موسی اشعری ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چاچي په نرد(شطرنج) سره لوبي وکړې نو هغه د خداي تعالی او د هغه د رسول الله ﷺ نافرماني وکړه . احمد او ابوداؤد |

**کوتر بازي حرامه ده**

| | |
|---|---|
| (۴۳۰۷): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَجُلًا يَتْبَعُ حَمَامَةً فَقَالَ شَيْطَانٌ يَتْبَعُ شَيْطَانَةً. رواه احمد و ابوداؤد وابن ماجة والبيهقي في شعب الايمان. | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يو سړی و ليدي چي په کوترو پسې وو (يعني کوتري يې الوځولې)نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا شيطان دی ، په شيطاني پسې سوی دی . احمد ، ابوداؤد ، ابن ماجه او بيهقي |

## دريم فصل

**د تصوير جوړونکي کسب**

| | |
|---|---|
| (۴۳۰۸): عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي الْحَسَنِ قَالَ كُنْتُ عِنْدَ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اذ جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ يَا أَبَا عَبَّاسٍ إِنِّي رجل إِنَّمَا مَعِيشَتِي مِنْ صَنْعَةِ يَدِي وَإِنِّي أَصْنَعُ هَذِهِ التَّصَاوِيرَ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَا أُحَدِّثُكَ إِلَّا مَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ صَوَّرَ صُورَةً فَإِنَّ اللّٰهَ مُعَذِّبُهُ حَتَّى | د حضرت سعيد بن ابو الحسن ﷺ څخه روايت دی چي زه د ابن عباس ﷺ سره ناست وم چي يو سړی راغلی او ويل يې ، اې ابن عباس ! زه يو مزدور کاره سړی يم او زما کار د لاس دی زه عکسونه جوړوم . ابن عباس ورته وفرمايل : زه تا ته هغه خبره وه نه کړم کومه چي ما د نبي کريم ﷺ څخه اورېدلی ده ، ما د نبي کريم ﷺ څخه دا |

يَنْفُخَ فِيهَا الرُّوحَ وَلَيْسَ بِنَافِخٍ فِيهَا أَبَدًا فَرَبَا الرَّجُلُ رَبْوَةً شَدِيدَةً وَاصْفَرَّ وَجْهُهُ فَقَالَ وَيْحَكَ إِنْ أَبَيْتَ إِلَّا أَنْ تَصْنَعَ فَعَلَيْكَ بِهَذَا الشَّجَرِ وَ كُلِّ شَيْءٍ لَيْسَ فِيهِ رُوحٌ. رواه البخاري.

اوربدلي دي ،خوك چي يو عكس جوړ كړي ببشكه الله ﷻ عذاب وركونكي دی ده ته تر څو پوري چي په هغه كي يې روح نه وي پوه كړي او هغه نفر به هيڅكله روح پكښي پوه نه كړي (په دي اوربدو سره) هغه سړي اوږده ساه وكښله او مخ يې ژړ سو، ابن عباس ﷺ ورته وفرمايل: پر تا باندي افسوس دی كه ته نه منعه كيږې له جوړولو څخه يې نو د ونو عكسونه جوړوه او د هغو شيانو چي روح و نلري. بخاري.

## د كنيسه ذكر

(۴۳۰۹): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا اشْتَكَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَكَرَ بَعْضُ نِسَائِهِ كَنِيسَةً يُقَالُ لَهَا مَارِيَةُ فَكَانَتْ أُمُّ سَلَمَةَ وَأُمُّ حَبِيبَةَ أَتَتَا أَرْضَ الْحَبَشَةِ فَذَكَرَتَا مِنْ حُسْنِهَا وَتَصَاوِيرَ فِيهَا فَرَفَعَ رَأْسَهُ فَقَالَ أُولَئِكَ إِذَا مَاتَ فِيهِمُ الرَّجُلُ الصَّالِحُ فَبَنَوْا عَلَى قَبْرِهِ مَسْجِدًا ثُمَّ صَوَّرُوا فِيهِ تِلْكَ الصُّوَرَ أُولَئِكِ شِرَارُ خَلْقِ اللَّهِ. متفق عليه.

د بي بي عائشې رض څخه روايت دی كوم وخت چي نبي كريم ﷺ ناروغه سو نو د نبي كريم ﷺ په بيبانو كي څينود كلبساؤ ذكر وكړ چي هغه كلبسا ته ماريه ويل كيږي(او په حبشه كي وه) او د نبي كريم ﷺ بيبيانو ام سلمه رض او لم حبيبه رض حبشې ته تللي وی او دې دواړو بيبيانو دهغې كلبسا د ښائست او د هغې د عكسونو ذكر وكړ نبي كريم ﷺ خپل سر مبارك را پورته كړ او ويې فرمايل: په هغو كي چي كوم نېك سړی مړ سي نو د هغه پر قبر باندي مسجد جوړ كړی او بيا په هغه كي د داسي نېكانو خلكو عكسونه جوړوي دا خلك په حقيقت كي د خداي تعالٰی بد ترين مخلوق دی. بخاري او مسلم.

## تر ټولو سخت عذاب د چا دی

(۴۳۱۰): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَنْ قَتَلَ نَبِيًّا أَوْ قَتَلَهُ نَبِيٌّ أَوْ قَتَلَ أَحَدَ وَالِدَيْهِ وَالْمُصَوِّرُوْنَ وَعَالِمٌ لَمْ يَنْتَفِعْ بِعِلْمِهِ. رواه البيهقي.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ چي كومو خلكو ته به د سخت څخه سخت عذاب وركول كيږي هغه به هغه خلك وي، كوم چا چي نبي (پېغمبر) قتل كړي وي يا يو نبي هغه په قتل رسولي وي يا په خپل مور او پلار كي يې يو په قتل رسولي وي او عكسونه جوړونكي او هغه عالم چي د هغه د علمه څخه و چا ته څه فائده نه وي رسېدلي. بيهقي.

**د سطرنج لوبه**

| | |
|---|---|
| (۴۳۱۱): وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّهُ كَانَ يَقُوْلُ اَلشَّطْرَنْجُ هُوَ مَيْسِرُ الْأَعَاجِمِ. رواه البيهقي. | د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چي سطرنج د عجميانو خمار دی . بيهقي |

**د سطرنج بدوالی**

| | |
|---|---|
| (۴۳۱۲): وَعَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَنَّ أَبَا مُوْسَى الْأَشْعَرِيَّ قَالَ لَا يَلْعَبُ بِالشَّطْرَنْجِ إِلاَّ خَاطِئٌ. رواه البيهقي. | د حضرت ابن شهاب ﷺ څخه روايت دی چي د ابوموسی اشعري ﷺ بيان دی ، سطرنج هغه سړی کوي کوم چي خطاکار او گنهگاره وي . بيهقي |
| (۴۳۱۳): وَعَنْهُ أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ لَعِبِ الشَّطْرَنْجِ فَقَالَ هِيَ مِنَ الْبَاطِلِ وَلَا يُحِبُّ اللّٰهُ الْبَاطِلَ . روى البيهقي الأحاديث الأربعة في شعب الإيمان . | د حضرت ابن شهاب ﷺ څخه د سطرنج په هکله وپوښتل سوه ، هغه وويل ، دا لغوه او باطله لوبه ده او خداي تعالی لغو او باطل شی نه |

خوښوي . (بيهقي دا څلور احاديث په شعب الايمان کي نقل کړی دي)

**د سپي او پيشي فرق**

| | |
|---|---|
| (۴۳۱۴): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِيْ دَارَ قَوْمٍ مِّنَ الْأَنْصَارِ وَدُوْنَهُمْ دَارٌ فَشَقَّ ذٰلِكَ عَلَيْهِمْ فَقَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ تَأْتِيْ دَارَ فُلَانٍ وَلَا تَأْتِيْ دَارَنَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَنَّ فِيْ دَارِكُمْ كَلْبًا قَالُوْا إِنَّ فِيْ دَارِهِمْ سِنَّوْرًا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلسِّنَّوْرُ سَبُعٌ . رواه الدارقطني . | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ به د انصارو يو کور ته تشريف وړئ حالانکه نبي کريم ﷺ ته نژدې نور کورونه هم وه ، په هغه همسايه گانو يا نژدې کورو والا ؤ باندي د اخبره سخته تمام سوه ، هغوئ عرض وکړ ، اي د الله ﷺ رسوله ! تاسو د فلاني انصاري کره ځئ او زموږ کره نه راځئ |

نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : زه ستاسو و کورو ته ځکه نه درځم ، چي تاسو په خپلو کورونو کي سپي ساتلي دي ، هغوئ عرض وکړ ، او د هغه په کور کي پيشي ده ، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : پيشي داسي درنده دئ چي نجاست نه لري . بيهقي

# کَتَابُ الطِّبِّ وَالرّقیٰ

## (د طب او جادو بیان)

## لومړی فصل

**هره ناروغي دوا لري**

| | |
|---|---|
| (۴۳۱۵): عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا اَنْزَلَ اللّٰهُ دَاءً اِلَّا اَنْزَلَ لَهُ شِفَاءً . رواه البخاري. | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: خداي تعالی هيڅ يوه داسي ناروغي نه ده پيدا کړې چي د هغې لپاره شفاء (علاج او دوا) نه وي نازله کړې. بخاري |

**ناروغي د خداي په حکم سره جوړيږي**

| | |
|---|---|
| (۴۳۱۶): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءٌ فَاِذَا اُصِيْبَ دَوَاءُ الدَّاءِ بَرَأَ بِاِذْنِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ . رواه مسلم . | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د هري ناروغي لپاره دوا سته ، کله چي دوا د ناروغی موافق سي د خداي تعالی په حکم سره ناروغي ښه سي . مسلم |

**شفاء په درو شيانو کي**

| | |
|---|---|
| (۴۳۱۷): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الشِّفَاءُ فِي ثَلَاثٍ فِي شَرْطَةِ مِحْجَمٍ اَوْ شَرْبَةِ عَسَلٍ اَوْ كَيَّةٍ بِنَارٍ وَاَنَا اَنْهٰى اُمَّتِيْ عَنِ الْكَيِّ. رواه البخاري. | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: شفا په درو شيانو کي ده: (۱) په وينه کښلو. (۲) په شاتو خورلو کي. (۳) په اور سره په داغ ورکولو کي ، ليکن |

زه خپل امت په داغ سره د علاج کولو څخه منعه کوم . بخاري .

**په داغ سره درملنه**

| | |
|---|---|
| (۴۳۱۸): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ رُمِيَ اُبَيٌّ يَوْمَ الْاَحْزَابِ عَلٰى اَكْحَلِهِ فَكَوَاهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه مسلم. | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي د احزاب په غزا (د خندق په غزا) کي يوه ورځ د ابي بن کعب هفت اندام رگ په غشي ولگېدلې ، رسول الله ﷺ ورته داغ ورکړ . مسلم |

| | |
|---|---|
| (۴۳۱۹): وَعَنْهُ قَالَ رُمِيَ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ فِي | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي د سعد بن |

أَكْحَلِهِ فَحَسَمَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ بِمِشْقَصٍ ثُمَّ وَرِمَتْ فَحَسَمَهُ الثَّانِيَةَ . رواه مسلم

معاذ هفت اندام رگ په غشي ولگېدی رسول الله ﷺ په خپل مبارك لاس د هغه زخم ته داغ ورکړ ،بيا د هغه په لاس کي پارسوب راغی نو نبي کريم ﷺ د دويم وار لپاره داغ ورکړ. مسلم

(۴۳۲۰): وَعَنْهُ قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ طَبِيبًا فَقَطَعَ مِنْهُ عِرْقًا ثُمَّ كَوَاهُ عَلَيْهِ . رواه مسلم.

د حضرت جابر ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ابی بن کعب ته طبيب وليږی ، طبيب د هغه وينه وکښل او بيا يې و هغه ته داغ ورکړ . مسلم

## د سياه دانې خاصيت

(۴۳۲۱): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي الْحَبَّةِ السَّوْدَاءِ شِفَاءٌ مِنْ كُلِّ دَاءٍ إِلَّا السَّامَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَالسَّامُ الْمَوْتُ وَالْحَبَّةُ السَّوْدَاءُ الشُّونِيزُ . متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دی چي هغه د نبي کريم ﷺ څخه دا اورېدلي دي ، چي په توره دانه کي د مرگ څخه پرته د هرې ناروغۍ شفاء ده . ابن شهاب وويل :السام څخه مرگ او د توري دانې څخه کلونجي مراد ده . بخاري او مسلم .

## په عسلو کي شفا

(۴۳۲۲): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ أَخِي اسْتَطْلَقَ بَطْنُهُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْقِهِ عَسَلًا فَسَقَاهُ ثُمَّ جَاءَهُ فَقَالَ إِنِّي سَقَيْتُهُ فَلَمْ يَزِدْهُ إِلَّا اسْتِطْلَاقًا فَقَالَ لَهُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ جَاءَ الرَّابِعَةَ فَقَالَ اسْقِهِ عَسَلًا فَقَالَ لَقَدْ سَقَيْتُهُ فَلَمْ يَزِدْهُ إِلَّا اسْتِطْلَاقًا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدَقَ اللّٰهُ وَكَذَبَ بَطْنُ أَخِيكَ فَسَقَاهُ فَبَرَأَ . متفق عليه.

د حضرت ابو سعيد خدری ؓ څخه روايت دی چي يو سړی د نبي کريم ﷺ په خدمت کي وويل: زما د ورور عملونه کيږي ، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : په هغه شات وخوره ، هغه ور باندي شات وخورل ، دوهم وار بيا راغی او عرض يې وکړ ، اي د الله ﷺ رسوله ! ما ورباندي شات وخورل ،عملونه يې لا زيات سول ، نبي کريم ﷺ بيا د شاتو د خوړلو حکم ورکړ ، دري واره داسي وسوه (يعني د عملو يې زيات شکايتونه وکړل او نبي کريم ﷺ همداسي ورته وفرمايل) په څلورم وار چي راغلی نو عرض يې وکړ ، ما ور باندي شات وخورل ، عملونه يې لازيات سول ، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : الله ﷻ ربنتيا فرمايلي دي (يعني په شاتو کي د انسانانو لپاره شفاء پرته ده) او ستا د ورور نس درواغجن دی ، په څلورم وار چي يې په هغه شات و خوړل ، نو هغه ښه سو . بخاري او مسلم .

**د قسط فائدې**

| | |
|---|---|
| (۴۳۲۳): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَمْثَلَ مَا تَدَاوَيْتُمْ بِهِ الْحِجَامَةُ وَالْقُسْطُ الْبَحْرِيُّ . متفق علیه. | د حضرت انس ﷛ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: په کومو شیانو باندې چې تاسو دوا کوئ نو په هغه کې تر ټولو بهترینه شی رګ |

وهل او بحري قسط (یو هندي دوا ده چې په هند کې (ګټ) ورته ویل کیږي چې دوه ډوله دی خوږ او تریخ) استعمالول. بخاري او مسلم.

**د کوچنیانو د حلق ناروغي**

| | |
|---|---|
| (۴۳۲۴): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُعَذِّبُوا صِبْيَانَكُمْ بِالْغَمْزِ مِنَ الْعُذْرَةِ وَعَلَيْكُمْ بِالْقُسْطِ. متفق علیه. | د حضرت انس ﷛ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د عذر په ناروغي کې یعني د کوچنیانو د حلق په ناروغي کې تاسو په ګوتو |

سره د حلق په کنبېکنبلو سره و کوچنیانو ته تکلیف مه ورکوئ بلکه په قسط سره د هغوئ علاج کوئ (یعني قُسط اوره کړئ او د هغې اوبه په پزه کې ورواچوئ. بخاري او مسلم

**ذات الجنب**

| | |
|---|---|
| (۴۳۲۵): وَعَنْ أُمِّ قَيْسٍ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا تَدْغَرْنَ أَوْلَادَكُنَّ بِهٰذَا الْعِلَاقِ عَلَيْكُنَّ بِهٰذَا الْعُوْدِ الْهِنْدِيِّ فَإِنَّ فِيْهِ سَبْعَةَ أَشْفِيَةٍ مِنْهَا ذَاتُ الْجَنْبِ يُسْعَطُ مِنَ الْعُذْرَةِ وَيُلَدُّ مِنْ ذَاتِ الْجَنْبِ. متفق علیه | د بي بي ام قیس رض څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د حلق په ناروغي کې تاسو د خپلو کوچنیانو ستوني ولې کنبېکاږئ ، تاسو په عود هندي سره د هغوئ علاج کوئ ، په عود هندي کې د اوو ناروغیو شفاء ده چې په هغوئ |

کي یو ذات الجنب (د تشي بربنن یا نمونیا) ده ، د کوچنیانو په حلق کي عود هندي اچول کیږي او په ذات الجنب ناروغي کي په خوله کي د ننه اچول کیږي. بخاري او مسلم.

**د تبې درملنه او اوبه**

| | |
|---|---|
| (۴۳۲۶): وَعَنْ عَائِشَةَ وَرَافِعِ ابْنِ خَدِيْجٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْحُمّٰى مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ فَأَبْرِدُوْهَا بِالْمَاءِ . متفق علیه. | د بي بي عائشه رض او حضرت رافع بن خدیج ﷛ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي .تبه د دوزخ تونبن دی په اوبو سره یې یخ کړئ |

. بخاري او مسلم.

## د دم كولو اجازه

| | |
|---|---|
| ﴿۴۳۲۷﴾: وَعَنْ عَنْ أَنَسٍ قَالَ رَخَّصَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الرُّقْيَةِ مِنَ الْعَيْنِ وَالْحُمَةِ وَالنَّمْلَةِ . رواه مسلم. | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د بد نظر (د لړم ، مچی ، غالبوزي او داسي نورو چي د زهرو ډکه وي)او نمله (د تشي يا |

اړخ کي تنکۍ)کي د دم کولو اجازت ورکړی دی (يعني د دعاګانو د لوستلو او پر هغه باندي د پوه کولو اجازت يې ورکړی دی). مسلم.

| | |
|---|---|
| ﴿۴۳۲۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَسْتَرْقِيَ مِنَ الْعَيْنِ. متفق عليه. | د بي بي عائشې رض څخه روايت دی چي نبي كريم ﷺ و موږ ته حكم را كړی دی چي د بد نظر لپاره دم وكړو . بخاري او مسلم |

| | |
|---|---|
| ﴿۴۳۲۹﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى فِي بَيْتِهَا جَارِيَةً فِي وَجْهِهَا سَفْعَةٌ تعني صفرة فَقَالَ اسْتَرْقُوا لَهَا فَإِنَّ بِهَا النَّظْرَةَ . متفق عليه. | د بي بي ام سلمه رض څخه روايت دی چي نبي كريم ﷺ د هغې په كور كي انجلۍ وليده چي مخ يې ژړ وو ، نبي كريم ﷺ وفرمايل: په دې دم وكړي دا نظر سوې ده . بخاري او مسلم |

| | |
|---|---|
| ﴿۴۳۳۰﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الرُّقَى فَجَاءَ آلُ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّهُ كَانَتْ عِنْدَنَا رُقْيَةٌ نَرْقِي بِهَا مِنَ الْعَقْرَبِ وَانت نَهَيْتَ عَنِ الرُّقَى فَعَرَضُوهَا عَلَيْهِ فَقَالَ مَا أَرَى بَأْسًا مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يَنْفَعَ أَخَاهُ فَلْيَنْفَعْهُ . رواه مسلم. | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د جادو او افسون (جادو ، دم)څخه منعه كړېده (د دې ممانعت څخه وروسته)د عمرو بن حزم د خاندان خلك راغلل او عرض يې وكړ ، اې د الله ﷺ رسوله ! زموږ سره يو دم دی چي موږ يې په لړم خوړلي باندي چف كوو ،اوس تاسو د دم |

كولو څخه منعه فرمايلې ده (نو موږ څه وكړو؟)د دې څخه وروسته نبي كريم ﷺ ته هغوئ هغه دم ور واوروئ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : زه په دې دم كي څه ګناه نه وينم، په تاسو كي چي يو خپل ورور ته نفع رسولای سي ، نو نفع ورته ورسوئ. مسلم.

| | |
|---|---|
| ﴿۴۳۳۱﴾: وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ قَالَ كُنَّا نَرْقِي فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ كَيْفَ | د حضرت عوف بن مالك اشجعي ﷺ څخه روايت دی چي د جاهليت په زمانه كي به موږ جادو |

تَرَى فِي ذَلِكَ فَقَالَ اعْرِضُوا عَلَيَّ رُقَاكُمْ لَا بَأْسَ بِالرُّقَى مَا لَمْ يَكُنْ فِيهِ شِرْكٌ . رواه مسلم.

کوئ (یعني د اسلام د راوړلو څخه مخکې مونږ) وویل: اې د الله ﷺ رسوله! تاسو د دې دم په باره کې څه وایاست؟ نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: تاسو ماته خپل دمونه وښیاست، ترڅوپورې چې په دې دمونو کې شرك نه وي نو زه په دې کې څه ګناه نه وینم. مسلم

**بد نظر حقیقت دی**

(۴۳۳۲): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْعَيْنُ حَقٌّ فَلَوْ كَانَ شَيْءٌ سَابَقَ الْقَدَرَ سَبَقَتْهُ الْعَيْنُ وَإِذَا اسْتُغْسِلْتُمْ فَاغْسِلُوا . رواه مسلم.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: نظر حق دی (یعني نظر کیږي خامخا) که څه شي په تقدیر کې مخته والي وړی وای نو نظر به وړلای (یعني که د تقدیر څخه شی بدلېدونکی وي نو هغه به نظر وای او کله چې ستاسو څخه د پرېولو غوښتنه وسي نو تاسو یې پرېولئ). مسلم، (په هغه زمانه کې دا رواج وو، چې کوم سړی به نظر سو نو د عاین نظر کوونکي لاس، پښې او د نامه لاندې ځای به اوبو سره پرېولل کېدی او په هغو اوبو سره د هغه چا بدن پرېولل کېدی چې هغه به نظر سوی وو او هغه د شفاء سبب په ګڼل کېدی، نبي کریم ﷺ د دې اجازت ورکړی دی او فرمایلي یې دي، که ستاسو څخه ستاسو د اندامونو د پرېوللو سره او په ناروغه باندې د اچولو غوښتنه وسي نو تاسو دا مطالبه و منئ).

## دویم فصل

**د هرې ناروغۍ علاج سته**

(۴۳۳۳): عَنْ أُسَامَةَ بْنِ شَرِيكٍ قَالَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفَنَتَدَاوَى قَالَ نَعَمْ يا عبادالله تَدَاوَوْا فَإِنَّ اللَّهَ لَمْ يَضَعْ دَاءً إِلَّا وَضَعَ لَهُ شفاء غَيْرَ دَاءٍ وَاحِدٍ الْهَرَمُ . رواه احمد والترمذي وابوداؤد.

د حضرت اسامه بن شریك ﷺ څخه روایت دی چې اصحابو کرامو وویل: اې د الله ﷺ رسوله! ایا مونږ په دوا سره علاج کوو؟ نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: هو! اې د خدای تعالی بندګانو دوا (او علاج) کوئ، ځکه چې الله ﷺ کومه ناروغي پیدا کړې ده د هغې لپاره شفاء (او علاج او دوا) هم پیدا کړې ده، خو د یوې ناروغۍ علاج یې نه دی پیدا کړی هغه سپین ږیروالی (بوډاتوب) دی. احمد، ترمذي او ابوداؤد.

## په ناروغ په زوره خوراک مه خورئ

(۴۳۳۴): وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُكْرِهُوا مَرْضَاكُمْ عَلَى الطَّعَامِ فَإِنَّ اللّٰهَ يُطْعِمُهُمْ وَيَسْقِيهِمْ . رواه الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث غريب.

د حضرت عقبه بن عامر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په خپلو ناروغانو باندي په زوره سره خوراك مه كوئ . ځكه چي خداي تعالى په هغوئ باندي څه خوري او څښيني . ترمذي او ابن ماجه . ترمذي ويلي چي دا حديث غريب دی .

## د سرخ باد علاج

(۴۳۳۵): وَ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَوَى أَسْعَدَ بْنَ زُرَارَةَ مِنَ الشَّوْكَةِ . رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د سعد بن زراره پر بدن د سرخ باد ناروغی (د دفعه کولو لپاره)داغ ورکړ . ترمذي ويلي چي دا حديث غريب دی

## ذات الجنب

(۴۳۳۶): وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ أَمَرَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَتَدَاوَى مِنْ ذَاتِ الْجَنْبِ بِالْقُسْطِ الْبَحْرِيِّ وَالزَّيْتِ . رواه الترمذي.

د حضرت زيد بن ارقم ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ حكم وكړ چي د ذات الجنب(نمونيا)علاج په بحري قسط او د زيتون په تيلو سره كوئ . ترمذي، ذات الجنب : د تشي بربڼ ته وايي .

(۴۳۳۷): وَعَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْعَتُ الزَّيْتَ وَالْوَرْسَ مِنْ ذَاتِ الْجَنْبِ. رواه الترمذي.

د حضرت زيد بن ارقم ﷺ څخه روايت دی چي نبي كريم ﷺ د ذات الجنب ناروغی لپاره دزيتون د تېل او ورس تعريف كړی دی . ترمذي

## سنا به دوا ده

(۴۳۳۸): وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ أَنَّ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلَهَا بِمَ تَسْتَمْشِينَ قَالَتْ بِالشُّبْرُمِ قَالَ حَارٌّ جَارٌّ قَالَتْ ثُمَّ اسْتَمْشَيْتُ بِالسَّنَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ أَنَّ شَيْئًا كَانَ فِيهِ شِفَاءٌ مِنَ الْمَوْتِ لَكَانَ فِي السَّنَا. رواه الترمذي و ابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب.

د بي بي اسماء بنت عميس رض څخه روايت دی چي نبي كريم ﷺ د هغې (بي بي اسماء رض څخه) پوښتنه وكړ ، تاسو په كوم شی سره جلاب كوئ ؟ هغې (بي بي اسماء رض) ويل ، په شبرم سره ، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : دا ډېر گرم وي ، بي بي اسماء رض

وايي ، بيا ما په سنا سره جلاب وكړل نبي كريم ﷺ وفرمايل: كه په كوم شي كي د مرگ څخه شفاء واى (يعني د مرگ علاج واى) نو هغه به سنا واى . ترمذي او ابن ماجه، په ترمذي كي دا حديث غريب دى .

**په حرام شي سره درملنه مه كوئ**

| | |
|---|---|
| (۴۳۳۹): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ أَنْزَلَ الدَّاءَ وَالدَّوَاءَ وَجَعَلَ لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءً فَتَدَاوَوْا وَلَا تَدَاوَوْا بِحَرَامٍ . رواه ابوداؤد. | د حضرت ابو درداء ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله ﷻ ناروغي هم پيدا كړي ده او د ناروغى دوا هم او د هري ناروغى لپاره يې يوه دوا مقرر كړي ده ، تاسو په دوائي |

سره(د ناروغى علاج كوئ) ليكن په حرام شي سره علاج مه كوئ(لكه شراب يا د خنزير په غوښو يا وازگه حرام دي په دې سره علاج مه كوئ). ابوداؤد.

**په مردار شي سره درملنه مه كوئ**

| | |
|---|---|
| (۴۳۴۰): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الدَّوَاءِ الْخَبِيثِ . رواه احمد وابوداؤد والترمذي وابن ماجة. | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ په خبيثو (يعني نجسو او مردارو)دوا سره (علاج كول) منعه كړي دي . احمد و ابوداؤد ، ترمذي او ابن ماجه |

**د سر درد، د پښو درد**

| | |
|---|---|
| (۴۳۴۱): وَعَنْ سَلْمَى خَادِمَةِ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ مَا كَانَ أَحَدٌ يَشْتَكِي إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَعًا فِي رَأْسِهِ إِلَّا قَالَ احْتَجِمْ وَلَا وَجَعًا فِي رِجْلَيْهِ إِلَّا قَالَ اخْضِبْهُمَا. رواه ابوداؤد. | بي بي سلمى رض چي د نبي كريم ﷺ خادمه وه وايي ، چا چي به د نبي كريم ﷺ په خدمت كي د سر د درد شكايت وكړ نو نبي كريم ﷺ به ورته د رگ وهلو (وينه توېولو) حكم وركوى او |

چا چي به د پښو د درد شكايت كوى نو هغه ته به يې د نكروځو د لگولو حكم وركوى . ابوداؤد.

**د زخم درملنه**

| | |
|---|---|
| (۴۳۴۲): وَعَنْهَا قَالَتْ مَا كَانَ يَكُونُ بِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرْحَةٌ وَلَا نَكْبَةٌ إِلَّا أَمَرَنِي أَنْ أَضَعَ عَلَيْهَا الْحِنَّاءَ. رواه الترمذي. | بي بي سلمى رض چي د نبي كريم ﷺ خادمه وه وايي چي د نبي كريم ﷺ په بدن باندي چي به څه زخم پيدا سو (لكه د توري يا د چړې) يا كاني |

او ازغى سره به نبي كريم ﷺ زخمي سو نو نبي كريم ﷺ به و ماته حكم راكوئ چي زه په هغه زخم

باندي نكروخي ولګوم . ترمذي.

**وينه كښل**

(۲۳۳۳): وَعَنْ أَبِي كَبْشَةَ الْأَنْمَارِيِّ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَحْتَجِمُ عَلَى هَامَتِه وَبَيْنَ كَتِفَيْهِ وَهُوَ يَقُولُ مَنْ أَهْرَاقَ مِنْ هٰذِهِ الدِّمَاءِ فَلَا يَضُرُّهُ أَنْ لَا يَتَدَاوَى بِشَيْءٍ لِشَيْءٍ. رواه ابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت ابو كبشه ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به د خپل سر مبارك او د دواړو اوږو تر مينځ وينه كښل او فرمايل به يې ، چي څوك د دې وينو څخه (د سر او د اوږو وينو څخه) څه و كاږي (يعني فاسده وينه) هغه كه په يو ناروغي كي په دوا سره علاج و نكړي نو څه نقصان به ورته و نه رسوي . ابوداؤد او ابن ماجه

(۲۳۳۴): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْتَجَمَ عَلَى وِرْكِهِ مِنْ وَثْءٍ كَانَ بِهِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ ګذار خوړلو په وجه د خپل تونتي څخه ډك ښكر وينه وكښل . ابوداؤد

قال انتم ال

(۲۳۳۵): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ حَدَّثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ لَيْلَةِ أُسْرِيَ بِهِ أَنَّهُ لَمْ يَمُرَّ عَلَى مَلَإٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ إِلَّا أَمَرُوْهُ أَنْ مُرْ أُمَّتَكَ بِالْحِجَامَةِ . رواه الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب.

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د معراج د واقعي د اطلاع د وركولو سره وفرمايل: نبي كريم ﷺ چي د ملائكو د كومي تولى سره تيرېدى ، هغوئ به نبي كريم ﷺ ته دا عرض كوئ چي خپل امت ته د وينې كښلو حكم وركړئ. ترمذي او ابن ماجه، په ترمذي كي دا حديث حسن غريب دى ..

**د چونګوښي څخه دوا جوړول منع دي**

(۲۳۳۶): وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عُثْمَانَ أَنَّ طَبِيبًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ضِفْدَعٍ يَجْعَلُهَا فِي دَوَاءٍ فَنَهَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَتْلِهَا . رواه ابوداؤد.

د حضرت عبدالرحمن بن عثمان ﷺ څخه روايت دى چي يو طبيب د رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه چي د چونګوښي (وازګه، وينه، يا غوښه) په دوا كي شامله سي نو څه حكم دى؟ نبي كريم ﷺ د چونګوښي د وژلو (او په دوا كي د ګډولو په سبب د حراموالي د چونګښي) څخه منعه وكړه . ابوداؤد.

## د وينې كښل

﴿۴۳۴۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْتَجِمُ فِي الْأَخْدَعَيْنِ وَالْكَاهِلِ. رواه ابوداؤد و رواه الترمذي وابن ماجة وكان يحتجم لسبع عشرة وتسع عشرة واحدى وعشرين.

د حضرت انس ؓ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به د غاړې ولور ته د دوو رګونو او د اوږو په مينځ كې وينه كښله. ابوداؤد، او په ترمذي او ابن ماجه كې دا الفاظ زيات ليكل سوي دي چې نبي كريم ﷺ به په اوولسم، نولسم او يويشتم تاريخ وينه كښله.

## د وينې كښلو ورځ

﴿۴۳۴۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَسْتَحِبُّ الْحِجَامَةَ لِسَبْعِ عَشْرَةَ وَتِسْعِ عَشْرَةَ وَإِحْدٰى وَعِشْرِيْنَ. رواه في شرح السنة.

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به په اوولسم، نولسم او يويشتم تاريخ وينه كښل مستحب بلل. شرح السنه

﴿۴۳۴۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ احْتَجَمَ لِسَبْعَ عَشْرَةَ وَتِسْعَ عَشْرَةَ وَإِحْدٰى وَعِشْرِيْنَ كَانَ شِفَاءً مِنْ كُلِّ دَاءٍ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې په اوولسم، نولسم او يويشتم تاريخ وينه كاږي هغه به د هرې ناروغۍ څخه نجات پيدا كړي. ابوداؤد

﴿۴۳۵۰﴾: وَعَنْ كَبْشَةَ بِنْتِ أَبِي بَكْرَةَ أَنَّ أَبَاهَا كَانَ يَنْهَى أَهْلَهُ عَنِ الْحِجَامَةِ يَوْمَ الثُّلَاثَاءِ وَيَزْعُمُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ يَوْمَ الثُّلَاثَاءِ يَوْمُ الدَّمِ وَفِيْهِ سَاعَةٌ لَا يَرْقَأُ. رواه ابوداؤد.

د بي بي كبشه بنت ابي بكره رض څخه روايت دی چې د هغې پلار به د سه شنبې په ورځ د وينې كښلو څخه منعه كوله او ويل به يې، نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې د سه شنبې د ورځ وينه د غلبې يا دوران ورځ ده او په دې ورځ كې يو داسې ساعت دی چې په هغه كې د وينې په كښلو سره بيا وينه نه بنديږي. ابوداؤد.

﴿۴۳۵۱﴾: وَعَنِ الزُّهْرِيِّ مُرْسَلًا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ احْتَجَمَ يَوْمَ الْأَرْبِعَاءِ أَوْ يَوْمَ السَّبْتِ فَأَصَابَهُ وَضَحٌ فَلَا يَلُوْمَنَّ إِلَّا نَفْسَهُ. رواه احمد وابو داود وقال: وقد اسند ولا يصح.

حضرت زهری رض مرسلا ه نبي كريم ﷺ څخه نقل كونكي دی، څوك چې د چهار شنبې يا د شنبې په ورځ وينه وكاږي او برص (برګی، په وجود كې د سپينو داغونو مرض دی) سي نو

هغه دې خپل ځان ملامت کړي . احمد او ابوداؤد، او ويل سوي دی چې دا حديث مسند هم نقل سوی دی خو دا خبره صحيح نه ده .

(٤٣٥٢): وَعَنْهُ مُرْسَلاً قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ احْتَجَمَ أَوِ اطَّلَى يَوْمَ السَّبْتِ أَوِ الْأَرْبِعَاءِ فَلاَ يَلُوْمَنَّ إِلاَّ نَفْسَهُ فِي الْوَضَحِ . رواه في شرح السنة .

حضرت زهري رض مرسلا د نبي کريم ﷺ څخه نقل کوي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: څوک چې د چهار شنبې يا د شنبې په ورځ وينه وکاږي يا بدن مالش کړي که پيس سي نو پر خپل ځان دې بد وايي . شرح السنه

## کوډي، تونکه منع ده

(٤٣٥٣): وَعَنْ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ أَنَّ عَبْدَ اللهِ رَأَى فِيْ عُنُقِيْ خَيْطًا فَقَالَ مَا هٰذَا ؟ فَقُلْتُ خَيْطٌ رُقِيَ لِيْ فِيْهِ قَالَتْ فَأَخَذَهُ فَقَطَعَهُ ثُمَّ قَالَ أَنْتُمْ آلَ عَبْدِ اللهِ لَأَغْنِيَاءُ عَنِ الشِّرْكِ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ الرُّقَى وَالتَّمَائِمَ وَالتِّوَلَةَ شِرْكٌ فَقُلْتُ لِمَ تَقُوْلُ هكذا لَقَدْ كَانَتْ عَيْنِيْ تَقْذِفُ وَكُنْتُ أَخْتَلِفُ إِلَى فُلَانٍ الْيَهُوْدِيِّ فَإِذَا رَقَاهَا سَكَنَتْ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ إِنَّمَا ذَاكَ عَمَلُ الشَّيْطَانِ كَانَ يَنْخُسُهَا بِيَدِهِ فَإِذَا رَقَاهَا كَفَّ عَنْهَا إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيْكِ أَنْ تَقُوْلِيْ كَمَا كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ أَذْهِبِ الْبَأْسَ رَبَّ النَّاسِ اشْفِ أَنْتَ الشَّافِي لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا. رواه ابوداؤد.

د حضرت عبدالله بن مسعود ؓ د ښځي بي بي زينبي څخه روايت دی چې عبدالله زما په غاړه کي تار پروت وليد او زما څخه يې پوښتنه وکړه دا څه شي دي؟ ما ورته وويل ، دا تار دی چې په دې سره زما لپاره دم او چوف سوی دی (په دې اوربدو سره) عبدالله وويل ، اې د عبدالله کور والا! تاسو د شرك څخه بالكل بې پروا ياست ، ما د نبي کريم ﷺ څخه دا اورېدلي دي چې جادو شرك دی ، ما ورته وويل ،دا ته څه وايي؟ زما سترګو به اوښکي تويولې او زه به فلاني يهودي ته تلم ، هغه يهودي به دم کړلې نو ما ته به ارام راغلی ، عبدالله وويل ، دا د شيطان کار دی ، هغه به په خپل لاس سره ستا سترګه کنبېکنبل او کوم وخت چې به هغه دم ووايه نو کنبېکنبل به بې پرېښودل . (عبدالله وويل) تا ته صرف دا الفاظ کافي دي کوم وخت چې به نبي کريم ﷺ ويل : (هغه الفاظ دادي)، اذهب الباس رب الناس و اشف انت الشافي لا شفاء الا شفاءك شفاء لا يغادر سقما، ترجمه : بوځه سختي اې د خلکو ربه او شفا راکړه ته شفا ورکونکی يې بغير ستا څخه بل څوک شفا ورکونکی نسته ستا شفا هيڅ مرض نه پرېږدي . ابوداؤد.

### نشره د شیطان کار

﴿۲۳۵۴﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سُئِلَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ النُّشْرَةِ فَقَالَ هُوَ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت جابر ؓ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ څخه د نشره په هکله پوښتنه وسوه (نشره یو جادو دی چي د اسیب (درد ،تکلیف ، صدمه نقصان ، ضرر ، بهره ، خطره ، د پیریانو اثر او د ښار د پیریانو غار) زده باندي ویل سوی وو نبي کریم ﷺ وفرمایل: دا د شیطان کار دی . ابوداؤد.

### د بې پروا خلکو کار

﴿۲۳۵۵﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا أُبَالِي مَا أَتَيْتُ إِنْ أَنَا شَرِبْتُ تِرْيَاقًا أَوْ تَعَلَّقْتُ تَمِيمَةً أَوْ قُلْتُ الشِّعْرَ مِنْ قِبَلِ نَفْسِي . رواه ابوداؤد.

د حضرت عبدالله بن عمر ؓ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي ، زه د هیڅ عمل پروا نه کوم (یعني د څه عمل د کولو)یعني دا چي تارياق و خورم ، په غاړه کي منکه (د جاهلیت د زماني په ډول مری یا هډوکي په غاړه کول ، واچوم یا د خپل زړه (ارادې او قصد) سره شعر ووایم (یعني ماته د دې شیانو په عمل کي د راوستو ضرورت نسته). ابوداؤد.

### داغ لګول د توکل خلاف

﴿۲۳۵۶﴾: وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ قَالَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اكْتَوَى أَوِ اسْتَرْقَى فَقَدْ بَرِئَ مِنَ التَّوَكُّلِ. رواه احمد والترمذي و ابن ماجة.

د حضرت مغیره بن شعبه ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي داغ ولګوئ یا جادو ووایي هغه د توکل څخه خلاص دی (یعني په خداي تعالی باندي د باور څخه بیزاره دی). احمد ، ترمذي او ابن ماجه

﴿۲۳۵۷﴾: وَعَنْ عِيسَى بْنِ حَمْزَةَ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ عُكَيْمٍ وَبِهِ حُمْرَةٌ فَقُلْتُ أَلَا تُعَلِّقُ تَمِيمَةً فَقَالَ نَعُوذُ بِاللهِ مِنْ ذٰلِكَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَعَلَّقَ شَيْئًا وُكِلَ إِلَيْهِ . رواه أبو داود

د حضرت عیسی بن حمزه ؓ څخه روایت دی چي زه عبدالله بن عکیم ته ورغلم ، د هغه بدن د ناروغۍ څخه سور وو ، ما ورته وویل ، ته تعویذ ولي نه اچوې ؟ هغه راته وویل ، موږ د خداي تعالی په واسطه د دې څخه پناه غواړو (څکه چي نبي کریم ﷺ وفرمایل: څوك چي یو شی واچوي یا یې و تړي هغه د هغه حواله کیږي. ابوداؤد.

## د دم الو

(۴۳۵۸): وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا رُقْيَةَ إِلَّا مِنْ عَيْنٍ أَوْ حُمَةٍ . رواه احمد والترمذي و ابوداؤد و رواه ابن ماجة عن بريدة.

د حضرت عمران بن حصین ؓ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: دم کول د نظر یا د زهر دار شی د چینچلو څخه پرته په هیڅ شی کې اثر نه کوي. احمد، ترمذي او ابوداؤد. او په ابن ماجه کې د حضرت برید ؓ څخه روایت کړی دی.

(۴۳۵۹): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا رُقْيَةَ إِلَّا مِنْ عَيْنٍ أَوْ حُمَةٍ أَوْ دَمٍ . رواه ابوداؤد.

د حضرت انس ؓ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: نظر یا د زهر دار حیوان چیچل یا وینه باندې (یعنې د نکسیر خون یا یوازې وینې روانې یا د وینې د فساد) څخه پرته دم پر بل شي اثر نه کوي. ابوداؤد.

## نظر

(۴۳۶۰): وَعَنْ اَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ. قَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّ وَلَدَ جَعْفَرٍ تُسْرِعُ إِلَيْهِمُ الْعَيْنُ أَفَأَسْتَرْقِي لَهُمْ قَالَ نَعَمْ فَإِنَّهُ لَوْ كَانَ شَيْءٌ سَابَقَ الْقَدَرَ لَسَبَقَتْهُ الْعَيْنُ . رواه احمد والترمذي وابن ماجة.

د بي بي اسماء بنت عمیس رض څخه روایت دی چې ما وویل: اې د الله ﷺ رسوله! د جعفر طیار ؓ اولاد (ډېر) ژر نظر کیږي، ایا د دوئ لپاره یو څه دم ووایم. نبي کریم ﷺ وفرمایل: هو که په تقدیر کې څه شي مخته والې کړی وای نو هغه به نظر وای. احمد، ترمذي او ابن ماجه

(۴۳۶۱): وَعَنِ الشِّفَاءِ بِنْتِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا عِنْدَ حَفْصَةَ فَقَالَ أَلَا تُعَلِّمِيْنَ هٰذِهِ رُقْيَةَ النَّمْلَةِ كَمَا عَلَّمْتِيْهَا الْكِتَابَةَ . رواه ابوداؤد.

د بي بي شفاء بنت عبد الله څخه روایت دی چې زه د بي بي حفصې رض سره ناسته وم چې نبي کریم ﷺ تشریف راوړ او ویې فرمایل، ایا ته و حفصې رض ته داسې د (بریښ) (دم) نه ښیې لکه څنګه چې تا خط لیکل ور زده کړي دي. ابوداؤد

## د بد نظر یو واقعه

(۴۳۶۲): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ بْنِ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ قَالَ رَأَى عَامِرُ بْنُ رَبِيعَةَ سَهْلَ بْنَ حُنَيْفٍ يَغْتَسِلُ فَقَالَ مَا رَأَيْتُ كَالْيَوْمِ وَلَا جِلْدَ مُخْبَأَةٍ فَلُبِطَ سَهْلٌ

د حضرت ابو امامه بن سهل بن حنیف ؓ څخه روایت دی چې عامر بن ربیعه چې سهل بن حنیف په غسل کولو باندې ولیدی نو هغه وویل

فَأَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ هَلْ لَكَ فِي سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ وَاللَّهِ مَا يَرْفَعُ رَأْسَهُ فَقَالَ هَلْ تَتَّهِمُونَ لَهُ أَحَدًا قَالُوا نَتَّهِمُ عَامِرَ بْنَ رَبِيعَةَ قَالَ فَدَعَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامِرًا فَتَغَيَّظَ عَلَيْهِ وَقَالَ عَلَامَ يَقْتُلُ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ أَلَّا بَرَّكْتَ اغْتَسِلْ لَهُ فَغَسَلَ عَامِرٌ وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ وَمِرْفَقَيْهِ وَرُكْبَتَيْهِ وَأَطْرَافَ رِجْلَيْهِ وَدَاخِلَةَ إِزَارِهِ فِي قَدَحٍ ثُمَّ صُبَّ عَلَيْهِ فَرَاحَ مَعَ النَّاسِ لَيْسَ لَهُ بَأْسٌ. رواه في شرح السنة و رواه مالك و في روايته قال ان العين حق توضا له فتوضا له.

،قسم په خداي چي د نن ورځ پشان هيڅ ورځ ما نه ده ليدلي او نه د يوي پيغلي انجلۍ د بدن پوست مي د ده د پوست په شان ليدلي دی ، د راوي بيان دی . د دې الفاظو د هغه د ژبې څخه په وتلو سره سهل بن حنيف پر مخکه را ولوېدی وروسته هغه پورته کړل سو او د نبي کريم ﷺ په خدمت کي يې حاضر کړ او عرض وسو اې د الله ﷺ رسوله ! ايا تاسو به د سهل د علاج و لور ته توجه وکړئ ؟ قسم په خدای نن دی خپل سر هم نه سي پورته کولای ، نبي کريم ﷺ وفرمايل: ستاسو په چا باندي گمان دئ چي هغه نظر کری دی، خلکو وويل: زموږ خيال دئ چي عامر بن ربيعه نظر کری دی ، د راوي بيان دی چي نبي کريم ﷺ عامر بن ربيعه را وغوښت او هغه ته يې سخت الفاظ وويل ،بيا يې وفرمايل: په تاسو کي ولي يو څوك مسلمان قتلوي ؟ تا ولي ورته د برکت دعا و نه کړه ؟ بيا يې و هغه ته وفرمايل: اوس ته خپل اندامونه په اوبو سره پرېوله (او په سهل باندي هغه اوبه پنا کړه) عامر خپل مخ ، لاسونه ، څنگلي ، پښې د پښو د گوتي بندونه او د نامه لاندي عضوه پرېوله ، او په يوه کاسه کي يې هغه اوبه راټولي کړي او بيا يې هغه اوبه په سهل باندي پنا کړې ، سهل په دې کار سره د خلکو سره روان سو او څه تکليف ورته پاته نه سو. شرح السنه ،او د مالك په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي نبي کريم ﷺ و عامر ته وفرمايل: نظر حق دی ته د سهل لپاره اودس وکړه نو هغه اودس وکړ او اوبه يې په نظر سوی باندي پنا کړې .

## پناه غوښتل

(۴۳۶۳): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَعَوَّذُ مِنَ الْجَانِّ وَعَيْنِ الْإِنْسَانِ حَتَّى نَزَلَتِ الْمُعَوِّذَتَانِ فَلَمَّا نَزَلَتَا أَخَذَ بِهِمَا وَتَرَكَ مَا سِوَاهُمَا . رواه الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث غريب حسن.

د حضرت ابوسعيد خدری ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د پيريانو او د انسانانو د نظر څخه پناه غوښتله . تر دي پوري چي معوذتين يعني سورة قل اعوذ برب الفلق او سورة قل اعوذ برب الناس نازل سوه کله چي دا سورتونه نازل سوه نو نبي کريم ﷺ به د دې په ذريعه پناه غوښتله او د نورو شيانو په ذريعه باندي

پناه غوښتل يې پرېښودل . ترمذي او ابن ماجه . په ترمذي كي دا حديث حسن غريب دى.

**مغربون د انسان سره پيرى**

| | |
|---|---|
| (۴۳۶۴): وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ لِي رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ رُئِيَ فِيكُمْ الْمُغَرِّبُونَ قُلْتُ وَمَا الْمُغَرِّبُونَ قَالَ الَّذِينَ يَشْتَرِكُ فِيهِمْ الْجِنُّ . رواه ابوداؤد و ذكر حديث ابن عباس خير ما تداويتم في باب الترجل. | د بي بي عائشې رض څخه روايت دى چي نبي كريم ﷺ و ماته وفرمايل: ايا په تاسو كي مغربون ليدل سوي دي؟ ما وويل: مغربون څه شي دي؟ نبي كريم ﷺ وفرمايل: مغربون هغه خلك دي چي پېريان په كښي شريكيږي . ابوداؤد ،د ابن |

عباس رض حديث :خيرماتداويتم په باب الترجل كي بيان سوى دى .(په حديث شريف كي راغلي كه انسان د خپلي كوروالا سره جماع كوي او د جماع په وخت كي د خداي تعالى نوم وا نه خلي يعني دا دعا و نه وايي بسم الله جنبنا الشيطان و جنب الشيطان ما رزقتنا نو شيطان خپل بدن د هغه سره يو ځاى كوي او د هغه د ښځي سره جماع كوي. د بي بي سره د كورولي په وخت كي بسم الله الرحمن الرحيم ويل پكار دي او د شيطان څخه د خداي تعالى په نامه پناه غوښتل پكار ده).

## دريم فصل

**د معدې جوړښت**

| | |
|---|---|
| (۴۳۶۵): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْمِعْدَةُ حَوْضُ الْبَدَنِ وَالْعُرُوقُ إِلَيْهَا وَارِدَةٌ فَإِذَا صَحَّتِ الْمِعْدَةُ صَدَرَتِ الْعُرُوقُ بِالصِّحَّةِ وَإِذَا فَسَدَتِ الْمِعْدَةُ صَدَرَتِ الْعُرُوقُ بِالسُّقْمِ . رواه البيهقي. | د حضرت ابوهريره رض څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: معده د بدن حوض دى او د بدن رګونه د حوض په لور راغلي يعني د انساني بدن د اعضاؤ رګونه و دې حوض ته ترلي دي ، كله چي معده صحيح وي نو دا رګونه د بدن صحت |

قائم ساتلو لپاره د معدې څخه روغ مواد حاصلوي او كله چي معده خرابه وي نو رګونه خراب مواد په حاصلولو سره د ناروغى سبب ګرځي . بيهقي.

**د لړم چيچلو درملنه**

| | |
|---|---|
| (۴۳۶۶): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ بَيْنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ يُصَلِّي فَوَضَعَ يَدَهُ عَلَى الْأَرْضِ فَلَدَغَتْهُ عَقْرَبٌ فَتَنَاوَلَهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ | د حضرت علي رض څخه روايت دى چي يوه شپه رسول الله ﷺ لمونځ كوى چي خپل لاس مبارك يې پر ځمكه كېښېښودى نو يوه لړم و چيچى ، نو نبي كريم ﷺ هغه په چپلكه وهلو سره ووژى ، بيا |

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَعْلِهِ فَقَتَلَهَا فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ لَعَنَ اللّٰهُ الْعَقْرَبَ مَا تَدَعُ مُصَلِّيًا وَلَا غَيْرَهُ أَوْ نَبِيًّا وَغَيْرَهُ ثُمَّ دَعَا بِمِلْحٍ وَمَاءٍ فَجَعَلَهُ فِيْ إِنَاءٍ ثُمَّ جَعَلَ يَصُبُّهُ عَلٰى إِصْبَعِهِ حَيْثُ لَدَغَتْهُ وَيَمْسَحُهَا وَيُعَوِّذُهَا بِالْمُعَوِّذَتَيْنِ. رواهما البيهقي في شعب الإيمان.

چي نبي کريم ﷺ د لمانځه څخه فارغه سو نو يې وفرمايل: پر لړم دې د خداي تعالى لعنت وي، نه لمونځ گزاره پريږدي او نه بې لمانځه يا دايې وفرمايل: چي نه نبي پريږدي او نه غير نبي، د دې څخه وروسته نبي کريم ﷺ مالگه او اوبه را وغوښتلې او په يوه لوښي کي يې دواړه واچول او په هغه کي به يې خپله گوته مبارکه لنده کوله او پر موږل به يې، وروسته يې قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس و لوستل او پر هغه يې چف کړل. دا دواړه حديثونه په بيهقي په شعب الايمان کي روايت سوي دي.

## د نبي ﷺ په وربښته برکت

(۴۳۶۷): وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَوْهَبٍ قَالَ أَرْسَلَنِيْ أَهْلِيْ إِلٰى أُمِّ سَلَمَةَ بِقَدَحٍ مِنْ مَاءٍ وَكَانَ إِذَا أَصَابَ الْإِنْسَانَ عَيْنٌ أَوْ شَيْءٌ بَعَثَ إِلَيْهَا مِخْضَبَةً فَأَخْرَجَتْ مِنْ شَعْرِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَتْ تُمْسِكُهُ فِيْ جُلْجُلٍ مِنْ فِضَّةٍ فَخَضْخَضَتْهُ لَهُ فَشَرِبَ مِنْهُ قَالَ فَاطَّلَعْتُ فِي الْجُلْجُلِ فَرَأَيْتُ شَعَرَاتٍ حَمْرَاءَ. رواه البخاري.

د حضرت عثمان بن عبد الله بن موهب ؓ څخه روايت دی چي زما ميرمني و ماته يوه پياله راکړه چي بي بي ام سلمه رض ته يې ولېږم. رواج دا وو چي کله به څوك نظر سو يا څه ناروغي به سوه نو بي بي ام سلمه رض ته به د اوبو يوه پياله لېږل کېده، ام سلمې رض به د نبي کريم ﷺ وربښته مبارك را کښی چي د سپينو زرو په يوه نلکه کي بند وو او هغه وربښته به يې په اوبو کي اچوی او حرکت به يې ورکوی او وروسته به يې هغه اوبه په ناروغه باندي څښنلې، د راوي بيان دی، ما د سپينو زرو په هغه نلکه کي و کتل نو په هغه کي د نبي کريم ﷺ څو سره وربښتان مبارکان وه. بخاري.

## د پوڅکي خواص

(۴۳۶۸): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ نَاسًا مِنْ أَصْحَابِ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكَمْأَةُ جُدَرِيُّ الْأَرْضِ فَقَالَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكَمْأَةُ مِنَ الْمَنِّ وَمَاؤُهَا شِفَاءٌ لِلْعَيْنِ وَالْعَجْوَةُ مِنَ الْجَنَّةِ وَهِيَ شِفَاءٌ

د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ اصحابو کرامو و نبي کريم ﷺ ته وويل: پوڅکي د مځکي چيچك دی. نبي کريم ﷺ وفرمايل: پوڅکی د من د قسم څخه دی او د هغې اوبه د سترگو لپاره شفاء ده او عجوه خرما د جنت خرما ده او په دې کي د زهرو څخه د شفاء

مِنَ السُّمِّ قَالَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ فَأَخَذْتُ ثَلَاثَةَ أَكْمُؤٍ أَوْ خَمْسًا أَوْ سَبْعًا فَعَصَرْتُهُنَّ وَجَعَلْتُ مَاءَهُنَّ فِيْ قَارُوْرَةٍ وَكَحَلْتُ بِهِ جَارِيَةً لِيْ عَمْشَاءَ فَبَرَأَتْ. رواه الترمذي وقال: هذا حديث حسن.

خاصیت دی، د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چې ما درې، پنځه یا اووه پوڅکۍ واخستلې او د هغوئ اوبه مې و نښتېښلې او د هغو د اوبو څخه مې یو بوتل ډک کړ بیا ما د یوې مینځې په سترګو کې هغه اوبه رانجه کړلې نو هغه ښه سوه. ترمذي ویلي چې دا حدیث حسن دی.

**د شاتو فضیلت**

(۴۳۶۹): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَعِقَ الْعَسَلَ ثَلَاثَ غَدَوَاتٍ كُلَّ شَهْرٍ لَمْ يُصِبْهُ عَظِيْمٌ مِنَ الْبَلَاءِ. رواه ابن ماجة والبيهقي.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چې په هره میاشت کې درې ورځې د سهار په وخت شات وخوري نو هغه بیا په هیڅ یو لوئ مصیبت او بلا کې نه مبتلا کیږي. ابن ماجه او بیهقي.

(۴۳۷۰): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْكُمْ بِالشِّفَاءَيْنِ الْعَسَلِ وَالْقُرْآنِ. رواهما ابن ماجة والبيهقي في شعب الايمان وقال والصحيح ان الخبر موقوف على ابن مسعود.

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: دوه صحت ورکونکي شیان په ځان باندې لازم کړئ (یعني د هغوئ استعمال خامخا کوئ)(۱)- عسل (۲)- قران، دا دواړه حدیثونه ابن ماجه او بیهقي په شعب الایمان کې روایت کړی دي او ویلي یې دي چې اصل خبره داده چې اخیر حدیث پر حضرت ابن مسعود ﷺ باندې موقوف دی.

**بې ضرورته پر سر د وینې کښلو اثر**

(۴۳۷۱): وَعَنْ أَبِيْ كَبْشَةَ الْأَنْمَارِيِّ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْتَجَمَ عَلَى هَامَتِهِ مِنَ الشَّاةِ الْمَسْمُوْمَةِ قَالَ مَعْمَرٌ فَاحْتَجَمْتُ أَنَا مِنْ غَيْرِ سَمٍّ كَذٰلِكَ فِيْ يَافُوْخِيْ فَذَهَبَ حُسْنُ الْحِفْظِ عَنِّيْ حَتّٰى كُنْتُ أُلَقَّنُ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ فِي الصَّلَاةِ. رواه رزين.

د حضرت ابو کبشه انماری ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د یوه زهر لرونکي پسه د غوښې په وجه په خپل سر مبارك کې (د وینو د کښلو په خاطر) رګ ولګوی. د دې حدیث د یو راوي «معمر» بیان دی زما په بدن کې د د زهرو څه اثر نه وو مګر ما په خپل سر کې رګ وواهه چې په هغه سره زما حافظه ولاړه تر دې پورې چې ما ته په لمانځه کې الحمدلله ویل کېدل (بل چا به راته ویل). رزین.

## ۵ ويني کبنلو ورځ

(۲۳۷۲): وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ قَالَ ابْنُ عُمَرَ يَا نَافِعُ تَبَيَّغَ بِيَ الدَّمُ فَأْتِنِي بِحَجَّامٍ وَاجْعَلْهُ شَابًّا وَلَا تَجْعَلْهُ شَيْخًا وَلَا صَبِيًّا قَالَ وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْحِجَامَةُ عَلَى الرِّيقِ أَمْثَلُ وَهِيَ تَزِيدُ فِي الْعَقْلِ وَتَزِيدُ فِي الْحِفْظِ وَتَزِيدُ الْحَافِظَ حِفْظًا فَمَنْ كَانَ مُحْتَجِمًا فَيَوْمَ الْخَمِيسِ عَلَى اسْمِ اللّٰهِ وَاجْتَنِبُوا الْحِجَامَةَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَيَوْمَ السَّبْتِ وَيَوْمَ الْأَحَدِ وَاحْتَجِمُوا يَوْمَ الْاِثْنَيْنِ وَالثُّلَاثَاءِ وَاجْتَنِبُوا الْحِجَامَةَ يَوْمَ الْأَرْبِعَاءِ فَإِنَّهُ الْيَوْمُ الَّذِي أُصِيبَ فِيهِ أَيُّوبُ بِالْبَلَاءِ وَمَا يَبْدُو جُذَامٌ وَلَا بَرَصٌ إِلَّا فِي يَوْمِ الْأَرْبِعَاءِ أَوْ لَيْلَةِ الْأَرْبِعَاءِ. رواه ابن ماجة.

د حضرت نافع ؓ څخه روايت دی چي ابن عمر ؓ وويل : اې نافع! زما په بدن کي وينه جوش کوي ، ته وينه کښونکی را وغواړه ليکن ځوان را وله ، کوچنی يا سپين ږيری مه راوله .د نافع بيان دی د دې څخه وروسته ابن عمر ؓ وويل :ما د نبي کريم ﷺ څخه دا اورېدلي دي چي وينه کښل په نهاره زيات بهتره دي ، په دې سره عقل قوي کيږي او حافظه په تېزيږي او د چا حافظه چي ښه وي د هغه حافظه قوي کيږي ، نو څوك چي وينه کښل غواړي نو هغه دي د خداي تعالی نوم واخلي (بسم الله الرحمن الرحيم) او د پنجشنبې په ورځ دي وينه وکاږي او د جمعې ، شنبې او د يکشنبې په ورځو کي دي وينه نه کاږي ، بيا دي د دوشنبې او سه شنبې په ورځو کي د ي يې و کاږي او د چهار شنبې په ورځ دي وينه نه کاږي ځکه چي د چهار شنبې ورځ هغه ورځ ده چي په هغه کي حضرت ايوب ؑ په مصيبت کي اخته سو . او د جذام او پيس ناروغي د چار شنبې په ورځ يا شپه باندي ښکاره کيږي . ابن ماجه

(۲۳۷۳): وَعَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحِجَامَةُ يَوْمَ الثُّلَاثَاءِ لِسَبْعَ عَشْرَةَ مِنَ الشَّهْرِ دَوَاءٌ لِدَاءِ السَّنَةِ . رواه رزين. رواه حرب بن إسماعيل الكرماني صاحب أحمد وليس إسناده بذاك هكذا في المنتقى وروى رزين نحوه عن أبي هريرة.

د حضرت معقل بن يسار ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د سې شنبې په ورځ په اوولسم تاريخ وينه کښل د کالو سر د ناروغيو دوا ده . رزين، امام احمد بن حنبل رح مصاحب حرب بن اسماعيل کرماني روايت و کړ . د دې حديث اسناد قابل اعتماد نه دی . په (المنتقی) کي داسي د رزين او نورو د حضرت ابو هريره ؓ څخه داسي روايت و کړ .

# بَابُ الْفَالِ وَالطِّيَرَةِ (د ښه او بد فال بيان)

## لومړی فصل

### بد فال منع دی

(۴۳۷۴): عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَا طِيَرَةَ وَخَيْرُهَا الْفَالُ قَالُوا وَمَا الْفَالُ قَالَ الْكَلِمَةُ الصَّالِحَةُ يَسْمَعُهَا اَحَدُكُمْ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي چي بد شګون (فال) هيڅ شی نه دی، بهترينه شی نېك فال دی، اصحابو وويل: فال څه ته وايي؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: هغه نېکه کلمه چي په تاسو کي يې څوك د چا څخه واوري يا په څه ذريعه سره يې واوري. بخاري او مسلم.

### يو څو بې اثره خبري

(۴۳۷۵): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا عَدْوٰى وَلَا طِيَرَةَ وَلَا هَامَةَ وَلَا صَفَرَ وَفِرَّ مِنَ الْمَجْذُوْمِ كَمَا تَفِرُّ مِنَ الْاَسَدِ. رواه البخاري.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تجاوز د مرض (د يو ناروغ څخه بل روغ سړي ته مرض تقليدل) نسته، بدشګون (بدفال) نسته، هامه او صفره نسته (د فال ډولونه دي) او تاسو د جذامي څخه داسي تېښتئ ځرنګه چي خلك د زمري څخه تېښتي. بخاري.

### ساري ناروغي نسته

(۴۳۷۶): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا عَدْوٰى وَلَا هَامَةَ وَلَا صَفَرَ فَقَالَ اَعْرَابِيٌّ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَمَا بَالُ الْاِبِلِ تَكُوْنُ فِي الرَّمْلِ كَاَنَّهَا الظِّبَاءُ فَيُخَالِطُهَا الْبَعِيْرُ الْاَجْرَبُ فَيُجْرِبُهَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَنْ اَعْدَى الْاَوَّلَ. رواه البخاري.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ناروغه کېدل هامه او صفر هيڅ شی نه دی، يوه اعرابي وويل: اې د الله ﷺ رسوله! د اوښانو څه حال دی هغوئ په ريګستان کي داسي اوسيږي څنګه چي هوسئ، بيا په هغوئ کي يو پمن اوښ راسي او نور اوښان پمن کړي، نبي کريم ﷺ وفرمايل: د تولو څخه اولنی اوښ چا پمن کړی. بخاري.

| | |
|---|---|
| (۴۳۷۷): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا عَدْوٰى وَلَا هَامَةَ وَلَا نَوْءَ وَلَا صَفَرَ. رواه مسلم. | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تجاوز د مرض نسته، هامه (د يو مرغه نوم دی عربو عقيده درلودل چي دا هامه د مړي د |

هډوکو څخه پيدا کيږي او هميشه د اوبه راکړئ چغي وهي) نسته، او نه خای د ستورو (د ستورو د منازلو په حساب د باران اټکل) نسته، او نه صفر . مسلم

| | |
|---|---|
| (۴۳۷۸): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَا عَدْوٰى وَلَا صَفَرَ وَلَا غُوْلَ . رواه مسلم. | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دی چي ناروغي پيدا کېدل ، صفر او د صحراؤ بلا هيڅ نسته . مسلم |

### جذامي

| | |
|---|---|
| (۴۳۷۹): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الشَّرِيْدِ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ كَانَ فِيْ وَفْدِ ثَقِيْفٍ رَجُلٌ مَجْذُوْمٌ فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّا قَدْ بَايَعْنَاكَ فَارْجِعْ . رواه مسلم. | حضرت عمرو بن شريد د خپل پلاره څخه روايت کوي چي د ثقيف په جماعت کي يو جذامي وو هغه د نبي کريم ﷺ په خدمت کي |

حاضر سو ، بيعت کول يې غوښتل ، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: موږ ستا بيعت قبول کړی دی ، ته بيرته ولاړ سه . مسلم.

## دويم فصل

### ښه فال اخيستل

| | |
|---|---|
| (۴۳۸۰): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَفَاءَلُ وَلَا يَتَطَيَّرُ وَكَانَ يُحِبُّ الْاِسْمَ الْحَسَنَ . رواه في شرح السنة. | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به فال (ښه فال) کوی او بد فال به يې نه کوی او ښه نوم به يې خوښوی . شرح السنه |

### بدفالي شرک دی

| | |
|---|---|
| (۴۳۸۱): وَعَنْ قَطَنِ بْنِ قَبِيْصَةَ عَنْ أَبِيْهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْعِيَافَةُ وَالطَّرْقُ وَالطِّيَرَةُ مِنَ الْجِبْتِ. رواه ابوداؤد. | حضرت قطن بن قبيصه ﷺ د خپل پلاره څخه روايت کوي چي نبي کريم ﷺ وفرمايل: د مرغه په هوا کول د فال په ډول يا د يوه مرغه څخه فال |

اخيستل يا د هغه په اوربډو سره ډبري ويشتل(د فال د اخستلو لپاره) او بد شگون (بد فال

اخيستل،دا تول د شرك څخه دى . ابوداؤد.

(۴۳۸۲): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الطِّيَرَةُ شِرْكٌ قاله ثَلَاثًا وَمَا مِنَّا إِلَّا وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يُذْهِبُهُ بِالتَّوَكُّلِ . رواه ابوداؤد والترمذي، قَالَ سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيْلَ يَقُوْلُ كَانَ سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ يَقُوْلُ فِيْ هٰذَا الْحَدِيْثِ وَمَا مِنَّا إِلَّا وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يُذْهِبُهُ بِالتَّوَكُّلِ هٰذَا عِنْدِيْ قَوْلُ ابْنِ مَسْعُوْدٍ.

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : بد شگون اخيستل شرك دى ، او د ا الفاظ نبي كريم ﷺ د ري واره وويل : او په موږ كي چي د چا په زړه كي چي شگون يا بدل فال نه څه تردد يا خلجان پيدا اسي نو پر خداي تعالى باندي توكل سره هغه ليري كيږي . ابوداؤد او ترمذي .او امام بخاري رحمة الله عليه . وايي ، سليمان بن حرب دا بيان كرى دى چي د دې حديث اخيري جمله : چي په موږ كي د چا په زړه كي چي الخ دا د رسول الله ﷺ قول نه دى ، دا د ابن مسعود قول دى.

## د جذامي سره خوراك

(۴۳۸۳): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَ بِيَدِ مَجْذُوْمٍ فوضعها مَعَهُ فِي الْقَصْعَةِ ثُمَّ قَالَ كُلْ ثِقَةً بِاللّٰهِ وَتَوَكُّلًا عَلَى اللّٰهِ . رواه ابن ماجة.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د يو جذامي لاس و نيوى او هغه يې (خوراك لپاره) په خپله كاسه كي شريك كړ او ويې فرمايل : ته خوره ، زه په الله ﷺ باندي توكل لرم (چي ستا د ناروغى په ما باندي څه اثر نه كوي). ابن ماجه

## بدفالي نسته

(۴۳۸۴): وَعَنْ سَعْدِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا هَامَةَ وَلَا عَدْوٰى وَلَا طِيَرَةَ وَإِنْ تَكُنِ الطِّيَرَةُ فِيْ شَيْءٍ فَفِي الدار الْفَرَسِ وَالْمَرْأَةِ . رواه ابوداؤد.

د حضرت سعد بن مالك ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هامه ناروغي لگېدل او بد شگون نسته كه بد فالي وي نو هغه به په كور ، اس او ښځه كي وي . ابوداؤد

## ښه نومونه ښه فال

(۴۳۸۵): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُعْجِبُهُ إِذَا خَرَجَ لِحَاجَةٍ أَنْ يَسْمَعَ يَا رَاشِدُ يَا نَجِيحُ. رواه الترمذي.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به د څه ضرورت لپاره بهر راووت نو نبي كريم ﷺ به دا خوښوله چي د چا د ژبي څخه دا الفاظ واوري

اي راشده(اې په سيده لاره باندي تلونکې) اې نجيح(اې د مقصد تر لاسه کونکې) . ترمذي.

(۴۳۸۶): وَعَنْ بُرَيْدَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يَتَطَيَّرُ مِنْ شَيْءٍ فَإِذَا بَعَثَ عَامِلًا سَأَلَ عَنِ اسْمِهِ فَإِذَا أَعْجَبَهُ اسْمُهُ فَرِحَ بِهِ وَرُئِيَ بِشْرُ ذٰلِكَ فِي وَجْهِهِ وَإِنْ كَرِهَ اسْمَهُ رُئِيَ كَرَاهِيَةُ ذٰلِكَ فِي وَجْهِهِ وَإِذَا دَخَلَ قَرْيَةً سَأَلَ عَنِ اسْمِهَا فَإِنْ أَعْجَبَهُ اسْمُهَا فَرِحَ وَرُئِيَ بِشْرُ ذٰلِكَ فِي وَجْهِهِ وَإِنْ كَرِهَ اسْمَهَا رُئِيَ كَرَاهِيَةُ ذٰلِكَ فِي وَجْهِهِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت بريده ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د هيڅ شی څخه بد فال نه اخيستل او کله چي به يې يو عامل (حاکم چيري ليږی نو د هغه څخه به يې د هغه د نامه پوښتنه کوله که د هغه نوم به ښه وو نو نبي کريم ﷺ به په هغه سره خوشحاله سو او خوشحالي به د نبي کريم ﷺ د مخ مبارك څخه څرګندېده او که د هغه نوم به بد وو نو د نبي کريم ﷺ د مخ مبارك څخه به ناخوښي معلومېده او کله چي نبي کريم ﷺ و يوې ابادۍ ته دا خلېدی نو د هغې نوم به يې پوښتی که د هغې نوم به ورباندي ښه ولګېدی نو د خوشحالی علامه به د نبي کريم ﷺ د مخ مبارك څخه ظاهرېده او که چيري د هغې ابادی نوم به بد وو نو د ناخوښی اثار به يې پر مخ مبارك ښکارېدل. ابوداؤد.

**په کور کي بې برکتي**

(۴۳۸۷): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّا كُنَّا فِي دَارٍ كَثُرَ فِيهَا عَدَدُنَا وَ أَمْوَالُنَا فَتَحَوَّلْنَا إِلَى دَارٍ أُخْرَى فَقَلَّ فِيهَا عَدَدُنَا وَقَلَّتْ فِيهَا أَمْوَالُنَا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَرُوهَا ذَمِيمَةً. رواه ابوداؤد.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي يوه سړي وويل: اې د الله ﷺ رسوله ! موږ په يو کور کي اوسېدلو زموږ د کور د وګړو تعداد زيات وو او مال هم را سره زيات وو بيا موږ هغه کور پرېښودئ او بل کور ته ولاړو ، په دې کور کي زموږ د وګړو تعداد هم کم سو او مال مو هم کم سو ، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : دا کور پرېږدئ دا سپېره (منحوس) دی . ابوداؤد.

**د خرابي هوا والا منطقه**

(۴۳۸۸): وَعَنْ يَحْيَى بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ بَحِيرٍ قَالَ أَخْبَرَنِي مَنْ سَمِعَ فَرْوَةَ بْنَ مُسَيْكٍ يَقُولُ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ عِنْدَنَا أَرْضٌ يُقَالُ لَهَا أَبْيَنَ هِيَ أَرْضُ رِيفِنَا وَمِيرَتِنَا وَإِنَّهَا وَبَاؤُهَا شَدِيدٌ فَقَالَ دَعْهَا عَنْكَ

د حضرت يحيی بن عبد الله بن بحير ﷺ څخه روايت دی چي و ما ته يوه سړی بيان وکړ چي هغه د فروه بن مسيك څخه دا اورېدلي وو چي ما وويل: اې د الله ﷺ رسوله ! زموږ سره يوه مځکه ده چي د هغې نوم «ابين» دی ، دا مځکه

فَإِنَّ مِنَ الْقَرَفِ التَّلَفَ. رواه ابوداوٗد.

زموږ د کښت د غلې مخکه ده (یعنې د غلې منډۍ ده چې دلته مال جمع کوو او نورو ښارونو ته یې لیږو) لیکن د دې و باني مرض سخت دی (یعني دلته د وبا ناروغي زیاته ده) نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: د اپرېږدئ ځکه چې د بلا (مصیبت) په نیزدېکت سره هلاکت راځي (یعني په دا مخکه کې د اوسېدو سره د خان د ضائع کېدو ویره ده. ابوداوٗد.

# دریم فصل

**د بد فالي دفع**

(۴۳۸۹): عَنْ عُرْوَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ ذُكِرَتِ الطِّيَرَةُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَحْسَنُهَا الْفَأْلُ وَلَا تَرُدُّ مُسْلِمًا فَإِذَا رَأَى أَحَدُكُمْ مَا يَكْرَهُ فَلْيَقُلِ اللّٰهُمَّ لَا يَأْتِي بِالْحَسَنَاتِ إِلَّا أَنْتَ وَلَا يَدْفَعُ السَّيِّئَاتِ إِلَّا أَنْتَ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ. رواه ابوداوٗد.

د حضرت عروه بن عامر ﷺ څخه روایت دی چې ما د نبي کریم ﷺ په حضور کې د بد فال ذکر وکړ ، نبي کریم ﷺ وفرمایل: ښه شی ښه فال دی ،او یو مسلمان دې د هغه د مقصد او ارادې څخه نه راګرځي ، کله چې په تاسو کې یو څوک داسې شی ووینې چې هغه بد ګڼي نو دا کلمات دې ووايي: اللهم لا یاتی ......... الا بالله . ابوداوٗد

## بَابُ الْكَهَانَةِ (د فال ویلو بیان)

# لومړی فصل

**کاهن، فالګر او رمل ته مه نږدې کېږئ**

(۴۳۹۰): عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ الْحَكَمِ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أُمُورًا كُنَّا نَصْنَعُهَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ كُنَّا نَأْتِي الْكُهَّانَ قَالَ فَلَا تَأْتُوا الْكُهَّانَ قَالَ قُلْتُ كُنَّا نَتَطَيَّرُ قَالَ ذَاكَ شَيْءٌ يَجِدُهُ أَحَدُكُمْ فِي نَفْسِهِ فَلَا يَصُدَّنَّكُمْ قَالَ قُلْتُ وَمِنَّا رِجَالٌ يَخُطُّونَ خطا قَالَ كَانَ نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ يَخُطُّ فَمَنْ وَافَقَ خَطَّهُ فَذَاكَ . رواه مسلم.

د حضرت معاویه بن حکم ﷺ څخه روایت دی چې ما ووېل: اې د الله ﷺ رسوله ! موږ به د جاهلیت په زمانه کې څو کارونه کول ، یعني دا چې موږ به کاهنانو ته تلو (او د هغوئ څخه به مو د غیب د خبرو پوښتنه کوله) نبي کریم ﷺ وفرمایل: اوس تاسو کاهنانو ته مه ورځئ ، بیا ما ووېل: موږ به فال کتئ ، نبي کریم ﷺ وفرمایل: دا یو داسې شی دی چې هر څوک یې په خپل

زره کي پيدا کړي (يعني هرڅوك چي د فال خيال كوي) خو دا خيال دي تاسو د څه كار څخه ونه باسي، بيا ما وويل: په موږ کي به ځينو خګلو خط (ليکی) را كاږي (يعني د رمل (د ترويت يو علم چي د کربنو، ټکو او اعدادو په ذريعه د غيب خبري او د بني ادم د قسمت حال بيانوي) كار كوي، نبي كريم ﷺ وفرمايل: يو نبي (د خداي تعالى په حكم سره) ليکي راكښلې د چا خط چي د هغه موافق راسي هغه رشتيا دی. مسلم.

## د کاهن خبري

(۴۳۹۱): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَأَلَ أُنَاسٌ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْكُهَّانِ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسُوا بِشَيْءٍ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَإِنَّهُمْ يُحَدِّثُونَ أَحْيَانًا بِالشَّيْءِ يَكُونُ حَقًّا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِلْكَ الْكَلِمَةُ مِنَ الْحَقِّ يَخْطَفُهَا الْجِنِّيُّ فَيَقُرُّهَا فِي أُذُنِ وَلِيِّهِ قَرَّ الدَّجَاجَةِ فَيَخْلِطُونَ فِيهَا أَكْثَرَ مِنْ مِائَةِ كَذْبَةٍ. متفق عليه.

د بي بي عائشې رض څخه روايت دی چي ځينو خلکو د نبي كريم ﷺ څخه د کاهنانو په باره کي و پوښتل (چي د دوئ خبري د اعتماد او باور وړ دي او كه څنګه؟) نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: دا هيڅ نه دي خلکو وويل: اې د الله ﷺ رسوله ! ځيني وخت هغوئ داسي خبري كوي چي هغه ربښتني وي، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: هغه كلمه حق ده چي پيريان او شيطان يې را غلا کړي او د خپل دوست په غوږ کي يې داسي وغورځوي څنګه چي يو چرګ د بل چرګ و غوږ ته اذان رسوي، وروسته هغه کاهن په هغه رشتيا كلمه کي د سلو څخه زياتي دروا غجني خبري شاملي كړي. بخاري او مسلم.

(۴۳۹۲): وَعَنْهَا قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَنْزِلُ فِي الْعَنَانِ وَهُوَ السَّحَابُ فَتَذْكُرُ الْأَمْرَ قُضِيَ فِي السَّمَاءِ فَتَسْتَرِقُ الشَّيَاطِينُ السَّمْعَ فَتَسْمَعُهُ فَتُوحِيهِ إِلَى الْكُهَّانِ فَيَكْذِبُونَ مَعَهَا مِائَةَ كَذْبَةٍ مِنْ عِنْدِ أَنْفُسِهِمْ. رواه البخاري.

د بي بي عائشې رض څخه روايت دی چي ما د نبي كريم ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي د ملائيكو يوه دله په وريځ کي را كښته سي او په خپلو کي د کارونو ذكر سره كوي چي د خداي تعالى په نيزد ليکل سوي وي (يعني كوم کارونه چي واقع كيدونكي وي او په تقدير کي ليکل سوي وي) شيطان د هغوئ د خبرو د اوريدو لپاره غوږ نيسي، كله چي د هغوئ څخه خبري واوري نو د کاهنانو په غوږونو کي ور واچوي بيا کاهنان په هغوئ کي د خانه څخه سل نوري د دروا غو خبري اچوي او خلکو ته يې بيانوي. بخاري.

**نجومي او کاهن**

| | |
|---|---|
| (۴۳۹۳): وَعَنْ حَفْصَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَتَى عَرَّافًا فَسَأَلَهُ عَنْ شَيْءٍ لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلَاةُ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً. رواه مسلم. | د بي بي حفصې رض څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ وفرمایل: څوک چې و کاهن او نجومي ته ورسي او د هغه څخه د یوه شي پوښتنه وکړي |

، دهغه د څلوېښتو شپو پورې لمونځونه نه قبلیږي . مسلم

**باران د خدای ﷺ په فضل کیږي**

| | |
|---|---|
| (۴۳۹۴): وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدِ الْجُهَنِيِّ قَالَ صَلَّى لَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الصُّبْحِ بِالْحُدَيْبِيَةِ عَلَى إِثْرِ سَمَاءٍ كَانَتْ مِنَ اللَّيْلَةِ فَلَمَّا انْصَرَفَ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ فَقَالَ هَلْ تَدْرُونَ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ قَالُوا اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ أَصْبَحَ مِنْ عِبَادِي مُؤْمِنٌ بِي وَكَافِرٌ فَأَمَّا مَنْ قَالَ مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللّٰهِ وَرَحْمَتِهِ فَذٰلِكَ مُؤْمِنٌ بِي وَكَافِرٌ بِالْكَوْكَبِ وَأَمَّا مَنْ قَالَ بِنَوْءِ كَذَا وَكَذَا فَذٰلِكَ كَافِرٌ بِي وَمُؤْمِنٌ بِالْكَوْكَبِ . متفق عليه. | د حضرت زید بن خالد جهنی ﷺ څخه روایت دی چې په حدیبیه کي نبي کریم ﷺ و موږ ته د سهار لمونځ راکړ او د شپې باران سوی وو ، د لمانځه د فارغـه کیدو وروسته نبي کریم ﷺ و موږ تـه متوجه سو او ویې فرمایل: تاسو پوهیږئ چې ستا سو پروردګار(په دې وخت) څه فرمایلي دي ، اصحابو کرامو وویل: الله ﷺ او د هغه رسول الله ﷺ ښه پوهیږي. نبي کریم ﷺ ورتـه وفرمایل : الله ﷺ فرمایلي دي ، زما بندګانو نن په داسي |

حال کي سبا کړ چې ځینو په ما ایمان راوړ او ځینو کفر(د خدای تعالی څخه انکار)وکړ ، چاچي دا وویل چې پر موږ د خدای تعالی په فضل او کرم سره باران وسو هغه خو پر ما باندي ایمان راوړ او د ستورو د اثر څخه منکر سو او چا چي دا وویل چې د فلاني ستوري د راختو او د لویدو سره باران وسو هغه کافر سو ، یعني زما څخه منکر سو او په ستورو یې ایمان راوړ. بخاري او مسلم

| | |
|---|---|
| (۴۳۹۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا أَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ بَرَكَةٍ إِلَّا أَصْبَحَ فَرِيقٌ مِنَ النَّاسِ بِهَا كَافِرِينَ يُنْزِلُ اللّٰهُ الْغَيْثَ فَيَقُولُونَ بِكَوْكَبِ كَذَا وَكَذَا . رواه مسلم. | د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چې خدای تعالی د آسمان څخه برکت نازلوي نو د انسانانو یوه ډله د هغې په ذریعه په کفر کي مبتلا سي (یعني د خدای تعالی څخه انکار کوي) خدای تعالی باران کوي او ځیني |

خلك دا وایي چې د فلاني فلاني ستوري د اثر څخه باران وسو . مسلم

## دویم فصل

### نجوم او جادو

| | |
|---|---|
| (۴۳۹۶): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اقْتَبَسَ عِلْمًا مِنَ النُّجُومِ اقْتَبَسَ شُعْبَةً مِنَ السِّحْرِ زَادَ مَا زَادَ . رواه احمد وابوداؤد وابن ماجة. | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چې د نجوم د علم څخه یوه برخه زده کړي ، هغه لکه د جادو یوه برخه چې یې زده کړه او که د دې څخه زیات |

حاصل کړي نو زیات جادو یې حاصل کړ . احمد ، ابوداؤد او ابن ماجه

### د کاهن مشابهت

| | |
|---|---|
| (۴۳۹۷): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَتَی کَاهِنًا فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُولُ أَوْ أَتَی امْرَأَتَهُ حَائِضًا أَوْ أَتَی امْرَأَتَهُ فِي دُبُرِهَا فَقَدْ بَرِئَ مِمَّا أُنْزِلَ عَلَی مُحَمَّدٍ. رواه احمد وابوداؤد. | د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چې و نجوم گر ته ولاړ سي او د هغه بیان رښتني و بولي یا یو څوك چې د ښځي سره په حیض حالت کي جماع وکړي یا څوك چې د ښځي سره د لویو |

بولو په خاي کي جماع وکړي ، هغه د هغه شی څخه منکر او بېزاره سو کوم چې پر محمد ﷺ باندې نازل سوي دي . احمد او ابوداؤد.

## دریم فصل

### د کاهن او نجومي خبري

| | |
|---|---|
| (۴۳۹۸): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا قَضَی اللّٰهُ الْأَمْرَ فِي السَّمَاءِ ضَرَبَتِ الْمَلَائِكَةُ بِأَجْنِحَتِهَا خُضْعَانًا لِقَوْلِهِ كَأَنَّهُ سِلْسِلَةٌ عَلَی صَفْوَانٍ فَإِذَا {فُزِّعَ عَنْ قُلُوبِهِمْ قَالُوا مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ قَالُوا} لِلَّذِي قَالَ { الْحَقَّ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ} فسمعها مسترقوا السَّمْعِ وَمُسْتَرِقُو السَّمْعِ هَكَذَا بَعْضُهُ فَوْقَ بَعْضٍ وَوَصَفَ سُفْيَانُ | د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: الله ﷺ چې په اسمان کي کوم حکم جاري کوي نو ملائکه د هغه کلام څخه داسي بیریږي چې وزرونه یې د خدای ﷺ د بیري څخه رپږدي او دا حکم د هغه خنځیر د اواز په شان وي چې هغه پر صفا کاني را کشیږي (یعني د خدای تعالی ارشاد او حکم رباني د خنځیر د اواز په شان وي) بیا چې د ملائکو د زړونو څخه |

بِكَفِّهِ فَحَرَفَهَا وَبَدَّدَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ فَيَسْمَعُ الْكَلِمَةَ فَيُلْقِيهَا إِلَى مَنْ تَحْتَهُ ثُمَّ يُلْقِيهَا الْآخَرُ إِلَى مَنْ تَحْتَهُ حَتَّى يُلْقِيَهَا عَلَى لِسَانِ السَّاحِرِ أَوِ الْكَاهِنِ فَرُبَّمَا أَدْرَكَ الشِّهَابُ قَبْلَ أَنْ يُلْقِيَهَا وَرُبَّمَا أَلْقَاهَا قَبْلَ أَنْ يُدْرِكَهُ فَيَكْذِبُ مَعَهَا مِائَةَ كَذْبَةٍ فَيُقَالُ أَلَيْسَ قَدْ قَالَ لَنَا يَوْمَ كَذَا وَكَذَا كَذَا وَكَذَا فَيُصَدَّقُ بِتِلْكَ الْكَلِمَةِ الَّتِي سَمِعَتْ مِنَ السَّمَاءِ. رواه البخاري.

خوف او ویره لیري سي نو د کبنتي درجې ملائکه د مقربو ملائکو څخه و پوښتي ستا سو پروردگار څه وفرمایل؟ هغوئ وایي څه چي زموږ پروردگار وفرمایل هغه ټوله حق دي یا هغه ارشاد خداوندي وښایاست او بیا وایي د الله ﷻ ذات لوی او برتر دي هغه خبري چي د ملائکو په مینځ کي کیږي هغه پیریان یا شیطانان واوري چي داسي خبرو ته يې غوږ نیولي وي او ځیني د ځینو څخه لوړ وي او سفیان د هغه وصف پر خپل ورغوي وکړ نو خپل ګوتي يې خلاصي کړلې یعني دا پېریان لړ لړ فاصله باندي سلسله وار ولاړ وي پورته و لاندي ته خبر رسوي او هغه بیا د ځان و کښته پیري یا شیطان ته تردې چي اخیري پیری هغه خبر د جادوګر او کاهن و ژبې ته رسوي او د دې پیریانو د وهلو او زغلولو لپاره د اسمانه څخه په شعلې باندي ویشتل کیږي، کله خو دا شعلې د خبر د رسولو څخه مخکي هغوئ ونیسي او کله د شعلې د رسېدو څخه مخکي شیطان دا خبر ورسوي، کوم وخت چي دا خبر ساحر یا کاهن ته ورسوي نو د هغه خبر سره سل نور درواغ یوري کړي او کله چي هغه ته وویل سي چي تا فلانی فلانی خبره کړې وه هغه خو درواغ ثابته سوه نو په دې خبره سره د هغه د ریښتني تائید کیږي چي هغه ته د اسمان څخه حاصله سوې وه او پیریانو ورته رسولې وه. بخاري.

### ویشتونکي ستوري

(۲۳۹۹): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَخْبَرَنِي رَجُلٌ مِّنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْأَنْصَارِ أَنَّهُمْ بَيْنَهُمْ جُلُوسٌ لَيْلَةً مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُمِيَ بِنَجْمٍ وَاسْتَنَارَ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَاكُنْتُمْ تَقُولُونَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ إِذَا رُمِيَ بِمِثْلِ هَذَا قَالُوا اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ كُنَّا نَقُولُ وُلِدَ اللَّيْلَةَ رَجُلٌ عَظِيمٌ وَمَاتَ رَجُلٌ عَظِيمٌ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنَّهَا لَا يُرْمَى بِهَا لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ وَلَكِنْ رَبُّنَا تَبَارَكَ

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چي یوه انصاري و ماته بیان وکړ چي اصحاب کرام د رسول الله ﷺ سره یوه شپه ناست وه په دې کي یو ستوری وویشتل سو او رڼا يې خپره سوه نبي کریم ﷺ وفرمایل: د جاهلیت په زمانه کي چي به کله دا سي یو ستوری وویشتل سو نو تاسو به څه ویل؟ اصحابو کرامو وویل: چي د حقیقت حال و الله ﷻ او د هغه و رسول الله ﷺ ته معلوم دی، موږ خو به دا ویل چي نن یو لوی کس پیدا سوی دی یا نن ورځ یو لوی کس مړ سوی دی.

وَتَعَالَى اسْمُهُ إِذَا قَضَى أَمْرًا سَبَّحَ حَمَلَةُ الْعَرْشِ ثُمَّ سَبَّحَ أَهْلُ السَّمَاءِ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ حَتَّى يَبْلُغَ التَّسْبِيحُ أَهْلَ هَذِهِ السَّمَاءِ الدُّنْيَا ثُمَّ قَالَ الَّذِينَ يَلُونَ حَمَلَةَ الْعَرْشِ لِحَمَلَةِ الْعَرْشِ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ فَيُخْبِرُونَهُمْ مَا قَالَ فَيَسْتَخْبِرُ بَعْضُ أَهْلِ السَّمَاوَاتِ بَعْضًا حَتَّى يَبْلُغَ الْخَبَرُ هَذِهِ السَّمَاءَ الدُّنْيَا فيخطف الجنُّ السَّمْعَ فَيَقْذِفُونَ إِلَى أَوْلِيَائِهِمْ وَيُرْمَوْنَ بِهِ فَمَا جَاءُوا بِهِ عَلَى وَجْهِهِ فَهُوَ حَقٌّ وَلَكِنَّهُمْ يَقْرِفُونَ فِيهِ وَيَزِيدُونَ . رواه مسلم.

نبي کریم ﷺ وفرمايل: ستوري نه د چا په مرگ ويشتل کيږي او نه د چا په پيدا ښت بلکه زموږ پروردگار چي د هغه نوم برکتناك دی کله چي د څه حکم نافذ کوي نو د عرش الهی پورته کونکي ملائکي تسبيح وايي (يعني سبحان الله ، سبحان الله) بيا د اسمان ملائکي تسبيح وايي چي د عرش الهي پورته کونکي ملائکو ته نيژدې وي تر دې چي د هغوئ د تسبيح اواز د دنيا و اسمان ته راسي بيا هغه ملائکي چي د عرش د پورته کونکو ملائکو نژدې وي د هغوئ څخه پوښتنه وکړي چي ستاسو پروردگار څه وويل ؟ هغوئ د هغه څخه خبر کړي وروسته هغه خبره د هغوئ څخه نوري ملائکي و پوښتي او د هغوئ څخه بيا نوري تردې پوري چي دا سلسله و لاندي اسمان ته راورسيږي وروسته هغه خبر هغه پيريان او شيطانان واوري کوم چي يې غوږ نيولي وي د داسي خبرو منتظر وي او د خپلو دوستانو و غوږونو ته يې ور رسوي او ويشتل کيږي دوئ ،غرض دا چي دا خبر داسي کاهنانو او جادوگرانو ته ورسيږي ليکن دا خلك په هغه کي درواغ شاملوي او د يوې خبري څخه نوري ديري خبري جوړوي . مسلم.

## ستوري د څه لپاره پيدا سوي دي

(۴۴۰۰): وَعَنْ قَتَادَةَ قَالَ خَلَقَ اللهُ تعالى هَذِهِ النُّجُومَ لِثَلَاثٍ جَعَلَهَا زِينَةً لِلسَّمَاءِ وَرُجُومًا لِلشَّيَاطِينِ وَعَلَامَاتٍ يُهْتَدَى بِهَا فَمَنْ تَأَوَّلَ فِيهَا بِغَيْرِ ذَلِكَ أَخْطَأَ وَأَضَاعَ نَصِيبَهُ وَتَكَلَّفَ مَا لَا عِلْمَ لَهُ بِهِ . رواه البخاري. وفي رواية رزين تكلف مالا يعنيه ومالا علم له به وما عجز عن علمه الأنبياء والملائكة وعن الربيع مثله وزاد والله ما جعل الله في نجم حياة أحد ولا رزقه ولا موته وإنما يفترون على الله الكذب ويتعللون بالنجوم.

د حضرت قتاده ﷺ څخه روايت دی چي الله ﷻ دا ستوري د درو خبرو لپاره پيدا کړي دي . (۱)- يو خو اسمان ته د ښائست ورکولو لپاره .(۲)-د پيريانو او شيطانانو د ويشتلو لپاره .(۳)- او دريم د علامو لپاره چي په دې سره خلك لاره پيدا کوي ، چا چي د دې درو فائدو څخه پرته د بلې فائدي لپاره بيان کړ هغه غلطي وکړه ، د خپل عمر حصه يې ضائع کړه او په هغه شی کي يې تکلف وکړ چي په هغه کي ورته علم نه وي بخاري ، او د رزين په روايت کي دا الفاظ زيات دي چي د هغه شی تکلف يې وکړ چي هغه ته

هیڅ فائده نه رسیږي او په هغه شی کي یې تکلف وکړ چي علم یې پکښې نسته چي د هغه د علم څخه انبیاء (پیغمبران)او ملائکي عاجزه دي (نو دوئ به ورباندي څه پوه سي) د ربیع راوي څخه هم داسي روایت نقل دی او په هغه کي دا الفاظ زیات دي په خداي تعالی دي مي قسم وي چي الله ﷻ په ستورو کي نه خو د چا ژوند ټاکلی دی نه د چا مرګ او نه د چا رزق ، دا خلك په خداي تعالی باندي دروغ وایي چي ستوري د وجود او عدم علت (سبب ، وجه) ګرځوي.

### نجومي ساحر دی

(۴۴۰۱): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ مَنِ اقْتَبَسَ بَابًا مِنْ عِلْمِ النُّجُوْمِ لِغَیْرِ مَا ذَکَرَ اللّٰہُ فَقَدْ اقْتَبَسَ شُعْبَةً مِّنَ السِّحْرِ اَلْمُنَجِّمُ کَاهِنٌ وَالْکَاهِنُ سَاحِرٌ وَالسَّاحِرُ کَافِرٌ . رواہ رزین.

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: چاچي د نجوم د علم یوه برخه زده کړه د هغه څخه پرته چي د هغه ذکر الله تعالی کړی دی نو هغه د جادو یوه حصه زده کړه او نجومي (یعني د ستورو په علم پوهېدونکي) کاهن دی او کاهن جادوګر دی او جادوګر کافر دی. رزین.

### باران خدای ﷻ کوي

(۴۴۰۲): وَعَنْ اَبِي سَعِیْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ لَوْ اَمْسَكَ اللّٰہُ عَزَّ وَجَلَّ الْقَطْرَ عَنْ عِبَادِہٖ خَمْسَ سِنِیْنَ ثُمَّ اَرْسَلَهٗ لَاَصْبَحَتْ طَائِفَةٌ مِّنَ النَّاسِ کَافِرِیْنَ یَقُوْلُوْنَ سُقِیْنَا بِنَوْءِ الْمِجْدَحِ. رواہ النسائي.

د حضرت ابو سعید رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: که الله ﷻ د خپلو بندګانو څخه پنځه کاله باران ودروي او بیا باران وکړي نو د خلکو څخه یوه ډله کافران به د خداي تعالی څخه په انکار کولو سره ووایي چي د مجدح (یعني منزل قمر) په وجه پر موږ باندي باران وسو. نسائي.

# كِتَابُ الرّؤْيَا

## (دَ خوبو بيان)

## لومړی فصل

### د مسلمان ښه خوب

| | |
|---|---|
| (۴۴۰۳): عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَبْقَ مِنَ النُّبُوَّةِ اِلَّا الْمُبَشِّرَاتُ قَالُوا وَمَا الْمُبَشِّرَاتُ قَالَ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ. رواه البخاري و زاد مالك برواية عطاء بن يسار يراها الرجل المسلم او ترى له. | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د نبوت د اثارو څخه هيڅ پاته نه دي پرته دمبشراتو څخه (يعني نبوت به زما وروسته ختم سي او د راتلونکو واقعاتو د معلومولو هيڅ ذريعه به پرته د مبشراتو څخه |

پاته نسي) اصحابو كرامو وويل: چي مبشرات د څه ته ويل كيږي؟ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: ښه خوبونه (يعني زيرى وركونكي خوبونه). بخاري او مالك په دې روايت كي چي د عطاء بن يسار ﷺ څخه نقل دى دا الفاظ زيات ليكلي چي نبي كريم ﷺ د ښه خوب وروسته دا الفاظ وفرمايل: هغه ښه خوب چي مسلمان يې د خان لپارهويني يا د هغه لپاره يې بل څوك ويني..

### د ښه خوب فضيلت

| | |
|---|---|
| (۴۴۰۴): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ. متفق عليه. | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ښه خوب د نبوت د شپږ څلوېښتو برخو څخه يوه برخه ده. بخاري او مسلم |

### نبي ﷺ په خوب كي ليدل

| | |
|---|---|
| (۴۴۰۵): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ رَآنِي فِي الْمَنَامِ فَقَدْ رَآنِي فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَتَمَثَّلُ فِيْ صُوْرَتِيْ. متفق عليه. | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي په خوب كي زه وليدم هغه (په حقيقت كي) زه وليدم ځكه چي شيطان |

زما شكل او صورت نه سي اختيارولاى. بخاري او مسلم

| | |
|---|---|
| (۴۴۰۶): وَعَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ | د حضرت ابو قتاده ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله |

اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ رَآنِي فَقَدْ رَأَى الْحَقَّ. متفق عليه.

ﷺ وفرمايل: چا چې زۀ په خوب کې وليدم هغه حق وليدل يعنې ريښتني خوب يې وليدی او زه يې وليدم. بخاري او مسلم

(۴۲۰۷): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ رَآنِي فِي الْمَنَامِ فَسَيَرَانِي فِي الْيَقَظَةِ وَلَا يَتَمَثَّلُ الشَّيْطَانُ بِي. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چې په خوب کې زه وليدم هغه به ژر د بيداری په حالت کې ما ويني او شيطان زما شکل نه سي اختيارولای. بخاري او مسلم.

**ښه يا خراب خوب**

(۴۲۰۸): وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ مِنَ اللّٰهِ وَالْحُلْمُ مِنَ الشَّيْطَانِ فَإِذَا رَأَى أَحَدُكُمْ مَا يُحِبُّ فَلَا يُحَدِّثْ بِهِ إِلَّا مَنْ يُحِبُّ وَإِذَا رَأَى مَا يَكْرَهُ فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللّٰهِ مِنْ شَرِّهَا وَمِنْ شَرِّ الشَّيْطَانِ وَلْيَتْفِلْ ثَلَاثًا وَلَا يُحَدِّثْ بِهَا أَحَدًا فَإِنَّهَا لَنْ تَضُرَّهُ. متفق عليه.

د حضرت ابو قتاده ؓ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ښه خوب د الله ﷻ د لوري څخه دی او بد خوب د شيطان له جانبه دی، څوک چې ښه خوب ويني هغه دې يوازې و هغه چاته بيان کړي چې د هغه سره يې محبت وي او څوک چې بد خوب ويني نو هغه دې د خداي تعالی په ذريعه د بدئ څخه پناه وغواړي او د شيطان څخه دې هم د خداي تعالی په ذريعه پناه وغواړي او درې واره دې و چپه لور ته توکي او چا ته دې هغه خوب نه بيانوي لپاره د دې چې هغه خوب درته نقصان و نه رسوي. بخاري او مسلم.

**کله چې خراب خوب ويني**

(۴۲۰۹): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَأَى أَحَدُكُمُ الرُّؤْيَا يَكْرَهُهَا فَلْيَبْصُقْ عَنْ يَسَارِهِ ثَلَاثًا وَلْيَسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ ثَلَاثًا وَلْيَتَحَوَّلْ عَنْ جَنْبِهِ الَّذِي كَانَ عَلَيْهِ. رواه مسلم.

د حضرت جابر ؓ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کې چې څوک خراب خوب ويني هغه ته پکار ده چې چپه طرف ته درې واره توکي او د خداي تعالی په ذريعه دې د شيطان څخه درې واره پناه و غواړی او خپل اړخ دې بدل کړي چې پر کوم يې خوب ليدلی وي. مسلم.

## د خوبو تعبیر

(۴۲۱۰): وَ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اقْتَرَبَ الزَّمَانُ لَمْ يَكَدْ يَكْذِبُ رُؤْيَا الْمُؤْمِنِ وَرُؤْيَا الْمُؤْمِنِ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ وَمَا كَانَ مِنَ النُّبُوَّةِ فَإِنَّهُ لَا يَكْذِبُ قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ سِيرِيْنَ وَأَنَا أَقُولُ الرُّؤْيَا ثَلَاثٌ حَدِيثُ النَّفْسِ وَتَخْوِيفُ الشَّيْطَانِ وَبُشْرَى مِنَ اللّٰهِ فَمَنْ رَأَى شَيْئًا يَكْرَهُهُ فَلَا يَقُصُّهُ عَلَى أَحَدٍ وَلْيَقُمْ فَلْيُصَلِّ قَالَ وَكَانَ يُكْرَهُ الْغُلُّ فِي النَّوْمِ وَكَانَ يُعْجِبُهُمُ الْقَيْدُ وَيُقَالُ الْقَيْدُ ثَبَاتٌ فِي الدِّينِ . متفق عليه .قال البخاري رواه قَتَادَةُ وَيُونُسُ وَهِشَامٌ وَأَبُو هِلَالٍ عَنِ ابْنِ سِيرِينَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَقَالَ يُونُسُ لَا أَحْسِبُهُ إِلَّا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْقَيْدِ وقال مسلم لَا أَدْرِيْ هُوَ فِي الْحَدِيثِ أَمْ قَالَهُ ابْنُ سِيرِينَ وَفِيْ رِوَايَةٍ نَحْوَهُ وَأَدْرَجَ فِي الْحَدِيثِ قَوْلَهُ وَأَكْرَهُ الْغُلَّ إِلَى تَمَامِ الْكَلَامِ.

د حضرت ابوهریره ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: چي کله زمانه نیږدې سي د مؤمن خوب به درواغ نه وي ځکه چي د مؤمن خوب د نبوت د شپږڅلوېښتو برخو څخه یوه برخه ده ، کوم شی چي د نبوت د اجزاؤ څخه وي هغه هیڅکله درواغ کېدای نه سي . د محمد بن سیرین قول دی :زه وایم چي خوب پر درې دوله دی : (۱)- یو خو انساني خیال دی .(۲)- د شیطان وېرول.(۳)- د خدای تعالی له لوري بشارت ، نو څوك چي خراب خوب ویني هغه دې و چا ته نه بیانوي(او دخراب خوب د لېدو څخه وروسته) ولاړ دې سي او لمونځ دې وکړي (یعني د نفل لمونځ څومره چي ممکن وي). د ابن سیرین رح بیان دی چي نبي کریم ﷺ په خوب کي طوق لیدل بد ګڼل او قید یعني په پښو کي بیړۍ پرتې لیدل به یې ښه ګڼل او ویل کیږي (یعني د خوب د تعبیرو د ماهرانو قول دی) چي د قید معنی ده په دین کي ثابت قدمي . بخاري او مسلم .او په بخاري کي دا حدیث د قتاده ؓ، یونس ؓ ، هشیم ؓ او ابو هلال ؓ د ابن سیرین ؓ څخه او هغوئ د حضرت ابو هریره ؓ څخه روایت کړی دی . یونس وویل ، زما په خیال د قید په اړه د نبي کریم ﷺ څخه روایت سوی دی . او د مسلم بیان دی چي ما ته نه ده معلومه چي دا د حدیث برخه ده یا د ابن سیرین ؓ قول دی او په یوه روایت کي هم داسې دي او ما په حدیث کي د هغه قول : و اکره الغل څخه تر اخیره پورې درج کړی دی .په دې حدیث کي «د زما نه نیږدې کېدو» څلور معناوې دي :(۱)- یو خو قرب قیامت یعني کوم وخت چي د قیامت وخت راسي .(۲)- دویمه معنی یې داده چي د مرګ زمانه نیږدې سي .(۳)-دریمه معنی یې داده چي هغه موسم چي په هغه کي شپه او ورځ برابره سي په دې موقع مزاج د اعتدال وي .(۴)- د زمانې د نیږدې کېدو څلورمه معنی داده ، کله چي میاشته د ورځو په شان سي او هغه د امام مهدي ؑ

زمانه ده چې د عيش په وجه به زمانه تېرېدونکې نه معلومېږي .

**بېرونکې خوب**

| | |
|---|---|
| (۴۴۱۱): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ كَأَنَّ رَأْسِي قُطِعَ قَالَ فَضَحِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ إِذَا لَعِبَ الشَّيْطَانُ بِأَحَدِكُمْ فِي مَنَامِهِ فَلَا يُحَدِّثْ بِهِ النَّاسَ. رواه مسلم. | د حضرت جابر ﷛ څخه روايت دى چې يو صحرائي د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر سو او وه يې ويل: چې ما په خوب كې و ليدل چې زما سر پرې سوى دى (په دې اورېدو سره نبي كريم ﷺ مسكي سو او و يې فرمايل : كله |

چې شيطان په خوب كې د چا سره لوبې كوي نو هغه دې هغه خوب و خلكو ته نه بيانوي . مسلم.

**د نبي كريم ﷺ خوب ليدل**

| | |
|---|---|
| (۴۴۱۲): وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَيْتُ ذَاتَ لَيْلَةٍ فِيمَا يَرَى النَّائِمُ كَأَنَّا فِي دَارِ عُقْبَةَ بْنِ رَافِعٍ فَأُتِينَا بِرُطَبٍ مِنْ رُطَبِ ابْنِ طَابٍ فَأَوَّلْتُ الرِّفْعَةَ لَنَا فِي الدُّنْيَا وَالْعَاقِبَةَ فِي الْآخِرَةِ وَأَنَّ دِينَنَا قَدْ طَابَ. رواه مسلم. | د حضرت انس ﷛ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل : ما د شپې خوب و ليدى چې زه او زما اصحاب د عقبه بن رافع په كور كې ناست يو بيا زموږ مخته تازه خرماوي راوړل سې چې رطب بن طاب ورته ويل كيږي ما د دې خوب |

تعبير وكړ چې په دنيا كې به زموږ لپاره لوړ والي او عظمت وي او په اخيرت كې به خير او دا چې زموږ دين ښه دى . مسلم.

**د هجرت متعلق خوب**

| | |
|---|---|
| (۴۴۱۳): وَعَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ أَنِّي أُهَاجِرُ مِنْ مَكَّةَ إِلَى أَرْضٍ بِهَا نَخْلٌ فَذَهَبَ وَهَلِي إِلَى أَنَّهَا الْيَمَامَةُ أَوْ هَجَرُ فَإِذَا هِيَ الْمَدِينَةُ يَثْرِبُ وَرَأَيْتُ فِي رُؤْيَايَ هٰذِهِ أَنِّي هَزَزْتُ سَيْفًا فانقطع صَدْرُهُ فَإِذَا هُوَ مَا أُصِيبَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ أُحُدٍ ثُمَّ هَزَزْتُهُ بِأُخْرَى فَعَادَ أَحْسَنَ مَا كَانَ فَإِذَا هُوَ مَا جَاءَ اللّٰهُ بِهِ مِنَ الْفَتْحِ وَاجْتِمَاعِ الْمُؤْمِنِينَ. متفق عليه. | د حضرت ابو موسى ﷛ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل : ما په خوب كې وليدل چې زه د مكې څخه يو داسې علاقې ته هجرت كوم چې په هغه كې خرماوي دي ، په دې تعبير كې زما خيال سو (چې كوم ځاى ته زه هجرت كوم هغه ښار «يمامه» يا هجر دي او په حقيقت كې هغه مدينه و ختله چې د هغې اولنى نوم يثرب دى ، په دې خوب كې ما وليدل چې زه و توري ته حركت وركوم او د هغې توري لوړه |

برخه ماته سوى ده ، د دې تعبير دا و ختى چې د احد په غزا كې و مسلمانانو ته تكليف و رسېدى

، بيا ما په خوب كي ولیدل چي ما و توري ته بيا حركت ورکړ نو توره په خپل اصلي حالت كي سوه بلکه د هغه څخه ښه سوه ، د دې تعبير هغه فتحه وه چي خداي تعالى (په مكه كي) راكړه يا صلحه حديبيه (چي په هغه كي د مسلمانانو اجتماع وسوه) بخاري او مسلم.

**د يو خوب تعبير**

(۴۴۱۴): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ أُتِيتُ بِخَزَائِنِ الْأَرْضِ فَوُضِعَ فِي كَفِّي سِوَارَانِ مِنْ ذَهَبٍ فَكَبُرَا عَلَيَّ فَأَوْحَى إِلَيَّ أَنِ انْفُخْهُمَا فَنَفَخْتُهُمَا فَذَهَبَا فَأَوَّلْتُهُمَا الْكَذَّابَيْنِ اللَّذَيْنِ أَنَا بَيْنَهُمَا صَاحِبَ صَنْعَاءَ وَصَاحِبَ الْيَمَامَةِ. متفق عليه، و في رواية يقال احدهما مسيلمة صاحب اليمامة والعنسي صاحب صنعاء و لم اجد هذه الرواية في الصحيحين و ذكر صاحب الجامع عن الترمذي.

د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زه بيده وم چي د ټولي نړۍ خزانې زما و مخته پېش سوې او وروسته بيا زما په لاس كي د سرو زرو دوه باهوګان كښېښودل سوه ، پر ما باندي دا بده و لګېدل يعني د هغې زما په لاسونو كي كېدل پر ما ګرانه تمامه سوه او وروسته ماته ته وحي وسوې چي دا باهوګان پوه كړه نو ما هغه پوه كړل او هغه باهوګان والوتل، ما د دې خوب دا تعبير وكړ چي زه د دوو دروغجنو مدعيانو نبوت په مېنځ كي يم يعني يو خو د صنعاء اوسېدونكي دی او د ويم ديمامه. بخاري او مسلم او په يوه بل روايت كي دا الفاظ هم دي چي په هغوي كي يو «مسيلمه د يمامه اوسېدونكي دی او بل عنسي د صنعا اوسيدونكي» په صحيحين كي دا روايت نه پيدا كيږي ليكن صاحب الجامع دا د ترمذي څخه نقل كړی دی.

(۴۴۱۵): وَعَنْ أُمِّ الْعَلَاءِ الْأَنْصَارِيَّةِ قَالَتْ رَأَيْتُ لِعُثْمَانَ ابن مظعون فِي النَّوْمِ عَيْنًا تَجْرِي فقصصتها على رسول الله صلى الله عليه وسلم فَقَالَ ذَاكَ عَمَلُهُ يَجْرِي لَهُ. رواه البخاري.

د بي بي ام العلاء انصاريه رض څخه روايت دی چي ما په خوب كي د عثمان بن مظعون لپاره (چي مهاجر مجاهد وو)او د اسلامي لښكر چوكيداري يې كوله يوه جاري چينه وليده ، نبي كريم ﷺ ته مي دا خوب بيان كړ نو نبي كريم ﷺ وفرمايل: دا د عمل ثواب دی چي هغه لپاره جاري سوی دی يعني د هغه د دې عمل ثواب به همېشه جاري وي. بخاري

**د عالم برزخ متعلق د نبي كريم ﷺ خوب**

(۴۴۱۶): وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى أَقْبَلَ عَلَيْنَا

د حضرت سمره بن جندب ؓ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ دا عادت وو چي د سهار لمونځ

بِوَجْهِهِ فَقَالَ مَنْ رَأَى مِنْكُمُ اللَّيْلَةَ رُؤْيَا قَالَ فَإِنْ رَأَى أَحَدٌ قَصَّهَا فَيَقُولُ مَا شَاءَ اللّٰهُ فَسَأَلَنَا يَوْمًا فَقَالَ هَلْ رَأَى أَحَدٌ مِنْكُمْ رُؤْيَا قُلْنَا لَا قَالَ لٰكِنِّي رَأَيْتُ اللَّيْلَةَ رَجُلَيْنِ أَتَيَانِي فَأَخَذَا بِيَدِي فَأَخْرَجَانِي إِلَى الْأَرْضِ الْمُقَدَّسَةِ فَإِذَا رَجُلٌ جَالِسٌ وَرَجُلٌ قَائِمٌ بِيَدِهِ كَلُّوبٌ مِنْ حَدِيدٍ يُدْخِلُهُ فِي شِدْقِهِ فَيَشُقُّهُ حَتّٰى يَبْلُغَ قَفَاهُ ثُمَّ يَفْعَلُ بِشِدْقِهِ الْآخَرِ مِثْلَ ذٰلِكَ وَيَلْتَئِمُ شِدْقُهُ هٰذَا فَيَعُودُ فَيَصْنَعُ مِثْلَهُ قُلْتُ مَا هٰذَا قَالَا انْطَلِقْ فَانْطَلَقْنَا حَتّٰى أَتَيْنَا عَلٰى رَجُلٍ مُضْطَجِعٍ عَلٰى قَفَاهُ وَرَجُلٌ قَائِمٌ عَلٰى رَأْسِهِ بِفِهْرٍ أَوْ صَخْرَةٍ فَيَشْدَخُ بِهِ رَأْسَهُ فَإِذَا ضَرَبَهُ تَدَهْدَهَ الْحَجَرُ فَانْطَلَقَ إِلَيْهِ لِيَأْخُذَهُ فَلَا يَرْجِعُ إِلٰى هٰذَا حَتّٰى يَلْتَئِمَ رَأْسُهُ وَعَادَ رَأْسُهُ كَمَا كَانَ فَعَادَ إِلَيْهِ فَضَرَبَهُ فَقُلْتُ مَا هٰذَا قَالَا انْطَلِقْ فَانْطَلَقْنَا حَتّٰى أَتَيْنَا إِلٰى نَقْبٍ مِثْلِ التَّنُّورِ أَعْلَاهُ ضَيِّقٌ وَأَسْفَلُهُ وَاسِعٌ يَتَوَقَّدُ تَحْتَهُ نَارًا فَإِذَا ارْتَفَعَتْ ارْتَفَعُوا حَتّٰى كَادَ أَنْ يَخْرُجُوا مِنْهَا فَإِذَا خَمَدَتْ رَجَعُوا فِيهَا وَفِيهَا رِجَالٌ وَنِسَاءٌ عُرَاةٌ فَقُلْتُ مَنْ هٰذَا قَالَا انْطَلِقْ فَانْطَلَقْنَا حَتّٰى أَتَيْنَا عَلٰى نَهَرٍ مِنْ دَمٍ فِيهِ رَجُلٌ قَائِمٌ عَلٰى وَسَطِ النَّهَرِ وَعَلٰى شَطِّ النَّهَرِ رَجُلٌ بَيْنَ يَدَيْهِ حِجَارَةٌ فَأَقْبَلَ الرَّجُلُ الَّذِي فِي النَّهَرِ فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَخْرُجَ رَمَى الرَّجُلُ بِحَجَرٍ فِي فِيهِ فَرَدَّهُ حَيْثُ كَانَ فَجَعَلَ كُلَّمَا جَاءَ لِيَخْرُجَ رَمٰى فِي فِيهِ بِحَجَرٍ فَيَرْجِعُ كَمَا كَانَ فَقُلْتُ مَا هٰذَا قَالَا انْطَلِقْ فَانْطَلَقْنَا حَتّٰى انْتَهَيْنَا إِلٰى رَوْضَةٍ خَضْرَاءَ فِيهَا شَجَرَةٌ عَظِيمَةٌ وَفِي أَصْلِهَا شَيْخٌ

به يې وکړنو زموږ و لور ته به يې مخ کړ او پوښتنه به يې کوله چې په تاسو کي نن شپه چا خوب ليدلی دی ؟ د راوي بيان دی چې په موږ کي به چا خوب ليدلي وو هغه به يې نبي کريم ﷺ ته بيان کړ نو نبي کريم ﷺ به ويل ماشاء الله. يوه ورځ نبي کريم ﷺ وفرمايل: په تاسو کي چا خوب ليدلي دی ؟ موږ وويل: يا ، نبي کريم ﷺ وفرمايل: ليکن نن شپه ما خوب ليدلي دي چې دوه کسان ماته راغله ، زما دواړه لاسونه يې په خپلو لاسونو کي و نيول او زه يې ارض مقدس ته بوتلم (يعني شام ته) هلته ما وليدل چې يو سړی ناست دی او د يوه بل سړی په لاس کي د اوسپني يو انبور نيولی ولاړ دی ، دا سړی د ناست سړی په خوله کي انبور او هغه د خولې د کونج څخه بيا تر څټ پوري څيري بيا هغه دويم طرف د خولې کونج ته ځي او هغه هم څيروي ، اولنی کونج صحيح سي او بيا هغه د هغه کونج طرف ته راځي او هغه څيري په دې دوران کي د ويم کونج ښه سي او هغه بيا هغه څيري ، ما د هغه خلکو څخه پوښتنه وکړه دا څه دي؟ هغوئ راته وويل ، مخته تشريف يوسه نو موږ مخته روان سولو ترڅ چې زه يوه سړي ته ورسېدم چې پرمخی پروت دی او يو سړی د هغه سرته يوه دومره لويه ډبره اخيستې ولاړ وو چې د هغه په لاس کي نه ځائېدل يا نبي کريم ﷺ داسي وفرمايل: چې يوه لويه ډبره اخيستی ولاړ وو چې په هغه سره يې په مخکه باند د هغه سړی سر

وَصِبْيَانٌ وَإِذَا رَجُلٌ قَرِيبٌ مِنَ الشَّجَرَةِ بَيْنَ يَدَيْهِ نَارٌ يُوقِدُهَا فَصَعِدَا بِي فِي الشَّجَرَةِ فَأَدْخَلَانِي دَارًا وَسْطَ الشَّجَرَةِ لَمْ أَرَ قَطُّ أَحْسَنَ مِنْهَا فِيهَا رِجَالٌ شُيُوخٌ وَشَبَابٌ وَنِسَاءٌ وَصِبْيَانٌ ثُمَّ أَخْرَجَانِي مِنْهَا فَصَعِدَا بِي الشَّجَرَةَ فَأَدْخَلَانِي دَارًا هِيَ أَحْسَنُ وَأَفْضَلُ فِيهَا شُيُوخٌ وَشَبَابٌ فَقُلْتُ لَهُمَا إِنَّكُمَا طَوَّفْتُمَانِي اللَّيْلَةَ فَأَخْبِرَانِي عَمَّا رَأَيْتُ قَالَا نَعَمْ أَمَّا الَّذِي رَأَيْتَهُ يُشَقُّ شِدْقُهُ فَكَذَّابٌ يُحَدِّثُ بِالْكَذْبَةِ فَتُحْمَلُ عَنْهُ حَتَّى تَبْلُغَ الْآفَاقَ فَيُصْنَعُ بِهِ مَا تَرَى إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَالَّذِي رَأَيْتَهُ يُشْدَخُ رَأْسُهُ فَرَجُلٌ عَلَّمَهُ اللَّهُ الْقُرْآنَ فَنَامَ عَنْهُ بِاللَّيْلِ وَلَمْ يَعْمَلْ بِمَا فِيهِ بِالنَّهَارِ يُفْعَلُ بِهِ مَا رَأَيْتَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَالَّذِي رَأَيْتَهُ فِي الثَّقْبِ فَهُمُ الزُّنَاةُ وَالَّذِي رَأَيْتَهُ فِي النَّهَرِ آكِلُوا الرِّبَا وَالشَّيْخُ الذي رايته فِي أَصْلِ الشَّجَرَةِ إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَالصِّبْيَانُ حَوْلَهُ فَأَوْلَادُ النَّاسِ وَالَّذِي يُوقِدُ النَّارَ مَالِكٌ خَازِنُ النَّارِ وَالدَّارُ الْأُولَى الَّتِي دَخَلْتَ دَارُ عَامَّةِ الْمُؤْمِنِينَ وَأَمَّا هَذِهِ الدَّارُ فَدَارُ الشُّهَدَاءِ وَأَنَا جِبْرِيلُ وَهَذَا مِيكَائِيلُ فَارْفَعْ رَأْسَكَ فَرَفَعْتُ رَأْسِي فَإِذَا فَوْقِي مِثْلُ السَّحَابِ وفي رواية مِثْلَ الرَّبَابَةِ الْبَيْضَاءِ قَالَا ذَاكَ مَنْزِلُكَ قُلْتُ دَعَانِي أَدْخُلْ مَنْزِلِي قَالَا إِنَّهُ بَقِيَ لَكَ عُمُرٌ لَمْ تَسْتَكْمِلْهُ فَإِذَا اسْتَكْمَلْتَ أَتَيْتَ مَنْزِلَكَ . رواه البخاري. و ذكر حديث عبدالله بن عمر في رؤيا النبي صلى الله عليه وسلم في المدينة في باب حرم المدينة.

چيتوى كله چي دبره د هغه پر سر ولگېده نو هغه دبره به په گېلېدو ليري و لاړه بيا به د هغه كاني د راوړلو لپاره تلی هغه به بېي لا راوړي نه وه په دې جريان كي به د هغه سر داسي جوړ سوی وو لكه پخوا او هغه به بيا په دې دبره سره وويشتل سو . دا سلسله جاري وه ما پوښتنه وكړه چي دا څه معامله ده؟ هغه سری راته وويل ، مخته تشريف يوسئ ، نو موږ پر مخ ولاړو تر دې پوري چي يوې كندې ته ورسېدو چي د تنور په شان وه يعني سر يې تنگ وو دننه پراخ وه په هغه كي اور بلېدی ، كله چي به د هغې كندې اور تيز سو نو خلك چي په اور كي دننه وه په شعلو سره راپورته كېدل تر دې پوري چي د كندې څخه به را ختلو ته نيژدې وه او كله چي به د شعلو اور كم سو نو هغه خلك به بيرته لاندي و غورځېدل ، په دې اور كي ډېر خلك او ښځي وې او ټول لغ وه ، ما پوښتنه وكړه چي دا څه دی ؟ هغو دوو كسانو راته وويل ، چي مخته تشريف يوسئ ، نو موږ و مخته ولاړو او يوې ويالي ته ورسېدو چي د وينو څخه ډكه وه د هغې په نس كي يو سړی ولاړ وو او د ولې پر غاړه يو سړی وو چي مخته يې كاني پراته وه كله چي هغه سړی چي د ويالي په نس كي ولاړ وو و غاړې ته د راوتلو په نيت را مخته سو نو هغه سړي چي پر غاړه ولاړ وو هغه د ولې د نس سړي به يې پر خوله په كانو سره وويشتی نو هغه به بيرته و خپل ځای ته ولاړ ، په ويالـه كي د ننه سړی چي به د را وتلو اراده

و کړه نو غاړي والا سرې به پر خوله په کانو ویشتی او هغه به خپل ځای ته بیرته تلی ، ما پوښتنه وکړه چي دا څه معامله ده ؟ هغو دوو کسانو راته وویل چي پر مخ ځه ، نو موږ مخته ولاړو تر دې پوري چي موږ و یوه شنه باغ ته ورسېدو ، په هغه باغ کي یوه لویه ونه وه چي د هغې لاندي یو زوړ سړی او څو هلکان ناست وه درختي ته نږدې یو بل کس وو چي د هغه و مخته اور بلېدی او هغه یې تیزوی ، هغه دوه کسان چي زما سره وه زه یې د درختي سر ته بوتلم او په یوه داسي ځای کي یې دا خل کړم چي د وني بالکل په مینځ کي واقع وو ، دا ځای دومره ښائسته وو چي ما دومره ښائسته ځای نه وو لیدلی ، په دې ځای کي څو سپین ږیري ، خوانان، ښځي او هلکان وه بیا هغو دوو کسانو زه را وایستلم او و یوې درختي ته یې بوتلم او په یوه داسي کور کي یې داخل کړم چي د اولني ځای څخه زیات ښائسته وو او په هغه کي سپین ږیري او خوانان وه . ما و هغو دوو کسانو ته وویل ، تاسو خو زه نن شپه ډېر و گرځولم لیکن ما چي څه لیدلي دي د هغوئ د حقیقت څخه مي خبر کړئ ، هغوئ راته وویل ښه دی، کوم سړي چي تا ولیدی چي د خولې کونجان یې تر څټ پوري څېرېدل هغه درواغجنان دي او درواغ وایي او وروسته بیا د هغوئ د درواغو خبري بیانیږي تردې پوري چي هغه و هر لور ته ورسیږي او د هغه سره به دا سزا چي تا د دوئ ولیدل تر قیامته پوري کیږي او د کوم سړي چي سر چیتېږی (میده کیږي) هغه ته خداي تعالی قرانکریم ښودلی وو هغه به د قرانکریم څخه غافل اود شپې به بیده وو او د ورځي به یې د قرانکریم مطابق عمل نه کوی نو د هغه سره به دا عمل چي تا ولیدی تر قیامته پوري کیږي او کوم خلك چي په تنور کي دي لیدلي دي هغه زنا کاره دي او هغه سړي چي په ویالې کي دي ولیدل هغه سود خور دی او هغه سپین ږیري چي د وني لاندي ناست وو هغه حضرت ابراهیم ﷺ دی او د هغه سره چي کوم کوچنیان وه هغوئ د خلکو اولاد دی او هغه سړي چي اور تېزوي د دوږخ محافظ (خزانه دار) دی او د وني سره اولنی کور په کوم کي چي ته دا خل سوې په جنت کي د عامو مؤمنانو ځای دی او دغه کور د شهیدانو کور دی او زه جبرائیل ﷺ یم او دا زما ملگری مکائیل ﷺ دی اوس تاسو سر پور ته کړئ ما چي سر پورته کړ نو زما سر ته لوړ د وریځي په شان یو شی وو او په یوه روایت کي راغلي چي غټه سپینه وریځ وه هغوئ ما ته وویل چي دا ستاسو ځای دی ، ما ورته وویل : ما پرېږدئ چي زه و خپل ځای ته داخل سم ، هغوئ راته وویل : اوس لا ستا عمر پاته دی کوم چي تاسو نه دی پوره کړی کوم وخت چي ستاسو خپل عمر پوره کړئ نو په خپل ځای کي به دا خل سئ.

بخاري او په مدینه منوره کي د نبي کریم ﷺ د خوب په اړه حدیث د «حرم المدینه» په باب کي د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه په حدیث کي بیان سوی دی .

# دویم فصل

**خوب هر چا ته مه وایه**

| | |
|---|---|
| ﴿۴۴۱۷﴾: عَنْ أَبِي رَزِينٍ الْعُقَيْلِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُؤْيَا الْمُؤْمِنِ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ أَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ وَهِيَ عَلَى رِجْلِ طَائِرٍ مَا لَمْ يَتَحَدَّثْ بِهَا فَإِذَا حَدَّثَ بِهَا وَقَعَتْ وَأَحْسَبُهُ قَالَ وَلَا يُحَدِّثُ إِلَّا لَبِيبًا أَوْ حَبِيبًا . رواه الترمذي و في رواية ابي داؤد قال الرؤيا على رجل طائر ما لم تعبر فاذا عبرت وقعت واحسبه قال لا تقصها الا على واد او ذي راي . | د حضرت ابو رزین عقیلی ﷛ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د مؤمن خوب د نبوت د شپږڅلوېښتمي برخې څخه یوه برخه ده او خوب چې ترڅو بیان نه سي د مرغانو په پښو کي وي (یعني غیر مستقل او غیر قائم وي) خو کله چې بیان سي نو خوب واقع سي ، د راوي بیان دی زما خیال دي چې نبي کریم ﷺ دا هم وفرمایل: خوب د هر چا په مخکي کي مه بیانوئ |

پرته د دوستانو څخه . ترمذي او د ابو داؤد په یوه روایت کي دا الفاظ دي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل: هغه (خوب) د مرغانو په پښو کي وي ترڅو پوري چې د خوب تعبیر بیان نه سي او کله چې د هغه تعبیر بیان سي نو هغه تعبیر واقع کیږي ، راوي وایي ، زما گمان دی چې نبي کریم ﷺ دا هم ویلي دي چې خوب د دوست او عقلمند څخه پرته و بل چا ته مه بیانوئ.

**ورقه بن نوفل په خوب کي لیدل**

| | |
|---|---|
| ﴿۴۴۱۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ وَرَقَةَ فَقَالَتْ لَهُ خَدِيجَةُ إِنَّهُ كَانَ صَدَّقَكَ وَلَكِنَّهُ مَاتَ قَبْلَ أَنْ تَظْهَرَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُرِيتُهُ فِي الْمَنَامِ وَعَلَيْهِ ثِيَابٌ بَيضٌ وَلَوْ كَانَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَكَانَ عَلَيْهِ لِبَاسٌ غَيْرُ ذٰلِكَ. رواه احمد و الترمذي. | د بي بي عائشې رض څخه روایت دی چې د نبي کریم ﷺ څخه د ورقه (ورقه بن نوفل) په هکله پوښتنه وسوه (چې هغه مسلمان وو او که څنگه؟) بي بي خدیجې رض د نبي کریم ﷺ په مخکي وویل: چې ورقه بن نوفل پوخ تصدیق وکړ لیکن هغه ستاسو د نبوت څخه مخکي وفات سو ، نبي کریم ﷺ وفرمایل: په خوب |

کي ما ته ورقه بن نوفل ښودل سوی دی چې سپیني جامې یې اغوستي وې ، که هغه دوږخي وای نو د هغه پر بدن باندي به بل قسم جامې وای (مطلب دا چې هغه جنتي دی). احمد او ترمذي.

**په خوب کي د نبي ﷺ پر تندي سجده**

| | |
|---|---|
| ﴿۴۴۱۹﴾: وَعَنِ ابْنِ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ عَنْ عَمِّهِ | حضرت ابن خزیمه بن ثابت ﷛ د خپل اکا څخه |

أَبِيْ خُزَيْمَةَ أَنَّهُ رَأَى فِيْمَا يَرَى النَّائِمُ أَنَّهُ سَجَدَ عَلَى جَبْهَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ فَاضْطَجَعَ لَهُ وَقَالَ صَدِّقْ رُؤْيَاكَ فَسَجَدَ عَلَى جَبْهَتِهِ . رواه في شرح السنة، وسنذكر حديث أبي بكرة كان ميزانا نزل من السماء في باب مناقب أبي بكر وعمر رضي الله عنهما.

روايت كوي چي هغه په خوب كي و ليدل چي د رسول الله ﷺ پر تندي باندي يې سجده وكړه، نبي كريم ﷺ ته چي يې كله دا خوب بيان كړ نو نبي كريم ﷺ سمدستي ورته متوجه سو او ويې فرمايل: خپل خوب رښتيا كړه نو هغه د نبي كريم ﷺ پر تندي مبارك باندي سجده وكړه . شرح السنه او ژر به د حضرت ابو بكر صديق﷛ حديث كان ميزانا نزل من السماء به د حضرت ابو بكر صديق﷛ او حضرت عمر﷛ د مناقب په باب كي بيان كړو .

## دريم فصل

**د ۴۴۱۶ نمبر حديث سره متعلق نور خوب**

(۴۴۲۰): عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّا يُكْثِرُ أَنْ يَقُوْلَ لِأَصْحَابِهِ هَلْ رَأَى أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنْ رُؤْيَا ؟ فَيَقُصُّ عَلَيْهِ مَنْ شَاءَ اللّٰهُ أَنْ يَقُصَّ وَإِنَّهُ قَالَ لَنَا ذَاتَ غَدَاةٍ إِنَّهُ أَتَانِي اللَّيْلَةَ آتِيَانِ وَإِنَّهُمَا ابْتَعَثَانِي وَإِنَّهُمَا قَالَا لِي انْطَلِقْ وَإِنِّي انْطَلَقْتُ مَعَهُمَا وَذَكَرَ مِثْلَ الْحَدِيْثِ الْمَذْكُوْرِ فِي الْفَصْلِ الْأَوَّلِ بِطُوْلِهِ وَفِيْهِ زِيَادَةٌ لَيْسَتْ فِي الْحَدِيْثِ الْمَذْكُوْرِ وَهِيَ قَوْلُهُ : فَأَتَيْنَا عَلَى رَوْضَةٍ مُعْتَمَّةٍ فِيْهَا مِنْ كُلِّ نُوْرِ الرَّبِيْعِ وَإِذَا بَيْنَ ظَهْرَيِ الرَّوْضَةِ رَجُلٌ طَوِيْلٌ لَا أَكَادُ أَرَى رَأْسَهُ طُوْلًا فِي السَّمَاءِ وَإِذَا حَوْلَ الرَّجُلِ مِنْ أَكْثَرِ وِلْدَانٍ رَأَيْتُهُمْ قَطُّ قُلْتُ لَهُمَا مَا هٰذَا مَا هٰؤُلَاءِ قَالَ قَالَا لِي انْطَلِقْ فَانْطَلَقْنَا فَانْتَهَيْنَا إِلَى رَوْضَةٍ عَظِيْمَةٍ لَمْ أَرَ رَوْضَةً قَطُّ أَعْظَمَ مِنْهَا وَلَا أَحْسَنَ قَالَ قَالَا لِي ارْقَ فِيْهَا قَالَ فَارْتَقَيْنَا فِيهَا فَانْتَهَيْنَا إِلَى مَدِيْنَةٍ مَبْنِيَّةٍ بِلَبِنِ

د حضرت سمره بن جندب ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به اكثره وخت د خپلو اصحابو كرامو څخه پوښتنه كوله چي ايا په تاسو كي چا خوب ليدلی دی؟ چا چي به خوب ليدلی وو نو هغه به يې بيانوی ، يوه ورځ موږ ته نبي كريم ﷺ ز موږ په مخ كي بيان وكړ ، نن شپه دوه كسان په خوب كي ما ته راغله زه يې را كښېنولم او ويې ويل ، زموږ سره ولاړ سه نو زه د هغوئ سره روان سوم ، ددې څخه وروسته د حديث راوي سمره د هغه حديث په شان چي په اولني فصل كي بيان سوی دی اوږد حديث بيان كړی دی او په دې حديث كي د اولني فصل د حديث څخه يو څه خبري زياتي دي او هغه دا دي : نبي كريم ﷺ وفرمايل: بيا موږ يوه تاريكه باغ ته ورسېدو (يعني و هغه باغ ته چي د ډيرو ونو په وجه پكښي تياره وه)، چي په هغه كي د پسرلي

ذَهَبٍ وَلَبِنٍ فِضَّةٍ فَأَتَيْنَا بَابَ الْمَدِيْنَةِ فَاسْتَفْتَحْنَا فَفُتِحَ لَنَا فَدَخَلْنَاهَا فَتَلَقَّانَا فِيهَا رِجَالٌ شَطْرٌ مِنْ خَلْقِهِمْ كَأَحْسَنِ مَا أَنْتَ رَاءٍ وَشَطْرٌ مِنهم كَأَقْبَحِ مَا أَنْتَ رَاءٍ قال قَالَا لَهُمْ اذْهَبُوا فَقَعُوا فِي ذَلِكَ النَّهْرِ قَالَ وَإِذَا نَهْرٌ مُعْتَرِضٌ يَجْرِيْ كَأَنَّ مَاءَهُ الْمَحْضُ فِي الْبَيَاضِ فَذَهَبُوْا فَوَقَعُوا فِيهِ ثُمَّ رَجَعُوا إِلَيْنَا قَدْ ذَهَبَ ذَلِكَ السُّوْءُ عَنْهُمْ فَصَارُوا فِي أَحْسَنِ صُورَةٍ وَذَكَرَ فِيْ تَفْسِيْرِ هٰذِهِ الزِّيَادَةِ وَأَمَّا الرَّجُلُ الطَّوِيْلُ الَّذِيْ فِي الرَّوْضَةِ فَإِنَّهُ إِبْرَاهِيْمُ وَأَمَّا الْوِلْدَانُ الَّذِيْنَ حَوْلَهُ فَكُلُّ مَوْلُوْدٍ مَاتَ عَلَى الْفِطْرَةِ قَالَ فَقَالَ بَعْضُ الْمُسْلِمِيْنَ يَا رَسُوْلَ اللهِ وَأَوْلَادُ الْمُشْرِكِيْنَ ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ أَوْلَادُ الْمُشْرِكِيْنَ وَأَمَّا الْقَوْمُ الَّذِيْنَ كَانُوْا شَطْرٌ مِّنْهُمْ حَسَنٌ وَشَطْرٌ مِّنْهُمْ قَبِيْحٌ فَإِنَّهُمْ قَوْمٌ قَدْ خَلَطُوْا عَمَلاً صَالِحًا وَآخَرَ سَيِّئًا تَجَاوَزَ اللهُ عَنْهُمْ . رواه البخاري .

شـينكيا وه او گلونـه غوړېـدلي وه ، زمـا نظـر ناڅاپه پر يو سړي پرېوت چي د باغ په مينځ كي ولاړ وو ، دا سړی دومره اوږد وو چي د هغـه سر مـا نـه وليـدی گـواكي د هغـه سـر و اسـمان تـه رسېدلی وو او شاګخوا يې ډېر هلكان وه چي ما هيڅكله نه وو ليدلي ، ما د هغو كسانو څخه و پوښتل چي دا اوږد سړی څوك دی؟ او دا هلكان څوك دي؟ هغوئ راته وويل ، چي مخته ځه ،نو موږ په مخ ولاړو او يوه لوی باغ ته ورسېدو چي د هغه څخه لوي او ښائسته باغ ما نه وو ليدلي بيا هغو ما ته وويل چي و باغ ته د ننه ولاړ سه يا و وني ته و خېژه نو موږ روان سوو او يوه ښار ته نژدې ورسېدو چي د سرو او سپينو زرو د خښتو څخه جوړ سوی وو د ښار و دروازې ته د رسېدو سره موږ دروازه خلاصـول و غوښتل نو دروازه خلاصه سوه او موږ په هغه كي دا خل سو موږ په

هغه ځای كي د داسي كسانو سره ملاقات و كړ چي د هغوئ نيم بدن ډېر ښائسته وو او نيم بدن يې ډېر ناكاره وو (يعني بهترين داسي شی چي د چا په نظر بهترين كېدی او بد ترين داسي شی چي د چا په نظر باندي بد ښكارېدی) ، د نبي كريم ﷺ بيان دي چي هغه دوه كسان چي زه يې د ځان سره بېولی وم هغو خلكو ته وويل ، چي په دې وياله كي غوټه ووهئ ما وليدل چي هلته د ښار په عرض كي يو وياله جاري وه چي اوبه يې تكي سپيني وې نو هغه خلك ولاړل او په هغه وياله كي پرېوتل ، كله چي يې غوټه په كښي ووهله بيرته راغله نو د هغوئ د بدنو هغه خرابه برخه ختمه سوه او په يوه ښه صورت باندي جوړه سوه او حديث د دې زياتو الفاظو تفسير يې دا سي وكړ چي هغه اوږد سړی چي په باغ كي د ننه وو هغه حضرت ابراهيم ﷺ وو او كوم كوچنيان چي د هغه شاګخوا را چاپېره وه هغه زېږېدلي كوچنيان وه چي د بالغ كېدو څخه مخكي وفات سوي وه، ځينو اصحابو كرامو د نبي كريم ﷺ څخه پوښتنه وكړه اي د الله ﷺ رسوله ! او د مشركانو اولادونه؟ (يعني نا بالغه كوچنيان) نبي كريم ﷺ وفرمايل: د مشركانو كوچنيان هم (د حضرت ابراهيم ﷺ سره

اوسیږي) بیا نبي کریم ﷺ د خوب په سلسله کې یې وفرمایل: هغه خلك چې د هغوئ نیم بدن صحیح او نیم خراب وو هغه خلك وه چې هغوئ به ښه او بد عمل ګډ وډ کوئ یعني یو څه عمل به یې ښه او یو څه عمل به یې بد کوئ وروسته الله ﷻ د هغوئ ګناهونه ورمعاف کړل. بخاري.

**د خانه خوب مه جوړوئ**

| | |
|---|---|
| (۲۲۲۱): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ مِنْ أَفْرَى الْفِرَى أَنْ يُرِيَ الرجل عَيْنَيْهِ مَا لَمْ تَرَيَا. رواه البخاري. | د حضرت ابن عمر ؓ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د ټولو څخه لوئ بهتان (تهمت) دادي چې سړی و خپلو سترګو ته هغه شی وښائي چې هغه یې نه وي لیدلي (یعني په |

سترګو تهمت ولګوي چې ما داسي خوب ولیدی او دروغ بیان کړي. بخاري.

**په سهار کې خوب لیدل**

| | |
|---|---|
| (۲۲۲۲): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَصْدَقُ الرُّؤْيَا بِالْأَسْحَارِ. رواه الترمذي والدارمي. | د حضرت ابوسعید ؓ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: چې د ټولو ریښتني خوب د سهار د وخت دی. ترمذي او دارمي |

# كِتَابُ الْاٰدَابِ

## (د ادبونو بیان)

## بَابُ السَّلَامِ (د سلام بیان)

### لومړی فصل

**د ملائکو سلام**

| | |
|---|---|
| ﴿۴۴۲۳﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَلَقَ اللّٰهُ آدَمَ عَلَى صُوْرَتِهِ طُوْلُهُ سِتُّوْنَ ذِرَاعًا فَلَمَّا خَلَقَهُ قَالَ اذْهَبْ فَسَلِّمْ عَلَى أُولٰئِكَ النَّفَرِ وهم نفر مِنَ الْمَلَائِكَةِ جُلُوْسٌ فَاسْتَمِعْ مَا يُحَيُّوْنَكَ فَإِنَّهَا تَحِيَّتُكَ وَتَحِيَّةُ ذُرِّيَّتِكَ فذهب فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ فَقَالُوا السَّلَامُ عَلَيْكَ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ فَزَادُوْهُ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ قال فَكُلُّ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَلَى صُوْرَةِ آدَمَ وطوله ستون ذراعا فَلَمْ يَزَلِ الْخَلْقُ يَنْقُصُ بَعْدُ حَتَّى الْآنَ. متفق عليه. | د حضرت ابوهریره ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: الله ﷻ حضرت آدم ﷣ په خپل صورت پیدا کړی دی ، د هغه اوږدوالی شپېته گزه وو د هغه د پیدا کولو څخه وروسته خدای تعالی ورته وفرمایل: ورسه و دې ډلې ته سلام وکړه او هلته د ملائکو ډله ناسته وه او واوره هغوئ چي څه جواب در کړي هغه ستا او ستا د اولادې جواب دی ، آدم ﷣ ورغی او د ملائکو جماعت یې مخاطب کړ ورته یې وویل: السلام علیکم ملائکو ورته په جواب کي السلام |

علیکم ورحمة الله وویل ، نبي کریم ﷺ وفرمایل: ملائکو د آدم ﷣ د سلام په جواب کي ورحمة الله الفاظ زیات کړل ، نبي کریم ﷺ فرمایي: څوك چي په جنت کي دا خلیږي نو د آدم ﷣ په صورت به وي او د هغه اوږدوالی به شپېته گزه وي ، د دې څخه یې وروسته د مخلوقاتو د پیدائش قد په اندازه سره کمېدی یعني د هغوئ قد به کمېدی تر دې پوري چي و دې مقدار ته راورسېد کوم چي اوس دی . بخاري او مسلم.

**نېه اعمال**

| | |
|---|---|
| ﴿۴۴۲۴﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْإِسْلَامِ خَيْرٌ قَالَ تُطْعِمُ الطَّعَامَ وَتَقْرَأُ السَّلَامَ عَلَى مَنْ | د حضرت عبدالله بن عمرو ﷛ څخه روایت دی چي یوه سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي د اسلام کوم عادت بهتر دی؟ نبي کریم ﷺ |

عَرَفْتَ وَمَنْ لَمْ تَعْرِفْ . متفق عليه.

ورته وفرمايل : په چا باندي دودي خوړل او دوست او غير دوست و تولو ته سلام كول. بخاري او مسلم.

**د يوه مسلمان پر بل مسلمان حقوق**

(۴۴۲۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْمُؤْمِنِ عَلَى الْمُؤْمِنِ سِتُّ خِصَالٍ يَعُودُهُ إِذَا مَرِضَ وَيَشْهَدُهُ إِذَا مَاتَ وَيُجِيبُهُ إِذَا دَعَاهُ وَيُسَلِّمُ عَلَيْهِ إِذَا لَقِيَهُ وَيُشَمِّتُهُ إِذَا عَطَسَ وَيَنْصَحُ لَهُ إِذَا غَابَ أَوْ شَهِدَ. و لم اجده في الصحيحين ولا في كتاب الحميدي ولكن ذكره صاحب الجامع برواية النسائي .

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د يوه مسلمان پر بل مسلمان باندي شپږ حقوق دي :(۱)- كله چي يو مسلمان ناروغه سي د هغه پوښتنه كول .(۲)- كله چي يو مسلمان مر سي د هغه په كفن او دفن كي او د جنازې په لمانځه وغيره كي شريكېدل .(۳)- كه يو مسلمان دعوت دركړي د هغه دعوت قبلول (٤)- كله چي يو مسلمان سره يو ځاى سي نو سلام ورته كول .(٥)- كله چي يو مسلمان ترېچى وكړي د هغه په جواب كي يرحمك الله ويل(كه چيري هغه الحمد لله ووايي) .(٦)- د حاضر او غائب مسلمان خير خواهي كول. (دا حديث په بخاري او مسلم كي نسته او نه په حميدي كتاب كي سته البته په جامع الاصول كي دا نقل سوى دى او د نسائي حواله يې وركړې ده).

**د دوستۍ بنه لار سلام كول دي**

(۴۴۲۶): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا وَلَا تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا أَوَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى شَيْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ أَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ . رواه مسلم .

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو تر هغه وخته پوري په جنت كي نه سي دا خلبدلاى تر څو پوري چي ايمان را نه وړئ او تر هغه وخته پوري ستاسو ايمان نه سي كاملېدلاى تر څو پوري چي په خپلو كي محبت پيدا نه كړئ ، ايا زه تاسو ته يوه دا سي خبره و نه ښايم كه تاسو په هغه باندي عمل وكړئ نو ستاسو په مينځ كي به محبت زيات سي او هغه خبره دا ده چي په خپلو كي يو بل ته سلام كول رواج كړئ يعني په خپلو كي دوست او غير دوست و تولو ته سلام كوئ. مسلم.

**څوک دي اول سلام كوي**

(۴۴۲۷): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَلِّمُ الرَّاكِبُ عَلَى الْمَاشِي

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : سپور دي و پياده ته سلام كوي ، پياده

وَالْمَاشِي عَلَى الْقَاعِدِ وَالْقَلِيلُ عَلَى الْكَثِيرِ . متفق عليه.

تلونكي دي و ناست ته سلام كوي او لږ كسان دي و ډيرو ته سلام كوي . بخاري او مسلم

(۴۴۲۸): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَلِّمُ الصَّغِيرُ عَلَى الْكَبِيرِ وَالْمَارُّ عَلَى الْقَاعِدِ وَالْقَلِيلُ عَلَى الْكَثِيرِ . رواه البخاري.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كوچنى دي و لوئ ته سلام كوي او تلونكي دي و ناست ته سلام كوي او لږ كسان دي و ډيرو كسانو ته سلام كوي . بخاري

## د نبي كريم ﷺ شفقت

(۴۴۲۹): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ انَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى غِلْمَانٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ. متفق عليه.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چي نبي كريم ﷺ د كوچنيانو په يوې ډلې تير سو او هغوئ ته يې سلام وكړ . بخاري او مسلم

## غير مسلم ته سلام

(۴۴۳۰): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَبْدَءُوا الْيَهُودَ وَلَا النَّصَارَى بِالسَّلَامِ وَإِذَا لَقِيتُمْ أَحَدَهُمْ فِي طَرِيقٍ فَاضْطَرُّوهُ إِلَى أَضْيَقِهِ . رواه مسلم.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : يهودو او نصاراؤ ته په سلام كولو كي مخته كيږئ مه ، او كله چي ستاسو سره په لار كي يو يهودي يا نصراني يو خاى سي

نو د هغه لار دومره تنگه كړئ چي هغه و يوه لور ته په تيرېدو باندي مجبوره سي . مسلم .

## د يهودو شرارت

(۴۴۳۱): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَلَّمَ عَلَيْكُمُ الْيَهُودُ فَإِنَّمَا يَقُولُ أَحَدُهُمُ السَّامُ عَلَيْكَ فَقُلْ وَعَلَيْكَ. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كله چي يهود تاسو ته سلام كوي نو دا وايي : السام عليك (يعني مر سې ، پر

تا دي مرگ وي ، خداي تعالى دي مر كه) د دي په جواب كي وايه و عليك (يعني په تا دي مرگ راسي). بخاري او مسلم

(۴۴۳۲): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَلَّمَ عَلَيْكُمْ أَهْلُ الْكِتَابِ فَقُولُوا وَعَلَيْكُمْ. متفق عليه.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كله چي يهود او نصارى درته سلام و كړي نو د هغوئ په جواب كي يوازي و عليكم واياست . بخاري او مسلم

د نبي کريم ﷺ حکم

(۴۴۳۳): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ اسْتَأْذَنَ رَهْطٌ مِنَ الْيَهُوْدِ عَلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا السَّامُ عَلَيْكُمْ فَقُلْتُ بَلْ عَلَيْكُمُ السَّامُ وَاللَّعْنَةُ فَقَالَ يَا عَائِشَةُ إِنَّ اللّٰهَ رَفِيْقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ فِي الْأَمْرِ كُلِّهِ قُلْتُ أَوَلَمْ تَسْمَعْ مَا قَالُوا قَالَ قَدْ قُلْتُ وَعَلَيْكُمْ. وفي رواية عَلَيْكُمْ وَلَمْ يَذْكُرُوا الْوَاوَ. متفق عليه و في رواية للبخاري قَالَتْ أَنَّ يَهُوْدَ أَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا السَّامُ عَلَيْكُمْ فَقَالَتْ عَائِشَةُ السام عَلَيْكُمْ وَلَعَنَكُمُ اللّٰهُ وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ فَقَالَ رسول الله صلى الله عليه وسلم مَهْلًا يَا عَائِشَةُ عَلَيْكِ بِالرِّفْقِ وَإِيَّاكِ وَالْعُنْفَ وَالْفُحْشَ قَالَتْ أَوَلَمْ تَسْمَعْ مَا قَالُوا قَالَ أَوَلَمْ تَسْمَعِي مَا قُلْتُ رَدَدْتُ عَلَيْهِمْ فَيُسْتَجَابُ لِي فِيهِمْ وَلَا يُسْتَجَابُ لَهُمْ فِيَّ، وفي رواية لمسلم قَالَ لَاتَكُوْنِي فَاحِشَةً فَإِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْفُحْشَ وَالتَّفَحُّشَ.

د بي بي عائشې رض څخه روايت دی ، د يهودو يو جماعت د نبي کريم ﷺ په خدمت کې د حاضرئ اجازت و غوښت او وه يې ويل : السام عليکم(په تاسو دي مرګ راسي) ما د هغوئ په جواب کي وويل : و عليکم السام واللعنة ( په تاسو دي مرګ راسي او دربانديٰ لعنت دي وي). په دې اورېدو سره نبي کريم ﷺ وفرمايل: اې عائشې ! خداي تعالی نرمي کوي او په ټولو کارونو کي نرمي خوښوي ما وويل: تاسو وا نه ورېدل چي هغوئ څه وويل ؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : ما د هغوئ په جواب کي وعليکم (په تاسو هم) ويلي وو، او په يوه روايت کي دي چي (عليکم) يې ورته وو، او په بېله واو ، او د بخاري په يوه روايت کي دا الفاظ دي ، يهود د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سول او ويې ويل : السام عليك (پر تا دي مرګ راسي) او نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : و عليکم (او په تاسو هم)بي بي عائشې رض د يهودو د الفاظو په اورېدو سره وويل : پر تاسو دي مرګ راسي او پر تاسو دي لعنت وي او پر تاسو دي غضب الهي نازل سي ، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : اې عائشې ! د نرمي څخه کار اخله سختي پرېږده او د بې شرمو خبرو څخه ځان وژغوره، بي بي عائشې رض وويل ، تاسو د دوي الفاظ وا نه ورېدل ، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : او تا زما د جواب الفاظ وا نه ورېدل ما د هغوئ الفاظ و هغوئ ته ور وګرځول زما دعا د هغوئ په حق کي قبليږي او د هغوئ دعا زما په حق کي نه قبليږي او د مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي نبي کريم ﷺ دا وفرمايل: اې عائشې! ته فالتو او د فحش خبرې مه کوه ځکه چي الله ﷻ فحش او بې حيائي نه خوښوي ..

مسلمان او کافر چي دواړه وي

(۴۴۳۴): وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ

د حضرت اسامه بن زيد رضی الله عنه څخه روايت دی چي

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِمَجْلِسٍ فِيهِ أَخْلَاطٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُشْرِكِينَ عَبَدَةِ الْأَوْثَانِ وَالْيَهُودِ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ. متفق عليه.

رسول الله ﷺ په یوه داسي تولنه باندي تیر سو چي په هغې کي مسلمانان، مشرکین د بوتانو عبادت کونکي او یهود هر ډول خلك موجود وه او نبي کریم ﷺ و هغوئ ته سلام ووایه . بخاري او مسلم.

**د لاري حقوق**

(۴۲۳۵): وَعَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِيَّاكُمْ وَالْجُلُوسَ عَلَى الطُّرُقَاتِ فَقَالُوا يارسول الله مَا لَنَا مِن مَجَالِسِنَا بد نَتَحَدَّثُ فِيهَا قَالَ فَإِذَا أَبَيْتُمْ إِلَّا الْمَجَالِسَ فَأَعْطُوا الطَّرِيقَ حَقَّهَا قَالُوا وَمَا حَقُّ الطَّرِيقِ يا رسول الله قَالَ غَضُّ الْبَصَرِ وَكَفُّ الْأَذَى وَرَدُّ السَّلَامِ وَأَمْرٌ بِالْمَعْرُوفِ وَنَهْيٌ عَنِ الْمُنْكَرِ. متفق عليه.

د حضرت ابوسعید خدري ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : تاسو په لاره کي مه کښېنئ ، اصحابو کرامو وویل: اې د الله ﷺ رسوله ! موږ خو په دې مجبور یو چي په لاره کي کښېنو ځکه چي موږ هلته په ناستي سره په تولو ضروري کارونو باندي بحث کوو ، نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : که تاسو په دې مجبوره یاست نو د لاري حق ادا کوئ ، اصحابو کرامو رض وویل: د لاري حق څشي دی؟ نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : (۱)- د سترګو بندول (یعني پر حرامو شیانو باندي نظر نه کول. (۲)- و چا ته ضرر نه رسول . (۳)د سلام جواب ورکول . (۴)- د مشروعو خبرو خلکو ته امر ورکول . (۵)- او د ممنوعو خبرو څخه یې منعه کول. بخاري او مسلم.

(۴۲۳۶): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذِهِ الْقِصَّةِ قَالَ وَإِرْشَادُ السَّبِيلِ. رواه ابوداؤد عقيب حديث الخدري هكذا.

حضرت ابو هریره ﷺ د پورته ذکر سوی حدیث په واقعه کي دومره اضافه توب کوي چي نبي کریم ﷺ د لاري حقوق په بیانولو سره دا هم وفرمایل: د لاري ښودل ( یعني که یو څوك د لاري د معلومولو په هکله پوښتنه وکړي نو هغه ته لاره ښودل. ابوداؤد حدیث خدري پسي دا سي بیان کړی دی .

(۴۲۳۷): وَعَنْ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذِهِ الْقِصَّةِ قَالَ وَتُغِيثُوا الْمَلْهُوفَ وَتَهْدُوا الضَّالَّ. رواه ابوداؤد و عقيب حديث ابي هريرة هكذا و لم احدهما في الصحيحين.

د حضرت عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د ذکر سوی حدیث په واقعه کي دا سي وفرمایل: د مظلوم فریاد رسي کول او د لاري خطاکونکي ته لاره ښودل . ابوداؤد دا د حضرت

ابو هريره ﷺ په حديث پسې داسې بيان وکړ او مور دا دواړه حديثونه په صحيحين نکړل پيدا.

## دويم فصل

### د مسلمان پر مسلمان حقوق

(۴۴۳۸): عَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ سِتٌّ بِالْمَعْرُوْفِ يُسَلِّمُ عَلَيْهِ إِذَا لَقِيَهُ وَيُجِيبُهُ إِذَا دَعَاهُ وَيُشَمِّتُهُ إِذَا عَطَسَ وَيَعُودُهُ إِذَا مَرِضَ وَيَتْبَعُ جَنَازَتَهُ إِذَا مَاتَ وَيُحِبُّ لَهُ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ . رواه الترمذي والدارمي.

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د مسلمان پر مسلمان باندې شپږ حقوق دي: (۱)- کله چې د يو مسلمان سره يو ځای سي نو هغه ته په ښه دول سلام کوي (۲)- که يو څوك مسلمان دعوت کړي نو هغه دي قبلوي (۳)- که يو مسلمان ترپچې وکړي نو د هغه جواب ورکول (يعني يرحمك الله دي ورته ووايي) (۴)- يو مسلمان چې ناروغ سي نو د هغه پوښتنه کول (۵)- يو مسلمان چې مړ سي نو د جنازې سره يې تلل (۶) او د هر مسلمان لپاره هغه شی خوښوه کوم چې ته يې د ځان لپاره خوښوې. ترمذي او دارمي.

### پر ثواب والا سلام

(۴۴۳۹): وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ ان رجلا جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ فَرَدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ ثُمَّ جَلَسَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشْرٌ ثُمَّ جَاءَ آخَرُ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ فَرَدَّ عَلَيْهِ فَجَلَسَ فَقَالَ عِشْرُونَ ثُمَّ جَاءَ آخَرُ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ فَرَدَّ عَلَيْهِ فَجَلَسَ فَقَالَ ثَلَاثُونَ . رواه الترمذي و ابوداؤد.

د حضرت عمران بن حصين ﷺ څخه روايت دی چې يو سړی د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر سو سلام يې وکړ رسول الله ﷺ د هغه سلام جواب ورکړ، وروسته هغه سړي کښېناستی، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: د دې سړي لپاره لس نيکۍ وليکل سوې، وروسته بيا يو بل سړی راغی هغه ووېل السلام عليکم ورحمة الله، نبي کريم ﷺ و هغه ته جواب ورکړ او د هغه د ناستې څخه وروسته يې وفرمايل: د دې سړي لپاره شل نيکۍ و ليکل سوې، وروسته بيا يو بل سړی راغي او ويې ويل: السلام عليکم ورحمة الله و برکاته، نبي کريم ﷺ د هغه د سلام جواب ورکړ کله چې هغه کښېناستی نو نبي کريم ﷺ وفرمايل: د ده لپاره ديرش نيکۍ و ليکل سوې. ترمذي او ابوداؤد.

| | |
|---|---|
| (۴۴۴۰): وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَاهُ زَادَ ثُمَّ أَتَى آخَرُ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ وَمَغْفِرَتُهُ فَقَالَ أَرْبَعُونَ قَالَ هٰكَذَا تَكُونُ الْفَضَائِلُ. رواه ابوداؤد. | حضرت معاذ بن انس ﷺ د ذکر سوی حدیث هم معنی حدیث د نبي کریم ﷺ څخه نقل کړی دی او دا الفاظ يې زيات ليکلي دي چي بيا يو بل سړی راغی او هغه ووېل : السلام عليکم ورحمة الله |

وبرکاته و مغفرته ، نبي کريم ﷺ وفرمايل: د دې سړي لپاره څلوېښت نيکۍ و ليکل سوی ، د دې څخه وروسته نبي کريم ﷺ وفرمايل: او داسې ثواب زياتيږي . ابوداؤد.

### د مخکې سلام کولو فضيلت

| | |
|---|---|
| (۴۴۴۱): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِاللّٰهِ مَنْ بَدَأَهُمْ بِالسَّلَامِ. رواه احمد والترمذي وابوداؤد. | د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله ﷻ ته زيات نيږدې هغه سړی دی چي شروع په سلام وکړي . احمد ، ترمذي او ابوداؤد |
| (۴۴۴۲): وَعَنْ جَرِيرٍ أَنَّ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ على نسوة فَسَلَّمَ عَلَيْهِنَّ. رواه احمد. | د حضرت جرير ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د ښځو د يوه جماعت سره نيږدې تير سو او هغوئ ته يې سلام وکړ . احمد |

### ډېرو خلکو ته سلام کول

| | |
|---|---|
| (۴۴۴۳): وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِيْ طَالِبٍ قَالَ يُجْزِئُ عَنِ الْجَمَاعَةِ إِذَا مَرُّوا أَنْ يُسَلِّمَ أَحَدُهُمْ وَيُجْزِئُ عَنِ الْجُلُوسِ أَنْ يَرُدَّ أَحَدُهُمْ. رواه البيهقي في شعب الايمان مرفوعا و روى ابوداؤد وقال رفعه الحسن بن علي وهو شيخ ابي داؤد. | د حضرت علي بن ابي طالب ﷺ څخه روايت دی کله چي د سړو يو جماعت تيريږي او په هغوئ کي يو څو يوه سړي يا جماعت ته سلام وکړ نو دا سلام د ټول جماعت د طرف څخه دی او داسې که د ناستي دلي څخه يوازې يو سړی |

جواب ورکړي نو دا جواب د ټول جماعت د لوري څخه دی . بيهقي دا روايت مرفوعا نقل کړی دی (يعني دا قول يې د نبي کريم ﷺ ارشاد ښودلی دی).

### په اشاره سره سلام

| | |
|---|---|
| (۴۴۴۴): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ مِنَّا مَنْ | حضرت عمرو بن شعيب ﷺ د خپل پلاره څخه او هغه بيا د خپل پلاره څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د غير زموږ د |

| | |
|---|---|
| تَشَبَّهَ بِغَيْرِنَا لَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ وَلَا بِالنَّصَارَى فَإِنَّ تَسْلِيمَ الْيَهُودِ الْإِشَارَةُ بِالْأَصَابِعِ وَتَسْلِيمَ النَّصَارَى الْإِشَارَةُ بِالْأَكُفِّ . رواه الترمذي وقال اسناده ضعيف . | قوم ښخه د بل قوم سره مشابهت کوي هغه زموږ ښخه نه دئ . تاسو د يهودو او د نصاراؤ سره مشابهت مه پيدا کوئ . يهوديان د گوتو په اشاره سره سلام کوي او نصارى د |

تلو (د خپرى) په اشاره سره .ترمذي ويلي د دې حديث سند ضعيف دى .

**هر وار سلام کول**

| | |
|---|---|
| (۴۴۲۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا لَقِيَ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ فَلْيُسَلِّمْ عَلَيْهِ فَإِنْ حَالَتْ بَيْنَهُمَا شَجَرَةٌ أَوْ جِدَارٌ أَوْ حَجَرٌ ثُمَّ لَقِيَهُ فَلْيُسَلِّمْ عَلَيْهِ. رواه ابوداؤد. | د حضرت ابوهريره ﷺ ښخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کي چي څوك د خپل مسلمان ورور سره ملاقات کوي نو اول دي و هغه ته سلام وکړي او که د هغه او سلام کونکي |

په مينځ کي درخته، دېوال يا لويه ډېره واقع سي او بيا سره مخامخ سي نو دويم وار دي سلام وکړي . ابوداؤد.

**خپل کورني ته سلام**

| | |
|---|---|
| (۴۴۲۶): وَعَنْ قَتَادَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلْتُمْ بَيْتًا فَسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهِ وَإِذَا خَرَجْتُمْ فَأَوْدِعُوا أَهْلَهُ بِسَلَامٍ . رواه البيهقي في شعب الإيمان مرسلا . | د حضرت قتاده ﷺ ښخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي تاسو په کور کي دا خليږئ نو و کور والاؤ ته سلام کوئ او کله چي د کور د باندي وځئ نو د کوره ښخه په سلام |

کولو سره رخصتيږئ . دا بيهقي په شعب الايمان کي مرسلا روايت کړى دى .

| | |
|---|---|
| (۴۴۲۷): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا بُنَيَّ إِذَا دَخَلْتَ عَلَى أَهْلِكَ فَسَلِّمْ يَكُنْ بَرَكَةً عَلَيْكَ وَعَلَى أَهْلِ بَيْتِكَ. رواه الترمذي. | د حضرت انس ﷺ ښخه روايت دى چي رسول الله ﷺ و ماته وفرمايل: زويه! کله چي ته په (خپل) کور کي داخليږې نو (خپل) و کور والاؤ ته سلام |

کوه ، ستا سلام به ستا او ستا د کوروالاؤ لپاره د برکت موجب وي . ترمذي.

**اول سلام پسي کلام**

| | |
|---|---|
| (۴۴۲۸): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السَّلَامُ قَبْلَ الْكَلَامِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث منكر. | د حضرت جابر ﷺ ښخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د خبرو کولو ښخه مخکي بايد سلام وويل سي . ترمذي ويلي چي دا حديث منکر دى . |

## د جاهليت د زماني سلام

| | |
|---|---|
| (۴۴۴۹): وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ كُنَّا فِي الْجَاهِلِيَّةِ نَقُولُ أَنْعَمَ اللّٰهُ بِكَ عَيْنًا وَأَنْعِمْ صَبَاحًا فَلَمَّا كَانَ الْإِسْلَامُ نُهِينَا عَنْ ذٰلِكَ. رواه ابوداؤد. | د حضرت عمران بن حصين ﷺ څخه روايت دى چي موږ د جاهليت په زمانه کي (د ملاقات پر وخت) دا ويل چي الله ﷻ دي ستا سترګي يخي کړي او ته دي د سهار په وخت کي په نعمتو کي دا خل اوسې، وروسته چي |

کله اسلام خپور سو نو د دې (دول سلام) څخه منعه وسوه . ابوداؤد.

## غائبانه سلام او د هغه جواب

| | |
|---|---|
| (۴۴۵۰): وَعَنْ غَالِبٍ قَالَ إِنَّا لَجُلُوسٌ بِبَابِ الْحَسَنِ البصري إِذْ جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ جَدِّي قَالَ بَعَثَنِي أَبِي إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ ائْتِهِ فَأَقْرِئْهُ السَّلَامَ قَالَ فَأَتَيْتُهُ فَقُلْتُ إِنَّ أَبِي يُقْرِئُكَ السَّلَامَ فَقَالَ عَلَيْكَ السَّلَامُ وَعَلَى أَبِيكَ السَّلَامُ. رواه ابوداؤد. | د حضرت غالب ﷺ څخه روايت دى چي موږ د حضرت حسن بصري ﷫ په دروازه کي ناست وو چي يو سړى راغى او بيان يې وکړ چي زما پلار زما د نيکه څخه دا نقل کړى دى چي زه زما پلار و نبي کريم ﷺ ته ولېږلم او ويلې ته د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سه زما سلام ورته ووايه |

. زما نيکه وايي چي زه د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سوم او عرض مي وکړ چي زما پلار پر تاسو (اې د الله ﷻ رسوله ! سلام ويلې دى) نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : پر تا او ستا پر پلار دې سلام وي . ابوداؤد.

## په خط کي د سلام ليکلو طريقه

| | |
|---|---|
| (۴۴۵۱):وَعَنْ أَبِي الْعَلَاءِ الْحَضْرَمِيِّ أَنَّ الْعَلَاءَ بْنَ الْحَضْرَمِيِّ كَانَ عَامِلَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا كَتَبَ إِلَيْهِ بَدَأَ بِنَفْسِهِ. رواه ابوداؤد. | د حضرت ابو العلاء حضرمي ﷺ څخه روايت دى چي د رسول الله ﷺ عامل (تاکل سوى حاکم) وو هغه به چي نبي کريم ﷺ ته خط ليکى نو د خپل خان څخه به يې شروع کول (يعني داسي به يې |

ليکل)دا خط د علاء حضرمي د لور څخه و نبي کريم ﷺ ته دى السلام عليکم ورحمة الله و برکاته . ابوداؤد.

## د خط ليکلو وروسته خاوره دوړول

| | |
|---|---|
| (۴۴۵۲): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا كَتَبَ أَحَدُكُمْ كِتَابًا فَلْيُتَرِّبْهُ فَإِنَّهُ أَنْجَحُ | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کله چي په تاسو کي څوک و |

للحاجة. رواه الترمذي وقال هذا حديث منكر.

يوه چاته خط ليكي نو (د ليكلو څخه وروسته) دي خاوره پر ودوروي څکه چي داسي كول حاجت پوره كوي. ترمذي (او وايي چي دا حديث منكر دي).

## په غوږكي د قلم اېښودلو خاصيت

(۲۲۵۳): وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَيْنَ يَدَيْهِ كَاتِبٌ فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ ضَعِ الْقَلَمَ عَلَى أُذُنِكَ فَإِنَّهُ أَذْكَرُ لِلْمَالِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب و في اسناده ضعف.

د حضرت زيد بن ثابت ؓ څخه روايت دی چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سوم دا وخت د نبي كريم ﷺ مخي ته كاتب ناست وو ما د نبي كريم ﷺ څخه دا واورېدل قلم په خپل غوږ كي ايږدئ څكه چي داسي كول مطلب ژر را يادوي. ترمذي. او په ترمذي كي دا حديث غريب دي او د دي په سند كي ضعف دی.

## د كافرانو ژبه

(۲۲۵۴): وَعَنْهُ أَمَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَتَعَلَّمَ السريانية وفي رواية انه امرني ان اتعلم كِتَابَ يَهُودَ قَالَ إِنِّي مَا آمَنُ يَهُودَ عَلَى كِتَابِي قَالَ فَمَا مَرَّ بِي نِصْفُ شَهْرٍ حَتَّى تَعَلَّمْتُهُ فكان إِذَا كَتَبَ إِلَى يَهُودَ كَتَبْتُ وَإِذَا كَتَبُوا إِلَيْهِ قَرَأْتُ لَهُ كِتَابَهُمْ. رواه الترمذي.

د حضرت زيد بن ثابت ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وما ته حكم را كړ چي زه سرياني ژبه زده كړم او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي نبي كريم ﷺ و ما ته حكم راكړ چي زه د يهوديانو خط وكتابت زده كړم او داسي يې وفرمايل: د خط و كتابت په معامله كي د يهوديانو د لوره ماته اطمينان نسته، د زيد بن ثابت ؓ بيان دي چي په دوو هفتو كي د ننه ما سرياني ژبه زده كړه، ورسته چي كله نبي كريم ﷺ به يوه يهودي ته خط ليكی نو هغه به يې په ما ليكی او يهوديانو چي به كوم خط و نبي كريم ﷺ ته رالېږی نو هغه به ما (نبي كريم ﷺ ته) ورته وايه. ترمذي.

## اول او اخير سلام

(۲۲۵۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا انْتَهَى أَحَدُكُمْ إِلَى مَجْلِسٍ فَلْيُسَلِّمْ فَإِنْ بَدَا لَهُ أَنْ يَجْلِسَ فَلْيَجْلِسْ ثُمَّ إِذَا قَامَ فَلْيُسَلِّمْ فَلَيْسَتْ الْأُولَى بِأَحَقَّ مِنَ الْآخِرَةِ. رواه الترمذي وابوداؤد.

د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چي په تاسو كي يو څوك يو مجلس ته ورسي نو سلام دي ورته وكړي او كه د ناستي ضرورت وي نو

کښېښديني او کله چي بيرته ځي نو د دويم وار لپاره دي سلام وکړي ځکه چي اولني سلام کول تر دويم وار سلام کولو بهتر نه دی يعني دواړه سلامونه حق او مسنونه دي . ترمذي او ابوداؤد.

**په لاره کي د ناستي حق**

(۴۴۵۶): وَعَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لاَ خَيْرَ فِيْ جُلُوْسٍ فِي الطُّرُقَاتِ إِلاَّ لِمَنْ هَدَى السَّبِيْلَ وَرَدَّ التَّحِيَّةَ وَغَضَّ الْبَصَرَ وَأَعَانَ عَلَى الْحَمُوْلَةِ .رواه في شرح السنة وذكر حديث أبي جري في باب فضل الصدقة.

د حضرت ابوهريره ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په لاره کي ناست بهتره نه دی خو هغه سړی چي د لاري ښودنه کوي د سلام جواب ورکوي او سترګي ټيټي ساتي (يعني کوم حرامو شيانو ته نه ګوري) او د بار وړونکي کومك کوي . شرح السنه . د ابو جری په حديث کي «فضل صدقه» په باب کي بيان سوی ..

## دريم فصل

**حضرت ادم ﷵ**

(۴۴۵۷): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا خَلَقَ اللّٰهُ آدَمَ وَنَفَخَ فِيهِ الرُّوحَ عَطَسَ فَقَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ فَحَمِدَ اللّٰهَ بِإِذْنِهِ فَقَالَ لَهُ رَبُّهُ يَرْحَمُكَ اللّٰهُ يَا آدَمُ اذْهَبْ إِلَى أُولَئِكَ الْمَلَائِكَةِ إِلَى مَلَإٍ مِنْهُمْ جُلُوسٍ فَقُلْ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ قَالُوا وَعَلَيْكَ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ ثُمَّ رَجَعَ إِلَى رَبِّهِ فَقَالَ إِنَّ هَذِهِ تَحِيَّتُكَ وَتَحِيَّةُ بَنِيكَ بَيْنَهُمْ فَقَالَ له اللّٰهُ وَيَدَاهُ مَقْبُوضَتَانِ اخْتَرْ أَيَّهُمَا شِئْتَ فَقَالَ اخْتَرْتُ يَمِينَ رَبِّي وَكِلْتَا يَدَيْ رَبِّي يَمِينٌ مُبَارَكَةٌ ثُمَّ بَسَطَهَا فَإِذَا فِيهَا آدَمُ وَذُرِّيَّتُهُ فَقَالَ أَيْ رَبِّ مَا هَؤُلَاءِ فَقَالَ هَؤُلَاءِ ذُرِّيَّتُكَ فَإِذَا كُلُّ إِنْسَانٍ مَكْتُوبٌ عُمْرُهُ بَيْنَ عَيْنَيْهِ فَإِذَا فِيهِمْ رَجُلٌ أَضْوَؤُهُمْ أَوْ مِنْ أَضْوَئِهِمْ قَالَ يَا رَبِّ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا ابْنُكَ دَاوُدُ قَدْ كَتَبْتُ

د حضرت ابوهريره ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله ﷻ چي کله حضرت آدم ﷵ پيدا کړ او روح يې په کښي پو کړل نو هغه ته ټرچي ورغلی او هغه د خدای تعالی په توفيق او اجازې سره الحمدلله وويل ، خدای تعالی وويل ، ای آدمه ! الله ﷻ دي پر تا رحم وکړي اوس ته د ملائيکو و هغه جماعت ته ورسه چي ناست دی او هغوئ ته سلام وکړه يعني السلام عليکم ورته ووايه نو ده وويل چي السلام عليکم ملائکو وويل : و عليك السلام ورحمة الله د دي څخه وروسته حضرت آدم ﷵ و خپل پروردګار ته راغلی او الله ﷻ هغه ته وفرمايل: دا (السلام عليکم ورحمة الله) ستا او ستا د اولاد دعا ده چي په خپلو کي به يې کوئ ، بيا الله ﷻ د خپل دواړو بنده لاسونو ته اشاره

لَهُ عُمْرُ أَرْبَعِينَ سَنَةً قَالَ يَا رَبِّ زِدْهُ فِي عُمْرِهِ قَالَ ذَالِكَ الَّذِي كَتَبْتُ لَهُ قَالَ أَيْ رَبِّ فَإِنِّي قَدْ جَعَلْتُ لَهُ مِنْ عُمْرِي سِتِّينَ سَنَةً قَالَ أَنْتَ وَذَاكَ قَالَ ثُمَّ أُسْكِنَ الْجَنَّةَ مَا شَاءَ اللّٰهُ ثُمَّ أُهْبِطَ مِنْهَا فَكَانَ آدَمُ يَعُدُّ لِنَفْسِهِ قَالَ فَأَتَاهُ مَلَكُ الْمَوْتِ فَقَالَ لَهُ آدَمُ قَدْ عَجَّلْتَ قَدْ كُتِبَ لِي أَلْفُ سَنَةٍ قَالَ بَلَى وَلَكِنَّكَ جَعَلْتَ لِابْنِكَ دَاوُدَ سِتِّينَ سَنَةً فَجَحَدَ فَجَحَدَتْ ذُرِّيَّتُهُ وَنَسِيَ فَنَسِيَتْ ذُرِّيَّتُهُ قَالَ فَمِنْ يَوْمَئِذٍ أُمِرَ بِالْكِتَابِ وَالشُّهُودِ. رواه الترمذي.

وكړه او ويې فرمايل: په دې دواړو لاسونو كې يو (د څان لپاره) خوښ كړه ، حضرت آدم ﷺ د خداي تعالى راسته لاس خوښ كړ او د خداي تعالى دواړه لاسونه بركتناك دي بيا الله ﷻ خپل دواړه لاسونه خلاص كړل نو هغه د آدم ﷺ او د هغه د ذريات څخه ډك سو ،حضرت آدم ﷺ پوښتنه وكړه اې پروردگاره! داڅوك دي؟ الله ﷻ ورته وفرمايل: دا ستا اولاد دي ، حضرت آدم ﷺ وليدل چې د هغوي د هر انسان عمر د هغوي د سترگو په مينځ كې ليكلي دي ، بيا په هغوئ كې حضرت آدم ﷺ يو روښانه (د ټولو خلكو څخه ډېر روښانه) سړی وليد او پوښتنه يې وكړه اې پروردگاره! دا څوك دی؟الله ﷻ ورته وفرمايل: دا ستا زوی داؤد ﷺ دی او ما دده عمر څلوښت كاله ليكلي دي حضرت ادم ﷺ وويل اې ربه عمر يې زيات كړې ، الله ﷻ وفرمايل دا هغه قدر دی چې دده لپاره مې ليكلی دی ، حضرت آدم ﷺ وويل: اې پروردگاره! ما دخپل عمر څخه شپېته كاله و ده ته وركړل ، الله ﷻ ورته وفرمايل: ته پوه شه او ستا زوئ داؤد ﷺ ، نبي كريم ﷺ وفرمايل: چې آدم ﷺ (د دې څخه وروسته) تر څو پورې چې د الله ﷻ خوښه وه په جنت كې وو او بيا د جنت څخه لاندې را كښته سو ، حضرت آدم ﷺ به د خپل عمر كلونه شمېرل كله چې د هغه عمر نه سوه څلوښت كاله پوره سوه نو د مرگ ملائكې ورته راغلې ، حضرت آدم ﷺ ورته وفرمايل: تاسو تلوار وكړې زما عمر خو زركاله دی ، د مرگ ملائكې ورته وويل: هو ، ستا عمر زر كاله وو ليكن تا د خپل عمر شپېته كاله خپل زوی داؤد ﷺ ته وركړي دي ، حضرت آدم ﷺ د دې څخه انكار وكړ او د هغه اولاد هم انكار كوي او د حضرت آدم ﷺ څخه (د خداي تعالى ممانعت چې د ونې د مېوې د خوړلو په اړه وو) هېر سو او د هغه د اولاد څخه هم هېرېږي ، نبي كريم ﷺ وفرمايل: د دې ورځې څخه د ليكلو او د شاهد د درولو حكم وكړل سو . ترمذي.

**ښځو ته سلام كول يوازې نبي ﷺ ته جائز وه**

(۴۴۵۸): وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ قَالَتْ مَرَّ عَلَيْنَا رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي نِسْوَةٍ فَسَلَّمَ عَلَيْنَا . رواه ابوداؤد وابن ماجة والدارمي.

د بي بي اسماء بنت يزيد رض څخه روايت دی چې نبي كريم ﷺ موږ ښځو ته چې ناستې وو موږ نژدې تېر سو او موږ ته يې سلام وكړ . ابوداؤد ، ابن ماجه او دارمي

## د سلام فضیلت

(۴۲۵۹): وَعَنِ الطُّفَيْلِ بْنِ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ أَنَّهُ كَانَ يَأْتِي ابْنَ عُمَرَ فَيَغْدُو مَعَهُ إِلَى السُّوقِ قَالَ فَإِذَا غَدَوْنَا إِلَى السُّوقِ لَمْ يَمُرَّ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ عَلَى سَقَاطٍ وَلَا صَاحِبِ بِيعَةٍ وَلَا مِسْكِينٍ وَلَا على أَحَدٍ إِلَّا سَلَّمَ عَلَيْهِ قَالَ الطُّفَيْلُ فَجِئْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ يَوْمًا فَاسْتَتْبَعَنِي إِلَى السُّوقِ فَقُلْتُ لَهُ وَمَا تَصْنَعُ فِي السُّوقِ وَأَنْتَ لَا تَقِفُ عَلَى الْبَيْعِ وَلَا تَسْأَلُ عَنِ السِّلَعِ وَلَا تَسُومُ بِهَا وَلَا تَجْلِسُ فِي مَجَالِسِ السُّوقِ فَاجْلِسْ بِنَا هَاهُنَا نَتَحَدَّثُ قَالَ فَقَالَ لِي عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ يَا أَبَا بَطْنٍ وَكَانَ الطُّفَيْلُ ذَا بَطْنٍ إِنَّمَا نَغْدُو مِنْ أَجْلِ السَّلَامِ نُسَلِّمُ عَلَى مَنْ لَقِينَا. رواه مالك والبيهقي في شعب الايمان.

د حضرت طـفـيل بن ابي بن كعب ؓ څخه روايت دی چي طفيل ؓ به ابن عمر ؓ ته را تلی او ابن عمر ؓ به هغه د سهار په وخت کي بازار ته بیوی کوم وخت چي به هغه بازار ته ولاړی نو کوم د کاندار عاجز او صاحب د بیع مسکین یا د بل سړي سره چي نژدې تېرېدی نو هغه ته به يې سلام کوی ، د طفيل بيان دی ، يوه ورځ زه (د معمول مطابق) ابن عمر ؓ ته ورغلم هغه زه با زار ته بوتلم ما ورته وویل ته د څه لپاره و بازار ته ځې چي نه خو څه رانیسي او نه څه خرڅوې او نه د يوه شي نرخ معلوموې نه سوداګری کوې او نه د بازار په مجلس کي شاملېږې ، راځه چي دلته کښېنو ، خبري به کوو ، طفيل ؓ وايي د دې په جواب کي ابن عمر ؓ راته وويل : اي ځېټو! (د طفيل نس غټ وو) موږ صرف و سلام ته خو او هر هغه سړي ته سلام کوو کوم چي زموږ سره يو ځای کېږي . مالك او بيهقي.

## سلام نه کول بخل دی

(۴۲۶۰): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ أَتَى رجل النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِفُلَانٍ فِي حَائِطِي عَذْقٌ وَإِنَّهُ قَدْ آذَانِي مَكَانُ عَذْقِهِ فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان بِعْنِي عَذْقَكَ قَالَ لَا قَالَ فَهَبْهُ لِي قَالَ لَا قَالَ فَبِعْنِيهِ بِعَذْقٍ فِي الْجَنَّةِ فقال لَا فَقَالَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا رَأَيْتُ الَّذِي هُوَ أَبْخَلُ مِنْكَ إِلَّا الَّذِي يَبْخَلُ بِالسَّلَامِ. رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان.

د حضرت جابر ؓ څخه روايت دی چي يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او وه يې ويل : چي زما په باغ کي د فلاني سړی د خرماؤ يوه درخته ده او د هغه دا درخته ماته تکليف راکوي (يعني د دې مالك وخت بې وخته باغ ته را ځي او زما اهل وعيال ته ځيني تکليف رسيږي) نبي كريم ﷺ هغه سړی را وغوښتی او هغه ته يې وويل: ته خپله درخته پر ما خرڅه کره ، هغه وويل : زه يې نه خرڅوم ، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : چي ته يې نه خرڅوې نو هبه يې کړه ماته، هغه وويل، چي هبه کوم يې هم نه ، نبي

كريم ﷺ ورته وفرمايل: ښه نو درخته د درختي په عوض كي پر ما خرخه كړه ، هغه وويل دا سي هم نه كوم ، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: ما ستا څخه زيات بخيل سړى نه دى ليدلى خو هغه سړي ستا څخه نور هم زيات بخيل دي چي و خلكو ته په سلام كولو كي بخل كوي. احمد او بيهقي.

**په سلام كولو كي لومړيتوب**

| | |
|---|---|
| ﴿۴۴۶۱﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْبَادِئُ بِالسَّلَامِ بَرِيْءٌ مِّنَ الْكِبْرِ . رواه البيهقي في شعب الإيمان. | د حضرت عبدالله ؓ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په سلام كي مختـه كېدونكي د تكبر څخه پاك دى. بيهقي |

# بَابُ الْاِسْتِيْذَانِ (د اجازې غوښتلو بيان)

## لومړى فصل

**د اجازې لپاره درې واره سلام كول**

| | |
|---|---|
| ﴿۴۴۶۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ اتانا ابوموسى قال ان عُمَرَ أَرْسَلَ إِلَيَّ أَنْ آتِيَهُ فَأَتَيْتُ بَابَهُ فَسَلَّمْتُ ثَلَاثًا فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ فَرَجَعْتُ فَقَالَ مَا مَنَعَكَ أَنْ تَأْتِيَنَا فَقُلْتُ إِنِّي أَتَيْتُكَ فَسَلَّمْتُ عَلَى بَابِكَ ثَلَاثًا فَلَمْ يَرُدُّوا عَلَيَّ فَرَجَعْتُ وَقَدْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَأْذَنَ أَحَدُكُمْ ثَلَاثًا فَلَمْ يُؤْذَنْ لَهُ فَلْيَرْجِعْ فَقَالَ عُمَرُ أَقِمْ عَلَيْهِ الْبَيِّنَةَ قَالَ أَبُو سَعِيدٍ فَقُمْتُ مَعَهُ فَذَهَبْتُ إِلَى عُمَرَ فَشَهِدْتُ. متفق عليه. | د حضرت ابوسعيد خدري ؓ څخه روايت دى چي ابو موسى اشعرى ؓ (يوه ورځ) موږ تـه راغى او ويې ويل ، چي حضرت عمر ؓ ما تـه يو سړى را ولېږى زه يې را وغوښتلم زه د هغه دروازې ته راغلم او د اجازت د حاصلولو لپاره مـي درې واره سلام وكړ خـو مـا تـه د سلام جواب را نغـى نو زه بيرته راغلم بيا (په بله موقع حضرت عمر ؓ ما ته وفرمايل: وروره ته را نغلې څه وسوه ؟ ما ورته وويل: زه حاضر |

سوى وم او ستاسو په دروازه كي و درېدلم درې واره مي سلام كړى وو ليكن په كوروالاؤ كي هيچا د سلام جواب را نكړ په دې وجه زه بيرته راغلم ځكه چي نبي كريم ﷺ ما ته دا فرمايلي دي كله چي په تاسو كي څوك درې واره اجازت و غواړي كه اجازت ورته و نه سو نو بيرته دې ځي ، په دې اورېدو سره حضرت عمر ؓ وفرمايل: د دې حديث شاهد را وله ابو سعيد ؓ (د دې حديث راوي) وايي چي د ابوموسى سره زه و حضرت عمر ؓ ته ورغلم او شاهدي مي وركړه چي دا حديث صحيح دى. بخاري او مسلم.

**خاص اجازه**

(۴۴۶۳): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْنُكَ عَلَيَّ أَنْ تُرْفَعَ الْحِجَابُ وَأَنْ تَسْتَمِعَ سِوَادِي حَتَّى أَنْهَاكَ. رواه مسلم.

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ و ما ته فرمایل: زه و تا ته اجازت درکوم چي ته زما د دروازې پرده پورته کوه او د ننه را څه او تر څو پوري چي زه تا منعه نه کړم زما پټي خبري اوره . مسلم

**داسي مه وایه چي زه یم**

(۴۴۶۴): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي دَيْنٍ كَانَ عَلَى أَبِي فَدَقَقْتُ الْبَابَ فَقَالَ مَنْ ذَا فَقُلْتُ أَنَا فَقَالَ أَنَا أَنَا كَأَنَّهُ كَرِهَهَا. متفق عليه.

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي د پور په یوه معامله کي چي زما پر پلار وو زه رسول الله ﷺ ته ورغلم دروازه مي و تکوله ، نبي کریم ﷺ پوښتنه وکړه چي څوك دئ ، ما وویل زه یم ، نبي کریم ﷺ وفرمایل: زه یم زه یم مطلب نبي کریم ﷺ زما دا الفاظ بد وګڼل . بخاري او مسلم.

(۴۴۶۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ دَخَلْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدَ لَبَنًا فِي قَدَحٍ فَقَالَ أَبَا هِرٍّ الْحَقْ بِأَهْلِ الصُّفَّةِ فَادْعُهُمْ إِلَيَّ فَأَتَيْتُهُمْ فَدَعَوْتُهُمْ فَأَقْبَلُوا فَاسْتَأْذَنُوا فَأُذِنَ لَهُمْ فَدَخَلُوا. رواه البخاري.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي زه د رسول الله ﷺ سره (د هغوئ په کور کي) دا خل سوم نبي کریم ﷺ په خپل کور کي یوه پیاله پیدا کړه چي شیدې پکښي وې نو ما ته یې وفرمایل: اې ابوهریره! (ولاړ سه او) اهل صفه ما ته را ولـه زه هغوئ ته ورغلم ما اهل صفه را و غوښتل هغوئ په دروازه حاضر سول اجازت یې و غوښت نبي کریم ﷺ ورته اجازه ورکړه او دوئ داخل سول . بخاري.

## دویم فصل

**بېله اجازې د بل کور ته مه داخلیږئ**

(۴۴۶۶): عَنْ كَلَدَةَ بْنِ حَنْبَلٍ أَنَّ صَفْوَانَ بْنَ أُمَيَّةَ بَعَثَهُ بِلَبَنٍ او جداية وَضَغَابِيسَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَعْلَى الْوَادِي قَالَ فَدَخَلْتُ عَلَيْهِ

د حضرت کلده بن حنبل ﷺ څخه روایت دی چي صفوان بن امیه زما په لاس رسول الله ﷺ ته شیدې د اوسۍ یو بچی او ترې (ککړی) ولیږلې دا وخت نبي کریم ﷺ د مکې معظمې په پورته طرف کي چي هغې ته معلا وایي تشریف فرما وو زه د نبي کریم ﷺ په

وَلَمْ أُسَلِّمْ وَلَمْ أَسْتَأْذِنْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارْجِعْ فَقُلِ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَأَدْخُلُ. رواه الترمذي وابوداؤد.

خدمت کي دا غسي ورغلم يعني نه مي سلام وکړ او نه مي اجازه و غوښتل نبي کريم ﷺ و ما ته وفرمايل: بيرته ولاړ سه (يعني د کور څخه د باندي د هغه ځايه څخه) السلام عليکم ووايه او د ننه د راتلو اجازت واخله . ترمذي او ابوداؤد ..

### د غوښتونکي سره راتګ

(۴۴۶۷): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ فَجَاءَ مَعَ الرَّسُولِ فَإِنَّ ذَلِكَ لَهُ إِذْنٌ. رواه ابوداؤد. وفي رواية له قال رسول الرجل الى الرجل اذنه.

د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي په تاسو کي يو څوك را وغوښتل سي او بيا دی د قاصد سره راسي نو د قاصد سره را تلل د ده لپاره اجازت دی، او د ابوداؤد په بل روايت کي دي چي نبي کريم ﷺ وويل قاصد لېږل د سړي بل سړي ته اذن دی . ابوداؤد

### د بل چا کور ته د تلو ادبونه

(۴۴۶۸): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ بُسْرٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَى بَابَ قَوْمٍ لَمْ يَسْتَقْبِلِ الْبَابَ مِنْ تِلْقَاءِ وَجْهِهِ وَلَكِنْ مِنْ رُكْنِهِ الْأَيْمَنِ أَوِ الْأَيْسَرِ فَيَقُولُ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَذَلِكَ أَنَّ الدُّورَ لَمْ يَكُنْ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا سُتُورٌ. رواه ابوداؤد وذكر حديث انس قال عليه الصلاة والسلام السلام عليكم ورحمة الله في باب الضيافة.

د حضرت عبدالله بن بسر ؓ څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ د يو چا کور ته ورتلی نو د دروازي و مخ ته به نه درېدی بلکه د دروازي راسته يا چپه لور ته به درېدی او (د اجازت د اخيستلو لپاره به يې) السلام عليکم السلام عليکم ويل او د دروازي مخته به په دي وجه چي په هغه زمانه کي به د دروازي مخته پردي نه وي . ابوداؤد. او د انس ؓ حديث چي نبي کريم ﷺ السلام عليکم ورحمة الله ويل د ضيافت په باب کي بيان سوی دی .

## دريم فصل

### د خپل مور څخه هم اجازه غواړه

(۴۴۶۹): عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَسْتَأْذِنُ عَلَى أُمِّي فَقَالَ نَعَمْ فَقَالَ الرَّجُلُ إِنِّي مَعَهَا فِي الْبَيْتِ

د حضرت عطاء بن يسار ؓ څخه روايت دی چي يوه سړي د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه ايا زه و خپلي مور ته په ورتلو کي اجازت غواړم؟ نبي

| | |
|---|---|
| فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَأْذِنْ عَلَيْهَا فَقَالَ الرَّجُلُ إِنِّي خَادِمُهَا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَأْذِنْ عَلَيْهَا أَتُحِبُّ أَنْ تَرَاهَا عُرْيَانَةً قَالَ لَا قَالَ فَاسْتَأْذِنْ عَلَيْهَا. رواه مالك مرسلا. | كريم ﷺ ورته وفرمايل: هو! سړي ووېل: زه او زما مور په يوه كور كي اوسيږو، نبي كريم ﷺ وفرمايل: كله چي و هغې ته ورځې نو اجازت و غواړه هغه ووېل: چي زه د خپلي مور خادم يم (يعني د هغې د خدمت لپاره بار بار زه و هغې ته |

خو) نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: د اجازي د غوښتلو څخه وروسته ورځه ايا ته دا خبره خوښوې چي خپله مور لڅه ووينې؟ هغه ووېل: يا، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: د اجازي د غوښتلو څخه وروسته ورځه. مالك مرسلا.

**د اجازي طريقه**

| | |
|---|---|
| (۴۲۷۰): وَعَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه قَالَ كَانَ لِي مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَدْخَلٌ بِاللَّيْلِ وَمَدْخَلٌ بِالنَّهَارِ فَكُنْتُ إِذَا دَخَلْتُ بِاللَّيْلِ تَنَحْنَحَ لِي. رواه النسائي. | د حضرت علي ؓ څخه روايت دی چي زه به (هر وخت) شپه او ورځ نبي كريم ﷺ ته ورتلم كله چي به زه د شپې په خدمت كي حاضرېدم نو نبي كريم ﷺ به د اجازت راكولو لپاره غاړه تازه كوله ما ته. نسائي |

**سلام نه كونكي**

| | |
|---|---|
| (۴۲۷۱): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَأْذَنُوا لِمَنْ لَمْ يَبْدَأْ بِالسَّلَامِ. رواه البيهقي في شعب الإيمان. | د حضرت جابر ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: اجازه مه وركوئ هغه چا ته چي اول سلام ادا نه كړي. بيهقي |

# بَابُ الْمُصَافَحَةِ وَالْمُعَانَقَةِ

## (د لاس د روغبړ او د غاړي د روغبړ بيان)

## لومړی فصل

**مصافحه مشروع ده**

| | |
|---|---|
| (۴۲۷۲): عَنْ قَتَادَةَ قَالَ قُلْتُ لِأَنَسٍ أَكَانَتِ الْمُصَافَحَةُ فِي أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ | د حضرت ابو قتاده ؓ څخه روايت دی چي ما د انس ؓ څخه پوښتنه وكړه چي د رسول الله ﷺ په |

وَسَلَّمَ قَالَ نَعَمْ . رواه البخاري

اصحابو کرامو کي د مصافحې (د لاس روغبړ) رواج وو ؟ هغه وفرمايل : هو! بخاري

**د کوچنيانو سره مينه مستحب ده**

(۴۲۷۳): وَعَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَبَّلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ وَعِنْدَهُ الْاَقْرَعُ بْنُ حَابِسٍ فَقَالَ الْاَقْرَعُ إِنَّ لِي عَشَرَةً مِنَ الْوَلَدِ مَا قَبَّلْتُ مِنْهُمْ اَحَدًا فَنَظَرَ اِلَيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ مَنْ لَا يَرْحَمُ لَا يُرْحَمُ. متفق عليه.
وسنذكر حديث أبي هريرة أثم لكع في باب مناقب أهل بيت النبي صلى الله عليه وعليهم أجمعين إن شاء تعالى وذكر حديث أم هانئ في باب الأمان.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ حسن بن علي ﷺ مچ کړى دا وخت د نبي کريم ﷺ سره اقرع بن حابس ﷺ ناست وو هغه چې نبي کريم ﷺ په مچولو سره وليدى نو يې وويل ، زما لس زامن دي ما هيڅکله په هغوئ کي يو هم نه دى مچ کړى ، نبي کريم ﷺ د هغه وطرف ته وکتل ورته يې وفرمايل: کوم سړى چې (پر خپل اولاد يا د خداى تعالى پر مخلوق) مهرباني او شفقت نه کوي پر هغه رحم نه کيږي يعني الله ﷺ پر هغه باندي رحم نه کوي . بخاري او مسلم، او د پر ژر به موږ د ابوهريره ﷺ حديث : ثم لكع د اهل بيت د مناقبو په باب کي بيان کړو او د ام هاني حديث په باب الامان کي راغلى دى .

**د مصافحې فضيلت**

(۴۲۷۴): وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مُسْلِمَيْنِ يَلْتَقِيَانِ فَيَتَصَافَحَانِ إِلَّا غُفِرَ لَهُمَا قَبْلَ اَنْ يَتَفَرَّقَا . رواه احمد والترمذي وابن ماجة و رواية ابي داؤد قال اذا التقى المسلمان فتصافحا وحمد الله واستغفراه غفر لهما.

د حضرت براء بن عازب ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل : کله چې دوه مسلمانان سره يو ځاى سي او مصافحه کوي نو هغوئ د جلا کېدو مخکي بخښل کيږي . احمد ، ترمذي او ابن ماجه، او د ابوداؤد په يوه روايت کي دا الفاظ دي کله چې د وه مسلمانان سره يو ځاي سي او مصافحه وکړي د خداي تعالى ثناء بيان کړي او بخښنښ و غواړي نو هغوئ بخښل کيږي .

**د سلام په وخت کي بايد سرکښته نه سي**

(۴۲۷۵): وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ الرَّجُلُ مِنَّا يَلْقَى اَخَاهُ اَوْ صَدِيْقَهُ اَيَنْحَنِي لَهُ قَالَ لَا قَالَ اَفَيَلْتَزِمُهُ وَيُقَبِّلُهُ قَالَ لَا قَالَ اَفَيَاْخُذُ بِيَدِهٖ

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چې يوه سړي وويل: اې د الله ﷺ رسوله ! کله چې په موږ کي څوک د خپل مسلمان ورور يا دوست سره

| | |
|---|---|
| وَيُصَافِحُهُ قَالَ نَعَمْ. رواه الترمذي. | ملاقات كوي نو ايا هغه (د هغه د تعظيم لپاره) |

ورته سر کښته کړي ؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: يا ! هغه سري وويل ، ايا د هغه سره معانقه وكړي ؟ (يعني هغه ته په غاړه ورسي او مچ يې كړي) نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : يا ! هغه سري بيا پوښتنه وکړل ايا د هغه لاس په خپل لاس کي ونيسي مصافحه ورسره وکړي؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : هو . ترمذي .

## د مريض پوښتنه

| | |
|---|---|
| (۴۴۷۶): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَمَامُ عِيَادَةِ الْمَرِيضِ أَنْ يَضَعَ أَحَدُكُمْ يَدَهُ عَلَى جَبْهَتِهِ أَوْ عَلَى يَدِهِ فَيَسْأَلُهُ كَيْفَ هُوَ وَتَمَامُ تَحِيَّاتِكُمْ بَيْنَكُمْ الْمُصَافَحَةُ . رواه احمد والترمذي. | د حضرت ابو امامه ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د ناروغه پوره پوښتنه داده چي چي ته خپل لاس د ناروغه پر تندي يا پر لاس كښېږدي او د هغه څخه د هغه حال و پوښتي چي څنګه يې او پوره سلام كول دادي |

چي د سلام څخه وروسته ورسره مصافحه هم وکړي . احمد او ترمذي.

| | |
|---|---|
| (۴۴۷۷): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَدِمَ زَيْدُ بْنُ حَارِثَةَ الْمَدِينَةَ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَيْتِي فَأَتَاهُ فَقَرَعَ الْبَابَ فَقَامَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُرْيَانًا يَجُرُّ ثَوْبَهُ وَاللَّهِ مَا رَأَيْتُهُ عُرْيَانًا قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ فَاعْتَنَقَهُ وَقَبَّلَهُ . رواه الترمذي | د بي بي عائشي رض څخه روايت دی چي زيد بن حارثه و مديني منورې ته راغلی او د نبي کريم ﷺ سره د ملاقات لپاره حاضر سو نبي کريم ﷺ دا وخت په کور کي وو ، هغه دروازه وټکوله نبي کريم ﷺ لنګ وهلی لغ بدن باندي د څادر را |

کښولو سره د باندي را ووت قسم په خداي چي ماهيڅکله نبي کريم ﷺ ددې څخه مخکي او وروسته لغ نه وو ليدلی ، نبي کريم ﷺ زيد ؓ په غاړه کي ونيوی او مچ يې کړ . ترمذي.

## معانقه

| | |
|---|---|
| (۴۴۷۸): وَعَنْ أَيُّوبَ بْنِ بُشَيْرٍ عَنْ رَجُلٍ مِنْ عَنَزَةَ أَنَّهُ قَالَ قُلْتُ لِأَبِي ذَرٍّ هَلْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَافِحُكُمْ إِذَا لَقِيتُمُوهُ قَالَ مَا لَقِيتُهُ قَطُّ إِلَّا صَافَحَنِي وَبَعَثَ إِلَيَّ ذَاتَ يَوْمٍ وَلَمْ أَكُنْ فِي أَهْلِي فَلَمَّا جِئْتُ أُخْبِرْتُ فَأَتَيْتُهُ وَهُوَ عَلَى سَرِيرِهِ فَالْتَزَمَنِي | حضرت ايوب بن بشير ؓ د بنو عنزه د قبيلې د يو سړي څخه نقل كوي هغه سړي د ابوذر ؓ څخه پوښتنه وکړه کله چي نبي کريم ﷺ به ستاسو سره ملاقات كوی نو مصافحه به يې هم کول ؟ ابوذر ؓ وويل ما چي هر كله د نبي كريم ﷺ سره ملاقات كړی دی نو نبي كريم |

فَكَانَتْ تِلْكَ أَجْوَدَ وَأَجْوَدَ. رواه ابوداؤد.

ﷺ زما سره مصافحه کړې ده يوه ورځ نبي کريم ﷺ زه را وغوښتلم خو هغه وخت زه په کور کي نه وم زه چي کورته راغلم او ما ته د دي اطلاع وسوه نو زه د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سوم نبي کريم ﷺ دا وخت پر تخت باندي ناست وو نبي کريم ﷺ زه و خپل غاړي ته کش کړم او دا غاړه ډېر بهتره سوه (يعني د مصافحې څخه زياته بهتر سو چي د معانقې برکت او راحت راته حاصل سو). ابوداؤد.

(۴۴۷۹): وَعَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ أَبِي جَهْلٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ جِئْتُهُ مَرْحَبًا بِالرَّاكِبِ الْمُهَاجِرِ. رواه الترمذي.

د حضرت عکرمه بن ابو جهل ؓ څخه روايت دی کوم وخت چي زه د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سوم نو نبي کريم ﷺ و ماته وفرمايل هجرت کونکی سپور ته دي مرحبا وي . ترمذي.

### د رسول ﷺ بدن مچول

(۴۴۸۰): وَعَنْ أُسَيْدِ بْنِ حُضَيْرٍ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ قَالَ بَيْنَمَا هُوَ يُحَدِّثُ الْقَوْمَ وَكَانَ فِيهِ مِزَاحٌ بَيْنَا يُضْحِكُهُمْ فَطَعَنَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي خَاصِرَتِهِ بِعُودٍ فَقَالَ أَصْبِرْنِي فَقَالَ اصْطَبِرْ قَالَ إِنَّ عَلَيْكَ قَمِيصًا وَلَيْسَ عَلَيَّ قَمِيصٌ فَرَفَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَمِيصِهِ فَاحْتَضَنَهُ وَجَعَلَ يُقَبِّلُ كَشْحَهُ قَالَ إِنَّمَا أَرَدْتُ هٰذَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت اسيد بن حضير انصاري ؓ څخه روايت دئ چي هغه يوه ورځ د خپل قوم سره خبري کولې او دی توکی (مسخر کونکی) وو، له دي کبله خلکو د هغه د خبرو سره خندل او هغه په خپلو خبرو سره قوم خندوئ چي رسول الله ﷺ د هغه تشي په ډيکه ووهئ ، هغه رسول الله ﷺ ته وويل ما ته ددي بدله راکړه ، رسول الله ﷺ ورته فرمايل (ښه دئ) بدله واخله ، هغه ورته وويل : ستاسو ﷺ پر بدن جامه ده او زه لوڅ وم ، نبي کريم ﷺ خپل قيمص واروئ ، اسيد ؓ د نبي کريم ﷺ تشي ته ور جوخت سو او د هغه مچول يې پيل کړل بيا يې وويل اې د الله رسوله ! ما يوازي دا غوښتل (يعني ستاسو بدن مبارک مي مچول غوښتل). ابوداؤد.

### معانقه او مچول

(۴۴۸۱): وَعَنِ الشَّعْبِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَلَقَّى جَعْفَرَ بْنَ أَبِي طَالِبٍ فَالْتَزَمَهُ وَقَبَّلَ مَا بَيْنَ عَيْنَيْهِ. رواه ابوداؤد والبيهقي في شعب الايمان مرسلا وفي بعض نسخ المصابيح وشرح السنة عن البياضي متصلا.

د حضرت شعبي ؓ څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ د جعفر بن ابو طالب سره يو ځاى سو او د هغه سره غاړه په غاړه سو نو هغه يې د سترګو په منځ کي مچ کړ . ابوداؤد ، بيهقي په شعب الايمان کي مرسلا روايت کړى دئ ، د مصابيح

په ځینو نسخو کې او په شرح السنه کې د البیاضي څخه مرسلا روایت دئ.

| | |
|---|---|
| (۴۴۸۲): وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ أَبِيْ طَالِبٍ فِيْ قِصَّةِ رُجُوْعِهٖ مِنْ أَرْضِ الْحَبَشَةِ قَالَ فَخَرَجْنَا حَتّٰى أَتَيْنَا الْمَدِيْنَةَ فَتَلَقَّانِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاعْتَنَقَنِيْ ثُمَّ قَالَ مَا أَدْرِيْ أَنَا بِفَتْحِ خَيْبَرَ أَفْرَحُ أَمْ بِقُدُوْمِ جَعْفَرٍ وَوَافَقَ ذٰلِكَ فَتْحُ خَيْبَرَ .رواه في شرح السنة. | حضرت جعفر بن ابو طالب ﷺ د حبشې څخه د راګرځېدو د قصې په بیانولو سره فرمایي چې موږ د حبشې څخه را روان سو مدینې ته راغلو ، رسول الله ﷺ زموږ سره یو ځای سو او زه یې د خپل غاړې مبارکې سره جوخت کړم او وه یې فرمایل : زه نه سم ویلای چې |

ما ته د خیبر د فتح خوشحالي زیاته ده یا د جعفر راتګ، جعفر په دغه ورځ راغلی وو په کومه ورځ چې خیبر فتح سوی وو. شرح السنه..

## د رسول ﷺ لاسونه او پښې مچول

| | |
|---|---|
| (۴۴۸۳): وَعَنْ زَارِعٍ وَكَانَ فِيْ وَفْدِ عَبْدِ الْقَيْسِ قَالَ لَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِيْنَةَ فَجَعَلْنَا نَتَبَادَرُ مِنْ رَوَاحِلِنَا فَنُقَبِّلُ يَدَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرِجْلَهُ . رواه ابوداؤد. | حضرت زارع چې د عبد القیس په ډله کې ګډ وو وایي کله چې موږ مدینې ته راغلو نو موږ په تلوار تلوار د خپلو سپرلیو څخه کښته سو او موږ د رسول الله ﷺ لاس او پښې مبارکې مچ کړلې . ابوداؤد. |

## د اولاد مچول

| | |
|---|---|
| (۴۴۸۴): وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ مَا رَأَيْتُ أَحَدًا كَانَ أَشْبَهَ سَمْتًا وَهَدْيًا وَدَلًّا وَ في رواية حَدِيثًا وَكَلَامًا بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ فَاطِمَةَ كَانَتْ إِذَا دَخَلَتْ عَلَيْهِ قَامَ إِلَيْهَا فَأَخَذَ بِيَدِهَا وَقَبَّلَهَا وَأَجْلَسَهَا فِيْ مَجْلِسِهٖ وَكَانَ إِذَا دَخَلَ عَلَيْهَا قَامَتْ إِلَيْهِ فَأَخَذَتْ بِيَدِهٖ فَقَبَّلَتْهُ وَأَجْلَسَتْهُ فِيْ مَجْلِسِهَا. رواه ابوداؤد. | د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چې ما په هیئت او طریقه ، سیرت، عادت او شکل کې او په یو بل روایت کې دا الفاظ دي چې په خبرو او کلام کې د رسول الله ﷺ سره زیات مشابه تر بي بي فاطمې بل څوك نه دی لیدلی ، (په دې تولو شیانو کې بي بي فاطمه د رسول الله ﷺ مشابه وه) کله چې به بي بي فاطمه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضره سوه نو رسول الله ﷺ به |

ورته ولاړ سو او پر تندي به یې مچ کړه او پر خپل ځای به یې کښېنول او کله چې به رسول الله ﷺ د بي بي فاطمې کره ولاړی نو بي بي فاطمه به ورته ولاړه سوه د رسول الله ﷺ لاس مبارك به یې په خپل لاس کې واخیست او مچ به یې کړی او پر خپل ځای به یې کښېنوئ . ابوداؤد.

| | |
|---|---|
| (۴۴۸۵): وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ دَخَلْتُ مَعَ أَبِي بَكْرٍ أَوَّلَ مَا قَدِمَ الْمَدِينَةَ فَإِذَا عَائِشَةُ ابْنَتُهُ مُضْطَجِعَةٌ قَدْ أَصَابَتْهَا حُمَّى فَأَتَاهَا أَبُو بَكْرٍ فَقَالَ كَيْفَ أَنْتِ يَا بُنَيَّةُ وَقَبَّلَ خَدَّهَا . رواه ابوداؤد. | د حضرت براء ﷺ څخه روایت دئ چي کله ابوبکر ﷺ مدینې ته راغلی (یعني د یوې غزا څخه را ستون سو) نو زه ورسره د هغه کور ته ورغلم ما ولیدل چي د هغه لور بي بي عائشه پرته وه او به |

يې وه ، حضرت ابوبکر صدیق ﷺ هغې ته ورغلی او پوښتنه يې وکړه لورې څنګه يې ؟ بیا يې پر مخ مچ کړل . ابوداؤد.

**اولاد د بزدلۍ سبب دئ**

| | |
|---|---|
| (۴۴۸۶): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِصَبِيٍّ فَقَبَّلَهُ فَقَالَ أَمَا إِنَّهُمْ مَبْخَلَةٌ مَجْبَنَةٌ وَإِنَّهُمْ لَمِنْ رَيْحَانِ اللّٰهِ . رواه في شرح السنة. | د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي یو کوچنی نبي کریم ﷺ ته راوستل سو رسول الله ﷺ هغه مچ کړ او وه يې فرمایل دا اولاد د بخل |

باعث دئ دا اولاد د بیري سبب دئ او دا اولاد د خدای ﷻ نعمت دی . شرح السنه.

## دریم فصل

**انسان او ده اولاد**

| | |
|---|---|
| (۴۴۸۷): عَنْ يَعْلَى قَالَ اِنَّ حَسَنًا وَحُسَيْنًا اسْتَبَقَا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَمَّهُمَا إِلَيْهِ وَقَالَ إِنَّ الْوَلَدَ مَبْخَلَةٌ مَجْبَنَةٌ . رواه احمد. | د حضرت یعلي ﷺ څخه روایت دئ چي حضرت حسن او حضرت حسین (رض) رسول الله ﷺ ته په منډه راغلل او رسول الله ﷺ هغوئ |

خان ته را کش کړل او وه يې فرمایل اولاد د بخل سبب دئ اولاد دبیري سبب دئ . احمد.

**هدیه او مصافحه**

| | |
|---|---|
| (۴۴۸۸): وَعَنْ عَطَاءٍ الْخُرَاسَانِيِّ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَصَافَحُوا يَذْهَبِ الْغِلُّ وَتَهَادَوْا تَحَابُّوا وَتَذْهَبِ الشَّحْنَاءُ. رواه مالك مرسلا. | د حضرت عطاء خراساني ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : مصافحه (دلاس روغبړ) کوئ په دې سره بغض لیري کیږي او |

هدیه او تحفه یو بل ته لیږئ په دې سره مینه زیاتیږي او دښمني ختمیږي . مالك.

| | |
|---|---|
| (۴۴۸۹): وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى أَرْبَعًا قَبْلَ | د حضرت براء بن عازب ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کوم څوك چي تر غرمې |

الْهَاجِرَةِ فَكَأَنَّمَا صَلاَّهُنَّ فِيْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ وَالْمُسْلِمَانِ إِذَا تَصَافَحَا لَمْ يَبْقَ بَيْنَهُمَا ذَنْبٌ إِلاَّ سَقَطَ . رواه البيهقي في شعب الإيمان.

څلور ركعته وكړي دومره ثواب لري لكه په ليلة القدر كي چي وكړل سي ، او دوه مسلمانان چي په خپل منځ كي مصافحه كوي نو د هغوئ په منځ كي هيڅ گناه داسي نه پاته كيږي چي هغه ونه بخښل سي . بيهقي .

## بَابُ الْقِيَامِ (د تعظيم لپاره د دريدو بيان)

## لومړى فصل

### د اهل فضل تعظيم

(۴۲۹۰): عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ بَنُو قُرَيْظَةَ عَلَى حُكْمِ سَعْدٍ بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اليه وَكَانَ قَرِيبًا مِنْهُ فَجَاءَ عَلَى حِمَارٍ فَلَمَّا دَنَا مِنَ الْمَسْجِدِ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْأَنْصَارِ قُومُوا إِلَى سَيِّدِكُمْ. متفق عليه. و مضى الحديث بطوله في باب حكم الاسراء.

د حضرت ابو سعيد خدري ؓ څخه روايت دئ چي د بنو قريظه يهودو د حضرت سعد ؓ پر پريكړه اماده گي خرگنده كړه نو رسول الله ﷺ سعد بن معاذ راوغوښتئ ، سعد ؓ هغه خاى ته نژدې وو هغه پر خره سپور راغلى كله چي مسجد نبوي ته رانژدې سو نو رسول الله ﷺ انصارو ته وفرمايل تاسو خپل سردار ته ولاړ سئ . بخاري او مسلم ،دې پوره حديث د بنديانو د احكامو په باب كي تير سوى دئ .

### په مجلس كي ناست مه ولاړوئ

(۴۲۹۱): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يُقِيمُ الرَّجُلُ الرَّجُلَ مِنْ مَجْلِسِهِ ثُمَّ يَجْلِسُ فِيهِ وَلَكِنْ تَفَسَّحُوا وَتَوَسَّعُوا. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هيڅوك دې د خپل ناستي لپاره بل سړى د هغه خاى څخه نه ولاړوي مگر پراخه كوئ خايونه او خاى وركوئ خلكو ته . بخاري او مسلم .

### د خپل خاى حقداره

(۴۲۹۲): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَامَ مِنْ مَجْلِسِهِ ثُمَّ رَجَعَ إِلَيْهِ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ . رواه مسلم.

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كوم څوك چي په يو مجلس كي د خپل خاى څخه (د يو ضرورت لپاره) ولاړ سي او بيرته راسي نو د خپل خاى هغه زيات ور دئ . مسلم.

## دویم فصل

**مکروه کار**

| | |
|---|---|
| (۴۴۹۳): عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمْ يَكُنْ شَخْصٌ أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانُوا إِذَا رَأَوْهُ لَمْ يَقُومُوا لِمَا يَعْلَمُونَ مِنْ كَرَاهِيَتِهِ لِذَلِكَ. رواه الترمذي وقال هذا حديث صحيح. | د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي صحابه کرامو تر رسول الله ﷺ بل هیڅوک زیات محبوب او عزیز نه ګڼئ مګر د هغوئ دا عادت وو چي کله به رسول الله ﷺ تشریف راوړ نو د تعظیم لپاره |

به ورته نه دریدل ځکه چي هغوئ په دې پوهیدل چي رسول الله ﷺ دا کار مکروه ګڼئ . ترمذي دا حدیث حسن صحیح دئ .

**خلک ولاړ مه ساتئ**

| | |
|---|---|
| (۴۴۹۴): وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَتَمَثَّلَ لَهُ الرِّجَالُ قِيَامًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ. رواه الترمذي وابوداؤد. | د حضرت معاویه ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کوم څوك چي دا خبره خوښوي، چي خلك د هغه لپاره ولاړ سي نو هغه ته پکار ده |

چي په دوږخ کي خپل د ناستي ځای تیار کړي . ترمذي او ابوداؤد.

**د احترام لپاره مه ولاړیږئ**

| | |
|---|---|
| (۴۴۹۵): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَّكِئًا عَلَى عَصًا فَقُمْنَا له فَقَالَ لَا تَقُومُوا كَمَا تَقُومُ الْأَعَاجِمُ يُعَظِّمُ بَعْضُهَا بَعْضًا. رواه ابوداؤد. | د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ تشریف راوړ چي تکیه کونکی وو پر لکړه باندي نو موږ د تعظیم لپاره ولاړ سوو نو رسول الله ﷺ وفرمایل تاسو د تعظیم لپاره داسي مه ولاړیږئ |

لکه څرنګه چي عجمي خلك ولاړیږي په هغوئ کي ځیني د ځینو تعظیم کوي . ابوداؤد.

| | |
|---|---|
| (۴۴۹۶): وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي الْحَسَنِ قَالَ جَاءَنَا أَبُو بَكْرَةَ فِي شَهَادَةٍ فَقَامَ لَهُ رَجُلٌ مِنْ مَجْلِسِهِ فَأَبَى أَنْ يَجْلِسَ فِيهِ وَقَالَ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ ذَا وَنَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَمْسَحَ الرَّجُلُ يَدَهُ بِثَوْبِ مَنْ لَمْ يَكْسُهُ. رواه ابوداؤد. | د حضرت سعید بن ابو الحسن ﷺ څخه روایت دئ چي حضرت ابوبکر ﷺ په یوه فیصله کي د شاهدئ لپاره تشریف راوړ یو سړي د هغه د ناستي لپاره ځای خالي کولو په نیت ولاړ سو ، نو هغه د هغه سړي پر ځای د ناستي څخه |

انکار وکړ او وه یې فرمایل : نبي کریم ﷺ ددې څخه منع فرمایلې ده او د هغه سړي په جامه دلاس.

وچولو څخه يې منع فرمايلې ده چې هغه ته جامه نه ورکوي (لکه زوى، مزدور) چې کالي يې ستا په ذمه وي د هغه نفر په کالو لاس وچول ستا لپاره پروا نه لري . ابوداؤد.

**چې ولاړيږي پر ځاى يو شى پريږده**

(۲۴۹۷): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَلَسَ وَجَلَسْنَا حَوْلَهُ فَقَامَ فَأَرَادَ الرُّجُوعَ نَزَعَ نَعْلَيْهِ أَوْ بَعْضَ مَا يَكُونُ عَلَيْهِ فَيَعْرِفُ ذٰلِكَ أَصْحَابُهُ فَيَثْبُتُونَ . رواه.

د حضرت ابودرداء ﷺ څخه روايت دئ چې کله به رسول الله ﷺ تشريف راوړ او موږ بـه شـاوخوا ناست وو نو د رسول الله ﷺ دا عـادت مبارك وو که چيري به د وتلو ضرورت پيښ سو يعني کورته او بيرته د راتلو اراده به يې وه نو پر خپل ځاى به يې څپلى، څادر وغيره ايښودل، د رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته به د رسول الله ﷺ بيرته راتګ معلوميدى او هغوئ به پر خپل خپل ځاى ناست وه . ابوداؤد.

**د دوو کسانو په منځ کې کښېنستل**

(۲۴۹۸): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَحِلُّ لِرَجُلٍ أَنْ يُفَرِّقَ بَيْنَ اثْنَيْنِ إِلَّا بِإِذْنِهِمَا. رواه الترمذي وابوداؤد.

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د دوو ناستو خلکو په منځ کې بيلوالى راوستل (يعني د هغوئ په منځ کې کښېنستل) جائز نه دي مګر دا چې هغوئ اجازه ورکړي . ترمذي او ابوداؤد.

(۲۴۹۹): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَجْلِسْ بَيْنَ رَجُلَيْنِ إِلَّا بِإِذْنِهِمَا . رواه ابوداؤد.

حضرت عمرو بن شعيب ﷺ د خپل پلار څخه او هغه د پلار څخه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د دوو کسانو په منځ کې مه کښېنه مګر د دوئ په اجازه سره . ابوداؤد.

## دريم فصل

**د رسول ﷺ تعظيم**

(۲۵۰۰): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْلِسُ مَعَنَا فِي الْمَسْجِدِ يُحَدِّثُنَا فَإِذَا قَامَ قُمْنَا قِيَامًا حَتّٰى نَرَاهُ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به زموږ سره په مسجد کې ناست وو خبري به يې کولې بيا چې به کله رسول الله ﷺ ولاړيدئ نو موږ

| | |
|---|---|
| قَدْ دَخَلَ بَعْضَ بُيُوْتِ أَزْوَاجِه. | به هم ولاړيدلو او تر هغو پوري به ولاړ وو تر څو |

پوري چي موږ به رسول الله ﷺ په خپلو بيبيانو كي د يو چا كور ته داخل سو.

**د راتلونكي هر كلي ښه كار دى**

| | |
|---|---|
| (۴۵۰۱): وَعَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ دَخَلَ رَجُلٌ إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي الْمَسْجِد قَاعِدٌ فَتَزَحْزَحَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ الرَّجُلُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّ فِي الْمَكَانِ سَعَةً فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِلْمُسْلِمِ لَحَقًّا إِذَا رَآهُ أَخُوْهُ أَنْ يَتَزَحْزَحَ لَهُ. رواهما البيهقي في شعب الإيمان. | د حضرت واثله بن خطاب ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ په مسجد نبوي كي ناست وو چي يو سړى حاضر سو ، رسول الله ﷺ د خپل خاى څخه لږ آخوا سو او د هغه لپاره يې خاى خالي كړ هغه سړي ووېل اې دالله رسوله ! خاى بس او پراخ دئ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل د يو مسلمان حق دي چي هغه يو وړور راتلونكى |

ويني نو د هغه لپاره دي د خپل خاى څخه حركت وكړي (چي هغه هم كښيني). دواړه حديثونه بيهقي په شعب الايمان كي روايت كړي دي.

# بَابُ الْجُلُوْسِ وَالنَّوْمِ وَالْمَشْيِ

## (د ناستي، خوب او تګ بيان)

## لومړى فصل

**د ناستي طريقه**

| | |
|---|---|
| (۴۵۰۲): عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِفِنَاءِ الْكَعْبَةِ مُحْتَبِيًا بِيَدِه. رواه البخاري. | د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دئ چي ما رسول الله ﷺ د كعبې په غولي كي داسي ناست وليدئ چي د رسول الله ﷺ دواړه زنګنونه ولاړ |

وه او په خپلو مباركو لاسونو سره يې پر پنډو حلقه جوړه كړې وه. بخاري.

**د پروتي طريقه**

| | |
|---|---|
| (۴۵۰۳): وَعَبَّادِ بْنُ تَمِيمٍ عَنْ عَمِّه قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِد مُسْتَلْقِيًا وَاضِعًا إِحْدَى قدميه عَلَى الْأُخْرَى. متفق عليه. | حضرت عباد بن تميم ؓ د خپل اكا څخه روايت كوي چي ما رسول الله ﷺ په مسجد كي داسي پروت وليدئ چي شا يې پر مځكه او |

سينه يې آسمان ته وه (ستوني ستغ) چي يوه پښه مباركه يې پر بله اچولې ده . بخاري او مسلم.

(۲۵۰۴): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يَرْفَعَ الرَّجُلُ إِحْدَى رِجْلَيْهِ عَلَى الْاُخْرٰى وَهُوَ مُسْتَلْقٍ عَلَى ظَهْرِهٖ. رواه مسلم.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د داسي پريوتلو څخه منع فرمايلې ده چي يوه پښه ولاړه او بله پښه پر هغې سربيره كښيږدي او دی ستوني ستغ پروت وي . مسلم.

(۲۵۰۵): وَعَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَسْتَلْقِيَنَّ اَحَدُكُمْ ثُمَّ يَضَعُ إِحْدَى رِجْلَيْهِ عَلَى الْاُخْرٰى . رواه مسلم.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هيڅوك دي داسي ستوني ستغ نه پريوځي چي يوه پښه يې ولاړه وي او بله يې سربيره پر اچولې وي. مسلم.

**د تكبر انجام**

(۲۵۰۶): وَعَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَمَا رَجُلٌ يَتَبَخْتَرُ فِي بُرْدَيْنِ وَقَدْ اَعْجَبَتْهُ نَفْسُهُ فَخَسَفَ بِهِ الْاَرْضَ فَهُوَ يَتَجَلْجَلُ فِيهَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : يو سړی وو چي دوه څادرونه يې پر ځان د غرور څخه اچولې وه او غرور يې كوئ او هغه ته ځان ښه ښكاره كېدی نو هغه په مځكه كي ژوندی ننوتئ چي تر قيامته پوري به په مځكه كي روان وي . بخاري او مسلم.

## دويم فصل

**په تكيه لګولو سره ناسته مستحب ده**

(۲۵۰۷): عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ رَاَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَّكِئًا عَلَى وِسَادَةٍ عَلَى يَسَارِهٖ. رواه الترمذي.

د حضرت جابر بن سمرة ﷺ څخه روايت دئ چي ما رسول الله ﷺ په داسي تكيه لګولو سره ناست وليدئ چي بالښت د هغه چپه اړخ ته پروت وو . ترمذي.

**د ناستي طريقه**

(۲۵۰۸): وَعَنْ اَبِي سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَلَسَ فِي الْمَسْجِدِ اِحْتَبٰى بِيَدَيْهِ . رواه رزين.

د حضرت ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي كله به رسول الله ﷺ په مسجد كي كښيناستئ نو دواړه زنګنونه به يې ولاړ ساتل او په دواړو

لاسونو مبارکو به يې حلقه (کړی) جوړول . رزين .

### د عاجزۍ ناسته

(۴۵۰۹): وَعَنْ قَيْلَةَ بِنْتِ مَخْرَمَةَ أَنَّهَا رَأَتْ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ وَهُوَ قَاعِدٌ الْقُرْفُصَاءَ قالت فَلَمَّا رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُتَخَشِّعَ أُرْعِدْتُ مِنَ الْفَرَقِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت قيله بنت مخرمه (رض) څخه روايت دئ چې هغې رسول الله ﷺ په مسجد کې د قرفصا په شکل ناست وليدئ هر کله چې ما د رسول الله ﷺ د خضوع (د زړه عاجزۍ) او خشوع (عاجزۍ او خاکسارۍ) دا حالت وليدئ نو د رسول الله ﷺ د هيبت څخه وبيريدم . ابوداؤد . (د قرفصا شکل دادئ چې سړی دواړه زنګنونه ودروی پر ورنو کښيني او زنګنونه د نس سره ومښلوي او په دواړو لاسونو سره زنګنونه ونيسي يعني دواړه لاسونه پر زنګنونو چاپيره کړي) .

### د سهار تر لمانځه وروسته

(۴۵۱۰): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى الْفَجْرَ تَرَبَّعَ فِي مَجْلِسِهِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ حَسَنَاءَ. رواه ابوداؤد

د حضرت جابر بن سمرة (رض) څخه روايت دئ چې کله به رسول الله ﷺ د سهار لمونځ وکړ نو چارزانو به کښينستئ او تر لمر ښه ځلانده کېدو پورې به همداسې ناست وو . ابوداؤد .

### د پروتي طريقه

(۴۵۱۱): وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا عَرَّسَ بِلَيْلٍ اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ وَإِذَا عَرَّسَ قُبَيْلَ الصُّبْحِ نَصَبَ ذِرَاعَهُ وَوَضَعَ رَأْسَهُ عَلَى كَفِّهِ .رواه في شرح السنة.

د حضرت ابو قتاده (رض) څخه روايت دئ چې کله به رسول الله ﷺ په سفر کې آرام کوئ په شپه کې نو پر راسته اړخ به پريوتئ او که د سهار په وخت کې به يې آرام کوئ نو خپل يو لاس مبارک به يې ودروئ او پر ورغوي د لاس به يې سر کښېښودئ (چې خوب ور نه سي) . شرح السنة.

### د رسول ﷺ بستره

(۴۵۱۲): وَعَنْ بَعْضِ آلِ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَ كَانَ فِرَاشُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوًا مِمَّا يُوضَعُ فِي قَبْرِهِ وَكَانَ الْمَسْجِدُ عِنْدَ رَأْسِهِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ام سلمه د ځيني اولاد څخه روايت دئ چې د رسول الله ﷺ بستره د هغه جامې څخه وه کومه چې د رسول الله ﷺ پر قبر مبارک کښېښودل سوې وه او په مسجد کې د رسول الله ﷺ سر مبارک ته نژدې وو . ابوداؤد .

### پرمخې مه پرېوځئ

(۴۵۱۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ رَأَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا مُضْطَجِعًا عَلَى بَطْنِهِ فَقَالَ إِنَّ هٰذِهِ ضَجْعَةٌ لَا يُحِبُّهَا اللّٰهُ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ يو سړي پرمخې (نس پر مځكه او ملا آسمان ته) پروت وليدئ نو وه يې فرمايل په دغه شكل كې پريوتل الله ﷺ نه خوښوي. ترمذي.

(۴۵۱۴): وَعَنْ يَعِيشَ بْنِ طَخْفَةَ بْنِ قَيْسٍ الْغِفَارِيِّ عَنْ أَبِيهِ وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ الصُّفَّةِ قَالَ فَبَيْنَمَا أَنَا مُضْطَجِعٌ مِنَ السَّحَرِ عَلَى بَطْنِي إِذَا رَجُلٌ يُحَرِّكُنِي بِرِجْلِهِ فَقَالَ إِنَّ هٰذِهِ ضَجْعَةٌ يُبْغِضُهَا اللّٰهُ قَالَ فَنَظَرْتُ فَإِذَا هُوَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه ابوداؤد وابن ماجة.

حضرت يعيش بن طخفه بن قيس غفاري ﷺ د خپل پلار څخه چې (په اصحابه صفه كې وو) روايت كوي چې زه د سينې د درد په وجه پرمخې پـروت وم چې يـو سړي زه پـه خپـل پښـه سره وښورولم او وه يې ويل د پروتې دغه طريقه الله تعالى نه خوښوي، ما چې وكتل نو هغه رسول الله ﷺ وو. ابوداؤد او ابن ماجه.

### پر داسې بام پرېوتل چې ديوال نه لري

(۴۵۱۵): وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ شَيْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ بَاتَ عَلَى ظَهْرِ بَيْتٍ لَيْسَ عَلَيْهِ حِجَابٌ وفي رواية حِجَارٌ فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ الذِّمَّةُ. رواه ابوداؤد. في معالم السنن للخطابي حجي.

د حضرت علي بن شيبان ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چې د شپې پر داسې بام بيده كيږي چې پر هغه ديوال نه وي، او په يوه روايت كې دا الفاظ دي چې پر هغه ډبرې نه وي (يعني د ډبرو ديوال نه وي) نو د هغه څخه د الله ذمه ولاړل (يعني د هغه د ساتنې ذمه ختمه سوه ځكه چې هغه خپل ځان په خپله په خطره كې واچوئ). ابوداؤد.

(۴۵۱۶): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَنَامَ الرَّجُلُ عَلَى سَطْحٍ لَيْسَ بِمَحْجُورٍ عَلَيْهِ. رواه الترمذي.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ پر هغه بام د بيدېدو څخه منع فرمايلې ده چې پر هغه د پردې ديوال نه وي. ترمذي.

### د حلقې په منځ كې مه كښېنئ

(۴۵۱۷): وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ مَلْعُونٌ عَلَى لِسَانِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَعَدَ

د حضرت حذيفة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ پر هغه سړي لعنت ويلى دئ چې د حلقې په مېنځ كې كښېني. (يعني چې يو څو كسان سره ناست وي دى را

| | |
|---|---|
| وَسْطَ الْحَلْقَةِ. رواه الترمذي وابوداؤد. | تبر سي په مينځ کي يې کېنيني ترمذي او ابوداؤد. |

**په پراخه ځاى کې مجلس**

| | |
|---|---|
| (۴۵۱۸): وَعَنْ أَبِي سَعِيد الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ الْمَجَالِسِ أَوْسَعُهَا. رواه ابوداؤد | د حضرت ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: غوره مجلس هغه دئ چي په پراخه ځاى کي جوړ کړل سي. ابوداؤد. |

**يو ځاى کېنيستل**

| | |
|---|---|
| (۴۵۱۹): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ جَاءَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ واصحابه جلوس فَقَالَ مَالِي أَرَاكُمْ عِزِينَ. رواه ابوداؤد. | د حضرت جابر بن سمره ﷺ څخه روايت دئ چي صحابه کرام ناست وه چي رسول الله ﷺ تشريف راوړ او وه يې فرمايل: څه خبره ده. چي تاسو |

جلا جلا ناست ياست. ابوداؤد.

**نيم په لمر او نيم په سايه کي مه کېنېنئ**

| | |
|---|---|
| (۴۵۲۰): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا كَانَ أَحَدُكُمْ فِي الْفَيْءِ فَقَلَصَ عَنْهُ الظِّلُّ وَصَارَ بَعْضُهُ فِي الشَّمْسِ وَبَعْضُهُ فِي الظِّلِّ فَلْيَقُمْ. رواه ابوداؤد. وفي شرح السنة عنه قال اذا كان احدكم في الفئ فقلص عنه فليقم فانه مجلس الشيطان هكذا رواه معمر مرفوعا. | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي په تاسو کي يو څوك په سايه کي ناست وي بيا هغه سايه ولاړه سي او د هغه د بدن يوه برخه په لمر کي او څه برخه په سايه کي وي نو هغه ته پکار ده چي د هغه ځاى څخه ولاړ سي (يا په سايه کي دي کېنيني او يا |

په لمر کي). ابوداؤد، په شرح االسنة کي دا الفاظ دي چي په تاسو کي چي يو څوك په سايه کي ناست او هغه سايه ولاړه سي نو د هغه ځايه څخه دي ولاړ سي ځکه چي په لږ سايه او لږ لمر کي ناسته د شيطان کار دئ.

**نارينه او ښځي دي پر يو طرف نه ځي**

| | |
|---|---|
| (۴۵۲۱): وَعَنْ أَبِي أُسَيْدٍ الْأَنْصَارِيِّ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ وَهُوَ خَارِج من المسجد فاختلط الرجال مع النساء في الطَّرِيقِ فَقَالَ لِلنِّسَاءِ اسْتَأْخِرْنَ فَإِنَّهُ لَيْسَ لَكُنَّ أَنْ تَحْقُقْنَ الطَّرِيقَ عَلَيْكُنَّ بِحَافَّاتِ الطَّرِيقِ فَكَانَتْ الْمَرْأَةُ | د حضرت ابو اسيد انصاري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د مسجد څخه وتلی وو په لاره کي د ښځو سره نارينه يو ځاى سول (يعني په لاره کي ګډ وډ تلل) نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل تاسو د نارينوو وروسته ځئ تاسو ته د لاري په |

تَلْتَصِقُ بِالْجِدَارِ حَتَّى إِنَّ ثَوْبَهَا لَيَتَعَلَّقُ بِالْجِدَارِ. رواه ابوداؤد والبيهقي في شعب الايمان.

منع كي تلل مناسب نه دي تاسو په غاړه غاړه كي ځئ ، ددي په اوريدو سره ښځي د ديوالو سره جوختي تللي تر دي چي ځيني وختونه به يې جامې د ديوال سره موښتې. ابوداؤد او بيهقي په شعب الايمان كي.

### د ښځو په مينځ كي مه ځئ

(۲۵۲۲): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ يَمْشِيَ يَعْنِي الرَّجُلَ بَيْنَ الْمَرْأَتَيْنِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ددي څخه منع كړې ده چي يو سړى د دوو ښځو په منځ كي ځي. ابوداؤد.

### پر خالي ځاى ناسته

(۲۵۲۳): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كُنَّا إِذَا أَتَيْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَلَسَ أَحَدُنَا حَيْثُ يَنْتَهِي. رواه ابوداؤد و ذكر حديث عبدالله بن عمرو في باب القيام و سنذكر حديث علي و ابي هريرة في باب اسماء النبي صلى الله عليه وسلم وصفاته ان شاء الله تعالى .

د حضرت جابر بن سمرة ﷺ څخه روايت دئ چي موږ به وو چي نبي ﷺ ته راغلى نو چي كوم يو ځاى تـه بـه را ورسيدى هلتـه بـه كښېناستى. ابـوداؤد د حضرت عبدالله بـن عمرو حديث پـه باب القيام كي بيان سوى دئ او د حضرت علي او ابوهريره حديث به د اسماء النبي ﷺ وصفاته په باب كي ان شاء الله بيان سي .

## دريم فصل

### د ناستي غلطه طريقه

(۲۵۲۴): عَنْ عَمْرِو بْنِ الشَّرِيدِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ مَرَّ بِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا جَالِسٌ هٰكَذَا وَقَدْ وَضَعْتُ يَدِيَ الْيُسْرَى خَلْفَ ظَهْرِي وَاتَّكَأْتُ عَلَى أَلْيَةِ يَدِي فَقَالَ أَتَقْعُدُ قِعْدَةَ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ. رواه ابوداؤد.

حضرت عمرو بـن شـريد ﷺ د خپـل پـلار څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ زما سره نژدې تېر سو او زه داسي ناست وم چي ما چپه لاس زما پر مـلا اينـبـى وو او د بـتـې گـوتي لانـدي غوښـي باندي مي تكيه كړې وه ، په دې حال ليدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل ايا ته دا ډول كښيني په كوم ډول چي هغه خلك كښېنستل چي پر هغوئ د الله ﷻ غضب نازل سوى وو. ابوداؤد.

پرمخي پروته د دوږخیانو طریقه ده

(۴۵۲۵): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ مَرَّ بِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا مُضْطَجِعٌ عَلَى بَطْنِي فَرَكَضَنِي بِرِجْلِهِ وَقَالَ يَا جُنَيْدِبُ إِنَّمَا هِيَ ضِجْعَةُ أَهْلِ النَّارِ. رواه ابن ماجة.

د حضرت ابودرداء ﷺ څخه روایت دئ چي زه پرموخی پروت وم چي رسول الله ﷺ زما په خوا کي تیر سو، رسول الله ﷺ په پښې مبارکي سره زه وښوروللم او وه یې فرمایل: اې جندبه! د پریوتلو دا طریقه د دوږخیانو ده. ابن ماجه.

# بَابُ الْعُطَاسِ وَالتَّثَاؤُبِ (د ترچي او اروړمي بیان)

## لومړی فصل

اروړمي بنه نه وي

(۴۵۲۶): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْعُطَاسَ وَيَكْرَهُ التَّثَاؤُبَ فَإِذَا عَطَسَ أَحَدُكُمْ وَحَمِدَ اللّٰهَ كَانَ حَقًّا عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ سَمِعَهُ أَنْ يَقُولَ لَهُ يَرْحَمُكَ اللّٰهُ وَأَمَّا التَّثَاؤُبُ فَإِنَّمَا هُوَ مِنَ الشَّيْطَانِ فَإِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَرُدَّهُ مَا اسْتَطَاعَ فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا تَثَاءَبَ ضَحِكَ مِنْهُ الشَّيْطَانُ. رواه البخاري وفي رواية للمسلم فان احدكم اذا قال ها ضحك الشيطان منه.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالی ترچی خوښوي او اروړمی بد ګڼي، په تاسو کي چي چا ته ترچی راسي او هغه الحمدلله ووایي نو د هر هغه مسلمان چي ترچی واوري دا فرض دي چي په جواب کي ورته یرحمك الله ووایي، او اروړمی د شیطان له طرفه څخه ده په تاسو کي چي چا ته اروړمی راسي نو تر څو چي ممکن وي هغه دي بنده کړي ځکه چي یو سړی اروړمی کوي نو شیطان پوري خاندي. بخاري، او د مسلم په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي کله په تاسو کي یو څوك ها کوي (یعني اروړمی کاږي) نو شیطان ور پوري خاندي.

یرحمك الله ویونکی

(۴۵۲۷): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا عَطَسَ أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلْيَقُلْ لَهُ أَخُوهُ أَوْ صَاحِبُهُ يَرْحَمُكَ اللّٰهُ فَإِذَا قَالَ لَهُ يَرْحَمُكَ اللّٰهُ فَلْيَقُلْ يَهْدِيكُمُ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چي یو چا ته ترچی راسي نو هغه دي الحمدلله ووایي او د هغه مسلمان ورور دي په جواب کي یرحمك الله ووایي نو ترچی کونکی دي په

| | |
|---|---|
| اللّٰهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ. رواه البخاري. | جواب کي يهديكم الله ويصلح بالكم (الله دي تا |

ته هدايت وکړي او ستا حال دي درست کړي) وايي. بخاري.

### د الحمدلله نه ويونکي

| | |
|---|---|
| (۴۵۲۸): وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ عَطَسَ رَجُلَانِ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشَمَّتَ اَحَدَهُمَا وَلَمْ يُشَمِّتْ الْآخَرَ فَقَالَ الرَّجُلُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ شَمَّتَّ هَذَا وَلَمْ تُشَمِّتْنِي قَالَ إِنَّ هَذَا حَمِدَ اللّٰهَ وَلَمْ تَحْمَدْ اللّٰهَ. متفق عليه. | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ په حضور دوو کسانو ته ترچي ورغلی ، رسول الله ﷺ يوه سړي ته جواب ورکړ او بل ته یې ور نه کړ هغه وويل: اې د الله رسوله ! تاسو ده ته جوا ب ورکړ او ما ته مو جواب نه راکړ ، رسول |

الله ﷺ ورته وفرمايل هغه سړي د خدای ﷻ حمد ووايه او تا ونه وايه . بخاري او مسلم.

| | |
|---|---|
| (۴۵۲۹): وَعَنْ اَبِي مُوْسٰى قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِذَا عَطَسَ اَحَدُكُمْ فَحَمِدَ اللّٰهَ فَشَمِّتُوْهُ فَإِنْ لَمْ يَحْمَدْ اللّٰهَ فَلَا تُشَمِّتُوْهُ. رواه مسلم. | د حضرت ابو موسی ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل هر کله چي چا ته ترچي راسي او هغه الحمدلله ووايي نو تاسو په جواب کي ورته يرحمك الله وواياست او څوك |

چي په ترچي سره الحمدلله ونه وايي نو هغه ته جواب مه ورکوئ . مسلم.

### د ترچي ادبونه

| | |
|---|---|
| (۴۵۳۰): وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْاَكْوَعِ اَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَطَسَ رَجُلٌ عِنْدَهُ فَقَالَ لَهُ يَرْحَمُكَ اللّٰهُ ثُمَّ عَطَسَ اُخْرٰى فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّجُلُ مَزْكُوْمٌ . رواه مسلم وفي رواية للترمذي انه قال له في الثالثة انه مزكوم. | د حضرت سلمة بن اکوع ﷺ څخه روايت دئ چي د نبئ کريم ﷺ څخه يې اوريدلي وه چي يو سړي ته ترچي ورغلي نو رسول الله ﷺ په جواب کي يرحمك الله وويل بيا دويم وار ورته ترچی ورغلی نو رسول الله ﷺ وفرمايل دا سړی زکام دئ . مسلم او د ترمذي په يوه روايت کي راځي |

چي رسول الله ﷺ د هغه سړي پر دريم ترچی وفرمايل چي دی زکام دئ .

### د اړومی په وخت کي

| | |
|---|---|
| (۴۵۳۱): وَعَنْ اَبِي سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا تَثَاوَبَ اَحَدُكُمْ فَلْيُمْسِكْ بِيَدِهِ عَلَى فِيهِ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ . رواه مسلم. | د حضرت ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي په تاسو کي يو چا ته اړومی راسي نو خپله |

خوله دې په لاس سره بنده کړي ځکه چې شيطان دده په خوله کې ننوزي. مسلم.

## دویم فصل

### د ترچي په وخت کي

(۴۵۳۲): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا عَطَسَ غَطَّى وَجْهَهُ بِيَدِهِ أَوْ بِثَوْبِهِ وَغَضَّ بِهَا صَوْتَهُ. رواه الترمذي و ابوداؤد وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي کله به رسول الله ﷺ ته ترچی راغلی نو مخ مبارك به يې په خپل لاس يا خپل جامې سره پټوی او د ترچی آواز به يې په کرار کړ. ترمذي ابوداؤد او ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دئ.

### د يرحمك الله ويونکي جواب

(۴۵۳۳): وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا عَطَسَ أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلْ الْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلَى كُلِّ حَالٍ وَلْيَقُلْ الَّذِي يَرُدُّ عَلَيْهِ يَرْحَمُكَ اللّٰهُ وَلْيَقُلْ هُوَ يَهْدِيكُمُ اللّٰهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ. رواه الترمذي والدارمي.

د حضرت ابو ايوب ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چي په تاسو کي چا ته ترچی راسي نو دا کلمات دي وايي الحمدلله علی کل حال (پر هر حال باندي الله تعالی ته تعريف دئ) او څوك چي ددې جواب ورکوي هغه دي يرحمك الله ووايي او ترچي کونکی دي دا ووايي: يهديكم الله ويصلح بالكم. ترمذي او دارمي.

### د يهودو د ترچي جواب

(۴۵۳۴): وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ كَانَ الْيَهُودُ يَتَعَاطَسُونَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْجُونَ أَنْ يَقُولَ لَهُمْ يَرْحَمُكُمُ اللّٰهُ فَيَقُولُ يَهْدِيكُمُ اللّٰهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ. رواه الترمذي وابوداؤد.

د حضرت ابو موسی ﷺ څخه روايت دئ چي کله به د رسول الله ﷺ سره يهود وه او هغوئ ته به ترچی راغلی نو په قصد سره به يې ترچی کوئ په دې اميد چي رسول الله ﷺ ورته يرحمك الله ووايي مگر رسول الله ﷺ به د هغوئ د ترچي په جواب کي يهديكم الله ويصلح بالكم ويل. ابوداؤد او ترمذي.

### د ترچي په وخت کي سلام

(۴۵۳۵): وَعَنْ هِلَالِ بْنِ يَسَافٍ قَالَ كُنَّا مَعَ سَالِمِ بْنِ عُبَيْدٍ فَعَطَسَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ فَقَالَ السَّلَامُ

د حضرت هلال بن يساف ﷺ څخه روايت دئ چي موږ د سالم بن عبيد ﷺ سره وو چي يو سړي ترچی وکړ هغه د الحمدلله پر ځای السلام عليکم

عَلَيْكُمْ فَقَالَ لَهُ سَالِمٌ وَعَلَيْكَ وَعَلَى أُمِّكَ فَكَأَنَّ الرَّجُلَ وَجَدَ فِي نَفْسِه فَقَالَ أَمَا إِنِّي لَمْ أَقُلْ إِلَّا مَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَطَسَ رَجُلٌ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْكَ وَعَلَى أُمِّكَ إِذَا عَطَسَ أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلْ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ وَلْيَقُلْ لَهُ مَنْ يَرُدُّ عَلَيْهِ يَرْحَمُكَ اللّٰهُ وَلْيَقُلْ يَغْفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَلَكُمْ. رواه الترمذي وابوداؤد.

ووايي (په دې خيال چي شايد دا هم صحيح وي) سالم ؓ د هغه سړي په جواب کي وويل پر تا او ستا پر مور دي سلام وي ، هغه سړي خپل په زړه کي دا الفاظ بد وګڼل ، سالم ورته وويل په دې کي دبد منلو کومه خبره ده ما خو هغه الفاظ ويلي دي کوم چي رسول الله ﷺ فرمايلي وه يعني يو سړي په ترچي کولو سره د رسول الله ﷺ ومخته السلام عليکم وويل نو نبي کريم ﷺ ورته په جواب کي وفرمايل پر تا او ستا پر مور دي سلام وي او ددې وروسته نبي کريم ﷺ فرمايلي وه هر کله چي څوك ترچي وکړي نو هغه دي الحمدلله رب العالمين وايي او څوك چي جواب ورکوي هغه دي ورته يرحمك الله ووايي او بيا دي ترچي کونکی د هغه په جواب کي يغفرالله لي ولکم ووايي . ترمذي او ابوداؤد.

## دري واره د ترچي جواب

(۴۵۳۶): وَعَنْ عُبَيْدِ بْنِ رِفَاعَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تُشَمِّتُ الْعَاطِسَ ثَلَاثًا فلما زَادَ فَإِنْ شِئْتَ فَشَمِّتْهُ وَإِنْ شِئْتَ فَلَا. رواه ابوداؤد والترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت عبيد بن رفاعه ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ترچي کونکي ته دري واره جواب ورکوئ ددې څخه وروسته که ترچي ورته راسي نو خوښه ستا ده که جواب ورکوئ او که يې نه ورکوئ. ابوداؤد او ترمذي. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

(۴۵۳۷): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ شَمِّتْ أَخَاكَ ثَلَاثًا فَمَا زَادَ فَهُوَ زُكَامٌ . رواه ابوداؤد و قال لا اعلمه الا انه رفع الحديث الى النبي صلى الله عليه وسلم .

د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دئ چي د خپل مسلمان ورور لپاره تر دري وارو پوري د ترچي جواب ورکوئ ددې څخه زيات که ترچي ورته راسي نو بيا هغه زکام دئ ، ابوداؤد او وايي چي پرته ددې څخه ما ته نور معلومات نسته چي دا حديث يې رسول الله ﷺ ته مرفوع کړی دئ.

## دريم فصل

**د ترجې صحيح جواب**

(۲۵۳۸): عَنْ نَافِعٍ أَنَّ رَجُلًا عَطَسَ إِلَى جَنْبِ ابْنِ عُمَرَ فَقَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ قَالَ ابْنُ عُمَرَ وَأَنَا أَقُولُ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ وَلَيْسَ هٰكَذَا عَلَّمَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَقُولَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلَى كُلِّ حَالٍ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت نافع ﷺ څخه روايت دئ چي د ابن عمر ﷺ په څنګ کي يو سړي ترچى وکړ او بيا يې وويل الحمدلله والسلام على رسول الله ، ابن عمر ﷺ ددې په جواب کي وويل او زه هم وايم الحمد لله والسلام على رسول الله مګر موږ ته رسول الله ﷺ داسي نښودنه نه ده کړې ، رسول الله ﷺ موږ ته داسي ښودلي دي هر کله چي چا ته ترچى راسي نو الحمدلله على كل حال دي وايي . ترمذي او وايي چي دا حديث غريب دئ .

# بَابُ الضِّحْكِ (د خندا بيان)

## لومړی فصل

**د رسول ﷺ تبسم**

(۲۵۳۹): عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْتَجْمِعًا ضَاحِكًا حَتّٰى أَرٰى مِنْهُ لَهَوَاتِهِ إِنَّمَا كَانَ يَتَبَسَّمُ. رواه البخاري.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي ما هيڅكله رسول الله ﷺ په داسي خندا كولو نه دی ليدلی چي د رسول الله ﷺ خوله مبارکه خلاصه سوې وي او حلق مبارك يې څرګند سوی وي بلکه رسول الله ﷺ به تبسم کوئ، بخاري.

(۲۵۴۰): وَعَنْ جَرِيرٍ قَالَ مَا حَجَبَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْذُ أَسْلَمْتُ وَلَا رَآنِي إِلَّا تَبَسَّمَ. متفق عليه.

د حضرت جرير ﷺ څخه روايت دئ چي د کوم وخت څخه زه مسلمان سوی يم رسول الله ﷺ په هيڅ حال کي زه هغوئ ته د ورتلو څخه منع کړی نه يم او كله چي به رسول الله ﷺ ما ته کتل نو تبسم به يې کوئ . بخاري او مسلم.

## د صحابه كرامو خندل

| | |
|---|---|
| (۴۵۲۱): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقُوْمُ مِنْ مُصَلَّاهُ الَّذِي يُصَلِّي فِيهِ الصُّبْحَ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ فَإِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ قَامَ وَكَانُوْا يَتَحَدَّثُوْنَ فَيَأْخُذُوْنَ فِي أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ فَيَضْحَكُوْنَ وَيَتَبَسَّمُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه مسلم وفي رواية للترمذي يتناشدون الشعر. | د حضرت جابر بن سمرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به چي په كوم ځاى كي د سهار لمونځ وكړ نو تر هغه وخته پوري به د هغه ځاى څخه نه ولاړيدئ تر څو پوري چي به لمر نه خلانده سوى نه وو كله چي به لمر راوختئ نو رسول الله ﷺ به ولاړ سو او صحابه كرامو به په خپل منځ كي خبري كولې او د جاهليت د زمانې |

حالات به يې بيانول او خندل به يې او رسول الله ﷺ به تبسم كاوه . مسلم او د ترمذي په روايت كي دي چي صحابه كرامو به شعرونه ويل .

# دويم فصل

## زيات تبسم كونكى

| | |
|---|---|
| (۴۵۲۲): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ جَزْءٍ قَالَ مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَكْثَرَ تَبَسُّمًا مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه الترمذي. | د حضرت عبد الله بن حارث بن جزء ﷺ څخه روايت دئ چي ما تر رسول الله ﷺ زيات تبسم كونكى هيڅوك نه دى ليدلى . ترمذي. |

# دريم فصل

## د صحابه كرامو تبسم

| | |
|---|---|
| (۴۵۲۳): عَنْ قَتَادَةَ قَالَ سُئِلَ ابْنُ عُمَرَ هَلْ كَانَ أَصْحَابُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضْحَكُوْنَ ؟ قَالَ نَعَمْ وَالْإِيْمَانُ فِي قُلُوْبِهِمْ أَعْظَمُ مِنَ الْجَبَلِ وَقَالَ بِلَالُ بْنُ سَعْدٍ أَدْرَكْتُهُمْ يَشْتَدُّوْنَ بَيْنَ الْأَغْرَاضِ وَيَضْحَكُ بَعْضُهُمْ إِلٰى بَعْضٍ فَإِذَا كَانَ اللَّيْلُ كَانُوْا رُهْبَانًا . رواه في شرح السنة. | د حضرت قتادة ﷺ څخه روايت دئ چي د ابن عمر ﷺ څخه پوښتنه وسول ايا د رسول الله ﷺ اصحابو به خندل؟ هغه ورته وويل هو او د هغوئ په زړونو كي تر غره هم لوى ايمان وو ، بلال بن سعد ﷺ وايي ما صحابه كرام د غشي نښې ته په منډه ليدلي دي په داسي حال كي چي يو بل يې خندول مگر كله چي به شپه سول نو زهد (د خداى ﷻ عبادت) به يې كوى. شرح السنة. |

## بَابُ الْاَسَامِيْ (دنوم ایښودلو بیان)

### لومړی فصل

**د رسول ﷺ کنیت پر خان مه ایږدئ**

(۴۵۲۴): عَنْ اَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي السُّوقِ فَقَالَ رَجُلٌ يَا اَبَا الْقَاسِمِ فَالْتَفَتَ اِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اِنَّمَا دَعَوْتُ هٰذَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمُّوا بِاسْمِي وَلَا تَكَنَّوْا بِكُنْيَتِي. متفق عليه.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ په بازار کي وو چي یو سړي وویل یا اباالقاسم، رسول الله ﷺ هغه سړي ته وکتل، هغه وویل ما تاسو ته آواز نه دی کړی هغه بل سړي ته مي آواز کړی دی، رسول الله ﷺ وفرمایل زما په نامه خپل نوم ایږدئ مګر زما په کنیت خپل کنیت مه ایږدئ. بخاري او مسلم. کنیت هغه نامه ته وایي چي د پلار، مور، لور یا زوی ته منسوب وي لکه ابو القاسم د قاسم پلار چي د رسول الله ﷺ کنیت دئ.

(۴۵۲۵): وَعَنْ جَابِرٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَمُّوا بِاسْمِي وَلَا تَكَنَّوْا بِكُنْيَتِي فَاِنِّي اِنَّمَا جُعِلْتُ قَاسِمًا اَقْسِمُ بَيْنَكُمْ. متفق عليه.

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زما په نامه خپل نوم ایږدئ مګر زما په کنیت خپل کنیت مه ایږدئ څکه چي زه قاسم (ویشونکی) جوړ کړل سوی یم چي په تاسو کي ویش کوم. بخاري او مسلم.

**عبدالله او عبدالرحمان**

(۴۵۲۶): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ اَحَبَّ اَسْمَائِكُمْ اِلَى اللّٰهِ عَبْدُ اللّٰهِ وَعَبْدُ الرَّحْمٰنِ. رواه مسلم.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله تعالی په نزد ستاسو په نومونو کي غوره نوم عبدالله او عبدالرحمن دئ. مسلم.

**یو څو منع نومونه**

(۴۵۲۷): وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُسَمِّيَنَّ غُلَامَكَ يَسَارًا وَلَا رَبَاحًا وَلَا نَجِيحًا وَلَا اَفْلَحَ فَاِنَّكَ تَقُولُ اَثَمَّ هُوَ فَلَا يَكُونُ فَيَقُولُ لَا، رواه مسلم و في

د حضرت سمرة بن جندب ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د خپل غلام نوم یسار، رباح، نجیح، او افلح مه ایږدئ څکه چي تاسو د هغه په نامه سره هغه ته آواز کړئ او هغه

رواية له قَالَ لَا تُسَمِّ غُلَامَكَ رَبَاحًا وَلَا يَسَارًا وَلَا أَفْلَحَ وَلَا نَافِعًا.

موجود نه وي نو وه به ويل سي چي هغه نسته ، (يعني مثلا تاسو د ايسار په نامه اخيستلو سره آواز كړئ او دا وويل سي چي هغه نه سته نو ددې مفهوم به دا وي چي په كور كي پراخي او اساني نه سته او دا بده خبره ده). مسلم او د مسلم په يوه بل روايت كي دا الفاظ دي چي نبي كريم ﷺ وفرمايل : د خپل غلام نوم رباح، يسار، افلح او نافع مه ايږدي. رباح معنى گټه، نجيح معنى مطلب ته رسيدونكي ، افلح معنى برى موندونكي .

(۴۵۴۸): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ أَرَادَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَنْهَى عَنْ أَنْ يُسَمَّى بِيَعْلَى وَبِبَرَكَةَ وَبِأَفْلَحَ وَبِيَسَارٍ وَبِنَافِعٍ وَبِنَحْوِ ذَلِكَ ثُمَّ رَأَيْتُهُ سَكَتَ بَعْدُ عَنْهَا ثُمَّ قُبِضَ وَلَمْ يَنْهَ عَنْ ذَلِكَ. رواه مسلم.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي نبي كريم ﷺ اراده وكړه چي خلك د يعلي، بركت، افلح، يسار او نافع او ددې په مثل نومونو ايښودلو څخه منع كړي بيا ما وليدل چي رسول الله ﷺ ددې اراده څخه پټه خوله پاته سو او ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفات سو او رسول الله ﷺ ددغه نومو اېښودو څخه منع نه وفرمايل . مسلم.

### شهنشاه

(۴۵۴۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْنَى الْأَسْمَاءِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عِنْدَ اللّٰهِ رَجُلٌ تَسَمَّى مَلِكَ الْأَمْلَاكِ .رواه البخاري وفي رواية مسلم قَالَ أَغْيَظُ رَجُلٍ عَلَى اللّٰهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَخْبَثُهُ وَأَغْيَظُهُ رَجُلٍ كَانَ يُسَمَّى مَلِكَ الْأَمْلَاكِ لَا مَلِكَ إِلَّا اللّٰهُ.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به د الله تعالى په نزد بدترين نوم د هغه سړي نوم وي چي هغه ته شهنشاه ويل كيږي (يعني د يو چا نوم چي شهنشاه وي) ، د مسلم په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي د قيامت په ورځ به مبغوض ترين خلك د الله ﷻ په نزد هغه وي چي د هغه نوم شهنشاه وي (دا نوم كه د يو عام سړي او كه د يو پاچا بنه نه دئ) د الله تعالى څخه پرته بل هيڅوك حقيقي پاچا نسته .مسلم.

### د نفس تعريف

(۴۵۵۰): وَعَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أَبِي سَلَمَةَ قَالَتْ سُمِّيتُ بَرَّةَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُزَكُّوا أَنْفُسَكُمْ اللّٰهُ أَعْلَمُ بِأَهْلِ الْبِرِّ مِنْكُمْ فَقَالُوا بِمَ نُسَمِّيهَا قَالَ سَمُّوهَا زَيْنَبَ . رواه مسلم.

د حضرت زينب بنت ابو سلمه (رض) څخه روايت دئ چي زما نوم بره (نيكه) كښېښودل سو ، رسول الله ﷺ وفرمايل د خپل ځان تعريف مه كوه د نيكى خاوندان الله ﷻ ښه پيژني ددې نوم زينب كښېږدئ. مسلم.

(۴۵۵۱): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَتْ جُوَيْرِيَةُ اسْمُهَا بَرَّةُ فَحَوَّلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْمَهَا جُوَيْرِيَةَ وَكَانَ يَكْرَهُ أَنْ يُقَالَ خَرَجَ مِنْ عِنْدِ بَرَّةَ. رواه مسلم.

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روایت دئ چي د رسول الله ﷺ د بي بي جویریه نوم بَرّه وو ، رسول الله ﷺ د هغې نوم بدل کړ او جویریه نوم يې پر کښېښودئ څکه چي رسول الله ﷺ دا خبره بده ګڼل چي څوك ورته دا ووايي چي تاسو ﷺ د بره (نیکی) څخه ووتلاست . مسلم.

**بنه نومان ایږدئ**

(۴۵۵۲): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ ابْنَتًا لِعُمَرَ كَانَتْ يُقَالُ لَهَا عَاصِيَةُ فَسَمَّاهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَمِيلَةَ. رواه مسلم.

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روایت دئ چي د حضرت عمر ؓ د یوې لور نوم عاصیه (ګناه کاره) وو ، رسول الله ﷺ د هغې نوم بدل کړ او جمیله نوم يې پر کښېښودئ. مسلم .

(۴۵۵۳): وَعَنْ سَهْلِ ابْنِ سَعْدٍ قَالَ أُتِيَ بِالْمُنْذِرِ بْنِ أَبِي أُسَيْدٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ وُلِدَ فَوَضَعَهُ عَلَى فَخِذِهِ فَقَالَ مَا اسْمُهُ قَالَ فُلَانٌ قَالَ وَلٰكِنْ اسْمُهُ الْمُنْذِرُ. متفق علیه.

د حضرت سهل ابن سعد ؓ څخه روایت دئ چي کله منذر بن ابو اسید ؓ پیدا سو نو د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سو ، رسول الله ﷺ هغه پر خپل زنګانه مبارك کښېنوئ او پوښتنه يې وکړه دده نوم څه دئ ؟په جواب کي ورته وویل سوه دده نوم فلاني دئ ، رسول الله ﷺ وفرمایل دا نه بلکه دده نوم منذر دئ (منذر معنی د الله ﷻ د احکامو رسونکی او د الله ﷻ د عذاب څخه بېرونکی) بخاري او مسلم.

**عبدي يا امتي مه وایاست**

(۴۵۵۴): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقُولَنَّ أَحَدُكُمْ عَبْدِي وَأَمَتِي كُلُّكُمْ عَبِيدُ اللّٰهِ وَكُلُّ نِسَائِكُمْ إِمَاءُ اللّٰهِ وَلٰكِنْ لِيَقُلْ غُلَامِي وَجَارِيَتِي وَفَتَايَ وَلَا يَقُلِ الْعَبْدُ رَبِّي وَلٰكِنْ لِيَقُلْ سَيِّدِي، وفي رواية لِيَقُلْ سَيِّدِي وَمَوْلَايَ، وفي رواية لَا يَقُلِ الْعَبْدُ لِسَيِّدِهِ مَوْلَايَ فَإِنَّ مَوْلَاكُمُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهریرة ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هیڅوك دي (خپل غلام او مینځي ته) زما غلام او زما مینځه نه وايي (اصل مطلب دا چي عبدي او امتي ویل یوازي کبریا او د عزت خاوند الله ﷻ خپل بنده ته وايي نور خلك باید ونه وايي او غلام ویل روا دی څکه چي غلام معنی هلك) تاسو ټول د الله ﷻ بندګان او

تولي ښخي د الله ﷻ مينځي دي بلكه داسي دي ووايي زما خادم او زما خادمه ، زما هلك او زما انجلۍ ، او غلام دي خپل بادار ته زما پروردگار نه وايي بلكه زما سردار دي ورته وايي ، او په يوه روايت كي دادي چي غلام دي خپل بادار ته زما مولى نه وايي ځكه چي ستاسو مولى الله تعالى دئ . مسلم.

**انګورو ته كرم مه واياست**

(۴۵۵۵): وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُولُوا الْكَرْمَ فَإِنَّ الْكَرْمَ قَلْبُ الْمُؤْمِنِ. رواه مسلم. وفي رواية عن وائل بن حجر لَا تَقُولُوا الْكَرْمَ وَلَكِنْ قُولُوا الْعِنَبُ وَالْحَبَلَةُ.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي نبي كريم ﷺ وفرمايل : د انګورو درختي ته كرم مه واياست ځكه چي كرم د مؤمن زړه دئ . مسلم او د مسلم په يو بل روايت كي داسي دي چي انګور ته كرم مه واياست بلكه عنب او حبله ورته واياست .

**زماني ته بد مه واياست**

(۴۵۵۶): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُسَمُّوا الْعِنَبَ الْكَرْمَ وَلَا تَقُولُوا خَيْبَةَ الدَّهْرِ فَإِنَّ اللّٰهَ هُوَ الدَّهْرُ. رواه البخاري.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : پر انګور د كرم نوم مه ايږدئ او يا خيبة الدهر (د زماني نا اميدي) مه واياست ځكه چي زمانه خداى دئ (يعني زمانه د الله ﷻ په اختيار كي ده) . بخاري.

(۴۵۵۷): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَسُبُّ أَحَدُكُمُ الدَّهْرَ فَإِنَّ اللّٰهَ هُوَ الدَّهْرُ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زماني ته بد مه واياست ځكه چي د زماني بدلون د الله تعالى په حكم كي دئ . مسلم.

**د بدو الفاظو بدوالى**

(۴۵۵۸): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقُولَنَّ أَحَدُكُمْ خَبُثَتْ نَفْسِي وَلَكِنْ لِيَقُلْ لَقِسَتْ نَفْسِي. متفق عليه و ذكر حديث ابي هريرة يؤذيني ابن آدم في باب الايمان.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هيڅوك دي د زړه خرابيدو سره خَبُثَتْ نَفْسِيْ (زما زړه خراب سو) نه وايي بلكه لقست نفسي دي وايي . بخاري او مسلم ، د ابوهريره حديث يؤذيني ابن ادم په كتاب الايمان كي بيان سوى دئ .

## دویم فصل

### ابوالحکم کنیت یې بدل کړ

(۲۵۵۹): وَعَنْ شُرَيْحِ بْنِ هَانِئٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ لَمَّا وَفَدَ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ قَوْمِهِ سَمِعَهُمْ يَكْنُونَهُ بِأَبِي الْحَكَمِ فَدَعَاهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَكَمُ وَإِلَيْهِ الْحُكْمُ فَلِمَ تُكْنَى أَبَا الْحَكَمِ قَالَ إِنَّ قَوْمِي إِذَا اخْتَلَفُوا فِي شَيْءٍ أَتَوْنِي فَحَكَمْتُ بَيْنَهُمْ فَرَضِيَ كِلَا الْفَرِيقَيْنِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَحْسَنَ هٰذَا فَمَا لَكَ مِنَ الْوَلَدِ قَالَ لِي شُرَيْحٌ وَمُسْلِمٌ وَعَبْدُ اللّٰهِ قَالَ فَمَنْ أَكْبَرُهُمْ قال شُرَيْحٌ قَالَ فَأَنْتَ أَبُو شُرَيْحٍ . رواه ابوداؤد والنسائي .

حضرت شریح بن هانئ ؓ د خپل پلار څخه روایت کوي کله چي هغوئ د خپل قوم سره د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول نو نبي کریم ﷺ واوریدل چي د هغه قوم هغه ته ابو الحکم ویل ، رسول الله ﷺ هغه را وغوښتی او ورته وه یې فرمایل :حکَمْ الله تعالی کوي او حُکَمْ د هغه په قبضه او اختیار کي دئ ، بیا تا ابو الحکم کنیت ولي تاکلی دئ ، هغه وویل زما په قوم کي چي به په یو شي کي اختلاف پیدا سو نو هغوئ به ما ته راغلل او ما به دهغوئ په منځ کي داسي پریکړه وکړه چي دواړه ډلي به راضي سوي زما په حکم ، رسول الله ﷺ وفرمایل د خلکو په منځ کي پریکړه کول ډیره ښه خبره ده ستا څو کوچنیان دي ؟ وویل ده چي زما اولادونه دي شریح، مسلم او عبدالله، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه په دوئ کي مشر کوم یو دئ ؟ ویلي دي ده چي وه مي ویل : شریح، رسول الله ﷺ وفرمایل : بس ستا کنیت ابو شریح دئ . ابوداؤد او نسائي .

### اجدع د شیطان نوم دئ

(۲۵۶۰): وَعَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ لَقِيتُ عُمَرَ فَقَالَ مَنْ أَنْتَ قُلْتُ مَسْرُوقُ بْنُ الْأَجْدَعِ قَالَ عُمَرُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْأَجْدَعُ شَيْطَانٌ. رواه ابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت مسروق ؓ څخه روایت دئ چي ما د حضرت عمر ؓ سره ملاقات وکړ هغه را څخه پوښتنه وکړه چي ته څوک یې ؟ ما ورته وویل مسروق زوی د اجدع، حضرت عمر ؓ وویل ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي اجدع د شیطان یو نوم دئ . ابوداؤد او ابن ماجه .

### ښه نومان ایږدئ

(۲۵۶۱): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د حضرت ابو درداء ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د قیامت په ورځ به تاسو په خپلو نومو

بِأَسْمَائِكُمْ وَأَسْمَاءِ آبَائِكُمْ فَأَحْسِنُوا أَسْمَاءَكُمْ. رواه احمد وابوداؤد.

او ستاسو د پلرونو په نومو بلل کیږئ له دې کبله تاسو خپل نوم ښه ایږدئ. احمد او ابوداؤد.

## د رسول ﷺ نوم او کنیت مه یو ځای کوئ

(۲۵۶۲): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ يَجْمَعَ أَحَدٌ بَيْنَ اسْمِهِ وَكُنْيَتِهِ وَيُسَمِّيَ مُحَمَّدًا أَبَا الْقَاسِمِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريره رض څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ ددې څخه منع فرمایلې ده چې یو سړی د رسول الله ﷺ نوم مبارك او كنیت یو ځای کړي (یعني محمد نوم کښیږدئ او کنیت ابوالقاسم و ټاکي) . ترمذي.

(۲۵۶۳): وَعَنْ جَابِرٍ ان النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال إِذَا سَمَّيْتُمْ بِاسْمِي فَلَا تَكْتَنُوا بِكُنْيَتِي، رواه الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث غريب ، وفي رواية ابي داؤد قَالَ مَنْ تَسَمَّى بِاسْمِي فَلَا يَتَكَنَّى بِكُنْيَتِي وَمَنْ تَكَنَّى بِكُنْيَتِي فَلَا يَتَسَمَّى بِاسْمِي.

د حضرت جابر رض څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو زما په نامه خپل نوم ایږدئ مګر زما په کنیت خپل کنیت مه ټاکئ . ترمذي او ابن ماجه، او ترمذي ویلي دي چې دا حدیث غریب دی، او د ابوداؤد په روایت کې دي چې کوم سړی زما په نامه خپل نوم کښیږدئ هغه دې زما په کنیت خپل کنیت نه ایږدئ او کوم سړی چې زما په کنیت خپل کنیت وټاکي هغه دې زما په نامه خپل نوم نه ایږدي.

(۲۵۶۴): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ امْرَأَةً قَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي وَلَدْتُ غُلَامًا فَسَمَّيْتُهُ مُحَمَّدًا وَكَنَّيْتُهُ أَبَا الْقَاسِمِ فَذُكِرَ لِي أَنَّكَ تَكْرَهُ ذٰلِكَ فَقَالَ مَا الَّذِي أَحَلَّ اسْمِي وَحَرَّمَ كُنْيَتِي أَوْ مَا الَّذِي حَرَّمَ كُنْيَتِي وَأَحَلَّ اسْمِي. رواه ابوداؤد وقال محي السنة غريب.

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چې یوې ښځې وویل اې دالله رسوله! زما یو زوی پیدا سوی دئ چې د هغه نوم مې محمد او کنیت مې ابو القاسم ایښی دئ ، بیا ما ته وویل سول چې دا خبره ستاسو خوښه نه ده ، رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم شي زما نوم جائز کړ او کوم شي زما کنیت حرام کړ ، یا کوم شي زما کنیت حرام کړ او زما نوم یې حلال کړ مګر د دواړو جمع کول مکروه تنزیهي دي حرام نه دي . ابوداؤد.

(۲۵۶۵): وَعَنْ مُحَمَّدِ ابْنِ الْحَنَفِيَّةِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ إِنْ وُلِدَ لِي بَعْدَكَ وَلَدٌ أُسَمِّيهِ

حضرت محمد بن حنفیه د خپل پلار څخه روایت کوي چې ما وویل: اې دالله رسوله!

بِاسْمِكَ وَأُكَنِّيهِ بِكُنْيَتِكَ قَالَ نَعَمْ . رواه ابوداؤد.

كه ستاسو وروسته زما يو زوی پيدا سو نو زه د هغه نوم محمد او كنيت يې ابو القاسم كښېږدم (كه يا)؟ رسول الله ﷺ وفرمايل هو، ابوداؤد.

### د حضرت انس كنيت

(۲۵۶۶): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَنَّانِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبَقْلَةٍ كُنْتُ أَجْتَنِيهَا. رواه الترمذي وقال هذا حديث لا نعرفه الا من هذا الوجه وفي المصابيح صححه.

دحضرت انس ؓ څخه روايت دئ چي ما به يو وابنه وكښئ رسول الله ﷺ د هغه وابنه په نامه زما كنيت و ټاكئ يعني ابو الحمزه ، (حمزه ترتيزك ته وايي) . ترمذي ويلي دي دا حديث ددې طريقې څخه پرته په بل ډول زه نه پيژنم او په مصابيح كي يې دې ته صحيح ويلي دي .

### خراب نومونه بدلول

(۲۵۶۷): وَعَنْ عَائِشَةَ قالت أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُغَيِّرُ الِاسْمَ الْقَبِيحَ. رواه الترمذي.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به خراب نومونه بدلول . ترمذي.

### منع نومونه

(۲۵۶۸): وَعَنْ بَشِيرِ بْنُ مَيْمُونٍ عَنْ عَمِّهِ أُسَامَةَ بْنِ أَخْدَرِيٍّ أَنَّ رَجُلًا يُقَالُ لَهُ أَصْرَمُ كَانَ فِي النَّفَرِ الَّذِينَ أَتَوْا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا اسْمُكَ قَالَ أَصْرَمُ قَالَ بَلْ أَنْتَ زُرْعَةُ. رواه ابوداؤد وقال غير النبي صلى الله عليه وسلم اسم العاص وعزيز وعتلة وشيطن والحكم و غراب وحباب و شهاب وقال تركت اسانيدها للاختصار.

حضرت بشير بن ميمون د خپل اكا اسامه بن اخدري ؓ څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ ته دله راغلل په هغو كي يو سړی وو چي هغه ته يې أصْرم (درختي پريكونكی) ويل ، رسول الله ﷺ د هغه څخه پوښتنه وكړه ستا نوم څه شي دئ ؟ هغه وويل : اصرم ، رسول الله ﷺ وويل بلكه زُرعه وايه . ابوداؤد ، ابوداؤد ويلي دي چي رسول الله ﷺ عاص، عزيز، عتله، شيطان، حكم، غراب، حباب او شهاب نومونه بدل كړي دي او ويلي يې دي چي د لنډوالي له كبله يې ما سندونه پرېښودل .

### د زعموا لفظ

(۲۵۶۹): وَعَنْ أَبِيْ مَسْعُودِ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ لِأَبِيْ عَبْدُاللهِ أَوْ قَالَ أَبُو عَبْدُاللهِ لِأَبِيْ مَسْعُوْدٍ مَا سَمِعْتَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقول فِي زَعَمُوا قَالَ

حضرت ابو مسعود انصاري ؓ د ابو عبدالله څخه او يا ابو عبدالله ؓ د ابو مسعود انصاري ؓ څخه پوښتنه وكړه چي ايا تا د رسول الله ﷺ څخه د لفظ زعموا په اړه څه

سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ بِئْسَ مَطِيَّةُ الرَّجُلِ .رواه ابوداؤد وقال ان اباعبدالله حذيفة.

اوریدلي دي ؟ هغه وویل : ما د رسول الله ﷺ خخه دا اوریدلي دي چي ((زَعَمُوا)) د سري خرابي سپرلی ته وایي (یعني ددې لفظ استعمال خراب دئ) . ابوداؤد.

منعه الفاظ

(۴۵۷۰): وَعَنْ حُذَيْفَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُولُوا مَا شَاءَ اللّٰهُ وَشَاءَ فُلَانٌ وَلٰكِنْ قُولُوا مَا شَاءَ اللّٰهُ ثُمَّ شَاءَ فُلَانٌ. رواه احمد وابوداؤد وفي رواية منقطعا قال و لاتقولو ما شاء الله وشاء محمد وقولوا ما شاء الله وحده. رواه في شرح السنة.

د حضرت حذیفه ؓ خخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : تاسو داسي مه وایاست که خدای او فلاني سري غوښتل، (خکه په دي کي د بنده او خدای برابري ده) بلکه داسي وایاست که خدای غوښتل او د فلاني سري غوښتنه وه نو داسي به وي ، احمد او ابوداؤد ، او په یوه منقطع روایت کي داسي الفاظ دي چي تاسو داسي مه وایاست که خدای او محمد وغوښتل (نو داسي به وي) بلکه یوازي داسي وایاست که خدای و غوښتل ، یعني که دخدای خوښه وه . شرح السنه.

منافق ته سید مه وایاست

(۴۵۷۱): وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُولُوا لِلْمُنَافِقِ سَيِّدًا فَإِنَّهُ إِنْ يَكُ سَيِّدًا فَقَدْ أَسْخَطْتُمْ رَبَّكُمْ عَزَّ وَجَلَّ. رواه ابوداؤد.

د حضرت حذیفه ؓ خخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : منافق ته سید مه وایاست خکه که هغه ته سید ووایاست نو خپل پروردگار مو خفه کر . ابوداؤد.

## دریم فصل

د خراب نوم خراب اثر

(۴۵۷۲): عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ شَيْبَةَ قَالَ جَلَسْتُ إِلَى سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ فَحَدَّثَنِي أَنَّ جَدَّهُ حَزْنًا قَدِمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا اسْمُكَ قَالَ اسْمِي حَزْنٌ قَالَ بَلْ أَنْتَ سَهْلٌ قَالَ مَا أَنَا بِمُغَيِّرٍ اسْمًا سَمَّانِيهِ أَبِي قَالَ ابْنُ الْمُسَيَّبِ فَمَا زَالَتْ فِينَا

د حضرت عبدالحمید بن جبیر بن شیبه ؓ خخه روایت دئ چي زه د حضرت سعید بن مسیب ؓ سره ناست وم او هغه ما ته دا حدیث بیان کر چي زما نیکه چي د هغه نوم حزن وو د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سو ، نبي کریم ﷺ د هغه خخه پوښتنه وکړه چي ستا نوم خه شي دئ ؟ هغه وویل : حزن، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ما ستا نوم سهل کښېښودئ، هغه

| | |
|---|---|
| الْحُزُونَةُ بَعْدُ. رواه البخاري. | وويل زه خپل نوم بدلول نه غوارم کوم چي زما |

پلار را ته ایښی دئ، د ابن مسیب بیان دئ چي ددغه نوم په وجه همېشه زموږ کورنۍ په سختۍ کي اخته وه آن تر اوسه ، د حزن معنا ده سخته مځکه او د سهل معنا ده نرمه مځکه . بخاري.

**ښه نومونه**

| | |
|---|---|
| (۴۵۷۳): وَعَنْ أَبِي وَهْبٍ الْجُشَمِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسَمَّوْا بِأَسْمَاءِ الْأَنْبِيَاءِ وَأَحَبُّ الْأَسْمَاءِ إِلَى اللّٰهِ عَبْدُ اللّٰهِ وَعَبْدُ الرَّحْمٰنِ وَأَصْدَقُهَا حَارِثٌ وَهَمَّامٌ وَأَقْبَحُهَا حَرْبٌ وَمُرَّةُ . رواه ابوداؤد. | د حضرت ابووهب جشمي ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د انبیاؤو په نومو خپل نوم ایږدئ او د الله تعالی په نزد غوره نوم عبد الله او عبد الرحمن او زیات رښتوني (د معنا په اعتبار) یا د واقع سره سم نوم حارث |

(کسب کونکی) او همام (قصد او اراده) دي او بد ترین نوم حرب (جګړه) او مروه (تلخي یعني تریخوالي) دئ . ابوداؤد.

## بَابُ الْبَيَانِ وَالشِّعْرِ (د بیان او شعر بیان)

### لومړی فصل

**په ښه بیان کي د سحر تاثیر وي**

| | |
|---|---|
| (۴۵۷۴): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَدِمَ رَجُلَانِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَخَطَبَا فَعَجِبَ النَّاسُ لِبَيَانِهِمَا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنَ الْبَيَانِ لَسِحْرًا. رواه البخاري. | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي دوه کسان د ختیځ د لوري راغلل او په (ښه وضاحت او فصاحت سره) یې خطبه وویل د |

هغوئ تقریر ته خلک حیران پاته سول ، رسول الله ﷺ وفرمایل ښه بیان د سحر څخه وي . بخاري.

**ښه شعر حکمت وي**

| | |
|---|---|
| (۴۵۷۵): وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنَ الشِّعْرِ حِكْمَةً . رواه البخاري | د حضرت ابی بن کعب ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ښه د شعرو څخه حکمت وي . بخاري او مسلم. |

**مبالغه مه کوئ**

| | |
|---|---|
| (۴۵۷۶): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ | د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله |

| | |
|---|---|
| رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلَكَ الْمُتَنَطِّعُوْنَ قَالَهَا ثَلَاثًا. رواه مسلم. | ﷺ وفرمايل: په كلام كي مبالغه كونكي هلاك سو، رسول الله ﷺ دا الفاظ دري واره وفرمايل. مسلم. |

**يو ښه شعر**

| | |
|---|---|
| (۴۵۷۷): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصْدَقُ كَلِمَةٍ قَالَهَا الشَّاعِرُ كَلِمَةُ لَبِيدٍ أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللّٰهَ بَاطِلٌ. متفق عليه. | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كه يو شاعر رښتوني خبره كړې وه نو هغه د لبيد قول دئ يعني دا |

چي (الا كل شئ ما خلا الله باطل) خبردار سئ د الله څخه پرته هر شي باطل او فاني دئ. بخاري او مسلم

**د رسول ﷺ شعرونه اوريدل**

| | |
|---|---|
| (۴۵۷۸): وَ عَنْ عَمْرِو بْنِ الشَّرِيْدِ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ رَدِفْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فَقَالَ هَلْ مَعَكَ مِنْ شِعْرِ أُمَيَّةَ بْنِ أَبِي الصَّلْتِ شَيْءٌ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ هِيهْ فَأَنْشَدْتُهُ بَيْتًا فَقَالَ هِيهْ ثُمَّ أَنْشَدْتُهُ بَيْتًا فَقَالَ هِيهْ حَتّٰى أَنْشَدْتُهُ مِائَةَ بَيْتٍ. رواه مسلم. | حضرت عمرو بن شريد ﷺ د خپل پلار څخه روايت كوي چي يوه ورځ زه د رسول الله ﷺ سره پر سپرلۍ شا ته سپور سوم، رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا ستا د اميه بن ابي صلت يو څه اشعار په ياد دي؟ ما وويل: هو، رسول الله ﷺ |

وفرمايل: وه يې وايه، ما يو شعر ووايه، رسول الله ﷺ بيا وفرمايل نور ووايه، ما بيا يو شعر ووايه، رسول الله ﷺ وفرمايل نور ووايه همداسي ما سل شعرونه وويل. مسلم.

**د رسول ﷺ خپلي ګوتي ته خطاب**

| | |
|---|---|
| (۴۵۷۹): وَعَنْ جُنْدَبٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي بَعْضِ الْمَشَاهِدِ وَقَدْ دَمِيَتْ إِصْبَعُهُ فَقَالَ هَلْ أَنْتِ إِلَّا إِصْبَعٌ دَمِيتِ وَفِي سَبِيلِ اللّٰهِ مَا لَقِيتِ. متفق عليه. | د حضرت جندب ﷺ څخه روايت دئ چي نبي كريم ﷺ په يوه غزا كي چي د رسول الله ﷺ ګوته مباركه ويني سوه، رسول الله ﷺ ګوته مخاطب كړه او ورته وه يې فرمايل: ته يوه ګوته يې (يعني |

د بدن يو لوى اندام نه يې) او ويني سوې او په لاره د خداى ﷺ كي دي چي تا وليدل (يعني دا تكليف عبث نه دى خداى ﷺ ثواب راكوي). بخاري او مسلم.

**د حضرت حسان هجوه ويل**

| | |
|---|---|
| (۴۵۸۰): وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ قُرَيْظَةَ لِحَسَّانَ بْنِ ثَابِتٍ اهْجُ الْمُشْرِكِيْنَ فَإِنَّ جِبْرِيْلَ مَعَكَ وَكَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى | د حضرت براء ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د قريظه په ورځ (يعني په كومه ورځ چي د بني قريظه يهودو محاصره كړې وه) حسان بن |

| | |
|---|---|
| اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لِحَسَّانَ أَجِبْ عَنِّي اللّٰهُمَّ أَيِّدْهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ. متفق عليه. | ثابت ﷺ (شاعر) ته وفرمايل : ته دمشركانو بد وايه جبرائيل عليه السلام ستا سره دئ ، او |

رسول الله ﷺ چي به كله د كافرانو څخه خپله هجوه واوريدل نو حسان ته به يې وفرمايل : ته زما د لوري دوئ ته جواب وركړه ، بيا يې د حسان لپاره داسي دعاء وغوښتل اې الله :په روح القدس (جبرائيل عليه السلام) سره دحسان مرسته وكړې . بخاري او مسلم. (هجوه: په شعر او يا نظم كي يو چا ته بد ويل) .

**د قريشو هجوه**

| | |
|---|---|
| (۴۵۸۱): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اهْجُوا قُرَيْشًا فَإِنَّهُ أَشَدُّ عَلَيْهَا مِنْ رَشْقٍ بِالنَّبْلِ. رواه مسلم. | د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د جگړې په دوران كي (خپلو شاعرانو ته) وفرمايل : د قريشو بد واياست |

خكه چي د قريشو بد ويل د قريشو لپاره د غشو تر زخم زياته سخته ده . مسلم.

| | |
|---|---|
| (۴۵۸۲): وَعَنْهَا قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لِحَسَّانَ إِنَّ رُوحَ الْقُدُسِ لَا يَزَالُ يُؤَيِّدُكَ مَا نَافَحْتَ عَنِ اللّٰهِ وَرَسُولِهِ وَقَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ هَجَاهُمْ حَسَّانُ فَشَفَى وَاشْتَفَى. رواه مسلم. | د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل چي حسان (شاعر) ته يې دا وويل تر څو پوري چي ته د الله د رسول د لوري مقابله كوې روح القدس (جبرائيل عليه السلام) به ستا مرسته كوي ، بي بي عائشه وايي |

ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل چي حسان د كفارو بد وويل او په دې بد ويلو سره يې مسلمانانو ته شفاء وركړه او خپله يې شفاء تر لاسه كړه يعني سكون او اطمينان يې تر لاسه كړ . مسلم.

**د خندق په غزا كي د عبدالله بن رواحه اشعار ويل**

| | |
|---|---|
| (۴۵۸۳): وَعَنِ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْقُلُ التُّرَابَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ حَتّٰى أَغْبَرَ بَطْنُهُ يَقُولُ وَاللّٰهِ لَوْلَا اللّٰهُ مَا اهْتَدَيْنَا، وَلَا تَصَدَّقْنَا وَلَا صَلَّيْنَا، فَأَنْزِلَنْ سَكِينَةً عَلَيْنَا، وَثَبِّتِ الْأَقْدَامَ إِنْ لَاقَيْنَا، إِنَّ الْأُلَى قَدْ بَغَوْا عَلَيْنَا، إِذَا أَرَادُوا فِتْنَةً أَبَيْنَا، يَرْفَعُ بِهَا صَوْتَهُ أَبَيْنَا أَبَيْنَا.متفق عليه. | د حضرت براء ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به د خندق په غزا كي خاوري وړلې تر دې چي د رسول الله ﷺ نس مبارك په خاورو ولړل سو او رسول الله ﷺ به دا فرمايل : قسم په خداى كه د الله ﷺ هدايت نه واى نو موږ به هيڅكله هدايت نه واى تر لاسه كړى نه به مو صدقه وركولاى نه به مو لمونځ كولاى . اې الله |

ﷺ ! پر موږ آرام او سکينه نازل کړې او موږ چې د ښمنانو سره جنګيږو نو موږ ثابت قدمه ولرې، دغه کافرانو پر موږ زياتی کړی دئ هغوئ زموږ په فتنه کې د اچولو اراده لري نو موږ ددې څخه انکار کوو. رسول الله ﷺ به دا رجز (يعني دعبدالله بن رواحه رضي الله عنه اشعار) په لوړ آواز سره ويل او اَبَيْنَا اَبَيْنَا الفاظ يې په ډير لوړ آواز سره فرمايل رجز: دميراني شعرونه ويلو ته وايي. بخاري او مسلم.

**د انصارو او مهاجرينو لپاره دعاء**

| | |
|---|---|
| (۴۵۸۴): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ جَعَلَ الْمُهَاجِرُونَ وَالْأَنصَارُ يَحْفِرُونَ الْخَنْدَقَ وَيَنْقُلُونَ التُّرَابَ وَهُمْ يَقُولُونَ نَحْنُ الَّذِينَ بَايَعُوا مُحَمَّدًا، عَلَى الْجِهَادِ مَا بَقِينَا أَبَدًا، يَقُولُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُمْ يُجِيبُهُمْ اللَّهُمَّ لَا عَيْشَ إِلَّا عَيْشُ الْآخِرَةْ فَاغْفِرْ لِلْأَنصَارِ وَالْمُهَاجِرَةْ. متفق عليه. | د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې د احزابو په غزا کې به مهاجرينو او انصارو خندق کيندئ او خاوري به يې وړلې او ويل به يې موږ هغه خلك يو چې د محمد ﷺ پر لاس مو د جهاد بيعت کړی دئ تر څو پوري چې موږ ژوندي يو جهاد به کوو، او رسول الله ﷺ به ددې په جواب |

کې وويل: اې الله ﷺ ژوند نسته مګر د آخرت ژوند ته انصار او مهاجرين و بخښې. بخاري او مسلم

**د خراب شعر بدوالی**

| | |
|---|---|
| (۴۵۸۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَأَنْ يَمْتَلِئَ جَوْفُ رَجُلٍ قَيْحًا يَرِيهِ خَيْرٌ مِنْ أَنْ يَمْتَلِئَ شِعْرًا. متفق عليه. | د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: نس د نو څخه دکول چې نس خراب کړي تر دې غوره دي چې هغه دشعر څخه ډکه |

کړي (يعني چې د قرآن کريم وظيفه او نور ديني علم پريږدي يوازي شعر ته مخ کړي). بخاري او مسلم

## دويم فصل

**په توره او ژبه سره جهاد**

| | |
|---|---|
| (۴۵۸۶): عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى قَدْ أَنْزَلَ فِي الشِّعْرِ مَا أَنْزَلَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْمُؤْمِنَ يُجَاهِدُ بِسَيْفِهِ وَلِسَانِهِ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَكَأَنَّمَا تَرْمُونَهُمْ بِهِ نَضْحَ النَّبْلِ. رواه في شرح السنة. وفي الاستيعاب لابن عبد البر أنه قال يا | د حضرت کعب بن مالك رضي الله عنه څخه روايت دئ چې ما نبي کريم ﷺ ته وويل: الله تعالى چې د شعر په اره کوم حکم نازل کړی دئ هغه څرګند دئ، رسول الله ﷺ وفرمايل: مؤمن په توره سره هم جهاد کوي او په ژبه سره هم، قسم دئ په هغه ذات چې د هغه په ولك کې زما ساه ده ستاسو |

| | |
|---|---|
| رسول الله ماذا ترى في الشعر ؟ فقال : " إن المؤمن يجاهد بسيفه ولسانه. | شعر كافران داسي ولي (يعني بد پر لګيږي) لکه ستاسي غشي. شرح السنه ، او په کتاب |

استيعاب کي د ابن عبدالبر څخه نقل دي چي هغه (يعني کعب) وويل: تاسو څه حکم کوئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: مؤمن په توره سره هم جهاد کوي او په ژبه سره هم.

## لږ خبري د ايمان شنبه ده

| | |
|---|---|
| (۴۵۸۷): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْحَيَاءُ وَالْعِيُّ شُعْبَتَانِ مِنَ الْإِيمَانِ وَالْبَذَاءُ وَالْبَيَانُ شُعْبَتَانِ مِنَ النِّفَاقِ . رواه الترمذي. | د حضرت ابو مامه ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: حيا او ژبه په واك کي ساتل د ايمان دوه ښاخونه دي او فحش ويل او بې ګټي خبري د نفاق دوه ښاخونه دي . ترمذي. |

## بې فائدې خبري مکروه دي

| | |
|---|---|
| (۴۵۸۸): وَعَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَحَبَّكُمْ إِلَيَّ وَأَقْرَبَكُمْ مِنِّي يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَحَاسِنُكُمْ أَخْلَاقًا وَإِنَّ أَبْغَضَكُمْ إِلَيَّ وَأَبْعَدَكُمْ مِنِّي مَسَاوِيكُمْ أَخْلَاقًا الثَّرْثَارُونَ وَالْمُتَشَدِّقُونَ الْمُتَفَيْهِقُونَ. رواه البيهقي في شعب الايمان وروى الترمذي نحوه عن جابر وفي رواية قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ قَدْ عَلِمْنَا الثَّرْثَارُونَ وَالْمُتَشَدِّقُونَ فَمَا الْمُتَفَيْهِقُونَ قَالَ الْمُتَكَبِّرُونَ. | د حضرت ابو ثعلبة خشني ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به ما ته تر ټولو عزيز، محبوب او نږدې هغه خلك وي کوم چي په تاسو کي زيات خوش اخلاقه وي ، او مبغوض ترين، او زما څخه ډير ليري به هغه خلك وي کوم چي ډير بد اخلاقه وي . زياتي خبري جوړونکي په بې احتياطۍ سره پالتو خبري او تکبر کونکي وي ، بيهقي، ترمذي د حضرت جابر ؓ څخه دا ډول روايت نقل کړی دئ |

او په يوه روايت کي دي چي صحابه کرامو وويل: (اي دالله رسوله) ثرثارون او متشدقون خو موږ پيژنو مګر متفيقهون کوم خلك دي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل متکبر (غرور کونکي). (ثرثاون: ډيري خبري جوړونکي، متشدقون: په بې پرواهي سره پالتو خبري کونکي، متفيهقون : کبرجن او متکبرته وايي).

## يو پيشګويي

| | |
|---|---|
| (۴۵۸۹): وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَخْرُجَ قَوْمٌ يَأْكُلُونَ بِأَلْسِنَتِهِمْ كَمَا يَأْكُلُ | د حضرت سعد بن ابي وقاص ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: قيامت به تر هغه وخته پوري نه قائميږي تر څو پوري چي يو داسي قوم |

الْبَقَرُ بِأَلْسِنَتِهَا. رواه احمد.

پيدا نه سي چي په خپلو ژبو سره به داسي خوراك كوي لكه غواوي چي په خپلو ژبو سره خوراك كوي (يعني خپلي ژبي به د خوراك وسيله جوړه كړي او په درواغو خبرو يا فصاحت او بلاغت يا مدح او ذم سره به خپل خوراك پيداكوي). احمد.

### اوږده ژبه

(۲۵۹۰): وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يُبْغِضُ الْبَلِيغَ مِنَ الرِّجَالِ الَّذِي يَتَخَلَّلُ بِلِسَانِهِ كَمَا تَتَخَلَّلُ الْبَاقِرَةُ بِلِسَانِهَا. رواه الترمذي وابوداؤد وقال الترمذي هذا حديث غريب.

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى هغه سړى بد گڼي چي په خبرو كي مبالغه كوي هغه څوك چي خپله ژبه په خبرو سره تاووي لكه غوايان چي وابنه په خوله كي ننباسي او په خپلو ژبو يې يوې خوا بلې خوا ته اړوي. ترمذي او ابوداؤد. داحديث غريب دئ.

### د بې عمله نصيحت كونكو عذاب

(۲۵۹۱): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَرْتُ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِيْ بِقَوْمٍ تُقْرَضُ شِفَاهُهُمْ بِمَقَارِيضَ النَّارِ فَقُلْتُ يَا جِبْرِيْلُ مَنْ هٰؤُلَاءِ؟ قَالَ هٰؤُلَاءِ خُطَبَاءُ أُمَّتِكَ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ مَا لَا يَفْعَلُوْنَ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د معراج په شپه زه پر داسي خلكو تير سوم چي د هغوئ ژبې د اور په غچيانو سره پريكېدلې، ما د جبرائيل عليه السلام څخه پوښتنه وكړه دا څوك دي؟ هغه راته وويل دا ستا د امت خطيبان (نصيحت كونكي) دي چي داسي خبري به يې كولې په كومو چي به يې خپله عمل نه كوئ. ترمذي.دا حديث غريب دئ.

### د هوډ ژبې په باره كي وعيد

(۲۵۹۲): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَعَلَّمَ صَرْفَ الْكَلَامِ لِيَسْبِيَ بِهٖ قُلُوبَ الرِّجَالِ أَوْ النَّاسِ لَمْ يَقْبَلْ اللّٰهُ مِنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ صَرْفًا وَلَا عَدْلًا. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي (د فصاحت او چم) داسي خبري زده كړي چي په هغه سره د نارينو يا د خلكو پر زړو واك تر لاسه كړي، الله تعالى به د قيامت په ورځ د هغوئ څخه نه فرض قبول كړي او نه نفل. ابوداؤد

### لنډ تقرير ښه دى

(۲۵۹۳): وَعَنْ عَمْرِو ابْنِ الْعَاصِ أَنَّهُ قَالَ

د حضرت عمرو ابن العاص ﷺ څخه روايت دئ چي

يَوْمًا وَقَامَ رَجُلٌ فَأَكْثَرَ الْقَوْلَ فَقَالَ عَمْرٌو لَوْ قَصَدَ فِي قَوْلِه لَكَانَ خَيْرًا لَهُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَقَدْ رَأَيْتُ أَوْ أُمِرْتُ أَنْ أَتَجَوَّزَ فِي الْقَوْلِ فَإِنَّ الْجَوَازَ هُوَ خَيْرٌ . رواه ابوداؤد.

يوه ورځ يو سړی ولاړ سو په فصاحت او بلاغت سره يې يو اوږد تقرير وکړ ، حضرت عمرو ﷺ وويل که ده په خپل بيان کي د لنډوالی څخه کار اخيستی وای نو غوره به وه، ځکه چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي زه په دې سوی يم يا حکم راکړل سوی دئ ددې خبري چي په تقرير او خبرو اترو کي د لنډوالي څخه کار واخلم ځکه چي لنډ تقرير غوره وي . ابوداؤد.

**ځيني علم جهالت وي**

(۴۵۹۴): وَعَنْ صَخْرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّه قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ مِنَ الْبَيَانِ سِحْرًا وَإِنَّ مِنَ الْعِلْمِ جَهْلًا وَإِنَّ مِنَ الشِّعْرِ حُكْمًا وَإِنَّ مِنَ الْقَوْلِ عِيَالًا . رواه ابوداؤد.

حضرت صخر بن عبد الله بن بريدة ﷺ د خپل پلار څخه او هغه د پلار څخه روايت کوي چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي ځيني بيان د جادو په ډول او ځيني د علم څخه جهل دی او ځيني شعرونه پر حکمت مبني او ګټه رسونکي وي او ځيني قولونه هلاکت وي ، ابوداؤد.

## دريم فصل

**د حسان شاعر فضيلت**

(۴۵۹۵): عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضَعُ لِحَسَّانَ مِنْبَرًا فِي الْمَسْجِدِ يَقُومُ عَلَيْهِ قَائِمًا يُفَاخِرُ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْيُنَافِحُ وَيَقُولُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ يُؤَيِّدُ حَسَّانَ بِرُوحِ الْقُدُسِ مَا نَافَحَ أَوْ فَاخَرَ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه البخاري.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به د حسان (شاعر) لپاره په مسجد کي منبر کښېښودئ ، حسان به پر هغه ودريدئ ، د رسول الله ﷺ د لوري به يې د فخر ځرګندونه کول يا د رسول الله ﷺ د لوري به يې د کفارو د مذمت (بدوالي) مقابله کول او رسول الله ﷺ به دا فرمايل: بېشکه الله تعالی د حسان تائيد کوي په جبرائيل عليه السلام سره تر هغو پوري چي هغه د رسول الله ﷺ د لوري مقابله يا فخر کوي . بخاري.

**د اوښانو د حدي اثر**

(۴۵۹۶): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَادٍ يُقَالُ لَهُ أَنْجَشَةُ وَكَانَ حَسَنَ الصَّوْتِ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُوَيْدَكَ يَا أَنْجَشَةُ لَا تَكْسِرِ الْقَوَارِيرَ قَالَ قَتَادَةُ يَعْنِي ضَعَفَةَ النِّسَاءِ. متفق عليه.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ يو حاد وو (حاد د اوښانو د شرلو غزل ويونكي)، چي د هغه نوم انجشه وو دير ښه آواز يې وو. يوه ورځ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل. اي (نجشه) اوښان په كراره كراره شړه (يعني په خپل حدي سره اوښان مه ګرموه تيز يې مه شړه) او شيشي مه ماتوه، قتاده ﷺ وايي د شيشو څخه د رسول الله ﷺ مراد كمزوري ښځي وي. بخاري او مسلم.

**د ښه شعر او بد شعر تعلق**

(۴۵۹۷): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ ذُكِرَ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الشِّعْرُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ كَلَامٌ فَحَسَنُهُ حَسَنٌ وَقَبِيحُهُ قَبِيحٌ. رواه الدارقطني، وروى الشافعي عن عروة مرسلاً.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ په مخكي د شعر يادونه وسول، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: شعر يو كلام دئ ښه شعر ښه كلام دئ او بد شعر بد كلام دئ. دار قطني. شافعي د عروه څخه مرسلا روايت كړى دئ.

**دګناه شعرونه**

(۴۵۹۸): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ بَيْنَا نَحْنُ نَسِيرُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْعَرْجِ إِذْ عَرَضَ شَاعِرٌ يُنْشِدُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُذُوا الشَّيْطَانَ أَوْ أَمْسِكُوا الشَّيْطَانَ لَأَنْ يَمْتَلِئَ جَوْفُ رَجُلٍ قَيْحًا خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَمْتَلِئَ شِعْرًا. رواه مسلم.

د حضرت ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ سره په عرج نامي ځاى كي روان وو چي يو شاعر په شعر ويلو سره په مخه راغلئ، د هغه دشعرونو په اوريدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل: دا شيطان ونيسئ، يا دا شيطان منع كړئ. د انسان د نو څخه نس دكول تر دي غوره دي چي هغه د شعر څخه دكه كړي. مسلم.

**سندري ويل نفاق پيدا كوي**

(۴۵۹۹): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْغِنَاءُ يُنْبِتُ النِّفَاقَ فِي الْقَلْبِ كَمَا يُنْبِتُ الْمَاءُ الزَّرْعَ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: سندري په زړه كي داسي منافقت زرغون كوي لكه څرنګه چي اوبه فصل زرغون كوي. بيهقي.

**د ساز اواز**

| | |
|---|---|
| (۴۶۰۰): وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ كُنْتُ مَعَ ابْنِ عُمَرَ فِي الطَّرِيْقِ فَسَمِعَ مِزْمَارًا فَوَضَعَ إِصْبَعَيْهِ فِي أُذُنَيْهِ وَنَأَى عَنِ الطَّرِيْقِ إِلَى الْجَانِبِ الْآخَرِ ثُمَّ قَالَ لِي يَا نَافِعُ هَلْ تَسْمَعُ شَيْئًا قُلْتُ لَا فَرَفَعَ إِصْبَعَيْهِ مِنْ أُذُنَيْهِ وَقَالَ كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَمِعَ صَوْتَ يَرَاعٍ فَصَنَعَ مِثْلَ مَا صَنَعْتُ قَالَ نَافِعٌ وَكُنْتُ إِذًا ذَاكَ صَغِيْرًا. رواه احمد وابوداؤد. | د حضرت نافع ﷺ څخه روايت دئ چي زه د ابن عمر ﷺ سره روان وم چي هغه د شپيلي آواز واوريدئ نو په خپلو غوږونو کي يې ګوتي دننه کړي او دلاري څخه آخوا سو ليري ولاړی ، بيا يې ما ته وويل اې نافع ! ته (د شپيلي) آواز اوري ، ما وويل :يا ، نو هغه د غوږو څخه ګوتي ايسته کړي او وه يې ويل زه د رسول الله ﷺ سره |

روان وم چي رسول الله ﷺ د شپيلي آواز واوريدئ او رسول الله ﷺ همداسي وکړل کوم چي ما وکړل ، نافع وايي زه هغه وخت ډير کوچنی وم ، احمد او ابوداؤد.

# بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ

## (د ژبي ساتنه، غيبت او بدو يلو بيان)

## لومړی فصل

**د ژبي او شرمګاه ساتونکي ته زيری**

| | |
|---|---|
| (۴۶۰۱): عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَضْمَنْ لِي مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ وَمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ أَضْمَنْ لَهُ الْجَنَّةَ . رواه البخاري. | د حضرت سهل بن سعد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي زما سره ددي خبري وعده وکړي چي هغه به ددواړو زامو په |

منځ کي د شي (يعني ژبي) او ددواړو پښو په منځ کي دشي (يعني شرمګاه) ساتنه وکړي نو زه د هغه لپاره د جنت ضمانت ورکوم ، بخاري.

**خپل ژبه وساته**

| | |
|---|---|
| (۴۶۰۲): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ رِضْوَانِ اللّٰهِ لَا يُلْقِي لَهَا بَالًا يَرْفَعُهُ اللّٰهُ بِهَا دَرَجَاتٍ وَإِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ سَخَطِ اللّٰهِ لَا يُلْقِي لَهَا | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د انسان کلام درجه پورته کوي يا په جنهم کي يې غورځوي، څيني وخت بنده د ژبي څخه داسي خبره راوباسي |

| | |
|---|---|
| بَالًا يَهْوِي بِهَا فِي جَهَنَّمَ. رواه البخاري و في رواية تَهْوِي بِهَا فِي النَّارِ أَبْعَدَ مِمَّا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ. | چي په هغه سره الله تعالی خوشحاله سي مګر هغه بنده ددې حیثیت څخه خبر نه وي او الله |

تعالی د هغه خبرې په بدله کې د هغه درجې پور...ه کوي او ځیني وخت بنده داسي خبره وکړي چي په هغه سره الله ناراضه سي او هغه ددې څه پروا نه لري نو هغه خبره به يې په جنهم کې غورځوي. بخاري او په یوه روایت کې دي چي د هغه کلمې په سبب به په اور کې وغورځول سي کوم چي ډیر لیري دئ د مشرق څخه تر مغرب پورې.

**مسلمان ته بد ویل فسق دی**

| | |
|---|---|
| (۴۶۰۳): وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوْقٌ وَقِتَالُهُ كُفْرٌ. متفق عليه. | د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: مسلمان ته بد ویل فسق دئ او مسلمان وژل کفر دئ. بخاري او مسلم. |

**مسلمان ته کافر مه وایه**

| | |
|---|---|
| (۴۶۰۴): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّمَا رَجُلٍ قَالَ لِأَخِيْهِ كَافِرُ فَقَدْ بَاءَ بِهَا أَحَدُهُمَا. متفق عليه. | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم څوک چي خپل مسلمان ورور ته کافر ووایي نو په هغو دواړو کي یو |

کس د کفر ددې کلمې ور ګرځیدلی دئ (یعني په دواړو کي یو کافر ګرځي هغه سړي چي هغه ته کافر ویل سوي دي که چیري واقعي کافر وي نو ددې کلمې ور هغه دئ او که هغه داسي نه وي نو ددې کلمې ویونکی ته بیرته دا کلمه راګرځي یعني مسلمان ته چي څوک کافر ووایي نو ویونکي یې خپله ددغه لفظ ور سي له دې کبله پر چا باندي د کفر فتوا لګولو کي ډیر احتیاط کول پکار دي داسي نه چي کوم تهمت پر بل لګوي هغه پر ده راسي). بخاري او مسلم.

| | |
|---|---|
| (۴۶۰۵): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَرْمِي رَجُلٌ رَجُلًا بِالْفُسُوْقِ وَلَا يَرْمِيْهِ بِالْكُفْرِ إِلَّا ارْتَدَّتْ عَلَيْهِ إِنْ لَمْ يَكُنْ صَاحِبُهُ كَذٰلِكَ. رواه البخاري. | د حضرت ابوذر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک دي پر چا د فسق تهمت نه لګوي او نه دکفر، که هغه سړی داسي نه وي نو دا کلمه ویونکی ته راګرځي، یعني هغه د کفر مستحق ګرځي. بخاري. |

**چا ته د خدای دښمن مه وایاست**

| | |
|---|---|
| (۴۶۰۶): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ | د حضرت ابو ذر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي چا ته کافر یا د الله ﷺ |

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ دَعَا رَجُلًا بِالْكُفْرِ أَوْ قَالَ عَدُوُّ اللّٰهِ وَلَيْسَ كَذٰلِكَ إِلَّا حَارَ عَلَيْهِ. متفق عليه.

دښمن ووايي او هغه داسي نه وي نو دا پر کلمه ويونکي باندي راگرځي. بخاري او مسلم.

## ظالم او مظلوم

(۴۶۰۷): وَعَنْ أَنَسٍ وَ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُسْتَبَّانِ مَا قَالَا فَعَلَى الْبَادِئِ مَا لَمْ يَعْتَدِ الْمَظْلُوْمُ. رواه مسلم.

د حضرت انس او ابوهريرة (رضي الله عنهما) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: که دوه کسان يو بل ته بد وايي ددې بد ويلو گناه به پر هغه چا وي چي په بد ويلو يې شروع کړي وي، نو هغه ظالم دئ او دويم سړی مظلوم دئ تر څو پوري چي مظلوم د حد څخه تجاوز ونه کړي يعني د ظالم څخه زيات بد ونه وايي. مسلم

## لعنت مه واياست

(۴۶۰۸): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَنْبَغِي لِصِدِّيْقٍ أَنْ يَكُوْنَ لَعَّانًا. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د صديق (يعني مؤمن) لپاره دا مناسب نه ده چي هغه لعنت ويونکی وي.، مسلم

(۴۶۰۹): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ اللَّعَّانِيْنَ لَا يَكُوْنُوْنَ شُهَدَاءَ وَلَا شُفَعَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه مسلم.

د حضرت ابودرداء ؓ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل چي لعنت ويونکي خلك به د قيامت په ورځ نه شهادت کونکي او نه شفاعت کونکي وي. مسلم.

## هلاکت مه واياست

(۴۶۱۰): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَالَ الرَّجُلُ هَلَكَ النَّاسُ فَهُوَ أَهْلَكُهُمْ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي څوك دا وايي چي خلك هلاك سول نو هغه ويونکي به تر ټولو زيات هلاکيدونکی وي. مسلم.

## دوه مخي

(۴۶۱۱): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَجِدُوْنَ شَرَّ النَّاسِ يوم القيامة ذَا الْوَجْهَيْنِ الَّذِي يَأْتِي هٰؤُلَاءِ بِوَجْهٍ وَيَأْتِي هٰؤُلَاءِ بِوَجْهٍ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به تاسو بدترين هغه ويني چي دوه مخي منافق وي چي هغه ته ورسي نو د هغه د طبيعت خبري کوي او چي ده ته ورسي نو دده د طبيعت خبري

كوي يعني حقه خبره نه كوي. بخاري او مسلم.

### چغل خور جنت ته نه ځي

(۴۶۱۲): وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ. متفق عليه و في رواية مسلم نَمَّامٌ.

د حضرت حذيفه ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا واوريدل چي چغل خور به جنت ته نه ځي. بخاري او مسلم او د مسلم په يوه روايت كي د قتات پر ځاى د نمام لفظ راغلى دئ. بخاري او مسلم.

### هميشه رښتيا وايه دروغ مه وايه

(۴۶۱۳): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْكُمْ بِالصِّدْقِ فَإِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَصْدُقُ وَيَتَحَرَّى الصِّدْقَ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللّٰهِ صِدِّيقًا وَإِيَّاكُمْ وَالْكَذِبَ فَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الْفُجُورِ وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَكْذِبُ وَيَتَحَرَّى الْكَذِبَ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللّٰهِ كَذَّابًا. متفق عليه و في رواية المسلم قال إِنَّ الصِّدْقَ بِرٌّ وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ وَإِنَّ الْكَذِبَ فُجُورٌ وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ.

د حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: رښتيا ويل اختيار كړئ ځكه چي رښتيا ويل د نيكى لار ښيي او نيكي سړى جنت ته بيايي او څوك چي هميشه رښتيا وايي او د رښتيا ويلو كوښښ كوي هغه د الله تعالى سره صديق (رښتونى) ليكل كيږي، تاسو د دروغو څخه ځان وساتئ ځكه چي دروغ (سړى) د فسق او فجور په لوري بيايي او فسق او فجور د دوږخ په لور لاربښوونه كوي او څوك چي هميشه دروغ وايي او د دروغو ويلو كوښښ كوي هغه د الله تعالى په نزد كذاب (ډير دروغجن) ليكل سي. بخاري او مسلم او د مسلم په روايت كي دا الفاظ دي چي رښتيا ويل نيكي ده او نيكي سړى جنت ته بيايي او دروغ ويل فسق او فجور دي او فسق او فجور (سړى) دوږخ ته بيايي..

### د صلح لپاره دروغ

(۴۶۱۴): وَعَنْ أُمِّ كُلْثُومٍ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ الْكَذَّابُ الَّذِي يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ وَ يَقُولُ خَيْرًا وَ يَنْمِي خَيْرًا. متفق عليه.

د حضرت ام كلثوم (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه سړى دروغجن نه دئ چي د خلكو په منځ كي صلح كوي، نيكي خبري كوي او ښه خبري خلكو ته رسوي. بخاري او مسلم.

**مبالغه مه کوئ**

| | |
|---|---|
| (۴۶۱۵): وَعَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ الْاَسْوَدِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَأَيْتُمُ الْمَدَّاحِينَ فَاحْثُوا فِي وُجُوهِهِمُ التُّرَابَ. رواه مسلم. | د حضرت مقداد بن اسود ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي تاسو هغه خلك ووینئ چي په مبالغې سره تعریفونه کوي |

(یعني د دروا غو تعریفونه کوي) نو د هغوئ پر مخونو خاوري واچوئ. مسلم.

| | |
|---|---|
| (۴۶۱۶): وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ أَثْنَى رَجُلٌ عَلَى رَجُلٍ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ وَيْلَكَ قَطَعْتَ عُنُقَ أَخِيكَ ثَلَاثًا مَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَادِحًا لَا مَحَالَةَ فَلْيَقُلْ أَحْسِبُ فُلَانًا وَاللّٰهُ حَسِيبُهُ اِنْ كَانَ يُرٰى أَنَّهُ كَذٰلِكَ وَلَا يُزَكِّي عَلَى اللّٰهِ أَحَدًا. متفق عليه. | د حضرت ابوبکره ﷺ څخه روایت دئ چي یو سړي د رسول الله ﷺ مخته (په مبالغې) سره د یو بل سړي تعریف وکړ، رسول الله ﷺ هغه مبالغه کونکي ته وفرمایل پر تادي افسوس وي تا د خپل ورور غاړه ووهل دا الفاظ ورته |

رسول الله ﷺ درې واره وویل.، او ددې وروسته یې وویل: که ته د چا تعریف کول ضروري ګڼئ نو داسي وایه چي د فلاني سړي په اره زما دا خیال دئ یا فلانی سړی زه داسي ګڼم، او الله ﷺ د حقیقت حال څخه ښه خبر دئ هغه حساب کونکی او خبر ورکونکی دئ او دا دې هم په داسي صورت کي وایي چي د هغه سړي په اره داسي خیال ولري او پر الله تعالی دې د یو سړي په نسبت یقین سره دا حکم نه لګوي چي هغه یقینا داسي دئ. بخاري او مسلم.

**د غیبت معنی او تفصیل**

| | |
|---|---|
| (۴۶۱۷): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَتَدْرُونَ مَا الْغِيبَةُ قَالُوا اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ ذِكْرُكَ أَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُ قِيلَ أَفَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ فِي أَخِي مَا أَقُولُ قَالَ إِنْ كَانَ فِيهِ مَا تَقُولُ فَقَدِ اغْتَبْتَهُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهِ فَقَدْ بَهَتَّهُ. رواه مسلم، وفي رواية اذا قلت لاخيك ما فيه فقد اغتبته و اذا قلت ما ليس فيه فقد بهته. | د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د صحابه کرامو څخه پوښتنه وکړه چي ایا تاسو ته معلومه ده چي غیبت څه شي دئ؟ هغوئ وویل: الله ﷺ او د هغه رسول ښه پوهیږي، رسول الله ﷺ وفرمایل د خپل مسلمان ورور داسي خبرو سره یادونه کول چي هغه ته بدي خرګندیږي، پوښتنه وسول که زما په ورور کي هغه خرابي وي د کومي چي زه یادونه کوم بیا هم |

دې ته غیبت ویل کیږي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل که په هغه کي دغه خرابي موجود وي نو تا د هغه غیبت وکړ او که هغه خرابي پکښي موجود نه وي نو تا پر هغه بهتان (تهمت) ولګوئ، او په یوه

روايت كي داسي الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل كه تا د خپل ورور هغه بدي بيان كړه چي په هغه كي وي نو تا دهغه غيبت وكړ او كه تا د هغه په اړه داسي خبره وكړه كومه چي په هغه كي نه وي نو تا پر هغه بهتان ولګوئ . مسلم.

**فحش ويونكى بد سړى دى**

(۴۶۱۸): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَجُلًا اسْتَأْذَنَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ ائْذَنُوا لَهُ فَبِئْسَ أَخُو الْعَشِيرَةِ فَلَمَّا جَلَسَ تَطَلَّقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي وَجْهِهِ وَانْبَسَطَ إِلَيْهِ فَلَمَّا انْطَلَقَ الرَّجُلُ قَالَتْ عَائِشَةُ يَا رَسُولَ اللَّهِ قُلْتَ لَهُ كَذَا وَكَذَا ثُمَّ تَطَلَّقْتَ فِي وَجْهِهِ وَانْبَسَطْتَ إِلَيْهِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَائِشَةُ مَتَى عَهِدْتِنِي فَحَّاشًا إِنَّ شَرَّ النَّاسِ عِنْدَ اللَّهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَنْ تَرَكَهُ النَّاسُ اتِّقَاءَ شَرِّهِ، وفي رواية اتِّقَاءَ فُحْشِهِ .متفق عليه.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي يو سړي د نبي كريم ﷺ څخه د حاضريدو اجازه وغوښتل ، رسول الله ﷺ اصحابو ته وفرمايل ده ته د راتلو اجازه وركړئ دى د خپل قوم خراب سړى دئ كله چي هغه سړى راغلئ د رسول الله ﷺ په خوا كي كښېنستئ نو رسول الله ﷺ په ورين تندي ورته وكتل او په خندا خندا سره يې د هغه سره خبري وكړې بيا چي هغه ولاړى نو بي بي عائشي وويل اي دالله رسوله ! د هغه په اړه خو تاسو داسي داسي ويلي وه بيا تاسو ورسره داسي په ورين تندي خبري وكړي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : تا كله زه فحش ويونكى ليدلى يم بد ترين سړى به د الله ﷺ په نزد د قيامت په ورځ هغه وي چي خلك يې په دې وجه پريږدي چي د بدى څخه يې بيريږي او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي د هغه د فحش ويلو د بيري څخه خلك د هغه څخه ليري ليري اوسي . بخاري او مسلم.

**خپل عيب مه ښكاره كوئ**

(۴۶۱۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ أُمَّتِي مُعَافًى إِلَّا الْمُجَاهِرِينَ وَإِنَّ مِنَ الْمُجَانَةِ أَنْ يَعْمَلَ الرَّجُلُ بِاللَّيْلِ عَمَلًا ثُمَّ يُصْبِحَ وَقَدْ سَتَرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ فَيَقُولَ يَا فُلَانُ عَمِلْتُ الْبَارِحَةَ كَذَا وَكَذَا وَقَدْ بَاتَ يَسْتُرُهُ رَبُّهُ وَيُصْبِحُ يَكْشِفُ سِتْرَ اللَّهِ عَنْهُ. متفق عليه و ذكر حديث ابي هريرة من كان يؤمن بالله في باب الضيافة.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما ټول امت په سلامتيا كي دئ (يعني هيڅ يو سخت عذاب به نه وركول كيږي) مگر هغه خلك په عافيت كي نه دي چي بدي ظاهرونكي وي او دا خبره څومره د بې پرواهى ده چي سړى د شپې يو (بد) كار وكړي او سبا ته چي الله تعالى د هغه عيب پټ كړى وي هغه ګرځي او خلكو ته وايي اي فلانيه ! د شپې ما داسي كړي وه ، الله تعالى د هغه عيب پټ كړ او هغه د سهار كېدو سره د الله

تعالی پرده وشکول یعني کوم عیب چي الله تعالی پټ کړی وو پرده یې پر اچولې وه هغه یې خپله خلکو ته څرګند کړ ، بخاري او مسلم او د ابوهریره حدیث من کان یؤمن باالله الخ د ضیافت په باب کي بیان سوی دئ.

## دویم فصل

### د دروغو پرېښودل

(۴۶۲۰): عَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَرَكَ الْكَذِبَ وَهُوَ بَاطِلٌ بُنِيَ لَهُ فِي رَبَضِ الْجَنَّةِ وَمَنْ تَرَكَ الْمِرَاءَ وَهُوَ مُحِقٌّ بُنِيَ لَهُ فِي وَسَطِهَا وَمَنْ حَسَّنَ خُلُقَهُ بُنِيَ لَهُ فِي أَعْلَاهَا. رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن وكذا في شرح السنة وفي المصابيح قال غريب.

د حضرت انس ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چي باطل درواغ ویل پرېږدي نو دهغه لپاره د جنت پر غاره یو مانۍ تیارېږي او څوك چي پر حق وي پر هغه سرېبره جګړه پرېږدي د هغه لپاره د جنت په منځ کي مانۍ تیارېږي او چا چي خپل اخلاق ښه کړل د هغه لپاره د جنت په لوړو کي مانۍ جوړېږي. ترمذي.

### جنت او دوږخ ته د تللو سبب

(۴۶۲۱): وَعَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَتَدْرُوْنَ مَا اَكْثَرُ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ الْجَنَّةَ تَقْوَى اللّٰهِ وَحُسْنُ الْخُلُقِ اَتَدْرُوْنَ مَا اَكْثَرُ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ النَّارَ اَلْاَجْوَفَانِ الْفَمُ وَالْفَرْجُ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهریره ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو پوهېږئ چي په جنت کي اکثر یو څوك کوم شی داخلوي (هغه شی) د الله تعالی څخه بیره او ښه اخلاق دي ایا تاسي نه پوهېږئ دهر خلك د خولې (ژبې) او فرج (شرمګاه) څخه دوږخ ته داخلېږي. ترمذي.

### د ښه او بدي خبري بدل

(۴۶۲۲): وَعَنْ بِلَالِ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الرَّجُلَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنَ الْخَيْرِ مَا يَعْلَمُ مَبْلَغَهَا يَكْتُبُ اللّٰهُ لَهُ بِهَا رِضْوَانَهُ إِلَى يَوْمِ يَلْقَاهُ وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنَ الشَّرِّ مَا يَعْلَمُ مَبْلَغَهَا يَكْتُبُ اللّٰهُ بِهَا عَلَيْهِ سَخَطَهُ

د حضرت بلال بن حارث ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کله انسان د خیر کلمه په خپل ژبه سره وایي مګر د هغه په قدر نه پوهېږي او خدای ﷻ په هغه خبره سره دده لپاره خپله رضا ولیکي تر هغه ورځي پوري چي دی خدای ﷻ ته

| | |
|---|---|
| إِلَى يَوْمِ يَلْقَاهُ . رواه في شرح السنة و روى مالك والترمذي وابن ماجه نحوه. | ورخي ، او يو سړی يو كلمه د ژبي څخه وباسي مگر د هغه حقيقت نه پيژني او الله تعالى د هغه |

په سبب پر هغه غيظ او غضب ليکي تر څو پوري چي هغه د الله تعالى سره ملاقات نه کوي ، . شرح السنه. مالك، ترمذي او ابن ماجه همدا ډول حديث نقل کړی دئ.

**د خلکو خندولو لپاره دروا غ**

| | |
|---|---|
| (۴۶۲۳): وَعَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيْلٌ لمن يُحَدِّثُ فَيَكْذِبُ لِيُضْحِكَ بِهِ الْقَوْمَ وَيْلٌ لَهُ وَيْلٌ لَهُ. رواه احمد والترمذي وابوداؤد والدارمي. | د حضرت بهز بن حكيم ﷺ د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :. پر هغه چا افسوس دئ چي خبري کوي نو دروا غ وايي يوازي ددې لپاره چي خلك وخندوي ، پر داسي کس افسوس او افسوس دئ . احمد ، ترمذي، ابوداؤد او دارمي . |
| (۴۶۲۴): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْعَبْدَ لَيَقُولُ الْكَلِمَةَ لاَ يَقُولُهَا إِلاَّ لِيُضْحِكَ بِهِ النَّاسَ يَهْوِيْ بِهَا أَبْعَدَ مِمَّا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَإِنَّهُ لَيَزِلُّ عَنْ لِسَانِهِ أَشَدُّ مِمَّا يَزِلُّ عَنْ قَدَمِهِ . رواه البيهقي في شعب الإيمان. | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : انسان يوه خبره کوي او ددې لپاره يې کوي چي خلك وخندوي او هغه ددې خپلي خبري په سبب په دوږخ کي اچول کيږي د دومره فاصلي څخه خومره چي د آسمان او مځکي په منځ کي ده او انسان د خپلي ژبي په |

وجه د قدمونو تر ښوئيدو زيات سخت ښوئيږي . بيهقي

**پټه خوله خلاصون دئ**

| | |
|---|---|
| (۴۶۲۵): وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَمَتَ نَجَا . رواه أحمد والترمذي والدارمي والبيهقي في شعب الإيمان. | د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي پټه خوله پاته سي نو هغه خلاصون تر لاسه کر . احمد ، ترمذي ، دارمي او بيهقي په شعب الايمان کي . |
| (۴۶۲۶): وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ لَقِيتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ مَا النَّجَاةُ قَالَ أَمْلِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ وَلْيَسَعْكَ بَيْتُكَ وَابْكِ عَلَى | د حضرت عقبه بن عامر ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ سره ملاقات وکر او پوښتنه مي وکړه چي د خلاصون ذريعه څه ده ؟ رسول الله |

خَطِيْئَتِكَ. رواه احمد والترمذي.

ﷺ وفرمايل خپله ژبه په واك كي ساته ، په خپل كور كي پروت اوسه او پر خپلو گناهونو ژاړه . احمد او ترمذي.

**د ژبي عاجزي**

(۴۶۲۷): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَفَعَهُ قَالَ إِذَا أَصْبَحَ ابْنُ آدَمَ فَإِنَّ الْأَعْضَاءَ كُلَّهَا تُكَفِّرُ اللِّسَانَ فَتَقُولُ اتَّقِ اللّٰهَ فِينَا فَإِنَّا نَحْنُ بِكَ فَإِنْ اسْتَقَمْتَ اسْتَقَمْنَا وَإِنْ اعْوَجَجْتَ اعْوَجَجْنَا . رواه الترمذي.

د حضرت ابو سعيد ﷺ څخه مرفوعا روايت دئ او وايي چي انسان كله سهار كوي نو د بدن ټول اندامونه ژبي ته عاجزي كوي او ورته وايي چي زموږ په اړه د الله ﷺ څخه و بيريږه ځكه چي موږ ستا سره تړلي يو كه ته سمه يې نو موږ به هم سم يو (په امان يو) او كه ته بې لارې غوره كړې نو موږ به هم بې لارې سو . ترمذي.

**ښه اسلام**

(۴۶۲۸): وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لَا يَعْنِيهِ. رواه مالك واحمد ورواه ابن ماجة عن ابي هريرة والترمذي والبيهقي في شعب الايمان عنهما.

د حضرت علي بن حسين ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د انسان (يعني د مسلمان) د اسلامي ښه والى دادئ چي هغه شى پريږدي كوم چي بې گټي وي . مالك، احمد او ابن ماجه د ابوهريره او ترمذي او بيهقي د دواړو څخه روايت كړى دئ .

**په بې علمي سره خبره مه كوئ**

(۴۶۲۹): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ تُوُفِّيَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِهِ فَقَالَ رَجُلًا أَبْشِرْ بِالْجَنَّةِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَلَا تَدْرِي فَلَعَلَّهُ تَكَلَّمَ فِيمَا لَا يَعْنِيهِ أَوْ بَخِلَ بِمَا لَا يَنْقُصُهُ : رواه الترمذي.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي په صحابه كرامو كي يو كس وفات سو نو يو سړي وويل تا ته دي د جنت زيرى وي ، ددې په اوريدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل : ته دا خبره كوې كيداى سي دحقيقت څخه ته خبر نه يې ممكن ده چي ده په بې گټي كارونو كي په خبرو وخت ضائع كړى وي او په داسي شى كي يې بخل كړى وي چي په هغه كي دده كمي نه راځي . ترمذي.

**د ژبي فتنه**

(۴۶۳۰): وَعَنْ سُفْيَانَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ الثَّقَفِيِّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا أَخْوَفُ مَا تَخَافُ عَلَيَّ فَأَخَذَ

د حضرت سفيان بن عبد الله ثقفي ﷺ څخه روايت دئ چي ما وويل: اې دالله رسوله ! كوم شيان چي ته زما لپاره بيرونكي گڼې په هغو كي زيات

بلسان نفسه ثم قال هذا. رواه الترمذي وصححه.

بيرونكى څه شى دئ ؟ د دي په اوريدو سره رسول الله ﷺ خپله ژبه مباركه ونيوله او وه يې فرمايل دا . ترمذي.

## درواغ ويل د ملائكو ليري كيدو سبب دى

(۴۶۳۱): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَذَبَ الْعَبْدُ تَبَاعَدَ عَنْهُ الْمَلَكُ مِيلًا مِنْ نَتْنِ مَا جَاءَ بِهِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چي بنده درواغ وايي نو (ساتونكي) ملائكي د درواغو د بوى په وجه تر يو ميل پوري ليري تښتي . ترمذي.

## تر تولو لوى خيانت

(۴۶۳۲): وَعَنْ سُفْيَانَ بْنِ أَسِيدٍ الْحَضْرَمِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ كَبُرَتْ خِيَانَةً أَنْ تُحَدِّثَ أَخَاكَ حَدِيثًا هُوَ لَكَ بِهِ مُصَدِّقٌ وَأَنْتَ لَهُ بِهِ كَاذِبٌ . رواه ابوداؤد.

د حضرت سفيان بن اسيد حضرمي ؓ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا واوريدل چي تر تولو لوى خيانت دادئ چي ته خپل مسلمان ورور ته يوه خبره وكړې او هغه خبره هغه رښتيا او صحيح وګڼي او په حقيقت كي تا هغه ته درواغ ويلي وي . ابوداؤد.

## دوه ژبى

(۴۶۳۳): وَعَنْ عَمَّارٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ ذَا وَجْهَيْنِ فِي الدُّنْيَا كَانَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لِسَانَانِ مِنْ نَارٍ . رواه الدارمي.

د حضرت عمار ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په دنيا كي چي څوك دوه مخى وي (يعني يو چا ته يو څه وايي او بل چا ته بل څه وايي) نود قيامت په ورځ به د هغه په خوله كي د اور دوي ژبي وي . دارمي.

## كامل مؤمن نه دى

(۴۶۳۴): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالطَّعَّانِ وَلَا اللَّعَّانِ وَلَا الْفَاحِشِ وَلَا الْبَذِيءِ . رواه الترمذي والبيهقي و في اخرى له ولا الفاحش البذي وقال الترمذي هذا حديث غريب.

د حضرت ابن مسعود ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: مؤمن نه خو طعن ويونكى وي او نه لعنت ويونكى وي نه فحش ويونكى وي او نه بې حيا (اوږد ژبى) وي. ترمذي، بيهقي، د بيهقي په يوه روايت كي د ولا الفاحش البذي (پوچ ګويه ، بې حيا) الفاظ دي . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

(۴۶۳۵): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَكُونُ الْمُؤْمِنُ لَعَّانًا، وفي رواية لَا يَنْبَغِي لِلْمُؤْمِنِ أَنْ يَكُونَ لَعَّانًا. رواه الترمذي.

د حضرت ابن عمر ﷜ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: (پوره) مؤمن زیات لعنت ویونکی نه وي، او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي مؤمن ته لعنت ویل مناسب نه دي. ترمذي.

### ښیرا مه کوئ

(۴۶۳۶): وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَلَاعَنُوا بِلَعْنَةِ اللّٰهِ وَلَا بِغَضَبِ اللّٰهِ وَلَا بِجَهَنَّمَ وفي رواية وَلَا بِالنَّارِ. روه الترمذي وابوداؤد.

د حضرت سمرة بن جندب ﷜ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په خپل منځ کي داسي خبري مه کوئ چي پر تا دي د الله لعنت وي، او مه د غضب الهي د نازلیدو ښیرا کوئ او مه د دوزخ د داخلیدو ښیرا کوئ، په یوه روایت کي دي او نه په اور سره. ترمذي او ابوداؤد.

### د لعنت راګرځېدل

(۴۶۳۷): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا لَعَنَ شَيْئًا صَعِدَتِ اللَّعْنَةُ إِلَى السَّمَاءِ فَتُغْلَقُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ دُونَهَا ثُمَّ تَهْبِطُ إِلَى الْأَرْضِ فَتُغْلَقُ أَبْوَابُهَا دُونَهَا ثُمَّ تَأْخُذُ يَمِينًا وَشِمَالًا فَإِذَا لَمْ تَجِدْ مَسَاغًا رَجَعَتْ إِلَى الَّذِي لُعِنَ فَإِنْ كَانَ لِذَلِكَ أَهْلًا وَإِلَّا رَجَعَتْ إِلَى قَائِلِهَا. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابودرداء ﷜ څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي چي هر کله یو بنده پر یو شي لعنت وایي نو هغه لعنت آسمان ته خیژي او د آسمان دروازي پر هغه لعنت بندي سي بیا هغه لعنت مځکي ته راکښته سي او د مځکي دروازي هم پر دغه لعنت بندي سي بیا هغه راسته او چپه لوري ته ګرځي او ددې خوا څخه هم لار پیدا نه کړي آخر د هغه سړي یا شی په لور وګرځي چي پر هغه لعنت سوی دئ که هغه د لعنت وړ وي نو پر هغه وردریږي او که هغه د لعنت وړ نه وي نو پر لعنت ویونکي بیرته راسي. ابوداؤد.

(۴۶۳۸): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَجُلًا نَازَعَتْهُ الرِّيحُ رِدَاءَهُ فَلَعَنَهَا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَلْعَنْهَا فَإِنَّهَا مَأْمُورَةٌ وَإِنَّهُ مَنْ لَعَنَ شَيْئًا لَيْسَ لَهُ بِأَهْلٍ رَجَعَتِ اللَّعْنَةُ عَلَيْهِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابن عباس ﷜ څخه روایت دئ چي باد د یو سړي څادر په هوا کړ، هغه سړي پر هوا لعنت ووایه، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل پر هوا لعنت مه وایه څکه چي هغه مامورة ده (یعني د

الله ﷺ په حکم سره چليږي) او واقعه داده چي څوك پر يو شي لعنت ووايي كه هغه شی د لعنت ور نه وي نو هغه پر لعنت ويونكي بيرته راځي ، ترمذي او ابوداؤد.

**د چا په اړه بد مه وایاست**

(۴۶۳۹): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُبَلِّغُنِي أَحَدٌ مِنْ أَصْحَابِي عَنْ أَحَدٍ شَيْئًا فَإِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَخْرُجَ إِلَيْكُمْ وَأَنَا سَلِيمُ الصَّدْرِ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما په صحابه كرامو كي دي هيڅوك ما ته د يو سړي په اړه بده خبري نه اوروي ، ځكه چي زه دا خبره ښيم چي زه تاسو ته را ځم نو زما سينه دي صافه وي (يعني د چا په اړه د بدي خبري اوريدو په وجه دي زما په زړه كي كينه نه وي) او نه زه د چا څخه ناراضه يم . ابوداؤد.

(۴۶۴۰): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قُلْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَسْبُكَ مِنْ صَفِيَّةَ كَذَا وَكَذَا تَعْنِي قَصِيرَةً فَقَالَ لَقَدْ قُلْتِ كَلِمَةً لَوْ مُزِجَ بِهَا الْبَحْرِ لَمَزَجَتْهُ. رواه احمد والترمذي وابوداؤد.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي ما د بي بي صفيي (رض) په اړه رسول الله ﷺ ته وويل: (يعني د هغې د يو عيب په اړه) چي ستاسو لپاره دا كافي ده ، چي هغه داسي او داسي ده ، مطلب يې دا وو چي كوتاه قامت يې دی ، رسول الله ﷺ ددې په جواب كي وفرمايل : تا يوه داسي كلمه ويلې ده كه په درياب كي واچول سي نو پر درياب به هم غالبه سي . احمد، ترمذي او ابوداؤد.

**د بد ويلو او حياء اثر**

(۴۶۴۱): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا كَانَ الْفُحْشُ فِي شَيْءٍ إِلَّا شَانَهُ وَمَا كَانَ الْحَيَاءُ فِي شَيْءٍ إِلَّا زَانَهُ . رواه الترمذي.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په كوم شي يا كار كي چي فحش يا سخته وينا وي هغه فحش هغه شی عيب داره كوي او په كوم شي يا كار كي چي حيا وي هغه حيا د هغه شی ښكلا جوړيږي ، ترمذي.

**مسلمان ته پیغور مه ورکوئ**

(۴۶۴۲): وَعَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ عَيَّرَ أَخَاهُ بِذَنْبٍ لَمْ يَمُتْ حَتَّى يَعْمَلَهُ يَعْنِي مِنْ

حضرت خالد بن معدان ﷺ د معاذ ﷺ څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي يو مسلمان ورور ته شرم اړوي (يعني په هغه ګناه كي چي مخكي يې كړې وي) يا هغه

| | |
|---|---|
| ذَنْبٍ قَدْ تَابَ مِنْهُ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب وليس اسناده بمتصل لان خالدا لم يدرك معاذبن جبل . | ملامتوي نو هغه کس به د مرګ څخه مخکې په هغه ګناه کې اخته سي ، د راوي بیان دئ چې د هغه ګناه چې چا ته عار(پیغور) پر ورکول سي |

هغه ګناه مراد ده چې د هغه څخه يې توبه کړې وي، ترمذي او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دئ او ددې سند متصل نه دئ ځکه چې ددې راوي خالد حضرت معاذ بن جبل نه دی ليدلی.

**د چا پر ستونزه مه خوشحاله کیږئ**

| | |
|---|---|
| (۴۶۴۳): وَعَنْ وَاثِلَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُظْهِرْ الشَّمَاتَةَ لِأَخِيكَ فَيَرْحَمُهُ اللّٰهُ وَيَبْتَلِيكَ. رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن غريب. | د حضرت واثله ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : پر خپل هغه مسلمان ورور باندي چې په مصيبت کې اخته وي مه خوشحاله کیږئ الله تعالی به پر هغه رحم وکړي او ته به په |

هغه مصيبت کې اخته کړل سې . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

**د يو چا پېښې کول حرام دي**

| | |
|---|---|
| (۴۶۴۴): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أُحِبُّ أَنِّي حَكَيْتُ أَحَدًا وَأَنَّ لِي كَذَا وَكَذَا . رواه الترمذي و صححه. | د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : زه د چا نقل کول نه خوښوم که څه هم چې دنياوي مال ما ته هر څومره |

راکړل سي د يو چا نقل کول په غيبت کې شامل دي. نقل کول دي ته وايي چې د بل چا په رکم تګ وکړي يا اواز (يعني فلانی داسي ګوډ ګوډ ځي يا داسي خبري کوي). ترمذي.

**د خدای ﷺ رحمت محدود نه دی**

| | |
|---|---|
| (۴۶۴۵): وَعَنْ جُنْدُبٍ قَالَ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ أَنَاخَ رَاحِلَتَهُ ثُمَّ عَقَلَهَا ثُمَّ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَصَلَّى خَلْفَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا سَلَّمَ أَتَى رَاحِلَتَهُ فَأَطْلَقَهَا ثُمَّ رَكِبَ ثُمَّ نَادَى اللّٰهُمَّ ارْحَمْنِي وَمُحَمَّدًا وَلَا تُشْرِكْ فِي رَحْمَتِنَا أَحَدًا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَقُوْلُونَ هُوَ أَضَلُّ أَمْ بَعِيرُهُ أَلَمْ تَسْمَعُوا إِلَى مَا قَالَ قَالُوا بَلَى. رواه ابوداؤد و ذكر حديث ابي هريرة كفى بالمرء كذبا في باب | د حضرت جندب ﷺ څخه روايت دئ چې يو صحرائي سړی راغلی هغه خپل اوښ کښېنوئ د هغه پښه يې وتړل او په مسجد کې داخل سو ، بيا يې د نبي کريم ﷺ سره لمونځ وکړ او د سلام ګرځولو څخه وروسته ولاړ سو د خپل اوښ پښه يې خلاصه کړه او پر هغه سپور سو او د دې ويلو سره روان سو چې اې الله! پر ما او محمد ﷺ باندي رحم وکړې او زموږ په رحمت کې زموږ |

الاعتصام في الفصل الاول.

سره بل څوك شريك مه کړي ، «ددي په اوريدو سره» رسول الله ﷺ وفرمايل : ستاسو په خيال کي دا صحرائي زيات ګمراه دئ که دده اوښ ، تاسو نه واوريدل چي ده څه وويل ؟ صحابه کرامو وويل: اي داالله رسوله موږ واوريدل ، ابوداؤد ، په لومړي فصل کي د ابوهريره حديث په «باب الاعتصام» کي بيان سوی دئ .

## دريم فصل

### د فاسق تعريف مه کوئ

(۴۶۲۶): عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا مُدِحَ الْفَاسِقُ غَضِبَ الرَّبُّ تَعَالَى وَاهْتَزَّ لَهُ الْعَرْشُ .رواه البيهقي في شعب الايمان

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي د فاسق تعريف کيږي نو الله تعالی د تعريف کونکي څخه ناراضه کيږي په غضب کيږي او د هغه د تعريف څخه عرش الهي لرزيږي . بيهقي.

### د مؤمن زړېدنه

(۴۶۴۷): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُطْبَعُ الْمُؤْمِنُ عَلَى الْخِلَالِ كُلِّهَا إِلَّا الْخِيَانَةَ وَالْكَذِبَ. رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان عن سعد بن ابي وقاص .

د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : مؤمن د دروغو او خيانت څخه پرته پر ټولو خصلتونو پيدا سوی دئ . احمد او بيهقي په شعب الايمان کي سعد بن ابي وقاص څخه روايت کړی دئ .

(۴۶۴۸): وَعَنْ صَفْوَانَ بْنِ سُلَيْمٍ أَنَّهُ قَالَ قِيلَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيَكُونُ الْمُؤْمِنُ جَبَانًا قَالَ نَعَمْ فَقِيلَ له أَيَكُونُ الْمُؤْمِنُ بَخِيلًا قَالَ نَعَمْ فَقِيلَ لَهُ أَيَكُونُ الْمُؤْمِنُ كَذَّابًا قَالَ لَا. رواه مالك والبيهقي في شعب الايمان مرسلا.

د حضرت صفوان بن سليم ﷺ څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي ايا مؤمن بزدل کيدلای سي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل هو ، بيا پوښتنه وسول ايا مؤمن بخيل کيدلای سي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل هو ، بيا پوښتنه وسول ايا مؤمن دروغجن کيدلای سي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل يا . مالك او بيهقي په شعب الايمان کي مرسلا روايت کړی دئ .

### د شيطان فتنه

(۴۶۴۹): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ إِنَّ الشَّيْطَانَ

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي

| | |
|---|---|
| لِيَتَمَثَّلُ فِي صُورَةِ الرَّجُلِ فَيَأْتِي الْقَوْمَ فَيُحَدِّثُهُمْ بِالْحَدِيثِ مِنَ الْكَذِبِ فَيَتَفَرَّقُونَ فَيَقُولُ الرَّجُلُ مِنْهُمْ سَمِعْتُ رَجُلًا أَعْرِفُ وَجْهَهُ وَلَا أَدْرِي مَا اسْمُهُ يُحَدِّثُ. رواه مسلم. | شيطان د يو سړي شكل غوره كړي يو قوم ته راسي او د درواغو خبري ورته كوي بيا دا قوم خپور سي او په دوئ كي يو سړى دا وايي ما د يو سړي څخه چي زه د هغه صورت پيژنم نوم يې نه پيژنم دا خبره اوريدلې ده . مسلم. |

**د خراب ملګري څخه ليري سه**

| | |
|---|---|
| (۴۶۵۰): وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حِطَّانَ قَالَ أَتَيْتُ أَبَا ذَرٍّ فَوَجَدْتُهُ فِي الْمَسْجِدِ مُحْتَبِيًا بِكِسَاءٍ أَسْوَدَ وَحْدَهُ فَقُلْتُ يَا أَبَا ذَرٍّ مَاهٰذِهِ الْوَحْدَةُ فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ الْوَحْدَةُ خَيْرٌ مِّنْ جَلِيْسِ السُّوْءِ وَالْجَلِيْسُ الصَّالِحُ خَيْرٌ مِّنَ الْوَحْدَةِ وَإِمْلَاءُ الْخَيْرِ خَيْرٌ مِّنَ السُّكُوْتِ وَالسُّكُوْتُ خَيْرٌ مِّنْ إِمْلَاءِ الشَّرِّ. رواه البيهقي. | د حضرت عمران بن حطان ﷺ څخه روايت دئ چي زه ابوذر ﷺ ته ورغلم هغه په مسجد كي تور څادر اغوستى يوازي ناست وو ، ما ورته وويل اې ابوذر دا يوازيوالى څنګه ؟ ابوذر وويل : ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي يوازيوالى د خراب ملګري څخه غوره دئ او نيك ملګرى د يوازيوالى څخه غوره دئ او د نيكۍ ښودل تر پټي خولي غوره دئ او پټه خوله تر خراب تعليم غوره ده . بيهقي |

**پټه خوله ښه عبادت**

| | |
|---|---|
| (۴۶۵۱): وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَقَامُ الرَّجُلِ بِالصَّمْتِ أَفْضَلُ مِنْ عِبَادَةِ سِتِّيْنَ سَنَةً. رواه البيهقي. | د حضرت عمران بن حصين ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د سړو پټه خوله اوسيدل د شپېتو كالو عبادت څخه غوره دي . بيهقي. |

**د نبي ﷺ نصيحتونه حضرت ابوذر ﷺ ته**

| | |
|---|---|
| (۴۶۵۲): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ الْحَدِيْثَ بِطُوْلِهِ إِلَى أَنْ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَوْصِنِي قَالَ أُوْصِيْكَ بِتَقْوَى اللهِ فَإِنَّهُ أَزْيَنُ لِأَمْرِكَ كُلِّهِ قُلْتُ زِدْنِي قَالَ عَلَيْكَ بِتِلَاوَةِ الْقُرْآنِ وَذِكْرِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ فَإِنَّهُ ذِكْرٌ لَّكَ فِي السَّمَاءِ وَنُوْرٌ لَّكَ فِي الْأَرْضِ قُلْتُ زِدْنِي قَالَ عَلَيْكَ بِطُوْلِ | د حضرت ابوذر ﷺ څخه روايت دئ چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سوم ، ددې وروسته ابوذر ﷺ يو اوږد حديث بيان كړ چي (دلته ذكر نه دئ ، (بيا يې وويل) ما وويل: اې دالله رسوله ! ما ته نصيحت وكړه ، رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل زه درته د الله ﷺ څخه د بيري نصيحت كوم ځكه چي د الله تعالى څخه بيره |

الصَّمْتِ فَإِنَّهُ مَطْرَدَةٌ لِلشَّيْطَانِ وَعَوْنٌ لَكَ عَلٰى أَمْرِ دِيْنِكَ قُلْتُ زِدْنِيْ قَالَ إِيَّاكَ وَالضَّحْكَ فَإِنَّهُ يُمِيْتُ الْقَلْبَ وَيَذْهَبُ بِنُوْرِ الْوَجْهِ قُلْتُ زِدْنِيْ قَالَ قُلِ الْحَقَّ وَإِنْ كَانَ مُرًّا قُلْتُ زِدْنِيْ قَالَ لَا تَخَفْ فِي اللّٰهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ قُلْتُ زِدْنِيْ قَالَ لِيَحْجُزْكَ عَنِ النَّاسِ مَا تَعْلَمُ مِنْ نَفْسِكَ. رواه البيهقي.

به ستا په تولو کارونو کي د ښکلا او سمون باعث وي ، ما وويل: څه نور نصيحت راته وکړه ! رسول الله ﷺ راته وفرمايل : د قرآن کريم تلاوت او ذکر الهي پر ځان لازم کړه څکه چي د الله ﷺ ذکر په آسمان کي (د ملائکو په منځ کي) ستا د ذکر سبب دئ. او په مځکه کي د نور سبب ګرځي ، ما وويل: څه نور نصيحت راته وکړه ! رسول الله ﷺ راته وفرمايل : پټه خوله او اوږده خاموشي اختيار کړه څکه چي خاموشي شيطان تښتوي او په ديني کارونو کي به ستا مرستياله وي، ما وويل: يو څه نور نصيحت راته وکړه، رسول الله ﷺ راته وفرمايل د زياتي خندا څخه ځان وساته څکه چي زياته خندا زړه مړ کوي او د مخ تازګي ليري کوي ، ما وويل: څه نور نصيحت راته وکړئ ، رسول الله ﷺ راته وفرمايل : رښتيا خبره کوه که څه هم چي ترخه وي، ما وويل: څه نور نصيحت راته وکړئ ، رسول الله ﷺ راته وفرمايل: د ديني کارونو په خرګندولو کي د چا د ملامتيا څخه مه بيريږه، ما وويل: چي څه نور نصيحت راته وکړه ، رسول الله ﷺ وفرمايل هر کله چي د يو چاد عيب لټولو خيال ستا په زړه کي پيداسي نو د هغه د اظهار څخه دي دا خيال تا منع کړي چي په ما کي هم عيبونه سته . بيهقي.

**پټه خوله او ښه اخلاق**

(۴۶۵۳): وَعَنْ أَنَسٍ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا أَبَاذَرٍ أَلَا أَدُلُّكَ عَلٰى خَصْلَتَيْنِ هُمَا أَخَفُّ عَلَى الظَّهْرِ وَأَثْقَلُ فِي الْمِيْزَانِ ؟ قَالَ قُلْتُ بَلٰى قَالَ طُوْلُ الصَّمْتِ وَحُسْنُ الْخُلُقِ وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ مَا عَمِلَ الْخَلَائِقُ بِمِثْلِهِمَا. رواه البيهقي.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ابوذر ﷺ ته وفرمايل : اې ابوذر! زه تا ته داسي دوې خبري ونښيم چي ډيري اساني او لنډي دي مګر د اعمالو په ترازو کي ډيري درني دي ، ابوذر ﷺ وويل: هو ضروري يې راوښيه، رسول الله ﷺ وفرمايل (۱). اوږده خاموشي (۲): ښه اخلاق، په هغه ذات دي مي قسم وي چي د چا په واک کي زما ساه ده د مخلوق لپاره تر دغه دوو خصلتونو بل غوره کار نسته . بيهقي.

**د ابوبکر صديق ﷺ توبه**

(۴۶۵۴): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَبِيْ بَكْرٍ وَهُوَ يَلْعَنُ بَعْضَ رَقِيْقِهٖ

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي ابوبکر ﷺ پر خپل يو غلام لعنت وايه ، په دغه

| | |
|---|---|
| فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ فَقَالَ لَعَّانِيْنَ وَصِدِّيْقِيْنَ ؟ كَلَّا وَرَبِّ الْكَعْبَةِ فَأَعْتَقَ أَبُو بَكْرٍ يَوْمَئِذٍ بَعْضَ رَقِيْقِهِ ثُمَّ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَا أَعُوْدُ. رواى البيهقي الأحاديث الخمسة في شعب الإيمان. | وخت كي رسول الله ﷺ تشريف راور حضرت ابوبكر ﷺ ته يې وكتل او وه يې فرمايل : تا لعنت ويونكي او صديقان چيري يو خاى ليدلى دي (يعني تا داسي مسلمان ليدلى دئ چي ډير |

ربښتيا ويونکی هم وي او لعنت ويونکی هم وي) د کعبې په پرودرگار دي مي قسم وي دا دواړي خبري نه سي يو ځاى كيدلاى ، ددې په اوريدو سره په هم هغه ورځ حضرت ابوبكر ﷺ خپل ځيني غلامان آزاد كړل او بيا دنبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سو او وه يې ويل: اې دالله رسوله ! بيا به هيڅکله داسي نه کوم . بيهقي.

ژبې ته سزا

| | |
|---|---|
| (۴۶۵۵): وَعَنْ أَسْلَمَ قَالَ اَنَّ عُمَرَ دَخَلَ يَوْمًا عَلَى أَبِي بَكْرِ الصِّدِّيقِ وَهُوَ يَجْبُذُ لِسَانَهُ فَقَالَ عُمَرُ مَهْ غَفَرَ اللهُ لَكَ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ إِنَّ هٰذَا أَوْرَدَنِي الْمَوَارِدَ. رواه مالك. | د حضرت اسلم ﷺ څخه روايت دئ چي يوه ورځ حضرت عمر ﷺ حضرت ابوبكر صديق ﷺ ته راغلى ، حضرت ابوبكر ﷺ خپله ژبه په ګوتو سره نيولې وه را ايستل يې ، (يعني په ژبه يې د |

غضب خرګندونه كول) حضرت عمر ﷺ ورته وويل صبر وكړه الله ﷻ دي ستا مغفرت نصيب كړي (يعني داسي مه كوه) حضرت ابوبكر ﷺ ورته وويل دغه ژبې زه د هلاكت په خايونو كي غورځولى يم . مالك.

شپږ خبري د جنت ضمانت

| | |
|---|---|
| (۴۶۵۶): وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اضْمَنُوا لِي سِتًّا مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَضْمَنْ لَكُمُ الْجَنَّةَ اصْدُقُوا إِذَا حَدَّثْتُمْ وَأَوْفُوا إِذَا وَعَدْتُمْ وَأَدُّوا إِذَا اؤْتُمِنْتُمْ وَاحْفَظُوا فُرُوجَكُمْ وَغُضُّوا أَبْصَارَكُمْ وَكُفُّوا أَيْدِيَكُمْ. رواه احمد والبيهقي. | د حضرت عبادة بن صامت ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو ما ته د شپږو خبرو ضمانت راكړئ نو زه به ستاسو لپاره د جنت ضامن سم : (۱) چي خبري كوئ نو ربښتيا وايا ست (۲) چي وعده وكړئ نو پوره كوئ يې ، (۳) كله چي امانت درسره كښېښودل سي |

نو ادا كوئ يې ، (۴) د خپل شرمگاه ساتنه كوئ (۵) خپل نظر كښته ساتئ (۶) خپل لاسونه په واك كي ساتئ (يعني پرچا ظلم مه كوئ . احمد او بيهقي.

د الله ﷺ غوره خوک دي؟

(۴۶۵۷): وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ غَنْمٍ وَ اَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيْدَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خِيَارُ عِبَادِ اللّٰهِ الَّذِيْنَ إِذَا رُءُوا ذُكِرَ اللّٰهُ وَشِرَارُ عِبَادِ اللّٰهِ الْمَشَّاءُوْنَ بِالنَّمِيْمَةِ الْمُفَرِّقُوْنَ بَيْنَ الْاَحِبَّةِ الْبَاغُوْنَ الْبُرَآءَ الْعَنَتَ. رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان.

د حضرت عبد الرحمان بن غنم او بي بي اسماء بنت يزيد (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله تعالى غوره بندگان هغه دي چي د هغوئ په ليدو سره سري ته الله ﷺ ور ياد سي او د الله تعالى بد ترين بندگان هغه دي چي په خلکو کي چغل خوري کوي د ملگرو په منځ کي بيلوالى راولي او د پا کو خلکو څخه د فساد ،گناه ، هلاکت او زنا اميد ساتي . احمد او بيهقي په شعب الايمان کي .

غيبت کول روژه ماتوي

(۴۶۵۸): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ رَجُلَيْنِ صَلَّيَا صَلَاةَ الظُّهْرِ أَوِ الْعَصْرِ وَكَانَا صَائِمَيْنِ فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلَاةَ قَالَ أَعِيْدَا وُضُوْءَكُمَا وَصَلَاتَكُمَا وَامْضِيَا فِيْ صَوْمِكُمَا وَاقْضِيَا يَوْمًا آخَرَ قَالَا لِمَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ؟ قَالَ اغْتَبْتُمْ فُلَانًا. رواه البيهقي.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي دوو روژه نيونکو د ماپښين يا مازديگر لمونځ وکړ ، کله چي رسول الله ﷺ لمونځ وکړ نو هغوئ ته يې وفرمايل: ولاړ سئ دويم وار اودس وکړئ او لمونځ وکړئ او خپله روژه پوره کړئ او په دويمه ورځ قضا روژه ونيسئ ، هغوئ وويل: اې د الله رسوله ! ولي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: تاسو د فلاني سړي غيبت وکړ . بيهقي.

غيبت تر زنا سخت دئ

(۴۶۵۹): وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ وَجَابِرٍ قَالَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْغِيْبَةُ أَشَدُّ مِنَ الزِّنَا قَالُوْا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ وَكَيْفَ الْغِيْبَةُ أَشَدُّ مِنَ الزِّنَا ؟ قَالَ إِنَّ الرَّجُلَ لَيَزْنِيْ فيتوب فَيَتُوْبُ اللّٰهُ عَلَيْهِ ، وَفِيْ رِوَايَةٍ فَيَتُوْبُ فَيَغْفِرُ اللّٰهُ لَهُ وَإِنَّ صَاحِبَ الْغِيْبَةِ لَا يُغْفَرُ لَهُ حَتّٰى يَغْفِرَهَا لَهُ صَاحِبُهُ. وَفِيْ رِوَايَةِ أَنَسٍ قَالَ صَاحِبُ الزِّنَا يَتُوْبُ وَصَاحِبُ الْغِيْبَةِ لَيْسَ لَهُ تَوْبَةٌ. روى البيهقي الأحاديث الثلاثة في شعب الإيمان.

د حضرت ابو سعيد او جابر (رضي الله عنهما) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: غيبت تر زنا بد تر دئ ، صحابه کرامو وويل: اې د الله رسوله غيبت تر زنا څنگه زيات خراب کيدلای سي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: سړی چي زنا وکړي بيا توبه وکاږي الله تعالى د هغه توبه قبلوي ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي بيا زنا کار توبه وباسي او الله تعالى هغه وبخښي مگر الله تعالى غيبت کونکى نه بخښي

تر څو پورې چې هغه سړى يې معاف نه كړي د چا چې يې غيبت كړى وي ، او دانس ﷺ په روايت كي دا الفاظ دي چې زناكاره توبه كاږي او د غيبت كونكى لپاره توبه نشته . بيهقي دا دواړه حديثونه په شعب الايمان كي روايت كړي دي .

د غيبت كفاره

(۴۶۶۰): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ كَفَّارَةِ الْغِيْبَةِ أَنْ تَسْتَغْفِرَ لِمَنِ اغْتَبْتَهُ تَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَنَا وَلَهُ. رواه البيهقي في الدعوات الكبير وقال في هذا الإسناد ضعف.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د غيبت كفاره داده چې د كوم سړي تا غيبت كړى وي د هغه څخه بخښنه وغواړې او داسي ووايې چې اې الله ! موږ وبخښې او هغه و بخښې . بيهقي ويلي دي چې ددې حديث په سند كي كمزوري ده.

# بَابُ الْوَعْد (دوعدې بيان)

## لومړى فصل

د رسول ﷺ وعده يې پوره كړه

(۴۶۶۱): عَنْ جَابِرٍ قَالَ لَمَّا مَاتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ أَبَا بَكْرٍ مَالٌ مِنْ قِبَلِ الْعَلَاءِ بْنِ الْحَضْرَمِيِّ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ مَنْ كَانَ لَهُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَيْنٌ أَوْ كَانَتْ لَهُ قِبَلَهُ عِدَةٌ فَلْيَأْتِنَا قَالَ جَابِرٌ فَقُلْتُ وَعَدَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُعْطِيَنِي هٰكَذَا وَهٰكَذَا وَهٰكَذَا فَبَسَطَ يَدَيْهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ قَالَ جَابِرٌ فَحَثَالِي حَثْيَةً فَعَدَدْتُهَا فَإِذَا هِيَ خَمْسُ مِائَةٍ قَالَ خُذْ مِثْلَيْهَا. متفق عليه.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چې د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته كله چې حضرت ابوبكر صديق ﷺ ته د علاء بن حضرمي د طرفه مال راغلى نو حضرت ابوبكر صديق ﷺ خلكو ته وويل د چا چې پر رسول الله ﷺ څه پور وي يا د چا سره رسول الله ﷺ څه وعده كړې وي هغه دې موږ ته راسي (چې موږ هغه پور يا وعده ور كړو) د جابر ﷺ بيان دئ چې زه حاضر سوم او وه مي ويل چې رسول الله ﷺ زما سره وعده كړې وه چې ما ته دومره دومره او دومره راكړې يعني درې واره دواړه لاسونه (دمال څخه) جابر ﷺ وايي : حضرت ابوبكر صديق ﷺ ما ته يوه ډكه لپه نقد زر راكړل كله چې ما شمير كړل نو هغه پنځه سوه وې بيا يې وفرمايل پنځه سوه پنځه سوه دوه واره نور وشميره . بخاري او مسلم .

## دویم فصل

(۴۶۶۲): عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبْيَضَ قَدْ شَابَ وَكَانَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ يُشْبِهُهُ وَأَمَرَ لَنَا بِثَلَاثَةَ عَشَرَ قَلُوصًا فَذَهَبْنَا نَقْبِضُهَا فَأَتَانَا مَوْتُهُ فَلَمْ يُعْطُونَا شَيْئًا فَلَمَّا قَامَ أَبُو بَكْرٍ قَالَ مَنْ كَانَتْ لَهُ عِنْدَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِدَةٌ فَلْيَجِئْ فَقُمْتُ إِلَيْهِ فَأَخْبَرْتُهُ فَأَمَرَ لَنَا بِهَا . رواه الترمذي.

د حضرت ابو جحیفه ﷺ څخه روایت دئ چي ما رسول الله ﷺ ولیدئ چي سپین رنګ (سپین ږیرتوب) پر ځرګند سوی وو او حسن بن علي ﷺ د رسول الله ﷺ زیات مشابه وو، رسول الله ﷺ موږ ته د دیارلسو خوانو اوښانو راکولو حکم کړی وو، موږ د اوښانو راوستلو لپاره ورتلو چي په دغه وخت کي د رسول الله ﷺ د وفات خبر راغلئ او موږ ته هیڅ هم را نه کړل سول، بیا کله چي حضرت ابوبکر ﷺ خلیفه سو نو هغه اعلان وکړ د چا سره چي رسول الله ﷺ د څه ورکولو وعده کړی وي هغه دي موږ ته راسي نو زه حاضر سوم او د پیښي څخه مي خبر کړ نو هغه د اوښانو راکولو حکم وکړ. ترمذي.

(۴۶۶۳): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي الْحَمْسَاءِ قَالَ بَايَعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ أَنْ يُبْعَثَ وَبَقِيَتْ لَهُ بَقِيَّةٌ فَوَعَدْتُهُ أَنْ آتِيَهُ بِهَا فِي مَكَانِهِ فَنَسِيتُ فَذَكَرْتُ بَعْدَ ثَلَاثٍ فَإِذَا هُوَ فِي مَكَانِهِ فَقَالَ لَقَدْ شَقَقْتَ عَلَيَّ أَنَا هَاهُنَا مُنْذُ ثَلَاثٍ أَنْتَظِرُكَ . رواه ابوداؤد.

د حضرت عبد الله بن ابي الحمساء ﷺ څخه روایت دئ چي د نبي کریم ﷺ د نبي کېدو څخه مخکي ما یو شی خیني رانیولی وو چي د هغه یو څه پیسې پر ما پاته سوې ما د رسول الله ﷺ سره وعده کړې وه چي زه به پاته قیمت تاسو ته پر دې ځای درکوم، زما څخه هغه وعده هیره سوه په دریمه ورځ ما ته خبره را یاده سوه نو پاته قیمت مي هغه ځای ته ورسوئ د کوم ځای چي مي ورسره وعده کړې وه، ما ولیدل چي رسول الله ﷺ پر هغه ځای ناست دئ زما په لیدو سره رسول الله ﷺ ما ته وفرمایل تا زه په لوی زحمت کي اخته کړم زه د درو ورځو څخه دلته انتظار کوم. ابوداؤد.

(۴۶۶۴): وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا وَعَدَ الرَّجُلُ أَخَاهُ وَمِنْ نِيَّتِهِ أَنْ يَفِيَ لَهُ فَلَمْ يَفِ وَلَمْ يَجِئْ لِلْمِيعَادِ فَلَا إِثْمَ

د حضرت زید بن ارقم ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي یو سړی د خپل ورور سره وعده وکړي او د هغه دا نیت وي چي هغه پوره کړي مګر په یو وجه هغه پوره نه سي نو

عَلَيْهِ. رواه ابوداؤد والترمذي.

پر هغه څه ګناه نه سته . ابوداؤد او ترمذي.

**د کوچني سره هم وعده پوره کړئ**

(۴۶۶۵): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَامِرٍ قَالَ دَعَتْنِي أُمِّي يَوْمًا وَرَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدٌ فِي بَيْتِنَا فَقَالَتْ هَا تَعَالَ أُعْطِيكَ فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا أَرَدْتِ أَنْ تُعْطِيهِ قَالَتْ اردت ان أُعْطِيهِ تَمْرًا فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا إِنَّكِ لَوْ لَمْ تُعْطِهِ شَيْئًا كُتِبَتْ عَلَيْكِ كِذْبَةٌ . رواه ابوداؤد والبيهقي في شعب الايمان.

د حضرت عبد الله بن عامر ﷜ څخه روايت دئ چي يوه ورځ زما مور زه راوغوښتلم او په دغه وخت کي رسول الله ﷺ زموږ په کور کي ناست وو او وه يې ويل (زما مور) دلته راسه زه يو شی درکوم ، رسول الله ﷺ زما د مور څخه پوښتنه وکړه تا ده ته د څه ورکولو اراده کړې ده ، هغې وويل ما ديوې خرما ورکولو خيال کړی وو ، رسول الله ﷺ هغې ته وفرمايل که تا ده ته څه نه وای ورکړي نو ستا په عمل نامه کي به پر تا باندي دروغ ليکل سوی وای (يعني په دروغجنو کي به داخله سوې وای). ابوداؤد او بيهقي.

## دريم فصل

**دلمانځه په وجه بې قولي**

(۴۶۶۶): عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ وَعَدَ رَجُلاً فَلَمْ يَأْتِ أَحَدُهُمَا إِلَى وَقْتِ الصَّلَاةِ وَذَهَبَ الَّذِيْ جَاءَ لِيُصَلِّيْ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ . رواه رزين.

د حضرت زيد بن ارقم ﷜ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم سړی چي د يو چا سره يو وعده وکړي او په دواړو کي يو د لمانځه تر وخته رانغلی او دغه بل سړی د لمانځه لپاره ځيني ولاړی نو پر دغه (نفر چي لمانځه ته ولاړی) ګناه نه سته . رزين.

# بَابُ الْمِزَاحِ (د خوش طبعي (مسخرو) بيان)

## لومړی فصل

### د نبي ﷺ خوش طبعي

| | |
|---|---|
| (۴۶۶۷): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ إِنْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيُخَالِطُنَا حَتّٰى يَقُولَ لِأَخٍ لِي صَغِيرٍ يَا أَبَا عُمَيْرٍ مَا فَعَلَ النُّغَيْرُ يَلْعَبُ بِهِ فَمَاتَ. متفق عليه. | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به زموږ سره خوش طبعي هم کول تر دې چي زما کشر ورور ته به يې دا ويل: عمير ستا نغير |

څه سو (نغير د يو مرغه نوم دئ لکه بلبله) د انس ورور عمير به په هغه بازي کولې او هغه مړه سوې وه. بخاري او مسلم.

## دويم فصل

| | |
|---|---|
| (۴۶۶۸): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّكَ تُدَاعِبُنَا قَالَ إِنِّي لَا أَقُولُ إِلَّا حَقًّا. رواه الترمذي. | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي صحابه کرامو وويل: اې دالله رسوله! تاسو |

زموږ سره خوش طبعي کوئ، رسول الله ﷺ وفرمايل هو مگر (په دې خوش طبعي کې) زه رښتيا خبره کوم. ترمذي.

| | |
|---|---|
| (۴۶۶۹): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلًا اسْتَحْمَلَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي حَامِلُكَ عَلَى وَلَدِ النَّاقَةِ فَقَالَ مَا أَصْنَعُ بِوَلَدِ النَّاقَةِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهَلْ تَلِدُ الْإِبِلَ إِلَّا النُّوقُ. رواه الترمذي وابوداؤد. | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړي د رسول الله ﷺ څخه سپرلۍ وغوښتل، رسول الله ﷺ وفرمايل زه به د سپرلۍ لپاره د اوښې بچی درکړم، هغه سړي وويل زه به د اوښې په بچی څه وکړم؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل اوښ خو د |

اوښې څخه زيږي. (يعني اوښ خو هم د اوښې بچي وي که يا). ابوداؤد او ترمذي.

### خوش طبعي

| | |
|---|---|
| (۴۶۷۰): وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ يَا ذَا الْأُذُنَيْنِ. رواه ابوداؤد والترمذي. | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي يوه ورځ رسول الله ﷺ ده ته وويل: اې د دوو غوږو خاونده. ابوداؤد او ترمذي. |

## سپین سرې جنت ته نه ځي

(۴۶۷۱): وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِامْرَأَةٍ عَجُوْزٍ إِنَّهُ لَا تَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَجُوْزٌ فَقَالَتْ وَمَا لَهُنَّ وَكَانَتْ تَقْرَأُ الْقُرْآنَ فَقَالَ لَهَا أَمَا تَقْرَئِيْنَ الْقُرْآنَ إِنَّا أَنْشَأْنَاهُنَّ إِنْشَاءً فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا. رواه رزين. وفي شرح السنة بلفظ المصابيح

د حضرت انس ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ یوې سپین سرې ته وفرمایل: سپین سرې به جنت ته نه ځي، سپین سرې وویل: اې دالله رسوله څه سبب دئ چي هغوئ به جنت ته نه ځي او دغه سپین سرو به قرآن وایه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ایا تا په قرآن کریم کي دا آیت نه دي لوستی (انا انشانهن.....) موږ به په جنت کي ښځي دویم وار پیدا کړو موږ به هغوئ پیغلي انجوني جوړي کړو. رزین.

## د خوش طبعي یو واقعه

(۴۶۷۲): وَعَنْهُ أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ كَانَ اسْمُهُ زَاهِرَ بْنَ حَرَامٍ وَكَانَ يُهْدِي النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْبَادِيَةِ فَيُجَهِّزُهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَخْرُجَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ زَاهِرًا بَادِيَتُنَا وَنَحْنُ حَاضِرُوْهُ وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّهُ وَكَانَ دَمِيْمًا فَأَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا وَهُوَ يَبِيْعُ مَتَاعَهُ فَاحْتَضَنَهُ مِنْ خَلْفِهِ وَهُوَ لَا يُبْصِرُهُ فَقَالَ أَرْسِلْنِيْ مَنْ هٰذَا فَالْتَفَتَ فَعَرَفَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلَ لَا يَأْلُوْا مَا أَلْزَقَ ظَهْرَهُ بِصَدْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ عَرَفَهُ وَجَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ يَشْتَرِي الْعَبْدَ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِذًا وَاللّٰهِ تَجِدُنِيْ كَاسِدًا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لٰكِنْ عِنْدَ اللّٰهِ لَسْتَ بِكَاسِدٍ. رواه في شرح السنة.

د حضرت انس ؓ څخه روایت دئ چي یو صحرایي سړی چي د هغه نوم زاهر بن حرام وو د رسول الله ﷺ لپاره به یې د صحراء څخه تحفې لپاره بو څه راوړل (مثلا سبزي وغیره) او کله چي به هغه ستنیدئ نو رسول الله ﷺ به د هغه دسفر سامان سموئ . یوه ورځ نبي کریم ﷺ د هغه په اړه وفرمایل: زاهر زموږ د باندي بندوبست کونکی دئ او موږ د هغه د ښار بندوبست کونکي او رسول الله ﷺ د زاهر سره ډیره مینه کول هغه دَ رنګه تور وو ، یوه ورځ رسول الله ﷺ د شا د خوا ورغلئ د شا د لوري یې د هغه سترګي بندي کړې (یعني لاسونه مبارك یې پر کښېښودل) هغه شی نه سو لیدلای او وه یې ویل څوك یې ما پرېږده، بیا زاهر د سترګو په کونجو کي وکتل او رسول الله ﷺ یې و پیژندئ او خپله شا یې د رسول الله ﷺ د سینې مبارکي سره په مښلولو کي پوره کوښښ وکړ (یعني د برکت تر لاسه کولو لپاره) او رسول الله ﷺ دا ویل څوك غلام رانیسي، ددې اوریدو سره زاهر وویل: اې د الله رسوله! په الله ﷺ

دي مي قسم وي تاسو به ما د خرخولو په وخت كي كوته تر لاسه كړئ (يعني خوك به مي نه رانيسي) رسول الله ﷺ ورته وفرمايل مگر د الله ﷺ په نزد ته كوته نه يي (يعني د كار سړى يې). شرح السنة.

**د نبي كريم ﷺ سره د صحابه كرامو خوش طبعي**

(۴۶۷۳): وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكِ الْأَشْجَعِيِّ قَالَ أَتَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ وَهُوَ فِي قُبَّةٍ مِنْ أَدَمٍ فَسَلَّمْتُ فَرَدَّ وَقَالَ ادْخُلْ فَقُلْتُ أَكُلِّي يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ كُلُّكَ فَدَخَلْتُ قَالَ عُثْمَانُ بْنُ أَبِي الْعَاتِكَةِ قَالَ إِنَّمَا قَالَ أَدْخُلُ كُلِّي مِنْ صِغَرِ الْقُبَّةِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت عوف بن مالك اشجعي ؓ څخه روايت دئ چي زه د تبوك په غزا كي د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سوم دغه وخت رسول الله ﷺ د پوست په يوه خيمه كي وو، ما رسول الله ﷺ ته سلام ادا كړ نو د سلام جواب يې راكړ او وه يې فرمايل دننه راځه ما د مسخرو په توگه وويل: اى دالله رسوله! توله راسم (يعني تول بدن را دننه كرم) رسول الله ﷺ وفرمايل: تول بدن را دننه كره، نو زه خيمي ته را دننه سوم، ددې حديث يو راوي عثمان بن ابو العاتله ؓ وايي عوف بن مالك ؓ دا جمله ځكه ويلې وه چي خيمه كوچنۍ وه. ابوداؤد.

(۴۶۷۴): وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ اسْتَأْذَنَ أَبُو بَكْرٍ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَمِعَ صَوْتَ عَائِشَةَ عَالِيًا فَلَمَّا دَخَلَ تَنَاوَلَهَا لِيَلْطِمَهَا وَقَالَ أَلَا أَرَاكِ تَرْفَعِينَ صَوْتَكِ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْجِزُهُ وَخَرَجَ أَبُو بَكْرٍ مُغْضَبًا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ خَرَجَ أَبُو بَكْرٍ كَيْفَ رَأَيْتِنِي أَنْقَذْتُكِ مِنَ الرَّجُلِ قَالَ فَمَكَثَ أَبُو بَكْرٍ أَيَّامًا ثُمَّ اسْتَأْذَنَ فَوَجَدَهُمَا قَدِ اصْطَلَحَا فَقَالَ لَهُمَا أَدْخِلَانِي فِي سِلْمِكُمَا كَمَا أَدْخَلْتُمَانِي فِي حَرْبِكُمَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ فَعَلْنَا قَدْ فَعَلْنَا. رواه ابوداؤد.

د حضرت نعمان بن بشير ؓ څخه روايت دئ چي حضرت ابوبكر ؓ د رسول الله ﷺ څخه كور ته د ورتلو اجازه وغوښتل، سمدستي هغه د بي بي عائشي آواز واوريدئ چي په زوره گډه وه، د ننه په ورتلو سره حضرت ابوبكر ؓ د بي بي عائشي لاس ونيوئ او د چپلاخي وركولو اراده يې وكړه او وه يې فرمايل خبردار! چي بيا دي د رسول الله ﷺ د آواز څخه په لوړ آواز وانه ورم، رسول الله ﷺ ابوبكر صديق ؓ منع كړى د وهلو څخه ددې څخه وروسته ابوبكر ؓ د غضب په حالت كي ولاړى د هغه د تلو څخه وروسته رسول الله ﷺ بي بي عائشي ته وفرمايل تا وليدل ما څرنگه ددغه سړي (ابوبكر صديق ؓ) د لاسه خلاصه كړې، د بي بي عائشي بيان دئ ددې څخه وروسته حضرت ابوبكر ؓ تر څو ورځو پوري زموږ كره نه

راغلې، بيا يوه ورځ هغه حاضر سو اجازه يې وغوښتل په کور کې يې وليدل چې رسول الله ﷺ او عائشه د صلح په حالت کې ناست دي نو ابوبکر صديق ﷺ دواړه مخاطب کړل او ورته وه يې ويل ما په خپل صلح کې ګډ کړئ لکه څرنګه چې مو په جګړه کې ګډ کړی، وم ، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : موږ همداسي وکړل موږ همداسي وکړل (يعني ته هم په صلحه کې راسره داخل يې) . ابوداؤد.

**د مسلمان سره چلن**

(۴۶۷۵): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تُمَارِ أَخَاكَ وَلَا تُمَازِحْهُ وَلَا تَعِدْهُ مَوْعِدَةً فَتُخْلِفَهُ. رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د خپل مسلمان ورور سره مه خو جګړه کوه او مه ورسره مسخري کوه او مه ورسره داسي وعده کوه چې هغه پوره کولای نه سې . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

# بَابُ الْمُفَاخَرَةِ وَالْعَصَبِيَّةِ

## (د فخر او عصبيت بيان)

## لومړی فصل

**غوره کس**

(۴۶۷۶): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَيُّ النَّاسِ اَكْرَمُ قَالَ اَكْرَمُهُمْ عِنْدَ اللّٰهِ أَتْقَاهُمْ قَالُوا لَيْسَ عَنْ هَذَا نَسْأَلُكَ قَالَ فَأَكْرَمُ النَّاسِ يُوسُفُ نَبِيُّ اللّٰهِ ابْنُ نَبِيِّ اللّٰهِ ابْنِ نَبِيِّ اللّٰهِ ابْنِ خَلِيلِ اللّٰهِ قَالُوا لَيْسَ عَنْ هَذَا نَسْأَلُكَ قَالَ فَعَنْ مَعَادِنِ الْعَرَبِ تَسْأَلُونِي قَالُوْا نَعَمْ قَالَ فَخِيَارُكُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ خِيَارُكُمْ فِي الْإِسْلَامِ إِذَا فَقِهُوا. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چې څوك بزرګ او مکرم دئ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل د الله ﷺ په نزد بزرګ او برتر کس هغه دئ چې د الله ﷺ څخه بيريږي ، صحابه کرامو ويل: زموږ د سوال مطلب دا نه دئ بلکه موږ دحسب او نسب په اړه د انسان شرافت پوښتو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : په انسانانو کې بزرګ او شريف حضرت يوسف عليه السلام دئ چې د الله ﷺ د نبي (يعقوب عليه السلام) زوی د الله ﷺ د نبي د اسحاق عليه السلام لمسی او د الله ﷺ د نبي د حضرت ابراهيم عليه السلام کروسی دئ ، صحابه کرامو ويل: زموږ د سوال مقصد دا هم نه وو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ايا تاسو د عربو د

خاندان او قبیلو په اره زماځخه پوښتنه کوئ ؟ صحابه کرامو وویل: هو، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ځوك چې د جاهلیت په زمانه کې غوره وو هغه په اسلام کې هم غوره دئ په شرط ددې چې هغه فقیه یعني عقلمند او پوه وي . بخاري او مسلم.

### د یوسف علیه السلام مقام

(۴۶۷۷): وَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكَرِيمُ ابْنُ الْكَرِيمِ ابْنِ الْكَرِيمِ ابْنِ الْكَرِيمِ يُوسُفُ بْنُ يَعْقُوبَ بْنِ إِسْحَاقَ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِمُ السَّلَامِ. رواه البخاري.

د حضرت ابن عمر ؓ ځخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : کریم ابن کریم ابن کریم یوسف بن یعقوب علیه السلام بن اسحاق علیه السلام بن ابراهیم علیه اسلام دئ ، بخاري.

### د رسول ﷺ میړانه

(۴۶۷۸): وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ فِي يَوْمِ حُنَيْنٍ كَانَ أَبُو سُفْيَانَ بْنُ الْحَارِثِ آخِذًا بِعِنَانِ بَغْلَتِهِ يعني بغلة رسول الله صلى الله عليه وسلم فَلَمَّا غَشِيَهُ الْمُشْرِكُونَ نَزَلَ فَجَعَلَ يَقُولُ أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ قَالَ فَمَا رُئِيَ مِنَ النَّاسِ يَوْمَئِذٍ أَشَدُّ مِنْهُ. متفق عليه.

د حضرت براء بن عازب ؓ ځخه روایت دئ چې د حنین په ورځ ابو سفیان د رسول الله ﷺ د غاترې واګې ونیولې او کله چې مشرکان د ځلورو خواوو ځخه پر رسول الله ﷺ چاپیره سول نو رسول الله ﷺ د غاترې ځخه را کښته سو او دا یې ویل زه نبي یم په دې کې دروغ نه سته او زه د عبد المطلب زوی (یعني اولاد) یم ، د راوي بیان دئ په دغه ورځ د رسول الله ﷺ ځخه زیات زړه ور هیڅوك نه دی لیدل سوی . بخاري او مسلم.

### غوره انسان

(۴۶۷۹): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا خَيْرَ الْبَرِيَّةِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاكَ إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَامِ. رواه مسلم.

د حضرت انس ؓ ځخه روایت دئ چې یو سړي د نبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضر سو او عرض یې وکړ اې په مخلوقاتو کې غوره ! رسول الله ﷺ ورته وفرمایل په مخلوقاتو کې غوره انسان حضرت ابراهیم علیه السلام وو. مسلم.

### د رسول ﷺ عاجزي

(۴۶۸۰): وَعَنْ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُطْرُونِي كَمَا أَطْرَتْ

د حضرت عمر ؓ ځخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : تاسو زما په تعریف کې زیاتي مه کوئ

| | |
|---|---|
| النَّصَارَى ابْنَ مَرْيَمَ فَإِنَّمَا أَنَا عَبْدُهُ فَقُولُوا عَبْدُ اللّٰهِ وَرَسُولُهُ. متفق عليه. | لکه چي د بر تعریف د عیسی ﷺ نصاراوو کوی ، زه خو د الله ﷻ بنده یم تاسو ما تـه د الله ﷻ بنده او د هغه رسول وایاست . بخاري او مسلم. |

**فخر مه کوئ**

| | |
|---|---|
| (۴۶۸۱): وَعَنْ عِيَاضِ بْنِ حِمَارٍ الْمُجَاشِعِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ أَوْحَى إِلَيَّ أَنْ تَوَاضَعُوا حَتَّى لَا يَفْخَرَ أَحَدٌ عَلَى أَحَدٍ وَلَا يَبْغِيْ أَحَدٌ عَلَى أَحَدٍ. رواه مسلم. | د حضرت عیاض بن حمار مجاشعي ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالی زه د وحي پـه ذریعـه خبـردار کـرم چي عـاجزي اختیار کړه دومره چي هیڅوك پر چا فخر ونه |

کړي او نه څوك پر چا ظلم او زیاتي وکړي . مسلم.

## دویم فصل

**د جاهلیت فخر**

| | |
|---|---|
| (۴۶۸۲): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ يَفْتَخِرُونَ بِآبَائِهِمُ الَّذِينَ مَاتُوا إِنَّمَا هُمْ فَحْمُ جَهَنَّمَ أَوْ لَيَكُونُنَّ أَهْوَنَ عَلَى اللّٰهِ مِنَ الْجُعَلِ الَّذِي يُدَهْدِهُ الْخِرَاءَ بِأَنْفِهِ إِنَّ اللّٰهَ قَدْ أَذْهَبَ عَنْكُمْ عُبِّيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ وَفَخْرَهَا بِالْآبَاءِ إِنَّمَا هُوَ مُؤْمِنٌ تَقِيٌّ وَفَاجِرٌ شَقِيٌّ النَّاسُ كُلُّهُمْ بَنُو آدَمَ وَآدَمُ خُلِقَ مِنْ تُرَابٍ. رواه الترمذي وابوداؤد. | د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایـل : خلـك دي پـه خپلـو پلرونـو او نیکونو فخر کول پریږدي او پر هغه پلرونو او نیکونو باندي چي مړه سوه او د دوږخ سکاره سول کنه نو د الله ﷻ پـه نزد بـه د نجاست د هغه څخه زیات ذلیل سي چي نجاست د خپلي پزي سره راباسي ، الله تعالی ستاسو څخه د کبر او پر پلرونو او نیکونو باندي د فخر کولو علت |

بیولی دی اوس یا خو متقي یعني پرهیزگار مؤمن دئ یا فاجر ،بدبخت او بدکاره کیدل د ذلت سبب دئ ټول انسانان د آدم علیه السلام اولاد دي او آدم علیه السلام د خاورو څخه پیدا کړل سوی دئ . ترمذي او ابوداؤد.

**تعریف**

| | |
|---|---|
| (۴۶۸۳): وَعَنْ مُطَرِّفِ بْنِ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ الشِّخِّيرِ قَالَ انْطَلَقْتُ فِي وَفْدِ بَنِي عَامِرٍ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَا أَنْتَ سَيِّدُنَا فَقَالَ السَّيِّدُ | د حضرت مطرف بن عبد الله بن شخیر ﷺ څخه روایت دئ چي د بني عامر پـه وفد کي زه رسول الله ﷺ تـه ورغلم ، زموږ وفد رسول الله ﷺ تـه |

| | |
|---|---|
| اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى قُلْنَا وَأَفْضَلُنَا فَضْلًا وَأَعْظَمُنَا طَوْلًا فَقَالَ قُولُوا قَوْلَكُمْ أَوْ بَعْضَ قَوْلِكُمْ وَلَا يَسْتَجْرِيَنَّكُمُ الشَّيْطَانُ . رواه ابوداؤد | وويـل: تاسو زموږ سردار ياست ، رسول الله ﷺ ورتـه وفرمايـل : سـردار الله تعـالى دئ ، مـوږ وويل: تاسو په موږ تولو غوره ياست ، |

د غوره والي او بخښښ په اعتبار زموږ بزرگ ياست ، رسول الله ﷺ وفرمايل دا خبره کوئ او ددې څخه کمه خو شيطان دې تاسو خپل وکيل جوړ نه کړي . ابو داؤد.

**کرم د تقوا نوم دئ**

| | |
|---|---|
| (۴۶۸۴): وَعَنِ الْحَسَنِ عَنْ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحَسَبُ الْمَالُ وَالْكَرَمُ التَّقْوٰى. رواه الترمذي وابن ماجة. | حضرت حسن ﷺ د حضرت سمرة ﷺ څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : حسب (فضيلت او عظمت) دمال او کرم د تقوا نوم دئ. ترمذي او ابن ماجه |

**د جاهليت نسب**

| | |
|---|---|
| (۴۶۸۵): وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ تَعَزّٰى بِعَزَاءِ الْجَاهِلِيَّةِ فَأَعِضُّوْهُ بِهَنِ أَبِيْهِ وَلَا تَكْنُوْا . رواه في شرح السنة. | د حضرت ابی بن کعب ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسـول الله ﷺ څخـه دا واوريـدل کـوم سـرى چـي د جاهليت په نسب باندي فخر کوي هغه ته وواياست چي د خپل پلار په شرمگاه غاښ ولگوه لو په |

کنايه کي ورته مه واياست. شرح السنه.

| | |
|---|---|
| (۴۶۸۶): وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي عُقْبَةَ عَنْ أَبِي عُقْبَةَ وَكَانَ مَوْلًى مِنْ أَهْلِ فَارِسَ قَالَ شَهِدْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُحُدًا فَضَرَبْتُ رَجُلًا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ فَقُلْتُ خُذْهَا مِنِّي وَأَنَا الْغُلَامُ الْفَارِسِيُّ فَالْتَفَتَ إِلَيَّ فَقَالَ هَلَّا قُلْتَ خُذْهَا مِنِّي وَأَنَا الْغُلَامُ الْأَنْصَارِيُّ . رواه ابوداؤد. | حضرت عبد الرحمن بن ابي عقبه د ابي عقبه څخه روايت کوي چي آزاد سوی غلام وو او دی مولی د اهل د فارس وو روايت دئ چي زه د احد په غزا کي د رسول الله ﷺ سره شريك وم او په مشرکانو کي مي يو سری په توره يا نيزه ووهئ او هغه ته مي وويل واخله يو وار زما څخه هم واخله (يعني زما دلاسه هم يو وار وخوره) او زه |

يو فارسي غلام يم ، رسول الله ﷺ زما په لور وکتل او وه يې فرمايل : تا داسې ولي نه وويل چي يو وار زما د لوري هم وخوره او زه يو انصاري غلام يم . ابوداؤد.

## د قوم بې ځايه حمايت کول

(۴۶۸۷): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ نَصَرَ قَوْمَهُ عَلَى غَيْرِ الْحَقِّ فَهُوَ كَالْبَعِيْرِ الَّذِي رُدِّيَ فَهُوَ يُنْزَعُ بِذَنَبِهِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن مسعود ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم څوک چي په ناحقه د خپل قوم مرسته کوي هغه د هغه اوښ په ډول دئ چي په څاه کي ولوېږي بيا د هغه لکۍ ونيسي او راکاږي يې. ابوداؤد.

## عصبيت څه شی دئ

(۴۶۸۸): وَعَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا الْعَصَبِيَّةُ قَالَ أَنْ تُعِيْنَ قَوْمَكَ عَلَى الظُّلْمِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت واثله بن اسقع ؓ څخه روايت دئ چي ما وويل: اې د الله رسوله! عصبيت څه شی دئ؟ رسول الله ﷺ راته وفرمايل: عصبيت دا دئ چي ته په ظلم د خپل قوم حمايت وکړې. ابوداؤد.

## د قوم حمايت کول پرېږدئ

(۴۶۸۹): وَعَنْ سُرَاقَةَ بْنِ مَالِكِ بْنِ جُعْشُمٍ قَالَ خَطَبَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ خَيْرُكُمُ الْمُدَافِعُ عَنْ عَشِيْرَتِهِ مَا لَمْ يَأْثَمْ. رواه ابوداؤد.

د حضرت سراقه بن مالك بن جعشم ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ زموږ په مخکي خطبه وويل چي په تاسو کي غوره سړی هغه دئ چي د خپل قوم د لوري څخه (د ظلم) مدافعت وکړي تر څو پوري چي په دغه مدافعت کي د ګناه مرتکب نه وي. ابوداؤد.

## د عصبيت بدوالی

(۴۶۹۰): وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ مِنَّا مَنْ دَعَا إِلَى عَصَبِيَّةٍ وَلَيْسَ مِنَّا مَنْ قَاتَلَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ وَلَيْسَ مِنَّا مَنْ مَاتَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ. رواه ابوداؤد.

د حضرت جبير بن مطعم ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه څوک زموږ څخه نه دئ چي خلکو ته د عصبيت دعوت ورکوي او هغه څوک زموږ څخه نه دئ چي د عصبيت پر بنياد جګړه کوي او هغه څوک زموږ څخه نه دئ چي د عصبيت په حالت کي مړ سي. ابوداؤد.

## مينه سړی ړوند او کوڼ کوي

(۴۶۹۱): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ حُبُّكَ الشَّيْءَ يُعْمِي وَيُصِمُّ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابو درداء ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د يو شي سره ستا مينه کول تا ړوند او کوڼ جوړوي. ابوداؤد.

# دریم فصل

## عصبیت څه شی دی

(۴۶۹۲): عَنْ عُبَادَةَ بْنُ كَثِيرِ الشَّامِيُّ مِنْ أَهْلِ فَلَسْطِينَ عَنْ امْرَأَةٍ مِنْهُمْ يُقَالُ لَهَا فُسَيْلَةُ انها قَالَتْ سَمِعْتُ أَبِي يَقُولُ سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَمِنَ الْعَصَبِيَّةِ أَنْ يُحِبَّ الرَّجُلُ قَوْمَهُ قَالَ لَا وَلَكِنْ مِنَ الْعَصَبِيَّةِ أَنْ يَنصُرَ الرَّجُلُ قَوْمَهُ عَلَى الظُّلْمِ. رواه احمد وابن ماجة.

حضرت عبادة بن کثیر شامي د خپل قوم د یوې ښځې څخه چې د هغې نوم فسیله وو نقل کوي چې د فسیله بیان دئ ما دخپل پلار څخه دا اوریدلي دي چې ما رسول الله ﷺ ته وویل: اې دالله رسوله! د یو سړي خپل قوم عزیز او محبوب ګڼل په عصبیت کې داخل دي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل یا، مګر دا خبره په عصبیت کې داخله ده چې یو سړی په ظلم کې د خپل قوم حمایت او مرسته وکړي. احمد او ابن ماجه

## په خپل نسب مه نازیږه

(۴۶۹۳): وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَنْسَابَكُمْ هَذِهِ لَيْسَتْ بِمَسَبَّةٍ عَلَى أَحَدٍ كُلُّكُمْ بَنُو آدَمَ طَفُّ الصَّاعِ لَمْ تَمْلَؤُهُ لَيْسَ لِأَحَدٍ عَلَى أَحَدٍ فَضْلٌ إِلَّا بِدِينٍ أَوْ تَقْوَى وَكَفَى بِالرَّجُلِ أَنْ يَكُونَ بَذِيًّا فَاحِشًا بَخِيلًا. رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان.

د حضرت عقبه بن عامر جهني رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ستاسو نسب یو داسې شی نه دئ چې تاسو د هغه په سبب چا ته بد وواياست (یعني خپل خان شریف وګڼئ او نور خلک ذلیل وګڼئ) تاسو ټول د آدم علیه السلام اولاد یاست، په شان د برابرۍ د کاسې له بلې کاسې سره چې تاسې یې ډکه نه کړئ چا ته پر چا فضیلت نشته پرته له دین او تقوا په سبب فضیلت کیدلای سي د یو سړي د بدۍ لپاره دومره خبره کافي ده چې هغه اوږد ژبی، بدلتو خبري کونکی او بخیل وي. احمد او بیهقي په شعب الایمان کې.

# بَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ

## (د نيكۍ او خپلوۍ پاللو بيان)

## لومړۍ فصل

### د مور حقوق

(۴۶۹۴): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَنْ أَحَقُّ بِحُسْنِ صَحَابَتِي قَالَ أُمُّكَ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ أُمُّكَ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ أُمُّكَ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ أَبُوكَ وفي رواية قال أُمُّكَ ثُمَّ أُمُّكَ ثُمَّ أُمُّكَ ثُمَّ أَبَاكَ ثُمَّ أَدْنَاكَ أَدْنَاكَ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړي وويل: اې دالله رسوله ا زما د ښه چلن لپاره څوك زيات مناسب دئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ستا مور، هغه بيا وويل: بيا څوك ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ستا مور، هغه بيا وويل. بيا څوك ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ستا مور ، هغه بيا وويل: بيا څوك ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ستا پلار ، او په يوه روايت كي داسي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ستامور، ستا مور، ستا مور ، بيا ستا پلار بيا ستا نږدې خپلوان ، بيا ستا نږدې خپلوان. بخاري او مسلم.

### د مور او پلار خدمت

(۴۶۹۵): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَغِمَ أَنْفُهُ رَغِمَ أَنْفُهُ رَغِمَ أَنْفُهُ قِيلَ مَنْ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ مَنْ أَدْرَكَ وَالِدَيْهِ عِنْدَ الْكِبَرِ أَحَدَهُمَا أَوْ كِلَيْهِمَا ثُمَّ لَمْ يَدْخُلِ الْجَنَّةَ . رواه مسلم.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د هغه چا پزه دي په خاورو لړلې وي ، د هغه چا پزه دي په خاورو لړلې وي، د هغه چا پزه دي په خاورو لړلې وي، (يعني هغه دې ذليل او خوار وي) پوښتنه وسول اې دالله رسوله ! د چا پزه ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل د هغه چا چي په خپل مور او پلار كي يې يو يا دواړه په سپين ږيرتوب كي تر لاسه كړل او بيا په جنت كي داخل نه سي . مسلم.

### د مشركې مور سره هم ښه چلن

(۴۶۹۶): وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ قَالَتْ قَدِمَتْ عَلَيَّ أُمِّي وَهِيَ مُشْرِكَةٌ فِي عَهْدِ قُرَيْشٍ

د حضرت اسماء بنت ابي بكر (رض) څخه روايت دئ چي زما مور زما كور ته راغلل (يعني دمكې

فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ اُمِّيْ قَدِمَتْ عَلَيَّ وَهِيَ رَاغِبَةٌ اَفَاَصِلُهَا قَالَ نَعَمْ صِلِيْهَا. متفق علیه.

څخه مدينې ته) او هغه مشركه وه، او دا د هغه وخت پېښه ده چې د قريشو سره د حديبيې صلح سوې وه، ما وويل: اې دالله رسوله! زما مور ما ته راغلې ده او هغه د اسلام څخه بېزاره ده، ايا زه د هغې سره خپلوي وپالم (ښه چلن وكړم)؟ رسول الله ﷺ راته وفرمايل هو وه يې پاله د هغې سره ښه چلن وكړه. بخاري او مسلم.

## د كافرانو سره صله رحمي

(۴۶۹۷): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اِنَّ آلَ اَبِيْ فُلَانَ لَيْسُوْا لِيْ بِاَوْلِيَاءَ اِنَّمَا وَلِيِّيَ اللّٰهُ وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِيْنَ وَلٰكِنْ لَهُمْ رَحِمٌ اَبُلُّهَا بِبَلَاهَا. متفق علیه.

د حضرت عمرو بن عاص ؓ څخه روايت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چې د ابو فلان اولاد (يعني د ابو لهب، ابوسفيان يا نور) زما دوستان نه دي، بلكه زما دوست الله تعالى دئ او نيك بخت مؤمن، مگر ددغه خلكو سره زما خپلولي ده زه يې د هغوئ سره كوم (يعني دهغوئ سره چې كوم چلن كوم د خپلوئ له كبله يې كوم). بخاري او مسلم.

## حرام عملونه

(۴۶۹۸): وَعَنِ الْمُغِيْرَةِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ عُقُوْقَ الْاُمَّهَاتِ وَوَاْدَ الْبَنَاتِ وَمَنْعَ وَهَاتِ وَكَرِهَ لَكُمْ قِيْلَ وَقَالَ وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ وَاِضَاعَةَ الْمَالِ. متفق علیه.

د حضرت مغيرة ؓ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى پر تاسو د مور نافرماني او تكليف رسول، انجوني ژوندى ښخول او بخل حرام كړي دي او قيل وقال (يعني بې گټې بحثونه او مباحثه) زيات سوالونه كول او مال ضائع كول يې مكروه گرځولي دي. بخاري او مسلم.

## د بل مور او پلار ته ښكنځل كول

(۴۶۹۹): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْكَبَائِرِ شَتْمُ الرَّجُلِ وَالِدَيْهِ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَهَلْ يَشْتِمُ الرَّجُلُ وَالِدَيْهِ قَالَ نَعَمْ يَسُبُّ اَبَا الرَّجُلِ فَيَسُبُّ اَبَاهُ وَيَسُبُّ اُمَّهُ فَيَسُبُّ اُمَّهُ. متفق علیه.

د حضرت عبد الله بن عمرو ؓ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: خپل پلار ته ښكنځل كول د كبيره گناهو څخه دي، صحابه كرامو وويل: اې دالله رسوله! ايا سړى خپل مور او پلار ته ښكنځل كولاى سي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل هو، څوك چې دبل چا مور او پلار ته ښكنځل كوي او هغه دده مور او پلار ته ښكنځل

كوي (نو داسي ده لكه خپل مور او پلار ته چې يې په خپله ښكنځل وكړه). بخاري او مسلم.

د پلار د خپلوانو سره ښه كول

| | |
|---|---|
| (۴۷۰۰): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ أَبَرِّ الْبِرِّ صِلَةَ الرَّجُلِ أَهْلَ وُدِّ أَبِيهِ بَعْدَ أَنْ يُوَلِّيَ . رواه مسلم. | د حضرت ابن عمر ﷠ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: غوره نيكي د يو سړي د خپل پلار د مرگ څخه وروسته د هغه د قريبانو سره احسان او ښه چلن كول دي. مسلم. |

د قريبانو سره د صله رحمي گټه

| | |
|---|---|
| (۴۷۰۱): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ وَيُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ. متفق عليه. | د حضرت انس ﷠ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چې دا غواړي چې د هغه په روزي كې پراخي راسي او په مرگ كې يې ځنډ |

راسي نو هغه ته پكار ده چې د خپل قريبانو سره خپلوي پالي (ښه چلن كوي). بخاري او مسلم

د صله رحمي اهميت

| | |
|---|---|
| (۴۷۰۲): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَلَقَ اللّٰهُ الْخَلْقَ فَلَمَّا فَرَغَ مِنْهُ قَامَتِ الرَّحِمُ فَأَخَذَتْ بِحَقْوِ الرَّحْمٰنِ فَقَالَ لَهُ مَهْ قَالَتْ هٰذَا مَقَامُ الْعَائِذِ بِكَ مِنَ الْقَطِيعَةِ قَالَ أَلَا تَرْضَيْنَ أَنْ أَصِلَ مَنْ وَصَلَكِ وَأَقْطَعَ مَنْ قَطَعَكِ قَالَتْ بَلَى يَا رَبِّ قَالَ فَذَاكِ. متفق عليه. | د حضرت ابوهريرة ﷠ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى مخلوقات پيدا كړل كله چې ددې څخه فارغ سو نو رَحِم (خپلوي) ودرېدل او د رحمان (الله تعالى) ملا يې ونيول، الله تعالى پوښتنه وكړه قرار (پرخاى) سه څه غواړي؟ رحم وويل: دا ځاى د هغه سړي د |

قراريدو ځاى دئ چې ستا په ذريعه د قطع رحم څخه پناه غواړي (يعني زه ستا په مخكې ولاړ يم او ستا په ذريعه ددې امر څخه پناه غواړم چې څوك ما قطع كړي او د خپلوى عزت قائم نه ساتي) الله تعالى ورته وفرمايل: ايا ته په دې راضي يې چې څوك تا قائم وساتي نو د هغه سره زه احسان او ښه چلن وكړم او پرېږدم هغه چې ته يې پرې اينبى يې، رحم وويل: هو زه په دې راضي يم، نو الله تعالى ورته وفرمايل: ښه دئ. دا (ستاسره) وعده ده.. بخاري او مسلم

رحم د رحمان څخه دئ

| | |
|---|---|
| (۴۷۰۳): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الرَّحِمَ شِجْنَةٌ مِنَ الرَّحْمٰنِ فَقَالَ اللّٰهُ مَنْ | د حضرت ابوهريره ﷠ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د رَحِم لفظ د رحمان څخه اخيستل سوى دئ او الله تعالى رحم ته |

وَصَلَكِ وَصَلْتُهُ وَمَنْ قَطَعَكِ قَطَعْتُهُ . رواه البخاري.

فرمایلي دي څوك چي تا یو ځای کوي زه به.
هغه یو ځای کوم او څوك چي تا پرې کوي زه به هغه پریکرم . بخاري

(۴۷۰۴): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّحِمُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ تَقُولُ مَنْ وَصَلَنِي وَصَلَهُ اللّٰهُ وَمَنْ قَطَعَنِي قَطَعَهُ اللّٰهُ . متفق علیه.

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : رحم د عرش الهي سره زړیدلی دئ او ددعاء په توګه وایي څوك چي ما یو ځای کړي هغه دي الله تعالی یو ځای کړي
او څوك چي ما پریکړي الله تعالی دي هغه پریکړي . بخاري او مسلم.

**صله رحمي نه کونکی جنت ته نه داخلیږي**

(۴۷۰۵): وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعٌ. متفق علیه.

د حضرت جبیر بن مطعم ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : خپلوي پریکونکی به په جنت کي نه داخلیږي .بخاري او مسلم.

**د قریبانو سره ښه چلن**

(۴۷۰۶): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ الْوَاصِلُ بِالْمُكَافِئِ وَلَكِنَّ الْوَاصِلُ الَّذِي إِذَا قُطِعَتْ رَحِمُهُ وَصَلَهَا. رواه البخاري.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : صله رحمي کونکی هغه نه دی چي د هغه سره صله رحمي کول
کیږي (یعني دا خو بدله ده صله رحمي نه ده)، بلکه صله رحمي کونکی هغه دئ چي د هغه سره خپلوي پریکړل سي دی بیا هم ورسره خپلوي قائمه وساتي . بخاري.

(۴۷۰۷): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ لِي قَرَابَةً أَصِلُهُمْ وَيَقْطَعُونِي وَأُحْسِنُ إِلَيْهِمْ وَيُسِيئُونَ إِلَيَّ وَأَحْلُمُ عَنْهُمْ وَيَجْهَلُونَ عَلَيَّ فَقَالَ لَئِنْ كُنْتَ كَمَا قُلْتَ فَكَأَنَّمَا تُسِفُّهُمُ الْمَلَّ وَلَا يَزَالُ مَعَكَ مِنَ اللّٰهِ ظَهِيرٌ عَلَيْهِمْ مَا دُمْتَ عَلَى ذَلِكَ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دئ چي یو سړي وویل: اې دالله رسوله ! زما خپلوان داسي دي چي زه هغوئ سره ښه چلن کوم مګر هغوئ زما سره ښه چلن نه کوي ، زه د هغوئ سره احسان کوم او هغوئ زما سره بد کوي زه د حلم او صبر څخه کار اخلم هغوئ ته معافي کوم او هغوئ راسره جهالت
کوي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : که ته داسي کوي لکه څرنګه چي تا وویل داسي مثال لري لکه ته چي د دوئ په خولو کي تودي ایرې اچوې نو ستا سره به همیشه د الله ﷺ مرسته وي تر څو پوري

چي ته پر دې صفت قائم يې د هغوئ تکليفونه او شر به در څخه دفع کوي. مسلم.

## دويم فصل

**د مور او پلار سره ښه سلوک**

| | |
|---|---|
| (۲۷۰۸): عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَزِيدُ فِي الْعُمْرِ إِلَّا الْبِرُّ لَا يَرُدُّ الْقَدَرَ إِلَّا الدُّعَاءُ ولا يزيد في العمر الا البر وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيُحْرَمُ الرِّزْقَ بِالذَّنْبِ يُصِيبُهُ. رواه ابن ماجة. | د حضرت ثوبان ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ تقدير پرته د دعاء څخه بل هيڅ شی نه سي بدلولای او د نيکی څخه پرته بل هيڅ شی عمر نه سی زياتولای او د ګناه په وجه انسان د روزي څخه محروم |

کيدلای سي چي د هغه ارتکاب يې وکړ (يعني هغه ګناه يې وکړل). ابن ماجه.

**د مور او پلار سره د نيکی ثواب**

| | |
|---|---|
| (۲۷۰۹): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ فَسَمِعْتُ فِيهَا قِرَاءَةً فَقُلْتُ مَنْ هٰذَا قَالُوْا حَارِثَةُ بْنُ النُّعْمَانِ كَذٰلِكُمُ الْبِرُّ كَذٰلِكُمُ الْبِرُّ وَكَانَ أَبَرَّ النَّاسِ بِأُمِّهِ. رواه في شرح السنة والبيهقي في شعب الإيمان وفي رواية قال نمت فرأيتني في الجنة بدل دخلت الجنة. | د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زه په جنت کي داخل سوم نو هلته ما د قرآن ويلو آواز واوريدئ ما پوښتنه وکړه چي دا څوك دئ، ملائکو راته وويل: حارثه بن نعمان دئ. (د دي په اوريدو سره) د صحابه کرامو په زړه کي دا خيال پيدا سو چي |

حارثه ته دا درجه څنګه په برخه سوه، رسول الله ﷺ د سبب بيانولو سره وفرمايل: دا ثواب دئ (د مور او پلار سره) د نيکی کولو، دا ثواب دئ (د مور او پلار سره) دنيکی کولو او حارثه بن نعمان د مور سره ډير ښه چلن کونکی وو. شرح السنه او بيهقي، او دده په يو روايت کي دي چي نبي کريم ﷺ ويلي دي چي زه بيده سوم نو خان مي په جنت کي وليدی په بدل د داخليدلو جنت ته.

**د پلار رضا او ناراضګي**

| | |
|---|---|
| (۲۷۱۰): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رِضَى الرَّبِّ فِي رِضَى الْوَالِدِ وَسَخَطُ الرَّبِّ فِي سَخَطِ الْوَالِدِ. رواه الترمذي. | د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ رضا مندي د پلار په رضامندی کي ده او د الله ﷻ ناراضګي د پلار په ناراضګی کي ده، ترمذي. |

**پلار د جنت د دروازو څخه دئ**

| | |
|---|---|
| (۴۷۱۱): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ أَنَّ رَجُلًا أَتَاهُ فَقَالَ إِنَّ لِيَ امْرَأَةً وَإِنَّ أُمِّي تَأْمُرُنِي بِطَلَاقِهَا فَقَالَ لَه أَبُو الدَّرْدَاءِ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْوَالِدُ أَوْسَطُ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ فَإِنْ شِئْتَ فَحَافِظْ عَلَى الْبَابِ أَوْ ضَيِّعْ. رواه الترمذي وابن ماجة. | د حضرت ابو درداء ﷺ څخه روايت دئ چي هغه ته يو سړى راغلئ او وه يې ويل زما مور غواړي چي زه خپل ښځي ته طلاق ورکړم؟ ابودرداء هغه ته وويل: ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي پلار د جنت د غوره دروازو څخه دئ که ته غواړي ددې دروازې ساتنه وکړې او که غواړې دا دروازه ضائع کړې. ترمذي او ابن ماجه. |

**د مور او پلار سره ښه كول**

| | |
|---|---|
| (۴۷۱۲): وَعَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَنْ أَبَرُّ قَالَ أُمَّكَ قَالَ قُلْتُ ثُمَّ مَنْ قَالَ أُمَّكَ قَالَ قُلْتُ ثُمَّ مَنْ قَالَ أُمَّكَ قَالَ قُلْتُ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ أَبَاكَ ثُمَّ الْأَقْرَبَ فَالْأَقْرَبَ. رواه الترمذي وابوداؤد. | حضرت بهز بن حكيم ﷺ د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چي ما وويل: اې دالله رسوله! زه د چا سره نيكي وكرم؟ رسول الله ﷺ وفرمايل د خپل مور سره، ما وويل: بيا د چا سره؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: د خپل مور |

سره، ما بيا پوښتنه وکړه بيا د چا سره؟ رسول الله ﷺ وفرمايل د خپل مور سره، ما بيا پوښتنه وکړه: بيا د چا سره؟ رسول الله ﷺ وفرمايل د خپل پلار سره، بيا د نژدې خپلوانو سره بيا هغو ته د نژدې خپلوانو سره. ترمذي او ابوداؤد.

| | |
|---|---|
| (۴۷۱۳): وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ قَالَ اللّٰهُ تبارك وتعالى أَنَا اللّٰهُ وَ أَنَا الرَّحْمٰنُ خَلَقْتُ الرَّحِمَ وَ شَقَقْتُ لَهَا مِنِ اسْمِي فَمَنْ وَصَلَهَا وَصَلْتُهُ وَمَنْ قَطَعَهَا بَتَتُّهُ. رواه ابوداؤد. | د حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي الله تعالى فرمايي: زه الله يم، رحمان يم ما رحم (خپلوي) پيدا کړه او رحم مي د خپل رحمان نوم څخه را وايستئ، كوم څوك چي خپلوي |

يو ځای کوي هغه به د خپل رحمت سره يو ځای کړم او څوك چي خپلوي ماتوي هغه به د خپل رحمت څخه ليرې کړم. ابوداؤد.

| | |
|---|---|
| (۴۷۱۴): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي أَوْفٰى قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا | د حضرت عبدالله بن ابي اوفى ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا واوريدل چي فرمايل |

تَنْزِلُ الرَّحْمَةُ عَلَى قَوْمٍ فِيهِمْ قَاطِعُ رَحِمٍ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

يي: پر هغه قوم د الله تعالى رحمت نه نازليږي چي په هغوئ كي خپلوي ماتونكي وي. بيهقي په شعب الايمان كي.

**خطرناكه ګناه**

(۴۷۱۵): وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ ذَنْبٍ أَحرى أَنْ يُعَجِّلَ اللّٰهُ لِصَاحِبِهِ الْعُقُوبَةَ فِي الدُّنْيَا مَعَ مَا يَدَّخِرُ لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْبَغْيِ وَقَطِيعَةِ الرَّحِمِ. رواه الترمذي وابوداؤد.

د حضرت ابوبكرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هيځ ګناه ددې ور نه ده چي الله تعالى د هغه كونكي ته ډير ژر په دنيا كي د هغه بدله ورکړي او په آخرت كي هم عذاب د هغه لپاره جمع كړي مګر دوه ګناهونه ددې ور دي او هغه دادي چي ظلم (بغاوت) كول او دويم د خپلوۍ پريكول. ترمذي او ابوداؤد.

(۴۷۱۶): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنَّانٌ وَلَا عَاقٌّ وَلَا مُدْمِنُ خَمْرٍ. رواه النسائي والدارمي.

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په جنت كي به هغه څوك نه داخليږي چي زيات احسان اچونكي وي او نه هغه سړى چي د مور او پلار نافرماني كونكى وي او نه شرابي. نسائي او دارمي.

**د خپلوانو سره ښه چلن**

(۴۷۱۷): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعَلَّمُوا مِنْ أَنْسَابِكُمْ مَا تَصِلُونَ بِهِ أَرْحَامَكُمْ فَإِنَّ صِلَةَ الرَّحِمِ مَحَبَّةٌ فِي الْأَهْلِ مَثْرَاةٌ فِي الْمَالِ مَنْسَأَةٌ فِي الْأَثَرِ. رواه الترمذي وقال هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: خپل نسبونه تاسو يوازي دومره زده كړئ چي په هغه سره تاسو د خپل خپلوانو سره صله رحمي وكړلاى سئ ځكه چي د خپلوانو سره صله رحمي كول په خپلوانو كي د مينې باعث، په مال كي د زياتوب او بركت سبب او د عمر د اوږدوالي سبب دئ. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

**خاله د مور په درجه كي**

(۴۷۱۸): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړي د نبي كريم ﷺ په خدمت كي وويل چي اې د الله رسوله! ما يوه لويه ګناه كړې ده ايا زما توبه

أَصَبْتُ ذَنْبًا عَظِيمًا فَهَلْ لِي مِن تَوْبَةٌ قَالَ هَلْ لَكَ مِنْ أُمٍّ قَالَ لَا قَالَ هَلْ لَكَ مِنْ خَالَةٍ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَبَرُّهَا. رواه الترمذي.

قبليدلای سي ؟ رسول الله ﷺ پوښتنه خيني وکړه ايا ستا مور ژوندی ده ؟ هغه وويل :يا ، رسول الله ﷺ بيا پوښتنه وکړه ايا ستا خاله ژوندی ده ؟

هغه وويل: هو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل د هغې سره ښه چلن کوه . ترمذي.

## د مور او پلار د وفات وروسته نيکي

(۴۷۱۹): وَعَنْ أَبِيْ أُسَيْدِ السَّاعِدِيِّ قَالَ بَيْنَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ مِنْ بَنِي سَلَمَةَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ هَلْ بَقِيَ مِنْ بِرِّ أَبَوَيَّ شَيْءٌ أَبَرُّهُمَا بِهِ بَعْدَ مَوْتِهِمَا قَالَ نَعَمْ الصَّلَاةُ عَلَيْهِمَا وَالْاِسْتِغْفَارُ لَهُمَا وَإِنْفَاذُ عَهْدِهِمَا مِنْ بَعْدِهِمَا وَصِلَةُ الرَّحِمِ الَّتِي لَا تُوصَلُ إِلَّا بِهِمَا وَإِكْرَامُ صَدِيقِهِمَا. رواه ابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت ابو اسيد ساعدي ؓ څخه روايت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو چي د قبيله بنو سلمه يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ اې دالله رسوله ! د مور او پلار سره د ښه چلن کولو زما لپاره څه پاته دي چي زه يې د وفات څخه وروسته د هغوئ سره وکړم ؟ ايا د هغوئ د وفات څخه وروسته يو داسي صورت سته چي د هغوئ سره ښه چلن وکړم ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل هو ، د هغوئ لپاره دعاء کوه ، استغفار کوه او د هغوئ وصيت پوره کوه او د هغوئ د خپلوانو سره ښه چلن کوه چي د هغوئ د خپلوانو سره ښه چلن کول د هغوئ د خپلوۍ په سبب وي او د مور او پلار د دوستانو عزت کوه . ابوداؤد او ابن ماجه.

## د رضعي مور بي بي حليمې احترام

(۴۷۲۰): وَعَنْ أَبِيْ الطُّفَيْلِ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْسِمُ لَحْمًا بِالْجِعِرَّانَةِ إِذْ أَقْبَلَتْ امْرَأَةٌ حَتَّى دَنَتْ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَسَطَ لَهَا رِدَاءَهُ فَجَلَسَتْ عَلَيْهِ فَقُلْتُ مَنْ هِيَ فَقَالُوا هِيَ أُمُّهُ الَّتِي أَرْضَعَتْهُ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابو طفيل ؓ څخه روايت دئ چي په جعرانه نامي ځای کي ما رسول الله ﷺ په غوښو ويشلو وليدئ ، ناڅاپه يوه ښځه راغلل او رسول الله ﷺ ته نږدې ورغلل ، رسول الله ﷺ د هغې لپاره څادر وغوړوئ او پر هغه څادر يې کښينول ، ما پوښتنه وکړه : دا څوک ده ؟ خلکو راته وويل : دا د رسول الله ﷺ هغه مور بي بي ده چي رسول الله ﷺ ته يې په ورکتوب کي تی ورکړی وو . ابوداؤد.

## دریم فصل

### درې کسان په غار کې

(۴۷۲۱): عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَمَا ثَلَاثَةُ نَفَرٍ يَتَمَاشَوْنَ أَخَذَهُمُ الْمَطَرُ فَمَالُوا إِلَى غَارٍ فِي الْجَبَلِ فَانْحَطَّتْ عَلَى فَمِ غَارِهِمْ صَخْرَةٌ مِنَ الْجَبَلِ فَأَطْبَقَتْ عَلَيْهِمْ فَقَالَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ انْظُرُوا أَعْمَالًا عَمِلْتُمُوهَا لِلّٰهِ صَالِحَةً فَادْعُوا اللّٰهَ بِهَا لَعَلَّهُ يُفَرِّجُهَا فَقَالَ أَحَدُهُمُ اللّٰهُمَّ إِنَّهُ كَانَ لِي وَالِدَانِ شَيْخَانِ كَبِيرَانِ وَلِي صِبْيَةٌ صِغَارٌ كُنْتُ أَرْعَى عَلَيْهِمْ فَإِذَا رُحْتُ عَلَيْهِمْ فَحَلَبْتُ بَدَأْتُ بِوَالِدَيَّ أَسْقِيهِمَا قَبْلَ وَلَدِي وَإِنَّهُ قد نَاءَ بِيَ الشَّجَرُ فَمَا أَتَيْتُ حَتَّى أَمْسَيْتُ فَوَجَدْتُهُمَا قَدْ نَامَا فَحَلَبْتُ كَمَا كُنْتُ أَحْلُبُ فَجِئْتُ بِالْحِلَابِ فَقُمْتُ عِنْدَ رُءُوسِهِمَا أَكْرَهُ أَنْ أُوقِظَهُمَا وَأَكْرَهُ أَنْ أَبْدَأَ بِالصِّبْيَةِ قَبْلَهُمَا وَالصِّبْيَةُ يَتَضَاغَوْنَ عِنْدَ قَدَمَيَّ فَلَمْ يَزَلْ ذَلِكَ دَأْبِي وَدَأْبَهُمْ حَتَّى طَلَعَ الْفَجْرُ فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّي فَعَلْتُ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ لَنَا فُرْجَةً نَرَى مِنْهَا السَّمَاءَ فَفَرَجَ اللّٰهُ لَهُمْ فُرْجَةً الله لهم يَرَوْنَ مِنْهَا السَّمَاءَ وَقَالَ الثَّانِي اللّٰهُمَّ إِنَّهُ كَانَتْ لِي ابْنَةُ عَمٍّ أُحِبُّهَا كَأَشَدِّ مَا يُحِبُّ الرِّجَالُ النِّسَاءَ فَطَلَبْتُ إِلَيْهَا نَفْسَهَا فَأَبَتْ حَتَّى آتِيَهَا بِمِائَةِ دِينَارٍ فَسَعَيْتُ حَتَّى جَمَعْتُ مِائَةَ دِينَارٍ فَلَقِيتُهَا بِهَا فَلَمَّا قَعَدْتُ بَيْنَ رِجْلَيْهَا قَالَتْ يَا عَبْدَ اللّٰهِ اتَّقِ اللّٰهَ وَلَا تَفْتَحِ الْخَاتَمَ فَقُمْتُ عَنْهَا اللّٰهُمَّ فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّي قَدْ فَعَلْتُ

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : درې کسان روان وه باران ونيول ، هغوئ د يو غره په غار ننوتل ، په دغه وخت کې د غار خولې ته يوه لويه ډېره راغلل چې د غار خوله يې بنده کړه، درې سره کسانو يو بل ته وويل پر خپلو نيکو عملونو نظر واچوئ کوم چې مو خاص د الله ﷺ لپاره کړي وي او د هغه عمل په واسطه د الله ﷺ څخه دعاء وغواړئ، اميد دئ چې الله تعالى دا ډېره زمونږ څخه ليرې کړي نو په هغوئ کې اول نفر وويل : اې الله زما مور او پلار ډېر سپين ږيري وه او زما يو څو کوچنيان بچيان وه ما به پسونه پيول چې د هغو شيدې په دوئ تولو وچښنم کله چې به مابنام سو نو کور ته به راغلم شيدې به مې ولوېشلې لومړی به مې مور او پلار ته ورکړې بيا خپلو کوچنيانو ته ، يوه ورځ داسې وسوه چې د پسو په پيولو پيولو سره زه ډېر ليرې ولاړم او پر وخت کور ته نه راورسيدم تر څو چې مابنام سو (کله چې کور ته راغلم) نو وينم چې مور او پلار مې دواړه بيده سوي دي ما د مخکې په دول شيدې ولوېشلې بيا د شيدو لوښی مې واخيست مور او پلار ته ورغلم د هغوئ سر ته ودريدم د هغوئ راويښول راته بد معلوم سول او دا هم راته بد ښکاريدل چې کوچنيانو ته د مور

ذَلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ لَنَا مِنْهَا فَفَرَجَ لَهُمْ فُرْجَةً وَقَالَ الْآخَرُ اللَّهُمَّ إِنِّي كُنْتُ اسْتَأْجَرْتُ أَجِيرًا بِفَرَقِ أَرُزٍّ فَلَمَّا قَضَى عَمَلَهُ قَالَ أَعْطِنِي حَقِّي فَعَرَضْتُ عَلَيْهِ حَقَّهُ فَتَرَكَهُ وَرَغِبَ عَنْهُ فَلَمْ أَزَلْ أَزْرَعُهُ حَتَّى جَمَعْتُ مِنْهُ بَقَرًا وَرَاعِيَهَا فَجَاءَنِي فَقَالَ اتَّقِ اللَّهَ وَلَا تَظْلِمْنِي وَأَعْطِنِي حَقِّي فَقُلْتُ اذْهَبْ إِلَى ذَلِكَ الْبَقَرِ وَرَاعِيهَا فَقَالَ اتَّقِ اللَّهَ وَلَا تَهْزَأْ بِي فَقُلْتُ إِنِّي لَا أَهْزَأُ بِكَ فَخُذْ ذَلِكَ الْبَقَرَ وَرَاعِيَهَا فَأَخَذَهُ فَانْطَلَقَ بِهَا فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّي فَعَلْتُ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ مَا بَقِيَ فَفَرَجَ اللَّهُ عَنْهُمْ. متفق عليه.

او پلار څخه مخكي شيدي وركرم كوچنيان زما د پښو سره دلوږي څخه لغړېدل او زه شيدي په لاس كي ولاړ وم تر دي چي سهار سو ، اي الله تا ته معلومه ده كه ما دا كار خاص ستا د رضا لپاره كړى وي نو دا ډبره دومره ليري كړې چي موږ آسمان وليدلاى سو ، نو الله پاك هغه ډبره د غار د خولي څخه دومره آخوا كړل چي هغوئ اسمان ليدلاى سو (۲) : دويم سړي وويل : اي الله ! زما د عمه يوه لور وه زما د هغې سره ډيره مينه وه داسي مينه لكه څرنگه چي د سړي د ښځي سره كيدلاى سي ما هغې ته د جماع خواهش څرگند كړ هغې وويل تر څو پوري چي سل ديناره را نه كړې داسي نه سي كيدلاى ، ما كوښښ وكړ سل ديناره مي جمع كړل او د هغو دينارو سره راورسيدم ، كله چي زه د هغې د دواړو پښو په منځ كي كښينستم (يعني د جماع لپاره) نو هغې راته وويل اي د الله ﷻ بنده د الله څخه و بيرېږه او مهر مه ماتوه (يعني پيغلتوب مي مه ضائع كوه) زه د الله ﷻ د بيري څخه سمدستي ولاړ سوم (يعني د هغې سره مي جماع ونه كړل اي الله ! كه ستا په نزد زما دا كار خاص ستا د رضا لپاره وو نو دا ډبره يو څه ليري كړې ، نو الله تعالى هغه ډبره لږ نوره هم ليري كړه . (۳) دريم كس وويل اي الله ﷻ ما يو سړى د يوې پيمانې وريجو په بدله كي په مزدورۍ ولگوئ ، كله چي هغه سړي خپل كار ختم كړ ما مزدوري وركول خو هغه پرېښودل او بيا هغه د خپل حق اخيستو په لور توجه ونه كړل ما د هغه د مزدورۍ په وريجو سره كښت پيل كړ تر څو چي د هغه د وريجو په قيمت سره ما ډير غوايان او غوبه (د غوايانو شپانه) جمع كړل ددې څخه وروسته هغه مزدور ما ته راغلئ او وه يې ويل : د الله ﷻ څخه و بيرېږه پرما ظلم مه كوه زما حق ما ته راكړه ما ورته وويل : دا غوايان او غوبه (د غوايانو چوپان) بوځه دا ستا حق دئ ، هغه راته وويل د الله ﷻ څخه و بيرېږه او مسخري راسره مه كوه ، ما ورته وويل زه مسخري نه درسره كوم دا غوايان او غوبه د ځان سره بوځه ، هغه تول يو ځاى كړل او د ځان سره يې بوتلل ، اي الله ﷻ ! زما دا عمل كه ستا په نزد ستا د رضا لپاره وو نو دا ډبره ليري كړې نو الله تعالى هغه ډبره ليري كړه او لاره ورته خلاصه سوه . بخاري او مسلم.

**جنت دمور او پلار تر قدمو لاندې**

(۴۷۲۲): وَعَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ جَاهِمَةَ اَنَّ جَاهِمَةَ جَاءَ إِلَى النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ اَرَدْتُ الْغَزْوَ وقد جئت أَسْتَشِيرُكَ فَقَالَ هَلْ لَكَ مِنْ أُمٍّ قَالَ نَعَمْ فَقَالَ الْزَمْهَا فَإِنَّ الْجَنَّةَ عِنْدَ رِجْلِهَا. رواه احمد والنسائي .

د حضرت معاویه بن جاهمه ﷺ څخه روایت دئ چي جاهمه د رسول الله ﷺ په خدمت کي وویل: اې دالله رسوله! زما جهاد ته د تللو اراده ده زه ستاسو څخه د مشورې اخیستلو لپاره راغلی یم ، رسول الله ﷺ یوښتنه وکړه ایا ستا مور سته؟ (یعني ژوندی ده) هغه وویل: هو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل د خپل مور خدمت کوه جنت د مور تر قدمو لاندي دئ. احمد ، بیهقي او نسائي .

**د پلار د حکم احترام کوه**

(۴۷۲۳): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَتْ تَحْتِي امْرَأَةٌ أُحِبُّهَا وَكَانَ عُمَرُ يَكْرَهُهَا فَقَالَ لِي طَلِّقْهَا فَأَبَيْتُ فَأَتَى عُمَرُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ لِي رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَلِّقْهَا. رواه الترمذي وابوداؤد.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي زما په نکاح کي یوه ښځه وه چي زما ورسره ډیره مینه وه او زما پـلار حضرت عمر ﷺ به د هغې څخه نفرت کوئ (یوه ورځ زما پلار راته وویل ته دې ښځي ته طلاق ورکړه ، ما انکار وکړ ، حضرت عمر ﷺ د رسول الله ﷺ په مخکي پېښه بیان کړه ، رسول الله ﷺ وفرمایل دې ښځي ته طلاق ورکړه . ترمذي او ابوداؤد.

**د مور او پلار اهمیت**

(۴۷۲۴): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا حَقُّ الْوَالِدَيْنِ عَلَى وَلَدِهِمَا قَالَ هُمَا جَنَّتُكَ وَنَارُكَ . رواه ابن ماجة.

د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روایت دئ چي یو سړي وویل: اې دالله رسوله! د مور او پـلار پر اولاد څه حق دئ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: مور او پلار د اولاد لپاره جنت هم دي او دوزخ هم. ابن ماجه.

**د مور او پلار د مرګ وروسته د ثواب رسولو طریقه**

(۴۷۲۵): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْعَبْدَ لَيَمُوتُ وَالِدَاهُ أَوْ أَحَدُهُمَا وَإِنَّهُ لَهُمَا لَعَاقٌّ فَلَا يَزَالُ يَدْعُو لَهُمَا وَيَسْتَغْفِرُ لَهُمَا حَتَّى يَكْتُبَهُ اللَّهُ بَارًّا. رواه البيهقي.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي د یو بنده مور او پلار یا په هغوئ کي یو مر کیږي په داسي حال کي چي د هغوئ نافرمانه وي او بیا

د هغوئ د مرگ څخه وروسته د هغوئ نافرمانه زوی د مور او پلار لپاره دعاء او استغفار کوي نو الله تعالی هغه په نیکو خلکو کي لیکي. بیهقي.

**د مور او پلار فرمانبرداري**

| | |
|---|---|
| (۴۷۲۶): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَصْبَحَ مطيعا لله فِيْ وَالِدَيْهِ أَصْبَحَ لَهُ بَابَانِ مَفْتُوْحَانِ مِنَ الْجَنَّةِ وَإِنْ كَانَ وَاحِدًا فَوَاحِدًا وَمَنْ أَمْسٰى عَاصِيًا لِلّٰهِ فِيْ وَالِدَيْهِ أَصْبَحَ لَهُ بَابَانِ مَفْتُوْحَانِ مِنَ النَّارِ وَإِنْ كَانَ وَاحِدًا فَوَاحِدًا قَالَ رَجُلٌ وَإِنْ ظَلَمَاهُ قَالَ وَإِنْ ظَلَمَاهُ وَإِنْ ظَلَمَاهُ وَإِنْ ظَلَمَاهُ. رواه البيهقي. | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چي په داسي حال کي سهار کړي چي هغه د مور او پلار په حق کي د الله ﷺ د احکامو اطاعت کوي (یعني د مور او پلار حقوق ادا کوي) نو هغه په داسي حال کي سهار کوي چي د هغه لپاره د جنت دوې دروازې خلاصیږي او څوك چي په داسي |

حال کي سهار کړي چي د مور او پلار په حق کي د الله نافرمانه وي نو هغه په داسي حال کي سهار کوي چي د هغه لپاره د دوږخ دوې دروازې خلاصیږي او که یو وو نو یوه دروازه به ورته خلاصه سي. یو سړي وویل: که څه هم چي مور او پلار یې ظلم پر کوي، پر دې خبره رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: که څه هم چي پر هغه ظلم کوي که څه هم چي پر هغه ظلم کوي که څه هم چي پر هغه ظلم کوي. بیهقي.

**مور او پلار ته د رحمت په نظر کتل**

| | |
|---|---|
| (۴۷۲۷): وَعَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَامِنْ وَلَدٍ بَارٍّ يَنْظُرُ إِلٰى وَالِدَيْهِ نَظَرَ رَحْمَةٍ إِلَّا كَتَبَ اللّٰهُ لَهُ بِكُلِّ نَظْرَةٍ حَجَّةً مَبْرُوْرَةً قَالُوْا وَإِنْ نَظَرَ كُلَّ يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ قَالَ نَعَمْ اَللّٰهُ أَكْبَرُ وَأَطْيَبُ. رواه البيهقي. | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم زوی چي د مور یا پلار ته د رحمت او شفقت په نظر وګوري الله تعالی د هغه په حساب کي د هر نظر په بدله کي د یو قبول سوي حج ثواب لیکي، صحابه کرامو |

وویل: که څه هم چي د ورځي سل واره ورته وګوري؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل هو، الله تعالی لوی او پاك دئ. بیهقي.

**د مور او پلار نافرمان**

| | |
|---|---|
| (۴۷۲۸): وَعَنْ أَبِيْ بَكْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ الذُّنُوْبِ يَغْفِرُ اللّٰهُ مِنْهَا مَا | د حضرت ابوبکرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هره ګناه الله تعالی بخښي یعني |

شَاءَ إِلاَّ عُقُوقَ الْوَالِدَيْنِ فَإِنَّهُ يُعَجِّلُ لِصَاحِبِهِ فِي الْحَيَاةِ قَبْلَ الْمَمَاتِ. رواه البيهقي.

په هغه کي چي خومره الله تعالی غواړي مګر د مور او پلار د نافرمانی ګناه نه بخښي بلکه الله تعالی د هغه سزا په دنیا کي د مرګ څخه مخکي هغه ته ورکوي. بيهقي.

**د مشر وروړ حق**

(۴۷۲۹): وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْعَاصِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَقُّ كَبِيْرِ الْإِخْوَةِ عَلَى صَغِيْرِهِمْ حَقُّ الْوَالِدِ عَلَى وَلَدِهِ. روى البيهقي الأحاديث الخمسة في شعب الإيمان.

د حضرت سعيد بن العاص ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د مشر وروړ حق پر کشر وروړ داسي دئ لکه د پلار حق پر زوی باندي. بيهقي دا پنځه تير سوي حديثونه په شعب الايمان کي روايت کړي دي.

# بَابُ الشَّفَقَةِ وَالرَّحْمَةِ عَلَى الْخَلْقِ

## (د الله ﷻ پر مخلوق د شفقت او رحمت بيان)

## لومړی فصل

**پر مخلوق رحم**

(۴۷۳۰): عَنْ جَرِيْرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَرْحَمُ اللّٰهُ مَنْ لَا يَرْحَمُ النَّاسَ. متفق عليه.

د حضرت جرير بن عبد الله ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالی پر هغه چا رحم نه کوي څوک چي پر خلکو رحم نه کوي. بخاري او مسلم.

**کوچنيان مچول**

(۴۷۳۱): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا أَتُقَبِّلُوْنَ صِبْيَانَكُمْ فَمَا نُقَبِّلُهُمْ فَقَالَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَ أَمْلِكُ إِنْ نَزَعَ اللّٰهُ مِنْ قَلْبِكَ الرَّحْمَةَ. متفق عليه.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي يو صحرائي در سول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو (او وه يې ليدل چي رسول الله ﷺ به د صحابه کرامو د کوچنيانو سره مينه کول او هغوئ به يې مچول) نو هغه رسول الله ﷺ ته وويل تاسو کوچنيان مچوئ موږ خو کوچنيان نه مچوو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ايا زه پردې قادر يم چي ستا د زړه څخه الله تعالی کوم رحمت ايستلی دئ زه هغه بيرته ستا په زړه کي واچوم؟ بخاري او مسلم.

## د لونو روزلو فضیلت

(۲۷۳۲): وَعَنْهَا قَالَتْ جَاءَتْنِيْ امْرَأَةٌ مَعَهَا ابْنَتَانِ لَها تَسْئَلُنِيْ فَلَمْ تَجِدْ عِنْدِيْ غَيْرَ تَمْرَةٍ واحدة فَأَعْطَيْتُهَا إِيَّاهَا فَقَسَمَتْهَا بَيْنَ ابْنَتَيْهَا وَلَمْ تَأْكُلْ مِنْهَا ثُمَّ قَامَتْ فَخَرَجَتْ فَدَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَنِ ابْتُلِيَ مِنْ هٰذِهِ الْبَنَاتِ بِشَيْءٍ فَأَحْسَنَ إِلَيْهِنَّ كُنَّ لَهُ سِتْرًا مِنَ النَّارِ. متفق عليه.

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت چې یوه ښځه ما ته راغلل چې دهغې سره دوې لوڼې هم وې هغې زما څخه سوال وکړ ، زما سره په دغه وخت کې یوازې یوه خرما وه هغه مې ورکړه ، هغې ښځې خرما نیمه نیمه پر دواړو لوڼو ووېشل او خپله یې هیڅ نه وخوړل ، بیا هغه ولاړه سوه او د باندې روانه سوه ، دهغه څخه وروسته رسول الله ﷺ تشریف راوړ ما ورته پېښه بیان کړه ، رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چې په دې انجونو سره په ازموینه کې اخته سي او هغه ددغه لوڼو سره احسان او ښه چلن وکړي نو دا لوڼې به دهغه لپاره د دوږخ اور ته پرده وي . بخاري او مسلم.

## د لوڼو د روزنې ثواب

(۲۷۳۳): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْنِ حَتّٰى تَبْلُغَا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنَا وَهُوَ كَذَا وَضَمَّ أَصَابِعَهُ . رواه مسلم.

د حضرت انس ؓ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چې د دوو لوڼو روزنه وکړي ترڅو چې هغه بالغې سي (یعني واده سي او د خپل خاوند کور ته ورسیږي) نو هغه سړی او زه به د قیامت په ورځ داسې یو ځای یو لکه څرنګه چې زما دا ګوتې دي (یعني دشهادت او منځنۍ ګوته) او دواړې ګوتې یې په خپل منځ کې یوځای کړې وښودلې . مسلم.

## د کونډې او مسکین دخدمت ثواب

(۲۷۳۴): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السَّاعِيْ عَلَى الْأَرْمَلَةِ وَالْمِسْكِيْنِ كَالسَّاعِيْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ و احسبه قال كَالْقَائِمِ لَا يَفْتُرُ وَكَالصَّائِمِ لَا يُفْطِرُ. متفق عليه.

د حضرت ابوهریرة ؓ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د کونډې او مسکین حال پوښتونکی د الله تعالی په لار کې د کوښښ کونکی په ډول دئ (یعني د هغه ثواب د جهاد او حج برابر دئ د راوي بیان چې زما خیال دئ چې رسول الله ﷺ دا هم وفرمایل : د کونډې او مسکین خبر اخیستونکی د هغه شپه رښونکی په ډول دئ چې په عبادت او شپې رښولو کې کوتاهي نه کوي او د هغه روژه نیونکي په ډول دئ چې د ورځې روژه نه ماتوي . بخاري او مسلم.

د يتيم روزنه

(۴۷۳۵): وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ له ولغيره فِي الْجَنَّةِ هٰكَذَا او اشار بالسَّبَّابَةِ وَالْوُسْطٰى وَفَرَّجَ بَيْنَهُمَا شَيْئًا . رواه البخاري.

د حضرت سهل بن سعد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زه او د يتيم پالونكى كه هغه يتيم يې خپل وي يا پردى په جنت كي به زما سره داسي وي (د دې فرمايلو سره يې د شهادت او منځنۍ گوته وښودله) او د دواړو گوتو په منځ كي يې لږ دول پراخي وه . بخاري.

مؤمنان د يوه بدن په ډول

(۴۷۳۶): وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرَى الْمُؤْمِنِينَ فِي تَرَاحُمِهِمْ وَتَوَادِّهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ كَمَثَلِ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى عُضْوًا تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ جَسَدِهِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمّٰى. متفق عليه.

د حضرت نعمان بن بشير ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ته به مؤمنان په خپل منځ كي داسي رحم كونكي، محبت كونكي او مهرباني كونكيويني لكه يو بدن ، هر كله چي د بدن يو اندام درد كوي نو د بدن ټول اندامونه په هغه درد كي شريك وي او په بيداري او تبه كي ټول بدن شريك وي . بخاري او مسلم.

(۴۷۳۷): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُؤمنونَ كَرَجُلٍ وَاحِدٍ إِنْ اشْتَكَى عَيْنُهُ اشْتَكَى كُلُّهُ وَإِنْ اشْتَكَى رَأْسُهُ اشْتَكَى كُلُّهُ . رواه مسلم.

د حضرت نعمان بن بشير ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ټول مؤمنان په ډول د يو سړي دي (يعني د يوه سړي د اندامو په ډول دي) هر كله چي د هغه سترگه خوږ سي نو ټول بدن يې درد كوي او كه پر سر يې درد وي نو ټول بدن يې هغه درد محسوس وي . مسلم.

(۴۷۳۸): وَعَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا ثُمَّ شَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ . متفق عليه.

د حضرت ابو موسى ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: مسلمان د مسلمان لپاره د يو سراى په ډول دي چي د سراى يوه برخه دويمه برخه ټينگوي ، ددې فرمايلو سره رسول الله ﷺ د يوه لاس گوتي د بل لاس په گوتو كي دننه كړې او وه يې ښودل چي ټول مسلمانان داسي سره يو ځاى دي . بخاري او مسلم.

د اړكس سفارش كول ښه كار دى

(۴۷۳۹): وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابو موسى ﷺ څخه روايت دئ چي نبي كريم

وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ إِذَا أَتَاهُ السَّائِلُ أَوْ صَاحِبُ الْحَاجَةِ قَالَ اشْفَعُوا فَلْتُؤْجَرُوا وَيَقْضِي اللَّهُ عَلَى لِسَانِ رَسُولِهِ مَا شَاءَ. متفق عليه.

ﷺ ته به يو سوال كونكى يا ار كس راغلئ نو رسول الله ﷺ به صحابه كرامو ته وويل : دده سفارش وكرئ د سفارش ثواب به درته ترلاسه سي او (داسي خو) الله تعالى د خپل رسول د ژبي څخه چي كوم حكم غواړي جاري كوي . بخاري او مسلم

### د ظالم او مظلوم مرسته

(۴۷۴۰): وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْصُرْ أَخَاكَ ظَالِمًا أَوْ مَظْلُومًا فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ ! نَصَرْتُهُ مَظْلُومًا فَكَيْفَ أَنْصُرُهُ ظَالِمًا قَالَ تَمْنَعُهُ مِنَ الظُّلْمِ فذالك نَصْرُ اياه. متفق عليه.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د (خپل) مسلمان ورور مرسته كوه كه څه هم هغه ظالم وي يا مظلوم، يو سړي وويل اې دالله رسوله ! د مظلوم خو زه مرسته كوم مگر د ظالم څرنگه مرسته وكرم ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل هغه د ظلم څخه منع كړه ستاد هغه د ظلم څخه منع كول د هغه مرسته كول دي . بخاري او مسلم.

### مسلمان د مسلمان ورور دی

(۴۷۴۱): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يُسْلِمُهُ وَمَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللَّهُ فِي حَاجَتِهِ وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً فَرَّجَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرُبَاتِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . متفق عليه.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : مسلمان د مسلمان ورور دئ ، نه دي يو پر بل ظلم كوي او نه دي هغه په هلاكت كي غورځوي ، او كوم سړى چي د يو مسلمان ورور په ارتيا كي مرسته وكړي الله تعالى به د هغه ارتيا پوره كړي او څوك چي د يو مسلمان غم او مصيبت او مشكل ليري كړي الله تعالى به د هغه مصيبت او غم ليري كړي ، او څوك چي د يو مسلمان (ورور) عيب پټ كړي نو د قيامت په ورځ به الله تعالى د هغه پر عيب پرده واچوي . بخاري او مسلم.

### مسلمان ذليل نه گڼل

(۴۷۴۲): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يَخْذُلُهُ وَلَا يَحْقِرُهُ التَّقْوَى هَاهُنَا وَيُشِيرُ إِلَى

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : مسلمان د مسلمان ورور دی يو مسلمان دي پر بل مسلمان ظلم نه كوي نه دي

صَدْرِهِ ثَلَاثَ مِرَارٍ بِحَسْبِ امْرِئٍ مِنَ الشَّرِّ أَنْ يَحْقِرَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ دَمُهُ وَمَالُهُ وَعِرْضُهُ . رواه مسلم.

هغه رسوا كوي او نه دي يې ذليل او حقير ګڼي ، تقوا په دې كې ده ، ددې فرمايلو سره رسول الله ﷺ درې واره د خپل سينې په لور اشاره وكړل بيا يې وفرمايل : د انسان لپاره دومره بدي كافي ده چې هغه خپل مسلمان ورور حقير او ذليل وګڼي ، د مسلمان ټول ژوند او ټوله شيان پر مسلمان حرام دي يعني د مسلمان وينه، د مسلمان مال، او د مسلمان عزت . مسلم.

## جنتي او دوزخي

(۴۷۴۳): وَعَنْ عِيَاضِ بْنِ حِمَارٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْلُ الْجَنَّةِ ثَلَاثَةٌ ذُو سُلْطَانٍ مُقْسِطٌ مُتَصَدِّقٌ مُوَفَّقٌ وَرَجُلٌ رَحِيمٌ رَقِيقُ الْقَلْبِ لِكُلِّ ذِي قُرْبَى وَمُسْلِمٍ وَعَفِيفٌ مُتَعَفِّفٌ ذُو عِيَالٍ وَأَهْلُ النَّارِ خَمْسَةٌ الضَّعِيفُ الَّذِي لَا زَبْرَ لَهُ الَّذِينَ هُمْ فِيكُمْ تَبَعٌ لَا يَبْغُونَ أَهْلًا وَلَا مَالًا وَالْخَائِنُ الَّذِي لَا يَخْفَى لَهُ طَمَعٌ وَإِنْ دَقَّ إِلَّا خَانَهُ وَرَجُلٌ لَا يُصْبِحُ وَلَا يُمْسِي إِلَّا وَهُوَ يُخَادِعُكَ عَنْ أَهْلِكَ وَمَالِكَ وَذَكَرَ الْبُخْلَ أَوِ الْكَذِبَ وَالشِّنْظِيرُ الْفَحَّاشُ .رواه مسلم.

د حضرت عياض بن حمار ؓ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : درې دوله خلك جنتيان دي : (۱) يو هغه حاكم چې عدل او انصاف كونكى او احسان كونكى وي او هغه ته د ښيګڼو توفيق وركړل سوى وي (۲) دويم هغه كس چې مهربانه وي او د خپلوانو او مسلمانانو لپاره نرم دله وي يعني پر خپل او پرديو دواړو باندې مهربانه وي . (۳) دريم هغه كس چې د حرامو شيانو څخه ځان ژغورونكى وي . د سوال كولو څخه پرهيز كوي د اهل او عيال په اړه پر الله تعالى باور كونكى وي ، او پنځه دوله خلك دوږخيان دي : (۱) يو هغه كمزور عقله چې د هغه كمزوري هغه د نامناسبه كارونو څخه منع نه كړي او دا سړي د هغه خلكو څخه دئ كوم چې ستاسو تابع او خادمان دي هغه تابع او خادم چې د ښځې او مال پروا نه لري (يعني دخپلو بدو كارونو په سبب د خپل ښځې څخه بې پروا وي او په حرام كار كې خوشحاله وي او نه يې د مال پروا سته چې حرام اوحلال هر څه چې د نس دكولو لپاره ورته تر لاسه سي هغه بس ګڼي، (۲) : دويم هغه سړى چې خيانت كونكي او بد ديانته وي او د هغه طمع هغه پر آرامه ناستې ته نه پريږدي او هغه دهر پټ شي په لټه كې وي چې هغه تر لاسه كړي او په هغه كې بد ديانتي وكړي كه څه هم چې هغه يو ډير معمولي شى وي . (۳) : دريم هغه كس چې سهار او ماښام ستا په كورنۍ او مال كې د چم كولو په فكر كې وي ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ د بخيل، دروغجن او فحش ويونكي ذكر وكړ يعني پاته دوه كسان دادي چې يو په هغو كې بخيل يا

دروغجن وي او دويم بد خلق او بد ويونكى وي . مسلم.

**دمؤمن لپاره هغه خوښول چي ځان ته يې خوښوي**

(۴۷۴۴): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا يُؤْمِنُ عَبْدٌ حَتّٰى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ. متفق عليه.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : قسم په خداى چي د هغه په واك كي زما ساه ده بنده تر هغه وخته پوري پوره مؤمن كيدلاى نه سي تر څو پوري چي د خپل مسلمان ورور لپاره هم هغه شى خوښ نه كړي كوم چي د ځان لپاره خوښوي . بخاري او مسلم

**همسايه ته تكليف نه وركول**

(۴۷۴۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللّٰهِ لَا يُؤْمِنُ وَاللّٰهِ لَا يُؤْمِنُ وَاللّٰهِ لَا يُؤْمِنُ قِيلَ مَنْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ الَّذِي لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : قسم په خداى هغه سړى ايماندار نه دئ ، قسم په خداى هغه سړى ايماندار نه دئ ، قسم په خداى هغه سړى ايماندار نه دئ ، پوښتنه وسول اي دالله رسوله ! څوك ايماندار نه دئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه څوك چي د هغه د شر څخه د هغه همسايگان په آمان كي نه وي . بخاري او مسلم

**د همسايه سره ښه سلوك**

(۴۷۴۶): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ. رواه مسلم.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه څوك به جنت ته نه ځي چي د هغه همسايه د هغه د شر او فساد څخه خوندي نه وي . مسلم.

(۴۷۴۷): وَعَنْ عَائِشَةَ وَابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا زَالَ جِبْرِيلُ يُوصِينِي بِالْجَارِ حَتّٰى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُوَرِّثُهُ. متفق عليه.

د حضرت عائشي او ابن عمر (رضي الله عنهما) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : جبرائيل عليه السلام به همېشه ما ته د همسايگانو د حقوقو ادا كولو هدايت كاوه تر دي چي ما دا خيال وكړ چي جبرائيل عليه السلام به همسايگان وارثان وگرځوي . بخاري او مسلم.

**په څوړكي پټي خبري كول**

(۴۷۴۸): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كُنْتُمْ ثَلَاثَةً فَلَا

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كه تاسو دري كسان

| | |
|---|---|
| يَتَنَاجَى اثْنَانِ دُونَ الْآخَرِ حَتَّى تَخْتَلِطُوا بِالنَّاسِ مِنْ أَجْلِ أَنْ يُحْزِنَهُ . متفق عليه. | يو خاى ياست نو دوه كسان دي په خپل منځ كي په غوږ كي (پټي) خبري نه كوي تر څو پوري |

چي ډير كسان يو ځاى نه سئ (يعني هر كله چي ډير كسان يو ځاى سي نو بيا د دوو كسانو په خپل منځ كي پټي خبري منع نه دي) او دا له دې كبله چي داسي غوږ كي خبره كولو سره دريم كس خفه نه سي . بخاري او مسلم.

**دين د خير خواهي نوم دئ**

| | |
|---|---|
| (۴۷۴۹): وَعَنْ تَمِيمٍ الدَّارِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الدِّينُ النَّصِيحَةُ ثلاثا قُلْنَا لِمَنْ قَالَ لِلّٰهِ وَلِكِتَابِهِ وَلِرَسُولِهِ وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ وَعَامَّتِهِمْ . رواه مسلم. | د حضرت تميم داري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دين دخير خواهي او نصيحت نوم دئ ، رسول الله ﷺ دا الفاظ دري واره وفرمايل ، موږ پوښتنه وكړه (اي د الله رسوله!) دا خيرخواهي |

او نصيحت د چا لپاره دئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله لپاره ، د الله د كتاب لپاره ، د الله د رسول لپاره ، د مسلمانانو د امامانو لپاره او د عامو مسلمانانو لپاره . مسلم.

**د مسلمانانو خيراخواهي**

| | |
|---|---|
| (۴۷۵۰): وَعَنْ جَرِيرِ بن عبدالله قَالَ بَايَعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى إِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَالنُّصْحِ لِكُلِّ مُسْلِمٍ. متفق عليه. | د حضرت جرير ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ پر لاس ددې خبرو بيعت وكړ يعني دلمانځه د ادا كولو ، د زكوة وركولو او د هر |

مسلمان د خير خواهي . بخاري او مسلم.

## دويم فصل

**د بد بخته زړه د رحم او شفقت څخه خالي**

| | |
|---|---|
| (۴۷۵۱): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا الْقَاسِمِ الصَّادِقُ الْمَصْدُوقُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا تُنْزَعُ الرَّحْمَةُ إِلَّا مِنْ شَقِيٍّ..رواه احمد والترمذي. | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي ما د حضرت ابو القاسم الصادق المصدوق ﷺ څخه دا واوريدل چي رحمت او رحم د چا د زړه څخه نه سي ايستل كيدلاى مګر د بد بخته د زړه څخه . احمد او ترمذي. |

**پر مځكه والا رحم وكړه**

| | |
|---|---|
| (۴۷۵۲): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ | د حضرت عبد الله بن عمرو ﷺ څخه روايت دئ |

اللّٰهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّاحِمُونَ يَرْحَمُهُمُ الرَّحْمٰنُ ارْحَمُوا من في الْأَرْضِ يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ. رواه ابوداؤد والترمذي.

چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د الله ﷺ پر مخلوق رحم او شفقت كوي ، رحمان ﷺ به پر هغوئ رحم او شفقت كوي ، تاسو پر مځكه والا رحم او شفقت كوئ آسمان والا به پر تاسو رحم وكړي . ابوداؤد او ترمذي.

**پر کشرانو رحم او د مشرانو عزت**

(۴۷۵۳): وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَرْحَمْ صَغِيرَنَا وَلَمْ يُوَقِّرْ كَبِيرَنَا وَيَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه څوك زموږ څخه نه دئ چي زموږ پر كشرانو رحم ونه كړي او زموږ د مشرانو عزت ونه كړي ، دنيكۍ حكم ور نه كړي او د بدۍ څخه منع ونه كړي . ترمذي ويلي دا حديث غريب دئ .

(۴۷۵۴): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَكْرَمَ شَابٌّ شَيْخًا من اجل سنه إِلَّا قَيَّضَ اللّٰهُ لَهُ عند سنه مَنْ يُكْرِمُهُ . رواه الترمذي.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كوم خوان چي د يو سپين ږيري سړي د هغه د سپين ږيرتوب له كبله د هغه عزت وكړي الله تعالى به د هغه د سپين ږيرتوب په وخت كي يو داسي سړي و تاكي چي د هغه عزت به كوي . ترمذي.

**عالم، حافظ او عادل پاچا**

(۴۷۵۵): وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان مِنْ إِجْلَالِ اللّٰهِ إِكْرَامَ ذِي الشَّيْبَةِ الْمُسْلِمِ وَحَامِلِ الْقُرْآنِ غَيْرِ الْغَالِي فيه ولاالْجَافِي عَنْهُ وَإِكْرَامَ السُّلْطَانِ الْمُقْسِطِ. رواه ابوداؤد والبيهقي في شعب الايمان.

د حضرت ابو موسى ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د سپين ږيري مسلمان عزت كول د قرآن ويونكي حافظ يا مفسر يا قرآن ويونكي عزت كول چي هغه د قرآن په الفاظو او معنى كي زياتي نه كوي او د عادل پاچا تعظيم كول هم يو ډول د الله تعالى د تعظيم څخه دئ . ابوداؤد او بيهقي په شعب الايمان كي .

**د يتيم سره ښه چلن كول**

(۴۷۵۶): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ بَيْتٍ فِي الْمُسْلِمِينَ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د مسلمانانو په كورونو كي غوره

بَيْتٌ فِيهِ يَتِيمٌ يُحْسَنُ إِلَيْهِ وَشَرُّ بَيْتٍ فِي الْمُسْلِمِينَ بَيْتٌ فِيهِ يَتِيمٌ يُسَاءُ إِلَيْهِ . رواه ابن ماجة.

کور هغه دئ چي په هغه کي يتيم وي او د هغه سره احسان او ښه چلن کيږي او دمسلمانانو په کورونو کي بد ترين کور هغه دئ چي په هغه کي يتيم وي او د هغه سره خراب چلن کيږي . ابن ماجه.

(۴۷۵۷): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ مَسَحَ رَأْسَ يَتِيمٍ لَمْ يَمْسَحْهُ إِلَّا لِلّٰهِ كَانَ لَهُ بِكُلِّ شَعْرَةٍ تَمُرُّ عَلَيْهَا يَدُهُ حَسَنَاتٌ وَمَنْ أَحْسَنَ إِلَى يَتِيمَةٍ أَوْ يَتِيمٍ عِنْدَهُ كُنْتُ أَنَا وَهُوَ فِي الْجَنَّةِ كَهَاتَيْنِ وَقَرَنَ بَيْنَ إِصْبَعَيْهِ . رواه أحمد والترمذي وقال : هذا حديث غريب .

د حضرت ابوامامه ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د الله ﷻ د رضا لپاره د يو يتيم پر سر لاس تېر كړي نو د يتيم پر سر د هر وريښته په عوض كي چي پر هغو د هغه لاس تېر سي نيكي ليكل كيږي او څوك چي د هغه يتيم كوچنى سره چي د هغه په روزنه كي وي احسان كوي نو هغه به (زماسره) په جنت كي داسي وي لكه څرنګه چي دا (زما) دوې ګوتي يو ځاى دي، رسول الله ﷺ خپلي ګوتي مباركي يو ځاى كړي وښودلې . احمد او ترمذي ، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

(۴۷۵۸): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ آوَى يَتِيمًا إِلَى طَعَامِهِ وَشَرَابِهِ أَوْجَبَ اللهُ لَهُ الْجَنَّةَ الْبَتَّةَ إِلَّا أَنْ يَعْمَلَ ذَنْبًا لَا يُغْفَرُ وَمَنْ عَالَ ثَلَاثَ بَنَاتٍ أَوْ مِثْلَهُنَّ مِنَ الْأَخَوَاتِ فَأَدَّبَهُنَّ وَرَحِمَهُنَّ حَتّٰى يُغْنِيَهُنَّ اللهُ أَوْجَبَ اللهُ لَهُ الْجَنَّةَ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ او اثْنَتَيْنِ ؟ قَالَ او اثْنَتَيْنِ حَتّٰى لو قَالُوا أَوْ وَاحِدَةً لَقَالَ وَاحِدَةً وَمَنْ أَذْهَبَ اللهُ بِكَرِيمَتَيْهِ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا كَرِيمَتَاهُ قَالَ عَيْنَاهُ . رواه في شرح السنة.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي په خوراك او څښاك كي يتيم ته برخه وركړي نو د هغه لپاره الله تعالى جنت واجب كړي ، يقينا تر څو پوري چي هغه داسي ګناه ونه كړي چي د بخښلو وړ نه وي او څوك چي ددرو لونو يا درو خويندو روزنه وكړي هغوئ ته ادب وښيي پر هغوئ رحم او شفقت وكړي تر څو چي الله تعالى هغوئ بې پروا كړي (يعني هغوئ بالغي سي او نكاح يې وسي او دخاوند كور ته ولاړې سي) نو داسي كس لپاره الله تعالى جنت واجب كوي ، يو سړي وويل: اې دالله رسوله ! او د دوو لونو يا خويندو د روزني څومره ثواب دئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : د دوو هم دغه ثواب دئ . كه صحابه كرامو د يوې لور يا خور د روزني په اړه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه كړې واى نو د يوې په اړه به يې هم داسي

فرمايلي واى ، او رسول الله ﷺ وفرمايل : د چا څخه چي الله تعالى دوه محبوب شيان واخلي (يعني دوې سترګي) نو د هغه لپاره جنت واجب سو ، پوښتنه وسول اې دالله رسوله ! دوه محبوب شيان كوم دي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : دوې سترګي . شرح السنه.

**د اولاد ښه تربيت**

(۲۷۵۹): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَأَنْ يُؤَدِّبَ الرَّجُلُ وَلَدَهُ خَيْرٌ له مِنْ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِصَاعٍ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب وناصح الراوي ليس عند اصحاب الحديث بالقوي.

د حضرت جابر بن سمرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د انسان خپل اولاد ته د ادب يوه خبره ښودل د يوه صاع غلې او خيرات كولو څخه غوره دي . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ او ناصح راوي د محدثينو په نزد قوي نه دئ .

(۲۷۶۰): وَعَنْ أَيُّوبَ بْنِ مُوسَى عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا نَحَلَ وَالِدٌ وَلَدًا مِنْ نَحْلٍ أَفْضَلَ مِنْ أَدَبٍ حَسَنٍ . رواه الترمذي والبيهقي في شعب الايمان وقال الترمذي هذا عندي حديث مرسل.

حضرت ايوب بن موسى ؓ د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : پلار خپل زوى ته تر نيك ادب ښودلو غوره هيڅ شى نه سي وركولاى . ترمذي او بيهقي، د ترمذي په نزد دا حديث مرسل دئ .

(۲۷۶۱): وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَامْرَأَةٌ سَفْعَاءُ الْخَدَّيْنِ كَهَاتَيْنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَوْمَأَ يَزِيدُ بابن زريع الوسطى وَالسَّبَّابَةِ امْرَأَةٌ آمَتْ مِنْ زَوْجِهَا ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ حَبَسَتْ نَفْسَهَا عَلَى يَتَامَاهَا حَتَّى بَانُوا أَوْ مَاتُوا. رواه ابوداؤد.

د حضرت عوف بن مالك اشجعي ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زه او د تورو پيكيانو والا ښځه به د قيامت په ورځ داسي وي ، يزيد بن زريع ددې حديث يو راوي منځني ګوته او د شهادت ګوتي ته اشاره كولو سره وښودل لكه څرنګه چي دا دوې ګوتي نژدې دي ، داسي به رسول الله ﷺ او هغه ښځه د قيامت په ورځ نژدې نژدې وي ، د تورو پيكيانو والا ښځي تشريح كول يې وښودل چي ددې څخه مراد هغه ښځه ده چي د هغې خاوند مړ سوى وي يا هغه طلاق وركړى وي هغه منصب او ښكلا ولري مګر هغې د يتيمانو د روزني په خيال دويمه نكاح نه وي كړې او خپل خواهشات يې منع كړي وي تر څو چي د هغې كوچنيان څوانان سي او دهغې څخه بيل سي (يعني چي بې حاجته سي ځيني په بلوغ قوت عقل او كاروبار خپل كي) . ابوداؤد.

(۴۷۶۲): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَتْ لَهُ أُنْثَى فَلَمْ يَئِدْهَا وَلَمْ يُهِنْهَا وَلَمْ يُؤْثِرْ وَلَدَهُ عَلَيْهَا يَعْنِي الذُّكُورَ أَدْخَلَهُ اللّٰهُ الْجَنَّةَ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عباس ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د كوم چا چي يوه لور وي او هغه (د جاهليت د زماني په دول ژوندى ښخه كړي نه وي نه يې هغه ذليله او خوراه ساتلي وي (د مال او جائيداد په حق كي يې) هلكانو ته پر هغې غوره والى نه وي وركړى نو الله تعالى به هغه په جنت كي داخل كړي . ابوداؤد.

**څوك غيبت كولو ته مه پرېږدئ**

(۴۷۶۳): وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اغْتِيبَ عِنْدَهُ أَخُوهُ الْمُسْلِمُ وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَى نَصْرِهِ فَنَصَرَهُ نَصَرَهُ اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ فَإِنْ لَمْ يَنْصُرْهُ وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَى نَصْرِهِ أَدْرَكَهُ اللّٰهُ بِهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ . رواه في شرح السنة.

د حضرت انس ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د چا په مخكي چي د يو مسلمان وررور غيبت وكړل سي او هغه د هغه مسلمان وررور په مرسته كولو قادر سو او د هغه مرسته يې هم وكړه (يعني د غيبت څخه يې منع كړي) نو الله تعالى به په دنيا او آخرت دواړو كي د هغه مرسته وكړي، او كه د هغه مرسته يې نه وكړل او د هغه په مرسته كولو قادر هم وو نو الله تعالى به مؤاخذه كوي په دنيا او آخرت كي به بدله څيني واخلي . شرح السنة.

(۴۷۶۴): وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ ذَبَّ عَنْ لَحْمِ أَخِيهِ بِالْمَغِيبَةِ كَانَ حَقًّا عَلَى اللّٰهِ أَنْ يُعْتِقَهُ مِنَ النَّارِ . رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت اسماء بنت يزيد (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د خپل مسلمان وررور غائبانه د غوښو خوړلو څخه يعني غيبت كولو څخه منع كړي نو پر الله ﷻ د هغه دا حق دئ چي هغه د دوږخ د اور څخه آزاد كړي . بيهقي.

(۴۷۶۵): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَرُدُّ عَنْ عِرْضِ أَخِيهِ إِلَّا كَانَ حَقًّا عَلَى اللّٰهِ أَنْ يَرُدَّ عَنْهُ نَارَ جَهَنَّمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثُمَّ تَلَا هٰذِهِ الْآيَةَ وَكَانَ حَقًّا

د حضرت ابو درداء ﷛ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي كوم مسلمان يو څوك د يو مسلمان وررور د بې عزتى څخه منع كړي (يعني چي څوك غيبت د يو مسلمان كوي او دوئ يې څيني منع كړي) نو پر الله تعالى د

عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ. رواه في شرح السنة.

هغه حق دئ چي هغه د دوږخ د اور څخه وساتي يا د قيامت په ورځ د دوږخ اور د هغه څخه منع کړي، نو بيا رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ: (کان حقا علينا.....) او پر موږ باندي د مؤمنانو مرسته واجب ده. شرح السنة.

(۴۷۶۶): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ امْرِئٍ مسلم يَخْذُلُ امْرَأً مُسْلِمًا فِي مَوْضِعٍ ينتهكُ فِيهِ حُرْمَتُهُ وَيُنْتَقَصُ فِيهِ مِنْ عِرْضِهِ إِلَّا خَذَلَهُ اللّٰهُ فِي مَوْطِنٍ يُحِبُّ فِيهِ نُصْرَتَهُ وَمَا مِنْ امْرِئٍ مسلم يَنْصُرُ مُسْلِمًا فِي مَوْضِعٍ يُنْتَقَصُ مِنْ عِرْضِهِ وَيُنْتَهَكُ فِيهِ مِنْ حُرْمَتِهِ إِلَّا نَصَرَهُ اللّٰهُ فِي مَوْطِنٍ يُحِبُّ فيه نُصْرَتَهُ. رواه ابوداؤد.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم مسلمان چي د خپل مسلمان ورور پر هغه موقع مرسته ونه کړي کوم ځاى چي د هغه بې عزتي کيږي نو الله تعالى به پر هغه موقع د هغه مرسته ونه کړي په کوم ځاى کي چي هغه د الله تعالى مرسته خوښوي (يعني په دنيا او آخرت کي) او کوم مسلمان چي د خپل مسلمان ورور پر هغه موقع مرسته وکړي په کوم ځاى کي چي د هغه بې حرمتي کيږي نو الله تعالى به پر هغه موقع دهغه مرسته وکړي په کوم ځاى کي چي د هغه مرسته خوښوي. (يعني ورته ضرورت يې وي). ابوداؤد.

(۴۷۶۷): وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ رَأَى عَوْرَةً فَسَتَرَهَا كَانَ كَمَنْ أَحْيَا مَوْءُودَةً. رواه احمد والترمذي.

د حضرت عقبة بن عامر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د يو مسلمان يو عيب ويني او هغه پټ کړي نو د هغه ثواب د هغه سړي برابر وي چي هغه ژوندى ښخ کړې انجلۍ وژغوري. احمد او ترمذي.

**مسلمان د بل مسلمان هنداره ده**

(۴۷۶۸): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَحَدَكُمْ مِرْآةُ أَخِيهِ فَإِنْ رَأَى بِهِ أَذًى فَلْيُمِطْ عَنْهُ. رواه الترمذي و ضعفه وفي رواية له ولابي داؤد المؤمن مرآة المؤمن والمؤمن اخو المؤمن يكف عنه ضيعته ويحوطه من ورائه.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کي هر څوک د خپل مسلمان ورور هنداره ده، که په هغه کي يو خرابي ويني، نو هغه دي خيني ليري کړي، ترمذي او د ترمذي او ابوداؤد په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي مسلمان د مسلمان هنداره ده او مسلمان د مسلمان ورور دئ د هغه څخه دي هغه شى ليري او دفع کړي چي په هغه کي د هغه

هلاکت پټ وي او د هغه حق د هغه په نه شتون کي هم خوندي ساتي .

### تهمت ویل

(۲۷۶۹): وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَمَى مُؤْمِنًا مِنْ مُنَافِقٍ بَعَثَ اللّٰهُ مَلَكًا يَحْمِي لَحْمَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ نَارِ جَهَنَّمَ وَمَنْ رَمَى مُسْلِمًا بِشَيْءٍ يُرِيْدُ بِهِ شَيْنَهُ حَبَسَهُ اللّٰهُ عَلَى جِسْرِ جَهَنَّمَ حَتَّى يَخْرُجَ مِمَّا قَالَ . رواه ابوداؤد.

د حضرت معاذبن انس ﵁ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چي یو مسلمان د یو منافق د شر څخه وژغوري الله تعالی به د هغه مرستي ته یوه ملائکه راولیږي چي هغه به د قیامت په ورځ د دوزخ د اور څخه ساتي او کوم سړی چي پر یو مسلمان داسي تهمت ولګوي چي پر هغه عیب لګوي او عیب لګول د هغه مقصد وي نو الله تعالی به هغه د دوزخ پر پل بندي کړي (یعني پر پل صراط) تر څو چي د هغه سزا پوره سي یا هغه مدعی راضي کړي . ابوداؤد.

### غوره ملګری او همسایه

(۲۷۷۰): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ الْاَصْحَابِ عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرُهُمْ لِصَاحِبِهِ وَخَيْرُ الْجِيْرَانِ عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرُهُمْ لِجَارِهِ . رواه الترمذي والدارمي وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب.

د حضرت عبد الله بن عمرو ﵁ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله ﷻ په نزد په دوستانو کي غوره دوست هغه دئ چي د خپل دوست خیر خواه وي او غوره همسایه د الله تعالی په نزد هغه دئ چي د خپل همسایه خیر خواه وي . ترمذي، دارمي او ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن غریب دئ .

### د نیکی او بدی معلومول

(۲۷۷۱): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَجُلٌ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يارسول الله كَيْفَ لِي اَنْ اَعْلَمَ اِذَا اَحْسَنْتُ او اذا اَسَأْتُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا سَمِعْتَ جِيْرَانَكَ يَقُوْلُوْنَ قَدْ اَحْسَنْتَ فَقَدْ اَحْسَنْتَ وَاِذَا سَمِعْتَهُمْ يَقُوْلُوْنَ قَدْ اَسَأْتَ فَقَدْ اَسَأْتَ. رواه ابن ماجة.

د حضرت ابن مسعود ﵁ څخه روایت دئ چي یو سړي نبي کریم ﷺ ته وویل: اې د الله رسوله ! زه دا خبره څنګه معلومه کړم چي دا کار ما نیک کړی دئ یا بد ؟ نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: کله چي ته د یو کار په اړه د همسایګانو څخه دا واورې چي تا ښه کار وکړ نو هغه ستا ښه کار دئ او هر کله چي ته د همسایګانو څخه دا واورې چي تا خراب کار وکړ نو هغه ستا خراب کار دئ . ابن ماجه.

### د مرتبې سره سم چلن کول

(۴۷۷۲): وَعَنْ عَائِشَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَنْزِلُوا النَّاسَ مَنَازِلَهُمْ. رواه ابوداؤد

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: خلك د هغوئ په مرتبه كي ولرئ. (يعني د كومي مرتبې سړئ چي وي د هغه سره هم هغسي چلن كوئ) ابوداؤد.

## دريم فصل

### رښتيا ويل امانت ادا کول

(۴۷۷۳): عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِيْ قُرَادٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ يَوْمًا فَجَعَلَ أَصْحَابُهُ يَتَمَسَّحُوْنَ بِوَضُوْئِهِ فَقَالَ لَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يَحْمِلُكُمْ عَلَى هٰذَا قَالُوْا حُبُّ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُّحِبَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ أَوْيُحِبَّهُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ فَلْيَصْدُقْ حَدِيْثَهُ إِذَا حَدَّثَ وَلْيُؤَدِّ أَمَانَتَهُ إِذَا اؤْتُمِنَ وَلْيُحْسِنْ جِوَارَ مَنْ جَاوَرَهُ. رواه البيهقي.

د حضرت عبد الرحمن بن ابي قراد ﷺ څخه روايت دئ چي يوه ورځ رسول الله ﷺ اودس وكړ او صحابه كرامو د اوداسه اوبه پر خپل بدن موږلې، (ددې په ليدو سره) رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: كوم شي تاسو پر دې اماده كړي ياست، صحابه كرامو وويل: الله ﷺ او د الله د رسول مينې، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: د چا چي دا خبره خوښه وي چي هغه الله او د الله ﷺ د رسول سره مينه وساتي نو هغه ته پكار ده چي هغه په خپلو خبرو كي رښتيا وايي، كه هغه سره امانت كښېښودل سي نو په سمه طريقه سره امانت ادا كړي او د همسايگانو د همسايتوب ښه حق ادا كړي. بيهقي.

### وږی همسايه

(۴۷۷۴): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالَّذِيْ يَشْبَعُ وَجَارُهُ جَائِعٌ إِلَى جَنْبِهِ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا واوريدل چي هغه څوك پوره مؤمن نه دئ چي خپله په ماړه نس خوراك وكړي او د څنګ همسايه يې وږی وي. بيهقي.

### جنت او دوږخ ته تلونكي ښځې

(۴۷۷۵): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّ فُلَانَةَ تُذْكَرُ مِنْ كَثْرَةِ صَلَاتِهَا وَصِيَامِهَا وَصَدَقَتِهَا غَيْرَ أَنَّهَا تُؤْذِيْ جِيْرَانَهَا بِلِسَانِهَا

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړي وويل: اې دالله رسوله! فلانۍ ښځه په لمونځ كولو، روژو نيولو او خيرات كولو كي

قَالَ هِيَ فِي النَّارِ قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَإِنَّ فُلَانَةَ يذكر قِلَّة صِيَامِهَا وَصَدَقَتِهَا وَصَلَاتِهَا وَإِنَّهَا تُصَدِّقُ بِالْأَثْوَارِ مِنَ الْأَقِطِ وَلَا تُؤْذِي بِلِسَانِهَا جِيرَانَهَا قَالَ هِيَ فِي الْجَنَّةِ .رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان.

شهرت لري مګر په خپله ژبه سره همسايګانو ته تكليف رسوي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: هغه به دوزخ ته ځي، هغه سړي وويل: اې د الله رسوله! فلانۍ ښځه د هغې په اره ويل كيږي چې روژې كمې نيسي ، خيرات هم ډير كم كوي او لمونځ هم كم كوي او هغه يوازي د پنير يو څو ټوټې د الله ﷺ په لار كي وركوي مګر په خپله ژبه سره همسايګانو ته تكليف نه وركوي، رسول الله ﷺ وفرمايل هغه به جنت ته ځي . احمد او بيهقي.

**غوره مسلمان**

(۴۷۷۶): وَعَنْهُ قَالَ انَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَفَ عَلَى نَاسٍ جُلُوسٍ فَقَالَ أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِكُمْ مِنْ شَرِّكُمْ قَالَ فَسَكَتُوا فَقَالَ ذَلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَقَالَ رَجُلٌ بَلَى يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَخْبِرْنَا بِخَيْرِنَا مِنْ شَرِّنَا فَقَالَ خَيْرُكُمْ مَنْ يُرْجَى خَيْرُهُ وَيُؤْمَنُ شَرُّهُ وَشَرُّكُمْ مَنْ لَا يُرْجَى خَيْرُهُ وَلَا يُؤْمَنُ شَرُّهُ. رواه الترمذي و البيهقي في شعب الايمان وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې صحابه كرام ناست وه چې رسول الله ﷺ ولاړ سو او وه يې فرمايل: ايا زه ستاسو غوره خلك د بدترينو خلكو څخه بيل كړي وښيم، د ابوهريرة ﷺ بيان دئ چې ددې په اوريدو سره ټول صحابه كرام پټه خوله سول او څه هيڅ ونه ويل ، تر دې چې رسول الله ﷺ درې واره دا الفاظ وفرمايل ، بيا يو سړي وويل: هو، اې د الله رسوله ! زمونږ غوره كسان د بدترينو كسانو څخه راته وښياست، رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو كي غوره كسان هغه دي چې د هغه د نيكۍ خلك اميدوار وي او د هغه دشر څخه خلك په امان وي او بدترين خلك هغه دي چې د هغه د نيكۍ خلك اميدوار نه وي او د هغه دشر څخه خلك په امان نه وي ،. ترمذي او بيهقي په شعب الايمان كي او ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دئ.

**كامل مؤمن او مسلمان**

(۴۷۷۷): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ قَسَمَ بَيْنَكُمْ أَخْلَاقَكُمْ كَمَا قَسَمَ بَيْنَكُمْ أَرْزَاقَكُمْ إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يُعْطِي الدُّنْيَا مَنْ يُحِبُّ وَمَنْ لَا يُحِبُّ وَلَا يُعْطِي الدِّينَ إِلَّا مَنْ أَحَبَّ فَمَنْ أَعْطَاهُ اللّٰهُ الدِّينَ فَقَدْ أَحَبَّهُ وَالَّذِي

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى ستاسو په منځ كي اخلاق داسي ويشلي دي لكه څرنګه چې ستاسو په منځ كي رزق ويشلى دئ ، الله تعالى هغه جا ته دنيا وركوي څوك چې د خداى ﷺ

نَفْسِي بِيَدِهِ لَا يُسْلِمُ عَبْدٌ حَتَّى يَسْلَمَ قَلْبُهُ وَلِسَانُهُ وَلَا يُؤْمِنُ حَتَّى يَأْمَنَ جَارُهُ بَوَائِقَهُ. رواه احمد والبيهقي.

خوښ وي او هغه چا ته هم دنيا وركوي چي د خداى ﷻ خوښ نه وي (كافر) ، او دين يوازي هغه چا ته وركوي چي د خداى ﷻ خوښ وي، چا ته چي الله تعالى دين وركرى دئ الله تعالى هغه خوښوي ، په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په واك كي زما ساه ده بنده تر هغه وخته پوري پوره مسلمان كيدلاى نه سي تر څو پوري چي د هغه زړه او ژبه مسلمانه نه وي او بنده تر هغه وخته پوري (پوره) مؤمن كيدلاى نه سي تر څو پوري چي د هغه همسايه د هغه د بدو څخه په امان نه وي . احمد او بيهقي.

## د مسلمان سره مينه

(۴۷۷۸): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُؤْمِنُ مَأْلَفٌ وَلَا خَيْرَ فِيمَنْ لَا يَأْلَفُ وَلَا يُؤْلَفُ. رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان.

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : مسلمان مينه ناك وي او په هغه چا كي خير نسته چي د مسلمان سره مينه او الفت نه لري او مسلمان د هغه سره مينه او محبت نه لري . احمد او بيهقي په شعب الايمان كي.

## د مسلمان اړتيا پوره كول

(۴۷۷۹): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَضَى لِأَحَدٍ مِنْ أُمَّتِي حَاجَةً يُرِيدُ أَنْ يَسُرَّهُ بِهَا فَقَدْ سَرَّنِي وَمَنْ سَرَّنِي فَقَدْ سَرَّ اللَّهَ وَمَنْ سَرَّ اللَّهَ أَدْخَلَهُ اللَّهُ الْجَنَّةَ .رواه البيهقي.

د حضرت انس ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي زما په امت كي د چا (ديني يا دنيوي) اړتيا پوره كړي او د هغه څخه د هغه مقصد د هغه خوښي وي نو هغه زه خوشحاله كړم او چا چي زه خوشحاله كړم نو هغه الله ﷻ خوشحاله كړي او چا چي الله خوشحاله كړ الله تعالى به هغه په جنت كي داخل كړي . بيهقي.

## د مسلمان مرسته كول

(۴۷۸۰): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَغَاثَ مَلْهُوفًا كَتَبَ اللَّهُ ثَلَاثًا وَسَبْعِينَ مَغْفِرَةً وَاحِدَةٌ فِيهَا صَلَاحُ أَمْرِهِ كُلِّهِ وَثِنْتَانِ وَسَبْعُونَ لَهُ دَرَجَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ.رواه البيهقي

د حضرت انس ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د يو مظلوم فرياد واوري الله تعالى د هغه لپاره دري اويا بخښښونه ليكي په هغو كي يو بخښښ دادئ چي د هغه د ټولو كارونو د اصلاح ضامن دئ او دوه اويا بخښښونه به د قيامت په ورځ د هغه د درجاتو لوړولو سبب وي. بيهقي.

**مخلوق د الله ﷻ كورنى ده**

| | |
|---|---|
| (۴۷۸۱): وَعَنْهُ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْخَلْقُ عِيَالُ اللهِ فَأَحَبُّ الْخَلْقِ إِلَى اللهِ مَنْ أَحْسَنَ إِلَى عِيَالِهِ . روى البيهقي الأحاديث الثلاثة في شعب الإيمان | د حضرت انس او عبد الله (رضي الله عنهما) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: مخلوق د الله تعالى كورنى ده او په مخلوق كي غوره هغه دئ چي د الله تعالى د كورنى سره احسان وكري |

بيهقي پورتني دري حديثونه په شعب الايمان كي روايت كري دي.

**د همسايه د حقوقو پوښتنه**

| | |
|---|---|
| (۴۷۸۲): وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَّلُ خَصْمَيْنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ جَارَانِ. رواه احمد. | د حضرت عقبة بن عامر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: «د بندګانو په معاملاتو كي تر ټولو لومړى چي كومه معامله وړاندي |

كيږي هغه به د دوو همسايګانو جګړه وي. احمد.

**د سخت زړه درملنه**

| | |
|---|---|
| (۴۷۸۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلًا شَكَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَسْوَةَ قَلْبِهِ فَقَالَ امْسَحْ رَأْسَ الْيَتِيمِ وَأَطْعِمِ الْمِسْكِينَ. رواه احمد. | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړي رسول الله ﷺ ته د خپل زړه د سخت والي شكايت وكړ، رسول الله ﷺ ددې په علاج كي |

ورته وفرمايل د يتيم پر سر لاس تيروه او په غريبانو باندي خوراك خوره. احمد.

**د كونډي لور ساتنه**

| | |
|---|---|
| (۴۷۸۴): وَعَنْ سُرَاقَةَ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى أَفْضَلِ الصَّدَقَةِ ابْنَتُكَ مَرْدُودَةً إِلَيْكَ لَيْسَ لَهَا كَاسِبٌ غَيْرُكَ . رواه ابن ماجة. | د حضرت سراقة بن مالك ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا تاسو د غوره صدقي څخه خبر نه كړم؟ (هغه داده چي) د |

خپلي هغه لور سره ښه چلن كوئ كومه چي ستا په لور بيرته دركړل سوې ده (يعني طلاقه سوې ده يا كونډه سوې ده)، او ستا څخه پرته د هغې هيڅ يو ساتونكى نه وي. ابن ماجه.

# بَابُ الْحُبِّ فِي اللهِ وَمِنَ اللهِ

## (د الله ﷻ سره مينه او د الله ﷻ لپاره د ميني كولو بيان)

## لومړی فصل

### روز ازل

(۴۷۸۵): عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْأَرْوَاحُ جُنُودٌ مُجَنَّدَةٌ فَمَا تَعَارَفَ مِنْهَا ائْتَلَفَ وَمَا تَنَاكَرَ مِنْهَا اخْتَلَفَ. رواه البخاري و رواه مسلم عن ابي هريرة.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: روحونه (په بدنونو كي د ننوتلو څخه مخكي) د يو مجتمع لښكر په دول وه (بيا هغوئ په بدنونو كي د ننه ايستلو لپاره بيل بيل كړل سول) نو كوم روحونه چي په بدنونو كي د ننه وتلو څخه مخكيپه خپل منځ كي اشنا وه (اوس هم هغه) په خپل منځ كي اشنا دي او په خپل منځ كي مينه لري او كوم روحونه چي هغه وخت په خپل منځ كي نا اشنا وه هغه اوس هم اختلاف لري . بخاري، او د مسلم د ابوهريرة ؓ څخه روايت كړی دئ.

### د الله تعالى د بنده سره مينه

(۴۷۸۶): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ إِذَا أَحَبَّ عَبْدًا دَعَا جِبْرِيلَ فَقَالَ إِنِّي أُحِبُّ فُلَانًا فَأَحِبَّهُ قَالَ فَيُحِبُّهُ جِبْرِيلُ ثُمَّ يُنَادِي فِي السَّمَاءِ فَيَقُولُ إِنَّ اللهَ يُحِبُّ فُلَانًا فَأَحِبُّوهُ فَيُحِبُّهُ أَهْلُ السَّمَاءِ ثُمَّ يُوضَعُ لَهُ الْقَبُولُ فِي الْأَرْضِ وَإِذَا أَبْغَضَ عَبْدًا دَعَا جِبْرِيلَ فَيَقُولُ إِنِّي أُبْغِضُ فُلَانًا فَأَبْغِضْهُ قَالَ فَيُبْغِضُهُ جِبْرِيلُ ثُمَّ يُنَادِي فِي أَهْلِ السَّمَاءِ إِنَّ اللهَ يُبْغِضُ فُلَانًا فَأَبْغِضُوهُ قَالَ فَيُبْغِضُونَهُ ثُمَّ يُوضَعُ لَهُ الْبَغْضَاءُ فِي الْأَرْضِ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى چي د يو بنده سره مينه كوي نو جبرائيل عليه السلام ته وايي زه د فلاني بنده سره مينه كوم ته هم د هغه سره مينه كوه ويلي دي رسول الله ﷺ نو چي جبرائيل عليه السلام د هغه سره مينه كوي نو په آسمان كي اعلان كوي چي الله تعالى د فلاني بنده سره مينه كوي تاسو هم د هغه سره مينه كوئ نو آسمان والا هم د هغه سره مينه كول راواخلي بيا ددغه بنده لپاره په مځكه كي قبوليت كښيښودل سي (يعني د مځكي خلك هم ورسره مينه راواخلي) او هر كله چي د الله تعالى د يو بنده سره بدي سي نو جبرائيل عليه السلام ته وايي چي د فلاني بنده سره زه بغض

لرم ته هم ورسره بغض ساته، نو جبرائيل عليه السلام هم ورسره بغض ساتي او په آسمان والاوو كي اعلان كوي چي الله تعالى د فلاني بنده سره بغض لري تاسو هم ورسره بغض ساتئ نو آسمان والا هم ورسره بغض ساتي او بيا د هغه لپاره په مځكه كي هم بغض كښېښودل سي (يعني د مځكي خلك هم د هغه سره بغض ساتي) مسلم

**د الله ﷻ د رضا لپاره مينه**

(۴۷۸۷): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ يَقُولُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَيْنَ الْمُتَحَابُّونَ بِجَلَالِي الْيَوْمَ أُظِلُّهُمْ فِي ظِلِّي يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلِّي . رواه مسلم.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى به د قيامت په ورځ وفرمايي: هغه خلك چيري دي چي زما د رضا تر لاسه كونو لپاره به يې په خپل منځ كي مينه كول، نن ورځ زه د خپل سايې لاندي ځاى وركوم او نن زما د سايې څخه پرته بله سايه نسته . مسلم.

**حب في الله**

(۴۷۸۸): وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ رَجُلًا زَارَ أَخًا لَهُ فِي قَرْيَةٍ أُخْرَى فَأَرْصَدَ اللّٰهُ لَهُ عَلَى مَدْرَجَتِهِ مَلَكًا قَالَ أَيْنَ تُرِيدُ قَالَ أُرِيدُ أَخًا لِي فِي هٰذِهِ الْقَرْيَةِ قَالَ هَلْ لَكَ عَلَيْهِ مِنْ نِعْمَةٍ تَرُبُّهَا قَالَ لَا غَيْرَ أَنِّي أَحْبَبْتُهُ فِي اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ قَالَ فَإِنِّي رَسُولُ اللّٰهِ إِلَيْكَ بِأَنَّ اللّٰهَ قَدْ أَحَبَّكَ كَمَا أَحْبَبْتَهُ فِيهِ .رواه مسلم.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: يو سړي د خپل (مسلمان) ورور سره چي د يو بل كلي وو د ملاقات اراده وكړل الله تعالى د هغه په لار كي د هغه په انتظار كي يوه ملائكه كښېنول، ملائكي پوښتنه وكړه چيري دي د تلو اراده ده ؟ هغه ورته وويل: په هغه كلي كي د خپل ورور د ملاقات اراده لرم، ملائكي ورته وويل ايا ستا پر هغه د نعمت څه حق سته چي د هغه اخيستلو لپاره ورځې ؟ هغه ورته وويل:يا، زه د هغه سره يوازي د الله ﷻ د رضا لپاره مينه كوم، ملائكي ورته وويل : زه الله تعالى تا ته راليږلي يم او تا ته دا زيرى دئ چي الله تعالى هم ستا سره داسي مينه لري لكه څرنګه چي ته د الله ﷻ د رضا لپاره د هغه سره مينه لرې . مسلم.

**طوك چي د چا سره مينه كوي د هغه څخه به وي**

(۴۷۸۹): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ كَيْفَ تَقُولُ فِي رَجُلٍ أَحَبَّ قَوْمًا وَلَمْ يَلْحَقْ

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړى د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو او وه يې ويل اې دالله رسوله ! د هغه چا په اره تاسو څه فرماياست چي د يو قوم (يعني د عالمانو يا

بهِمْ فَقَالَ الْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ . متفق عليه.

صالحانو د تولی) سره مینه ساتي مگر د هغه خلکو سره یې ملاقات نه وي کړی ، یا دهغوئ صحبت ورته تر لاسه سوی نه وي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: هغه به د هغو خلکو سره وي چې د چا سره یې محبت وي (یعني د کومو کسانو سره چې مینه لري په هغوئ کې به شامل وي) بخاري او مسلم.

(۴۷۹۰): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلاً قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَتَى السَّاعَةُ قَالَ وَيْلَكَ وَمَا أَعْدَدْتَ لَهَا قَالَ مَا أَعْدَدْتُ لَهَا إِلاَّ أَنِّي أُحِبُّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ قَالَ أَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ قَالَ أَنَسٌ فَمَا رَأَيْتُ الْمُسْلِمِيْنَ فَرِحُوْا بِشَيْءٍ بَعْدَ الْإِسْلَامِ فَرَحَهُمْ بِهَا . متفق عليه.

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دئ چې یو سړي وویل: اې دالله رسوله ! قیامت به کله وي ؟ رسول الله ﷺ ورتـه وفرمایـل: پـر تـا افسـوس دئ تـا دقیامت لپاره څه تیاري کړې ده ؟ هغه وویل: ما څو څه تیـاري نـه ده کـړې مگـر د الله او د الله د رسول سره مینه لرم، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ته به د هغه چا سره یې د چا سره چې ته مینه لرې ، د انس رضی الله عنه بیان دئ چې د اسلام څخه وروسته ما مسلمانان په هیڅ یو خبره دومره خوشحاله نه دي لیدلي څومره چې د رسول الله ﷺ په دغه وینا سره خلک خوشحاله سوي وه . بخاري او مسلم.

**د نیک او بد ملګرې مثال**

(۴۷۹۱): وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ الْجَلِيْسِ الصَّالِحِ وَالسَّوْءِ كَحَامِلِ الْمِسْكِ ونافع الكير فحامل المسك السوء كحامل الْمِسْكِ ونافخ الكير لَا يَعْدَمُكَ مِنْ صَاحِبِ الْمِسْكِ إِمَّا تَشْتَرِيْهِ أَوْ تَجِدُ رِيْحَهُ وَكِيْرُ الْحَدَّادِ يُحْرِقُ ثَوْبَكَ أَوْ تَجِدُ مِنْهُ رِيْحًا خَبِيْثَةً . متفق عليه.

د حضرت ابو موسی رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: نیک او بـد ملګرې د مشك خرڅونکي او پښ پـه دول دئ ، مشـك خرڅونکی به یا مفت مشك درکړي یا بـه یې خیني رانیسي او که نور هیڅ نه وي نو کم از کـم د هغـه خوشبوئي بـه ضـرور سـتا زړه او دماغ خوشحاله کړي او پښ به یا ستا جامې وسوځي یا د به د هغه څخه بد بوئي تر لاسه کړې. بخاري او مسلم.

## دویم فصل

**د الله ﷻ لپاره په خپل منځ کې د مینې کولو فضیلت**

(۴۷۹۲): عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ

د حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه څخه روایت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه دا واوریدل چې الله تعالی

وَتَعَالَى وَجَبَتْ مَحَبَّتِي لِلْمُتَحَابِّيْنَ فِيَّ وَالْمُتَجَالِسِيْنَ فِيَّ وَالْمُتَزَاوِرِيْنَ فِيَّ وَالْمُتَبَاذِلِيْنَ فِيَّ .رواه مالك و في رواية الترمذي قَالَ يَقُوْلُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ الْمُتَحَابُّوْنَ فِي جَلَالِي لَهُمْ مَنَابِرُ مِنْ نُوْرٍ يَغْبِطُهُمُ النَّبِيُّوْنَ وَالشُّهَدَاءُ.

فرمايي : كوم كسان چي زما د رضا او خوښۍ لپاره په خپل منځ كي مينه كوي د هغوئ سره زما مينه كول ضروري ده او كوم خلك چي زما د رضا لپاره په خپل منځ كي كښيني او زما تعريف كوي او د يو بل سره ملاقات كوي او خپل مال مصرف كوي نو د هغوئ سره هم زما مينه كول واجب دي. مالك ، دترمذي په روايت كي دا الفاظ دي چي الله تعالى فرمايي : زما د عظمت او جلال په سبب كوم خلك چي په خپل منځ كي مينه ساتي د هغوئ لپاره به (په آخرت كي) د نور منبر وي او انبياء او شهداء به يې د هغه منبر ډېر صفت كوي

(۴۷۹۳): وَعَنْ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ عِبَادِ اللّٰهِ لَأُنَاسًا مَا هُمْ بِأَنْبِيَاءَ وَلَا شُهَدَاءَ يَغْبِطُهُمُ الْأَنْبِيَاءُ وَالشُّهَدَاءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِمَكَانِهِمْ مِنَ اللّٰهِ تَعَالَى قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ تُخْبِرُنَا مَنْ هُمْ قَالَ هُمْ قَوْمٌ تَحَابُّوْا بِرُوْحِ اللّٰهِ عَلَى غَيْرِ أَرْحَامٍ بَيْنَهُمْ وَلَا أَمْوَالٍ يَتَعَاطَوْنَهَا فَوَاللّٰهِ إِنَّ وُجُوْهَهُمْ لَنُوْرٌ وَإِنَّهُمْ لَعَلَى نُوْرٍ لَا يَخَافُوْنَ إِذَا خَافَ النَّاسُ وَلَا يَحْزَنُوْنَ إِذَا حَزِنَ النَّاسُ وَقَرَأَ هٰذِهِ الْآيَةَ: أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ. رواه ابوداؤد وفي شرح السنة عن ابي مالك بلفظ المصابيح مع زوائد وكذا في شعب الايمان.

د حضرت عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله په بندگانو كي ځيني خلك داسي دي كه څه هم چي هغوئ نبيان او شهيدان نه وي مگر د قيامت په ورځ به د هغوئ په مرتبو او درجو ليدو سره ورته انبياء او شهداء حيرانېږي ، صحابه كرامو وويل: اي دالله رسوله ! هغه به كوم خلك وي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هغه خلك چي صرف د الله ﷺ د روح (قرآن كريم) په سبب په خپل منځ كي مينه كوي د هغوئ په منځ كي نه خپلوي وي او نه د مالي راكړې وركړې معامله وي، په الله ﷺ دي مي قسم وي د هغوئ مخونه به نور وي او دوئ به پر منبرونو د نور وي هغوئ به هغه وخت نه غمجن وي او نه غمزده وي او نه به هغوئ په بيره كي وي هغه وخت چي نور خلك په بيره كي وي، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت كړ : (الا ان اولياء الله لاخوف عليهم ولا هم يحزنون خبردار سئ ! د الله ﷺ پر دوستانو به نه بيره وي او نه به هغوئ غمجن وي . ابوداؤد.

(۴۷۹۴): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَبِي ذَرٍّ يَا أَبَا ذَرٍّ أَيُّ عُرَى

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ابوذر ﷺ ته وفرمايل : (اې ابوذر ! د

| | |
|---|---|
| الْإِيمَانِ أَوْثَقُ قَالَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ قَالَ الْمُوَالَاةُ فِي اللّٰهِ وَالْحُبُّ فِي اللّٰهِ وَالْبُغْضُ فِي اللّٰهِ . رواه البيهقي في شعب الإيمان. | ايمان كوم يو ښاخ زيات ټينګ دئ ؟ هغه وويل: الله ﷺ او دهغه رسول ښه پوهيږي، رسول الله ﷺ وفرمايل: يوازي د الله ﷺ د رضا لپاره په خپل |

منځ كي دوستي ساتل او يوزي د الله لپاره د خلكو سره مينه او بغض ساتل . بيهقي. په شعب الايمان كي.

**د ناروغ پوښتنه**

| | |
|---|---|
| (۴۷۹۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا عَادَ الْمُسْلِمُ اَخَاهُ أَوْ زَارَهُ قَالَ اللّٰهُ تعالى طِبْتَ وَطَابَ مَمْشَاكَ وَتَبَوَّأْتَ مِنَ الْجَنَّةِ مَنْزِلًا. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب. | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: مسلمان چي د مسلمان ورور د ناروغى پوښتني يا ليدني ته ورځي نو الله تعالى فرمايي: ستا ژوند پاك سو او ستا تلل ښه سول او په جنت كي تا يو ځاى تر لاسه كړ . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ. |

**د چا سره چي دي مينه وي هغه ته دي ووايي**

| | |
|---|---|
| (۴۷۹۶): وَعَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِي كَرِبَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَحَبَّ الرَّجُلُ أَخَاهُ فَلْيُخْبِرْهُ أَنَّهُ يُحِبُّهُ. رواه ابوداؤد والترمذي. | دحضرت مقدام بن معدي كرب ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د يو مسلمان ورور سره مينه كوي نو هغه دي د خپل مينې څخه خبر كړي . ابوداؤد او ترمذي. |
| (۴۷۹۷): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ مَرَّ رَجُلٌ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدَهُ نَاسٌ فَقَالَ رَجُلٌ مِمَّنْ عِنْدَهُ إِنِّي لَأُحِبُّ هٰذَا لِلّٰهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْلَمْتَهُ ؟ قَالَ لَا قَالَ قُمْ إِلَيْهِ فَأَعْلِمْهُ فَقَامَ إِلَيْهِ فَأَعْلَمَهُ فَقَالَ أَحَبَّكَ الَّذِي أَحْبَبْتَنِي لَهُ قَالَ ثُمَّ رَجَعَ فَسَأَلَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ بِمَا قَالَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكَ مَا احْتَسَبْتَ .رواه البيهقي في شعب الإيمان وفي رواية الترمذي المرء مع من أحب وله ما اكتسب. | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي د نبي كريم ﷺ سره ډير خلك ناست وه چي يو سړى تير سو ، د ناستو خلكو څخه يو سړي وويل زه ددغه سړي سره چي روان دئ يوازي د الله ﷺ لپاره مينه كوم ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ايا تا دغه سړى د خپل مينې څخه خبر كړى دئ؟ هغه وويل :يا ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ورسه او هغه خبر كړه ، هغه ولاړ سو او هغه سړى يې خبر كړ چي هغه ورسره مينه كوي ، هغه سړي ورته وويل ستا سره دي هغه |

ذات مینه وکړي چي د هغه د رضا لپاره تا زما سره مینه کړې ده ، د حضرت انس ﷺ بیان دی کله
چي هغه سړی راغلی نو رسول الله ﷺ پوښتنه ښیني وکړه چي هغه سړي په جواب کي څه وویل ؟
هغه سړي هغه الفاظ تکرار کړل کوم چي هغه ویلي وه ، ددې په اورېدو سره رسول الله ﷺ وفرمایل :
ته به د قیامت په ورځ د هغه چا سره یې چي مینه ورسره لرې او تا ته به ستا د نیت بدله درکول
کیږي . بیهقي او د ترمذي په روایت کي دا الفاظ دي چي انسان به د هغه چا سره وي د چا سره چي
مینه لري او د هغه شي بدله به ورکول کیږي چي د خپل نیت په ذریعه یې تر لاسه کړی وي .

### یوازې د مسلمان سره دوستي کوئ

(۴۷۹۸): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا تُصَاحِبْ إِلَّا مُؤْمِنًا وَلَا يَأْكُلْ طَعَامَكَ إِلَّا تَقِيٌّ . رواه الترمذي وابوداؤد والدارمي.

د حضرت ابو سعید ﷺ څخه روایت دئ چي هغه د نبي کریم ﷺ څخه واورېدل چي فرمایل یې : یوازې مسلمان خپل مصاحب (یعني ملګری) جوړ کړه او خپل خوراك یوازې په پرهیزګارانو باندي خوره . ترمذي، ابوداؤد او دارمي .

### انسان د خپل ملګري په دین دئ

(۴۷۹۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَرْءُ عَلَى دِينِ خَلِيلِهِ فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ مَنْ يُخَالِلُ. رواه احمد والترمذي وابوداؤد والبيهقي في شعب الايمان وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب وقال النووي اسناده صحيح.

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : بنده د خپل ملګري پر دین وي، (یعني د خپل ملګري په مذهب یا سیرت باندي وي ) نو انسان ته د ملګري جوړولو په وخت کي ددې خبرې خیال ساتل پکار ردي چي هغه څوك خپل ملګری جوړ کړي ؟ . ابوداؤد ، بیهقي او ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن غریب دئ، نووي وایي ددې اسناد صحیح دي .

### د میني کولو طریقه

(۴۸۰۰): وَعَنْ يَزِيدَ بْنِ نَعَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا آخَى الرَّجُلُ الرَّجُلَ فَلْيَسْأَلْهُ عَنِ اسْمِهِ وَاسْمِ أَبِيهِ وَمِمَّنْ هُوَ فَإِنَّهُ أَوْصَلُ لِلْمَوَدَّةِ . رواه الترمذي.

د حضرت یزید بن نعامه ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي یو انسان د بل انسان سره وروري وکړي نو هغه ته پکار ده چي د هغه څخه د هغه نوم د هغه د پلار نوم د هغه د قوم نوم و پوښتي ، څکه چي دا معلومات مینه ټینګوي . ترمذي.

# دریم فصل

د خدای ﷻ لپاره مینه یا بغض

(۴۸۰۱): عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَتَدْرُونَ أَيُّ الْأَعْمَالِ أَحَبُّ إِلَى اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ قَالَ قَائِلٌ الصَّلَاةُ وَالزَّكَاةُ وَقَالَ قَائِلٌ الْجِهَادُ قَالَ النبي صلى الله عليه وسلم إِنَّ أَحَبَّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ الْحُبُّ فِي اللّٰهِ وَالْبُغْضُ فِي اللّٰهِ . رواه احمد وروى ابوداؤد الفصل الاخير.

د حضرت ابو ذر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ زموږ په لور تشریف راوړ او وه یې فرمایل: تاسو ته معلومه ده چي د الله په نزد کوم عمل غوره او عزیز دی؟ یوه وویل لمونځ او زکوة یوه وویل جهاد ، نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: د الله ﷻ په نزد تر ټولو غوره عمل د الله ﷻ د رضا لپاره مینه کول او د الله ﷻ لپاره بغض کول دي . احمد او ابوداؤد یوازي د پای فضیلت روایت کړی دئ .

(۴۸۰۲): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَحَبَّ عَبْدٌ عَبْدًا لِلّٰهِ إِلَّا أَكْرَمَ رَبَّهُ عَزَّ وَجَلَّ . رواه احمد.

د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم بنده چي د الله ﷻ د رضا لپاره د یو بنده سره مینه وکړي نو هغه د خپل پروردگار تعظیم او تکریم وکړ. احمد.

غوره خلک کوم دي

(۴۸۰۳): وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِخِيَارِكُمْ قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ خِيَارُكُمْ الَّذِينَ إِذَا رُءُوا ذُكِرَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ . رواه ابن ماجة.

د حضرت اسماء بنت یزید (رض) څخه روایت دئ چي هغې د رسول الله ﷺ څخه دا واورېدل چي زه تاسو ته ونښیم چي په تاسو کي غوره خلک کوم دي ؟ صحابه کرامو وویل: هو، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: په تاسو کي غوره خلک هغه دي چي د هغوئ په لیدو سره سړي ته الله ﷻ یاد سي . ابن ماجه

یوازي د الله ﷻ لپاره مینه کول

(۴۸۰۴): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ أَنَّ عَبْدَيْنِ تَحَابَّا فِي اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ وَاحِدٌ فِي الْمَشْرِقِ وَآخَرُ فِي الْمَغْرِبِ لَجَمَعَ اللّٰهُ بَيْنَهُمَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَقُولُ هٰذَا الَّذِي كُنْتَ تُحِبُّهُ فِيَّ . رواه البيهقي.

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: دوه بندګان چي د الله تعالی لپاره په خپل منځ کي مینه کوي او یو په هغوئ کي په ختیځ کي اوسي او دویم په لویدیځ کي نو الله تعالی به د قیامت په ورځ

هغوئ يو ځاى كړي ورته وه به فرمايي : دا هغه بنده دئ چي دده سره تا زما په خاطر مينه كول . بيهقي.

**د دنيا او اخرت كاميابي**

(۴۸۰۵): وَعَنْ أَبِيْ رَزِيْنٍ أَنَّهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا أَدُلُّكَ عَلٰى مِلَاكِ هٰذَا الْأَمْرِ الَّذِيْ تُصِيْبُ بِهٖ خَيْرَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ؟ عَلَيْكَ بِمَجَالِسِ أَهْلِ الذِّكْرِ وَإِذَا خَلَوْتَ فَحَرِّكْ لِسَانَكَ مَا اسْتَطَعْتَ بِذِكْرِ اللّٰهِ وَأَحِبَّ فِي اللّٰهِ وَأَبْغِضْ فِي اللّٰهِ يَا أَبَا رَزِيْنٍ هَلْ شَعَرْتَ أَنَّ الرَّجُلَ إِذَا خَرَجَ مِنْ بَيْتِهٖ زَائِرًا أَخَاهُ شَيَّعَهُ سَبْعُوْنَ أَلْفَ مَلَكٍ كُلُّهُمْ يُصَلُّوْنَ عَلَيْهِ وَيَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا إِنَّهُ وَصَلَ فِيْكَ فَصِلْهُ فَإِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ تُعْمِلَ جَسَدَكَ فِيْ ذٰلِكَ فَافْعَلْ . رواه البيهقي.

د حضرت ابو زرين ﷺ څخه روايت دئ چي هغه ته رسول الله ﷺ وفرمايل : زه تا ته د امر دين رښنه وښيم ، چي ته د هغې په ذريعه د آخرت خير تر لاسه كوې، ته د اهل ذكر په مجلسونو كي كښينه او هر كله چي يوازي يې نو څومره چي كيدلاى سي د الله ﷻ په ياد كي خپله ژبې ته حركت وركوه يوازي د الله ﷻ د رضا لپاره مينه كوه او يوازي د الله ﷻ د رضا لپاره بغض ساته ، اې ابوزرين ! ايا ته پوهيږې چي يو مسلمان د خپل مسلمان ورور د ليدني په اراده د كور څخه وځي (نو څه كيږي) په هغه پسې اويا زره ملائكي وي چي د هغه لپاره دعاء او استغفار كوي او وايي اې پروردګاره! ددغه بنده سره يې يوازي ستا لپاره ليدنه وكړه ته دې په خپل رحمت او شفقت سره يو ځاى كړې، كه ته دا كولاى سې يعني د خپل مسلمان ورور د ملاقات لپاره نو همداسي كوه . بيهقي.

(۴۸۰۶): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كُنْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَعُمُدًا مِّنْ يَاقُوْتٍ عَلَيْهَا غُرَفٌ مِنْ زَبَرْجَدٍ لَهَا أَبْوَابٌ مُفَتَّحَةٌ تُضِيْءُ كَمَا يُضِيْءُ الْكَوْكَبُ الدُّرِّيُّ فَقَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَنْ يَسْكُنُهَا قَالَ الْمُتَحَابُّوْنَ فِي اللّٰهِ وَالْمُتَجَالِسُوْنَ فِي اللّٰهِ وَالْمُتَلَاقُوْنَ فِي اللّٰهِ . روى البيهقي الأحاديث الثلاثة في شعب الإيمان.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي زه د رسول الله ﷺ سره وم چي وه يې فرمايل : په جنت كي د ياقوتو ستني دي چي د هغه سربيره د زبرجدو بالاخاني جوړي سوي دي د هغه بالاخانو دروازې خلاصي دي دا بالاخاني او ددې روښن دان روښانه دي او داسي ځليږي لكه څرنګه چي ځلانده ستوري ځليږي ، صحابه كرامو پوښتنه وكړه اې دالله رسوله ! په دې كي به څوك اوسي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هغه خلك چي د الله ﷻ لپاره مينه كوي د الله لپاره په خپل منځ كي كښيني (او د الله ﷻ ذكر كوي)، او د الله ﷻ د رضا لپاره په خپل منځ كي ليدنه كوي . بيهقي.

# بَابُ مَا يُنْهٰى عَنْهُ مِنَ التَهَاجُرِ وَالتَقَاطُعِ وَاتِّبَاعِ الْعَوْرَاتِ
## (د منعه خبرو، تعلق پرېښودلو، دوستي پرېښودلو او عيب ويلو بيان)

## لومړی فصل

**تر درو ورځو زيات ناراضګي جائز نه ده**

| | |
|---|---|
| (۴۸۰۷): عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَحِلُّ لِلرَّجُلِ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ يَلْتَقِيَانِ فَيُعْرِضُ هٰذَا وَيُعْرِضُ هٰذَا وَخَيْرُهُمَا الَّذِي يَبْدَأُ بِالسَّلَامِ. متفق عليه. | د حضرت ابو ايوب انصاري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د يو مسلمان سړي لپاره دا جائز نه ده چي هغه تر درو شپو زيات (په خفه کېدو سره) يو مسلمان ورور |

پرېږدي يعني که هغوئ يو بل ته مخامخ سي نو يو کس خپل مخ آخوا وګرځوي او بل دېخوا، په دغه دواړو کي غوره هغه څوک دئ چي اول السلام عليکم ووايي (يعني خفګان ليري کړي) بخاري او مسلم.

**يو څو منعه خبري**

| | |
|---|---|
| (۴۸۰۸): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ وَلَا تَحَسَّسُوا وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا تَنَاجَشُوا وَلَا تَحَاسَدُوا وَلَا تَبَاغَضُوا وَلَا تَدَابَرُوا وَكُونُوا عِبَادَ اللّٰهِ إِخْوَانًا، وفي رواية ولاتنافسوا. متفق عليه. | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: خپل ځان د بد ګماني څخه وژغورئ، ځکه چي بد ګماني بدترين درواغ خبره ده د چا دحال يا د يو خبري معلومولو کوښښ مه کوئ، جاسوسي مه کوئ او مه جنګول کوئ، په خپل منځ کي حسد مه کوئ، |

په خپل منځ کي بغض مه ساتئ، په خپل منځ کي غيبت مه کوئ او د الله ﷺ ټول مسلمانان بندګان په خپل منځ کي ورونه جوړ سئ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي په خپل منځ کي کينه مه کوئ. بخاري او مسلم.

**د عداوت بدي**

| | |
|---|---|
| (۴۸۰۹): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُفْتَحُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْاِثْنَيْنِ وَيَوْمَ | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ د جنت دروازې خلاصيږي او د هر بنده بخښنه |

الْخَمِيسِ فَيُغْفَرُ لِكُلِّ عَبْدٍ لَا يُشْرِكُ بِاللّٰهِ شَيْئًا إِلَّا رَجُلٌ كَانَتْ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَخِيهِ شَحْنَاءُ فَيُقَالُ أَنْظِرُوا هٰذَيْنِ حَتّٰى يَصْطَلِحَا . رواه مسلم.

كيږي په شرط ددې چې هغه د الله ﷻ هيڅ شی نه وي شريك كړی او هغه سړی ددې بخښنې څخه محروم وي چې د يو مسلمان سره كينه او عداوت لري او ملائكو ته وويل سي چې دغه دواړو ته وخت وركړئ چې په خپل منځ كي صلح وكړي. مسلم.

(۲۸۱۰): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُعْرَضُ أَعْمَالُ النَّاسِ فِي كُلِّ جُمُعَةٍ مَرَّتَيْنِ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَيَوْمَ الْخَمِيسِ فَيُغْفَرُ لِكُلِّ عَبْدٍ مُؤْمِنٍ إِلَّا عَبْدًا بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَخِيهِ شَحْنَاءُ فَيُقَالُ اتْرُكُوا هٰذَيْنِ حَتّٰى يَفِيئَا. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: پـه هـره هفتـه كـي دوه واره د بندگانو عملونه يعني د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ الله تعالى تـه وړانـدي كيـږي او دهـر مـؤمن بنده بخښنه كيږي خو هغه بنده نه بخښل كيږي چې د خپل يو مسلمان ورور سره عداوت لري د هغوئ په اړه ويل كيږي دوئ دواړو ته وخت وركړئ چې په خپل منځ كي صلح وكړي . مسلم.

**مصلحت اميز دروغ**

(۲۸۱۱): وَعَنْ أُمِّ كُلْثُومٍ بِنْتِ عُقْبَةَ بْنِ أَبِي مُعَيْطٍ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَيْسَ الْكَذَّابُ الَّذِي يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ وَيَقُولُ خَيْرًا وَيَنْمِي خَيْرًا . متفق عليه. و زاد مسلم قالت وَلَمْ أَسْمَعْهُ تَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرَخِّصُ فِي شَيْءٍ مِمَّا يَقُولُ النَّاسُ كَذِبٌ إِلَّا فِي ثَلَاثٍ الْحَرْبُ وَالْإِصْلَاحُ بَيْنَ النَّاسِ وَحَدِيثُ الرَّجُلِ امْرَأَتَهُ وَحَدِيثُ الْمَرْأَةِ زَوْجَهَا.وذكر حديث جابر ان الشيطان قد ايس في باب الوسوسة.

د حضرت ام كلثوم بنت عقبه بن ابي معيط (رض) څخه روايت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه دا واوريـدل: هغـه څوك درواغجـن نـه دئ چې پـه خپلو خبرو سره (د خلكو په منځ كي صلح وكړي) دواړو تـه خـواوو تـه ښـه خبـره وكړي او ديـوه كس څخه بل كس ته ښه خبر ورسوي. بخاري او مسلم ، او د مسلم پـه روايت كـي دا الفـاظ زيـات دي چې (ام كلثوم) وويل چې ما نه دي اوريدلي چې رسول الله ﷺ د درو دولو درواغو څخه پرتـه د بـل يو درواغو اجازه وركړي وه (۱) په جنگ كي (۲) د مسلمانانو په منځ كي د روغي راوستلو لپاره (۳) او د ښځي او خاوند يو تر بله په خپل منځ كي د ميني زياتولو لپاره ، او د حضرت جابر ﷺ دا حديث ان الشيطان قد ايس ، په باب الوسوسة كي ذكر دئ.

## دويم فصل

### دري ځايه درواغ ويل

(۲۸۱۲): عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَحِلُّ الْكَذِبُ إِلَّا فِي ثَلَاثٍ كَذِبِ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ لِيُرْضِيَهَا وَالْكَذِبُ فِي الْحَرْبِ وَالْكَذِبُ لِيُصْلِحَ بَيْنَ النَّاسِ. رواه احمد والترمذي.

د حضرت اسماء بنت يزيد (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: يوازي په درو وختونو كي درواغ ويل جائز دي: يو د سړي درواغ ويل د خپلي ښځي د رضا كولو لپاره، دويم په جګړه كي درواغ ويل او دريم د خلكو په منځ كي د صلح كولو لپاره درواغ ويل. احمد او ترمذي.

### تر درو ورځو زيات خلګان مه كوئ

(۲۸۱۳): وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَكُونُ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ مُسْلِمًا فَوْقَ ثَلَاثَةٍ فَإِذَا لَقِيَهُ سَلَّمَ عَلَيْهِ ثَلَاثَ مِرَارٍ كُلُّ ذَلِكَ لَا يَرُدُّ عَلَيْهِ فَقَدْ بَاءَ بِإِثْمِهِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د هيڅ يو مسلمان لپاره دا روا نه ده چي هغه تر درو ورځو زيات د خپل مسلمان ورور څخه خفه سي او هغه پريږدي، هر كله چي هغه مسلمان كوم چي دده څخه خفه دئ ورسره يو ځاى سي نو هغه ته دي سلام وكړي كه هغه جواب ور نه كړي نو دويم وار دي ورته سلام وكړي اوس هم كه هغه جواب ور نه كړي نو په دريم وار دي ورته سلام وكړي او كه په دا وار هم هغه جواب ور نه كړ نو دده ګناه د هغه پر ذمه ده. ابوداؤد.

(۲۸۱۴): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثٍ فَمَنْ هَجَرَ فَوْقَ ثَلَاثٍ فَمَاتَ دَخَلَ النَّارَ. رواه احمد وابوداؤد.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هيڅ يو مسلمان ته دا روا نه ده چي هغه د خپل مسلمان ورور څخه تر درو ورځو زيات ناراضه سي او د هغه سره ليده كاته ونه كړي، ځكه چي تر درو ورځو زيات ناراضه پاته سي او په دغه دوران كي مړ سي نو دوږخ ته به ځي. احمد او ابوداؤد.

### د كال ناراضګي د قتل په شان ده

(۲۸۱۵): وَعَنْ أَبِي خِرَاشٍ السُّلَمِيِّ أَنَّهُ سَمِعَ

د حضرت ابو خراش سلمي رضي الله عنه څخه روايت دئ

رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ هَجَرَ أَخَاهُ سَنَةً فَهُوَ كَسَفْكِ دَمِهِ . رواه ابوداؤد.

چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي څوك چي د خپل مسلمان ورور څخه تر يو كال پوري ناراض پاته سو او د هغه سره يې ليدنه ونه كړل نو هغه گويا د هغه قتل وكړ . ابوداؤد.

**تر درو ورځو وروسته خوشحاله سئ**

(۲۸۱۶): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَحِلُّ لِمُؤْمِنٍ أَنْ يَهْجُرَ مُؤْمِنًا فَوْقَ ثَلَاثٍ فَإِنْ مَرَّتْ بِهِ ثَلَاثٌ فَلْيَلْقَهُ فَلْيُسَلِّمْ عَلَيْهِ فَإِنْ رَدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ فَقَدْ اشْتَرَكَا فِي الْأَجْرِ وَإِنْ لَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ فَقَدْ بَاءَ بِالْإِثْمِ، وَخَرَجَ الْمُسَلِّمُ مِنَ الْهِجْرَةِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د هيڅ يو مسلمان لپاره دا روا نه ده چي هغه د يو مسلمان ورور څخه تر درو ورځو زيات ناراض وي او د هغه سره ملاقات ونه كړي ، يعني د درو ورځو تېرېدو څخه وروسته هغه ته پكار ده چي هغه خپل مسلمان ورور ته ورسي او ورسره يو ځای سي او هغه ته سلام وكړي كه هغه د سلام جواب وركړي نو د صلح په ثواب كي به دواړه شريك وي او كه د سلام جواب ور نه كړي نو جواب نه وركونكی به گناه كار وي او د سلام كونكی به د ملاقات ترك كولو د گناه څخه خلاص وي . ابوداؤد.

**د صلح فضيلت**

(۲۸۱۷): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَفْضَلَ مِنْ دَرَجَةِ الصِّيَامِ وَالصَّدَقَةِ وَالصَّلَاةِ قَال قلنا قَالَ إِصْلَاحُ ذَاتِ الْبَيْنِ وَفَسَادُ ذَاتِ الْبَيْنِ هِيَ الْحَالِقَةُ. رواه الترمذي وابوداؤد وقال هذا حديث صحيح.

د حضرت ابو درداء ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا زه تاسو ته هغه عمل ونه ښيم چي د هغه د ثواب درجه د روژې ، صدقې او لمانځه تر ثواب هم زياته ، موږ وويل: هو ، اې دالله رسوله ! خامخا يې وښيه، رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه د دوو مسلمانانو په منځ كي صلح كول دي څوك چي د دو مسلمانانو په منځ كي فتنه او فساد پيدا كړي هغه په دين كي خلل پيدا كونكی دئ . ترمذي، او ابوداؤد ، ترمذي ويلي دي د احديث صحيح دي .

**د حسد او بغض بدوالی**

(۲۸۱۸): وَعَنِ الزُّبَيْرِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَبَّ إِلَيْكُمْ دَاءُ الْأُمَمِ قَبْلَكُمْ الْحَسَدُ وَالْبَغْضَاءُ هِيَ الْحَالِقَةُ لَا أَقُولُ تَحْلِقُ الشَّعَرَ وَلَكِنْ

د حضرت زبير ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د مخكنيو امتونو ناروغيو په تاسو كي اثر كړی دی هغه ناروغي حسد او بغض دی چي بيخ ايستونكي دي ، ددې څخه

| | |
|---|---|
| تَخلقُ الدِّینَ. رواہ احمد والترمذي. | زما مراد د وربېنتانو کښل نه دي بلکه ددين |

د بيخ کښل دي. احمد او ترمذي.

**حسد نېکي خوري**

| | |
|---|---|
| (۴۸۱۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِيَّاكُمْ وَالْحَسَدَ فَإِنَّ الْحَسَدَ يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ كَمَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ. رواہ ابوداؤد. | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: خان د حسد څخه وژغورئ څکه چي حسد نيکي خوري لکه څرنګه چي اور لرګي خوري. ابوداؤد. |

**فساد مه پيدا کوئ**

| | |
|---|---|
| (۴۸۲۰): وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِيَّاكُمْ وَسُوءَ ذَاتِ الْبَيْنِ فَإِنَّهَا الْحَالِقَةُ. رواہ الترمذي. | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: خپل خان د دوو |

مسلمانانو په منځ کي د فتني او فساد پيدا کولو څخه وژغورئ څکه چي دا کار دين تباه کوي. ترمذي.

**مسلمان ته تاوان مه ورسوئ**

| | |
|---|---|
| (۴۸۲۱): وَعَنْ أَبِي صِرْمَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ ضَارَّ ضَارَّ اللّٰهُ بِهِ وَمَنْ شَاقَّ شَاقَّ اللّٰهُ عَلَيْهِ. رواہ ابن ماجة والترمذي وقال هذا حديث غريب. | د حضرت ابو صرمه ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي يو مسلمان ته تاوان ورسوي الله تعالى به هغه ته خامخا تاوان ورسوي، او څوک چي يو مسلمان ورور په |

تکليف کي اخته کړي نو الله تعالى به هغه په تکليف کي اخته کړي. ابن ماجه او ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

**مسلمان ته تاوان رسونکی**

| | |
|---|---|
| (۴۸۲۲): وَعَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَلْعُونٌ مَنْ ضَارَّ مُؤْمِنًا أَوْ مَكَرَ بِهِ. رواہ الترمذي وقال هذا حديث غريب. | د حضرت ابوبکر صديق ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه څوک لعنتي دی چي يو مسلمان ورور ته تاوان ورسوي يا د يو چا سره چم وکړي. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ. |

**د مسلمان عيب مه لټوئ**

| | |
|---|---|
| (۴۸۲۳): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ صَعِدَ رَسُولُ اللّٰهِ | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول |

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمِنبَرَ فَنَادَى بِصَوْتٍ رَفِيعٍ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ مَنْ أَسْلَمَ بِلِسَانِهِ وَلَمْ يُفْضِ الْإِيمَانُ إِلَى قَلْبِهِ لَا تُؤْذُوا الْمُسْلِمِينَ وَلَا تُعَيِّرُوهُمْ وَلَا تَتَّبِعُوا عَوْرَاتِهِمْ فَإِنَّهُ مَنْ يَتَّبِعْ عَوْرَةَ أَخِيهِ الْمُسْلِمِ تَتَبَّعَ اللّٰهُ عَوْرَتَهُ وَمَنْ يَتَّبِعِ اللّٰهُ عَوْرَتَهُ يَفْضَحْهُ وَلَوْ فِي جَوْفِ رَحْلِهِ. رواه الترمذي.

الله ﷺ پر منبر سربيره په لوړ آواز سره وفرمايل : اې مسلمانانو ! چې په ژبه سره مو ايمان راوړى دى او په زړه كې د ايمان اثر نه لرئ تاسو مسلمانانو ته تكليف مه وركوئ (هغوئ ته پيغور مه وركوئ) ، دهغوئ عيبونه مه لټوئ خكه چې څوك د يو مسلمان عيب لټوي الله تعالى د هغه عيب لټوي او د كوم سړي عيب چې الله تعالى ولټوي د هغه رسوايي ښكاره كړي كه څه هم چې هغه په خپل كور كې پټ ناست وي . ترمذي.

**په ناحقه د چا بې عزتي**

(۴۸۲۴): وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ مِنْ أَرْبَى الرِّبَا الِاسْتِطَالَةَ فِي عِرْضِ الْمُسْلِمِ بِغَيْرِ حَقٍّ . رواه ابوداؤد والبيهقي في شعب الايمان.

د حضرت سعيد بن زيد ﷛ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : تر ټولو لوى سود د مسلمان په ناحقه بې عزتي كول دي په ژبه سره . ابوداؤد او بيهقي په شعب الايمان كې .

(۴۸۲۵): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا عُرِجَ بِي رَبِّي مَرَرْتُ بِقَوْمٍ لَهُمْ أَظْفَارٌ مِنْ نُحَاسٍ يَخْمُشُونَ وُجُوهَهُمْ وَصُدُورَهُمْ فَقُلْتُ مَنْ هَؤُلَاءِ يَا جِبْرِيلُ قَالَ هَؤُلَاءِ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ لُحُومَ النَّاسِ وَيَقَعُونَ فِي أَعْرَاضِهِمْ. رواه ابوداؤد.

د حضرت انس ﷛ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : (په معراج كې) الله تعالى زه پورته بوتلم هلته ما داسې خلك وليدل چې د هغوئ نوكونه د مسو وه او په هغه نوكونو سره يې خپل مخونه او سينې ګروولې (وينې كولې) ، د جبرائيل عليه السلام څخه ما پوښتنه وكړه دا كوم خلك دي ؟ هغه راته وويل : دا هغه خلك دي چې د خلكو غوښې خوري (يعني غيبت كوي) او د هغوئ په عزت اخيستو پورې لګيدلي دي . ابوداؤد.

(۴۸۲۶): وَعَنِ الْمُسْتَوْرِدِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَكَلَ بِرَجُلٍ مُسْلِمٍ أَكْلَةً فَإِنَّ اللّٰهَ يُطْعِمُهُ مِثْلَهَا مِنْ جَهَنَّمَ وَمَنْ كُسِيَ ثَوْبًا بِرَجُلٍ مُسْلِمٍ فَإِنَّ اللّٰهَ يَكْسُوهُ مِثْلَهُ مِنْ جَهَنَّمَ وَمَنْ قَامَ

د حضرت مستورد ﷛ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چې د يو مسلمان بدي او غيبت سره يوه ګوله وخوري (يعني په دغه ذريعه رزق تر لاسه كړي) الله تعالى به د هغه ګولې په بدل په هغه د دوزخ اور وخوري او څوك چې د يو

| | |
|---|---|
| بِرَجُلٍ مَقَامَ سُمْعَةٍ وَرِيَاءٍ فَإِنَّ اللّٰهَ يَقُومُ، له مَقَامَ سُمْعَةٍ وَرِيَاءٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه ابوداؤد. | مسلمان د اهانت او ذلت په بدله کي جامه واغوندي الله تعالى به د دوزخ جامه ور |

واغوندي ،او څوك چي څوك ودروي او یا خپله ودریږي او خلکو ته د ښوونې لپاره خپل ښه والی اوروي د قیامت په ورځ به الله تعالی د هغه خرابي او کمزوري ښودلو او اورولو لپاره ودریږي . ابوداؤد.

**پر الله ﷺ ښه ګمان کول**

| | |
|---|---|
| ﴿۴۸۲۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُسْنُ الظَّنِّ مِنْ حُسْنِ الْعِبَادَةِ. رواه احمد وابوداؤد. | د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : پر الله تعالى ښه ګمان ساتل د غوره عبادت څخه دئ . احمد او ابوداؤد. |

**د يو زوجه مطهره څخه ناراضه کېدل**

| | |
|---|---|
| ﴿۴۸۲۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ اعْتَلَّ بَعِيرٌ لِصَفِيَّةَ بِنْتِ حُيَيٍّ وَعِنْدَ زَيْنَبَ فَضْلُ ظَهْرٍ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِزَيْنَبَ أَعْطِيهَا بَعِيرًا فَقَالَتْ أَنَا أُعْطِي تِلْكَ الْيَهُودِيَّةَ فَغَضِبَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهَجَرَهَا ذَا الْحِجَّةِ وَالْمُحَرَّمَ وَبَعْضَ صَفَرٍ .رواه ابوداؤد وذكر حديث معاذ بن انس من حمى مؤمنا في باب الشفقة والرحمة. | د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دئ چي د بي بي صفيي اوښ ناروغ سو او د بي بي زينب سره د ضرورت څخه زياته سپرلی وه ، رسول الله ﷺ بي بي زينب ته وفرمايل چي بي بي صفيي ته خپل اوښ ورکړه ، بي بي زينب وويل ايا دي يهودی ته خپل اوښ ورکړم ، رسول الله ﷺ پر دي خبره ناراض سو او د ذي الحجة، محرم، او د صفري د مياشتي څو |

ورځي رسول الله ﷺ د هغي څخه بیلوالی غوره کړ. ابوداؤد او د معاذ بن انس حدیث من حمى مؤمنا د شفقت او رحمت په باب کي بيان سوی دی .

## دريم فصل

**په قسم هر وخت اعتبار کول**

| | |
|---|---|
| ﴿۴۸۲۹﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَجُلًا يَسْرِقُ فَقَالَ لَهُ عِيسَى سَرَقْتَ قَالَ كَلَّا وَالَّذِي لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ فَقَالَ عِيسَى آمَنْتُ بِاللّٰهِ وَكَذَّبْتُ نَفْسِي. رواه مسلم. | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د بي بي مريمي زوی حضرت عيسى عليه السلام يو سړی پر غلا کولو وليدی ، حضرت عيسى عليه السلام |

ورته وويل تا غلا وکړل ، هغه ورته وويل هيڅکله نه ، قسم په هغه ذات چي د هغه پرته بل هيڅوک د عبادت وړ نه سته ، حضرت عيسى عليه السلام وويل ما پر خداى ﷻ ايمان راوړ او خپل ځان مي دروغجن وګرځوئ . مسلم .

**حسد او مفلس**

(۲۸۳۰): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَادَ الْفَقْرُ أَنْ يَّكُوْنَ كُفْرًا وَّكَادَ الْحَسَدُ أَنْ يَّغْلِبَ الْقَدَرَ. رواه البيهقي.

د حضرت انس ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : نژدې ده چي فقر (مفلسي) د کفر حد ته ورسيږي ، او نژدې ده چي حسد پر تقدير الهي غالب راسي . بيهقي.

**د عذر منل**

(۲۸۳۱): وَعَنْ جَابِرٍ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اعْتَذَرَ إِلَى أَخِيْهِ فَلَمْ يَعْذِرْهُ أَوْ لَمْ يَقْبَلْ عُذْرَهُ كَانَ عَلَيْهِ مِثْلُ خَطِيْئَةِ صَاحِبِ مَكْسٍ . رواهما البيهقي في شعب الإيمان وقال المكاس العشار .

د حضرت جابر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي خپل مسلمان ورور ته (پر يو قصور) باندي عذر وکړي او هغه مسلمان ورور يې عذر نه ومني نو پر هغه به دده دومره ګناه وي څومره چي د عشر اخيستلو والا ګناه ده . بيهقي.

# بَابُ الْحَذَرِ وَالتَّأَنِّيْ فِي الْأُمُوْرِ

## (په کارونو کي د منعه او زغم کولو بيان)

## لومړی فصل

**مؤمن دوه واره نه چيچل کيږي**

(۲۸۳۲): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ وَّاحِدٍ مَرَّتَيْنِ. متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د يوه غار څخه مؤمن دوه واره نه چيچل کيږي (يعني مسلمان بايد هوښيار وي د يو وار تاوان رسيدو وروسته بايد دويم وار تاوان پورته نه کړي) . بخاري او مسلم.

**دوې غوره خبرې**

(۲۸۳۳): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِأَشَجِّ عَبْدِ الْقَيْسِ إِنَّ فِيْكَ

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د عبد القيس قبيلې سردار ته

لَخَصْلَتَيْنِ يُحِبُّهُمَا اللّٰهُ الْحِلْمُ وَالْأَنَاةُ. رواه مسلم

وفرمايل : په تا کي دوې خبرې دي چي الله تعالى هغه خوښوي : يو بردباري (ښه گزاره) او دويم د فکر ځخه وروسته کار کول. مسلم

## دويم فصل

### په هر کار کي تلوار مه کوئ

(۴۸۳۴): عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدِ السَّاعِدِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْأَنَاةُ مِنَ اللّٰهِ وَالْعَجَلَةُ مِنَ الشَّيْطَانِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب وقد تكلم بعض اهل الحديث في عبدالمهيمن بن عباس الراوي من قبل حفظه.

د حضرت سهل بن سعد الساعدي ﷺ ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په کارونو کي کرار والى (يعني د فکر ځخه وروسته يو کار کول) د الله تعالى د لوري دي او په کارونو کي تلوار کول د شيطان د لوري دي . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ .

### تجربه

(۴۸۳۵): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا حَلِيمَ إِلَّا ذُو عَثْرَةٍ وَلَا حَكِيمَ إِلَّا ذُو تَجْرِبَةٍ. رواه احمد والترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت ابو سعيد ﷺ ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : حليم (بردباره) بنده هغه دئ چي لغزش يې خوړلى وي او حکيم هغه دئ چي تجربه يې تر لاسه کړې وه . احمد او ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ .

### د کار پای ته گوره

(۴۸۳۶): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْصِنِي فَقَالَ خُذِ الْأَمْرَ بِالتَّدْبِيرِ فَإِنْ رَأَيْتَ فِي عَاقِبَتِهِ خَيْرًا فَأَمْضِهِ وَإِنْ خِفْتَ غَيًّا فَأَمْسِكْ . رواه في شرح السنة.

د حضرت انس ﷺ ځخه روايت دئ چي يو سړي نبي کريم ﷺ ته وويل چي ما ته يو ځه نصيحت وکړه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : خپل کار په تدبير سره کوه که د هغه پای ښه درته معلوميږي کوه يې او که پای يې درته گمراهي معلوميږي نو بيا يې پريږده . شرح السنه .

### پر ښو تلوار

(۴۸۳۷): وَعَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ الْأَعْمَشُ وَلَا أَعْلَمُهُ إِلَّا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ التُّؤَدَةُ فِي كُلِّ شَيْءٍ خير إِلَّا

حضرت معصب بن سعد ﷺ د خپل پلار ځخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په هر کار کي تاخير او زند غوره دئ مگر د آخرت په عمل کي نه ، (يعني

فِي عَمَلِ الْآخِرَةِ . رواه ابوداؤد.

دنيكى كارونه سمدستي بايد وسي . ابوداؤد.

## ميانه روي

(۴۸۳۸): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَرْجِسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ السَّمْتُ الْحَسَنُ وَالتُّؤَدَةُ وَالْاِقْتِصَادُ جُزْءٌ مِنْ أَرْبَعٍ وَعِشْرِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ. رواه الترمذي.

د حضرت عبدالله بن سرجس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ښه خوى، تاخير او ميانه روي (خان ساتل د افراط او تفريط څخه) د نبوت د څليرويشتو اجزاوو څخه دي . ترمذي.

(۴۸۳۹): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْهَدْيَ الصَّالِحَ وَالسَّمْتَ الصَّالِحَ وَالْاِقْتِصَادَ جُزْءٌ مِنْ خَمْسٍ وَعِشْرِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: نيك عادت او طريقه ښه خوى او ميانه روي د نبوت د پنځه ويشتو برخو څخه ده . ابوداؤد.

## په خبره امانت ده

(۴۸۴۰): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا حَدَّثَ الرَّجُلُ الْحديث ثُمَّ الْتَفَتَ فَهِيَ أَمَانَةٌ . رواه الترمذي وابوداؤد.

د حضرت جابر بن عبدالله ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چي يو څوك يو خبره وكړي او بيا شاوخوا گوري نو هغه خبره امانت ده . ترمذي او ابوداؤد.

## مشوره كونكى امين وي

(۴۸۴۱): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِأَبِي الْهَيْثَمِ ابْنِ التَّيِّهَانِ هَلْ لَكَ خَادِمٌ قَالَ لَا فَقَالَ فَإِذَا أَتَانَا سَبْيٌ فَأْتِنَا فَأُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرَأْسَيْنِ فَأَتَاهُ أَبُو الْهَيْثَمِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخْتَرْ مِنْهُمَا فَقَالَ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ اخْتَرْ لِي فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْمُسْتَشَارَ مُؤْتَمَنٌ خُذْ هٰذَا فَإِنِّي رَأَيْتُهُ يُصَلِّي وَاسْتَوْصِ بِهِ مَعْرُوفًا. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د ابوهيثم بن تيهان څخه پوښتنه وكړل چي ستاسو سره غلام سته ؟ هغه وويل: يا، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: كله چي موږ ته غلامان راسي نو ته راسه، رسول الله ﷺ ته دوه غلامان راغلل ، ابو هيثم حاضر سو ، نبي كريم ﷺ هغه ته وفرمايل: په دغه دوارو كي يو واخله ، هغه وويل: اي دالله ﷺ نبي! ته يې غوره كړه ، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: د كوم سړي څخه چي مشوره واخيستل سي هغه ته امين كېدل پكار دي (يعني هغه ته دي صحيح مشوره وركړي) ته دا غلام بوزه ، ما دى پر لمانځه

کولو لیدلی دی زه تا ته وصیت کوم چي ته دده سره ښه چلن کوه . ترمذي.

**دريې مجلسونه ښکاره کړئ**

(۴۸۲۲): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَجَالِسُ بِالْأَمَانَةِ إِلَّا ثَلَاثَةَ مَجَالِسَ سَفْكُ دَمٍ حَرَامٍ أَوْ فَرْجٌ حَرَامٌ أَوِ اقْتِطَاعُ مَالٍ بِغَيْرِ حَقٍّ . رواه ابوداؤد وذكر حديث ابي سعيد ان اعظم الامانة في باب المباشرة في الفصل الاول.

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : مجلسونه د امانت سره ترلي دي (یعني د مجلسونو آخري خبري د امانت په توگه گڼل پکار دي) مگر دريې دوله مجلسونه (چي د هغه خبري د امانت په توگه نه دي ساتل پکار بلکه څرگندول يې ضروري دي) يو خو د ناجائز جگړي خبري ، دويم د زناکاری د مشورې خبري او دريم په ناحقه د يو چا څخه په زور د مال اخيستلو د مشورې خبري . ابوداؤد ، د ابو سعيد حديث ان اعظم الامانة په باب المباشرت لومړي فصل کي بيان سوی دئ.

## دريم فصل

**د عقل اهميت**

(۴۸۲۳): عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَمَّا خَلَقَ اللَّهُ الْعَقْلَ قَالَ لَهُ قُمْ فَقَامَ ثُمَّ قَالَ لَهُ أَدْبِرْ فادبر ثُمَّ قَالَ لَهُ أَقْبِلْ فَأَقْبَلَ ثُمَّ قَالَ لَهُ اقْعُدْ فَقَعَدَ ثُمَّ قَالَ له مَا خَلَقْتُ خَلْقًا هُوَ خَيْرٌ مِّنْكَ وَلَا أَفْضَلَ مِنْكَ وَلَا أَحْسَنَ مِنْكَ بِكَ آخُذُ وَبِكَ أُعْطِيْ وَبِكَ أُعْرَفُ وَبِكَ أُعَاتِبُ وَبِكَ الثَّوَابُ وَعَلَيْكَ الْعِقَابُ وَقَدْ تَكَلَّمَ فِيْهِ بَعْضُ الْعُلَمَاءِ. رواه البيهقي.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کله چي الله تعالی عقل پيدا کړ نو هغه ته يې وويل ولاړ سه ، نو هغه ولاړ سو ، بيا يې ورته وويل شا کړه ، نو هغه شا کړه ، بيا يې ورته وويل زما په لور مخ کړه ، نو هغه د الله ﷻ په لور مخ کړ ، بيا يې ورته وويل کښينه نو هغه کښينستی، بيا يې عقل ته وويل ما هيڅ يو مخلوق داسي نه دی پيدا کړی چي ستا څخه افضل او غوره وي زه ستا په ذريعه (د بندگانو څخه) عبادت اخلم او ستا په ذريعه (بندگانو ته) ثواب ورکوم ، ستا په سبب زه پيژندل کيږم او ستا په سبب عتاب (ملامتيا) کوم . ستا په ذريعه ثواب ورکوم او عذاب ورکوم، په دغه حديث کي ځيني عالمانو خبري کړي دي يعني دا يې موضوع (جوړ سوی) او د اعتبار نه وړ گرځولی دی .بيهقي.

**په قيامت کي د عقل سره سم بدله ورکول کيږي**

(۴۸۲۴): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللَّهِ

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول

| | |
|---|---|
| صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الرَّجُلَ لَيَكُوْنُ مِنْ أَهْلِ الصَّلَاةِ وَالصَّوْمِ وَالزَّكَاةِ وَالْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ حَتّٰى ذَكَرَ سِهَامَ الْخَيْرِ كُلَّهَا وَمَا يُجْزٰى يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلاَّ بِقَدْرِ عَقْلِهِ . رواه البيهقي. | الله ﷺ وفرمايل: يو سړی دی چي هغه لمونځ هم کوي، روژه هم نيسي، زکوة هم ورکوي، حج او عمره هم کوي تر دې چي د ټولو نيکو کارونو ذکر يې وکړ مگر هغه ته به د قيامت په ورځ |

د هغه د عقل سره سم بدله ورکول کيږي . بيهقي.

**د تدبير ښه والی**

| | |
|---|---|
| (۴۸۲۵): وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍّ قَالَ لِيْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَاذَرٍّ لاَ عَقْلَ كَالتَّدْبِيْرِ وَلاَ وَرَعَ كَالْكَفِّ وَلاَحَسَبَ كَحُسْنِ الْخُلُقِ. رواه البيهقي. | د حضرت ابو ذر ؓ څخه روايت دئ چي ما ته رسول الله ﷺ وفرمايل: اې ابوذره! د تدبير برابر هيڅ عقل نسته. او پرهيز او احتياط |

څخه زيات هيڅ تقوا نسته او د خوش اخلاقی څخه پرته هيڅ حسب نسته . بيهقي.

**په خرڅ کي ميانه روي کول**

| | |
|---|---|
| (۴۸۲۶): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْاِقْتِصَادُ فِي النَّفَقَةِ نِصْفُ الْمَعِيْشَةِ وَالتَّوَدُّدُ إِلَى النَّاسِ نِصْفُ الْعَقْلِ وَحُسْنُ السُّؤَالِ نِصْفُ الْعِلْمِ .روى البيهقي الأحاديث الأربعة في شعب الإيمان. | د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: مصارف (اخراجات) کي ميانه روي نيم معيشت دی (يعني د ژوند نيمه سرمايه ده) او د انسانانو سره مينه کول نيم عقل دی او په علم تر لاسه کولو کي په ښه ډول سره سوال کول نيم علم دی . بيهقي. |

# بَابُ الرِّفْقِ وَالْحَيَاءِ وَحُسْنِ الْخُلُقِ

## (د نرمۍ، حياء او ښه اخلاقو بيان)

## لومړی فصل

**د نرمۍ او مهربانۍ فضيلت**

| | |
|---|---|
| (۴۸۲۷): عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ تعالى رَفِيْقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ وَيُعْطِي عَلَى الرِّفْقِ مَا لَا يُعْطِي عَلَى الْعُنْفِ وَمَا لَا يُعْطِي عَلٰى | د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالی مهربانه دی او مهرباني خوښوي، او په نرمۍ او مهربانۍ سره هغه شی ورکوي په سختۍ سره يې نه |

مَا سِوَاهُ . رواه مسلم وفي رواية له قال لعائشة عليك بالرفق واياك والعنف والفحش ان الرفق لا يكون في شئ الا زانه ولا ينزع من شئ الا شانه.

ورکوي ، اونه د نرمۍ او مهربانۍ څخه پرته د يو بلې خبرې په وجه يې ورکوي. مسلم او د مسلم په يو بل روايت کې دا الفاظ دي چې رسول الله ﷺ بي بي عائشې ته وفرمايل : نرمي پر ځان لازمه کړه د سختۍ او بې حيايي څخه ځان وساته ځکه چې په کوم شي کې نرمي وي نو هغه نرمي د هغه د ښکلا سبب وي او د کوم شي څخه چې نرمي وايستل سي نو هغه عيب داره سي .

### د نرمۍ څخه محروم

(۴۸۴۸): وَعَنْ جَرِيرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ يُحْرَمِ الرِّفْقَ يُحْرَمِ الْخَيْرَ. رواه مسلم.

د حضرت جرير ؓ څخه روايت دئ چې نبي كريم ﷺ وفرمايل : څوك چې د نرمۍ څخه محروم سو هغه د نيكۍ څخه محروم سو . مسلم.

### د حياء فضيلت

(۴۸۴۹): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلٰى رَجُلٍ مِنَ الْاَنْصَارِ وَهُوَ يَعِظُ اَخَاهُ فِي الْحَيَاءِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعْهُ فَاِنَّ الْحَيَاءَ مِنَ الْاِيْمَانِ. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دئ چې نبي كريم ﷺ د يو انصاري په خوا كې تير سو چې خپل ورور ته يې د حياء پر موضوع نصحيت كوى (يعني د ډيري حيا كولو څخه يې منع كوى)، رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل : پريږده ځكه چې حياء د ايمان يوه څانګه ده . بخاري او مسلم.

(۴۸۵۰): وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْحَيَاءُ لَا يَاْتِيْ اِلَّا بِخَيْرٍ، وفي رواية الحياء خير كله. متفق عليه.

د حضرت عمران بن حصين ؓ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل : حيا د خير او نيكۍ څخه پرته بله خبره نه پيدا كوي. او په يو بل روايت كې داسي دي چې د حياء ټول شكلونه ښه دي . بخاري او مسلم.

### حياء د ټولو انبياؤو تعليم دئ

(۴۸۵۱): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ مِمَّا اَدْرَكَ النَّاسُ مِنْ كَلَامِ النُّبُوَّةِ الاولى اِذَا لَمْ تَسْتَحْيِ فَاصْنَعْ مَا شِئْتَ. رواه البخاري.

د حضرت ابن مسعود ؓ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د تيرو پيغمبرانو په كلام كې چې كومه خبره خلكو تر لاسه كړې ده (يعني داسي خبره چې په هغه كې تبديل نه دى سوى يا د هغه حكم چې تر اوسه پاته دئ) هغه دا خبره ده چې هر كله تا شرم او

حیاء پریښودل نو اوس چي دي څه زړه غواړي هغه کوه . بخاري.

### نیکي او گناه څه شي دي

(۴۸۵۲): وَعَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سِمْعَانَ قَالَ سَأَلْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْبِرِّ وَالْإِثْمِ فَقَالَ الْبِرُّ حُسْنُ الْخُلُقِ وَالْإِثْمُ مَا حَاكَ فِي صَدْرِكَ وَكَرِهْتَ أَنْ يَطَّلِعَ عَلَيْهِ النَّاسُ. رواه مسلم.

د حضرت نواس بن سمعان ؓ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه د نیکی او گناه په اړه پوښتنه وکړه ، رسول الله ﷺ راته وفرمایل : نیکي د ښه اخلاقو نوم دی او گناه هغه شی دی چي ستا په زړه کي خلش (لړزه) پیدا کړي او ته دا بد وگڼي چي خلك ددې څخه خبر سي . مسلم

### د ښه اخلاقو فضیلت

(۴۸۵۳): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ أَحَبِّكُمْ إِلَيَّ أَحْسَنَكُمْ أَخْلَاقًا. رواه البخاري.

د حضرت عبدالله بن عمرو ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هغه څوك زما ډیر خوښ دی چي هغه د ښو اخلاقو خاوند وي . بخاري.

(۴۸۵۴): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ خِيَارِكُمْ أَحْسَنَكُمْ أَخْلَاقًا. متفق عليه.

د حضرت عبدالله بن عمرو ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په تاسو کي تر ټولو زیات نیك بنده هغه دئ چي د هغه اخلاق ښه وي . بخاري او مسلم

## دویم فصل

### د نرمۍ فضیلت او اهمیت

(۴۸۵۵): عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أُعْطِيَ حَظَّهُ مِنَ الرِّفْقِ أُعْطِيَ حَظَّهُ مِنْ خَيْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمَنْ حُرِمَ حَظَّهُ مِنَ الرِّفْقِ حُرِمَ حَظَّهُ مِنْ خَيْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ . رواه في شرح السنة.

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : چا ته چي د نرمی څخه برخه ورکړل سوه هغه ته د دنیا او آخرت خیر ورکړل سو او څوك چي د نرمی څخه محروم کړل سو هغه د دنیا او آخرت د خیر څخه محروم کړل سو . شرح السنة.

### حیاء د ایمان جز دی

(۴۸۵۶): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحَيَاءُ مِنَ الْإِيمَانِ وَالْإِيمَانُ فِي

د حضرت ابوهریرة ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : حیا د ایمان یو جز دی او ایماندار به جنت ته ځي ، او بي حیائي (بوچ

| | |
|---|---|
| الْجَنَّةِ وَالْبَذَاءُ مِنَ الْجَفَاءِ وَالْجَفَاءُ فِي النَّارِ . رواه احمد والترمذي. | ويل) د بدی ښخه ده او بد کار به دوزخ ته ځي. احمد او ترمذي |

**خوش خلقي**

| | |
|---|---|
| (۴۸۵۷): وَعَنْ رَجُلٍ مِنْ مُزَيْنَةَ قَالَ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا خَيْرُ مَا أُعْطِيَ الْإِنْسَانُ قَالَ الْخُلُقُ الْحَسَنُ . رواه البيهقي في شعب الإيمان. وفي شرح السنة عن اسامة بن شريك. | د مزينه قبيلې د يو سړي ښخه روايت دئ چي صحابه كرامو پوښتنه وكړه اې د الله رسوله ! انسان ته چي كوم شيان وركړل سوي دي په هغو كي غوره كوم شی دی ؟ رسول الله ﷺ ورته |

وفرمايل ښه اخلاق . بيهقي په شعب الايمان كي .

**بدخلقي**

| | |
|---|---|
| (۴۸۵۸): وَعَنْ حَارِثَةَ ابْنِ وَهْبٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ الْجَوَّاظُ وَلَا الْجَعْظَرِيُّ قَالَ وَالْجَوَّاظُ الْغَلِيْظُ الْفَظُّ. رواه ابوداؤد في سننه والبيهقي في شعب الايمان وصاحب جامع الاصول فيه عن حارثة و كذا في شرح السنة عنه وَلَفْظُهُ قَالَ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ الْجَوَّاظُ الْجَعْظَرِيُّ يقال الجعظري اَلْفَظُّ الْغَلِيْظُ وَفِيْ نُسَخِ الْمَصَابِيْحِ عَنْ عِكْرَمَةَ بْنِ وَهْبٍ وَلَفْظُهُ قَالَ وَالْجَوَّاظُ الَّذِيْ جَمَعَ وَمَنَعَ وَالْجَعْظَرِيُّ الْغَلِيْظُ الْفَظُّ. | د حضرت حارثة بن وهب ﷺ ښخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : جنت ته به بد اخلاقه، بد خويه او سخت ويونكى بنده نه ځي . ابوداؤد او بيهقي په شعب الايمان كي، په جامع الاصول او په شرح السنة كي هم د حارثه ښخه روايت دی چي الفاظ يې دادي : جنت ته به مغرور ، سخت او بد خويه بنده نه داخليږي او د مصابيح په نسخو كي د عكرمه بن وهب ښخه روايت دی چي جواظ هغه دی چي مال يې يو ځای كړی وي مګر چا ته يې |

نه وركوي او جعظري سخت او بد خويه بنده ته ويل كيږي .

**خوش خلقي**

| | |
|---|---|
| (۴۸۵۹): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ أَثْقَلَ شَيْئٍ يُوْضَعُ فِي مِيْزَانِ الْمُؤْمِنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ خُلُقٌ حَسَنٌ وَإِنَّ اللهَ يُبْغِضُ الْفَاحِشَ الْبَذِيْءَ. رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن صحيح. و روى ابوداؤد الفصل الاول. | د حضرت ابودرداء ﷺ ښخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كوم شيان چي به د قيامت په ورځ د مؤمن د اعمالو په تله كي اينبودل كيږي په هغو كي تر ټولو درونډ شی به ښه اخلاق وي ، او الله تعالى فحش ويونكى، پالتو ويونكى |

بد ایسي ، ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن صحیح دئ.

| | |
|---|---|
| (۴۸۶۰): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ الْمُؤْمِنَ لَيُدْرِكُ بِحُسْنِ خُلُقِهِ دَرَجَةَ قَائِمِ اللَّيْلِ وَ صَائِمِ النَّهَارِ. رواه ابوداؤد. | د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي فرمایل یې: (پوره) مؤمن د خپلو ښه اخلاقو په |

وجه د شپې د عبادت کونکي او د ورځې د روژه نیونکي درجه تر لاسه کوي . ابوداؤد.

| | |
|---|---|
| (۴۸۶۱): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ لِي رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّقِ اللّٰهَ حَيْثُمَا كُنْتَ وَأَتْبِعِ السَّيِّئَةَ الْحَسَنَةَ تَمْحُهَا وَخَالِقِ النَّاسَ بِخُلُقٍ حَسَنٍ. رواه احمد والترمذي والدارمي. | د حضرت ابو ذر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ ما ته وفرمایل : د اللهﷻ څخه بیره کوه هر چیري چي یې، او د بدی څخه وروسته نیکي کوه ددې لپاره چي نیکي بدي لیري کړي ، |

او د خلکو سره په ښه اخلاقو معامله کوه . احمد ، ترمذي او دارمي.

| | |
|---|---|
| (۴۸۶۲): عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِمَنْ يَحْرُمُ عَلَى النَّارِ وَ بِمَنْ تَحْرُمُ النَّارُ عَلَيْهِ عَلَى كُلِّ هينٍ لينٍ قريبٍ سهلٍ . رواه احمد والترمذي وقال هذا حديث حسن غريب. | د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ایا زه تاسو ته ونه ښیم چي دوزخ پر چا حرام دی ؟ پر هغه چا چي نرم مزاج، نرم طبع، نزدیکت کونکی او نرم خویه وي. احمد او ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن غریب دی. |

| | |
|---|---|
| (۴۸۶۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عن النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال الْمُؤْمِنُ غِرٌّ كَرِيمٌ وَالْفَاجِرُ خِبٌّ لَئِيمٌ. رواه احمد والترمذي وابوداؤد. | د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : مؤمن نیکي کونکی، تیروتونکی او بزرگ وي، او فاجر چالاك ، |

بخیل او بد اخلاق وي. احمد ، ترمذي او ابوداؤد.

| | |
|---|---|
| (۴۸۶۴): وَعَنْ مَكْحُوْلٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُؤْمِنُوْنَ هَيِّنُوْنَ لَيِّنُوْنَ كَالْجَمَلِ الْآنِفِ إِنْ قِيْدَ انْقَادَ وَإِنْ أُنِيْخَ عَلَى صَخْرَةٍ اسْتَنَاخَ . رواه الترمذي مرسلا . | د حضرت مکحول ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : مؤمن د هغه اوښ په دول بردباره او نرم خویه وي چي د هغه په پزه کي مهار وي که هغه راکش کړل سي نو ورسره روان |

سي او که پر ډېره کېښينول سي نو پر ډېره کښېنيني. ترمذي دا حديث مرسلا روايت کړی دئ.

**د خلکو سره اوسېدل**

(۴۸۶۵): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ عن النبي اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال الْمُسْلِمُ الَّذي يُخَالِطُ النَّاسَ وَيَصْبِرُ عَلَى أَذَاهُمْ أَفْضَلُ مِنَ الَّذي لَا يُخَالِطُهُمْ وَلَا يَصْبِرُ عَلَى أَذَاهُمْ. رواه الترمذي وابن ماجة.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: مسلمان چي په خلکو کي اوسي او د هغوئ پر تکليفونو صبر کوي تر هغه مسلمان غوره دی چي په خلکو کي نه اوسيږي او د هغوئ پر تکليفونو صبر نه کوي. ترمذي او ابن ماجه.

**د غصې په واک کي کولو فضيلت**

(۴۸۶۶): وَعَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَظَمَ غَيْظًا وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَى أَنْ يُنَفِّذَهُ دَعَاهُ اللّٰهُ عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُخَيِّرَهُ فِي أَيِّ الْحُورِ شَاءَ. رواه الترمذي وابوداؤد وقال الترمذي هذا حديث غريب، وفي رواية لابي داؤد عن سويد بن وهب عن رجل من ابناء اصحاب النبي صلى الله عليه وسلم عن ابيه قال ملا الله قلبه امنا و ايمانا و ذكر حديث سويد من ترك لبس ثوب جمال في كتاب اللباس.

حضرت سهل بن معاذ ﷺ د خپل پلار څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي پر خپله غصه واک تر لاسه کړي په داسي حال کي چي هغه په خپل غصه سره خپل خواهش پوره کولای سي نو د قيامت په ورځ به الله تعالی هغه د مخلوق په مخکښي را وغواړي او کومه حوره چي د هغه خوښه وي د هغه د خوښولو اختيار به ورکړي. ترمذي، ابوداؤد، او ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی، او ابوداؤد په يو بل روايت کي چي د سويد بن وهب په ذريعه او هغه د نبي کريم ﷺ د يو صحابي د زوی څخه دا الفاظ نقل کړي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالی د هغه سړي زړه چي غصه په واک کي کړي د امن او ايمان څخه ډک کړي، د سويد حديث :من ترک لبس ثوب جمال، په کتاب اللباس کي بيان سوی دی.

## دريم فصل

**د حياء تعريف**

(۴۸۶۷): عَنْ زَيْدِ بْنِ طَلْحَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِكُلِّ دِينٍ خُلُقًا وَخُلُقُ الْإِسْلَامِ الْحَيَاءُ. رواه مالك

د حضرت زيد بن طلحة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په هر دين او مذهب کي يو اخلاق وي او په دين د اسلام کي هغه اخلاق حياء ده، مالک

مرسلا ورواه ابن ماجة والبيهقي في شعب الايمان عن انس وابن عباس.

مرسلا روايت كړى دئ. او ابن ماجه او بيهقي د انس او ابن عباس څخه روايت كړى دئ.

## حياء او ايمان

(۲۸۶۸): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْحَيَاءَ وَالْإِيْمَانَ قُرَنَاءُ جَمِيْعًا فَإِذَا رُفِعَ أَحَدُهُمَا رُفِعَ الْآخَرُ . وفي رواية ابن عباس فإذا سلب أحدهما تبعه الآخر. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: حياء او ايمان يو ځاى ايښودل سوي دي يعني دا د يو بل سره تړلي دي په دوئ كي چي يو پورته كړل سي نو بل هم پورته كيږي ، او دابن عباس په يوه روايت كي داسي دي چي يو سلب كړل سي نو دويم هم ولاړ سي. بيهقي په شعب الايمان كي.

## د خوش خلقي اهميت

(۲۸۶۹): وَعَنْ مُعَاذٍ قَالَ كَانَ آخِرُ مَا وَصَّانِيْ بِهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ وَضَعْتُ رِجْلِيْ فِي الْغَرْزِ أَنْ قَالَ يَا مُعَاذُ أَحْسِنْ خُلُقَكَ لِلنَّاسِ . رواه مالك.

د حضرت معاذ ؓ څخه روايت دئ چي كله زه يمن ته تللى وم او پر آس سپريدو لپاره مي خپله پښه پر ركاب كښېښودل نو رسول الله ﷺ را ته آخري نصيحت وفرمايه چي اې معاذه ! د خلكو سره ښه خوى (اخلاق) كوه . مالك.

(۲۸۷۰): وَعَنْ مَالِكٍ بَلَغَهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ حُسْنَ الْأَخْلَاقِ. رواه الموطأ. ورواه أحمد عن أبي هريرة.

د حضرت مالك ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زه د ښو اخلاقو د پوره كولو لپاره را استول سوى يم. موطا او احمد.

## د رسول ﷺ حُسن او اخلاق

(۲۸۷۱): وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا نَظَرَ فِي الْمِرْآةِ قَالَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ حَسَّنَ خَلْقِيْ وَخُلُقِيْ وَزَانَ مِنِّيْ مَا شَانَ مِنْ غَيْرِيْ . رواه البيهقي في شعب الإيمان مرسلا.

حضرت جعفر بن محمد ؓ د خپل پلار څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ به كله په هنداره كي وكتل نو فرمايل به يې: ټول تعريفونه الله ﷻ لره دي هغه الله تعالى چي زما پيدائش يې ښه كړى دى زما اخلاق يې ښه جوړ كړي دي او په ما كي يې هغه شيان سم كړي دي چي زما په پرته كي عيب دار دي. بيهقي مرسلا.

## د ښه اخلاقو دعاء

(۴۸۷۲): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اَللّٰهُمَّ حَسَّنْتَ خَلْقِيْ فَاحسنْ خُلُقِيْ . رواه احمد

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به فرمايل: اي الله ﷺ! تا زما پيدائش په ښه ډول وكړ زما اخلاق هم ښه كړه . احمد.

## غوره خلك څوك دي ؟

(۴۸۷۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِخِيَارِكُمْ قَالُوا بلى، قَالَ خِيَارُكُمْ أَطْوَلُكُمْ أَعْمَارًا وَأَحْسَنُكُمْ أَخْلَاقًا .رواه احمد.

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا زه تاسو ته ونه ښيم چي په تاسو كي غوره كوم خلك دي ؟ صحابه كرامو وويل: ولي نه، رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو كي غوره هغه خلك دي چي د هغوئ عمرونه اوږده وي او د هغوئ ښه اخلاق وي . احمد.

(۴۸۷۴): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا. رواه ابوداؤد والدارمي.

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په مؤمنانو كي پوره ايمان والا هغه خلك دي چي د هغوئ اخلاق ښه وي. ابوداؤد او دارمي.

## دري حق خبري

(۴۸۷۵): وَعَنْهُ أَنَّ رَجُلًا شَتَمَ أَبَا بَكْرٍ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ يَتَعَجَّبُ وَيَتَبَسَّمُ فَلَمَّا أَكْثَرَ رَدَّ عَلَيْهِ بَعْضَ قَوْلِهِ فَغَضِبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَامَ فَلَحِقَهُ أَبُو بَكْرٍ وَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ كَانَ يَشْتِمُنِي وَأَنْتَ جَالِسٌ فَلَمَّا رَدَدْتُ عَلَيْهِ بَعْضَ قَوْلِهِ غَضِبْتَ وَقُمْتَ قَالَ كَانَ مَعَكَ مَلَكٌ يَرُدُّ عليه فَلَمَّا رَدَدْتَ عَلَيْهِ وَقَعَ الشَّيْطَانُ ثُمَّ قَالَ يَا أَبَا بَكْرٍ ثَلَاثٌ كُلُّهُنَّ حَقٌّ مَا مِنْ عَبْدٍ ظُلِمَ بِمَظْلَمَةٍ فَيُغْضِي عَنْهَا لِلّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ إِلَّا أَعَزَّ اللهُ بِهَا نَصْرَهُ وَمَا فَتَحَ رَجُلٌ بَابَ عَطِيَّةٍ يُرِيدُ بِهَا صِلَةً إِلَّا زَادَ اللهُ

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي نبي كريم ﷺ ناست وو چي يو سړي حضرت ابوبكر صديق ؓ ته بد او رد ويل پيل كړل ، رسول الله ﷺ د هغه بد او رد اوريدل او تعجب يې كوى او تبسم يې كوى ، هر كله چي هغه سړي زيات بد او رد وويل نو ابو بكر صديق ؓ د هغه ځينو بدو جواب وركړ، پر دې خبره رسول الله ﷺ ته غصه ورغله نو ولاړ سو ، ابوبكر صديق ؓ هم ور پسې ورغلى او وه يې ويل: اي د الله رسوله! هغه سړي ما ته بد او رد ويل او ته ناست وې مګر كله چي ما هغه ته ځينو خبرو جواب وركړ

| | |
|---|---|
| بِهَا كَثْرَةً وَمَا فَتَحَ رَجُلٌ بَابَ مَسْأَلَةٍ يُرِيدُ بِهَا كَثْرَةً إِلَّا زَادَ اللّٰهُ بِهَا قِلَّةً. رواه احمد. | نو تاسو په غصه سواست او ولاړ سواست، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل (هغه وخت) ستا |

سره يوه ملائكه وه چي هغه ته يې جواب وركوئ كله چي تا هغه ته جواب وركول شروع كړل نو شيطان په منځ كي راولويدى ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل: اې ابوبكر ! درې خبري دي او ټولي حق دي (۱) يو خو دا چي پر كوم بنده ظلم وكړل سي او هغه صرف د الله تعالى د رضا لپاره پټه خوله پاته سي نو الله تعالى د هغه ډيره مرسته كوي (۲) دويم دا چي څوك د خپل طرفه وركړي دروازه خلاصه كړي او د هغه په ذريعه د خپلو خپلوانو او مسكينانو سره ښه چلن (بخشش)كوي نو الله تعالى د هغه په سبب د هغه مال زياتوي ، (۳) دريم دا چي چا د سوال دروازه خلاصه كړه (فقر يې پيل كړى) او په دې ذريعه هغه خپل دولت زياتول وغوښتل نو الله تعالى ددغه سوال كولو په سبب د هغه مال نور هم كموي . احمد.

**نرمي او مهرباني**

| | |
|---|---|
| ﴿۴۸۷۶﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُرِيدُ اللّٰهُ بِأَهْلِ بَيْتٍ رِفْقًا إِلَّا نَفَعَهُمْ وَلَا يُحْرِمُهُمْ إِيَّاهُ إِلَّا ضَرَّهُمْ . رواه البيهقي في شعب الإيمان. | د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د كومي كورنى لپاره چي الله تعالى نرمي خوښه كړي نو ددغه په ذريعه ورته ګټه رسوي او كومه كورنى چي د |

نرمى څخه محرومه كړي نو هغه ته ددې په سبب ضرر رسوي . بيهقي په شعب الايمان كي.

# بَابُ الْغَضَبِ وَالْكِبْرِ

## (د غصې او تكبر بيان)

## لومړى فصل

**د غصې څخه پرهيز**

| | |
|---|---|
| ﴿۴۸۷۷﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْصِنِي قَالَ لَا تَغْضَبْ فَرَدَّدَ ذَالِكَ مِرَارًا قَالَ لَا تَغْضَبْ . رواه البخاري. | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړي نبي كريم ﷺ ته وويل: چي ما ته يو څه نصيحت وكړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: غصه مه كوه ، هغه څو واره دغه وويل او |

رسول الله ﷺ هر وار په جواب كي دغه ويل چي غصه مه كوه. بخاري.

| | |
|---|---|
| (۴۸۷۸): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرَعَةِ إِنَّمَا الشَّدِيدُ الَّذِي يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ. متفق عليه. | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: پهلوان او طاقتور هغه كس نه دئ چي خلك راغوزار كړي بلكه قوي او |

پهلوان هغه دئ چي د غصې په وخت كې پر خپل خان واك تر لاسه كړي. بخاري او مسلم.

جنتي او دوږخي خلك څوك دي؟

| | |
|---|---|
| (۴۸۷۹): وَعَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهَبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ الْجَنَّةِ كُلُّ ضَعِيفٍ مُتَضَعَّفٍ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللّٰهِ لَأَبَرَّهُ أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ النَّارِ كُلُّ عُتُلٍّ جَوَّاظٍ مُسْتَكْبِرٍ. متفق عليه و في رواية لمسلم كل جواظ زنيم متكبر. | د حضرت حارثة بن وهب ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا زه تا سو ته هغه خلك ونه ښيم چي جنتي دي؟ هر هغه كس چي ضعيف او كمزوری دئ او خلك يې ضعيف او كمزوری گني (او پرهغه جبر او زياتي كوي) كه هغه په الله |

ﷺ قسم وخوري نو الله تعالى د هغه ريښتني كوي، او رسول الله ﷺ وفرمايل: زه تاسو ته هغه خلك وښيم چي دوږخيان دي، هر هغه كس چي په دروغ او پالتو خبره باندي سخته جگړه كوي، سخت مزاج، مال جمع كونكی، بخيل او تكبر كونكی وي، بخاري او مسلم، او د مسلم په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي دوږخي دئ هر هغه څوك چي مال جمع كونكی حرام زاده او تكبر كونكی وي.

متكبر به دوږخ ته ځي

| | |
|---|---|
| (۴۸۸۰): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلُ النَّارَ أَحَدٌ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيْمَانٍ وَلَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ أَحَدٌ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ كِبْرٍ. رواه مسلم. | د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د چا په زړه كي چي يوه ذره ايمان هم وي نو هغه به د همېشه لپاره په دوږخ كي نه وي او د چا په زړه كي چي يوه ذره تكبر وي هغه به جنت ته نه ځي. مسلم. |

د تكبر حقيقت

| | |
|---|---|
| (۴۸۸۱): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ فَقَالَ رَجُلٌ إِنَّ الرَّجُلَ يُحِبُّ أَنْ يَكُوْنَ ثَوْبُهُ حَسَنًا وَنَعْلُهُ حَسَنًا قَالَ إِنَّ اللّٰهَ جَمِيلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ الْكِبْرُ | د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د چا په زړه كي چي د ذرې برابر تكبر وي هغه به جنت ته نه ځي، يو سړي ووېل: هر څوك دا خوښوي چي د هغه ښه جامه وي، ښه څپلې وي (ايا دا هم تكبر دئ) |

بَطَرُ الْحَقِّ وَغَمْطُ النَّاسِ. رواه مسلم.

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل الله تعالى جميل (ښکلی) دئ او ښکلا خوښوي او تکبر حق باطل کولو او خلك ذليل او حقير گڼلو ته وايي. مسلم.

### درې لوي دوږخيان

(۴۸۸۲): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وفي رواية وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ شَيْخٌ زَانٍ وَمَلِكٌ كَذَّابٌ وَعَائِلٌ مُسْتَكْبِرٌ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: درې کسان دي چي د هغوئ سره به الله تعالى د قيامت په ورځ نه خبره وکړي او نه به يې د ګناهونو څخه پاك کړي، او په يوه روايت کي دا الفاظ هم دي چي نه به هغوئ ته وګوري او د هغوئ لپاره به دردناك عذاب وي: يو زنا کونکی سپين ږيری، دويم دروا غجن پاچا او دريم غريب کبر جن. مسلم.

### تکبر کول لکه شرک

(۴۸۸۳): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللّٰهُ تَعَالَى اَلْكِبْرِيَاءُ رِدَائِيْ وَالْعَظَمَةُ إِزَارِيْ فَمَنْ نَازَعَنِيْ وَاحِدًا مِنْهُمَا أَدْخَلْتُهُ النَّارَ. وفي رواية قَذَفْتُهُ فِي النَّارِ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى فرمايي: بزرګي زما خادر دی او عظمت زما ازار دئ نو څوك چي په دغه دوو کي يو شی زما څخه اخلي (يعني د ذات او صفات په اعتبار تکبر وکړي) زه به هغه د دوږخ په اور کي وغورځوم او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي زه به هغه د دوږخ اور ته وغورځوم. مسلم.

## دويم فصل

### تکبر نفس ته دهوکه

(۴۸۸۴): عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَذْهَبُ بِنَفْسِهِ حَتَّى يُكْتَبَ فِي الْجَبَّارِينَ فَيُصِيبُهُ مَا أَصَابَهُمْ. رواه الترمذي.

د حضرت سلمه بن اکوع ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: يو کس چي همېشه خان بزرګ او برترګني او د خلکو څخه ليري اوسي تر څو چي د هغه نوم په متکبرانو او سرکښانو کي ليکل کيږي او بيا (په نيا او آخرت کي) کوم مصيبت چي پر سرکښانو باندي راځي هغه ورته رسيږي. ترمذي.

### د متکبر انجام

(۴۸۸۵): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يُحْشَرُ الْمُتَكَبِّرُونَ أَمْثَالَ الذَّرِّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِي صُوَرِ الرِّجَالِ يَغْشَاهُمُ الذُّلُّ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ فَيُسَاقُونَ إِلَى سِجْنٍ فِي جَهَنَّمَ يُسَمَّى بُولَسَ تَعْلُوهُمْ نَارُ الْأَنْيَارِ يُسْقَوْنَ مِنْ عُصَارَةِ أَهْلِ النَّارِ طِينَةَ الْخَبَالِ. رواه الترمذي.

حضرت عمرو بن شعیب ﷺ د خپل پلار ځخه او هغه د پلار ځخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ به تکبر کونکي د خلکو په صورت کي د کوچني میږیانو په ډول راجمع کړل سي (یعني د هغوئ شکل به د خلکو په ډول مګر په بدن کي به د میږیانو په ډول وي) او ذلت او خواري به د ځلورو خواوو ځخه راګیر کړي وي او هغوئ به د جهنم د یوې بندي خانې په لور چي د هغې نوم بولس دي وشړل سي د هغوئ سربیره به د اورونو اور وي او پر هغوئ به د دوږخیانو وینه او نو وڅښل سي چي د هغه نوم طینة الخبال دئ. ترمذي.

### ناحقه غصه شیطاني اثر دی

(۴۸۸۶): وَعَنْ عَطِيَّةَ بْنِ عُرْوَةَ السَّعْدِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْغَضَبَ مِنَ الشَّيْطَانِ وَإِنَّ الشَّيْطَانَ خُلِقَ مِنَ النَّارِ وَإِنَّمَا يُطْفَأُ النَّارُ بِالْمَاءِ فَإِذَا غَضِبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَتَوَضَّأْ. رواه ابوداؤد.

د حضرت عطیة بن عروة سعدي ﷺ ځخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: غصه د شیطان د لوري ده او شیطان د اور ځخه پیدا کړل سوی دئ او اور په اوبو سره وژل کیږي هر کله چي په تاسو کي چا ته غصه ورسي نو هغه دي اودس وکړي. ابوداؤد.

### د غصې علاج

(۴۸۸۷): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا غَضِبَ أَحَدُكُمْ وَهُوَ قَائِمٌ فَلْيَجْلِسْ فَإِنْ ذَهَبَ عَنْهُ الْغَضَبُ وَإِلَّا فَلْيَضْطَجِعْ. رواه احمد والترمذي.

د حضرت ابو ذر ﷺ ځخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي په تاسو کي یو چا ته غصه ورسي نو که هغه ولاړ وي نو کښیني دي که غصه یې ولاړه سي نو خیر دئ کنه نو بیا دي پریوځي. احمد او ترمذي.

### خراب بنده ځوک دئ؟

(۴۸۸۸): وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ تَخَيَّلَ وَاخْتَالَ وَنَسِيَ الْكَبِيرَ الْمُتَعَالِ

د حضرت اسماء بنت عمیس ﷺ ځخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ ځخه دا واوریدل چي خراب بنده هغه دئ چي ځان یې د نورو ځخه

بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ تَجَبَّرَ وَاعْتَدَى وَنَسِيَ الْجَبَّارَ الْأَعْلَى بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ سَهَا وَلَهَا وَنَسِيَ الْمَقَابِرَ وَالْبِلَى بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ عَتَا وَطَغَى وَنَسِيَ الْمُبْتَدَا وَالْمُنْتَهَى بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ يَخْتِلُ الدُّنْيَا بِالدِّيْنِ بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ يَخْتِلُ الدِّيْنَ بِالشُّبُهَاتِ بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ طَمَعٌ يَقُوْدُهُ بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ هَوًى يُضِلُّهُ بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ رَغَبٌ يُذِلُّهُ. رواه الترمذي والبيهقي في شعب الايمان وقال ليس اسناده بالقوي وقال الترمذي ايضا هذا حديث غريب.

غوره وګڼئ او تکبر يې وکړ او الله تعالى بزرګ او برتر يې هير کړ، او خراب بنده هغه دئ چې پر خلکو يې جبر او قهر وکړ او الله تعالى جبار او قهار يې هير کړ او خراب بنده هغه دى چې ددين کارونه يې هير کړل او يوازې د دنيا په کارونو کې بوخت سو او خراب بنده هغه دئ چې هډيرو او د بدن د وروستوالي خيال يې هير کړ او خراب بنده هغه دى چې هغه فساد پيدا کړ د حد څخه يې تجاوز وکړ او خپله ابتداء او انتهاء يې هير کړل او خراب بنده هغه دى چې دنيا والا وو ته په دين سره دوکه ورکړي، او خراب بنده هغه دى چې دين په شبهاتو سره خرابوي او خراب بنده هغه دى چې حرص او طمعه يې د دنيا په لور راوكاږي ، او خراب بنده هغه دى چې د نفس خواهش يې ګمراه کوي او خراب بنده هغه دئ چې ددنيا حرص او رغبت يې خوار او ذليل کړي ، ترمذي او بيهقي، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دى.

## دريم فصل

### د غصې زغمل

(۴۸۸۹): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا تَجَرَّعَ عَبْدٌ أَفْضَلَ عِنْدَ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ مِنْ جَرْعَةِ غَيْظٍ يَكْظِمُهَا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللّٰهِ تَعَالَى. رواه احمد.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: بنده (د يو شي) غړپ نه چيښي چې د الله ﷺ په نزد د غصې د غړپ څخه غوره وي چې څوك يې د الله د رضا لپاره وچيښي (يعني كه څوك غصه په قابو كې راولي دا د الله ﷺ په نزد ډېر زيات ثواب لري او ښه عبادت دى). احمد.

(۴۸۹۰): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ فِيْ قَوْلِهٖ تَعَالَى اِدْفَعْ بِالَّتِيْ هِيَ أَحْسَنُ قَالَ الصَّبْرُ عِنْدَ الْغَضَبِ وَالْعَفْوُ عِنْدَ الْإِسَاءَةِ فَإِذَا فَعَلُوْهُ عَصَمَهُمُ اللّٰهُ وَخَضَعَ لَهُمْ عَدُوُّهُمْ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيْمٌ قَرِيْبٌ. رواه البخاري تعليقا.

حضرت ابن عباس ﷺ د الله تعالى ددغه ارشاد (ادفع بالتي هي احسن) په بدى سره نيكي دفع كړه، په تفسير كې فرمايي چې ددې څخه مراد د غصې په وخت كې صبر كول دي او د بدى په وخت كې معاف كول دي، بيا هر كله چې د غصې او بدى په وخت كې خلك صبر كوي او معافي

كوي نو الله تعالى د هغه نفس د آفتونو څخه خوندي ساتي او د دوئ دښمنان به دوئ ته عاجز سي (داسي گذاره به ورسره كوي) لكه د يو قريب. بخاري.

**غصه ايمان خرابوي**

(۴۸۹۱): وَعَنْ بَهْزِبْنِ حَكِيْمٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْغَضَبَ لَيُفْسِدُ الْإِيْمَانَ كَمَا يُفْسِدُ الصَّبِرُ الْعَسَلَ. رواه البيهقي.

حضرت بهز بن حكيم ﷺ د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: غصه ايمان خرابوي لكه څرنگه چي صَبِر (يو تريخ بوټى) شات خرابوي. بيهقي.

**تواضع اختيار كړئ**

(۴۸۹۲): وَعَنْ عُمَرَ قَالَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ يَا أَيُّهَا النَّاسُ تَوَاضَعُوْا فَإِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ اللهُ فَهُوَ فِيْ نَفْسِهِ صَغِيْرٌ وَفِيْ أَعْيُنِ النَّاسِ عَظِيْمٌ وَمَنْ تَكَبَّرَ وَضَعَهُ اللهُ فَهُوَ فِيْ أَعْيُنِ النَّاسِ صَغِيْرٌ وَفِيْ نَفْسِهِ كَبِيْرٌ حَتّٰى لَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِمْ مِنْ كَلْبٍ أَوْ خِنْزِيْرٍ .رواه البيهقي.

حضرت عمر ﷺ پر منبر سرپيره وفرمايل: اي خلكو! تواضع او عاجزي اختيار كړئ، ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي څوك چي د الله د رضا تر لاسه كولو لپاره د تواضع څخه كار واخلي نو الله تعالى د هغه مرتبه لوړوي نو دى به په خپل زړه كي كوچنى وي خو د خلكو په سترگو (نظر) كي به لوى وي او څوك چي تكبر او غرور كوي الله تعالى هغه ذليل كوي بيا د خلكو په نظر كي هغه حقير او ذليل سي كه څه هم چي هغه په خپل نظر ځان لوى گني تر دې چي بيا هغه د خلكو په نظر كي د سپي او خنزير څخه هم زيات بدتر وي. بيهقي.

**خلك معافول**

(۴۸۹۳): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مُوْسَى بْنُ عِمْرَانَ عَلَيْهِ السَّلَامُ يَا رَبِّ مَنْ أَعَزُّ عِبَادِكَ عِنْدَكَ ؟ قَالَ مَنْ إِذَا قَدَرَ غَفَرَ. رواه البيهقي.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: حضرت موسى بن عمران عليه السلام وويل: اي پروردگاره! ستا په بندگانو كي څوك ستا په نزد ډير عزت ناك دى؟ الله تعالى ورته وفرمايل: هغه څوك چي د بدلې اخيستلو د قدرت سره خلك معاف كړي. بيهقي.

(۴۸۹۴): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ خَزَنَ لِسَانَهُ سَتَرَ اللهُ عَوْرَتَهُ وَمَنْ كَفَّ غَضَبَهُ كَفَّ اللهُ عَنْهُ عَذَابَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنِ اعْتَذَرَ إِلَى اللهِ قَبِلَ اللهُ عُذْرَهُ. رواه البيهقي.

ﷺ وفرمایل: چا چي خپله ژبه بنده وساتل الله تعالى به د هغه عيب پټ وساتي او چا چي خپله غصه بنده كړه الله تعالى به يې د قيامت په ورځ د خپل عذاب څخه وساتي او څوك چي د الله تعالى څخه د خپل گناه معافي او بخښنه وغواړي الله تعالى د هغه عذر قبلوي . بيهقي.

**درې شيان د نجات او درې شيان د هلاکت**

(۲۸۹۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثَلَاثٌ مُنْجِيَاتٌ وَثَلَاثٌ مُهْلِكَاتٌ فَأَمَّا الْمُنْجِيَاتُ فَتَقْوَى اللهِ فِي السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ وَالْقَوْلُ بِالْحَقِّ فِي الرِّضٰى وَالسُّخْطِ وَالْقَصْدُ فِي الْغِنٰى وَالْفَقْرِ وَأَمَّا الْمُهْلِكَاتُ فَهَوًى مُتَّبَعٌ وَشُحٌّ مُطَاعٌ وَإِعْجَابُ الْمَرْءِ بِنَفْسِهِ وَهِيَ أَشَدُّهُنَّ . روى البيهقي الأحاديث الخمسة في شعب الإيمان.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: درې شيان خلاصون ورکونکي دي او درې شيان هلاکونکي دي ، خلاصون ورکونکي شيان يو خو په ظاهر او باطن کي د الله تعالى څخه بيره ده ، دويم په خوښي او ناخوښي دواړو حالتونو کي د حق خبره کول او دريم په شتمنتوب او فقر دواړو حالتونو کي ميانه روي اختيارول ، او هلاکونکي شيان دادي : د نفس هغه خواهش چي د هغه پيروي وکړل سي يعني هغه نفساني خواهش چي هغه پوره کړل سي ، دويم هغه حرص او بخل چي انسان دهغه غلام جوړ سي او دريم د سړي خپل ځان تر نورو خلکو بزرگ او ښه گڼل او دا ډير بد عادت دئ . بيهقي په شعب الايمان کي.

# بَابُ الظُّلْمِ (د ظلم بيان)

## لومړی فصل

**ظالم د قيامت په ورځ**

(۲۸۹۶): عَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ظلم به د قيامت په ورځ د تاريکو سبب وي (يعني ظالم به د قيامت په ورځ د هر لوري په تاريکی کي را گير وي) . بخاري او مسلم.

## ظالم ته وخت ورکول

| | |
|---|---|
| د حضرت ابوموسی ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالی ظالم ته وخت ورکوي (یعني د هغه عمر اوږدوي چې دظلم پیمانه یې ډکه سي) بیا هغه داسي ونیسي چې نه | (۴۸۹۷): وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّهَ لَيُمْلِي الظَّالِمَ حَتَّى إِذَا أَخَذَهُ لَمْ يُفْلِتْهُ ثُمَّ قَرَأَ وَكَذَلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرَى وَهِيَ ظَالِمَةٌ...الاية. متفق عليه. |

یې پرېږدي، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ دا آیت تلاوت کړ (وکذالك اخذربك.....) او ستا د پروردګار نیول داسي دي کله چې هغه کلي والا چې ظالم وي وه یې نیسي.... بخاري او مسلم

## د قوم ثمود کلي

| | |
|---|---|
| د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چې کله چه رسول الله ﷺ د حجر (د قوم ثمود خای) سره تیریدئ نو خلکو ته یې وفرمایل: ددغه خلکو خایونو ته مه ورځئ چې پر خپلو خانونو یې ظلم کړی دی (او خپل پیغمبر حضرت صالح ﷺ | (۴۸۹۸): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ان النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لما مر بِالْحِجْرِ قَالَ لَا تَدْخُلُوا مَسَاكِنَ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ أَنْ يُصِيبَكُمْ مَا أَصَابَهُمْ إِلَّا أَنْ تَكُونُوا بَاكِينَ ثُمَّ قَنَّعَ رَأْسَهُ وَأَسْرَعَ السَّيْرَ حَتَّى أَجْتَازَ الْوَادِيَ. متفق عليه. |

یې درواغجن ګڼلی دی) خو تاسو ددغه کنډوالو څخه عبرت تر لاسه کړئ په ژړا ځیني وځئ داسي نه چې پر تاسو باندې هم هغه مصیبت نازل سي کوم چې پر هغوئ نازل سوی وو. بیا رسول الله ﷺ په خپل څادر سره خپل سر مبارك پټ کړ او په تیزي سره ولاړئ تر څو چې د هغه شېلي څخه ووتئ. بخاري او مسلم

## د ظالم څخه د نیکۍ اخیستل

| | |
|---|---|
| د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د چا چې پر یو مسلمان ورور څه حق وي نو پکار ده چې هغه مسلمان د هغه څخه هغه حق په دنیا کي معاف کړي ددې څخه مخکې چې هغه ورځ راسي چې په هغه کي به نه درهم څه پکار راځي او نه دینار، که هغه | (۴۸۹۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَتْ لَهُ مَظْلَمَةٌ لِأَخِيهِ مِنْ عِرْضِهِ أَوْ شَيْءٍ فَلْيَتَحَلَّلْهُ مِنْهُ الْيَوْمَ قَبْلَ أَنْ لَا يَكُونَ دِينَارٌ وَلَا دِرْهَمٌ إِنْ كَانَ لَهُ عَمَلٌ صَالِحٌ أُخِذَ مِنْهُ بِقَدْرِ مَظْلَمَتِهِ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ حَسَنَاتٌ أُخِذَ مِنْ سَيِّئَاتِ صَاحِبِهِ فعمل عليه. رواه البخاري. |

ورته خپل حق معاف کړ نو غوره سوه کنه بیا د قیامت په ورځ که د ظالم په اعمالو کي څه نیکي وي نو د هغه د نیکیو څخه به د هغه د ظلم برابر نیکي واخیستل سي او مظلوم ته به ورکړل سي او

كه نيكي يې نه وي نو د مظلوم د بديو څخه به هغه اندازه بدي واخيستل سي او د ظالم په حساب كي به واچول سي. بخاري

**حقيقي مفلس څوک دئ؟**

(۴۹۰۰): وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَتَدْرُونَ مَا الْمُفْلِسُ قَالُوا الْمُفْلِسُ فِينَا مَنْ لَا دِرْهَمَ لَهُ وَلَا مَتَاعَ فَقَالَ إِنَّ الْمُفْلِسَ مِنْ أُمَّتِي من يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِصَلَاةٍ وَصِيَامٍ وَزَكَاةٍ وَيَأْتِي قَدْ شَتَمَ هَذَا وَقَذَفَ هَذَا وَأَكَلَ مَالَ هَذَا وَسَفَكَ دَمَ هَذَا وَضَرَبَ هَذَا فَيُعْطَى هَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ وَهَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ فَإِنْ فَنِيَتْ حَسَنَاتُهُ قَبْلَ أَنْ يُقْضَى مَا عَلَيْهِ أُخِذَ مِنْ خَطَايَاهُمْ فَطُرِحَتْ عَلَيْهِ ثُمَّ طُرِحَ فِي النَّارِ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو ته معلومه ده چي مفلس څوك دى؟ صحابه كرامو وويل: په موږ كي خو مفلس هغه څوك دى چي نه ورسره درهم وي او نه سامان او اسباب، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: زما په امت كي به د قيامت په ورځ مفلس هغه څوك وي چي د دنيا څخه يې د ځان سره لمونځ، روژه، زكوة وغيره هر ډول عبادتونه راوړي وي او په دې سره چا ته د ښكنځلو كولو، پر چا د تهمت لګولو، د چا د مال خوړلو، د چا په ناحقه وژلو او د چا په ناحقه وهلو ګناه هم راوړي وي نو هر مظلوم ته به د ظالم د نيكيو څخه نيكي وركول كيږي او هر كله چي د هغه نيكۍ ختمي سي او د خلكو حقونه پاته سي نو د هغه حقدارانو بدۍ او ګناه به د هغه په حساب كي جمع كړل سي او بيا به هغه په دوږخ كي واچول سي. مسلم

**د قيامت په ورځ پوره حساب اخيستل كيږي**

(۴۹۰۱): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَتُؤَدُّنَّ الْحُقُوقَ إِلَى أَهْلِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُقَادَ لِلشَّاةِ الْجَلْحَاءِ مِنَ الشَّاةِ الْقَرْنَاءِ. رواه مسلم وذكر حديث جابر اتقوا الظلم في باب الانفاق.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به د حقدارانو حقوق ادا كړل سي تر دې چي د بې ښكرو پسو لپاره به د ښكرورو پسو څخه بدله واخيستل سي. مسلم او د جابر حديث اتقوا الظلم په باب الانفاق كي تير سوى دى.

## دويم فصل

**كه څوک بد درسره وكړي ظلم مه پر كوئ**

(۴۹۰۲): عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَكُونُوا إِمَّعَةً تَقُولُونَ إِنْ أَحْسَنَ

د حضرت حذيفة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو (امعه) مه جوړيږئ چي

النَّاسُ أَحْسَنَّا وَإِنْ ظَلَمُوا ظَلَمْنَا وَلَكِنْ وَطِّنُوا أَنْفُسَكُمْ إِنْ أَحْسَنَ النَّاسُ أَنْ تُحْسِنُوا وَإِنْ أَسَاءُوا فَلَا تَظْلِمُوا. رواه الترمذي.

داسي وواياست كه خلك زموږ سره نيكي كوي نو موږ به هم ورسره نيكي كوو او كه ظلم كوي نو موږ به هم ورسره ظلم كوو بلكه د خان لپاره دا لازم كړئ كه څوك درسره نيكي وكړي نو هم به ورسره نيكي كوئ او كه درسره بدي وكړي نو تاسو ظلم مه كوئ. ترمذي.

**د الله تعالى رضا تر لاسه كړئ**

(۴۹۰۳): وَعَنْ مُعَاوِيَةَ أَنَّهُ كَتَبَ إِلَى عَائِشَةَ أَنِ اكْتُبِي إِلَيَّ كِتَابًا تُوصِينِي فِيهِ وَلَا تُكْثِرِي فَكَتَبَتْ سَلَامٌ عَلَيْكَ أَمَّا بَعْدُ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنِ الْتَمَسَ رِضَا اللَّهِ بِسَخَطِ النَّاسِ كَفَاهُ اللَّهُ مُؤْنَةَ النَّاسِ وَمَنِ الْتَمَسَ رِضَا النَّاسِ بِسَخَطِ اللَّهِ وَكَلَهُ اللَّهُ إِلَى النَّاسِ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ. رواه الترمذي.

د حضرت معاوية ﷺ څخه روايت دئ چي هغه بي بي عائشې ته وليكل چي ما ته يو خط راوليږه او په هغه كي ما ته نصيحتونه وليكه چي زيات اوږده نه وي، بي بي عائشې ورته په جواب كي وليكل پر تا دي سلام وي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي څوك چي د الله تعالى رضا ولټوي او د خلكو د غضب او ناراضگۍ خيال نه ساتي نو الله تعالى يې د مرستي لپاره كافي دئ چي د خلكو د ضرر څخه يې ساتي، (يعني خلك هم د هغه څخه راضي كوي) او څوك چي د خلكو رضا لټوي او د الله تعالى د غضب او ناراضگۍ پروا نه ساتي نو الله تعالى به دا سړى خلكو ته حواله كړي او پر تا دي سلام وي. ترمذي.

## دريم فصل

**د ظلم څخه مراد شرك هم دئ**

(۴۹۰۴): عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ شَقَّ ذَلِكَ عَلَى أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيُّنَا لَمْ يَظْلِمْ نَفْسَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ ذَاكَ انما هو الشرك أَلَمْ تَسْمَعُوا قَوْلَ لُقْمَانَ لابْنِهِ يَا بُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللَّهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ، وفي رواية لَيْسَ هُوَ كَمَا تَظُنُّونَ

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي كله دا آيت نازل سو (الذين آمنوا ولم يلبسوا....) كومو خلكو چي ايمان راوړ او خپل په ايمان كي يې ظلم گډ نه كړ نو دا هغه خلك دي چي د دوئ لپاره امن دى او دوئ سيده لاره پيدا كونكي دي، صحابه كرامو ته دا خبره گرانه ښكاره سوه، وه يې ويل: اې د الله رسوله! په موږ كي به داسي

| | |
|---|---|
| إِنَّمَا هُوَ كَمَا قَالَ لُقْمَانُ لِابْنِهِ. متفق عليه. | خوك وي چي پر خان به يې ظلم نه وي كړى ، |

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : د ظلم څخه دا مراد نه دی بلکه شرك ښيني مراد دئ . ايا تاسو د لقمان حكيم هغه نصيحت نه دئ اوريدلى چي هغه خپل زوى ته كړى وو (يعني دا چي اې بچيه ! د الله تعالى سره څوك شريك مه جوړوه) ځكه چي شرك ډير لوى ظلم دى ، او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : دا خبره نه ده چي تاسو گمان كړى دى بلكه د ظلم څخه مراد هغه دى چي لقمان خپل زوى ته ويلي وه . بخاري او مسلم.

**اخيرت د دنيا لپاره مه خرابوئ**

| | |
|---|---|
| (۴۹۰۵): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مِنْ شَرِّ النَّاسِ مَنْزِلَةً عِنْدَ اللّٰهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَبْدٌ أَذْهَبَ آخِرَتَهُ بِدُنْيَا غَيْرِهِ. رواه ابن ماجة. | د حضرت ابو امامه رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به د مرتبې په لحاظ بدترين هغه څوك وي چي هغه |

خپل آخرت د بل د دنيا لپاره ضائع كړى وي . ابن ماجه.

**شرك نه بخښل كيږي**

| | |
|---|---|
| (۴۹۰۶): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلدَّوَاوِيْنُ ثَلَاثَةٌ دِيْوَانٌ لَا يَغْفِرُ اللّٰهُ الْإِشْرَاكَ بِاللّٰهِ يَقُوْلُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُّشْرَكَ بِهِ وَدِيْوَانٌ لَا يَتْرُكُهُ اللّٰهُ ظُلْمُ الْعِبَادِ فِيْمَا بَيْنَهُمْ حَتّٰى يَقْتَصَّ بَعْضُهُمْ مِنْ بَعْضٍ وَدِيْوَانٌ لَا يَعْبَأُ اللّٰهُ بِهِ ظُلْمُ الْعِبَادِ فِيْمَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ اللّٰهِ فَذَاكَ إِلَى اللّٰهِ إِنْ شَاءَ عَذَّبَهُ وَإِنْ شَاءَ تَجَاوَزَ عَنْهُ. رواه البيهقي. | د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :عمل نامې پر دري ډوله دي : يو هغه عمل نامه چي هغه الله تعالى نه بخښي او هغه عمل نامه هغه ده چي په هغه كي د الله تعالى سره څوك شريك كړل سوى وي لكه چي الله تعالى فرمايي : (ان الله لا يغفر ان يشرك به ) الله تعالى شرك نه بخښي، دويم ډول عمل نامه هغه ده چي په هغه كي د انسانانو په خپل |

منځ كي ظلمونه درج دي ، دا عمل نامه به الله تعالى همداسي پرېږدي په دې كي به يو د بل څخه قصاص واخلي او دريم ډول عمل نامه هغه ده چي د هغې الله تعالى ته څه پروا نه سته (يعني خوښه يې خپله ده كه يې بخښي او كه بدله ځيني اخلي) په دې كي هغه مظالم او گناهونه دي چي د الله او بندگانو تر منځ دي دا عمل نامه د الله تعالى په خوښه ده كه يې خوښه وي عذاب وركړي او كه يې خوښه وي وه به يې بخښي . بيهقي.

**د مظلوم د ښېرا څخه ځان وساته**

| | |
|---|---|
| (۴۹۰۷): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ | د حضرت علي رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول |

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِيَّاكَ وَدَعْوَةَ الْمَظْلُوْمِ فَإِنَّمَا يَسْأَلُ اللهَ تَعَالٰى حَقَّهٗ وَإِنَّ اللهَ لَا يَمْنَعُ ذَا حَقٍّ حَقَّهٗ. رواه البيهقي.

الله ﷺ وفرمایل: د مظلوم د ښیرا وو څخه ځان وساتئ ځکه چې هغه د الله تعالی څخه یوازې خپل حق غواړي او الله تعالی د حقدار حق نه منع کوي. بیهقي

**د ظالم مرسته**

(۴۹۰۸): وَعَنْ أَوْسِ بْنِ شُرَحْبِيْلٍ أَنَّهٗ سَمِعَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ مَشٰى مَعَ ظَالِمٍ لِيُقَوِّيَهٗ وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّهٗ ظَالِمٌ فَقَدْ خَرَجَ مِنَ الْإِسْلَامِ. رواه البيهقي.

د حضرت اوس بن شرحبیل ؓ څخه روایت دئ چې هغه د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي څوک چې د ظالم ملګرتیا کوي ددې لپاره چې هغه ته قوت حاصل سي او هغه پـه دې پـوهیږي چې هغـه ظالم دئ نو هغـه د اسلام څخه وځي. بیهقي

**د ظالم انجام**

(۴۹۰۹): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّهٗ سَمِعَ رَجُلًا يَقُوْلُ إِنَّ الظَّالِمَ لَا يَضُرُّ إِلَّا نَفْسَهٗ فَقَالَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ: بَلٰى وَاللهِ حَتَّى الْحُبَارٰى لَتَمُوْتُ فِيْ وَكْرِهَا هَزْلًا لِظُلْمِ الظَّالِمِ. روى البيهقي الأحاديث الأربعة في شعب الإيمان.

د حضرت ابوهریرة ؓ څخه روایت دئ چې هغه د یو سړي څخه دا واوریدل چې ظالم چا تـه تاوان نه سي رسولای بلکه خپل ځان تـه تـاوان رسوي ، ددې اوریدو سره ابوهریرة ؓ ورته وویل هو ، قسم په خدای هم داسي ده تر دې چې حباري (مرغه) په خپل ځاله کي د ظالم د ظلم په سبب دنګر سي مړ سي. بیهقي په شعب الایمان کي.

## بَابُ الْأَمْرِ بِالْمَعْرُوْفِ (د نیکی حکم کولو بیان)

### لومړی فصل

**د امر بالمعروف طریقه**

(۴۹۱۰): وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ رَأٰى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهٖ فَإِنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهٖ فَإِنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهٖ وَذٰلِكَ أَضْعَفُ الْإِيْمَانِ. رواه مسلم.

د حضرت ابو سعید خدري ؓ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسو کي چې یو څوک د شریعت خلاف یو کار ووینې نو هغه دې په خپلو لاسونو سره بدل کړي که په لاسونو سره یې توان نه وو نو په ژبه سره دې یې منع کړي او که په ژبه سره یې هم د منع کولو توان نه وي نو په زړه سره دي یې بد وګڼي او دا تر ټولو کمزوری ایمان دئ. مسلم

## د الله ﷺ په حدودو کي سستي

(۲۹۱۱): وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ الْمُدْهِنِ فِي حُدُودِ اللّٰهِ وَالْوَاقِعِ فِيهَا مَثَلُ قَوْمٍ اسْتَهَمُوا سَفِينَةً فَصَارَ بَعْضُهُمْ فِي أَسْفَلِهَا وَصَارَ بَعْضُهُمْ فِي أَعْلَاهَا فَكَانَ الَّذِي فِي أَسْفَلِهَا يَمُرُّ بِالْمَاءِ عَلَى الَّذِينَ فِي أَعْلَاهَا فَتَأَذَّوْا بِهِ فَأَخَذَ فَأْسًا فَجَعَلَ يَنْقُرُ أَسْفَلَ السَّفِينَةِ فَأَتَوْهُ فَقَالُوا مَا لَكَ قَالَ تَأَذَّيْتُمْ بِي وَلَا بُدَّ لِي مِنَ الْمَاءِ فَإِنْ أَخَذُوا عَلَى يَدَيْهِ أَنْجَوْهُ وَنَجَّوْا أَنْفُسَهُمْ وَإِنْ تَرَكُوهُ أَهْلَكُوهُ وَأَهْلَكُوا أَنْفُسَهُمْ. رواه البخاري.

د حضرت نعمان بن بشیر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله تعالی په تاکل سوو حدونو کي سستي کونکي یا په دغه حدودو کي غورځیدلي کسان د هغه خلکو په ډول دي چي د خای تر لاسه کولو لپاره قرعه اندازي وکړي خیني خلك د کښتی په لاندي برخه کي سي او خیني په سربیره برخه کي، بیا کوم خلك چي د کښتی په پورته برخه کي وي هغوئ ته د لاندي خلکو څخه تکلیف وي خکه چي هغوئ د اوبو اخیستلو لپاره لوړ ځي ، پورته خلك دغه څخه تنگ سي او لاندي خلك د تلو راتلو څخه منع کړي نو د لاندي خلکو څخه یو سړي یوه ورځ تبر پورته کړي او د غواړي چي د کښتی بیخ سوری کړي د لوړي برخي خلك هغه ته راسي او ورته وه وایي دا ته څه کوي ؟ هغه ووایي تاسو ته زما د تلو راتلو څخه تکلیف وو او زه د اوبو تر لاسه کولو لپاره مجبور یم (په دي وجه د اوبو لپاره ما ته یو صورت پیدا کول پکار دي په داسي حالت کي دوه صورتونه کیدلای سي) چي یا خو دي خلك دغه ماتونکی د کښتی ماتولو څخه منع کړي او د هغه سړي سره دي خپل خان د ډوبیدو څخه وژغوري یا دي هغه پر خپل حال پریږدي چي هغه هم هلاك سي او دوئ هم هلاك سي . بخاري.

## بې عمله واعظ

(۲۹۱۲): وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُجَاءُ بِالرَّجُلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُلْقَى فِي النَّارِ فَتَنْدَلِقُ أَقْتَابُهُ فِي النَّارِ فيطحن فيها كطحن الْحِمَارُ بِرَحَاهُ فَيَجْتَمِعُ أَهْلُ النَّارِ عَلَيْهِ فَيَقُولُونَ أَيْ فُلَانُ مَا شَأْنُكَ أَلَيْسَ كُنْتَ تَأْمُرُنَا بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَانَا عَنِ الْمُنْكَرِ قَالَ كُنْتُ آمُرُكُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَلَا آتِيهِ وَأَنْهَاكُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَآتِيهِ. متفق عليه.

د حضرت اسامه بن زید ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ به یو سړی راوستل سي او هغه به په اور کي وغورځول سي د هغه کولمي به اور ته د ورتلو سره سمدستي د هغه د نس څخه د باندي راووځي او هغه پر خپلو کولمو داسي شاوخوا راگرځي لکه خر چي پر ژرنده راگرځي ، ددې لیدو سره به دوږخیان پر هغه را ټول سي او

ورته وه به يې وايي اې فلانى سړيه! دا ستا څه حال دئ؟ تا خو به موږ ته د نيكئ حكم راكوئ او د بديو څخه دې منع كولو، اوس دې په خپله دا حال دئ، هغه به ورته په جواب كې وايي هو، ما به تاسو ته د نيكئ امر كوئ مگر خپله به مې په هغه عمل نه كوئ او تاسو به مې د بدو كارو څخه منع كولاست خو خپله به مې كول. بخاري او مسلم.

## دويم فصل

### امر بالمعروف او نهي عن المنكر

(۲۹۱۳): عَنْ حُذَيْفَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ اَوْ لَيُوشِكَنَّ اللّٰهُ اَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عذابا من عنده ثُمَّ لتدعنه فَلَا يُسْتَجَابُ لَكُمْ ، رواه الترمذي.

د حضرت حذيفة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: قسم دئ په هغه ذات چې د هغه په لاس كې زما ساه ده تاسو امر په نيكيو او منع د بديو څخه كوئ كنه نو دير ژر به الله تعالى پر تاسو عذاب نازل كړي دغه وخت به تاسو د الله تعالى څخه دعاء غواړئ او ستاسو دعاء به نه قبليږي. ترمذي.

### گناه بده وگنئ

(۲۹۱۴): وَعَنِ الْعُرْسِ ابْنِ عَمِيرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا عُمِلَتِ الْخَطِيئَةُ فِي الْاَرْضِ مَنْ شَهِدَهَا فَكَرِهَهَا كَانَ كَمَنْ غَابَ عَنْهَا وَمَنْ غَابَ عَنْهَا فَرَضِيَهَا كَانَ كَمَنْ شَهِدَهَا. رواه ابوداؤد.

د حضرت عرس بن عميرة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چې په مځكه كې گناهونه وسي نو څوك چې په زړه سره هغه بد وگني كه څه هم هغه هلته موجود وي نو د هغه سړي په ډول به وي كوم چې هلته موجود نه وي او څوك چې هلته موجود نه وي او هغه گناهونه بد ونه گني نو هغه د هغه چا په ډول دئ چې هلته موجود وي (يعني گناهونه بد گنونكى د گناه كارانو د ډلې څخه ايستل كيږي او گناه بد نه گنونكى په گناه كارانو كې گنل كيږي). ابوداؤد.

### د گناهو څخه نه منع كول

(۲۹۱۵): وَعَنْ اَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ قَالَ يَااَيُّهَا النَّاسُ اِنَّكُمْ تَقْرَءُونَ هٰذِهِ الْاٰيَةَ يَا اَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ اَنْفُسَكُمْ لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ اِذَا اهْتَدَيْتُمْ فَاِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوبكر صديق ﷺ څخه روايت دئ چې هغه خلكو ته وفرمايل: اې خلكو! تاسو دا آيت واياست: (يا ايها الذين آمنوا عليكم...) اې مؤمنانو! د خپلو ځانونو ساتنه پر ځان لازم كړئ

يَقُولُ إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوْا مُنْكَرًا فلم يُغَيِّرُوهُ يُوشِكُ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللّٰهُ بعِقَابه. رواه ابن ماجة والترمذي و صححه وفي رواية ابي داوٗد إِذَا رَأَوْا الظَّالِمَ فَلَمْ يَأْخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ أَوْشَكَ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللّٰهُ بعِقَاب و في اخرى له مَا مِنْ قَوْمٍ يُعْمَلُ فِيهِمْ بِالْمَعَاصِي ثُمَّ يَقْدِرُونَ عَلَى أَنْ يُغَيِّرُوا ثُمَّ لَا يُغَيِّرُون إِلَّا يُوشِكُ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللّٰهُ بعِقَاب وفي اخرى له مَا مِنْ قَوْمٍ يُعْمَلُ فِيهِمْ بِالْمَعَاصِي هُمْ أَكْثَرُ مِمَّنْ يَعْمَلُهُ.

هر کله چي تاسو پر هدايت ياست نو څوک چي ګمراه سوي دي هغه تاسو ته څه تاوان نه سي رسولای، ما د رسول الله ﷺ څخه (ددې آيت په اره) اوريدلي دي چي اې خلکو! هر کله چي تاسو د شريعت خلاف يو کار ووينئ او د هغه اصلاح او تبديلي کوښښ ونه کړئ نو نژدې ده چي الله تعالى تاسو په خپل عذاب کي اخته کړي، ابن ماجه او ترمذي او صحيح يې بللی دی، د ابوداؤد په روايت کي دا الفاظ دي کله چي ظالم ووينئ او هغه د ظلم څخه منع نه کړئ نو نژدې ده چي الله تعالى هغه تول په خپل عذاب کي ګرفتار کړي، د ابوداؤد په يو بل روايت کي دا الفاظ دي چي په کوم قوم کي ګناهونه وسي او هغه قوم د هغه پر اصلاح قدرت لري او بيا يې هم اصلاح ونه کړي نو نژدې ده چي الله تعالى هغه په عذاب کي اخته کړي. او دابوداؤد په يو بل روايت کي دا الفاظ دي چي کوم قوم ګناهونه وکړي او د ګناه کارانو شمير زيات نه وي او قوم د هغه ګناهونه منع ونه کړي نو الله تعالى به هغوئ په خپل عذاب کي اخته کړي.

(۴۹۱۶): وَعَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِاللّٰهِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنْ رَجُلٍ يَكُونُ فِي قَوْمٍ يُعْمَلُ فِيهِمْ بِالْمَعَاصِي يَقْدِرُونَ عَلَى أَنْ يُغَيِّرُوا عَلَيْهِ وَلَا يُغَيِّرُون إِلَّا أَصَابَهُمُ اللّٰهُ منه بعِقَاب قَبْلَ أَنْ يَمُوتُوا. رواه ابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت جرير بن عبد الله رضی الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي په کوم قوم کي چي داسي کس موجود وي چي ګناه کوي او د هغه د ګناه څخه په منع کولو دغه قوم قدرت لري او بيا يې هم نه منع کوي نو الله تعالى به يې د مرګ څخه مخکي په خپل عذاب کي اخته کړي. ابوداؤد او ابن ماجه

## په اخيره زمانه کي په دين عمل کولو فضيلت

(۴۹۱۷): وَعَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ فَقَالَ أَمَا وَاللّٰهِ لَقَدْ سَأَلْتُ عَنْهَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ بَلْ ائْتَمِرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَتَنَاهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ

حضرت ابو ثعلبة رضی الله عنه د الله تعالى ددغه ارشاد (عليکم انفسکم.....) په اره فرمايي: په الله دي مي قسم وي ما د رسول الله ﷺ څخه ددغه آيت په اره پوښتنه وکړه (يعني دا چي ددې سره سم

حَتَّى إِذَا رَأَيْتَ شُحًّا مُطَاعًا وَهَوًى مُتَّبَعًا وَدُنْيَا مُؤْثَرَةً وَإِعْجَابَ كُلِّ ذِي رَأْيٍ بِرَأْيِهِ وَ رَأَيْتَ أَمْرًا لَا بد لَكَ منه فَعَلَيْكَ نَفْسَكَ وَدَعْ أَمْرَ الْعَوَامِّ فَإِنَّ مِنْ وَرَائِكُمْ أَيَّامًا الصَّبْرُ فَمَنْ صَبَرَ فِيهِنَّ قَبَضَ عَلَى الْجَمْرِ لِلْعَامِلِ فِيهِنَّ أَجْرُ خَمْسِينَ رَجُلًا يَعْمَلُونَ مِثْلَ عَمَلِه قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ أَجْرُ خَمْسِينَ مِنْهُمْ قَالَ أَجْرُ خَمْسِينَ مِنْكُمْ. رواه الترمذي و ابن ماجة.

زه د امر بالمعروف او نهي عن المنكر كار پريږدم، رسول الله ﷺ وفرمايل :يا ، بلكه جاري يې وساته تر څو چي ته ووينې چي د بخل اطاعت كيږي د خواهش نفس اتباع كيږي او دنيا ته پر آخرت ترجيح وركوي او هر عقلمند يې رايه غوره گڼي او چي ته دا ووينې چي د كومي خبري څخه دي خلاصون نه ستة نو ته خپل ځان لازم ونيسه (يعني خپل ځان وساته)

او عوام پريږده ځكه چي ستا راتلونكى وخت به داسي وي چي په هغه كي به ته صبر كوې په دغه ورځو كي چي څوك صبر كوي د هغه به دا كيفيت وي چي گويا هغه په خپل لاس كي سكروټه اخيستې ده ، په دغه ورځو كي چي څوك ددين په احكامو عمل كوي هغه ته به پنځوسو كسانو د عمل ثواب وركول كيږي ، صحابه كرامو وويل: اې دالله رسوله ! د هغه پنځوسو كسانو د عمل ثواب چي په هغه زمانه كي وي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل:يا ، بلكه په تاسو كي د پنځوسو كسانو د عمل ثواب. (يعني د رسول الله ﷺ د وخت د خلكو ثواب) .ترمذي.

(۴۹۱۸): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَامَ فِينَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطِيبًا بَعْدَ الْعَصْرِ فَلَمْ يَدَعْ شَيْئًا يَكُونُ إِلَى قِيَامِ السَّاعَةِ إِلَّا ذَكَرَه حَفِظَهُ مَنْ حَفِظَهُ وَنَسِيَهُ مَنْ نَسِيَهُ وَكَانَ فِيمَا قَالَ إِنَّ الدُّنْيَا حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ وَإِنَّ اللَّهَ مُسْتَخْلِفُكُمْ فِيهَا فَنَاظِرٌ كَيْفَ تَعْمَلُونَ أَلَا فَاتَّقُوا الدُّنْيَا وَاتَّقُوا النِّسَاءَ ذَكَرَ أَنَّ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءً يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِقَدْرِ غَدْرَتِه فِي الدُّنْيَا وَمَا غَدْرٌ أَكْبَرَ مِنْ غَدْرِ أَمِيرِ الْعَامَّةِ يُغْرَزُ لِوَاؤُهُ عِنْدَ اسْتِه قَالَ لَا يَمْنَعَنَّ احدا منكم هَيْبَةُ النَّاسِ أَنْ يَقُولَ بِحَقٍّ إِذَا عَلِمَهُ وفي رواية ان راى منكرا ان يغيره فَبَكَى أَبُو سَعِيدٍ و قَالَ قَدْ رَأَيْنَاه فَمَنَعَتْنَا هيبة الناس ان نتكلم فيه ثم قال أَلَا إِنَّ بَنِي

د حضرت ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي (يوه ورځ) د مازديگر د لمانځه وروسته رسول الله ﷺ زموږ په منځ كي خطبه وفرمايل : په هغه خطبه كي يې تر قيامت پورې د راتلونكو ټولو خبرو يادونه وكړه، هغه خبري ياد وساتلې چا چي ياد وساتلې او هيري يې كړې چا چي هيري يې كړې، رسول الله ﷺ چي څه وفرمايل : په هغه كي دا هم وه چي دنيا خوږه ده او تازه ده الله تعالى به په دې كي تاسو خليفه جوړ كړي بيا به گوري چي تاسو څنگه عمل كوئ ، خبردار! د دنيا څخه ځان وساتئ، او دښځو څخه ځان وساتئ ، ددې وروسته يې وفرمايل : دهر وعده ماتونكي سره به د قيامت په ورځ يو بيرغ وي

آدَمَ خُلِقُوا عَلَى طَبَقَاتٍ شَتَّى فَمِنْهُمْ مَنْ يُولَدُ مُؤْمِنًا وَيَحْيَا مُؤْمِنًا وَيَمُوتُ مُؤْمِنًا وَمِنْهُمْ مَنْ يُولَدُ كَافِرًا وَيَحْيَا كَافِرًا وَيَمُوتُ كَافِرًا وَمِنْهُمْ مَنْ يُولَدُ مُؤْمِنًا وَيَحْيَا مُؤْمِنًا وَيَمُوتُ كَافِرًا وَمِنْهُمْ مَنْ يُولَدُ كَافِرًا وَيَحْيَا كَافِرًا وَيَمُوتُ مُؤْمِنًا قال وذكر الْغَضَبَ فَمِنْهُمْ من يكون سَرِيعُ الْغَضَبِ سَرِيعُ الْفَيْءِ فاحداهما بالاخرى ومنهم من يكون بطئ الغضب بطئ الفئ فاحداهما بالاخرى وخياركم من يكون بَطِيءُ الْغَضَبِ سَرِيعُ الْفَيْءِ وَشِرَارُكُمْ مَنْ يَكُوْنُ سَرِيعُ الْغَضَبِ بَطِيءُ الْفَيْءِ قَالَ اتَّقُوا الْغَضَبَ فَاِنَّهُ جَمْرَةٌ عَلَى قَلْبِ ابْنِ آدَمَ اَلَا تَرَوْنَ إِلَى انْتِفَاخِ أَوْدَاجِهِ وَحُمْرَةِ عَيْنَيْهِ فَمَنْ أَحَسَّ بِشَيْءٍ مِّنْ ذٰلِكَ فَلْيَضْطَجِعْ وَلْيَتَلَبَّدْ بِالْأَرْضِ قَالَ وَذَكَرَ الدَّيْنَ فَقَالَ مِنْكُمْ مَنْ يَكُوْنُ حَسَنَ الْقَضَاءِ وَإِذَا كَانَ لَهُ أَفْحَشَ فِي الطَّلَبِ فَاِحْدَاهُمَا بِالْأُخْرٰى وَمِنْهُمْ مَنْ يَكُوْنُ سَيِّئَ الْقَضَاءِ وَإِنْ كَانَ لَهُ أَجْمَلَ فِي الطَّلَبِ فَاِحْدَاهُمَا بِالْأُخْرٰى وَخِيَارُكُمْ مَنْ إِذَا كَانَ عَلَيْهِ الدَّيْنُ أَحْسَنَ الْقَضَاءِ وَإِنْ كَانَ لَهُ أَجْمَلَ فِي الطَّلَبِ وَشِرَارُكُمْ مَنْ إِذَا كَانَ عَلَيْهِ الدَّيْنُ أَسَاءَ الْقَضَاءَ وَإِنْ كَانَ لَهُ أَفْحَشَ فِي الطَّلَبِ حَتّٰى إِذَا كَانَتِ الشَّمْسُ عَلَى رُؤُوسِ النَّخْلِ وَأَطْرَافِ الْحِيطَانِ فَقَالَ أَمَا إِنَّهُ لَمْ يَبْقَ مِنَ الدُّنْيَا فِيمَا مَضَى مِنْهَا إِلَّا كَمَا بَقِيَ مِنْ يَوْمِكُمْ هٰذَا فِيمَا مَضَى مِنْهُ . رواه الترمذي.

چي د هغه د بې قولی سره سم به لوړ يا کښته وي دا به په دنيا کي دده د بې قولی په اندازه غته يا کوچنی وي ، دغه بيرغ به د هغوی مقعد (د انسان د شا خاص اندام) ته نژدې ودرول سي ، بيا يې وفرمايل: په تاسو کي دې د خلکو هيبت او خوف څوك د حق خبرې کولو څخه منع نه کړي هر کله چي د هغه حق خبرې څخه خبر وي ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي هر کله په تاسو کي يو څوك دشريعت خلاف يو کار ووينې نو د هيڅا بيره دې تاسو د هغه د اصلاح څخه منع نه کړي (دغه بيان څخه وروسته) ابو سعيد په ژړا سو او وه يې ويل: ما د شريعت خلاف کار په خپلو سترګو سره وليدی او د خلکو د بيرې د هغه په اره ما څه ونه ويل ، رسول الله ﷺ وفرمايل: په ياد لرئ د آدم عليه السلام اولاد د مختلف طبقاتو څخه پيدا سوی دئ په دوئ کي ځيني هغه دي چي مؤمنان پيدا کړل سوي دي هغه تول ژوند د ايمان په حالت کي تيروي او پر ايمان يې خاتمه کيږي او ځيني پکښي هغه دي چي کافر پيدا کړل سوي دي تول ژوند د کفر په حالت کي تيروي او پر کفر يې خاتمه کيږي او ځيني پکښي داسي دي چي مؤمن پيدا سوي دي د ايمان په حالت کي ژوند تيروي مګر خاتمه يې پر کفر کيږي او ځيني پکښي کافران پيدا سوي دي د کفر په حالت کي ژوند تيروي مګر پر ايمان يې خاتمه کيږي ، ابوسعيد راوي وايي ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ د غصې د دولونو ذکر وکړ او وه يې فرمايل: ځيني کسان داسي دي چي سمدستي په غضب سي

مګر د هغوئ غصه ژر ختمه سي په دغه دوو خبرو کي یو د بل بدل دي یعني ژر غصه راتلل بده خبره ده او ژر غصه تلل ښه خبره ده . ځیني کسان داسي دي چي په زنډ غصه کیږي او په زنډ یې غصه ځي دا د یو بل بدل دي (یعني د غصې په زنډ راتلل ښه دي او وروسته یې ختمیدل بد دي) او همداسي یوه بدي د یوې نیکۍ سره په یو ځای کیدو سره برابر سي ، او رسول الله ﷺ وفرمایل : په تاسو کي غوره کس هغه دئ چي په زنډ غصه ورسي او ژر یې غصه ختمه سي او بد ترین خلك هغه دي چي ژر غصه ور سي او په زنډ ولاړه سي ، ددې وروسته یې وفرمایل : د غصې ځخه ځان وساتئ ځکه چي هغه د آدم علیه السلام د زوی په زړه یوه سکروټه وي تاسو نه وینئ هر کله چي د انسان غضب نازل سي نو د هغه د غاړي رګونه وپړسیږي او سترګي یې سرې سي هر کله چي تاسو غصه محسوسه کړئ نو پریوځئ او دمځکي سره جخت سئ. ددې وروسته رسول الله ﷺ د پور او د پور د ډولونو یادونه وکړه، چي په تاسو کي ځیني خو هغه دي چي په پور ادا کولو کي ښه دي مګر کله چي د هغه پر چا پور سي نو په ادا کولو کي سختي او بد کلامي کوي په دې کي یو عادت د بل عادت بدل دئ، ځیني داسي دي چي په پور ادا کولو کي خراب دي خو که د هغه پر چا پور سي نو په هغه کي نرمي کوي په دې کي یو عادت د دویم عادت بدل دئ مګر په تاسو کي غوره کس هغه دئ چي پر هغه پور وي نو په ښه ډول یې ادا کړي او که پر بل د هغه پور وي نو په نرمۍ سره یې غوښتنه کوي ، او بد ترین کس هغه دئ چي په پور ادا کولو کي خراب او په خپله غوښتلو کي هم سخت او بد کلام وي. د راوي بیان دئ چي رسول الله ﷺ په خطبه کي د نصیحت دا خبري کولې تر څو چي لمر د خرماوو د ښاخونو او دیوالونو غاړي ته ورسیدئ (یعني د لمر لویدو وخت راغلئ) نو (رسول الله ﷺ) وفرمایل : خبردار! زمانه تیره سوې ده د هغې په مقابله کي یوازي دومره زمانه پاته ده څومره چي دا ورځ د ورځي نژدې نژدې پوره برخه تیره سوې ده او څو لمحې پاته سوي دي همداسي ددنیا حال دئ ، د دنیا زیاته برخه تیره سوې ده او اوس یو څو لمحې پاته دي . ترمذي.

(۲۹۱۹): وَعَنْ اَبِيْ الْبَخْتَرِيِّ عَنْ رَجُلٍ مِّنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَنْ يَهْلِكَ النَّاسُ حَتّٰى يُعْذِرُوْا مِنْ اَنْفُسِهِمْ. رواه ابوداؤد.

حضرت ابوبختري ﷺ د نبي کریم ﷺ د یو صحابي ځخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: خلك به تر هغه وخته پوري نه هلاکیږي تر څو پوري چي په هغوئ کي د ګناه زیاتي ونه سي. ابوداؤد.

(۲۹۲۰): وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ عَدِيِّ الْكِنْدِيِّ قَالَ

د حضرت عدي بن عدي کندي ﷺ ځخه روایت

حَدَّثَنَا مَوْلًى لَنَا أَنَّهُ سَمِعَ جَدِّيْ يَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى لَا يُعَذِّبُ الْعَامَّةَ بِعَمَلِ الْخَاصَّةِ حَتّٰى يَرَوُا الْمُنْكَرَ بَيْنَ ظَهْرَانَيْهِمْ وَهُمْ قَادِرُوْنَ عَلَى أَنْ يُنْكِرُوْهُ فَلَا يُنْكِرُوْا فَإِذَا فَعَلُوْا ذٰلِكَ عَذَّبَ اللّٰهُ الْعَامَّةَ وَالْخَاصَّةَ. رواه في شرح السنة.

دیٔ چي مورړ ته زموږ يو آزاد سوي غلام بیان وکړ چي هغه زما د نیکه څخه دا اوریدلي دي چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي الله تعالی د يو قوم عوام د هغوئ د خواصو د ګناهونو په سبب په عذاب کي نه اخته کوي تر څو پوري چي د قوم ډير عوام دا کارونه ويني چي دهغوئ په خپل منځ کي د شريعت خلاف کارونه کيږي او هغوئ د هغه په بندولو قادر وي او منع يې نه کړي ، هر کله چي دا خاموشي او بې پرواهي زياته سي (يعني د قوم عوام په پټه خوله ګناهونه ويني) نو الله تعالی عام او خاص ټول په عذاب کي اخته کوي . شرح السنة.

**د بني اسرائيلو د تباهي سبب**

(۴۹۲۱): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا وَقَعَتْ بَنُوْ إِسْرَائِيْلَ فِي الْمَعَاصِي نَهَتْهُمْ عُلَمَاؤُهُمْ فَلَمْ يَنْتَهُوْا فَجَالَسُوْهُمْ فِي مَجَالِسِهِمْ وَ اكَلُوْهُمْ وَشَارَبُوْهُمْ فَضَرَبَ اللّٰهُ قُلُوْبَ بَعْضِهِمْ بِبَعْضٍ فَلَعَنَهُمْ عَلَى لِسَانِ دَاوٗدَ وَعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ. ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ قَالَ فَجَلَسَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ مُتَّكِئًا فَقَالَ لَا وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ حَتّٰى تَأْطُرُوْهُمْ أَطْرًا. رواه الترمذي وابوداؤد وفي روايته قَالَ كَلَّا وَاللّٰهِ لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ وَلَتَأْخُذُنَّ عَلَى يَدَيِ الظَّالِمِ وَلَتَأْطُرُنَّهٗ عَلَى الْحَقِّ أَطْرًا وَلَتَقْصُرُنَّهٗ عَلَى الْحَقِّ قَصْرًا او لَيَضْرِبَنَّ اللّٰهُ بِقُلُوْبِ بَعْضِكُمْ عَلَى بَعْضٍ ثُمَّ لَيَلْعَنَنَّكُمْ كَمَا لَعَنَهُمْ.

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : بني اسرائيل چي په ګناهونو کي اخته سول ، په پيل کي د هغوئ علماؤو ددې څخه منع کول او کله چي هغوئ د منع کولو سره منع نه سول نو هغوئ هم د هغوئ په مجلسونو کي کښېنستل او د هغوئ سره په خوراك او څښاك کي ملګري سول نو الله تعالی په هغوئ کي د ځينو زړونه د ځيني د زړونو سره ووهل (وتړل) او الله تعالی د حضرت داؤد عليه السلام او حضرت عيسی عليه السلام په ژبه پر دوئ لعنت وکړی او دا لعنت د هغوئ د ګناه کولو او د حد څخه د تيرډلو په سبب سوی وو . د راوي بيان دئ چي (رسول الله ﷺ تکيه لګولي وه کښېنستی وه يې فرمايل : په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په لاس کي زما ساه ده تاسو تر هغه وخته پوري د الله ﷺ د عذاب څخه خلاصون نه سئ تر لاسه کولائ تر څو پوري چي

تاسو فاسقان او ظالمان د ګناهونو څخه منع نه کړئ. ترمذي او ابوداؤد. او په یو بل روایت کې دا الفاظ دي چې (رسول الله ﷺ وفرمایل (څرنګه چې ستاسو خیال دئ داسي هیڅ کله نه ده په الله دي مي قسم وي تاسو به د ښو خبرو حکم ورکوئ اود ناروا وو څخه به منع کوئ خامخا د ظالم لاسونه ونیسئ او پر حق یې اماده کړئ او پر حق یې قائم کړئ کنه نو الله تعالی به په تاسو کې د ځینې زړونه د ځینو د زړنو سره وتړي او بیا به دریاندي لعنت وکړي څرنګه چې پر بني اسرائیلو لعنت سوی وو.

## د بې عمله واعظ حشر

(۴۹۲۲): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَأَيْتُ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي رِجَالًا تُقْرَضُ شِفَاهُهُمْ بِمَقَارِيضَ مِنْ نَارٍ قُلْتُ مَنْ هٰؤُلَاءِ يَا جِبْرِئِيلُ قَالَ هٰؤُلَاءِ خُطَبَاءُ مِنْ أُمَّتِكَ يَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَيَنْسَوْنَ أَنْفُسَهُمْ. رواه في شرح السنة والبيهقي في شعب الإيمان وفي روايته قال خطباء من أمتك الذين يقولون ما لا يفعلون ويقرؤون كتاب الله ولا يعملون.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ما دمعراج په شپه ډیر خلک ولیدل چې د هغوئ شونډان د اور په غچیانو پریکیدل ما دجبرائیل علیه السلام څخه پوښتنه وکړه دا کوم خلك دي؟ هغه راته وویل دا ستا د امت خطیبان دي چې خلکو ته به یې د نیکۍ هدایت کوئ او خپل ځان به یې هیر وو، شرح السنة او بیهقي په شعب الایمان کې، او په یوه روایت کې دا الفاظ دي چې جبرائیل علیه السلام وویل: دا ستاسو د امت واعظان دي چې داسي خبري به یې کولې چې خپله یې عمل نه په کوئ هغوئ به د الله ﷺ کتاب قرآن کریم وایه مګر عمل به یې نه پر کوئ.

## په الهي نعمت کې خیانت

(۴۹۲۳): وَعَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُنْزِلَتِ الْمَائِدَةُ مِنَ السَّمَاءِ خُبْزًا وَلَحْمًا وَأُمِرُوا أَنْ لَا يَخُونُوا وَلَا يَدَّخِرُوا لِغَدٍ فَخَانُوا وَادَّخَرُوا وَرَفَعُوا لِغَدٍ فَمُسِخُوا قِرَدَةً وَخَنَازِيرَ. رواه الترمذي.

د حضرت عمار بن یاسر ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: (د حضرت عیسی علیه السلام پر قوم) د آسمان څخه دسترخوان نازل سو یعني ډوډۍ او غوښه او دا حکم ورکړل سو چې هغوئ دي خیانت نه کوي (د ضرورت او خواهش څخه زیات دي نه خوري یا دبل برخه دي نه اخلي او نه دي یې ذخیره کوي (یعني کوم خوراك چې راسي هغه دي د دویم وخت لپاره نه ایږدي) مګر هغوئ خیانت وکړ او جمع کړل یې یعني خوراك یې د دویمي ورځي لپاره ایښودئ (نو ددې په سزا کې) د هغوئ شکلونه مسخ کړل سو

يعني بيزوګان او خنزيران خيني جوړ سول. ترمذي

## دريم فصل

### د ظالم حاکم په وخت کي

(۲۹۲۴): عَنْ عُمَرَبْنِ الْخَطَّابِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُ تُصِيْبُ أُمَّتِيْ فِيْ آخِرِ الزَّمَانِ مِنْ سُلْطَانِهِمْ شَدَائِدُ لَا يَنْجُوْ مِنْهُ إِلَّا رَجُلٌ عَرَفَ دِيْنَ اللّٰهِ فَجَاهَدَ عَلَيْهِ بِلِسَانِهِ وَيَدِهِ وَقَلْبِهِ فَذٰلِكَ الَّذِيْ سَبَقَتْ لَهُ السَّوَابِقُ وَرَجُلٌ عَرَفَ دِيْنَ اللّٰهِ فَصَدَّقَ بِهِ وَرَجُلٌ عَرَفَ دِيْنَ اللّٰهِ فَسَكَتَ عَلَيْهِ فَإِنْ رَأَى مَنْ يَعْمَلُ الْخَيْرَ أَحَبَّهُ عَلَيْهِ وَإِنْ رَأَى مَنْ يَعْمَلُ بِبَاطِلٍ أَبْغَضَهُ عَلَيْهِ فَذٰلِكَ يَنْجُوْ عَلَى إِبْطَانِهِ كُلِّهِ. بيهقي

د حضرعمر بن خطاب ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما په امت کي به په آخري زمانه کي د هغه پاچهانو د لاسه مصيبتونه راسي او د هغه مصيبتونو او حکمرانانو د لاسه به يوازي هغه خلک خلاصون تر لاسه کړي چي د الله تعالی ددين څخه خبر وي هغه به په خپل ژبه، خپل لاس او خپل زړه سره د حق د اعلان لپاره جهاد کوي نو دا به هغه څوک وي چي د هغه نيکي او د نيکيو ثواب به مخکي وي او يو کس به وي چي ددين څخه به خبر وي او ددين تصديق به کوي او يو کس به وي د الله تعالی ددين څخه به خبر وي او پټه خوله به وي يعني هر کله چي د يو خير عمل ويني نو هغه به خوښوي او کله چي يو بد عمل ويني نو د هغه څخه به نفرت کوي دا کس به هم د خپل محبت او بغض پټ ساتلو په وجه خلاصون تر لاسه کړي. بيهقي

### ګناه ګاران بد نه ګڼل

(۲۹۲۵): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْحَى اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلَى جِبْرَئِيْلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ أَنْ اقْلِبْ مَدِيْنَةَ كَذَا وَكَذَا بِأَهْلِهَا فَقَالَ يَارَبِّ إِنَّ فِيْهِمْ عَبْدَكَ فُلَانًا لَمْ يَعْصِكَ طَرْفَةَ عَيْنٍ قَالَ فَقَالَ اقْلِبْهَا عَلَيْهِ وَعَلَيْهِمْ فَإِنَّ وَجْهَهُ لَمْ يَتَمَعَّرْ فِيَّ سَاعَةً قَطُّ. رواه البيهقي.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالی جبرائيل عليه السلام ته حکم ورکړ چي هغه فلاني ښار يا کلي چي داسي او داسي دئ سره د اوسيدونکو پر بل مخ واړوه ، جبرائيل عليه السلام وويل اي زما پروردګاره ! د هغه کلي په اوسيدونکو کي ستا يو بنده هم دئ چي هغه د يوې لحظي لپاره هم ستا نافرماني نه ده کړې . الله تعالی به ورته وفرمايي چي پر هغه او پر هغوئ هم مخکه واړوه، ځکه چي د هغه مخ (د ګناه په ليدو سره) د يوې لحظي لپاره هم متغير سوی نه دئ. بيهقي

## دگناهونو د زیاتوالي بیره

(۴۹۲۶): وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يَسْأَلُ الْعَبْدَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَقُوْلُ مَا لَكَ إِذَا رَأَيْتَ الْمُنْكَرَ فَلَمْ تُنْكِرْهُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيُلَقَّى حُجَّتَهُ فَيَقُوْلُ يَا رَبِّ خِفْتُ النَّاسَ وَرَجَوْتُكَ. روى البيهقي الأحاديث الثلاثة في شعب الإيمان.

د حضرت ابو سعید ﷜ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د قیامت په ورځ به الله تعالی د بنده څخه پوښتنه وکړي چي په تا هغه وخت څه سوي وه چي تا د شریعت خلاف کار ولیدی او د هغه څخه دي خلك منع نه کړل ، رسول الله ﷺ فرمایي چي هغه بنده ته به د الله ﷻ د لوري دلیل وښودل سي چي الله تعالی به ورته د هغه د بخښني اراده وفرمایي او هغه به وایي اې پروردګاره ! زه د خلکو «د ظلم» څخه بیریدم او ستا د مغفرت امید مي درلودئ . بیهقي.

(۴۹۲۷): وَعَنْ أَبِيْ مُوْسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ إِنَّ الْمَعْرُوْفَ وَالْمُنْكَرَ خَلِيقَتَانِ تُنْصَبَانِ لِلنَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَأَمَّا الْمَعْرُوْفُ فَيُبَشِّرُ أَصْحَابَهُ وَيُوعِدُهُمُ الْخَيْرَ وَأَمَّا الْمُنْكَرُ فَيَقُوْلُ إِلَيْكُمْ إِلَيْكُمْ وَمَا يَسْتَطِيعُوْنَ لَهُ إِلَّا لُزُوْمًا . رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان.

د حضرت ابو موسی اشعري ﷜ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په قبضه کي د محمد ﷺ ساه ده چي مشروع عمل «دشریعت سره سم عمل» او غیر مشروع عمل به د قیامت په ورځ په خپل شکل پیدا کړل سي او د خلکو په مخ کي به ودرول سي چا چي په هغو عمل کړی وي مشروع عمل به خلکو ته زیری واوروي او د انجام د خیر وعده به ورسره وکړي ، او بد عمل به خلکو ته وایي زما څخه لیري سئ لیري سئ او دا خلك به د هغه څخه د بیلېدو قوت نه لري بلکه په هغو پوري به موښتي وي . احمد او بیهقي .

# كتَابُ الرِّقَــاق

## (زړه نرموونكي حديثونه)

## لومړى فصل

### دوه نعمتونه

| | |
|---|---|
| (۴۹۲۸): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ الصِّحَّةُ وَالْفَرَاغُ. رواه البخاري. | د حضـرت ابـن عبـاس ﷺ څخـه روايـت دئ چـي رسـول الله ﷺ وفرمايـل: دوه نعمتونه دي چي د هغو په اره خلك ډېر په تاوان كي پراته دي (يعني |

د هغو قدر نه كوي) يو صحت او بل فراغت. بخاري.

### د دنيا او اخرت مثال

| | |
|---|---|
| (۴۹۲۹): وَعَنِ الْمُسْتَوْرِدِ بْنِ شَدَّادٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ وَاللَّهِ مَا الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا مِثْلُ مَا يَجْعَلُ أَحَدُكُمْ إِصْبَعَهُ فِي الْيَمِّ فَلْيَنْظُرْ بِمَ يَرْجِعُ. رواه مسلم. | د حضرت مستورد بن شداد ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي ويل يې قسم په خداى د آخرت په مقابله كي د دنيا مثال داسي لكه څوك چي په درياب كي |

گوته غوټه كړي او بيا وگوري چي په گوته كي يې څه شي راوړي دي. مسلم.

### دنيا يو بې حيثيته شى دى

| | |
|---|---|
| (۴۹۳۰): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِجَدْيٍ أَسَكَّ مَيِّتٍ قَالَ أَيُّكُمْ يُحِبُّ أَنَّ هَذَا لَهُ بِدِرْهَمٍ فَقَالُوا مَا نُحِبُّ أَنَّهُ لَنَا بِشَيْءٍ قَالَ فَوَاللَّهِ لَلدُّنْيَا أَهْوَنُ عَلَى اللَّهِ مِنْ هَذَا عَلَيْكُم. رواه مسلم. | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د يـو مـړ مرغـومي سره تېر سـو چـي كوچني كوچني غوږونه يې وه، رسول الله ﷺ وفرمايـل: دا مرغـومى څـوك پـه يـوه درهـم اخيستل خوښوي، خلكو وويل: موږ يې د |

هيڅ شي په بدل كي نه غواړو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: په الله تعالى دي مي قسم وي د الله تعالى په نزد دا دنيا تر دې هم زياته ذليله ده څومره چي ستاسو په نظر كي دغه (مردار مرغومى) ذليل دئ. مسلم.

### د مؤمن لپاره دنیا بندیخانه ده

(۴۹۳۱): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَجَنَّةُ الْكَافِرِ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهریرة ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل دنیا دمؤمن لپاره بندیخانه او د کافر لپاره جنت ده. مسلم

### د کافر د نیکی اجر

(۴۹۳۲): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ مُؤْمِنًا حَسَنَةً يُعْطَى بِهَا فِي الدُّنْيَا وَيُجْزَى بِهَا فِي الْآخِرَةِ وَأَمَّا الْكَافِرُ فَيُطْعَمُ بِحَسَنَاتِ مَا عَمِلَ بِهَا لِلّٰهِ فِي الدُّنْيَا حَتَّى إِذَا أَفْضَى إِلَى الْآخِرَةِ لَمْ يَكُنْ لَهُ حَسَنَةٌ يُجْزَى بِهَا. رواه مسلم.

د حضرت انس ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالی د مؤمن د نیکی اجر نه ضائع کوي، په دنیا کي هم (د هغه دنیکی اجر) ورکوي او (په آخرت کي هم)، او که کافر صرف د الله ﷺ د رضا لپاره نیکي کړي وي نود هغه د نیکی اجر په دنیا کي ورکول کیږي او هر کله چي هغه آخرت ته ولاړ سي نو د هغه دهیڅ نیکی اجر به هلته نه وي. مسلم

### د جنت او دوږخ پردې

(۴۹۳۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُجِبَتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ وَحُجِبَتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ. متفق عليه الا عند مسلم حفت بدل حجبت.

د حضرت ابوهریرة ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: دوږخ په شهوتونو سره پټ سوی دئ (یعني پر دوږخ د شهوتو پردې پرتې دي هر کله چي سړی د شهوت پرده وشکوي نو په دوږخ کي داخل سي) او جنت په سختیو او تکلیفونو سره پټ سوی دئ. بخاري او مسلم. او د مسلم په روایت کي د حجبت پر ځای د حُفّت لفظ راغلی دئ چي معنا یې داده چي دوږخ او جنت شهوت او تکلیفونو راګیر کړی دی.

### د مال او زر خاوند

(۴۹۳۴): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعِسَ عَبْدُ الدِّينَارِ وَعَبْدُ الدِّرْهَمِ وَعَبْدُ الْخَمِيصَةِ إِنْ أُعْطِيَ رَضِيَ وَإِنْ لَمْ يُعْطَ سَخِطَ تَعِسَ وَانْتَكَسَ وَإِذَا شِيكَ فَلَا انْتُقِشَ طُوبَى لِعَبْدٍ آخِذٍ بِعِنَانِ فَرَسِهِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ أَشْعَثَ رَأْسُهُ مُغْبَرَّةٍ قَدَمَاهُ

د حضرت ابوهریرة ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د درهم، دینار او څادر بنده هلاک سو، که هغه ته دا شیان ورکړل سي نو هغه خوشحاله او راضي وي او که ور نه کړل سي نو ناراضه وي دا بنده هلاک او ذلیل سو او هر کله

إِنْ كَانَ فِي الْحِرَاسَةِ كَانَ فِي الْحِرَاسَةِ وَإِنْ كَانَ فِي السَّاقَةِ كَانَ فِي السَّاقَةِ إِنِ اسْتَأْذَنَ لَمْ يُؤْذَنْ لَهُ وَإِنْ شَفَعَ لَمْ يُشَفَّعْ . رواه البخاري.

چي په پښته کي يې اغزی ننوزي نو هيڅوك دي يې نه خيني کاږي ، زيرى دى هغه بنده ته چي د الله په لار کي د خپل آس واګي نيولي ولاړ وي د سروربنستان يې بير وي او قدمونه يې په ګرد وي ، که هغه د لښکر پر ساتني وټاکل سي نو پوره ساتنه کوي او که په لښکر کي تر شا و ټاکل سي نو په پوره اطاعت سره په لښکر پسې وي، که هغه د خلکو په محفلونو کي د شرکت اجازه غواړي نو هغوئ اجازه نه ورکوي (ځکه چي هغه دنيوي شان او شوکت نه لري)او که د چا سفارش کوي نو شفارش يې نه قبليږي (ځکه هغه د خلکو په نظر حقير او سپك وي). بخاري.

**مالداري ښه شى نه ده**

(۴۹۳۵): وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ان مِمَّا أَخَافُ عَلَيْكُمْ مِنْ بَعْدِي مَا يُفْتَحُ عَلَيْكُمْ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا وَزِيْنَتِهَا فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ اَوَيَأْتِي الْخَيْرُ بِالشَّرِّ فَسَكَتَ حَتّٰى ظَنَنَّا أَنَّهُ يُنْزَلُ عَلَيْهِ قَالَ فَمَسَحَ عَنْهُ الرُّحَضَاءَ وَقَالَ أَيْنَ السَّائِلُ وَكَأَنَّهُ حَمِدَهُ فَقَالَ إِنَّهُ لَا يَأْتِي الْخَيْرُ بِالشَّرِّ وَإِنَّ مِمَّا يُنْبِتُ الرَّبِيعُ مَا يَقْتُلُ حبطا أَوْ يُلِمُّ إِلَّا آكِلَةَ الْخَضِرِ أَكَلَتْ حَتّٰى امْتَدَّتْ خاصرتاها اسْتَقْبَلَتْ عَيْنَ الشَّمْسِ فَثَلَطَتْ وَبَالَتْ ثم عادت فاكلت وَإِنَّ هٰذَا الْمَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ فَمَنْ أَخَذَهُ بِحَقِّهِ وَوَضَعَهُ فِي حَقِّهِ فَنِعْمَ الْمَعُوْنَةُ هُوَ وَمَنْ أَخَذَهُ بِغَيْرِ حَقِّهِ كان كَالَّذِي يَأْكُلُ وَلَا يَشْبَعُ وَيَكُوْنُ شَهِيْدًا عَلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. متفق عليه.

د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د خپل مرګ څخه وروسته چي زه ستاسو لپاره د کومو شيانو څخه بيريږم په هغو کي د دنيا تازګي او ښکلا دي چي (د فتوحاتو تر لاسه کولو وروسته) به تاسو ته راسي، (ددې اوريدو سره ) يو سړي وويل: ايا ښېګڼه او خير به د ځان سره بدي او شر هم راولي ، ددې اوريدو سره رسول الله ﷺ پټه خوله تر څو چي زموږ دا خيال سو چي پر رسول الله ﷺ وحي نازليږي، د ابو سعيد راوي بيان دئ (د وحي نازليدو څخه (وروسته) رسول الله ﷺ د خپل مخ مبارك څخه خوله وچه کړه بيا يې وفرمايل : پوښتنه کونکى چيري دئ ؟ګويا هغه يې د تعريف ور وګڼئ، بيا يې وفرمايل : نيکي د ځان سره بدي نه راولي (او ددې مثال دادئ د سپرلي موسم چي شنګيا را شنه کوي (دا نيکي يا خير دئ په دې کي هيڅ ډول بدي نسته) مګر د حيوان نس پرسيږي او وژني يې يا هلاکت ته يې نژدې رسوي (بدي په شنګيا کي نه ده د حيوان په کار کي ده يعني وابښه خوړونکي حيوان دومره زيات وابښه وخوړل چي نس يې ډك سواو) دواړي خواوي يې ايله سوې (يعني په شنګيا خوړولو کي يې د

حد ځخه تجاوز وکړ او د ضرورت څخه يې زيات خوراك وكړ چې د بدي او خرابي سبب سو) بيا (د حيوان دا عادت دئ چې نس پر دروند سي نو لمر ته كښني چې د لمر گرمي يې نس نرم کړي) نرمي سوتي يې وكړي او بولي يې وكړي (يعني د لمر گرمي يې نس نرم كړ ، بولي او مرداري ځيني ووتل) او بيا وروسته ولاړ سي او وابنه يې وخوړل (دغه حال دانسان دئ) چې مال په لاس ور سي نو په بې پرواهي يې مصرف كوي او په گناهونو كي اخته سي ، او د دنيا دا مال شين تازه او خوندور دئ څوك چې دا په جايز طريقې سره تر لاسه كړي او په جائز طريقه يې مصرف كړي نو دا مال غوره مرستيال دئ او څوك چې يې په ناجائزه طريقه تر لاسه كړي نو دا مال د هغه سړي په حق كي د هغه چا په ډول دئ چې خوراك كوي او نه مړيږي او دا مال به د قيامت په ورځ پرهغه شاهد وي يعني د هغه د اسراف شهادت به وركوي . بخاري او مسلم.

(٢٩٣٦): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَاللّٰهِ لَا الْفَقْرَ اَخْشَى عَلَيْكُمْ وَلٰكِنْ اَخْشَى عَلَيْكُمْ اَنْ تُبْسَطَ عَلَيْكُمُ الدُّنْيَا كَمَا بُسِطَتْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ فَتَنَافَسُوهَا كَمَا تَنَافَسُوهَا وَتُهْلِكَكُمْ كَمَا اَهْلَكَتْهُمْ. متفق عليه.

د حضرت عمرو بن عوف ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : قسم په خداى زه ستاسو د فقر او مفلسي څخه نه بيريږم بلكه ددې څخه بيريږم چې دنيا به پر تاسو پراخه كړل سي لكه څرنگه چې پر هغه خلكو پراخه كړل سوې وه

چې ستاسو څخه مخكي تير سوي دي بيا به تاسو د دنيا په لور رغبت كوئ يعني د دنيا په خوندونو كي به اخته سئ لكه څرنگه چې ستاسو څخه مخكي خلكو ددې رغبت وكړ او دنيا به تاسو هلاك كړي لكه څرنگه چې هغوئ يې هلاك كړ . بخاري او مسلم.

## د رزق په باره كي دعاء

(٢٩٣٧): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللّٰهُمَّ اجْعَلْ رِزْقَ آلِ مُحَمَّدٍ قُوتًا وفي رواية كفافا . متفق عليه.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : اي الله ! ته د محمد ﷺ د اهل بيت او اولاد ته يوازي دومره رزق وركړې چې

خپل ځان وساتي او د بدن توان په هغه تر لاسه كړي ، او په يوه روايت كي دي چې يوازي دومره رزق وركړې چې د ژوندي پاته كېدلو لپاره يې بس وي . بخاري او مسلم.

## دانسان خلاصون

(٢٩٣٨): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ اَفْلَحَ مَنْ اَسْلَمَ

د حضرت عبد الله بن عمرو ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه چا خلاصون تر

وَرُزِقَ كَفَافًا وَقَنَّعَهُ اللّٰهُ بِمَا آتَاهُ. رواه مسلم.

لاسه کړ چا چي اسلام قبول کړ او د ضرورت په اندازه رزق ورکړل سو او الله تعالی ورته په هغه شي کوم چي ورته ورکړل سوی قناعت ورکړ. مسلم.

**په مال کي د انسان درې برخي**

(۲۹۳۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْعَبْدُ مَالِي مَالِي إِنَّمَا لَهُ مِنْ مَالِهِ ثَلَاثٌ مَا أَكَلَ فَأَفْنَى أَوْ لَبِسَ فَأَبْلَى أَوْ أَعْطَى فَاقْتَنَى وَمَا سِوَى ذَلِكَ فَهُوَ ذَاهِبٌ وَتَارِكُهُ لِلنَّاسِ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: بنده وايي زما مال زما مال او حقيقت دادئ چي د هغه په مال چي څه د هغه دي هغه يوازي درې برخي دي يو خو هغه مال چي هغه وخوړ او ختم يې کړ، دويم هغه مال چي وا يې غوستی او زوړ يې کړی او دريم هغه مال چي د الله ﷺ په لار کي يې ورکړ او د آخرت لپاره يې ذخيره کړ، ددغه درو دولو څخه پرته څه چي دي هغه به تول خلکو ته پريږدي او دی به ځيني ځي. مسلم.

**د مړي سره تلونکي شيان**

(۲۹۴۰): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتْبَعُ الْمَيِّتَ ثَلَاثَةٌ فَيَرْجِعُ اثْنَانِ وَيَبْقَى مَعَهُ وَاحِدٌ يَتْبَعُهُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَعَمَلُهُ فَيَرْجِعُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَيَبْقَى عَمَلُهُ. متفق عليه.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د مړي سره درې شيان ځي دوه بيرته راځي او يو ورسره پاته کيږي: د کور خلك، مال او عمل ورسره ولاړ سي خو راوګرځي د کور خلك او مال دده (يعني مړی) يوازي پريږدي او دوئ ځيني راسي او هغه (يعني د مړي) عمل ورسره پاته سي. بخاري او مسلم.

(۲۹۴۱): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّكُمْ مَالُ وَارِثِهِ أَحَبُّ إِلَيْهِ مِنْ مَالِهِ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا مِنَّا أَحَدٌ إِلَّا مَالُهُ أَحَبُّ إِلَيْهِ من مال وارثه قَالَ فَإِنَّ مَالَهُ مَا قَدَّمَ وَمَالُ وَارِثِهِ مَا أَخَّرَ. رواه البخاري.

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کي څوك دی چي هغه ته د خپل مال څخه زيات د خپل وارث مال خوښيږي، صحابه کرامو وويل: اې د الله رسوله! په موږ کي هيڅوك داسي نسته چي د خپل مال څخه زيات د وارث مال خوښوي، رسول الله ﷺ وفرمايل: دده مال هغه دی چي ده مخکي وليږی (يعني خيرات او صدقې په ذريعه) او هغه د وارث مال دی چي ده دخپل مرګ څخه

وروسته پرينبود (او واقعه داده چي خلك د خان څخه وروسته پرېښودونكى مال چي د وارثانو دى زيات خوښوي). بخاري.

(۴۹۴۲): وَعَنْ مُطَرِّفٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَقْرَأُ أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ قَالَ يَقُولُ ابْنُ آدَمَ مَالِي مَالِي قَالَ وَهَلْ لَكَ يَا ابْنَ آدَمَ إِلَّا مَا أَكَلْتَ فَأَفْنَيْتَ أَوْ لَبِسْتَ فَأَبْلَيْتَ أَوْ تَصَدَّقْتَ فَأَمْضَيْتَ. رواه مسلم.

حضرت مطرف ﷺ د خپل پلار څخه روايت كوي چي زه د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سوم او هغه مبارك دغه وخت دا سورت تلاوت كوى (يعني الهٰكم التكاثر) چي د هغه معنا داده : اې خلكو تاسو د خپل مال په زياتوالى په خپل منځ كي د فخر په سبب د آخرت د خيال څخه بې پروا سوي ياست ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : د آدم عليه السلام اولاد وايي زما مال زما مال، حال دا چي اې د آدم زويه ! ستا په مال كي تا ته هيڅ په لاس نه درځي خو يوازې دومره چي تا وخوړى او ختم دي كړ او وادي غوستى او وه دي شكوى او خيرات دي كړ او د آخرت لپاره دي ذخيره كړ . مسلم

**حقيقي غنا څه شي ده**

(۴۹۴۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ الْغِنَى عَنْ كَثْرَةِ الْعَرَضِ وَلَكِنَّ الْغِنَى غِنَى النَّفْسِ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : غنا د اسباب او سامان په زياتوب نه ده بلكه غنا د زړه شتمنتوب دئ . بخاري او مسلم .

## دويم فصل

**پنځه نصيحتونه**

(۴۹۴۴): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَأْخُذُ عَنِّي هَؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ فَيَعْمَلُ بِهِنَّ أَوْ يُعَلِّمُ مَنْ يَعْمَلُ بِهِنَّ قُلْتُ أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ فَأَخَذَ بِيَدِي فَعَدَّ خَمْسًا فَقَالَ اتَّقِ الْمَحَارِمَ تَكُنْ أَعْبَدَ النَّاسِ وَارْضَ بِمَا قَسَمَ اللَّهُ لَكَ تَكُنْ أَغْنَى النَّاسِ وَأَحْسِنْ إِلَى جَارِكَ تَكُنْ مُؤْمِنًا

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك دئ چي زما څخه دا كلمې واخلي او عمل په وكړي ، يا هغه چا ته يې وښيي چي عمل په وكړي، ما ووېل: اې دالله رسوله ! زه يم، رسول الله ﷺ زما لاس ونيوى او داسي پنځه خبري يې وشميرلې يعني وه يې فرمايل : (۱) د هغه شيانو څخه خان وژغوره كوم

وَأَحِبَّ لِلنَّاسِ مَا تُحِبُّ لِنَفْسِكَ تَكُنْ مُسْلِمًا وَلَا تُكْثِرِ الضَّحِكَ فَإِنَّ كَثْرَةَ الضَّحِكِ تُمِيتُ الْقَلْبَ. رواه احمد والترمذي وقال هذا حديث غريب.

چي الله ﷻ حرام كړي دي كه ته د هغه څخه ځان وساتې نو ستا شمير به د غوره عبادت كونكو خلكو څخه سي (۲) كوم شی چي الله تعالی ستا په قسمت كي ليكلى دي په هغه راضي او شاكر اوسه كه ته داسي وكړې نو ستا شمير به د دنيا په غني ترين خلكو كي سي (۳) د خپل همسايه سره ښه چلن كوه كه ته داسي وكړې نو پوره مؤمن به سې (۴) كوم شی چي د ځان لپاره خوښوې نو د خلكو لپاره يې هم خوښ كړه كه ته داسي وكړې نو پوره مسلمان به سې (۵) او ډير مه خانده ځكه چي ډيره خندا زړه مړ كوي . احمد او ترمذي ، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

**په عبادت کي زړه لګول**

(۴۹۲۵): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انَّ اللّٰهَ يَقُولُ ابْنَ آدَمَ تَفَرَّغْ لِعِبَادَتِي أَمْلَأْ صَدْرَكَ غِنًى وَأَسُدَّ فَقْرَكَ وَإِنْ لَا تَفْعَلْ مَلَأْتُ يَدَكَ شُغْلًا وَلَمْ أَسُدَّ فَقْرَكَ. رواه احمد وابن ماجة.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله پاك فرمايي :اې د آدم زويه! ته خپل زړه په ښه ډول زما د عبادت لپاره مطمئن او فارغ كړه زه به ستا زړه د غنا څخه ډك كړم او فقر او ارتيا به دې دربانډي بنده كړم كه ته داسي ونه كړې نو زه به ستا لاسونه د بوختياوو څخه ډك كړم او ستا فقر او افلاس به هم بند نه كړم . احمد او ابن ماجه

**پرهيزګاري ښه ده**

(۴۹۲۶):وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ ذُكِرَ رَجُلٌ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعِبَادَةٍ وَاجْتِهَادٍ وَذُكِرَ عِنْدَهُ آخَرُ بِرِعَةٍ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَعْدِلْ بِالرِّعَةِ يعني الورع. رواه الترمذي.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړي د رسول الله ﷺ مخته په عبادت او طاعت كي د كوښښ ذكر وكړ او بل سړي د پرهيزګارۍ ذكر وكړ (رسول الله ﷺ) ورته وفرمايل : دا، (يعني په عبادت او طاعت كي كوښښ) د پرهيزګارۍ برابر مه ګرځوه . (يعني پرهيزګاري لوی شی دی .) ترمذي.

**پنځه شيان غنيمت تر پنځو شيانو مخکي وګڼئ**

(۴۹۲۷): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ الْأَوْدِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِرَجُلٍ وَهُوَ يَعِظُهُ اغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ شَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ وَصِحَّتَكَ قَبْلَ سَقَمِكَ وَغِنَاكَ قَبْلَ فَقْرِكَ وَفَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ

د حضرت عمرو بن ميمون اودي ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ يو سړي ته وفرمايل چي پنځه شيان تر پنځو شيانو مخكي غنيمت وګڼه يعني (۱) ځواني مخكي

| | |
|---|---|
| وَحَيَاتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ. رواه الترمذي مرسلا . | تر سپين ويرتوب (۲) روغتيا مخکي تر |

ناروغی (۳) غنا مخکي تر مفلستيا (۴) فراغت مخکي تر بوختيا (۵). او ژوند مخکي تر مرگ . ترمذي.

**انتظار کول**

| | |
|---|---|
| (۲۹۴۸): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا يَنْتَظِرُ أحدكم إِلَّا غِنًى مُطْغِيًا أَوْ فَقْرًا مُنْسِيًا أَوْ مَرَضًا مُفْسِدًا أَوْ هَرَمًا مُفَنِّدًا أَوْ مَوْتًا مُجْهِزًا أَوْ الدَّجَّالَ فالدجال شَرُّ غَائِبٍ يُنْتَظَرُ أَوْ السَّاعَةَ وَالسَّاعَةُ أَدْهَى وَأَمَرُّ. رواه الترمذي والنسائي. | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو کي يو سړی د شتمنتوب انتظار کوي چي سرکښ کونکی شی دی يا د مفلسی انتظار کوي چي الله ﷺ هيرونکی شی دی ، يا د ناروغی انتظار کوي |

دي يا د سپين ويرتوب انتظار کوي چي بنده بې حواسه او بې عقله کوي ، د مرگ انتظار کوي چي ناخاپه او ژر راتلونکی دی ، يا ددجال انتظار کوي چي خراب او غائب دی ، يا د قيامت انتظار کوي چي سخت او تلخ حوادث دي . ترمذي او نسائي .

**د دنيا بدوالی**

| | |
|---|---|
| (۲۹۴۹): وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَلَا إِنَّ الدُّنْيَا مَلْعُونَةٌ مَلْعُونٌ مَا فِيهَا إِلَّا ذِكْرُ اللَّهِ وَمَا وَالَاهُ وَعَالِمٌ أَوْ مُتَعَلِّمٌ. رواه الترمذي وابن ماجة. | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خبردار! دنيا ملعونه ده او کوم شی چي په دنيا کي دننه دي هغه هم ملعون دي پرته د الله ﷺ د ذکر څخه او د |

هغه شي څخه کوم چي الله تعالی خوښوي او عالم او يا طالب علم . ترمذي او ابن ماجه

**د دنيا حيثيت**

| | |
|---|---|
| (۲۹۵۰): وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ كَانَتْ الدُّنْيَا تَعْدِلُ عِنْدَ اللَّهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ مَا سَقَى كَافِرًا مِنْهَا شَرْبَةً. رواه احمد والترمذي وابن ماجة. | د حضرت سهل بن سعد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : که دنيا د الله ﷺ په نظر کي د غوماشي د وزر برابر هم څه حيثيت درلودای نو کافر ته به يې يوه ذره هم نه ورکولای . احمد ،ترمذي او ابن ماجه . |
| (۲۹۵۱): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَتَّخِذُوا الضَّيْعَةَ فَتَرْغَبُوا فِي الدُّنْيَا. رواه الترمذي والبيهقي في شعب الايمان. | د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په خپل کاروبار کي دومره مه مبتلئ چي هغه د دنيا په لور د رغبت سبب جوړ سي . ترمذي او بيهقي. |

### د دنيا محبت د اخرت نقصان

(۴۹۵۲): وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَحَبَّ دُنْيَاهُ أَضَرَّ بِآخِرَتِهِ وَمَنْ أَحَبَّ آخِرَتَهُ أَضَرَّ بِدُنْيَاهُ فَآثِرُوا مَا يَبْقَى عَلَى مَا يَفْنَى . رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان.

د حضرت ابو موسى ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي خپله دنيا عزيزه او محبوبه ګڼي دومره عزيزه چي د الله ﷻ پر محبت غالبه سي هغه خپل آخرت ته تاوان رسوي او څوك چي خپل آخرت عزيز ګڼي نو هغه خپل دنيا ته تاوان رسوي نو تاسو هغه شى اختيار كړئ چي همېشه پاته كيدونكى دى فنا كيدونكى شى پرېږدى . احمد او بيهقي.

### د مال غلام

(۴۹۵۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عن النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال لُعِنَ عَبْدُ الدِّينَارِ لُعِنَ عَبْدُ الدِّرْهَمِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د درهم او دينار پر عبادت كونكي باندي لعنت كړل سوى دئ . ترمذي.

### حرص

(۴۹۵۴): وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا ذِئْبَانِ جَائِعَانِ أُرْسِلَا فِي غَنَمٍ بِأَفْسَدَ لَهَا مِنْ حِرْصِ الْمَرْءِ عَلَى الْمَالِ وَالشَّرَفِ لِدِينِهِ . رواه الترمذي والدارمي.

حضرت كعب بن مالك ؓ د خپل پلار څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: دوه وږي شرمښان چي په خپل منځ كي پرېښودل سي دومره تاوان نه رسوي څومره چي دانسان حرص او د دولت حرص دين ته تاوان رسوي . ترمذي او دارمي.

### د ضرورت څخه زيات سرايونه

(۴۹۵۵): وَعَنْ خَبَّابٍ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا أَنْفَقَ مُؤْمِنٌ مِّنْ نَفَقَةٍ إِلَّا أُجِرَ فِيهَا إِلَّا نَفَقَتَهُ فِي هٰذَا التُّرَابِ . رواه الترمذي وابن ماجه.

د حضرت خباب ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: مسلمان چي څه نفقه كوي هغه ته د هغه ثواب وركول كيږي پرته د هغه مصرف څخه چي دى يې پر خاورو باندي كوي (يعني پرته د ضرورت څخه كورونو جوړولو كي هيڅ ثواب نسته) . ترمذي او ابن ماجه.

(۴۹۵۶): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّفَقَةُ كُلُّهَا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ إِلَّا الْبِنَاءَ فَلَا خَيْرَ

د حضرت انس ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د خرڅ كول ټول د خداى ﷻ په لاره كي دي مګر خرڅ كول پر سراى دوكان

فيه. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

(ببله ضرورت) جوړولو كي هيڅ خير (نيكي او ثواب) نسته. ترمذي او ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دى.

(۴۹۵۷): وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يَوْمًا وَ نَحْنُ مَعَهُ فَرَأَى قُبَّةً مُشْرِفَةً فَقَالَ مَا هَذِه قَالَ أَصْحَابُهُ هَذِه لِفُلَانٍ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فَسَكَتَ وَحَمَلَهَا فِي نَفْسِه حَتَّى لَمَّا جَاءَ صَاحِبُهَا فسلم عَلَيْهِ فِي النَّاسِ فَأَعْرَضَ عَنْهُ صَنَعَ ذَلِكَ مِرَارًا حَتَّى عَرَفَ الرَّجُلُ الْغَضَبَ فِيه وَالْإِعْرَاضَ عَنْهُ فَشَكَا ذَلِكَ إِلَى أَصْحَابِه وَقَالَ وَاللَّهِ إِنِّي لَأُنْكِرُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا خَرَجَ فَرَأَى قُبَّتَكَ فَرَجَعَ الرَّجُلُ إِلَى قُبَّتِه فَهَدَمَهَا حَتَّى سَوَّاهَا بِالْأَرْضِ فَخَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ فَلَمْ يَرَهَا قَالَ مَا فَعَلَتْ الْقُبَّةُ قَالُوا شَكَا إِلَيْنَا صَاحِبُهَا إِعْرَاضَكَ فَأَخْبَرْنَاهُ فَهَدَمَهَا فَقَالَ أَمَا إِنَّ كُلَّ بِنَاءٍ وَبَالٌ عَلَى صَاحِبِه إِلَّا مَا لَا يَعْنِي الا مَا لَا بُدَّ مِنْهُ. رواه ابوداؤد.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي يوه ورځ نبي كريم ﷺ د باندي راووتى موږ ورسره وو چي يوه لوړه قبه (گنبد) يې وليدل او د سپكاوي په لهجه كي يې وفرمايل: دا څنګه گنبده ده، صحابه كرامو وويل: دا فلاني انصاري جوړه كړي ده (ددي اوږدو سره) رسول الله ﷺ پټه خوله سو او خبره يې په زړه كي وساتل ترڅو چي گنبد جوړونكى راغلئ او رسول الله ﷺ ته يې په خلكو سلام وكړ، رسول الله ﷺ د هغه څخه مخ واړوى دا كار يې د ېر واره وكړى تر څو چي هغه سړي د (رسول ﷺ پر مخ د غصې اثار نبني و پيژندلې او د رسول الله ﷺ د مخ گرځولو سره ورته د رسول ﷺ د خفگان احساس وسو هغه صحابه كرامو ته شكايت وكړ او وه يې ويل: قسم په خداى داسي معلوميږي چي رسول الله ﷺ ما ته په غصه دى، صحابه كرامو ورته وويل: رسول الله ﷺ پر دې لوري تشريف راوړى وو او ستا په گنبد ليدو سره په غصه سو، هغه سړي گنبد ته ورغلى او هغه يې ونړول تر څو چي د مځكي سره يې برابره كړه (ددي پېښي څخه وروسته) يوه ورځ بيا رسول الله ﷺ پر هغه لور تشريف راوړ او گنبد يې ونه ليدل نو وه يې فرمايل: هغه گنبد څه سول؟ صحابه كرامو وويل: گنبد كونكي موږ ته ستا د خفگان وويل: موږ د پېښي څخه خبر كړ نو هغه گنبد ونړول، رسول الله ﷺ وفرمايل: خبردار! هر عمارت د هغه پر جوړونكي وبال دى (يعني د عذاب سبب دى) پرته د هغه عمارت څخه چي د هغه څخه پرته چاره نه وي. ابوداؤد.

## كفايت كول

(۴۹۵۸): وَعَنْ أَبِي هَاشِمِ بْنِ عُتْبَةَ قَالَ عَهِدَ إِلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا يَكْفِيكَ

د حضرت ابو هاشم بن عتبة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وصيت وفرمايه چي د دنيا د

مِنْ جَمعِ الْمَالِ خَادِمٌ وَمَرْكَبٌ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ. رواه احمد والترمذي والنسائي وابن ماجة و في بعض نسخ المصابيح عن ابي هاشم بن عتبد بالدال بدل التاء وهو تصحيف.

تولو مالونو څخه ستا لپاره يو خادم او د الله ﷺ په لار كي د سپرتيا لپاره يو سپرلی بس ده. احمد، ترمذي، نسائي، ابن ماجه او د مصابيح په ځيني نسخو كي عتبد (په دال سره) دئ چي دا تصحيف دئ، تصحيف په ليكلو كي غلطي كولو ته وايي.

**د انسان ضرورتونه**

(۴۹۵۹): وَعَنْ عُثْمَانَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ لِابْنِ آدَمَ حَقٌّ فِي سِوَى هٰذِهِ الْخِصَالِ بَيْتٌ يَسْكُنُهُ وَثَوْبٌ يُوَارِي بِهِ عَوْرَتَهُ وَجِلْفُ الْخُبْزِ وَالْمَاءِ. رواه الترمذي.

د حضرت عثمان ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ددغه شيانو پرته د آدم عليه السلام د اولاد پر هيڅ شي هيڅ حق نه سته، د اوسيدو لپاره كور، د بدن پټولو لپاره جامه، وچه ډوډی او اوبه. ترمذي.

**د الله ﷻ او خلكو مينه حاصلول**

(۴۹۶۰): وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قال جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ إِذَا أَنَا عَمِلْتُهُ أَحَبَّنِي اللّٰهُ وَأَحَبَّنِي النَّاسُ قَالَ ازْهَدْ فِي الدُّنْيَا يُحِبَّكَ اللّٰهُ وَازْهَدْ فِيمَا عند النَّاسِ يُحِبُّكَ النَّاسُ. رواه الترمذي وابن ماجة.

د حضرت سهل بن سعد ؓ څخه روايت دئ چي يو سړی حاضر سو او عرض يې وكړ اي د الله رسوله! ما ته يو داسي عمل وښيه چي زه هغه وكړم نو الله تعالی او د هغه بندګان زما سره مينه وكړي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: د دنيا په لوړ رغبت مه كوه الله ﷻ به درسره مينه وكړي او د هغه شي خواهش مه كوه كوم چي د خلكو سره وي خلك به ستا سره مينه كوي. ترمذي او ابن ماجه.

(۴۹۶۱): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَامَ عَلَى حَصِيرٍ فَقَامَ وَقَدْ أَثَّرَ فِي جسده فَقَال ابن مسعود يَا رَسُولَ اللّٰهِ لو امرتنا ان نبسط لك ونعمل فَقَالَ مَا لِي وَ لِلدُّنْيَا مَا أَنَا وَالدُّنْيَا إِلَّا كَرَاكِبٍ اسْتَظَلَّ تَحْتَ شَجَرَةٍ ثُمَّ رَاحَ وَتَرَكَهَا. رواه الترمذي وابن ماجة.

د حضرت ابن مسعود ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ پر ګوني (بوری) بيده سو، كله چي د خوب څخه راكښېنستی نو پر بدن مبارك يې نښې وې، ابن مسعود وويل: اې د الله رسوله! كه تاسو حكم وكړی نو موږ به تاسو ته فرش غوړولای او جامه به مو جوړولای، رسول الله ﷺ وفرمايل: د دنيا سره زما څه مطلب دئ؟ زما

او دنیا مثال داسي دئ لکه یو سپور چي د یوې درختي لاندي ودرېږي د سایې څخه ګټه واخلي او بیا روان سي او درخته هلته پرېږدي. احمد، ترمذي او ابن ماجه.

### د فخر وړ مؤمن

(۲۹۶۲): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَغْبَطُ أَوْلِيَائِي عِنْدِي لَمُؤْمِنٌ خَفِيفُ الْحَاذِ ذُو حَظٍّ مِنَ الصَّلَاةِ أَحْسَنَ عِبَادَةَ رَبِّهِ وَأَطَاعَهُ فِي السِّرِّ وَكَانَ غَامِضًا فِي النَّاسِ لَا يُشَارُ إِلَيْهِ بِالْأَصَابِعِ وَكَانَ رِزْقُهُ كَفَافًا فَصَبَرَ عَلَى ذَلِكَ ثُمَّ نَقَدَ بِيَدِهِ فَقَالَ عُجِّلَتْ مَنِيَّتُهُ قَلَّتْ بَوَاكِيهِ قَلَّ تُرَاثُهُ . رواه احمد والترمذي وابن ماجة

د حضرت ابو امامه ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زما په نزد زما په دوستانو کي د فخر وړ هغه مؤمن دی چي د دنیا دمال او خیال څخه به سپك وي او د لمانځه د اعتبار څخه خوش نصیبه وي یعني د خپل پروردګار عبادت په ښه ډول کوي او په پټه طریقه سره په طاعت الهي کي بوخت وي، په خلکو کي ګمنامه وي د هغه په لور په ګوتو اشاره ونه کړل سي د هغه روزي یوازي د بسوالي د درجې وي او پر هغه صابر او قانع وي، ددې ویلو سره رسول الله ﷺ د ګوتو په یو د بله وهلو سره اواز وکړی او بیا یې وفرمایل: د هغه په مرګ کي تلوار وسي پر هغه ژړېدونکي ښځي کمي وي او میراث یې کم وي، احمد، ترمذي او ابن ماجه.

### د دنیا سره د رسول الله ﷺ بې رغبتي

(۲۹۶۳): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَرَضَ عَلَيَّ رَبِّي لِيَجْعَلَ لِي بَطْحَاءَ مَكَّةَ ذَهَبًا فَقُلْتُ لَا يَا رَبِّ وَلَكِنْ أَشْبَعُ يَوْمًا وَأَجُوعُ يَوْمًا فَإِذَا جُعْتُ تَضَرَّعْتُ إِلَيْكَ وَذَكَرْتُكَ وَإِذَا شَبِعْتُ حَمِدْتُكَ وَشَكَرْتُكَ. رواه احمد والترمذي.

د حضرت ابو امامه ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالی ما ته دا خبره وکړه چي هغه زما لپاره د مکې ډبري د سرو زرو جوړ کړي، ما عرض وکړ :یا، اې زما پروردګاره! زه خو دا غواړم چي یوه ورځ په ماړه نس وخورم او یوه ورځ وږی یم هر کله چي زه وږی یم ستا په لور به عاجزي او زاري وکړم او تا به یاد کړم او هر کله چي په ماړه نس خوراك وکړم نو ستا تعریف او ستا شکر به ادا کړم. احمد او ترمذي.

### د دنیا اصل نعمتونه

(۲۹۶۴): وَعَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ مِحْصَنٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمْ آمِنًا فِي سِرْبِهِ مُعَافًى فِي جَسَدِهِ عِنْدَهُ قُوتُ يَوْمِهِ

د حضرت عبید الله بن محصن ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چي په داسي حال کي سبا کړي چي د خپل ځان د لوري په امن

فَكَأَنَّمَا حِيزَتْ لَهُ الدُّنْيَا بِحَذَافِيرِهَا. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

وي ، بدن يې درست وي د يوې ورځې د خوراك سامان ورسره وي نو ګويا د هغه لپاره د دنيا نعمتونه جمع سوي دي او ټول دنيا هغه ته ورکړل سوي ده . ترمذي.

### د نس ډېرې برخې

(۲۹۶۵): وَعَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِي كَرِبَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَا مَلَأَ آدَمِيٌّ وِعَاءً شَرًّا مِنْ بَطْنٍ بِحَسْبِ ابْنِ آدَمَ أُكُلَاتٌ يُقِمْنَ صُلْبَهُ فَإِنْ كَانَ لَا مَحَالَةَ فَثُلُثٌ طعام وَثُلُثٌ شراب وَثُلُثٌ لِنَفَسِه. رواه الترمذي وابن ماجة.

د حضرت مقدام بن معدي کرب ؓ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي : سړي بل هيڅ يو لوښی تر نس بد نه دی ډك کړئ هر کله چي نس ښه ډك کړي او د هغه څخه ديني او دنيوي خرابي پيدا سي ، د سړي لپاره يو څو ګولې بس دي چي د هغه ملا سيده وساتي ، که ډکول ضروري وي نو پکار ده چي نس درې برخي کړي ،په يوه برخه کي خوراك، په يوه برخه کي اوبه او دريمه برخه د ساه لپاره . ترمذي او ابن ماجه .

### د دنيا موړوالی

(۲۹۶۶): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعَ رَجُلًا يَتَجَشَّأُ فَقَالَ أَقْصِرْ مِنْ جُشَائِكَ فَإِنَّ أَطْوَلَ النَّاسِ جُوْعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَطْوَلُهُمْ شِبْعًا فِي الدُّنْيَا . رواه في شرح السنة . وروى الترمذي نحوه.

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د يو سړي د نس اروړمی واوريده نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : خپل اروړمی بنده کړه ځکه چي د قيامت په ورځ به لويه لوږه لرونکی هغه سړی وي چي په دنيا کي به په ماړه نس خوراك کوي. شرح السنه او ترمذي هم داسي روايت کړی دی .

### مال يو فتنه ده

(۲۹۶۷): وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عِيَاضٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ لِكُلِّ أُمَّةٍ فِتْنَةً وَفِتْنَةُ أُمَّتِي الْمَالُ. رواه الترمذي.

د حضرت کعب بن عياض ؓ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي د هر قوم او امت لپاره يوه فتنه وي او زما د امت فتنه مال دی. .ترمذي.

### د مال جمع کونکی

(۲۹۶۸): وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت انس ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله

وَسَلَّمَ قَالَ يُجَاءُ بِابْنِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَأَنَّهُ بَذَجٌ فَيُوقَفُ بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ فَيَقُولُ لَهُ أَعْطَيْتُكَ وَخَوَّلْتُكَ وَأَنْعَمْتُ عَلَيْكَ فَمَا صَنَعْتَ فَيَقُولُ رَبِّ جَمَعْتُهُ وَثَمَّرْتُهُ وَتَرَكْتُهُ أَكْثَرَ مَا كَانَ فَارْجِعْنِي آتِكَ بِهِ كُلِّهِ فَيَقُولُ لَهُ أَرِنِي مَا قَدَّمْتَ فَيَقُولُ رَبِّ جَمَعْتُهُ وَثَمَّرْتُهُ وَتَرَكْتُهُ أَكْثَرَ مَا كَانَ فَارْجِعْنِي آتِكَ بِهِ كُلِّهِ فَإِذَا عَبْدٌ لَمْ يُقَدِّمْ خَيْرًا فَيُمْضَى بِهِ إِلَى النَّارِ. رواه الترمذي و ضعفه.

ﷺ وفرمايل : د آدم عليه السلام اولاده بـه د قيامت په ورخ داسي راوستل سي لكه د پسو كوچني بچيان ، بيا به د الله ﷻ په مخكي ودرول سي ، الله تعالى به ورته فرمايي ما درته ژوند دركړى وو ما درته غلام ، مينځي، مال او دولت دركړى وو او ما درباندي انعام كړى وو (يعني كتاب او رسول مي در استولي وه)نو تا څه كار وكړ ؟ ابن آدم به ورته وايي اې پروردګاره ! ما مال جمع كړ هغه مي په تجارت سره زيات كړ او څومره چي به مي تر لاسه كړ تر هغه مي زيات په دنيا كي پرېښود ما دنيا ته بيرته وليږئ چي دا ټول مال تا ته راوړم (يعني دنيا ته ولاړ سم هغه ټول مال خيرات كړم) بيا به الله تعالى پوښتنه وكړي كوم مال چي تا مخكي ليږلى دئ هغه وښيه، هغه به جواب كي ووايي اې پروردګاره ! ما مال جمع كړ زيات مي كړ او د هغه څخه زيات مي په دنيا كي پرېښود څومره چي وو ته ما دنيا ته بيرته وليږه چي زه هغه مال تا ته راوړم نو دا خبره به ښكاره سي چي دى داسي بنده دى چي د اخيرت لپاره يې هيڅ نه دي ذخيره كړي نو دى به د دوږخ په طرف واستول سي . ترمذي.

**صحت او يخې اوبه**

(۲۹۶۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَوَّلَ مَا يُسْأَلُ العبد يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنَ النَّعِيمِ أَنْ يُقَالَ لَهُ أَلَمْ نُصِحَّ جِسْمَكَ وَنُرْوِكَ مِنَ الْمَاءِ الْبَارِدِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت پـه ورځ بـه د بنده څخـه د نعمتونو په اړه لومړى چي كوم سوال كيږي هغه به دا وي چي ايا موږ تا ته صحت نه وو دركړى او په يخو اوبو سره مو نه وې اوبه كړى . ترمذي.

**پنځه نعمتونه**

(۲۹۷۰): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَزُولُ قَدَمَا ابْنِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ خَمْسٍ عَنْ عُمُرِهِ فِيمَا أَفْنَاهُ وَعَنْ شَبَابِهِ فِيمَا أَبْلَاهُ وَمَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ وَفِيمَا أَنْفَقَهُ

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ بـه د چا پښې حركت نه كوي تر څو پوري چي د سري څخه دا پنځه خبري ونه پوښتل سي د هغه څخه به پوښتنه وسي چي خپل عمر دي پـه كوم كار

وَمَاذَا عَمِلَ فِیمَا عَلِمَ. رواه الترمذي وقال هذا حدیث غریب.

کي صرف کړ ، خپله خواني دې په کوم کار کې ختمه کړه؟ مال دې څنګه وګټی او څنګه دې خرڅ کړ؟ او کوم عمل چې دې تر لاسه کړی وو د هغه سره سم دې کوم عمل وکړ . ترمذي. دا حدیث غریب دی.

# دریم فصل

## غوره والی په تقوا کې دی

(۲۹۷۱): عَنْ أَبِي ذَرٍّ أَنَّ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ انك لست بِخَيْرٍ مِنْ أَحْمَرَ وَلَا أَسْوَدَ إِلَّا أَنْ تَفْضُلَهُ بِتَقْوَى . رواه احمد.

د حضرت ابو ذر ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ هغه ته وفرمایل : ته د سور او تور رنګ په سبب غوره نه یې مګر که ته په تقوا سره غوره سوې (یعني د هر یوه سره تقوا هم ضروري ده) . احمد.

## د دنیا څخه زهد

(۲۹۷۲): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا زَهِدَ عَبْدٌ فِي الدُّنْيَا إِلاَّ أَنْبَتَ اللَّهُ الْحِكْمَةَ فِي قَلْبِهِ وَأَنْطَقَ بها لِسَانَهُ وَبَصَّرَهُ عَيْبَ الدُّنْيَا وَدَاءَهَا وَدَوَاءَهَا وَأَخْرَجَهُ مِنْهَا سَالِماً إِلَى دَارِ السَّلَامِ . رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت ابو ذر ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : کوم بنده چې په دنیا کې زهد اختیار کړي الله تعالی د هغه په زړه کې حکمت پیدا کړ د هغه ژبه یې ګویا کړه هغه ته یې د دنیا عیبونه او د هغې ناروغی او د هغه ناروغیو درملنه وښودل او بیا یې هغه په سلامتي سره د دې دنیا څخه د دار سلام په لور بوتلی . بیهقي.

## د کامیابي فرمه

(۲۹۷۳): وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَدْ أَفْلَحَ مَنْ أَخْلَصَ الله قَلْبَهُ لِلْإِيمَانِ وَجَعَلَ قَلْبَهُ سَلِيمًا وَلِسَانَهُ صَادِقًا وَنَفْسَهُ مُطْمَئِنَّةً وَخَلِيقَتَهُ مُسْتَقِيمَةً وَجَعَلَ أُذُنَهُ مُسْتَمِعَةً وَعَيْنَهُ نَاظِرَةً فَأَمَّا الْأُذُنُ فَقمعٌ واما الْعَيْنُ فمقرة لِمَا يُوعَى الْقَلْبُ وَقَدْ أَفْلَحَ مَنْ جَعَلَ قَلْبَهُ وَاعِيًا. رواه احمد.

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د چا زړه چې الله تعالی د ایمان لپاره خانګری کړ هغه خلاصون تر لاسه کړ، الله تعالی د هغه زړه (د حسد او نفاق څخه) سالم وساتی ، د هغه ژبه یې رښتونې جوړه کړه او نفس یې ور مطمئن کړ د هغه خوی عادت یې برابر کړی او د هغه غوږونه یې اوریدونکي جوړ کړل د هغه سترګې یې کتونکي جوړې

کړي نو غوړنه یې پیپ دي لکه څرنګه چې د پیپ په ذریعه تیل بوتل ته اچول کیږي او سترګې قائم ساتونکي دي چې د هغه زره خوندي ساتي او البته هغه چا خلاصون تر لاسه کړ چې د هغه زړه د حق خبرې لپاره محافظ جوړ کړل سو ، احمد.

**کافرانو ته دنیا ورکول**

(۴۹۷۴): وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا رَأَيْتَ اللّٰهَ يُعْطِي الْعَبْدَ مِنَ الدُّنْيَا عَلَى مَعَاصِيهِ مَا يُحِبُّ فَإِنَّمَا هُوَ اسْتِدْرَاجٌ ثُمَّ تَلَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ حَتّٰى إِذَا فَرِحُوا بِمَا أُوتُوا أَخَذْنَاهُمْ بَغْتَةً فَإِذَا هُمْ مُبْلِسُونَ. رواه احمد.

د حضرت عقبة بن عامر ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چې ته وویني چې الله تعالی بنده ته د هغه د ګناه سربیره غوره شی ورکوي نو دا یوازې استدراج دئ (درجه پر درجه بیول) بیا رسول الله ﷺ دا آیت تلاوت کړ : (هر کله چې کافرانو هغه نصیحت هیر کړ کوم چې هغوئ ته سوی وو نو موږ د هر شي دروازې پر هغوئ خلاصي کړې تر دې چې هغوئ په هغه شي چې هغوئ ته ورکړل سو خوشحاله سول نو موږ ناڅاپه را ونیول او هغوئ نا امیده سول . احمد.

**د زهد خاوندان**

(۴۹۷۵): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الصُّفَّةِ تُوُفِّيَ وَتَرَكَ دِينَارًا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيَّةٌ قَالَ ثُمَّ تُوُفِّيَ آخَرُ فَتَرَكَ دِينَارَيْنِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيَّتَانِ. رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان.

د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روایت دئ چې د اهل صفه څخه یو کس وفات سو او یو دینار خپني پاته سو ، رسول الله ﷺ وفرمایل : دینار یو داغ دئ ، ابو امامه وایي چې یو څو ورځې وروسته د اصحاب صفه څخه یو بل سړی وفات سو هغه دوه دیناره پرېښودل نو رسول الله ﷺ وفرمایل : دوه دیناره دوه داغونه دي . احمد او بیهقي.

**د دنیاوي مال جمع کولو څخه لیرې سه**

(۴۹۷۶): وَعَنْ مُعَاوِيَةَ أَنَّهُ دَخَلَ عَلَى خَالِهِ أَبِي هَاشِمِ بْنِ عُتْبَةَ يَعُودُهُ فَبَكَى أَبُو هَاشِمٍ فَقَالَ مَا يُبْكِيكَ يَا خَالِ أَوَجَعٌ يُشْئِزُكَ أَمْ حِرْصٌ عَلَى الدُّنْيَا قَالَ كَلَّا وَلٰكِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَهِدَ إِلَيْنَا عَهْدًا لَمْ آخُذْ بِهِ قَالَ وَمَا ذٰلِكَ قَالَ سَمِعْتُهُ يَقُولُ إِنَّمَا يَكْفِيكَ مِنْ جَمْعِ الْمَالِ خَادِمٌ وَمَرْكَبٌ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَإِنِّي أَرَانِي

د حضرت معاویه ﷺ څخه روایت دئ چې هغه د خپل ماما ابو هاشم بن عتبة عیادت (دناروغ پوښتني) ته ورغلی ، ابوهاشم په لیدو سره د ژړل، معاویه ورته وویل : ما ما ولې ژاړې؟ ناروغي په پریشانۍ کي اخته کړی یې یا ددنیا حرص ؟ ابو هاشم وویل : په دې کي یوه خبره

قَدْ جَمَعْتُ. رواه احمد والترمذي والنسائي وابن ماجة. | نسته بلکه د پریشانۍ سبب دادئ چي رسول الله ﷺ مورِ ته وصیت کړی وو چي په هغه ما عمل ونه کړلای سو، معاویه پوښتنه وکړه هغه وصیت څه شی دئ.؟ ابو هاشم ورته وویل: ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي چي تا ته په مال یو ځای کولو کي یوازي یو خادم او د الله په لار کي د جنګ لپاره یوه سپرلۍ بس ده او زما خیال دئ چي ما مال جمع کړی دی (یعني زیات). احمد، ترمذي، نسائي او ابن ماجه.

**مال او منصب نه غوښتل**

(۲۹۷۷): وَعَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ قَالَتْ قُلْتُ لِأَبِي الدَّرْدَاءِ مَالَكَ لَا تَطْلُبُ كَمَا يَطْلُبُ فُلَانٌ فَقَالَ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ أَمَامَكُمْ عَقَبَةً كَؤُودًا لَا يَجُوزُهَا الْمُثْقِلُونَ فَأُحِبُّ أَنْ أَتَخَفَّفَ لِتِلْكَ الْعَقَبَةِ.

د حضرت درداء د مور (رض) څخه روایت دئ چي ما د درداء پلار ته وویل په تا څه سوي دي چي ته د رسول الله ﷺ څخه مال او منصب نه غواړې لکه څرنګه چي فلانی او فلانی یې غواړي، د درداء پلار وویل: ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي ستاسو مخته یو غونډۍ ده چي پر هغه هغه خلك نه سي تیریدلای کوم چي درونډ باري وي، په دې وجه زه دا خوښوم چي پر دغه باندي د ختلو لپاره (سپك) یم. بیهقي.

**د دنیا څخه پرهیز وکړئ**

(۲۹۷۸): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ مِنْ أَحَدٍ يَمْشِيْ عَلَى الْمَاءِ إِلَّا ابْتَلَّتْ قَدَمَاهُ قَالُوْا لَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ كَذٰلِكَ صَاحِبُ الدُّنْيَا لَا يَسْلَمُ مِنَ الذُّنُوْبِ. رواهما البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ایا یو څوك پر اوبو داسي تیریدلای سي چي د هغه پښې لندې نه وي؟ صحابه کرامو وویل یا، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: دغه حال د دنیا دارو دئ چي د ګناهونو څخه خوندي کیدلای نه سي. بیهقي.

**د پروردګار حمد او تسبیح**

(۲۹۷۹): وَعَنْ جُبَيْرِبْنِ نُفَيْرٍ مُرْسَلًا قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أُوْحِيَ إِلَيَّ أَنْ أَجْمَعَ الْمَالَ وَأَكُوْنَ مِنَ التَّاجِرِيْنَ وَلٰكِنْ أُوْحِيَ إِلَيَّ أَنْ سَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُنْ مِّنَ السَّاجِدِيْنَ وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتّٰى يَأْتِيَكَ الْيَقِيْنُ. رواه في شرح السنة وابو

د حضرت جبیر بن نفیر ﷺ څخه مرسلا روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ما ته د وحي په ذریعه دا حکم نه دی راکړل سوی چي زه مال جمع کړم یا تجارت وکړم بلکه دا وحي راته سوې ده چي زه د خپل پروردګار حمد او تسبیح کوم، د سجده کونکو څخه سم او د خپل پروردګار

| | |
|---|---|
| نعيم في الحلية عن أبي مسلم. | عبادت كوم تر هغو چي مرگ راته راسي |

شرح السنة او ابو نعيم په الحلية كي د ابي مسلم څخه روايت كړى دى.

**دنيا په روا طريقه تر لاسه كول**

| | |
|---|---|
| (۲۹۸۰): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ طَلَبَ الدُّنْيَا حَلَالًا اسْتِعْفَافًا عَنِ الْمَسْأَلَةِ وَسَعْيًا عَلَى أَهْلِهِ وَتَعَطُّفًا عَلَى جَارِهِ لَقِيَ اللّٰهَ تَعَالَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَوَجْهُهُ مِثْلُ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ وَمَنْ طَلَبَ الدُّنْيَا حَلَالًا مُكَاثِرًا مُفَاخِرًا مُرَائِيًا لَقِيَ اللّٰهَ تعالى وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ. رواه البيهقي في شعب الإيمان وأبو نعيم في الحلية. | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د سوال (فقر كولو) د ذلت څخه د ساتنې لپاره، د كورنۍ د مصرف او د همسايگانو سره د احسان كولو په نيت په جائز طريقه سره دنيا تر لاسه كړي نو د قيامت په ورځ به هغه د الله تعالى سره په داسي حال كي ملاقات كوي چي د هغه مخ به د څوارلسمي |

شپې سپوږمۍ په ډول ځلا كوي او څوك چي په روا طريقه سره مال جمع كړي او د فخر او ريا په نيت يې تر لاسه كړي نو هغه به د الله تعالى سره په داسي حال كي يو ځاى كيږي چي الله تعالى به پر غصب ناك وي. بيهقي.

**د خير او شر خزانې**

| | |
|---|---|
| (۲۹۸۱): وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ هٰذَا الْخَيْرَ خَزَائِنُ لِتِلْكَ الْخَزَائِنِ مَفَاتِيحُ فَطُوبَى لِعَبْدٍ جَعَلَهُ اللّٰهُ مِفْتَاحًا لِلْخَيْرِ مِغْلَاقًا لِلشَّرِّ وَوَيْلٌ لِعَبْدٍ جَعَلَهُ اللّٰهُ مِفْتَاحًا لِلشَّرِّ مِغْلَاقًا لِلْخَيْرِ. رواه ابن ماجة. | د حضرت سهل بن سعد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: دا خير (يعني ډير مال خزانې دي او ددې خزانو كيلياني هم سته نو هغه بنده ته دې زيرى وي چي هغه ته الله تعالى د خير كولو او د شر بندولو كيلي جوړه كړې وي |

او هغه بنده ته دې هلاكت وي چي هغه ته الله تعالى د شر خلاصولو او خير بندولو كيلي جوړه كړې ده. ابن ماجه.

**د ضرورت څخه زيات سراى**

| | |
|---|---|
| (۲۹۸۲): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا لَمْ يُبَارَكْ لِلْعَبْدِ فِي مَالِهِ جَعَلَهُ فِي الْمَاءِ وَالطِّينِ. رواه البيهقي. | د حضرت علي ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چي د بنده په مال كي بركت وا نه چول سي نو هغه يې په اوبو او خاورو |

مصرف كړي. (يعني په بې ضرورته ځايونو جوړولو) بيهقي.

(۴۹۸۳): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اتَّقُوْا الْحَرَامَ فِي الْبُنْيَانِ فَإِنَّهُ أَسَاسُ الْخَرَابِ. رواهما البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: خان ددې څخه وژغورئ چي حرام مال په عمارتونو جوړولو کي مصرف کړي

څکه چي دا بیخ د خرابۍ دی. بیهقي په شعب الایمان کي.

**د نیاد چا ده**

(۴۹۸۴): وَعَنْ عَائِشَةَ عن رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال الدُّنْيَا دَارُ مَنْ لَا دَارَ لَهُ وَمَالُ مَنْ لَا مَالَ لَهُ وَلَهَا يَجْمَعُ مَنْ لَا عَقْلَ لَهُ. رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان.

د حضرت عایشي (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: دنیا د هغه چا کور دی چي د هغه (په آخرت کي) کور نه وي، او مال د هغه چا دی چي د هغه (په آخرت کي) مال نه وي

او مال هغه څوك جمع کوي چي په هغه کي عقل نه وي. احمد او بیهقي.

**شراب د ټولو ګناهو ټولګه ده**

(۴۹۸۵): وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ فِيْ خُطْبَتِهِ اَلْخَمْرُ جِمَاعُ الْإِثْمِ وَالنِّسَاءُ حَبَائِلُ الشَّيْطَانِ وَحُبُّ الدُّنْيَا رَأْسُ كُلِّ خَطِيْئَةٍ قَالَ وَسَمِعْتُهُ يَقُوْلُ أَخِّرُوْا النِّسَاءَ حَيْثُ أَخَّرَهُنَّ اللّٰهُ. رواه رزين. و روى البيهقي منه في شعب الإيمان عن الحسن مرسلا: حب الدنيا رأس كل خطيئة.

د حضرت حذیفه ﷺ څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه په خطبه کي اوریدلي دي چي شراب چیښل د ګناهونو ټولګه ده او ښځي د شیطان جال دي او ددنیا مینه د هري ګناه سر دی، د حضرت حذیفه بیان دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا هم اوریدلي دي چي ښځي شا ته کړئ لکه څرنګه چي الله تعالی هغوئ شا ته کړي دي

(یعني په قرآن کریم کي د هغوئ ذکر د خلکو وروسته راغلی دی). رزین، او بیهقي په شعب الایمان کي د حضرت حسن څخه مرسلا روایت کړی دی چي د دنیا مینه د ټولو ګناهونو ریښه ده.

**د بیري دوه شیان**

(۴۹۸۶): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَخْوَفَ مَا أَتَخَوَّفُ عَلَى أُمَّتِيْ الْهَوٰى وَطُوْلُ الْأَمَلِ فَأَمَّا الْهَوٰى فَيَصُدُّ عَنِ الْحَقِّ وَأَمَّا طُوْلُ الْأَمَلِ فَيُنْسِي الْآخِرَةَ وَهٰذِهِ الدُّنْيَا مُرْتَحِلَةٌ

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: دوه شیان دي چي د هغو زه پر خپل امت زیاته بیره کوم: یو د نفس غوښتنه، او دویم د عمر د اوږدوالي آرزو، د نفس غوښتنه یې د

| | |
|---|---|
| ذَاهِبَةً وَهٰذِهِ الْآخِرَةُ مُرْتَحِلَةٌ قَادِمَةٌ وَلِكُلٍّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا بَنُوْنَ فَإِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ لَا تَكُوْنُوْا مِنْ بَنِي الدُّنْيَا فَافْعَلُوْا فَإِنَّكُمُ الْيَوْمَ فِيْ دَارِ الْعَمَلِ وَلَا حِسَابَ وَأَنْتُمْ غَدًا فِيْ دَارِ الْآخِرَةِ وَلَا عَمَلَ. رواه البيهقي في شعب الإيمان. | حق خبري كولو څخه منع كوي او د عمر د اوږدوالي آرزو آخرت خيني هيروي، دا دنيا كوچ كونكي او تلونكې ده او آخرت يې مخته راتلونكې دئ او په دې كې د هر يوه زامن دي كه تاسو كولای سئ نو تاسو ددنيا زامن مه جوړيږئ |

. داسي وكړئ چي نن تاسو دارالعمل كي ياست او په دنيا كي د عمل حساب نه سي اخيستل كيدلای مگر سبا به تاسو د آخرت په كور كي ياست هلته به عمل نه وي او حساب به وي، . بيهقي

## د نيا د عمل لپاره ده

| | |
|---|---|
| (۲۹۸۷): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ ارْتَحَلَتِ الدُّنْيَا مُدْبِرَةً وَارْتَحَلَتِ الْآخِرَةُ مُقْبِلَةً وَلِكُلٍّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا بَنُوْنَ فَكُوْنُوْا مِنْ أَبْنَاءِ الْآخِرَةِ وَلَا تَكُوْنُوْا مِنْ أَبْنَاءِ الدُّنْيَا فَإِنَّ الْيَوْمَ عَمَلٌ وَلَا حِسَابَ وَغَدًا حِسَابٌ وَلَا عَمَلَ. رواه البخاري في ترجمة باب. | د حضرت علي ﷺ څخه روايت دئ چي دنيا دېخوا شا كري كوچ كونكي ده او آخرت دي خوا مخ كري را روان دئ ، او په دوئ كي د هر يوه زامن دي تاسو د آخرت زامن جوړ سئ ددنيا زامن مه جوړيږئ څكه چي نن د عمل ورځ ده |

او حساب نه سته او سبا د حساب ورځ ده عمل به نه وي . بخاري.

## دنيا بې دوامه مال دی

| | |
|---|---|
| (۲۹۸۸): وَعَنْ عَمْرٍو أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ يَوْمًا فَقَالَ فِيْ خُطْبَتِهٖ أَلَا إِنَّ الدُّنْيَا عَرَضٌ حَاضِرٌ يَأْكُلُ مِنْهُ الْبَرُّ وَالْفَاجِرُ أَلَا وَإِنَّ الْآخِرَةَ أَجَلٌ صَادِقٌ وَيَقْضِيْ فِيْهَا مَلِكٌ قَادِرٌ أَلَا وَإِنَّ الْخَيْرَ كُلَّهٗ بِحَذَافِيْرِهٖ فِي الْجَنَّةِ أَلَا وَإِنَّ الشَّرَّ كُلَّهٗ بِحَذَافِيْرِهٖ فِي النَّارِ أَلَا فَاعْمَلُوْا وَأَنْتُمْ مِنَ اللّٰهِ عَلَى حَذَرٍ وَاعْلَمُوْا أَنَّكُمْ مَعْرُوْضُوْنَ عَلَى أَعْمَالِكُمْ فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهٗ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهٗ. رواه الشافعي. | د حضرت عمرو ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ يوه ورځ په خطبه كي وفرمايل : خبردار! دنيا يو فاني سرمايه ده ، ددي څخه نيك هم خوراك كوي او بد هم، او آخرت يو ريښتوني وعده ده چي په هغه كي به هر ډول قدرت لرونكی پاچا حكم اوفيصله كوي ، خبردار! ټولي نيكی په خپلو انواعو او اقسامو سره په جنت كي دي ، خبردار! ټول شرونه په خپلو انواعو او اقسامو سره په دوزخ كي دي نو تاسو نيك عمل كوئ او د الله ﷺ څخه بيريږئ او دا خبره ياد ساتئ چي تاسو به |

په خپلو اعمالو سره د الله ﷺ په مخ كي وراندي كيږئ نو څوك چي د ذري برابر نيك كار وكړي د

هغه جزا به تر لاسه کړي او څوك چي د ذرې برابر بد کار وکړي د هغه سزا به ويني . شافعي .

(۴۹۸۹): وَعَنْ شَدَّادٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ الدُّنْيَا عَرَضٌ حَاضِرٌ يَأْكُلُ مِنْهَا الْبَرُّ وَالْفَاجِرُ وَإِنَّ الْآخِرَةَ وَعْدٌ صَادِقٌ يَحْكُمُ فِيْهَا مَلِكٌ عَادِلٌ قَادِرٌ يُحِقُّ فِيْهَا الْحَقَّ وَيُبْطِلُ الْبَاطِلَ كُوْنُوْا مِنْ أَبْنَاءِ الْآخِرَةِ وَلَا تَكُوْنُوْا مِنْ أَبْنَاءِ الدُّنْيَا فَإِنَّ كُلَّ أُمٍّ يَتْبَعُهَا وَلَدُهَا. رواه ابونعيم.

د حضرت شداد ﷜ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي وه يې فرمايل : اې خلکو ! دنيا يو غير قائم سامان دئ چي د هغې څخه نيك او بد دواړه خوراك کوي ، او آخرت يو رېښتونی وعده ده چي په هغه کي به عادل او قادر پاچا حکم او پريکړه کوي (په خپل حکم او فيصله سره) حق ثابت کړي او باطل به ختم کړي ، تاسو د آخرت لپاره عمل کونکی جوړ سئ او ددنيا زامن مه جوړيږئ ځکه چي دهر مور اولاد هغې تابع وي . ابونعيم .

**لږ مال بنه دی تر ډېر**

(۴۹۹۰): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ إِلَّا وَبِجَنْبَتَيْهَا مَلَكَانِ يُنَادِيَانِ يُسْمِعَانِ الْخَلَائِقَ غَيْرَ الثَّقَلَيْنِ يَا أَيُّهَا النَّاسُ هَلُمُّوْا إِلَى رَبِّكُمْ مَا قَلَّ وَكَفَى خَيْرٌ مِمَّا كَثُرَ وَأَلْهَى. رواهما أبو نعيم في الحلية.

د حضرت ابو درداء ﷜ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم وخت چي لمر راخيژي نو د هغه دواړو خواوو ته دوې ملائکي وي چي اعلان کوي او مخلوقاتو ته يې اوروي ، دهغوئ آواز ټول اوري مګر پيريان او انسانان يې نه اوري ، هغوئ دا اعلان کوي چي اې خلکو ! د خپل پروردګار د حکم په لوري جوع وکړئ او په دې خبره پوه سئ چي کوم مال کم وي او کافي وي هغه د هغه مال څخه غوره دی چي زيات وي او سړی په لهو او لعب کي اچوي ، (يعني د الله ﷻ د عبادت څخه يې منع کوي) . ابونعيم په حليه کي .

**د خلکو حرص**

(۴۹۹۱): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ يَبْلُغُ بِهِ قَالَ إِذَا مَاتَ الْمَيِّتُ قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ مَا قَدَّمَ وَقَالَ بَنُوْ آدَمَ مَا خَلَّفَ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت ابوهريرة ﷜ څخه روايت دئ او هغه دا حديث نبي کريم ﷺ ته رسوي چي کله يو څوك مړ کيږي نو ملائکي پوښتنه کوي چي د آخرت لپاره يې څه وليږل او خلك دا وايي چي هغه څه پريښودل . بيهقي .

## اخرت نژدې دی

(۲۹۹۲): وَعَنْ مَالِكٍ أَنَّ لُقْمَانَ قَالَ لِابْنِهِ يَا بُنَيَّ إِنَّ النَّاسَ قَدْ تَطَاوَلَ عَلَيْهِمْ مَا يُوعَدُونَ وَهُمْ إِلَى الْآخِرَةِ سِرَاعًا يَذْهَبُونَ وَإِنَّكَ قَدِاسْتَدْبَرْتَ الدُّنْيَا مُنْذُ كُنْتَ وَاسْتَقْبَلْتَ الْآخِرَةَ وَإِنَّ دَارًا تَسِيرُ إِلَيْهَا أَقْرَبُ إِلَيْكَ مِنْ دَارٍ تَخْرُجُ مِنْهَا. رواه رزين.

د حضرت مالك ؓ څخه روايت دئ چي لقمان خپل زوی ته وویل (اې) زویه ! د کوم شي وعده چي د خلکو سره سوې ده (يعني د بيا ژوندي کېدو او حساب ،کتاب ، ثواب، عذاب وغيره..) پر هغه ډير وخت تير سوی دئ ، حال دا چي خلك په تيزي سره د آخرت په لور روان دي ، او اې زويه ! د کومي ورځي څخه چي ته پيدا سوی يې د دنيا تر شا پرېښودونکی يې او د آخرت په لور په تيزي سره تلونکی يې او هغه کور چي د هغه په لور روان يې تا ته د هغه کور څخه زيات نژدې دی د کوم څخه چي روان يې . رزين. (لقمان حکيم د داؤد ؑ په زمانه کي وو دی په اصل کي حبشي مريی وو خدای ﷻ حکمت ورکړی وو يعني په عقل سره به يې داسي خبري کولې چي د پيغمبرانو د حکم سره به برابري وې).

## غوره انسان څوك دی

(۲۹۹۳): وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قِيلَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ النَّاسِ أَفْضَلُ قَالَ كُلُّ مَخْمُومِ الْقَلْبِ صَدُوقِ اللِّسَانِ قَالُوا صَدُوقُ اللِّسَانِ نَعْرِفُهُ فَمَا مَخْمُومُ الْقَلْبِ قَالَ هو النقي التقي لَا إِثْمَ عليه وَلَا بَغْيَ وَلَا غِلَّ وَلَا حَسَدَ. رواه ابن ماجة والبيهقي في شعب الايمان.

د حضرت عبدالله بن عمرو ؓ څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي څوك غوره دی ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : صاف زړه والا او رښتونی ژبې والا ، صحابه کرامو وويل: د ژبې رښتنوالی خو موږ پېژنو ، د مخموم زړه څخه څه مراد دئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : مخموم زړه هغه دئ چي پاك وي ، پرهيزګاره وي هيڅ ګناه پکښي نه وي ، ظلم يې نه وي کړی ، د حد څخه نه وي تير سوی او حسد پکښي نه وي . ابن ماجه او بيهقي.

## څلور کټوري خبري

(۲۹۹۴): وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَرْبَعٌ إِذَا كُنَّ فيكَ فلا عليك مَا فَاتَكَ الدُّنْيَا حِفْظُ أَمَانَةٍ وَصِدْقُ حَدِيثٍ وَحُسْنُ خَلِيقَةٍ وَعِفَّةٌ فِي طُعْمَةٍ. رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان.

د حضرت عبدالله بن عمر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څلور خبري دي کله چي په تا کي پيدا سي نو ددنيا د فوت کېدو پر تا هيڅ غم نسته : د امانت ساتنه کول، رښتوني خبره کول، ښه اخلاق او په خوراك کي احتياط او پرهيزګاري . احمد او بيهقي.

### د رښتیا ویلو او امانت فائده

| | |
|---|---|
| (۲۹۹۵): وَعَنْ مَالِكٍ قَالَ بَلَغَنِيْ أَنَّهُ قِيْلَ لِلُقْمَانَ الْحَكِيْمِ مَا بَلَغَ بِكَ مَا نَرٰى يَعْنِيْ الْفَضْلَ قَالَ صِدْقُ الْحَدِيْثِ وَأَدَاءُ الْأَمَانَةِ وَتَرْكُ مَا لاَ يَعْنِيْنِيْ. رواه في الموطا. | د حضرت مالك ﷺ څخه روايت دئ چي ما ته معلومه سوې ده چي د حضرت لقمان حكيم څخه دا پوښتنه وسول چي په كومه مرتبه مورِ |

تا وينو هغه كوم شي ته دي ځاى ته ورسولې ؟ حضرت لقمان ورته وويل : د ژبي رښتنوالى او امانت ادا كولو او د بې ګټي شي پرهېزولو ، مؤطا .

### د قيامت په ورځ

| | |
|---|---|
| (۲۹۹۶): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَجِيءُ الْأَعْمَالُ فَتَجِيءُ الصَّلَاةُ فَتَقُوْلُ يَا رَبِّ أَنَا الصَّلَاةُ فَيَقُوْلُ إِنَّكِ عَلَى خَيْرٍ فَتَجِيءُ الصَّدَقَةُ فَيَقُوْلُ يَا رَبِّ أَنَا الصَّدَقَةُ فَيَقُوْلُ إِنَّكِ عَلَى خَيْرٍ ثُمَّ يَجِيءُ الصِّيَامُ فَيَقُوْلُ يَا رَبِّ أَنَا الصِّيَامُ فَيَقُوْلُ إِنَّكَ عَلَى خَيْرٍ ثُمَّ يَجِيءُ الْأَعْمَالُ عَلَى ذٰلِكَ يَقُوْلُ اللّٰهُ تعالى إِنَّكَ عَلَى خَيْرٍ ثُمَّ يَجِيءُ الْإِسْلَامُ فَيَقُوْلُ يَا رَبِّ أَنْتَ السَّلَامُ وَأَنَا الْإِسْلَامُ فَيَقُوْلُ اللّٰهُ تعالى إِنَّكَ عَلَى خَيْرٍ بِكَ الْيَوْمَ آخُذُ وَبِكَ أُعْطِي قَالَ اللّٰهُ تعالى فِي كِتَابِهِ وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِيْنَ. رواه احمد. | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اعمال به الله ﷻ ته حاضر كړل سي ، لمونځ به وړاندي راسي او وايي به اي الله ! زه لمونځ يم ، الله تعالى به ورته فرمايي ته په خير يې ، بيا به صدقه راسي او عرض به وكړي اي الله زه صدقه يم ، الله تعالى به ورته فرمايي ته په خير يې ، بيا به روژه راسي او وايي به اي الله ﷻ زه روژه يم ، الله تعالى به ورته فرمايي ته په خير يې ، بيا به نور اعمال راسي .. داسي خپل تعريف به وكړي او الله تعالى به ورته په جواب كي فرمايي تاسو په خير ياست ، بيا به اسلام راسي او وايي به اي الله ﷻ ته سلام يې زه اسلام يم ، الله تعالى به ورته فرمايي ته په خير يې ، |

ستا په وجه به نن زه پوښتنه كوم او ستا په وجه به وركوم (ثواب او عذاب)، الله پاك خپل په كتاب كي فرمايي : (ومن يبتغ غير الاسلام....) څوك چي د اسلام څخه پرته بل دين اختيار كړي نو هغه دين به هيڅكله څيني قبول نه كړل سي او په آخرت كي به د تاوانيانو څخه وي. احمد .

### دنيا ياد ونكي شيان پريږدئ

| | |
|---|---|
| (۲۹۹۷): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ لَنَا سِتْرٌ فِيهِ تَمَاثِيلُ طَيْرٍ قَالَتْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يا عائشة حَوِّلِيهِ فَإِنِّي إِذَا | د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي زموږ پر يو پرده باندي د مرغانو عكسونه وه ، رسول الله ﷺ وفرمايل : اي عائشي دا بدله كړه ، ځكه چي كله زه دي |

رَأَيْتُهُ ذَكَرْتُ الدُّنْيَا. رواه احمد.

ته گورم نو دنیا را ته را یاد سي. احمد.

## مختلف نصیحتونه

(۲۹۹۸): وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عِظْنِي وَأَوْجِزْ فَقَالَ إِذَا قُمْتَ فِي صَلَاتِكَ فَصَلِّ صَلَاةَ مُوَدِّعٍ وَلَا تُكَلِّمْ بِكَلَامٍ تَعْتَذِرُ مِنْهُ غَدًا وَاجْمَعِ الْإِيَاسَ مِمَّا فِي يَدَيِ النَّاسِ. رواه احمد.

د حضرت ابو ایوب انصاري ؓ څخه روایت دئ چي یو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض یې وکړ ما ته نصیحت وفرمایاست لنډ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: هر کله چي ته لمونځ کوې نو په داسي ډول یې کوه چي د الله ﷻ څخه پرته تول هر څه پرېښودونکي دي او هیڅ داسي خبره د ژبي څخه مه باسه چي سبا ته د هغې عذر خواهي کوې او کوم شی چي د خلکو په لاس کي وي د هغه څخه د نا امیده کېدو پخه اراده وکړه. احمد.

## د پرهیزګار فضیلت

(۲۹۹۹): وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ لَمَّا بَعَثَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْيَمَنِ خَرَجَ مَعَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوصِيهِ وَمُعَاذٌ رَاكِبٌ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْشِي تَحْتَ رَاحِلَتِهِ فَلَمَّا فَرَغَ قَالَ يَا مُعَاذُ إِنَّكَ عَسَى أَنْ لَا تَلْقَانِي بَعْدَ عَامِي هَذَا وَلَعَلَّكَ أَنْ تَمُرَّ بِمَسْجِدِي هَذَا وَقَبْرِي فَبَكَى مُعَاذٌ جَشَعًا لِفِرَاقِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ الْتَفَتَ فَأَقْبَلَ بِوَجْهِهِ نَحْوَ الْمَدِينَةِ فَقَالَ إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِي الْمُتَّقُونَ مَنْ كَانُوا وَحَيْثُ كَانُوا. رواه الاحادیث الاربعة احمد.

د حضرت معاذبن جبل ؓ څخه روایت دئ چي کله رسول الله ﷺ هغه یمن ته ولیږئ نو نصیحتونه یې ورته کول، معاذ پر سپرلۍ سپور وو او رسول الله ﷺ پر پښو وو، کله چي رسول الله ﷺ د نصیحت څخه فارغ سو نو ورته وه یې فرمایل: اې معاذ! د سږ کال څخه وروسته کیدای سي چي ته زما سره ملاقات ونه کړای سې او کیدای سي چي ته زما د دغه مسجد یا قبر سره تیر سې، ددې په اورېدو سره معاذ په ژړا سو او د رسول الله ﷺ د فراق په غم کي یې دیر و ژړل، ددې وروسته رسول الله ﷺ مخ مبارک وګرځوی او دمدیني په لور یې مخ کړ وه یې فرمایل: ما ته زیات نژدې هغه خلک دي چي پرهیزګار دي که هغه هر څوک وي او هر ځای وي. احمد.

## د شرح صدر علامې

(۵۰۰۰): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ تَلَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَنْ يُرِدِ اللَّهُ أَنْ يَهْدِيَهُ يَشْرَحْ

د حضرت ابن مسعود ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ دا آیت تلاوت کړ (فمن یرد الله ان

صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ النُّوْرَ إِذَا دَخَلَ الصَّدْرَ انْفَسَحَ فَقِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللهِ هَلْ لِتِلْكَ مِنْ عَلَمٍ يُعْرَفُ بِهِ قَالَ نَعَمْ اَلتَّجَافِيْ مِنْ دَارِ الْغُرُوْرِ وَالْإِنَابَةُ إِلَى دَارِ الْخُلُوْدِ وَالْاِسْتِعْدَادُ لِلْمَوْتِ قَبْلَ نُزُوْلِه. رواه البیهقي.

يهديه ......) الله تعالى چي چا ته د هدايت اراده وكړي د هغه سينه د اسلام لپاره خلاصه كړي ، بيا يې وفرمايل : كله چي نور په سينه كي داخل سي نو سينه پراخه سي ، پوښتنه وسول اې دالله رسوله ! ددې حالت څه نښه ده چي د هغه څرګندونه سي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : هو ، هغه نښه د دار الغرور (دنيا) څخه ليري كيدل او د آخرت په لور رجوع كول او د مرګ د راتلو څخه تر مخه دمرګ لپاره تياري كول دي . بيهقي.

**زهد حکمت راولي**

(۵۰۰۱): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ وَأَبِيْ خَلَّادٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا رَأَيْتُمُ الْعَبْدَ يُعْطَى زُهْدًا فِي الدُّنْيَا وَقِلَّةَ مَنْطِقٍ فَاقْتَرِبُوْا مِنْهُ فَإِنَّهُ يُلَقَّى الْحِكْمَةَ. رواهما البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت ابوهريرة او ابوخلاد (رضي الله عنهما) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي تاسو ووينئ چي يو بنده ته په دنيا كي زهد (بې شوقي) او لږ ويل وركړل سوي دي نو د هغه نژدې والى تر لاسه كړئ څكه چي هغه ته حكمت وركړل سوى دى . بيهقي په شعب الايمان كي.

# بَابُ فَضْلِ الْفُقَرَاءِ وَمَا كَانَ مِنْ عَيْشِ النَّبِيِّ ﷺ

## (د فقيرانو فضيلت او دنبي ﷺ د ژوند بيان)

## لومړی فصل

**د خداى ﷻ نيک بندګان**

(۵۰۰۲): عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُبَّ أَشْعَثَ مَدْفُوْعٍ بِالْأَبْوَابِ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللهِ لَأَبَرَّهُ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ډير خلك داسي دي چي ډير ببر سري او په ګرد لړلي وي او هغوئ د دروازو څخه په پوري وهلو ايسته كيږي كه هغوئ په الله قسم وخوري نو الله د هغوئ قسم پوره كوي . مسلم .

**خاك نه بلل**

(۵۰۰۳): وَعَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ رَأَى سَعْدٌ

د حضرت مصعب بن سعد ﷺ څخه روايت دئ

رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ لَهُ فَضْلًا عَلَى مَنْ دُونَهُ فَقَالَ رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ تُنْصَرُونَ وَتُرْزَقُونَ إِلَّا بِضُعَفَائِكُمْ . رواه البخاري.

چي سعد د خپل خان په اره دا گمان وکړ چي هغه ته پر نورو ښېگڼه تر لاسه ده ، (رسول الله ﷺ د هغه د گمان ماتولو لپاره) وفرمایل : تاسو ته یوازې د غریبانو او مسکینانو په وجه ستاسو د اسلام ددښمنانو په مقابله کي مرسته کیږي او تاسو ته رزق درکول کیږي . بخاري.

**غریبانو ته د جنت زیری**

(۵۰۰۴): وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُمْتُ عَلَى بَابِ الْجَنَّةِ فَكَانَ عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا الْمَسَاكِينُ وَأَصْحَابُ الْجَدِّ مَحْبُوسُونَ غَيْرَ أَنَّ أَصْحَابَ النَّارِ قَدْ أُمِرَ بِهِمْ إِلَى النَّارِ وَقُمْتُ عَلَى بَابِ النَّارِ فَإِذَا عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا النِّسَاءُ. متفق عليه.

د حضرت اسامه بن زید ؓ څخه روایت دئ چي رسـول الله ﷺ وفرمایـل : زه د جنت پـر دروازو ودریدم (یعني د معراج په شپه یا په خوب کي) کوم خلک چي په جنت کي داخل سول په هغوئ کي زیات شمیر د غریبانو وو ، او شتمن مي ولیدل چي د قیامت په میدان کي هغوئ تم کړل سوي دي مگر د کافرانو په باره کي حکم سوی وو په بیولو دوږخ ته ، بیا زه د دوږخ پر دروازه ودریدم او وه مي لیدل چي په دوږخ کي زیات شمیر د ښځو وو . بخاري او مسلم.

**جنتیان او دوږخیان**

(۵۰۰۵): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اطَّلَعْتُ فِي الْجَنَّةِ فَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا الْفُقَرَاءَ وَاطَّلَعْتُ فِي النَّارِ فَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا النِّسَاءَ. متفق عليه.

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ما په جنت کي وکتل نو زیات شمیر غریبان مي ولیدل او په دوږخ کي مي وکتل نو هلته زیات شمیر د ښځو وو . بخاري او مسلم.

**د غریبانو فضیلت**

(۵۰۰۶): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فُقَرَاءَ الْمُهَاجِرِينَ يَسْبِقُونَ الْأَغْنِيَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى الْجَنَّةِ بِأَرْبَعِينَ خَرِيفًا. رواه مسلم.

د حضرت عبد الله بن عمرو ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایـل : فقراء مهاجرین به څلوېښت کاله مخکي تر شتمنو په جنت کي داخل کړل سي . مسلم.

(۵۰۰۷): وَعَنْ سَهْلِ ابْنِ سَعْدٍ قَالَ مَرَّ رَجُلٌ

د حضرت سهل بن سعد ؓ څخه روایت دئ چي یو

عَلَى رَسُولِ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِرَجُلٍ عِنْدَهُ جَالِسٍ مَا رَأْيُكَ فِي هَذَا فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ أَشْرَافِ النَّاسِ هَذَا وَاللّهِ حَرِيٌّ إِنْ خَطَبَ أَنْ يُنْكَحَ وَإِنْ شَفَعَ أَنْ يُشَفَّعَ قَالَ فَسَكَتَ رَسُولُ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ مَرَّ رَجُلٌ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا رَأْيُكَ فِي هَذَا فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّهِ هَذَا رَجُلٌ مِنْ فُقَرَاءِ الْمُسْلِمِينَ هَذَا حَرِيٌّ إِنْ خَطَبَ أَنْ لَا يُنْكَحَ وَإِنْ شَفَعَ أَنْ لَا يُشَفَّعَ وَإِنْ قَالَ أَنْ لَا يُسْمَعَ لِقَوْلِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا خَيْرٌ مِنْ مِلْءِ الْأَرْضِ مِثْلَ هَذَا. متفق عليه.

سړي د رسول الله ﷺ سره نږدې تیر سو ، رسول الله ﷺ د خپل نږدې ناست ملګري څخه پوښتنه وکړه ددې سړي په باره کي ستا څه رایه ده (کوم چي اوس تیر سو)؟ هغه وویل: دا سړی د شریفو خلکو څخه دی، او قسم په خدای ددې ور دی که یوې ښځي ته د نکاح پیغام ورکړي نو هغه به یې قبول کړي او حاکمانو ته که د چا سفارش وکړي نو سفارش به یې قبول سي ، ددې اوریدو سره (رسول الله ﷺ) پټه خوله سو بیا یو بل سړی د رسول الله ﷺ په خوا کي تیر سو، رسول الله ﷺ د هغه ناست ملګري څخه پوښتنه وکړه ددغه سړي په اړه ستا څه رایه ده ؟ هغه وویل : اې د الله رسوله ! دا سړی د مسلمانانو فقراؤ څخه دی ددې ور دی که چا ته دنکاح پیغام ورکړي نو پیغام به یې قبول نه کړل سي که چا ته سفارش وکړي نو سفارش به یې قبول نه سي که چا ته خبره وکړي نو خبره به یې وا نه وریدل سي ، ددې اوریدو سره رسول الله ﷺ وفرمایل : دا سړی تر هغه بل ډیر غوره دئ که څه هم چي د هغه په ډول خلکو څخه مځکه ډکه سي . بخاري او مسلم.

### د محمد ﷺ کورنی

(۵۰۰۸): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ خُبْزِ الشَّعِيرِ يَوْمَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ حَتَّى قُبِضَ رَسُولُ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . متفق عليه.

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دئ چي د محمد ﷺ کورنی هیڅکله دوې ورځي پرله پسې په ماړه نس د اوربشو ډوډۍ نه ده خوړلې تر څو چي رسول الله ﷺ وفات سو . بخاري او مسلم.

### د نبي کریم ﷺ خوراک

(۵۰۰۹): وَعَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ مَرَّ بِقَوْمٍ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ شَاةٌ مَصْلِيَّةٌ فَدَعَوْهُ فَأَبَى أَنْ يَأْكُلَ وَقَالَ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الدُّنْيَا وَلَمْ يَشْبَعْ مِنْ خُبْزِ الشَّعِيرِ. رواه البخاري.

حضرت سعید مقبري د ابوهریرة (رض) څخه روایت کوي چي ابوهریرة د یو ډلي په خوا کي تیر سو چي مخته یې پوخ سوی پسه پروت وو، ابوهریره (رض) ته هغه خلکو بلنه ورکړه خو هغه

انكار وكړ او وه يې ويل رسول الله ﷺ د دنيا څخه تشريف يوړ او هيڅكله يې د اوربشو ډوډۍ هم په ماړه نس ونه خوړل. بخاري.

### د نبي كريم ﷺ په كور كې

| | |
|---|---|
| (۵۰۱۰): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّهُ مَشَى إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِخُبْزِ شَعِيرٍ وَإِهَالَةٍ سَنِخَةٍ وَلَقَدْ رَهَنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دِرْعًا لَهُ بِالْمَدِينَةِ عِنْدَ يَهُودِيٍّ وَأَخَذَ مِنْهُ شَعِيرًا لِأَهْلِهِ وَلَقَدْ سَمِعْتُهُ يَقُولُ مَا أَمْسَى عِنْدَ آلِ مُحَمَّدٍ صَاعُ بُرٍّ وَلَا صَاعُ حَبٍّ وَإِنَّ عِنْدَهُ لَتِسْعَ نِسْوَةٍ. رواه البخاري. | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چې ما رسول الله ﷺ ته د اوربشو ډوډۍ او ويلې كړې بوى ناكه وازګه يووړل ، او نبي كريم ﷺ خپله زغره د مدينې د يو يهودي سره ګرو كړې وه او په هغه يې د كورنۍ لپاره اوربشې اخيستي وې ، راوي وايي ما د انس څخه اوريدلي دي چې د محمد ﷺ |

كورنۍ سره به په ماښام كې نه يو صاع غنم وه او نه يو بله غله، حال دا چې د رسول الله ﷺ نهه (۹) بيبياني وې. بخاري.

### د دنيا طلب د مؤمن كار نه دى

| | |
|---|---|
| (۵۰۱۱): وَعَنْ عُمَرَ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا هُوَ مُضْطَجِعٌ عَلَى رِمَالِ حَصِيرٍ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ فِرَاشٌ قَدْ أَثَّرَ الرِّمَالُ بِجَنْبِهِ مُتَّكِئٌ عَلَى وِسَادَةٍ مِنْ أَدَمٍ حَشْوُهَا لِيفٌ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ ادْعُ اللّٰهَ فَلْيُوَسِّعْ عَلَى أُمَّتِكَ فَإِنَّ فَارِسَ وَالرُّومَ قَدْ وُسِّعَ عَلَيْهِمْ وَهُمْ لَا يَعْبُدُونَ اللّٰهَ فَقَالَ أَوَفِي هٰذَا أَنْتَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ أُولٰئِكَ قَوْمٌ عُجِّلَتْ لَهُمْ طَيِّبَاتُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا، وفي رواية أَمَا تَرْضَى أَنْ تَكُونَ لَهُمُ الدُّنْيَا وَلَنَا الْآخِرَةُ. متفق عليه. | د حضرت عمر ﷺ څخه روايت دئ چې زه د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر سوم ، دغه وخت رسول الله ﷺ د خرماوو پر چټائي په تكيه كولو پروت وو او په مينځ د رسول الله ﷺ او د هغه چټائي بل فرش نه وو پر تيكه كولو پروته سره پر ارخ مبارك يې داغونه لګيدلي وه او د رسول الله ﷺ سر مبارك ته د پوست بالښت وو چې د خرماوو د پوستكو څخه ډك كړل سوى وو، ما وويل: اې دالله رسوله ! د الله ﷻ څخه سوال وكړه چې ستاسو امت ته پراخي او خوشحالي وركړي |

، د فارس او روم خلك خوشحاله جوړ كړل سوي دي ، حال دا چې هغوئ عبادت نه كوي ، رسول الله ﷺ راته وفرمايل اې دخطاب زويه ! ايا ته اوس هم په دې خيال كې يې (يعني تا ته ددې بصيرت نه دې دركړل سوى او ته تر اوسه پورې د حقيقت څخه ناخبر يې) چې دا هغه خلك دي (يعني د روم او فارس) چې هغوئ ته په دنيا كې معاشونه وركړل سوي دي ، او په يوه روايت كې دي چې رسول الله ﷺ د حضرت عمر ﷺ په جواب كې دا الفاظ وفرمايل : ايا ته په دې خبره راضي نه يې چې دوئ ته

دنيا تر لاسه سي او موږ ته آخرت . بخاري او مسلم .

**د اهل صفه غربيي**

| | |
|---|---|
| (۵۰۱۲): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ لَقَدْ رَأَيْتُ سَبْعِينَ مِنْ أَصْحَابِ الصُّفَّةِ مَا مِنْهُمْ رَجُلٌ عَلَيْهِ رِدَاءٌ إِمَّا إِزَارٌ وَإِمَّا كِسَاءٌ قَدْ رَبَطُوا فِي أَعْنَاقِهِمْ فَمِنْهَا مَا يَبْلُغُ نِصْفَ السَّاقَيْنِ وَمِنْهَا مَا يَبْلُغُ الْكَعْبَيْنِ فَيَجْمَعُهُ بِيَدِهِ كَرَاهِيَةَ أَنْ تُرَى عَوْرَتُهُ. رواه البخاري | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي د اصحاب صفه څخه اويا كسان ما وليدل چي په هغوئ كي د يوه كس سره هم څادر نه وو، يوازي لنگ يا يوه شړۍ به ورسره وه چي په غاړو كي به يې زړېدل په هغو كي د ځينو لنگ به بيخي تر |

پنډۍ پوري وو او د ځينو تر بجلكو پوري د چا لنگ چي به پورته وو هغه به خپل لنگ په لمانځه كي په لاس سره ونيوئ چي شرمگاه يې ښكاره نه سي . بخاري.

**تر ځان كښته ته گوري**

| | |
|---|---|
| (۵۰۱۳): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا نَظَرَ أَحَدُكُمْ إِلَى مَنْ فُضِّلَ عَلَيْهِ فِي الْمَالِ وَالْخَلْقِ فَلْيَنْظُرْ إِلَى مَنْ هُوَ أَسْفَلَ مِنْهُ. متفق عليه و في رواية لمسلم قال انظروا إِلَى مَنْ هُوَ أَسْفَلَ مِنْكُمْ وَلاَ تَنْظُرُوْا الى مَنْ هُوَ فَوْقَكُمْ فَهُوَ اَجْدَرُ اَنْ لاَ تَزْدَرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ. | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي داسي كس ويني چي د هغه څخه شتمن او ښكلي وي نو هغه ته پكار ده چي پر هغه چا هم نظر واچوي چي د هغه څخه د كمي درجې وي . بخاري او مسلم او د مسلم په يو بل روايت كي دا الفاظ دي چي |

هغه چا ته وگوري چي ستاسو څخه د كمي درجې وي او هغه چا ته مه گوري چي په مرتبه كي ستا څخه زيات وي او داسي كول ستاسو لپاره ضروري دي ددې لپاره چي تاسو هغه نعمت سپك ونه گڼئ كوم چي الله تعالى تاسو ته دركړى دى .

## دويم فصل

**جنت ته پنځه سوه كاله مخكي**

| | |
|---|---|
| (۵۰۱۴): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُ الْفُقَرَاءُ الْجَنَّةَ قَبْلَ الْأَغْنِيَاءِ بِخَمْسِ مِائَةِ عَامٍ نِصْفِ يَوْمٍ . رواه الترمذي | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: فقيران به جنت ته د شتمنو څخه پنځه سوه كاله ترمخه داخليږي چي د قيامت نيمه ورځ ده ،ترمذي. |

### د مفلس او مسكين فضيلت

(۵۰۱۵): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللّٰهُمَّ أَحْيِنِي مِسْكِينًا وَأَمِتْنِي مِسْكِينًا وَاحْشُرْنِي فِي زُمْرَةِ الْمَسَاكِينِ فَقَالَتْ عَائِشَةُ لِمَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ إِنَّهُمْ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ قَبْلَ أَغْنِيَائِهِمْ بِأَرْبَعِينَ خَرِيفًا يَا عَائِشَةُ لَا تَرُدِّي الْمِسْكِينَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ يَا عَائِشَةُ أَحِبِّي الْمَسَاكِينَ وَقَرِّبِيهِمْ فَإِنَّ اللّٰهَ يُقَرِّبُكِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه الترمذي والبيهقي في شعب الايمان رواه ابن ماجة عن ابي سعيد الى قوله زمرة المساكين.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: اي الله ما مسكين ولري، مسكين مي وفات كړي او دحشر په ورځ مي د مسكينانو په ډله كي وپاڅوه، بي بي عائشي پوښتنه وكړه اي دالله رسوله! تاسو داسي ولي وفرمايل؟ رسول الله ﷺ وفرمايل دا ځكه چي مسكينان به جنت ته د شتمنو څخه څلوېښت كاله ترمخه داخليږي، رسول الله ﷺ وفرمايل: اي عائشي! هيڅ مسكين د خپلي دروازې څخه خالي لاس مه ليږه كه څه هم چي د خرما يوه ټوټه وي، او اي عائشي! د مسكينانو سره مينه ساته او هغوئ ځان ته نژدي كړه چي الله تعالى دي د قيامت په ورځ ځان ته نژدي كړي. ترمذي او بيهقي.

### د كمزور بركت

(۵۰۱۶): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ابْغُونِي فِي ضُعَفَائِكُمْ فَإِنَّمَا تُرْزَقُونَ أَوْ تُنْصَرُونَ بِضُعَفَائِكُمْ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابودرداء رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما رضامندي تاسو په كمزورو كي ولټوئ (يعني هغوئ راضي ساتئ) ځكه چي ستاسو د كمزورو په بركت تاسو ته رزق دركول كيږي او ددښمنانو په مقابله كي ستاسو مرسته كول كيږي. ابوداؤد.

(۵۰۱۷): وَعَنْ أُمَيَّةَ بْنِ خَالِدِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أُسَيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ يَسْتَفْتِحُ بِصَعَالِيكِ الْمُهَاجِرِينَ. رواه في شرح السنة.

د حضرت اميه بن خالد بن عبدالله بن اسيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به د فقيرانو او مهاجرينو په بركت د الله تعالى څخه د فتح تر لاسه كولو دعاء كول. شرح السنة.

### د فاسق دنيا مه غواړئ

(۵۰۱۸): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَغْبِطَنَّ فَاجِرًا بِنِعْمَةٍ فَإِنَّكَ لَا تَدْرِي مَا هُوَ لَاقٍ بَعْدَ مَوْتِهِ إِنَّ لَهُ عِنْدَ اللّٰهِ قَاتِلًا

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د هيڅ فاجر او فاسق نعمت او دولت باندي ارزو مه كوه ځكه چي تا ته نه ده

لاَ يَمُوْتُ يَعْنِي النَّارَ . رواه في شرح السنة

معلومه چي د مرگ څخه وروسته به د هغه سره څه چلن کيږي ؟ د فاجر لپاره د الله ﷻ سره يو داسي قاتل دی چي نه مري ، يعني د دوزخ اور. شرح السنه.

## دنيا د مؤمن بنديخانه ده

(٥٠١٩): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَسَنَتُهُ وَإِذَا فَارَقَ الدُّنْيَا فَارَقَ السِّجْنَ وَالسَّنَةَ. رواه في شرح السنة.

د حضرت عبدالله بن عمرو ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دنيا دمؤمن بندي خانه او قحط دی هر کله چي هغه ددنيا څخه بيل سي نو د بندي خانې او قحط څخه خلاص سي. شرح السنة

## الله ﷻ خپل دوستان د دنيا څخه ساتي

(٥٠٢٠): وَعَنْ قَتَادَةَ بْنِ النُّعْمَانِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَحَبَّ اللّٰهُ عَبْدًا حَمَاهُ الدُّنْيَا كَمَا يَظَلُّ أَحَدُكُمْ يَحْمِي سَقِيمَهُ الْمَاءَ. رواه احمد والترمذي.

د حضرت قتادة بن نعمان ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي الله تعالی د يوه بنده سره مينه کوي نو هغه ددنيا څخه وساتي لکه څرنگه چي تاسو خپل ناروغ د اوبو څخه ساتئ . احمد او ترمذي.

## د مال کمي لوی نعمت دی

(٥٠٢١): وَعَنْ مَحْمُودِ بْنِ لَبِيدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اثْنَتَانِ يَكْرَهُهُمَا ابْنُ آدَمَ يكره الْمَوْتَ وَالْمَوْتُ خَيْرٌ لِلْمُؤْمِنِ مِنَ الْفِتْنَةِ وَيَكْرَهُ قِلَّةَ الْمَالِ وَقِلَّةُ الْمَالِ أَقَلُّ لِلْحِسَابِ . رواه احمد.

د حضرت محمود بن لبيد ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دوه شيان دي چي انسان يې بد گڼي : يو مرگ حال دا چي مرگ د مؤمن لپاره تر فتنې غوره دی، او دويم د مال کمي ، حال دا چي د مال کمي حساب لږوي (يعني حساب کموي). احمد.

## د فقر لپاره تياري

(٥٠٢٢): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ جاء رَجُلٌ الى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال إِنِّي لَأُحِبُّكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ قَالَ إِنْ كُنْتَ صادقا فَأَعِدَّ لِلْفَقْرِ تجفافًا للفقر أَسْرَعُ إِلَى مَنْ يُحِبُّنِي مِنَ السَّيْلِ إِلَى مُنْتَهَاهُ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت عبدالله بن معفل ؓ څخه روايت دئ چي يو سړي د نبي کريم ﷺ په خدمت کي وويل: چي زه ستاسو سره مينه لرم، رسول الله ﷺ وفرمايل : پوهيږې چي ته څه وايي ؟ هغه وويل: قسم په خدای زما ستاسو سره مينه ده ، دغسي

يې درېږ واره وويل، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : كه ته رښتيا وايې نو د فقر لپاره تجفاف (صبر) تيار كړه ځكه چې ځوك زما سره مينه كوي هغه ته فقر او مفلسي ژر رسيږي د هغه اوبو څخه هم ژر چې د پر كښته لور ځي .

**د دعوت اسلام په لاركي**

(٥٠٢٣): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ أُخِفْتُ فِي اللّٰهِ وَمَا يُخَافُ أَحَدٌ وَلَقَدْ أُوذِيتُ فِي اللّٰهِ وَمَا يُؤْذَى أَحَدٌ وَلَقَدْ أَتَتْ عَلَيَّ ثَلَاثُونَ مِنْ بَيْنِ ليلة ويوم وَمَا لِي وَلِبِلَالٍ طَعَامٌ يَأْكُلُهُ ذُو كَبِدٍ إِلَّا شَيْءٌ يُوَارِيهِ إِبْطُ بِلَالٍ. رواه الترمذي وقال و معنى هَذَا الْحَدِيثِ حِينَ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَارِبًا مِنْ مَكَّةَ وَمَعَهُ بِلَالٌ إِنَّمَا كَانَ مَعَ بِلَالٍ مِنَ الطَّعَامِ مَا يَحْمِلُ تَحْتَ إِبْطِهِ .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : زه د الله ﷻ د دين په اظهار وبيرول سوم او (زما څخه پرته) بل ځوك دومره نه وو بيرول سوى او ما ته تكليف راكړل سو چې داسي تكليف هيچا ته نه وو وركړل سوى او البته ديرش شپې او ورځي پر ما داسي تيري سوي چې زما او بلال لپاره خوراك نه وو ، هغه خوراك د هر خيګر خاوند خوري خو يو دير لږ دول شى چې بلال په خپل ځنګ كي پټ كړى وو. ترمذي، ترمذي ددې حديث معنا بيان كړې ده كوم وخت چې نبي كريم ﷺ د مكې څخه دباندي ولاړى نو د رسول الله ﷺ او بلال سره د خوراك د شيانو يوازي دومره وو چې بلال په ځنګ كي پټ كړي وه دا په حقيقت كي د طائف پېښنه ده هلته رسول الله ﷺ تر يوې مياشتي پوري د اسلام د بلني په كار بوخت وو او سخت تكليفونه يې وزغمل .

**د نبي ﷺ پر نس مبارك ډبري**

(٥٠٢٤): وَعَنْ أَبِي طَلْحَةَ قَالَ شَكَوْنَا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجُوعَ فَرَفَعْنَا عَنْ بُطُونِنَا عَنْ حَجَرٍ حَجَرٍ فَرَفَعَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بطنه حَجَرَيْنِ . رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت ابو طلحه ﷺ څخه روايت دئ چې موږ رسول الله ﷺ ته د لوږې شكايت وكړ او پر خپل نس مو يوه يوه ډبره تړلې وه خپل نسونه مو رسول الله ﷺ ته ښكاره كړل ، رسول الله ﷺ چې خپل نس ښكاره كړ نو پر هغه مبارك دوې ډبرې تړلې وې ، . ترمذي ويلي دا حديث غريب دئ .

(٥٠٢٥): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ أَصَابَهُمْ جُوعٌ فَأَعْطَاهُمْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَمْرَةً تَمْرَةً. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې دوئ لوږې په تكليف كړل نو رسول الله ﷺ يوه يوه خرما وركړل. ترمذي.

**صابر او شاكر څوك دي**

(۵۰۲۶): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَصْلَتَانِ مَنْ كَانَتَا فِيْهِ كَتَبَهُ اللّٰهُ شَاكِرًا صَابِرًا مَنْ نَظَرَ فِي دِيْنِهِ إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقَهُ فَاقْتَدٰى بِهِ وَمَنْ نَظَرَ فِي دُنْيَاهُ إِلَى مَنْ هُوَ دُوْنَهُ فَحَمِدَ اللّٰهَ عَلَى مَا فَضَّلَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ كَتَبَهُ اللّٰهُ شَاكِرًا صَابِرًا وَمَنْ نَظَرَ فِي دِيْنِهِ إِلَى مَنْ هُوَ دُوْنَهُ وَنَظَرَ فِي دُنْيَاهُ إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقَهُ فَأَسِفَ عَلَى مَا فَاتَهُ مِنْهُ لَمْ يَكْتُبْهُ اللّٰهُ شَاكِرًا وَلَا صَابِرًا. رواه الترمذي و ذكر حديث ابي سعيد ابشروا يا معشر صعاليك المهاجرين في باب بعد فضائل القرآن.

حضرت عمرو بن شعيب ﷺ د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: دوه عادتونه دي كوم چي په سړي كي پيدا سي نو الله تعالى هغه په شكر كونكي صبر كونكي خلكو كي ليكي: يو خو دا چي هر كله په ديني كارونو كي څوك د ځان څخه غوره ويني نو د هغه پيروي وكړي او په دنيا وي كارونو كي كه څوك ويني چي د هغه څخه د لاندي درجې وي نو د الله تعالى تعريف وكړي چي ده ته يې پر هغه بښېګنه وركړې ده ، الله تعالى دي په شكر كونكي كي ليكي ، او څوك چي په دين كي داسي كس ويني چي دده څخه كم وي او په دنيوي لحاظ سره داسي كسان ويني چي دده څخه زيات وي او بيا هغه پر تير سوي شي د افسوس اظهار وكړي نو الله تعالى هغه صابر او شاكر نه ليكي ، ترمذي ، د ابو سعيد حديث د فضائل قرآن څخه وروسته بيان كړل سو چي اې د فقراء مهاجرينو خوشحاله اوسئ.

## دريم فصل

**پر فقر د صبر كونكي فضيلت**

(۵۰۲۷): وَعَنْ أَبِيْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ الْحُبُلِيِّ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عَمْرٍو وَسَأَلَهُ رَجُلٌ قَالَ أَلَسْنَا مِنْ فُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِيْنَ فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللّٰهِ أَلَكَ امْرَأَةٌ تَأْوِيْ إِلَيْهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ أَلَكَ مَسْكَنٌ تَسْكُنُهُ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَأَنْتَ مِنَ الْأَغْنِيَاءِ قَالَ فَإِنَّ لِيْ خَادِمًا قَالَ فَأَنْتَ مِنَ الْمُلُوْكِ قَالَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ وَجَاءَ ثَلَاثَةُ نَفَرٍ إِلَى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو وَأَنَا عِنْدَهُ فَقَالُوْا يَا أَبَا مُحَمَّدٍ إِنَّا وَاللّٰهِ مَا نَقْدِرُ عَلَى شَيْءٍ لَا نَفَقَةَ وَلَا دَابَّةَ وَلَا مَتَاعَ فَقَالَ لَهُمْ

د حضرت عبدالرحمن حبلي ﷺ څخه روايت دى چي د عبدالله بن عمرو ﷺ څخه يو سړي پوښتنه وكړه چي ايا موږ د هغه فقراء مهاجرينو څخه نه يو چي هغوئ ته دا زيرى وركړل سوى دئ چي (هغوئ به د شتمنو څخه مخكي جنت ته ځي) ددې په جواب كي ما د عبدالله بن عمرو بن العاص ﷺ څخه دا واوريدل چي ايا ستا ښځه سته چي ته د هغې سره اوسيږې؟ هغه وويل: هو، بيا عبدالله

مَا شِئْتُمْ إِنْ شِئْتُمْ رَجَعْتُمْ إِلَيْنَا فَأَعْطَيْنَاكُمْ مَا يَسَّرَ اللهُ لَكُمْ وَإِنْ شِئْتُمْ ذَكَرْنَا أَمْرَكُمْ لِلسُّلْطَانِ وَإِنْ شِئْتُمْ صَبَرْتُمْ فَإِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ فُقَرَاءَ الْمُهَاجِرِيْنَ يَسْبِقُوْنَ الْأَغْنِيَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى الْجَنَّةِ بِأَرْبَعِيْنَ خَرِيْفًا قَالُوْا فَإِنَّا نَصْبِرُ لَا نَسْأَلُ شَيْئًا. رواه مسلم.

پوښتنه وکړه ایا ستا کور سته چي ته په هغه کي اوسیږي ؟ هغه وویل هو ، عبدالله ورته وویل بیا ته شمتن یې، هغه سړي ویل هو زما سره یو خادم هم سته ، عبدالله ورته وویل بیا خو ته د پاچاهانو څخه یې، د ابو عبدالرحمن راوي بیان دئ چي دري کسان عبدالله بن عمرو ته راغلل دغه وخت زه د هغه سره ناست وم هغوئ وویل اې عبدالله ! قسم په خدای موږ پر هیڅ شي قدرت نه لرو نه خو زموږ سره خرڅ سته او نه سپرلی او نه سامان، عبدالله بن عمرو ورته وویل تاسو څه غواړئ ؟ که تاسو دا غواړئ (چي زه د خپل لوري څخه درکړم) نو بیا یو وخت راسئ زه به هغه شی درکرم چي دهغه انتظام الله تعالی وکړي ، او که تاسو غواړئ نو زه به ستاسو حالت پاچا ته بیان کړم، او که تاسو خوښوئ نو صبر وکړئ، څکه چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي چي فقراء مهاجرین به د شتمنو څخه څلوېښت کاله مخکي جنت ته ځي، هغوئ وویل موږ به صبر کوو او هیڅ نه غواړو. مسلم.

### د فقراء مهاجرینو فضیلت

(٥٠٢٨): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ بَيْنَمَا أَنَا قَاعِدٌ فِي الْمَسْجِدِ وحلقة مِّنْ فُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِيْنَ قُعُوْدٌ إِذْ دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَعَدَ إِلَيْهِمْ فَقُمْتُ إِلَيْهِمْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُبْشِرْ فُقَرَاءُ الْمُهَاجِرِيْنَ بِمَا يَسُرُّ وُجُوْهَهُمْ فَإِنَّهُمْ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ قَبْلَ الْأَغْنِيَاءِ بِأَرْبَعِيْنَ عَامًا قَالَ فَلَقَدْ رَأَيْتُ أَلْوَانَهُمْ أَسْفَرَتْ قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَمْرٍو حَتَّى تَمَنَّيْتُ أَنْ أَكُوْنَ مَعَهُمْ أَوْ مِنْهُمْ. رواه الدارمي.

د حضرت عبدالله بن عمرو ؓ څخه روایت دئ چي موږ په مسجد نبوي کي ناست وو او د فقراء مهاجرینو حلقه جوړه سوي وه چي رسول الله ﷺ تشریف راوړ او د فقراء مهاجرینو سره کښېنستی، زه ولاړ سوم او د فقراء مهاجرینو په لور متوجه سوم ، نبي کریم ﷺ وفرمایل: فقراء مهاجرین ته هغه زیری رسول پکار دي چي د شتمنو څخه به د هغوئ مخونه تازه وي (یعني هغوئ به خوشحاله سي او هغه زیری دا دی چي) هغوئ به جنت ته تر شتمنو څلوېښت کاله ترمخه ځي، د راوي بیان دی چي ما ولیدل چي په دې اوریدو سره د فقراء مهاجرینو مخونه خلانده سول ، د عبدالله بن عمرو ؓ بیان دی چي د فقراء مهاجرینو د خوشحاله کېدو سره ما په خپل زړه کي دا آرزو وکړل چي زه هم د دوئ سره وای ، یا د دوئ وای ، دارمي.

### د اوو خبرو حکم

(۵۰۲۹): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ أَمَرَنِي خَلِيلِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَبْعٍ أَمَرَنِي بِحُبِّ الْمَسَاكِينِ وَالدُّنُوِّ مِنْهُمْ وَأَمَرَنِي أَنْ أَنْظُرَ إِلَى مَنْ هُوَ دُونِي وَلَا أَنْظُرَ إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقِي وَأَمَرَنِي أَنْ أَصِلَ الرَّحِمَ وَإِنْ أَدْبَرَتْ وَأَمَرَنِي أَنْ لَا أَسْأَلَ أَحَدًا شَيْئًا وَأَمَرَنِي أَنْ أَقُولَ بِالْحَقِّ وَإِنْ كَانَ مُرًّا وَأَمَرَنِي أَنْ لَا أَخَافَ فِي اللّٰهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ وَأَمَرَنِي أَنْ أُكْثِرَ مِنْ قَوْلِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ فَإِنَّهُنَّ مِنْ كَنْزٍ تَحْتَ الْعَرْشِ. رواه احمد.

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روایت دئ چي زما خلیل (رسول الله ﷺ) ما ته د دغه اووه کارو حکم راکړ چي زه (۱) د مسکینانو سره مینه وساتم او هغوئ ته نژدي اوسم (۲) او دا حکم یې راکړ چي د ځان څخه د کمي درجې خلکو ته وګورم او پورته خلکو ته نه ګورم (۳) او دا حکم یې راکړ چي د خپلوانو سره خپلوي قائم وساتم که څه هم چي خپلوان یې وشکوي (۴) او دا حکم یې راکړ چي د هیچا څخه به د هیڅ شي سوال نه کوم، (۵) او دا حکم یې راکړ چي رښتیا خبره به کوم که څه هم چي ترخه وي. (۶) او دا حکم یې راکړ چي امر بالمعروف او نهي عن المنکر کي به د چا د ملامتیا څخه نه بیریږم، (۷) او دا حکم یې راکړ چي دېر لاحول ولاقوة الا بالله ، وایم ځکه چي دا کلمې د هغه خزانې څخه دي کومه خزانه چي تر عرش الهي لاندي ده . احمد.

### ددنیا دری مرغوب شیان

(۵۰۳۰): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْجِبُهُ مِنَ الدُّنْيَا ثَلَاثَةٌ الطَّعَامُ وَالنِّسَاءُ وَالطِّيبُ فَأَصَابَ اثْنَتَيْنِ وَلَمْ يُصِبْ وَاحِدًا أَصَابَ النِّسَاءَ وَالطِّيبَ وَلَمْ يُصِبِ الطَّعَامَ. رواه احمد.

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دئ چي د دنیا په شیانو کي دري شیان د رسول الله ﷺ خوښ وه، (۱) خوراک (۲) بیبیاني (۳) او خوشبوئي، په دغه کي دوه شیان رسول الله ﷺ ته زیات تر لاسه وه (بیبیاني او خوشبوئي) او دریم شی ورته تر لاسه نه سو (یعني خوراك) .احمد.

(۵۰۳۱): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُبِّبَ إِلَيَّ الطِّيبُ وَ النِّسَاءُ وَجُعِلَتْ قُرَّةُ عَيْنِي فِي الصَّلَاةِ. رواه احمد والنسائي و زاد ابن الجوزي بعد قوله حبب الي من الدنيا.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زما لپاره خوشبوئي او بیبیاني محبوب ګرځول سوي دي او لمونځ خو زما د سترګو یخوالی جوړ کړل سوی دی. احمد، نسائي او ابن الجوزي د حبب څخه وروسته د من الدنیا لفظ زیات بیان کړی دی .

**د الله ﷻ بندګان ارام نه کوي**

(۵۰۳۲): وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا بَعَثَ بِهِ إِلَى الْيَمَنِ قَالَ إِيَّاكَ وَالتَّنَعُّمَ فَإِنَّ عِبَادَ اللّٰهِ لَيْسُوا بِالْمُتَنَعِّمِينَ. رواه احمد.

د حضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ هغه یمن ته ولیږی نو دا نصیحت یې ورته وفرمایه چي خپل ځان د آرام او استراحت څخه وساته ځکه چي د الله ﷻ بندګان آرام او استراحت نه تر لاسه کول نه خوښوي. احمد

**د قناعت فضیلت**

(۵۰۳۳): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ رَضِيَ مِنَ اللّٰهِ بِالْيَسِيرِ مِنَ الرِّزْقِ رَضِيَ اللّٰهُ مِنْهُ بِالْقَلِيلِ مِنَ الْعَمَلِ. رواه البيهقي.

د حضرت علي ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي د الله تعالی په لږ رزق راضي سي نو الله تعالی د هغه څخه په لږ عمل راضي سي. بیهقي.

**په حلاله طریقه روزي**

(۵۰۳۴): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ جَاعَ أَوِ احْتَاجَ فَكَتَمَهُ النَّاسَ كَانَ حَقًّا عَلَى اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ أَنْ يَرْزُقَهُ رِزْقَ سَنَةٍ مِنْ حَلَالٍ. رواهما البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي وږی یا اړ وي او خپل حالت دخلکو څخه پټوي نو پر الله تعالی د هغه دا حق ثابت سي چي په حلاله طریقه د هغه د یو کال روزي ورکړي. بیهقي

**تنګلاره او عیالداره مسکین**

(۵۰۳۵): وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ عَبْدَهُ الْمُؤْمِنَ الْفَقِيرَ الْمُتَعَفِّفَ أَبَا الْعِيَالِ. رواه ابن ماجة.

د حضرت عمران بن حصین ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالی خپل هغه مؤمن بنده خوښوي چي فقیر ځان ساتونکی د حرامو او سوال څخه وي او عیالداره وي. ابن ماجه.

**د حضرت عمر ﷺ تقوا**

(۵۰۳۶): وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ قَالَ اسْتَسْقَى يَوْمًا عُمَرُ فَجِيءَ بِمَاءٍ قَدْ شِيبَ بِعَسَلٍ فَقَالَ إِنَّهُ لَطَيِّبٌ لَكِنِّي أَسْمَعُ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ نَعَى عَلَى قَوْمٍ شَهَوَاتِهِمْ فَقَالَ أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَاتِكُمْ فِي حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَاسْتَمْتَعْتُمْ

د حضرت زید بن اسلم ﷺ څخه روایت دئ چي حضرت عمر ﷺ یوه ورځ اوبه وغوښتلې، اوبه ورته راوړل سوې چي شات پکښي ګډ سوي وه، حضرت عمر ﷺ وویل چي دا خو پاکي دي مګر زه د الله تعالی څخه دا اورم چي هغه پر یو قوم د

بِهَا فَأَخَافُ أَنْ تَكُوْنَ حَسَنَاتُنَا عُجِّلَتْ لَنَا فَلَمْ يَشْرَبْهُ . رواه رزين.

نفس د خواهشاتو د پيروي کولو عيب لګولی وو ، وي فرمايل تاسو د خپلو خوندو او نعمتونو پوره پوره ګټه خپل په دنيا وي ژوند کي تر لاسه کړه ، حضرت عمر ﷺ وفرمايل : زما سره بيره ده چي زموږ نيکي داسي نه وي چي د هغه ثواب ژر (په دنيا کي) راکړل سوی وي نو هغه خوړي اوبه يې ونه چيښلې . رزين .

**د اسلام په شروع کي**

(۵۰۳۷): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ مَا شَبِعْنَا مِنْ تَمْرٍ حَتّٰى فَتَحْنَا خَيْبَرَ . رواه البخاري.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي موږ هيڅکله په ماړه نس خرماوي هم نه وي خوړلې تر څو چي موږ خيبر فتح کړ . بخاري .

# بَابُ الْاَمَلِ وَالْحِرْصِ

## (د حرص او آرزوګانو بيان)

## لومړی فصل

**انسان د هغه مرګ او دهغه غوښتني**

(۵۰۳۸): عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ خَطَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطًّا مُرَبَّعًا وَخَطَّ خَطًّا فِي الْوَسَطِ خَارِجًا مِنْهُ وَخَطَّ خُطَطًا صِغَارًا إِلَى هٰذَا الَّذِي فِي الْوَسَطِ مِنْ جَانِبِهِ الَّذِي فِي الْوَسَطِ فَقَالَ هٰذَا الْإِنْسَانُ وَهٰذَا أَجَلُهُ مُحِيطٌ بِهِ وَهٰذَا الَّذِي هُوَ خَارِجٌ أَمَلُهُ وَهٰذِهِ الْخُطَطُ الصِّغَارُ الْأَعْرَاضُ فَإِنْ أَخْطَأَهُ هٰذَا نَهَشَهُ هٰذَا وَإِنْ أَخْطَأَهُ هٰذَا نَهَشَهُ هٰذَا. رواه البخاري.

د حضرت عبد الله ﷺ څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ يو څلور کونجه کرښه وکښل او د هغه څلور کنجه شکل په منځ کي يې يو بل خط وکښي چي شکل څخه د باندي وتلی وو بيا يې کوچني کوچني خطونه (کرښي) د منځ په کرښه کي د هغه دواړو خواوو ته وکښل بيا يې وفرمايل : دا درمياني کرښه انسان دی او دا مربع د هغه مرګ دی چي د څلورو خواوو څخه يې راګير کړی دی او منځنی خط برخه د مربع څخه دباندي ختلي ده دا د هغه آرزو ده او په درمياني خط کي دواړو خواوو ته چي کوم کوچني کوچني خطونه دي هغه عوارض (آفات ، مصيبتونه ، ناروغياني وغيره) دي که د يوې پيښي څخه انسان وساتل سي نو بيا بله ده که

د دويمي څخه وساتل سي نو بيا دوهمه ده (همداسي نوري) تر څو چي مرگ ورته راسي . بخاري .

(۵۰۳۹): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ خَطَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُطُوطًا فَقَالَ هٰذَا الْأَمَلُ وَهٰذَا أَجَلُهُ فَبَيْنَمَا هُوَ كَذٰلِكَ إِذْ جَاءَهُ الْخَطُّ الْأَقْرَبُ . رواه البخاري.

د حضرت انس ؓ څخه روايت دیٔ چي رسول الله ﷺ څو كرښي وكښلي (يعني يو څلور كونجه شكل يې جوړ كړ او يو خط يې د مربع د منځ څخه دباندي وكښي لكه د پورتني حديث) او وه يې فرمايل : دا كوم خط چي د مربع څخه وتلی دی دا دانسان خواهشات دي او داخطر د انسان مرگ دی نو انسان داسي اوسيږي چي ناڅاپه يې مرگ راګير كړي . بخاري .

## مال او عمر

(۵۰۴۰): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَهْرَمُ ابْنُ آدَمَ يشيب مِنْهُ اثْنَانِ الْحِرْصُ عَلَى الْمَالِ وَالْحِرْصُ عَلَى الْعُمُرِ . متفق عليه

د حضرت انس ؓ څخه روايت دیٔ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : انسان سپين ږيری سي او دوه شيان په هغه كي ځوان وي يو دمال حرص او دويم د عمر حرص . بخاري او مسلم.

(۵۰۴۱): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عن النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال لَا يَزَالُ قَلْبُ الْكَبِيرِ شَابًّا فِي اثْنَيْنِ فِي حُبِّ الدُّنْيَا وَطُولِ الْأَمَلِ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دیٔ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د سپين ږيری زړه همېشه په دوو خبرو كي ځوان وي يو ددنيا په مينه كي او بل د عمر په اوږدوالي كي . بخاري او مسلم .

## د انسان لپاره عذر نه پاته كيږي

(۵۰۴۲): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْذَرَ اللّٰهُ إِلَى امْرِئٍ أَخَّرَ أَجَلَهُ حَتَّى بَلَّغَهُ سِتِّينَ سَنَةً.رواه البخاري.

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دیٔ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د هغه چا لپاره الله تعالى د عذر هيڅ موقع نه پرېږدي چي د هغه په مرگ كي يې وخت وركړ او د شپېتو كالو عمر يې وركړ . بخاري.

## د انسان حرص او طمع

(۵۰۴۳): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْ كَانَ لِابْنِ آدَمَ وَادِيَانِ مِنْ مَالٍ لَابْتَغَى ثَالِثًا وَلَا يَمْلَأُ جَوْفَ ابْنِ آدَمَ إِلَّا التُّرَابُ وَيَتُوبُ اللّٰهُ عَلَى مَنْ تَابَ. متفق عليه.

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روايت دیٔ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كه د چا سره د مال څخه دكي دوي شيلې وي نو بيا به هم هغه د دريمي شيلې خواهش كوي او د چا نس كه يو شی

ډكولاى سي نو هغه د قبر خاوره ده . او الله تعالى د هغه چا توبه قبلوي چي توبه وكاږي. بخاري او مسلم

**په دنيا كي داسي اوسه لكه مسافر**

| | |
|---|---|
| (۵۰۲۴): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ أَخَذَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبَعْضِ جَسَدِيْ فَقَالَ كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيْبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِيْلٍ وَ عُدَّ نَفْسَكَ مِنْ أَهْلِ الْقُبُوْرِ. رواه البخاري. | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د بدن يوه برخه ونيول او وه يې فرمايل : ته په دنيا كي داسي اوسه گويا چي ته مسافر يې او خپل ځان په هغه مړو كي وشميره چي په قبرو كي دننه دي . بخاري. |

## دويم فصل

**مرگ زر راتلونكى دى**

| | |
|---|---|
| (۵۰۲۵): عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ مَرَّ بِنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا وَ أُمِّيْ نُطَيِّنُ شَيْئًا فَقَالَ مَا هٰذَا يا عبدالله قُلْتُ شَيْءٌ نُصْلِحُهُ قَالَ الْأَمْرُ أَسْرَعُ مِنْ ذٰلِكَ.رواه احمد والترمذي وقال هذا حديث غريب. | د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دئ چي يوه ورځ رسول الله ﷺ په داسي حال كي موږ ته راغلى چي زما او زما مور په خاورو سره يو ځاى جوړوى ، رسول الله ﷺ پوښتنه |

وكړه اي عبدالله دا څه كيږي ؟ما وويل: موږ دا ځاى جوړوو، رسول الله ﷺ وفرمايل : مرگ تر دې هم زيات زر راتلونكى دى ،احمد او ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دى .

**مرگ په ياد لره**

| | |
|---|---|
| (۵۰۲۶): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُهْرِيْقُ الْمَاءَ فَيَتَيَمَّمُ بِالتُّرَابِ فَأَقُوْلُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّ الْمَاءَ مِنْكَ قَرِيْبٌ يَقُوْلُ مَا يُدْرِيْنِيْ لَعَلِّيْ لَا أَبْلُغُهُ. رواه في شرح السنة وابن الجوزي في كتاب الوفاء. | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به كله تشي بولي وكړلي نو په خاورو سره به يې تيمم كوى نو ما به وويل: اي دالله رسوله ! اوبه خو نژدې دي، رسول الله ﷺ به فرمايل : څه معلومه ده كيداى سي زه اوبو ته |

ونه رسيږم (يعني وفات سم). شرح السنه او كتاب الوفاء.

**د انسان مرگ د هغه تر ارزو مخكي دى**

| | |
|---|---|
| (۵۰۲۷): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ هٰذَا ابْنُ آدَمَ وَهٰذَا أَجَلُهُ وَوَضَعَ يَدَهُ عِنْدَ قَفَاهُ ثُمَّ بَسَطَ فَقَالَ وَثَمَّ أَمَلُهُ . رواه الترمذي. | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دا انسان دى او دا د هغه مرگ دى، ددې فرمايلو سره يې خپل لاس مبارك څټ ته |

نژدې کښېښنودی ، بیا یې لاس مبارك وغزوی او د ختې څخه یې لیرې کړ او وه یې فرمایل تر هغه خایه پورې دده امیدونه دي . ترمذي.

| | |
|---|---|
| (۵۰۴۸): وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَرَزَ عُوْدًا بَيْنَ يَدَيْهِ وَآخَرَ إِلَى جَنْبِهِ وَآخَرَ أَبْعَدَ فَقَالَ أَتَدْرُوْنَ مَا هٰذَا قَالُوْا اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ قَالَ هٰذَا الْإِنْسَانُ وَهٰذَا الْأَجَلُ أُرَاهُ قَالَ وَهٰذَا الْأَمَلُ فَيَتَعَاطَى الْأَمَلَ فَلَحِقَهُ الْأَجَلُ دُوْنَ الْأَمَلِ . رواه في شرح السنة. | د حضرت ابو سعید خدري ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ خپل مخته یو لرګی ښخ کړي بیا یې یو لرګی د هغه لرګي په څنګ کې او یو بل لرګی د هغه څخه لیرې ښخ کړ بیا یې وفرمایل: تاسو پوهیږئ چې دا څه دي؟ صحابه کرامو وویل: الله ﷻ او د هغه رسول ښه پوهیږي، |

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : دا (یعني لومړی لرګی) انسان دی او دا (دویم لرګی) چې په خوا کې یې دی مرګ دی، ابو سعید خدري وایي چې ددریم لرګي په اړه زما خیال دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل او دا اُمید دی، انسان په امیدو کې ګرفتار وي چې مرګ د خواهشاتو د ختمیدو څخه مخکې راسي شرح السنه.

**د امت محمدیه عمر**

| | |
|---|---|
| (۵۰۴۹): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عُمْرُ أُمَّتِيْ مِنْ سِتِّيْنَ سَنَةً إِلَى سَبْعِيْنَ سَنَةً. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب. | د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : زما دامت عمر د شپیتو څخه تر اویا کالو پورې دی . ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دی. |

| | |
|---|---|
| (۵۰۵۰): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْمَارُ أُمَّتِيْ مَا بَيْنَ السِّتِّيْنَ إِلَى السَّبْعِيْنَ وَأَقَلُّهُمْ مَنْ يَجُوْزُ ذٰلِكَ. رواه الترمذي وابن ماجة و ذکر حدیث عبدالله بن الشخیر في باب عیادة المریض. | د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : زما د امت عمرونه د شپیتو او اویا کالو په منځ کې دي او داسې خلك ډیر کم دي چې د هغوئ عمرونه تر دې زیات وي. ترمذي او ابن ماجه او د عبدالله بن شخیر |

حدیث د ناروغ د پوښتنې په باب کې بیان سوی دی .

# دریم فصل

### بخل او ارزو

| | |
|---|---|
| (۵۰۵۱): عَنْ عَمْرِوبْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَوَّلُ صَلَاحِ هٰذِهِ الْأُمَّةِ الْيَقِيْنُ وَالزُّهْدُ وَأَوَّلُ فَسَادِهَا الْبُخْلُ وَالْأَمَلُ. رواه البيهقي في شعب الإيمان. | حضرت عمرو بن شعیب ﷺ د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ددې امت لومړنی نیکي یقین او زهد ده او لومړنی فساد یې بخل او آرزو ده. بیهقي په شعب الایمان کي. |

### حقیقي زهد څه ته وايي

| | |
|---|---|
| (۵۰۵۲): وَعَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ قَالَ لَيْسَ الزُّهْدُ فِي الدُّنْيَا بِلُبْسِ الْغَلِيْظِ وَالْخَشِنِ وَأَكْلِ الْجَشِبِ إِنَّمَا الزُّهْدُ فِي الدُّنْيَا قِصَرُ الْأَمَلِ. رواه في شرح السنة. | د حضرت سفیان ثوري ﷺ څخه روایت دئ چي په دنیا کي زهد ددې نوم نه دی چي غټي جامې واغوستل سي او یا وچه ډوډۍ وخورل |

سي بلکه زهد په حقیقت کي د آرزوګانو او امیدونو د کمی نوم دئ. شرح السنه.

| | |
|---|---|
| (۵۰۵۳): وَعَنْ زَيْدِبْنِ الْحُسَيْنِ قَالَ سَمِعْتُ مَالِكًا وَسُئِلَ أَيُّ شَيْءٍ الزُّهْدُ فِي الدُّنْيَا قَالَ طِيْبُ الْكَسْبِ وَقِصَرُ الْأَمَلِ. رواه البيهقي في شعب الإيمان. | د حضرت زید بن حسین ﷺ څخه روایت دئ چي د امام مالك څخه پوښتنه وسول چي په دنیا کي زهد د څه شي نوم دئ؟ هغه ورته په |

جواب کي وفرمایل: حلال کسب اختیارول او د امیدونو کمي. بیهقي په شعب الایمان کي.

# بَابُ اسْتِحْبَابِ الْمَالِ وَالْعُمُرِ لِلطَّاعَةِ

## (د الله ﷻ د عبادت لپاره د مال او عمر سره مينه كولو بيان)

## لومړی فصل

**الله ته خوښ بنده څوک دی؟**

(۵۰۵۴): عَنْ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْعَبْدَ التَّقِيَّ الْغَنِيَّ الْخَفِيَّ . رواه مسلم و ذكر حديث ابن عمر لا حسد الا في اثنين في باب فضائل القرآن.

د حضرت سعد ؓ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى متقي . غني او گوشه نشين بنده خوښوي ، مسلم. او د ابن عمر ؓ حديث لا حسد الا في اثنين په باب فضائل القرآن كي بيان سوی دی .

## دويم فصل

**د عمر اوږدوالی**

(۵۰۵۵): عَنْ أَبِي بَكْرَةَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَيُّ النَّاسِ خَيْرٌ قَالَ مَنْ طَالَ عُمُرُهُ وَحَسُنَ عَمَلُهُ قَالَ فَأَيُّ النَّاسِ شَرٌّ قَالَ مَنْ طَالَ عُمُرُهُ وَسَاءَ عَمَلُهُ . رواه احمد والترمذي والدارمي.

د حضرت ابوبكرة ؓ څخه روايت دئ چې يو سړي پوښتنه وكړه اې د الله رسوله ! كوم بنده غوره دئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: هغه څوك چې عمر يې زيات وي او عمل يې ښه وي ، بيا يې پوښتنه وكړه او څوك خراب دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : د چا چې عمر زيات او عمل يې خراب وي . احمد ، ترمذي او دارمي .

**ژوند د ښه اعمالو سره**

(۵۰۵۶): وَعَنْ عُبَيْدِ بْنِ خَالِدٍ أَنَّ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آخَى بَيْنَ رَجُلَيْنِ فَقُتِلَ أَحَدُهُمَا فِي سبيل الله ثم مَاتَ الْآخَرُ بَعْدَهُ بجمعة او نحوها فصلوا عَلَيْهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا قُلْتُمْ قَالُوا دَعَوْنَا الله ان يغفر له ويرحمه ويلحقه

د حضرت عبيد بن خالد ؓ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ د دوو كسانو په منځ كي ورورولي قائمه كړي وه په هغوئ كي يو سړی د الله ﷻ په لار كي ووژل سو د هغه څخه وروسته دويم هم (پر خپله بستره) مړ سو ، يوه اونۍ يا نژدې يوې اونۍ ته وروسته صحابه كرامو د هغه سړي د

بصاحبه فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَيْنَ صَلَاتُهُ بَعْدَ صَلَاتِه وعَمَلُهُ بَعْدَ عَمَلِه او قال صيامه بعد صيامه لَمَا بَيْنَهُمَا ابعد مما بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ. رواه ابوداؤد والنسائي .

جنازې لمونځ وکړ، نبي کريم ﷺ د صحابه کرامو څخه پوښتنه وکړه چې تاسو په لمانځه کې څه وویل؟ صحابه کرامو وویل: موږ د هغه لپاره دعاء وکړه چې الله هغه و بخښي پر هغه رحم وکړي او هغه خپل ملګري ته ورسوي، (کوم چې شهيد سوی دئ ددې اوريدو سره نبي کريم ﷺ وفرمايل د هغه هغه لمونځ څه سو چې هغه د خپل ملګري د مرګ څخه وروسته کړی وو او هغه عمل يې څه سو چې د هغه څخه وروسته يې وکړ، يا رسول الله ﷺ دا الفاظ وفرمايل: د هغه روژې څه سوې چې د هغه څخه وروسته يې نيولې دي (يعني هر کله چې تاسو هغه ته د شهيد برابر مرتبې ته د رسولو دعاء کړې ده نو د هغه ددې اعمالو ثواب څه سو يعني دده مرتبه دشهيد څخه زياته ده) بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: په جنت کې دننه د دوو کسانو په منځ کې چې کومه فاصله ده هغه ددې فاصلې څخه زياته ده چې د آسمان او مځکې په منځ کې ده . ابوداؤد او نسائي .

## ضروري خبرې

(۵۰۵۷): وَعَنْ أَبِيْ كَبْشَةَ الْأَنْمَارِيِّ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ ثَلَاثٌ أُقْسِمُ عَلَيْهِنَّ وَأُحَدِّثُكُمْ حَدِيْثًا فَاحْفَظُوْهُ فاما الذي اقسم عليهن فانه مَا نَقَصَ مَالُ عَبْدٍ مِنْ صَدَقَةٍ وَلَا ظُلِمَ عَبْدٌ مَظْلَمَةً صَبَرَ عَلَيْهَا إِلَّا زَادَهُ اللّٰهُ عِزًّا وَلَا فَتَحَ عَبْدٌ بَابَ مَسْأَلَةٍ إِلَّا فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْهِ بَابَ فَقْرٍ واما الذي أُحَدِّثُكُمْ فَاحْفَظُوْهُ فقال إِنَّمَا الدُّنْيَا لِأَرْبَعَةِ نَفَرٍ عَبْدٍ رَزَقَهُ اللّٰهُ مَالًا وَعِلْمًا فَهُوَ يَتَّقِي فِيهِ رَبَّهُ وَيَصِلُ رَحِمَهُ وَيَعْمَلُ لِلّٰهِ فيه بحقه فَهٰذَا بِأَفْضَلِ الْمَنَازِلِ وَعَبْدٍ رَزَقَهُ اللّٰهُ عِلْمًا وَلَمْ يَرْزُقْهُ مَالًا فَهُوَ صَادِقُ النِّيَّةِ يَقُوْلُ لَوْ أَنَّ لِي مَالًا لَعَمِلْتُ بِعَمَلِ فُلَانٍ فَأَجْرُهُمَا سَوَاءٌ وَعَبْدٍ رَزَقَهُ اللّٰهُ مَالًا وَلَمْ يَرْزُقْهُ عِلْمًا فَهُوَ يَخْبِطُ فِي مَالِه بِغَيْرِ عِلْمٍ لَا يَتَّقِي فِيهِ رَبَّهُ وَلَا يَصِلُ فِيهِ رَحِمَهُ وَلَا يَعْمَلُ فِيهِ بِحَقٍّ فَهٰذَا

د حضرت ابو کبشه انماري ؓ څخه روايت دئ چې هغه د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي چې درې خبرې دي چې پر هغو زه قسم خورم چې هغه حق دي او تاته زه يو حديث بيانوم ته هغه په ياد لره ، هغه درې خبرې چې پر هغه زه قسم اخلم دادي (۱) دا چې د بنده مال د صدقې او خيرات کولو سره نه کميږي (۲) او پر کوم بنده چې ظلم وسي او هغه صبر وکړي الله تعالی د هغه عزت زياتوي (۳) او کوم بنده چې د سوال دروازه خلاصه کړه نو الله تعالی د هغه لپاره د فقر او مفلسی دروازه خلاصه کړي ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل: د کوم شي چې ما ذکر کړی وو اوس زه هغه بيانوم دا هم په ياد لره: دنيا دڅلورو کسانو لپاره ده: (۱) يو خو د هغه بنده لپاره چې هغه ته الله

| | |
|---|---|
| بِأَخبَثِ الْمَنَازِلِ وَعَبْدٍ لَمْ يَرْزُقْهُ اللّٰهُ مَالًا وَلَا عِلْمًا فَهُوَ يَقُولُ لَوْ أَنَّ لِي مَالًا لَعَمِلْتُ فِيهِ بِعَمَلِ فُلَانٍ فَهُوَ نِيته وَوِزْرُهُمَا سَوَاءٌ. رواه الترمذي وقال هذا حديث صحيح. | تعالى مال او علم ورکړ نو هغه مال خرڅ کولو کي د الله څخه بيريږي د خپلوانو سره ښه چلن کوي او د هغه مال څخه دمال د حق سره سم د |

الله تعالى په لاره کي خرڅ کوي ددې کس لويه درجه ده (۲): دويم د هغه بنده لپاره چي هغه ته الله تعالى علم ورکړ او مال يې ور نه کړ دا بنده ريښتونى نيت لري او دا آرزو لري که زما سره مال واى نو د فلاني په ډول به مې په نيکو کارونو کي مصرف کړي واى ده ته به هم د لومړني کس په ډول اجر تر لاسه کيږي او په ثواب کي به دواړه برابر وي (۳): دريم د هغه بنده لپاره چي الله تعالى مال ورکړى وي او علم يې نه وي ورکړى دا بنده د بي علمۍ په وجه خپل مال په خرابه طريقه سره خرڅ کوي نه خو په خرڅ کولو کي د الله ﷻ څخه بيريږي ، نه د خپلوانو سره ښه چلن کوي او نه د خپل مال څخه د الله ﷻ حق ادا کوي ، او نه دبندګانو حق ادا کوي ، دا بنده د بدترينې مرتبې دی (۴) : او څلورم بنده هغه دئ چي الله تعالى مال هم نه دی ورکړى او علم يې هم نه دی ورکړى ، هغه وايي که زما سره مال واى نو ما به د فلاني په ډول خرڅ کولاى (يعني په خراب کارونو کي) دا بنده د خپل نيت په سبب مغلوب دئ او د هغه ګناه ددغه دريم بنده د ګناه په ډول ده . ترمذي ويلي دي دا حديث صحيح دئ.

### د نيکو اعمالو توفيق

| | |
|---|---|
| (۵۰۵۸): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ان الله تعالى اذا اراد بعبد خيرًا استَعْمَلَهُ فَقِيلَ كَيْفَ يَسْتَعْمِلُهُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ يُوَفِّقُهُ لِعَمَلٍ صَالِحٍ قَبْلَ الْمَوْتِ. رواه الترمذي. | د حضرت انس رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي الله تعالى د يو بنده سره د نيکۍ کولو اراده وکړي نو په هغه د نيکۍ کار کوي ، پوښتنه وسول اي داالله رسوله ! الله تعالى |

د نيکۍ کار څنګه په کوي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د مرګ تر مخه هغه ته د نيکو کارونو توفيق ورکړي . ترمذي.

### د عاقل او عاجز فرق

| | |
|---|---|
| (۵۰۵۹): وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ وَالْعَاجِزُ مَنْ أَتْبَعَ نَفْسَهُ هَوَاهَا وَتَمَنَّى عَلَى اللّٰهِ. رواه الترمذي وابن ماجة. | د حضرت شداد بن اوس رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : عاقل او احتياط کونکى بنده هغه دئ چي خپل نفس ذليل کړي او په خپل واك کي يې وساتي او د مرګ څخه وروسته (ژوند) لپاره عمل وکړي او عاجز (احمق) هغه دی |

چي د خپل نفس د خواهشاتو غلام وي او د الله تعالی د بخښني آرزو مند وي . ترمذي او ابن ماجه.

## دریم فصل

### د متقي لپاره دنیا بده نه ده

(۵۰۶۰): عَنْ رَجُلٍ مِّنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال كُنَّا فِي مَجْلِسٍ فَطَلَعَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَى رَأْسه اَثَرُ مَاءٍ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللّٰه نَرَاكَ طَيِّبَ النَّفْسِ قَالَ اَجَلْ قَالَ ثُمَّ خَاضَ الْقَوْمُ فِي ذِكْرِ الْغِنَى فَقَالَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا بَأْسَ بِالْغِنَى لِمَنْ اتَّقَى الله عزوجل وَالصِّحَّةُ لِمَنْ اتَّقَى خَيْرٌ مِنَ الْغِنَى وَطِيبُ النَّفْسِ مِنَ النَّعِيمِ. رواه احمد .

د رسول الله ﷺ په اصحابو کي د يو صحابي څخه روايت دئ چي موږ ناست وو چي رسول الله ﷺ تشريف راوړ ، د رسول الله ﷺ پر سر مبارك د اوبو علامه وه موږ وويل: اې دالله رسوله ! دا وخت موږ تاسو خوشحاله وينو ، رسول الله ﷺ وفرمايل هو ، راوي وايي ددې څخه وروسته خلك په خبرو كي بوخت سول او د شتمنتوب بحث يې پيل كړ (چي دا بنه شی دئ که بد) رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د الله تعالى څخه بيريږي د هغه لپاره شتمنتوب بد شی نه دئ او د متقي لپاره صحت او د دولت څخه غوره دی اوخوشحالي د الله تعالی د نعمتونو څخه يو نعمت دی . احمد.

### مال د مؤمن سپر دئ

(۵۰۶۱): وَعَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ قَالَ- كَانَ الْمَالُ فِيمَا مَضَى يُكْرَهُ فَأَمَّا الْيَوْمَ فَهُوَ تُرسُ الْمُؤْمِنَ وَقَالَ لَوْلَا هٰذه الدَّنَانِيْرُ لَتَمَنْدَلَ بِنَا هٰؤُلَاءِ الْمُلُوكُ وَقَالَ مَنْ كَانَ فِي يَدِه مِنْ هٰذه شَيْءٌ فَلْيُصْلِحْهُ فَإِنَّهُ زَمَانٌ إِنْ احْتَاجَ كَانَ أَوَّلَ مَنْ يَّبْذُلُ دِيْنَهُ وَقَالَ الْحَلَالُ لَايَحْتَمِلُ السَّرَفَ . رواه في شرح السنة.

د حضرت سفيان ثوري رحمه الله څخه روايت دئ چي په پخوا زمانه كي به مال بد ګڼل كيدی ، مګر نن سبا مال د مؤمن سپر دی ، سفيان وايي كه دا دنيا زموږ سره نه وای نو دغه پاچاهانو به ذليل او خوار كړي وای او سفيان دا هم وويل چي د چا سره مال وي هغه دي د هغه اصلاح وكړي (يعني د هغه د زياتولو تدبير دي وكړي او دضائع كيدو څخه دي يې وساتي) څكه چي دا زمانه هغه زمانه ده كه په دې كي څوك اړ وي نو هغه تر ټولو لومړنی سړی دئ چي خپل دين به ددنيا په بدل كي خرڅ كړي . حضرت سفيان ثوري وويل : حلال مال د فضول خرڅي څخه نه ضائع كيږي يعني په حلال مال كي اسراف مه كوئ . شرح السنه،

### شپېته کاله عمر

(۵۰۶۲): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنَادِيْ مُنَادٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَيْنَ أَبْنَاءُ السِّتِّيْنَ وَهُوَ الْعُمْرُ الَّذِيْ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ... مَا يَتَذَكَّرُ فِيْهِ مَنْ تَذَكَّرَ وَجَاءَكُمُ النَّذِيْرُ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به يو اعلان کونکى اعلان وکړي چي د شپيتو کالو عمر والا خلك په کوم ځاى کي دي ؟ او دا عمر هغه عمر دئ چي په دي اره الله تعالى فرمايلي

دي «ايا مونږ تاسو ته داسي عمرونه درکړي نه وه چي په هغه کي نصيحت حاصلونکي نصيحت حاصل کړي حال دا چي تاسو ته بيرونکى هم راغلى وو» بيهقي.

**د درو مسلمانانو مرګ**

(۵۰۶۳): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ شَدَّادٍ قَالَ أَنَّ نَفَرًا مِنْ بَنِي عُذْرَةَ ثَلَاثَةً أَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْلَمُوْا قَالَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَكْفِيْنِيهِمْ قَالَ طَلْحَةُ أَنَا قَالَ فَكَانُوا عِنْدَ طَلْحَةَ انا فكانوا عنده فَبَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْثًا فَخَرَجَ فيه أَحَدُهُمْ فَاسْتُشْهِدَ ثُمَّ بَعَثَ بَعْثًا فَخَرَجَ فيه الاخر فَاسْتُشْهِدَ ثُمَّ مَاتَ الثَّالِثُ عَلَى فِرَاشِهِ قال قَالَ طَلْحَةُ فَرَأَيْتُ هَؤُلَاءِ فِي الْجَنَّةِ وَرَأَيْتُ الْمَيِّتَ عَلَى فراشه أَمَامَهُمْ وَ الَّذِي اسْتُشْهِدَ أَخِيرًا يَلِيهِ أَوَّلَهُمْ يليه فَدَخَلَنِي مِنْ ذَلِكَ للنبي صلى الله عليه وسلم وَمَا أَنْكَرْتَ مِنْ ذَلِكَ لَيْسَ أَحَدٌ أَفْضَلَ عِنْدَ اللّٰهِ مِنْ مُؤْمِنٍ يُعَمَّرُ فِي الْإِسْلَامِ لِتَسْبِيحِهِ وَتَكْبِيرِهِ وَتَهْلِيلِهِ. رواه احمد.

د حضرت عبد الله بن شداد ﷺ څخه روايت دئ چي د عذره قبيلي دري کسان رسول الله ﷺ ته راغلل او اسلام يي قبول کړ ، رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته وفرمايل: څوك سته چي د دوئ خبر واخلي ، طلحه وويل: زه به ددوئ خبر وکړم، دا دري سره د طلحه سره وه بيا رسول الله ﷺ يو لښکر وليږئ په هغه درو کسانو کي يو سړى په هغه لښکر کي ولاړئ او شهيد سو ، بيا رسول الله ﷺ يو بل لښکر وليږئ په هغه کي دويم کس هم ولاړئ او شهيد سو ، بيا هغه دريم سړى پر بستره مړ سو ، د راوي بيان دئ چي طلحه وويل ما دا دري سره (په خوب کي) په جنت کي وليدل ، کوم سړى چي په بستره کي مړ سوى وو هغه تر ټولو وړاندي وو ، او کوم چي په دويم لښکر کي شهيد سوى وو هغه په هغه پسي وو او تر ټولو وړاندي چي کوم سړى شهيد سوى وو هغه په آخر کي وو ، زما په زړه کي دا شبه پيدا سوه او رسول الله ﷺ ته مي يادونه وکړه ، رسول الله ﷺ وفرمايل: په دي کي کومه خبره ستا لپاره د انکار وړ ده ، د الله ﷻ په نزد د هغه مسلمان څخه زيات غوره هيڅوك نه سته چي په اسلام کي يي زيات عمر تر لاسه کړ او هغه د تسبيح، تکبير او تهليل زياته موقع تر لاسه کړل. احمد.

د عبادت کونکي زوند

(۵۰۶۴): وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي عُمَيْرَةَ وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَنَّ عَبْدًا لو خرَّ عَلَى وَجْهِهِ مِنْ يَوْمِ وُلِدَ إِلَى أَنْ يَمُوتَ هَرَمًا فِي طَاعَةِ اللّٰهِ لَحَقَرَهُ فِي ذٰلِكَ الْيَوْمِ وَلَوَدَّ أَنَّهُ رد إِلَى الدُّنْيَا كَيْمَا يَزْدَادَ مِنَ الْأَجْرِ وَالثَّوَابِ. رواه احمد.

د حضرت محمد بن ابي عميرة ﷺ څخه روايت دئ دی يو صحابي وو چي ويلي دي رسول الله ﷺ: که يو بنده د زيږيدني د ورځي څخه تر سپين ږيرتوب او مرګ پوري د الله ﷺ په عبادت او فرمانبرداری کي نسکور وي نو هغه به خپل دا عبادت او فرمانبرداري د قيامت په ورځ حقير خيال کوي او دا ارمان به کوي چي هغه بيا دنيا ته ولاړ سي چي اجر او ثواب يې زيات سي . احمد.

# بَابُ التَّوَكُّلِ وَالصَّبْرِ

## (د توکل او صبر بيان)

## لومړی فصل

توکل کونکي خلک

(۵۰۶۵): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي سَبْعُونَ أَلْفًا بِغَيْرِ حِسَابٍ هُمُ الَّذِينَ لَا يَسْتَرْقُونَ وَلَا يَتَطَيَّرُونَ وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ. متفق عليه.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما په امت کي به اويا زره کسان بې حسابه جنت ته ځي او دا خلك وي چي نه به جادو کوي او نه بد فال اخلي ، يوازي پر خپل پروردګار به يې توکل وي . بخاري او مسلم.

(۵۰۶۶): وَعَنْهُ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فَقَالَ عُرِضَتْ عَلَيَّ الْأُمَمُ فَجَعَلَ يَمُرُّ النَّبِيُّ وَ مَعَهُ الرَّجُلُ وَالنَّبِيُّ وَ مَعَهُ الرَّجُلَانِ وَالنَّبِيُّ وَ مَعَهُ الرَّهْطُ وَالنَّبِيُّ وَ لَيْسَ مَعَهُ أَحَدٌ فَرَأَيْتُ سَوَادًا كَثِيرًا سَدَّ الْأُفُقَ فَرَجَوْتُ أَنْ يَكُونَ أُمَّتِي فَقِيلَ هٰذَا مُوسَى فِي قَوْمِهِ ثُمَّ قِيلَ لِي

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ يوه ورځ نبي کريم ﷺ تشريف راوړ او وه يې فرمايل : زما مخته امتونه وراندي کړل سول (يعني په خوب يا د کشف په حالت کي) ځيني پيغمبرانو د خپلو امتونو سره تيريدل پيل کړل يو نبي تير سو د هغه سره يو سړی وو ، (يعني يوازي يو امتي يې

انْظُرْ فَرَأَيْتُ سَوَادًا كَثِيرًا سَدَّ الْأُفُقَ فَقِيلَ لِي انْظُرْ هٰكَذَا وَهٰكَذَا فَرَأَيْتُ سَوَادًا كَثِيرًا سَدَّ الْأُفُقَ فَقِيلَ هٰؤُلَاءِ أُمَّتُكَ وَمَعَ هٰؤُلَاءِ سَبْعُونَ أَلْفًا قُدَّامَهُمْ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ هُمُ الَّذِينَ لَا يَتَطَيَّرُونَ وَلَا يَسْتَرْقُونَ وَلَا يَكْتَوُونَ وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ فَقَامَ عُكَّاشَةُ بْنُ مِحْصَنٍ فَقَالَ ادْعُ اللّٰهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ قَالَ اللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ مِنْهُمْ ثُمَّ قَامَ رَجُلٌ آخَرُ فَقَالَ ادْعُ اللّٰهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ قَالَ سَبَقَكَ بِهَا عُكَّاشَةُ. متفق عليه.

وو، او بل نبي تير سو د هغه سره يوازي دوه خلك وه او بل نبي تير سو د هغه سره يوه ډله وه او يو نبي تير سو د هغه سره يو سړي هم نه وو بيا ما يو لويه ډله وليدل چي د آسمان غاره ځيني ډكه وه زما دا اميد سو چي دا به زما امت وي مګر ما ته ونبودل سول چي دا موسى عليه السلام او د هغه امت دئ ، بيا ما ته وويل سول وګوره ، نو ما يوه لويه ډله وليدل چي د هغه څخه د آسمان غاري ډكي وي بيا ما ته وويل سول راسته او چپه لوري ته وګوره نو ما يوه لويه ډله په خپل شاوخوا كي وليدل چي د آسمان تر غاره پوري خپره سوي وه ، بيا ما ته وويل سول دا ستا امت دئ او ددوئ څخه پرته او يا زره نور دي چي بې حسابه به په جنت كي داخليږي دا به هغه خلك وي چي نه بد فالي اخلي او نه به طلب د دم كوي او نه به پر خپل بدن داغ لګوي او يوازي پر الله ﷺ به بې توكل وي ، (ددې په اوريدو سره) عكاشه بن محصن ولاړ سو او عرض يې وكړ اې دالله رسوله ! ما ته دعاء وكړه چي الله تعالى ما هم ددغه خلكو څخه كړي نو ده يې فرمايل : الله ﷺ دى هم ددغه ډلي څخه كړه ، بيا بل سړى ولاړ سو عرض يې وكړ اې دالله رسوله ! زما لپاره هم دعاء وكړئ ، رسول الله ﷺ وفرمايل : عكاشه ستا څخه مخكي سو . بخاري او مسلم.

**دمؤمن شان**

(۵۰۶۷): وَعَنْ صُهَيْبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَجَبًا لِأَمْرِ الْمُؤْمِنِ إِنَّ أَمْرَهُ كُلَّهُ لَهُ خَيْرٌ وَلَيْسَ ذَالِكَ لِأَحَدٍ إِلَّا لِلْمُؤْمِنِ إِنْ أَصَابَتْهُ سَرَّاءُ شَكَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ وَإِنْ أَصَابَتْهُ ضَرَّاءُ صَبَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ. رواه مسلم.

د حضرت صهيب ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دمؤمن عجيبه شان دئ د هغه تول كارونه نيكي دي او دا شان يوازي د مؤمن سره خاص دئ كه خوشحالي ورته تر لاسه سي د الله شكر كوي چي دا شكر د هغه لپاره نيكي ده او كه مصيبت ورته راسي نو صبر كوي او دا صبر هم د هغه لپاره نيكي ده . مسلم.

**يو څو خاص هدايات**

(۵۰۶۸): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُؤْمِنُ الْقَوِيُّ خَيْرٌ وَأَحَبُّ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : قوي مؤمن (د عقيدي او بدن د

إِلَى اللّٰهِ مِنَ الْمُؤْمِنِ الضَّعِيفِ وَفِي كُلٍّ خَيْرٌ احْرِصْ عَلَى مَا يَنْفَعُكَ وَاسْتَعِنْ بِاللّٰهِ وَلَا تَعْجِزْ وَإِنْ أَصَابَكَ شَيْءٌ فَلَا تَقُلْ لَوْ أَنِّي فَعَلْتُ كَانَ كَذَا وَكَذَا وَلَكِنْ قُلْ قَدَرُ اللّٰهِ وَمَا شَاءَ فَعَلَ فَإِنَّ لَوْ تَفْتَحُ عَمَلَ الشَّيْطَانِ. رواه مسلم.

لحاظه، تر ضعیف مؤمن د الله تعالی په نزد غوره او محبوب دئ، او په هر مؤمن کي نیکي ده ، نو کوم شی چي تا ته گټه رسوي د هغه حرص کوه او د الله ﷻ مرسته او توفیق غواړه او د مرستي غوښتلو څخه پاته مه راځه او هر کله چي یو مصیبت درته راسي نو داسي مه وايه که ما داسي کړي وای نو داسي به سوی وای بلکه داسي وایه چي الله ﷻ همداسي لیکلي وه، او الله ﷻ چي څه غوارې هغه کوي څکه چي د (که یا اگر) لفظ د شیطان کار خلاصوي او په زړه کي وسوسه پیدا کوي . مسلم.

## دویم فصل

### پر الله ﷻ پوره توکل کول

(۵۰۶۹): عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَوْ أَنَّكُمْ تتوكلون عَلَى اللّٰهِ حَقَّ تَوَكُّلِهِ لرزقكم كَمَا يَرْزُقُ الطَّيْرَ تَغْدُو خِمَاصًا وَتَرُوحُ بِطَانًا . رواه الترمذي و ابن ماجة .

د حضرت عمر بن خطاب ؓ څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي فرمایل يې: که تاسو پر الله ﷻ باور وکړی داسي باور لکه څرنگه چي د باور حق دی نو هغه به داسي رزق درکوي لکه څرنگه چي مرغانو ته رزق ورکوي ، هغوئ په سهار کي وږي وځي او ماښام ته په ماړه نس راځي . ترمذي او ابن ماجه.

### د رزق حاصلولو لپاره خاص هدایت

(۵۰۷۰): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّهَا النَّاسُ لَيْسَ مِنْ شَيْءٍ يُقَرِّبُكُمْ إِلَى الْجَنَّةِ وَيُبَاعِدُكُمْ مِنَ النَّارِ إِلَّا قَدْ أَمَرْتُكُمْ بِهِ وَلَيْسَ شَيْءٌ يُقَرِّبُكُمْ مِنَ النَّارِ وَيُبَاعِدُكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ إِلَّا قَدْ نَهَيْتُكُمْ عَنْهُ وَإِنَّ الرُّوحَ الْأَمِينَ وَفِي رِوَايَةٍ وَإِنَّ رُوحَ الْقُدُسِ نَفَثَ فِي رُوعِي أَنَّ نَفْسًا لَنْ تَمُوتَ حَتَّى تَسْتَكْمِلَ رِزْقَهَا أَلَا فَاتَّقُوا اللّٰهَ

د حضرت ابن مسعود ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: اې خلکو ! هیڅ یو داسي شی نه سته چي تاسو جنت ته نژدې کړي او د دوږخ څخه مو لیري کړي مگر هغه چي د هغه ما تاسو ته حکم درکړی دئ او هیڅ شی داسي نه سته چي تاسو دوږخ ته نژدې کړي او د جنت څخه مو لیري کړي مگر هغه شی چي د هغه څخه ما تاسو منع کړي یاست ، او جبرائیل علیه السلام

وَأَجْمِلُوْا فِي الطَّلَبِ وَلاَ يَحْمِلَنَّكُمُ اسْتِبْطَاءُ الرِّزْقِ أَنْ تَطْلُبُوْهُ بِمَعَاصِي اللهِ فَإِنَّهُ لاَ يُدْرَكُ مَا عِنْدَ اللهِ إِلاَّ بِطَاعَتِهِ . رواه في شرح السنة والبيهقي في شعب الإيمان إلا أنه لم يذكر وإن روح القدس.

په بل روايت كي روح القدس زما په زړه كي دا خبره اچولي ده چي يو سرى تر هغه وخته پوري نه مر كيږي تر څو پوري چي (په دنيا) كي هغه خپل رزق پوره نه كړي ، خبردار! د الله ﷻ څخه وبيريږئ او په رزق تر لاسه كولو كي د ميانه روى څخه كار اخلئ، او په رزق رسيدو كي تاخير دي تاسو دې ته اماده نه كړي چي تاسو يې د گناه په ذريعه تر لاسه كړئ ځكه چي هغه شى كوم چي د الله ﷻ سره دي هغه د عبادت په ذريعه تر لاسه كيږي . شرح السنه، او بيهقي د روح القدس ذكر نه دى كړئ.

## اصل زهد څه ته وايي

(٥٠٧١): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الزَّهَادَةُ فِي الدُّنْيَا لَيْسَتْ بِتَحْرِيمِ الْحَلَالِ وَلَا إِضَاعَةِ الْمَالِ وَلٰكِنَّ الزَّهَادَةَ فِي الدُّنْيَا أَنْ لَا تَكُونَ بِمَا فِي يَدَيْكَ أَوْثَقَ مِمَّا فِي يَدَيِ اللهِ وَأَنْ تَكُونَ فِي ثَوَابِ الْمُصِيبَةِ إِذَا أَنْتَ أُصِبْتَ بِهَا أَرْغَبَ فِيهَا لَوْ أَنَّهَا أُبْقِيَتْ لَكَ . رواه الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث غريب وعمرو بن واقد الراوي منكر الحديث.

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زهد د دنيا پرهيزولو ، حلال حرام گرځولو او دمال د ضائع كولو نوم نه دئ بلكه زهد دادئ چي څه ستا په لاس كي دي (يعني مال او دولت) پر هغه توكل مه كوه بلكه پر هغه توكل كوه چي د الله ﷻ په لاس كي دي ، ترك دنيا (دنيا پرهيزول) دادي چي هر كله يو مصيبت درباندي راسي نو په هغه مصيبت كي ثواب غوښتونكى سه او داخواهش لره چي دا مصيبت پاته وي (او ختم نه سي چي ددې ثواب تر لاسه سي) . ترمذي او ابن ماجه، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دى او عمرو بن واقد راوي منكر الحديث دى.

## يوازي پر الله ﷻ توكل كوئ

(٥٠٧٢): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كُنْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فَقَالَ يَا غُلَامُ احْفَظِ اللّٰهَ يَحْفَظْكَ احْفَظِ اللّٰهَ تَجِدْهُ تُجَاهَكَ وَإِذَا سَأَلْتَ فاسال اللّٰهَ وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللّٰهِ وَاعْلَمْ أَنَّ الْأُمَّةَ لَوْ اجتمعت عَلَى أَنْ يَنْفَعُوكَ بِشَيْءٍ لَمْ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي يو خل زه د رسول الله ﷺ سره پر سپرلى سپور وم ، رسول الله ﷺ راته وفرمايل : اي هلكه ! د الله ﷻ احكام امر او نهي خوندي ساته ، الله تعالى به تا په خپل حفاظت كي وساتي او د الله پاك خيال ساته نو الله تعالى به خپل په وړاندي تر لاسه

يَنْفَعُوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللّٰهُ لَكَ وَلَوْ اجْتَمَعُوا عَلَى أَنْ يَضُرُّوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَضُرُّوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللّٰهُ عَلَيْكَ رُفِعَتْ الْأَقْلَامُ وَجَفَّتْ الصُّحُفُ. رواه احمد والترمذي.

كړي ، او هركله چي ته د سوال اراده وكړې نو د الله تعالى څخه سوال كوه، او كله چي مرسته غواړي نو د الله تعالى څخه مرسته غواړه او دا خبره په ياد لره كه ټول مخلوق راجمع سي او تا ته ګټه رسول وغواړي نو هيڅكله به ګټه نه سي در رسولای مګر يوازي دومره ځومره چي الله تعالى ستا په مقدر كي ليكلي وي او كه ټول خلك راټول سي په دې چي تا ته ضرر ورسوي په يو شي سره نو ضرر به ونه رسوي تا ته مګر په هغه اندازه ځومره چي ستا په تقدير كي ليكلي دي خداى ﷺ ، قلمونه پورته سوي دي او صحيفې وچي سوي دي ، احمد او ترمذي.

### د انسان نيک بختي او بد بختي

﴿۵۰۷۳﴾: وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ سَعَادَةِ ابْنِ آدَمَ رِضَاهُ بِمَا قَضَى اللّٰهُ لَهُ وَمِنْ شَقَاوَةِ ابْنِ آدَمَ تَرْكُهُ اسْتِخَارَةَ اللّٰهِ وَمِنْ شَقَاوَةِ ابْنِ آدَمَ سَخَطُهُ بِمَا قَضَى اللّٰهُ لَهُ. رواه احمد والترمذي وقال الترمذي هذا حديث غريب.

د حضرت سعد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د انسان نيك بختي داده چي څه الله تعالى د هغه لپاره مقدر كړي دي په هغه راضي سي او د انسان بد بختي داده چي هغه د الله څخه خير او نيكي غوښتل (استخاره) پرېږدي او بدبختي داده چي الله تعالى د هغه په مقدر كي څه ليكلي دي په هغه ناخوښه وي . احمد ، او ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

## دريم فصل

### د رسول ﷺ توكل

﴿۵۰۷۴﴾: عَنْ جَابِرٍ أَنَّهُ غَزَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَلَ نَجْدٍ فَلَمَّا قَفَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَفَلَ مَعَهُ فَأَدْرَكَتْهُمُ الْقَائِلَةُ فِي وَادٍ كَثِيرِ الْعِضَاهِ فَنَزَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَفَرَّقَ النَّاسُ يَسْتَظِلُّونَ بِالشَّجَرِ فَنَزَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحْتَ سَمُرَةٍ فَعَلَّقَ بِهَا سَيْفَهُ وَنِمْنَا نَوْمَةً فَإِذَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي هغه د رسول الله ﷺ سره د نجد په لور جهاد ته تللى وو، كله چي رسول الله ﷺ راغلى نو هغه هم ورسره راغلى ، (دغرمې په وخت) كي صحابه كرام يو شيلې ته راورسيدل چي په هغه كي ډيرې درختې وې ، رسول الله ﷺ هلته تم سو ، صحابه كرام هم د سايې په لټه آخوا ديخوا تر درختو لاندي پرېوتل ، رسول الله ﷺ د كيكر تر يوې

يَدْعُونَا وَإِذَا عِنْدَهُ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ إِنَّ هَذَا اخْتَرَطَ عَلَيَّ سَيْفِي وَأَنَا نَائِمٌ فَاسْتَيْقَظْتُ وَهُوَ فِي يَدِهِ صَلْتًا قَالَ مَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّي فَقُلْتُ اللّٰهُ ثَلَاثًا وَلَمْ يُعَاقِبْهُ وَجَلَسَ. متفق عليه وفي رواية ابي بكر الاسماعيلي في صحيحه فَقَالَ مَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّيْ قَالَ اللّٰهُ فَسَقَطَ السَّيْفُ مِنْ يَدِهِ فَأَخَذَ رسول الله صلى الله عليه وسلم السَّيْفَ فَقَالَ مَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّيْ فَقَالَ كُنْ خَيْرَ آخِذٍ فَقَالَ تَشْهَدُ أَنْ لاَّ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَأَنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ قَالَ لاَ وَلٰكِنِّيْ أُعَاهِدُكَ عَلَى أَنْ لاَّ أُقَاتِلَكَ وَلاَ أَكُوْنُ مَعَ قَوْمٍ يُقَاتِلُوْنَكَ فَخَلَّى سَبِيْلَهُ فَأَتَى أَصْحَابَهُ فَقَالَ جِئْتُكُمْ مِنْ عِنْدِ خَيْرِ النَّاسِ هٰكَذَا فِيْ كِتَابِ الْحُمَيْدِيِّ وَ فِي الرِّيَاضِ .

غتي درختي لاندي ايسار سو او خپله توره يې پر درخته وزړول ، او موږ د لږ ګړي لپاره بيده سو ، ناڅاپه موږ واوريدل چي رسول الله ﷺ موږ غواړي او د رسول الله ﷺ سره يو صحرايي ناست دئ موږ چي را تول سوو نو رسول الله ﷺ راته وفرمايل : دغه صحرائي پر ما باندي زما توره راکښلې وه په داسي حال کي چي زه بيده وم ، زه راويښ سوم وينم چي (د پوښه) راکښلې توره دده په لاس کي ده او ما ته وايي اوس به دي زما څخه څوك خلاصوي ؟ ما ورته وويل الله تعالى به مي در څخه خلاص کړي ، دري واره يې دا الفاظ وفرمايل ، او هغه صحرايي ته رسول الله ﷺ هيڅ سزا ور نه کړل او کښينستی، بخاري او مسلم ، او ابوبکر اسماعيلي چي کوم روايت په خپل صحيح کي نقل کړی دئ په هغه کي دا الفاظ دي چي صحرائي توره په لاس کي وويل اوس به دي زما څخه څوك خلاصوي ؟ (رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : الله تعالى (به مي در څخه خلاص کړي) ددې اوريدو سره د صحرائي د لاس څخه توره ايله سوله ، بيا رسول الله ﷺ هغه توره پورته کړه او هغه صحرايي ته يې وفرمايل : اوس به تا زما د لاس څخه څوك خلاصوي ؟ صحرائي وويل : ته غوره نيونکی سه ، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : ته ددې شاهدي وايې چي د الله ﷺ څخه پرته بل د عبادت وړ نه سته او دا چي زه د الله ﷺ رسول يم، صحرائي وويل : زه مسلمان کيږم نه بلکه ددې وعده کوم چي نه به درسره جنګ کوم او نه به د هغه قوم سره ملګری کيږم کوم چي ستاسو سره جنګ کوي ، ددې اوريدو سره رسول الله ﷺ هغه صحرائي پرېښودی ، هغه صحرائي خپلو ملګرو ته راغلی او ورته وه يې ويل : زه تاسو ته د يو غوره سړي څخه راغلی يم . په کتاب الحميدي او الرياض کي هم داسي راغلي .

**د الله ﷻ څخه يېره او رزق**

(۵۰۷۵): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنِّي لَأَعْلَمُ آيَةً لَوْ أَخَذَ النَّاسُ بِهَا لَكَفَتْهُمْ مَنْ يَتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا وَّيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ

د حضرت ابوذر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ما ته يو داسي آيت معلوم دی که خلك عمل په وکړي نو هغه ورته کافي

| | |
|---|---|
| لاَ يَحْتَسِبُ . رواه أحمد وابن ماجه والدارمي. | دی، «ومن يتق الله يجعل له مخرجا ويرزقه |

من حيث لا يحتسب» څوك چي د خدايه بيريږي نو الله د نجات لاره ور پيدا کوي او دداسي ځای څخه رزق ورکوي چي گمان يې هم نه وي. احمد، ابن ماجه او دارمي.

**رزق ورکونکی يوازي الله ﷻ دی**

| | |
|---|---|
| (۵۰۷۶): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ أَقْرَأَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي أَنَا الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ. رواه ابوداؤد والترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح. | د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ما ته دا آيت وښودی « إِنِّي أَنَا الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ» زه رزق ورکونکی يم او طاقتور يم. ابوداؤد او ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دی. |

**کسب کونکي ورور**

| | |
|---|---|
| (۵۰۷۷): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ أَخَوَانِ عَلَى عَهْدِ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَ أَحَدُهُمَا يَأْتِي النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْآخَرُ يَحْتَرِفُ فَشَكَا الْمُحْتَرِفُ أَخَاهُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَعَلَّكَ تُرْزَقُ بِهِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب. | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي دوه ورونه وه په هغوئ کي به يو د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضريدی او دويم به يو کسب کوی، کسب کونکي ورور رسول الله ﷺ ته د خپل دغه ورور شکايت وکړ «يعني دا يې وويل چي هغه يو کار نه کوي» |

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: شايد د هغه په برکت سره تا ته رزق درکول کيږي. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

**د توکل ښودنه**

| | |
|---|---|
| (۵۰۷۸): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ قَلْبَ ابْنِ آدَمَ بِكُلِّ وَادٍ شُعْبَةٌ فَمَنْ أَتْبَعَ قَلْبَهُ الشُّعَبَ كُلَّهَا لَمْ يُبَالِ اللّٰهُ بِأَيِّ وَادٍ أَهْلَكَهُ وَمَنْ تَوَكَّلَ عَلَى اللّٰهِ كَفَاهُ الشعب. رواه ابن ماجة. | د حضرت عمرو بن العاص ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د انسان زړه په يو ځنګل کي يو ښاخ دی، بيا چي چا زړه د ټولو ښاخونو په لور متوجه کړ «يعني په هر ډول فکرونو کي يې بوخت کړ» نو الله تعالی ددې |

خبري پروا نه کوي که غواړي په يو ځنګل کي يې هلاك کړي او چا چي پر الله تعالی توکل وکړ او خپل کارونه يې الله ﷻ ته وسپارل نو الله تعالی د هغه ټول کارونه سموي. ابن ماجه.

## پر خدای ﷻ باور

(۵۰۷۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ رَبُّكُمْ عَزَّ وَجَلَّ لَوْ أَنَّ عبيدي أَطَاعُونِي لَأَسْقَيْتُهُمُ الْمَطَرَ بِاللَّيْلِ وَأَطْلَعْتُ عَلَيْهِمُ الشَّمْسَ بِالنَّهَارِ وَلَمْ أُسْمِعْهُمْ صَوْتَ الرَّعْدِ. رواه احمد.

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ستاسو رب فرمايي : كه زما بندگانو زما فرمانبرداري كولاى نو ما به د شپې باران پر اوروولاى او د ورځي به مي لمر پر راخېژولاى او د تالندي اواز به مي په دوئ نه اورېدلاى . احمد.

## د صبر او توكل يو واقعه

(۵۰۸۰): وَعَنْهُ قَالَ دَخَلَ رَجُلٌ عَلَى أَهْلِهِ فَلَمَّا رَأَى مَا بِهِمْ مِنَ الْحَاجَةِ خَرَجَ إِلَى الْبَرِّيَّةِ فَلَمَّا رَأَتْ امْرَأَتُهُ قَامَتْ إِلَى الرَّحَى فَوَضَعَتْهَا وَإِلَى التَّنُّورِ فَسَجَرَتْهُ ثُمَّ قَالَتْ اللَّهُمَّ ارْزُقْنَا فَنَظَرَتْ فَإِذَا الْجَفْنَةُ قَدِ امْتَلَأَتْ قَالَ وَذَهَبَتْ إِلَى التَّنُّورِ فَوَجَدَتْهُ مُمْتَلِئًا قَالَ فَرَجَعَ الزَّوْجُ قَالَ أَصَبْتُمْ بَعْدِي شَيْئًا قَالَتْ امْرَأَتُهُ نَعَمْ مِنْ رَبِّنَا وَقَامَ إِلَى الرَّحَى فَذُكِرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَمَا إِنَّهُ لَوْ لَمْ يَرْفَعْهَا لَمْ تَزَلْ تَدُورُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. رواه احمد.

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي يو سړی خپل اهل او عيال ته راغلی هر كله چي دغوئ حاجتونه او ضرورتونه يې وليدل نو د ځنگل په لور ولاړی آخوا چي د هغه ښځي وكتل (په دې اميد چي خاوند مي دباندي ولاړی يو څه غله به راوړي اوړه به يې كړم) نو هغه ولاړه سوه ميچني ته ورسيده هغه يې پر خپل ځاى سمه كښېښودل بيا د تنور په لور ولاړل هغه يې گرم كړ بيا يې د الله ﷻ څخه دعاء وغوښتل چي اې الله ! موږ ته رزق راكړې ، بيا هغې وليدل چي د ميچن شاوخوا د اوړو څخه ډك دئ بيا هغه تنور ته ورغلل نو وه يې ليدل چي د ډوډۍ څخه ډك وو ، د راوي بيان دی چي په دغه دوران كي د هغې خاوند راغلی او هغې ښځي ته يې وويل ايا تا ته زما د تلو څخه وروسته يو څه د خوراك سامان تر لاسه سوی دئ ، ښځي ورته وويل هو زموږ رب دا انتظام وكړ ، ددې پېښې ذكر نبي كريم ﷺ ته وكړل سو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل كه هغه د ميچني پل نه واى پورته كړى نو تر قيامته پوري به ميچن گرځيدل . احمد .

## رزق د بنده طلب كوي

(۵۰۸۱): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الرِّزْقَ لَيَطْلُبُ الْعَبْدَ كَمَا يَطْلُبُهُ أَجَلُهُ . رواه أبو نعيم في الحلية.

د حضرت ابودرداء ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : رزق د بنده داسي طلب كوي لكه څرنگه چي مرگ د انسان طلب كوي . ابو نعيم.

د نبي ﷺ بې مثاله صبر

| | |
|---|---|
| (۵۰۸۲): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْكِي نَبِيًّا مِنَ الْأَنْبِيَاءِ ضَرَبَهُ قَوْمُهُ فَأَدْمَوْهُ وَهُوَ يَمْسَحُ الدَّمَ عَنْ وَجْهِهِ وَيَقُوْلُ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِقَوْمِي فَإِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ. متفق عليه. | د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي ګويا زه اوس هم نبي كريم ﷺ ته ګورم چي هغوئ د يو نبي ﷺ ببينه بيانوي د هغه نبي ذكر چي خپل قوم ووهي په وينو يې رنګ كړ ، |

هغه نبي به د خپل مخ څخه وينه وچول او ويل به يې اي الله ﷻ ! زما قوم و بخښې دوئ زما دحقيقت څخه ناخبر دي . بخاري او مسلم.

# بَابُ الرِّيَاءِ وَالسُّمْعَةِ
## (دريا او شهرت بيان)

## لومړی فصل

الله ﷻ زړه ته ګوري

| | |
|---|---|
| (۵۰۸۳): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَنْظُرُ إِلَى صُوَرِكُمْ وَأَمْوَالِكُمْ وَلٰكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ. رواه مسلم. | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى ستاسو شكلونو او مالونو ته نه ګوري بلكه ستاسو زړونو او عملونو ته ګوري . مسلم. |

د شرك څخه بيزاري

| | |
|---|---|
| (۵۰۸۴): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى أَنَا أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ مَنْ عَمِلَ عَمَلًا أَشْرَكَ فِيهِ مَعِي غَيْرِي تَرَكْتُهُ وَشِرْكَهُ وفي رواية فانا منه بريئ هو للذي عمله. رواه مسلم. | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى فرمايي زه د شركاء د شرك څخه بې پروا يم (يعني لكه څرنګه چي نور شريكان په شركت راضي وي دغسي زه راضي نه يم بلكه زه د شركت څخه بيزاره يم ، څوك چي |

عبادت وكړي په هغه كي بل څوك زما سره شريك كړي نو زه هغه او د هغه شرك دواړه پرېږدم ، او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي زه د هغه سړي څخه بيزاره يم ، هغه سړی يا د هغه عمل د هغه چا لپاره دی چي د چا لپاره يې كړی دی . مسلم.

د ریا لپاره عمل

| | |
|---|---|
| (۵۰۸۵): وَعَنْ جُنْدُبٍ قَالَ قَالَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَمَّعَ سَمَّعَ اللّٰهُ بِهِ وَمَنْ يُرَائِي يُرَائِي اللّٰهُ بِهِ. متفق عليه. | د حضرت جندب ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چي یو عمل ددي لپاره وکړي چي خلکو ته یې واوروي الله ﷻ الله. |

تعالی به د هغه عیب مشهور کړي او څوك چي د ریا لپاره ښه کار وکړي نو ریا کارو ته به الله تعالی جزا ورکړي . بخاري او مسلم

ښه کار خپله ښکاره کیږي

| | |
|---|---|
| (۵۰۸۶): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قِيلَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَأَيْتَ الرَّجُلَ يَعْمَلُ الْعَمَلَ مِنَ الْخَيْرِ وَيَحْمَدُهُ النَّاسُ عَلَيْهِ وفي رواية ويحبه الناس عليه قَالَ تِلْكَ عَاجِلُ بُشْرَى الْمُؤْمِنِ .رواه مسلم. | د حضرت ابو ذر ﷺ څخه روایت دئ چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي د هغه سړي په اړه ستاسو څه خیال دئ چي نیك کار کوي او خلك د هغه د کارونو تعریف کوي ، او |

په یوه روایت کي د االفاظ دي چي خلك د هغه سره مینه کوي (ایا د هغه دا عمل ثواب لري) رسول الله ﷺ ورته وفرمایل (دا تعریف کول) سمدستي زیری دی . مسلم.

## دویم فصل

د شرك او ریا په باره کي وعید

| | |
|---|---|
| (۵۰۸۷): عَنْ أَبِي سَعِيدِ بْنِ أَبِي فُضَالَةَ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا جَمَعَ اللّٰهُ النَّاسَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لِيَوْمٍ لَا رَيْبَ فِيهِ نَادَى مُنَادٍ مَنْ كَانَ أَشْرَكَ فِي عَمَلٍ عَمِلَهُ لِلّٰهِ أَحَدًا فَلْيَطْلُبْ ثَوَابَهُ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ فَإِنَّ اللّٰهَ أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ. رواه احمد. | د حضرت ابو سعید بن ابو فضاله ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ چي الله ﷻ خلك یو ځای کړي او دا ورځ داسي ورځ ده چي د هغه په راتلو کي هیڅ شك نه سته نو اعلان کونکی به اعلان وکړي چا چي په خپل هغه عمل کي چي هغه د الله ﷻ لپاره کړی |

وي د الله ﷻ څخه پرته بل څوك شریك کړی وي نو هغه ته پکار ده چي هغه د خپل هغه عمل ثواب د هغه شریك څخه وغواړي ځکه چي الله تعالی د شریکانو د شرك څخه بیزاره دی . احمد.

د ریاکاري بدوالی

| | |
|---|---|
| (۵۰۸۸): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّهُ سَمِعَ | د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روایت دئ |

رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ سَمَّعَ النَّاسَ بِعَمَلِهِ سَمَّعَ اللهُ بِهِ أَسَامِعَ خَلْقِهِ وَحَقَّرَهُ وَصَغَّرَهُ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي څوک چي خپل عمل ته شهرت ورکړي (يعني خلکو ته يې وښيي) الله تعالى به د هغه د ريا عمل د خپل مخلوق غوږو ته ورسوي او هغه به ذليل او رسوا کړي . بيهقي.

### د نيت اخلاص او عدم اخلاص

(۵۰۸۹): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَتْ نِيَّتُهُ طَلَبَ الْآخِرَةِ جَعَلَ اللهُ غِنَاهُ فِي قَلْبِهِ وَجَمَعَ لَهُ شَمْلَهُ وَأَتَتْهُ الدُّنْيَا وَهِيَ رَاغِمَةٌ وَمَنْ كَانَتْ نِيَّتُهُ طَلَبَ الدُّنْيَا جَعَلَ اللهُ الفقر بَيْنَ عَيْنَيْهِ وَشَتَّتَ عَلَيْهِ أَمْرَهُ وَلَا يَأْتِيهِ مِنْهَا إِلَّا مَا كُتِبَ لَهُ. رواه الترمذي ورواه احمد والدارمي عن ابان عن زيد بن ثابت.

د حضرت انس ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د کوم سړي نيت چي د آخرت طلب وي الله تعالى هغه ته د زړه غنا ورکوي د هغه پريشانى يو ځاى کړي او د زړه اطمينان ورکړي ، دنيا هغه ته راځي او هغه دنيا ذليله او خواره ګڼي او د چا نيت چي د نيا تر لاسه کول وي نو فقر د هغه په سترګو کي وي او دده کارونه به پاشلي وي او دنيا هغه ته دومره اندازه تر لاسه کيږي څومره چي الله تعالى د هغه لپاره ټاکلي وي . ترمذي.

### د اُخروي مقصد لپاره ښه عمل

(۵۰۹۰): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ بَيْنَا أَنَا فِيْ بَيْتِيْ فِيْ مُصَلَّايَ إِذْ دَخَلَ عَلَيَّ رَجُلٌ فَأَعْجَبَنِي الْحَالُ الَّتِيْ رَآنِيْ عَلَيْهَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَحِمَكَ اللهُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ لَكَ أَجْرَانِ أَجْرُ السِّرِّ وَأَجْرُ الْعَلَانِيَةِ . رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب .

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي ما وويل اې دالله رسوله ! زه په خپل کور کي پر مصلا (جانماز) وم چي ما ته يو سړى راغلى او ددي په ليدو سره زه خوشحاله سوم چي هغه سړي زه پر لمانځه کولو وليدم (نو زما دا خوښي ريا ده که يا؟) رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ابوهريره ! الله ﷻ دي پر تا رحم وکړي تا ته به دوه برابر ثواب درکول کيږي يو په پټه توګه دلمانځه کولو او دويم د لمانځه د اجر څرګندولو .. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

### د ريا کونکي دينداره په باره کي

(۵۰۹۱): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ رِجَالٌ يَخْتِلُوْنَ

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په آخره زمانه کي به داسي خلک پيدا سي چي د دين په ذريعه به د دنيا طلب کوي

الدُّنْيَا بِالدِّيْنِ يَلْبَسُوْنَ لِلنَّاسِ جُلُوْدَ الضَّأْنِ مِنَ اللِّيْنِ أَلْسِنَتُهُمْ أَحْلَى مِنَ السُّكَّرِ وَقُلُوْبُهُمْ قُلُوْبُ الذِّئَابِ يَقُوْلُ اللّٰهُ أَبِي يَغْتَرُّوْنَ أَمْ عَلَيَّ يَجْتَرِئُوْنَ فَبِي حَلَفْتُ لَأَبْعَثَنَّ عَلَى أُولٰئِكَ مِنْهُمْ فِتْنَةً تَدَعُ الْحَلِيْمَ فِيهِم حَيْرَانَ. رواه الترمذي.

خلكو ته د نبودلو لپاره به د پسونو د پوست جامې اغوندي يعني د هغوئ جامې به د كمبل په دول غتي وي د هغوئ ژبې به د بورې څخه زيات خوږې او نرمې وي ، مګر د هغوئ زړونه به د شرمښانو د زړونو په دول وي ، الله تعالى د هغوئ په اره فرمايي ايا دا خلك ما ته دوكه راكوي يا زما په وخت وركولو سره مغرور سوي دي زه په خپل قسم خوړلو سره وايم چي زه به پر هغوئ هم د هغوئ څخه بلا او فتنه مسلط كړم (يعني اميران چي عقلمند او پوه بنده به د هغه ددفع كولو څخه عاجز او حيران پاته سي . ترمذي.

(۵۰۹۲): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ تبارك تَعَالَى قَالَ لَقَدْ خَلَقْتُ خَلْقًا أَلْسِنَتُهُمْ أَحْلَى مِنَ السكر وَقُلُوْبُهُمْ أَمَرُّ مِنَ الصَّبْرِ فَبِي حَلَفْتُ لَأُتِيحَنَّهُمْ فِتْنَةً تَدَعُ الْحَلِيْمَ فِيهِم حَيْرَانَ فَبِي يَغْتَرُّوْنَ أَمْ عَلَيَّ يَجْتَرِئُوْنَ. رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله پاك فرمايلي دي ما يو داسي مخلوق پيدا كړى دئ چي د هغوئ ژبې د بورې څخه زياتې خوږې دي او د هغوئ زړونه د صبر (يو تريخ بوټى) څخه زيات ترخه دي ، په خپل قسم خوړلو سره وايم چي زه به پر هغوئ فتنه نازل كړم داسي فتنه چي عقلمند او پوه سړى به په هغه كي حيران وي ، ايا دا خلك ما ته دوكه راكوي يا پر ما جرئت او زړه ورتيا كوي . ترمذي.

## د ميانه روۍ فضيلت

(۵۰۹۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ شِرَّةً وَلِكُلِّ شِرَّةٍ فَتْرَةً فان صَاحِبُهَا سَدَّدَ وَقَارَبَ فَارْجُوْهُ وَإِنْ أُشِيْرَ إِلَيْهِ بِالْأَصَابِعِ فَلَا تَعُدُّوْهُ . رواه الترمذي

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په هر شي كي حرص او نشاط (خوشحالي) دي او په هرې زياتى كي سستي ده ، نو عمل كونكى كه ميانه روي څخه كار واخلي او ميانه روي ته نژدې وو نو د هغه د خلاصون تر لاسه كولو اميد سته او كه د هغه په لور په ګوتو سره اشاره وكړل سي نو تاسو هغه (صالح او عابد) مه شميرئ (يعني افراط او تفريط مه كوئ بلكه ميانه روي كوئ او د هر چا چي په نيت كي د خان مشهورتيا وي هغه ناكاره بنده دى) . ترمذي.

**پهٔ شهرت خطر لري**

| | |
|---|---|
| (۵۰۹۴): وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بِحَسْبِ امْرِيءٍ مِّنَ الشَّرِّ أَنْ يُّشَارَ إِلَيْهِ بِالْأَصَابِعِ فِيْ دِيْنٍ أَوْ دُنْيَا إِلَّا مَنْ عَصَمَهُ اللّٰهُ. رواه البيهقي في شعب الإيمان. | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د انسان د بدى لپاره دومره بس ده چي په دين او دنيا کي هر لوري ته په گوتو سره ده ته اشاره وکړل سي پرته د هغه سړي څخه چي |

الله تعالى ددغه څخه خوندي کړی دی. بيهقي.

## دريم فصل

**د ريا د عمل بدوالى**

| | |
|---|---|
| (۵۰۹۵): عَنْ أَبِي تَمِيمَةَ قَالَ شَهِدْتُ صَفْوَانَ وَأَصْحَابَهُ وَجُنْدَبٌ يُوصِيهِمْ فَقَالُوا هَلْ سَمِعْتَ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا قَالَ سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يَقُولُ مَنْ سَمَّعَ سَمَّعَ اللّٰهُ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ شاق شق اللّٰهُ عَلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالُوا أَوْصِنَا فَقَالَ إِنَّ أَوَّلَ مَا يُنْتِنُ مِنَ الْإِنْسَانِ بَطْنُهُ فَمَنِ اسْتَطَاعَ أَنْ لَا يَأْكُلَ إِلَّا طَيِّبًا فَلْيَفْعَلْ وَمَنِ اسْتَطَاعَ أَنْ لَا يحول بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجَنَّةِ مِلْءِ كَفٍّ مِنْ دَمٍ أَهْرَاقَهُ فَلْيَفْعَلْ. رواه البخاري. | د حضرت ابو تميمه ﷺ څخه روايت دئ چي زه صفوان او د هغه ملگرو ته حاضر سوم دغه وخت جندب هغوئ ته وصيت کوی، دوئ وويل: اينا تا د رسول الله ﷺ څخه يو خبره اوريدلي ده، جندب ﷺ وويل: هو ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي څوک واوروي (يعني نيک اعمال د شهرت ورکولو لپاره) نو الله تعالى به يې د قيامت په ورځ رسوا کړي او څوک چي پر خپل ځان مشقت واچوي نو د قيامت په ورځ به الله تعالى هغه په تکليف کي واچوي، خلکو |

ورته وويل موږ ته نصيحت وکړه هغه ورته وويل: تر ټولو لومړی شی چي انسان مردار (چټل) کوي او خرابوي يې د هغه نس دئ نو څوک چي قدرت لري چي حلال مال وگټي هغه دي داسي وکړي او څوک چي ددې توان لري چي د هغه او جنت په منځ کي پرده نه وي نو په ناحقه دي يو ورغوی قدر وينه هم نه تويوي. بخاري.

**ريا د شرک برابره ده**

| | |
|---|---|
| (۵۰۹۶): وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّهُ خَرَجَ يَوْمًا إِلَى مَسْجِدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدَ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ قَاعِدًا عِنْدَ قَبْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ | د حضرت عمر بن خطاب ﷺ څخه روايت دئ چي يوه ورځ هغه مسجد نبوي ته ورغلئ نو معاذ بن جبل يې د نبي کريم ﷺ د قبر سره |

وَسَلَّمَ يَبْكِي فَقَالَ مَا يُبْكِيكَ قَالَ يُبْكِينِي شَيْءٌ سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ يَسِيرَ الرِّيَاءِ شِرْكٌ وَ مَنْ عَادَى لِلّٰهِ وَلِيًّا فَقَدْ بَارَزَ اللّٰهَ بِالْمُحَارَبَةِ إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْأَبْرَارَ الْأَتْقِيَاءَ الْأَخْفِيَاءَ الَّذِينَ إِذَا غَابُوا لَمْ يتفقدوا وَإِنْ حَضَرُوا لَمْ يُدْعَوْا وَلَمْ يقربوا قُلُوبُهُمْ مَصَابِيحُ الْهُدَى يَخْرُجُونَ مِنْ كُلِّ غَبْرَاءَ مُظْلِمَةٍ . رواه ابن ماجة والبيهقي في شعب الايمان.

ناست وليدئ چي دغه وخت يې ژړل، حضرت عمر ﷺ پوښتنه وکړه اي معاذ! په تا څه سوي دي ولي ژاړې؟ معاذ ورته وويل: ما هغه خبره ژړوي چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلې ده چي لږ ريا (هم) شرك دئ او څوك چي د الله ﷺ دوست سره دښمني ساتي نو هغه گويا د الله ﷺ سره جنگ او مقابله وكړه، الله تعالى نيك، پرهيزگاره او مخفي حال (يعني پټ) خلك خوښوي چي كله هغوئ دنظر څخه ورك سي نود هغوئ پوښتنه نه كيږي او كله چي موجود وي نو هغوئ نه بلل كيږي (او كه و بلل سي) نو د خان سره نژدې نه كښينول كيږي ددغه خلكو زړونه د هدايت ډيوې دي او داسي خلك د هر تاريك ځاى څخه څرگنديږي (يعني ددغه خلكو د استوګنې ځايونه وران وي او د څراغ لگولو طاقت هم نه لري) ، ابن ماجه او بيهقي.

## صدق او اخلاص

(٥٠٩٧): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا صَلَّى فِي الْعَلَانِيَةِ فَأَحْسَنَ وَصَلَّى فِي السِّرِّ فَأَحْسَنَ قَالَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ هَذَا عَبْدِي حَقًّا . رواه ابن ماجة.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چي بنده په ښكاره لمونځ كوي نو په ښه ډول يې كوي او كله چي يې پټ كوي نو هم يې په ښه ډول ادا كوي نو الله تعالى فرمايي زما دا بنده رښتونى دئ. ابن ماجه.

## د رياكار په باره كي پيشگوئي

(٥٠٩٨): وَعَنْ مُعَاذِبْنِ جَبَلٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَكُونُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ أَقْوَامٌ إِخْوَانُ الْعَلَانِيَةِ أَعْدَاءُ السَّرِيرَةِ فَقِيلَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَكَيْفَ يَكُونُ ذَلِكَ قَالَ ذَلِكَ بِرَغْبَةِ بَعْضِهِمْ إِلَى بَعْضٍ وَرَهْبَةِ بَعْضِهِمْ من بَعْضٍ. رواه احمد.

د حضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په آخره زمانه كي به څو قومونه داسي وي چي په ظاهره به دوستان وي مگر په باطن كي به دښمنان وي، پوښتنه وسول اي دالله رسوله! دا به څنگه وي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: دا به داسي وي چي په هغوئ كي به ځيني د ځينو سره غرض او مقصد ساتي او ځيني د ځينو څخه به په بيره كي وي. احمد.

**د ريا لپاره لمونځ او روژه شرک دئ**

| | |
|---|---|
| (۵۰۹۹): وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ اَوْسٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ صَلّٰى يُرَائِي فَقَدْ أَشْرَكَ وَمَنْ صَامَ يُرَائِي فَقَدْ أَشْرَكَ وَمَنْ تَصَدَّقَ يُرَائِي فَقَدْ أَشْرَكَ. رواه احمد. | د حضرت شداد بن اوس ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چا چي د ښووني (ريا) لپاره لمونځ وکړ نو هغه شرک وکړ او چا چي د ريا لپاره روژه ونيول نو هغه شرک |

وکړ او چا چي د ريا لپاره خيرات وکړ هغه شرک وکړ، احمد .

| | |
|---|---|
| (۵۱۰۰): وَعَنْهُ أَنَّهُ بَكَى فَقِيلَ لَهُ مَا يُبْكِيكَ قَالَ شَيْئٌ سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فَذَكَرْتُهُ فَأَبْكَانِي سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَتَخَوَّفُ عَلَى أُمَّتِي الشِّرْكَ وَالشَّهْوَةَ الْخَفِيَّةَ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَتُشْرِكُ أُمَّتُكَ مِنْ بَعْدِكَ قَالَ نَعَمْ أَمَا إِنَّهُمْ لَا يَعْبُدُونَ شَمْسًا وَلَا قَمَرًا وَلَا حَجَرًا وَلَا وَثَنًا وَلٰكِنْ يُرَاءُونَ بِأَعْمَالِهِمْ وَالشَّهْوَةُ الْخَفِيَّةُ أَنْ يُصْبِحَ أَحَدُهُمْ صَائِمًا فَتَعْرِضُ لَهُ شَهْوَةٌ مِنْ شَهَوَاتِهِ فَيَتْرُكُ صَوْمَهُ . رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان. | د حضرت شداد بن اوس ﷺ څخه روايت دئ چي هغه يوه ورځ زيات وژړل ، پوښتنه ځيني وسول چي ولي ژاړې ؟ هغه وويل ما ته پر دې خبره ژړا راغلل چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي زه د خپل امت د شرک او مخفي شهواتو څخه بيريږم ، ما وويل: اې دالله رسوله ! ايا ستاسو څخه وروسته به ستاسو امت شرک کوي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: هو، خبردار! زما امت به د لمر عبادت نه کوي ، د سپوږمۍ عبادت به نه کوي ، د ډبرو (بتانو) عبادت به نه کوي او نه به د بتانو مخته سجده کوي مگر خپل |

نيک عملونه به خلکو ته ښيي ، او مخفي شهوت دا دی چي په تاسو کي به څوک سهار کي روژه نيونکی ولاړيږي بيا به د نفسي خواهشاتو څخه يو خواهش ورته وړاندي سي ، او هغه به روژه ماته کړي. احمد او بيهقي.

**رياکاري د دجال تر فتني خطرناکه ده**

| | |
|---|---|
| (۵۱۰۱): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ نَتَذَاكَرُ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ فَقَالَ أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِمَا هُوَ أَخْوَفُ عَلَيْكُمْ عِنْدِي مِنَ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ فَقُلْنَا بَلَى يا رسول الله قَالَ الشِّرْكُ الْخَفِيُّ أَنْ يَقُومَ الرَّجُلُ فَيُصَلِّي فَيَزِيدُ | د حضرت ابو سعيد ﷺ څخه روايت دئ چي موږ د مسيح دجال ذکر کوئ چي رسول الله ﷺ تشريف راوړ او وه يې فرمايل : ايا زه تاسو ته يوه بله داسي خبره ونه ښيم چي زما په نزد ستاسو لپاره د مسيح دجال څخه زياته |

صَلَاتَهُ لِمَا يَرَى مِنْ نَظَرِ رَجُلٍ. رواه ابن ماجة.

خطرناکه ده ، مونږ وويل: هو ، اې دالله رسوله!، رسول الله ﷺ وفرمايل: شرك خفي ، بنده د لمانځه لپاره درېږي او لمونځ کوي او په لمانځه کي زياتي کوي (يعني اوږد لمونځ کوي)بيوازي ددې لپاره چي يو څوك يې پر لمانځه کولو وويني . ابن ماجه

**ريا کاري شرك اصغر دئ**

(۵۱۰۲): وَعَنْ مَحْمُودِ بْنِ لَبِيدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَخْوَفَ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمْ الشِّرْكُ الْأَصْغَرُ قَالُوا يارسول الله وَمَا الشِّرْكُ الْأَصْغَرُ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ الرِّيَاءُ . رواه احمد و زاد البيهقي في شعب الايمان يقول يَقُولُ اللَّهُ لَهُمْ يَوْمَ يُجَازِي الْعِبَادَ بِأَعْمَالِهِمْ اذْهَبُوا إِلَى الَّذِينَ كُنْتُمْ تُرَاءُونَ فِي الدُّنْيَا فَانْظُرُوا هَلْ تَجِدُونَ عِنْدَهُمْ جَزَاءً وَخَيْرًا.

د حضرت محمود بن لبيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د کوم شي څخه چي زه ستاسو لپاره ډير بيرېږم هغه شرك اصغر (کوچنی شرك) دئ ، صحابه کرامو وويل: اې دالله رسوله! شرك اصغر څه شی دئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ريا . احمد ، او د بيهقي په روايت کي دا الفاظ دي چي د قيامت په ورځ الله تعالی ريا کارو ته وفرمايي تاسو هغه خلکو ته ورسئ چي هغوئ ته به په دنيا کي تاسو د خپلو اعمالو ښودنه کول او وګورئ چي د هغوئ څخه تاسو ته يو جزا يا خير رسيږي (که نه).

**د عمل او اخلاص اثر**

(۵۱۰۳): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ أَنَّ رَجُلاً عَمِلَ عَمَلاً فِي صَخْرَةٍ لاَ بَابَ لَهَا وَلاَ كُوَّةَ خَرَجَ عَمَلُهُ إِلَى النَّاسِ كَائِنًا مَا كَانَ.

د حضرت ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: که يو څوك په داسي دبرې کي (کښيني) يو عمل وکړي چي په هغه کي نه دروازه وي او نه يو کلکين د هغه د عمل به خلکو ته خبر ورسيږي که څه هم هغه عمل د هر ډول وي . بيهقي.

**الله ﷺ هر عمل ښکاره کوي**

(۵۱۰۴): وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَتْ لَهُ سَرِيرَةٌ صَالِحَةٌ أَوْ سَيِّئَةٌ أَظْهَرَ اللَّهُ مِنْهَا رِدَاءً يُعْرَفُ بِهِ.

د حضرت عثمان بن عفان ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د چا چي يو ښه يا بد عادت پټ وي نو الله تعالی هغه عادت په يوې نښي څرګندوي چي په هغه نښي سره خلك د هغه شناخت کوي . بيهقي.

**د نفاق بدي ډېره خطرناکه ده**

«٥١٠٥»: وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا أَخَافُ عَلٰى هٰذِهِ الْأُمَّةِ كُلَّ مُنَافِقٍ يَتَكَلَّمُ بِالْحِكْمَةِ وَيَعْمَلُ بِالْجَوْرِ. روى البيهقي الأحاديث الثلاثة في شعب الإيمان.

د حضرت عمر بن خطاب ﵁ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زه پر دې امت د هر منافق د شر څخه بیریږم چي خبري به عالمانه او حکیمانه کوي او کار به یې ظالمانه وي. بیهقي.

**د ښه نیت اهمیت**

«٥١٠٦»: وَعَنِ الْمُهَاجِرِ بْنِ حَبِيْبٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى إِنِّيْ لَسْتُ كُلَّ كَلَامِ الْحَكِيْمِ أَتَقَبَّلُ وَلٰكِنِّيْ أَتَقَبَّلُ هَمَّهُ وَهَوَاهُ فَإِنْ كَانَ هَمُّهُ وَهَوَاهُ فِيْ طَاعَتِيْ جَعَلْتُ صَمْتَهُ حَمْدًا لِّيْ وَوَقَارًا وَإِنْ لَمْ يَتَكَلَّمْ. رواه الدارمي

د حضرت مهاجر بن حبیب ﵁ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالی فرمایي چي د حکیم هره خبره زه نه قبلومه زه د هغه اراده او نیت قبلوم که د هغه نیت او مینه زما د اطاعت وي نو زه د هغه پټه خوله خپل (حمد) تعریف او وقار گرځوم که څه هم هغه خبره ونه کړي. دارمي.

# بَابُ الْبُكَاءِ وَالْخَوْفِ

## (د ژړا او بیرې بیان)

## لومړی فصل

**ډیر ژړل کم خندل**

«٥١٠٧»: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ أَبُو الْقَاسِمِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَوْ تَعْلَمُوْنَ مَا أَعْلَمُ لَبَكَيْتُمْ كَثِيْرًا وَلَضَحِكْتُمْ قَلِيْلًا. رواه البخاري.

د حضرت ابوهریرة ﵁ څخه روایت دئ چي ابو القاسم ﷺ وفرمایل: په هغه ذات دي مي قسم وي د چا په لاس کي چي زما ساه ده که تاسو ته هغه شی معلوم سي کوم چي ما ته معلوم دئ نو تاسو به ډیر ژاړئ او کم به خاندئ. بخاري.

**اخروي انجام چا ته نه دی معلوم**

«٥١٠٨»: وَعَنْ أُمِّ الْعَلَاءِ الْأَنْصَارِيَّةِ قَالَتْ قَالَ

د حضرت ام علاء انصاریة (رض) څخه روایت دئ

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللّٰهِ لَا أَدْرِي وَاللّٰهِ لَا ادري وَأَنَا رَسُولُ اللّٰهِ مَا يُفْعَلُ بِي وَلَا بِكُمْ . رواه البخاري.

چي رسول الله ﷺ وفرمایل: اگر که زه د الله رسول يم مگر قسم په خدای په دې نه پوهيږم قسم په خدای په دې نه پوهيږم چي زما سره به څه معامله کيږي او ستاسو سره به څه؟ بخاري.

**دوه دوږخيان يې وليدل**

(۵۱۰۹): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُرِضَتْ عَلَيَّ النَّارُ فَرَأَيْتُ فِيهَا امْرَأَةً مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ تُعَذَّبُ فِي هِرَّةٍ لَهَا رَبَطَتْهَا فَلَمْ تُطْعِمْهَا وَلَمْ تَدَعْهَا تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الْأَرْضِ حَتّٰى مَاتَتْ جُوعًا وَرَأَيْتُ عَمْرَو بْنَ عَامِرٍ الْخُزَاعِيَّ يَجُرُّ قُصْبَهُ فِي النَّارِ وَكَانَ أَوَّلَ مَنْ سَيَّبَ السَّوَائِبَ. رواه مسلم.

د حضرت جابر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ما ته د دوږخ اور ښکاره سو (يعني په معراج کي يا په خوب کي) ما په هغه کي د بني اسرائيلو يوه ښځه وليدل چي هغه د يوې پيشي په معامله کي په عذاب کېدل چي هغې تړلې وه نه به يې خوراك ورکوئ او نه به يې د هغې رسۍ خلاصول چي هغه د مځکي موږکان وغيره وخوري، تر دې چي هغه (پيشي) دلوږې څخه مړه سوه ، او ما عمرو بن عامر خزاعي وليدئ چي خپل کولمې يې د دوږخ په اور کي کشولې او دی تر ټولو لومړنی سړی وو چي د سائبو رسم يې کېښلی وو . مسلم.

**د فسق او فجور عذاب**

(۵۱۱۰): وَعَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا يوما فَزِعًا يَقُولُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ فُتِحَ الْيَوْمَ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلُ هٰذِهِ وَحَلَّقَ باصبعيه الْإِبْهَامِ وَالَّتِي تَلِيهَا قَالَتْ زَيْنَبُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَنَهْلِكُ وَفِينَا الصَّالِحُونَ قَالَ نَعَمْ إِذَا كَثُرَ الْخَبَثُ . متفق عليه.

د حضرت زينب بنت جحش (رض) څخه روايت دئ چي يوه ورځ نبي کريم ﷺ په بيره کي زما کور ته تشريف راوړ او وه يې فرمايل: لا اله الا الله ، د عربو لپاره افسوس دئ چي شر نژدې راورسيدی نن د ياجوج ماجوج په ديوال کي دومره سوری سوی دی ، ددې فرمايلو سره (رسول الله ﷺ د بتي گوتي او نژدې گوتي حلقه جوړولو سره وښودل (چي دومره سوری سوی دئ) بي بي زينب وويل: اې دالله رسوله ! ايا موږ به هلاك کړل سو ، حال دا چي په موږ کي نيك او صالح خلك هم سته ، رسول الله ﷺ وفرمايل هو هر کله چي فسق او فجور زيات سي. بخاري او مسلم.

## د خسف او مسخ عذاب

(٥١١١): وَعَنْ ابي عَامِرٍ أَوْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَيَكُونَنَّ مِنْ أُمَّتِي أَقْوَامٌ يَسْتَحِلُّونَ الْخز وَالْحَرِيرَ وَالْخَمْرَ وَالْمَعَازِفَ وَلَيَنْزِلَنَّ أَقْوَامٌ إِلَى جَنْبِ عَلَمٍ يَرُوحُ عَلَيْهِمْ بِسَارِحَةٍ لَهُمْ يَأْتِيهِمْ رَجُلٌ لِحَاجَةٍ فَيَقُولُونَ ارْجِعْ إِلَيْنَا غَدًا فَيُبَيِّتُهُمُ اللّٰهُ وَيَضَعُ الْعَلَمَ وَيَمْسَخُ آخَرِينَ قِرَدَةً وَخَنَازِيرَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. رواه البخاري وفي بعض نسخ المصابيح الحر بالحاء والراء المهملتين وهو تصحيف وانما هو بالخاء والزاء المعجمتين نص عليه الحميدي وابن الاثير في هذا الحديث وفي كتاب الحميدي عن البخاري وكذا في شرحه للخطابي تروح عليهم سارحة لهم ياتيهم لحاجة.

د حضرت عامر او یا ابو مالك اشعري (رضي الله عنهما) څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا واوریدل چي زما په امت کي به ځیني قومونه داسي وي چي ریشم، شراب او سرودونه به حلال او جائز کري او په هغوئ کي به ځیني قومونه د لورو غرونو په لمنو کي استوګنه غوره کري ، د شپي په وخت کي به د هغوئ حیوانات (چي پیولو ته تللي وه) بیرته راسي او یو سوال کونکی به هغوئ ته د یو حاجت لپاره راسي هغوئ به هغه ته وایي چي سبا راسه بیا به الله تعالی د شپي پر هغوئ خپل عذاب نازل کري ، غر به پر ځینو کسانو را ولویږي او د ځینو صورتونه به مسخ کري او بیزوګان او خنزیران به ځیني جوړ کړل سي چي ترقیامته. پوري به په دغه شکل او صورت کي وي . بخاري او د مصابیح په ځینو نسخو کي بالحاء والراء المهملتين (حر) راغلی دئ او دا تصحیف دئ (یعني په لیکني کي غلطي ده) د حمیدي او ابن اثیر د بیان سره سم په دي حدیث کي بالخاء والزاء المعجمتين لیکلی دی د حمیدي کتاب د بخاري څخه او داسي دخطابي شرح په بخاري کي تروح علیهم سارحة لهم یا تیهم لحاجة ، الفاظ دي

## د الهي عذاب نزول

(٥١١٢): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَنْزَلَ اللّٰهُ بِقَوْمٍ عَذَابًا أَصَابَ الْعَذَابُ مَنْ كَانَ فِيهِمْ ثُمَّ بُعِثُوا عَلَى أَعْمَالِهِمْ. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي الله تعالی پر یو قوم عذاب نازلوي نو هغه عذاب هر هغه سړی راګیروي کوم چي په هغه قوم کي وي بیا به خلك د هغوئ د اعمالو سره را پورته کړل سي (یعني جزا او سزا به ورکول کیږي). بخاري او مسلم.

**اصل اعتبار د خاتمې دی**

| | |
|---|---|
| (۵۱۱۳): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُبْعَثُ كُلُّ عَبْدٍ عَلَى مَا مَاتَ عَلَيْهِ. رواه مسلم. | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به هر بنده په داسي حالت کې پاڅول سي په کوم حال کې چې هغه مړ سوی وي . مسلم. |

## دویم فصل

**د انسان نادانی او غفلت**

| | |
|---|---|
| (۵۱۱۴): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا رَأَيْتُ مِثْلَ النَّارِ نَامَ هَارِبُهَا وَلَا مِثْلَ الْجَنَّةِ نَامَ طَالِبُهَا . رواه الترمذي. | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ما د دوزخ د اور په ډول هيڅ شی نه دی ليدلی چې ددې څخه تښتيدونکي |

بيده دي او د جنت په ډول عجيبه شی مې نه دی ليدلی چې ددې طلب کونکی بيده دي . ترمذي.

**يو نصيحت يو ارزو**

| | |
|---|---|
| (۵۱۱۵): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي أَرَى مَا لَا تَرَوْنَ وَأَسْمَعُ مَا لَا تَسْمَعُوْنَ أَطَّتِ السَّمَاءُ وَحُقَّ لَهَا أَنْ تَئِطَّ والذي نفسي بيده مَا فِيهَا مَوْضِعُ أَرْبَعِ أَصَابِعَ إِلَّا و مَلَكٌ واضع جبهته ساجدا لله والله لَوْ تعلمون مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا وَ مَا تَلَذَّذْتُمْ بِالنِّسَاءِ عَلَى الْفُرُشَاتِ وَلَخَرَجْتُمْ إِلَى الصُّعُدَاتِ تَجْأَرُوْنَ إِلَى اللّٰهِ قَالَ أَبُو ذَرٍّ يَالَيْتَنِي كُنْتُ شَجَرَةً تُعْضَدُ. رواه احمد والترمذي وابن ماجة. | د حضرت ابوذر ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زه چې کوم شی وينم تاسو يې نه وينئ او کومه خبره چې زه اورم تاسو يې نه اورئ، آسمان اواز کوي او هغه ته د اواز کولو حق حاصل دئ ، په هغه ذات دې مې قسم وي چې د هغه په لاس کې زما ساه ده په آسمان کې څلور گوتي ځای هم داسي نسته چې هلته ملائکي الله ﷻ ته سر پر سجده نه وي پرتې، که تاسو ته هغه خبره معلومه سي کومه چې ما ته معلومه ده نو تاسو به ډير کم خاندئ او ډير به |

ژاړئ، او نه به د ښځو سره په بسترو کې خوند تر لاسه کړئ او تاسو به د ځنگلو په لور په ژړا او فرياد وځئ ، ددې حديث بيانونکی ابوذر ووېل کاش چې زه يو درخته وای چې پريکړل سوې وای . احمد ترمذي، او ابن ماجه.

**حکیمانه نصیحت**

(۵۱۱۶): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ خَافَ اَدْلَجَ وَمَنْ اَدْلَجَ بَلَغَ الْمَنْزِلَ اَلَا اِنَّ سِلْعَةَ اللّٰهِ غَالِيَةٌ اَلَا اِنَّ سِلْعَةَ اللّٰهِ الْجَنَّةُ . رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي (په آخره شپه كي د دښمن دلوټ مار څخه بيريږي) هغه د شپې په اول كي كوچ كوي (يعني سفر كوي) او څوك چي د شپې په اول كي كوچ كوي هغه منزل ته رسيږي ، خبردار! چي د الله ﷺ سامان دير قيمتي دى خبردار ! د الله ﷺ سامان جنت دئ. ترمذي

**د الله ﷺ ذکر او د الله ﷺ څخه بيره**

(۵۱۱۷): وَعَنْ اَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَقُوْلُ اللّٰهُ جل ذكره اَخْرِجُوْا مِنَ النَّارِ مَنْ ذَكَرَنِيْ يَوْمًا اَوْ خَافَنِيْ فِيْ مَقَامٍ . رواه الترمذي والبيهقي في كتاب البعث والنشور.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى به وفرمايي: د اور څخه هغه سړى راوكاږئ چي زه هغه يوه ورځ هم ياد كړى يم يا پر يو ځاى زما څخه بيريدلى دى. ترمذي او بيهقي،

**د يو ايت تفسير**

(۵۱۱۸): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَاَلْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ هٰذِهِ الْاٰيَةِ وَالَّذِيْنَ يُؤْتُوْنَ مَا اٰتَوْا وَّقُلُوْبُهُمْ وَجِلَةٌ اَهُمُ الَّذِيْنَ يَشْرَبُوْنَ الْخَمْرَ وَيَسْرِقُوْنَ قَالَ لَا يَا بِنْتَ الصِّدِّيْقِ وَلٰكِنَّهُمُ الَّذِيْنَ يَصُوْمُوْنَ وَيُصَلُّوْنَ وَيَتَصَدَّقُوْنَ وَهُمْ يَخَافُوْنَ اَنْ لَّا يُقْبَلَ مِنْهُمْ اُولٰئِكَ الَّذِيْنَ يُسَارِعُوْنَ فِي الْخَيْرَاتِ. رواه الترمذي وابن ماجة.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ څخه ددغه آيت مطلب ما و پوښتنى (والذي يؤتون......) يعني هغه خلك چي وركوي څه چي وركوي په داسي حال كي چي د هغوئ زړونه په بيره او لرزان كي وي، ايا دا هغه خلك دي كوم چي شراب څښي او غلا كوي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: د صديق لوري! نه ، بلكه دا هغه خلك دي چي روژې نيسي ، لمونځ كوي او صدقه وركوي او ددي سربيره هغوئ د الله ﷺ څخه بيريږي چي د هغوئ عملونه شايد قبول نه سي . دا هغه خلك دي چي په نيكو كارونو كي تلوار كوي . ترمذي.

**د الله ﷺ ذاكرينو ته نصيحت**

(۵۱۱۹): وَعَنْ اُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا ذَهَبَ ثُلُثَا اللَّيْلِ قَامَ

د حضرت ابى بن كعب ﷺ څخه روايت دئ چي هر كله به د شپې دريمه برخه تيره سوه نو رسول الله ﷺ

فَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ اذْكُرُوا اللّٰهَ اذْكُرُوا اللّٰهَ جَاءَتْ الرَّاجِفَةُ تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ جَاءَ الْمَوْتُ بِمَا فِيهِ جَاءَ الْمَوْتُ بِمَا فِيهِ . رواه الترمذي.

به ولاړ سو او فرمايل به يې اې خلكو ! الله ﷻ ياد كړئ، الله ﷻ ياد كړئ . زلزله راغلل او ددې څخه وروسته راتلونكې ده ، او ددې څخه وروسته مرګ راغلی سره د هغې چې په هغه كې دي ، مرګ راغلی سره د هغه چې په هغه كې دئ . ترمذي.

**مرګ او قبر ډير يادول**

(٥١٢٠): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِصَلٰوةٍ فَرَأَى نَاسًا كَأَنَّهُمْ يَكْتَشِرُونَ قَالَ أَمَا إِنَّكُمْ لَوْ أَكْثَرْتُمْ ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ لَشَغَلَكُمْ عَمَّا أَرَى الموت فَأَكْثِرُوا ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ الْمَوْتِ فَإِنَّهُ لَمْ يَأْتِ عَلَى الْقَبْرِ يَوْمٌ إِلَّا تَكَلَّمَ فَيَقُولُ أَنَا بَيْتُ الْغُرْبَةِ وَأَنَا بَيْتُ الْوَحْدَةِ وَأَنَا بَيْتُ التُّرَابِ وَأَنَا بَيْتُ الدُّودِ وَإِذَا دُفِنَ الْعَبْدُ الْمُؤْمِنُ قَالَ لَهُ الْقَبْرُ مَرْحَبًا وَأَهْلًا أَمَا إِنْ كُنْتَ لَأَحَبَّ مَنْ يَمْشِي عَلَى ظَهْرِي إِلَيَّ فَإِذْ وُلِّيتُكَ الْيَوْمَ وَصِرْتَ إِلَيَّ فَسَتَرَى صَنِيعِيَ بِكَ قَالَ فَيَتَّسِعُ لَهُ مَدَّ بَصَرِهِ وَيُفْتَحُ لَهُ بَابٌ إِلَى الْجَنَّةِ وَإِذَا دُفِنَ الْعَبْدُ الْفَاجِرُ أَوِ الْكَافِرُ قَالَ لَهُ الْقَبْرُ لَا مَرْحَبًا وَلَا أَهْلًا أَمَا إِنْ كُنْتَ لَأَبْغَضَ مَنْ يَمْشِي عَلَى ظَهْرِي إِلَيَّ فَإِذْ وُلِّيتُكَ الْيَوْمَ وَصِرْتَ إِلَيَّ فَسَتَرَى صَنِيعِيَ بِكَ قَالَ فَيَلْتَئِمُ عَلَيْهِ حتى تختلف أَضْلَاعُهُ قَالَ و قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بأصابعه فَأَدْخَلَ بَعْضَهَا فِي جَوْفِ بَعْضٍ قَالَ وَيُقَيَّضُ لَهُ سبعون تِنِّينًا لَوْ أَنَّ وَاحِدًا مِنْهَا نَفَخَ فِي الْأَرْضِ مَا أَنْبَتَتْ شَيْئًا مَا بَقِيَتِ الدُّنْيَا فَيَنْهَسنه وَيَخْدِشْنَهُ حَتَّى يُفْضَى بِهِ إِلَى الْحِسَابِ قَالَ وَ قَالَ رَسُولُ

د حضرت ابو سعيد رضی الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ د لمانځه لپاره تشريف راوړ او وه يې ليدل چې ګويا خلك خاندي، رسول الله ﷺ وفرمايل : كه تاسو د خوندونو فنا كونكې شي زيات يادوئ نو هغه به تاسو ددې (خندا) څخه منع كړي كومه چې زه اوس وينم ، او هغه مرګ دئ، نو تاسو د خوندو فنا كونكې شي همېشه يادوئ چې مرګ دی، پښنه داده چې هيڅ داسې ورځ نه تيرېږي چې په هغه كې قبر نه وايي چې زه د غربت كور يم ، زه د يوازيوالي كور يم زه د خاورو كور يم او زه د چينجيانو كور يم ، هر كله چې مؤمن بنده قبر كې ښخ كړل سي نو قبر ورته وايي ستا راتلل دې مبارك وي ته يو پراخ ځاى ته راغلې ته د هغه خلكو څخه يې چې پر ماګرځيدل زما په نزد ته ډير غوره وې ، نن ورځ زه پر تا حاكم او قادر جوړ كړل سوې يم او ته مجبور زما په لور راغلى يې، نو ته به ډير ژر زما هغه نيك كار ووينې چې زه به يې ستا لپاره كوم ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل: بيا د هغه مؤمن لپاره قبر پراخه كړل سي څومره چې نظر كار كوي او د جنت لور ته به يوه دروازه خلاصه سي او هر كله چې فاجر او يا كافر بنده ښخ كړل سي نو قبر هغه ته وايي نه دي ستا

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا الْقَبْرُ رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ أَوْ حُفْرَةٌ مِنْ حُفَرِ النَّارِ. رواه الترمذي.

راتلل مبارك وي او نه قبر ستا لپاره پراخ شاى دئ ته په هغه ټولو خلکو کي چي پر ما ګرځيدل خراب وې، نن زه پرتا حاکم جوړ کړل سوی یم او ته مجبور زما په لور راغلی یې ته به وويني چي زه ستا سره څنګه خراب چلن کوم ، ددې ويلو سره رسول الله ﷺ وفرمايل : بيا قبر هغه کنبګاري تر دې چي د هغه پښتی د يوې څخه بلې خوا ته ووځي ، ابوسعيد راوي وايي ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ په خپلو ګوتو اشاره وکړه او يو د بله يې سره ننه ايستلې، ويلي دي رسول الله ﷺ چي بيا پر دې کافر اويا ماران وټاکل سي داسي ماران که په هغو کي يو هم پر مځکه پوه کړي نو تر قيامته پوري به پر مځکه باندي شنګيا نه وسي ، دا ماران به هغه چيچي تر څو چي دا بنده د حساب لپاره بوتلل سي ، د ابوسعيد راوي بيان دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : قبر د جنت د باغونو څخه يو باغچه ده يا د دوږخ د کندو څخه يوه کنده ده . ترمذي.

**د اخرت يېري سپين ږيری کړم**

﴿۵۱۲۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ جحيْفَةَ قَالَ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَدْ شِبْتَ قَالَ شَيَّبَتْنِي سورة هُوْدٌ وَاَخَوَاتُهَا . رواه الترمذي.

د حضرت ابو جحيفة ﷺ څخه روايت دئ چي صحابه کرامو ووېل: اې دالله رسوله ! تاسو سپين ږيري سواست، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : زه سورة هود او ددې په ډول نورو سورتونو (چي په هغو کي د قيامت او عذاب ذکر دئ) سپين ږيری کړم . ترمذي

﴿۵۱۲۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ أَبُو بَكْرٍ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَدْ شِبْتَ قَالَ شَيَّبَتْنِي هُوْدٌ وَالْوَاقِعَةُ وَالْمُرْسَلَاتُ وَعَمَّ يَتَسَاءَلُوْنَ وَإِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ. رواه الترمذي و ذكر حديث ابي هريرة لا يلج النار في كتاب الجهاد.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي حضرت ابوبكر صديق ﷺ ووېل: چي اې دالله رسوله ! تاسو سپين ږيری سواست ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : زه سورة هود ، سورة واقعه ، سورة مرسلات ، سورة نباء او سورة تکوير سپين ږيری کړم ، ترمذي ، او د ابوهريرة ﷺ حديث په كتاب الجهاد کي بيان سوی دئ .

## دريم فصل

**د صحابه کرامو ډېر احتياط**

﴿۵۱۲۳﴾: عَنْ أَنَسٍ قَالَ إِنَّكُمْ لَتَعْمَلُوْنَ أَعْمَالًا هِيَ أَدَقُّ فِي أَعْيُنِكُمْ مِنَ الشَّعَرِ إِنْ كُنَّا نعد عَلَى

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي تاسو داسي عمل کوئ چي ستاسو په نظر کي تر

عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْمُوبِقَاتِ يَعْنِي الْمُهْلِكَاتِ. رواه البخاري.

وربنستانو زيات نرى دئ (يعني ډير معمولي) مگر موږ به دا كارونه د رسول الله ﷺ په زمانه كي هلاكونكي كارونه شميرل. بخاري.

**د كوچنيو كوچنيو گناهو څخه هم پرهيز كوئ**

(۵۱۲۴): وَعَنْ عَائِشَةَ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا عَائِشَةُ إِيَّاكِ وَمُحَقَّرَاتِ الذنوب فَإِنَّ لَهَا مِنَ اللّٰهِ طَالِبًا. رواه ابن ماجة والدارمي والبيهقي في شعب الايمان.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: اي عائشي! خپل ځان د هغه گناهو څخه وساته چي هغه حقير او معمولي گڼل كيږي ځكه چي په دغه گناهونو سره د الله ﷻ د لوري يو مطالبه كونكى هم سته (يعني ملائكه). ابن ماجه، دارمي او بيهقي.

**حضرت عمر ؓ حضرت ابوموسى ؓ ته څه وويل؟**

(۵۱۲۵): وَعَنْ اَبِي بُرْدَةَ بْنِ اَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ لِي عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ هَلْ تَدْرِي مَا قَالَ اَبِي لِاَبِيكَ قَالَ قُلْتُ لَا قَالَ فَإِنَّ اَبِي قَالَ لِاَبِيكَ يَا اَبَا مُوسَى هَلْ يَسُرُّكَ اَنَّ إِسْلَامَنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِجْرَتَنَا مَعَهُ وَجِهَادَنَا مَعَهُ وَعَمَلَنَا كُلَّهُ مَعَهُ بَرَدَ لَنَا وَاَنَّ كُلَّ عَمَلٍ عَمِلْنَا بَعْدَهُ نَجَوْنَا مِنْهُ كَفَافًا رَاْسًا بِرَاْسٍ فَقَالَ ابوك لابي لَا وَاللّٰهِ قَدْ جَاهَدْنَا بَعْدَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَلَّيْنَا وَصُمْنَا وَعَمِلْنَا خَيْرًا كَثِيرًا وَاَسْلَمَ عَلَى اَيْدِينَا بَشَرٌ كَثِيرٌ وَإِنَّا لَنَرْجُو ذَلِكَ فَقَالَ اَبِي وَلَكِنِّي اَنَا وَالَّذِي نَفْسُ عُمَرَ بِيَدِه لَوَدِدْتُ اَنَّ ذَلِكَ بَرَدَ لَنَا وَاَنَّ كُلَّ شَيْءٍ عَمِلْنَا بَعْدَه نَجَوْنَا مِنْهُ كَفَافًا رَاْسًا بِرَاْسٍ فَقُلْتُ إِنَّ اَبَاكَ وَاللّٰهِ كَانَ خَيْرٌ مِنْ اَبِي. رواه البخاري.

د حضرت ابو بردة بن ابي موسى ؓ څخه روايت دئ چي ما ته عبدالله بن عمر ؓ وويل ايا تا ته معلومه ده چي زما پلار ستا پلار ته څه ويلي وه؟ ما ورته وويل يا ما ته نه ده معلومه، عبد الله وويل: زما پلار ستا پلار ته ويلي وه چي اي ابو موسى! ايا دا خبره تا ته ښه معلوميږي چي زموږ اسلام د رسول الله ﷺ د بعثت سره وو او زموږ هجرت د رسول الله ﷺ سره وو او زموږ جهاد د رسول الله ﷺ سره وو او زموږ ټول اعمال د رسول الله ﷺ سره وه، چي زموږ دمال غنيمت په ډول دي (يعني ثابت او بر قرار) او د رسول الله ﷺ څخه وروسته چي كوم اعمال موږ كړي دي لكه د هغه څخه چي موږ سرپه سر خلاص سو نو زموږ لپاره دا بس ده، ستا پلار ددې په اوريدو سره زما پلار ته وويل: يا داسي نه ده قسم په خداى د رسول الله ﷺ څخه وروسته موږ جهاد وكړ، موږ لمونځ وكړ، موږ روژې ونيولې او موږ ډير نيك عملونه وكړل او زموږ په لاس ډير خلك مسلمانان سول او اميد دئ چي موږ ته ددې عملونو ثواب تر لاسه سي، ددې اوريدو سره زما پلار ورته

وويل : مگر زه په هغه ذات قسم خورم چي د هغه په لاس كي د عمر ساه ده زه داخوبنوم چي كوم اعمال مونږ كړي دي هغه ثابت او بر قرار دي او كوم اعمال چي مونږ د رسول الله ﷺ څخه وروسته كړي دي د هغو څخه مونږ سر په سر خلاص سوو ، ددې اوريدو سره ما وويل قسم په خداى ستا پلار زما د پلار څخه غوره وو . بخاري.

## د نهو خبرو حكم

﴿۵۱۲۶﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَنِيْ رَبِّيْ بِتِسْعٍ خَشْيَةِ اللّٰهِ فِي السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ كلمة الْعَدْلِ فِي الْغَضَبِ وَالرِّضٰى وَالْقَصْدِ فِي الْفَقْرِ وَالْغِنٰى وَأَنْ أَصِلَ مَنْ قَطَعَنِيْ وَأُعْطِيَ مَنْ حَرَمَنِيْ وَأَعْفُوَ عَمَّنْ ظَلَمَنِيْ وَأَنْ يَكُوْنَ صَمْتِيْ فِكْرًا وَنُطْقِيْ ذِكْرًا وَنَظَرِيْ عِبْرَةً وَآمُرَ بِالْعُرْفِ وَقِيْلَ بِالْمَعْرُوْفِ . رواه رزين.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما پروردگار ما ته د نهو (۹) خبرو حكم راكړى دئ (او هغه دادي): (۱) : په ظاهر او باطن كي د الله ﷺ څخه بيريدل (۲) د غصې او رضا مندى په حالت كي رښتيا ويل (۳) په فقر او غنا كي ميانه روي كول (۴) څوك چي زما سره تعلق قطع كوي زه د هغوئ سره هم قرابت او خپلوي ساتم (۵) زه هغه سري ته هم وركوم څوك چي ما محروم كوي (۶) څوك چي پر ما ظلم وكړي زه د بدلي اخيستلو سربيره هغه معاف كرم (۷) زما پته خوله دي غور او فكر وي (۸) زما وينا دي ذكر الهي وي (۹) او زما نظر دي عبرت تر لاسه كولو لپاره وي او زما پروردگار دا حكم كړى دئ چي زه امر باالمعروف او نهي عن المنكر وكرم . رزين .

## د الهي بيري څخه ژړا

﴿۵۱۲۷﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ عَبْدٍ مُؤْمِنٍ يَخْرُجُ مِنْ عَيْنَيْهِ دُمُوْعٌ وَإِنْ كَانَ مِثْلَ رَأْسِ الذُّبَابِ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ثُمَّ يُصِيْبُ شَيْئًا مِنْ حُرِّ وَجْهِهِ إِلَّا حَرَّمَهُ اللّٰهُ عَلَى النَّارِ. رواه ابن ماجة.

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله ﷺ هيڅ مؤمن بنده داسي نه وي چي د هغه د سترگو څخه د الله ﷺ په بيره كي اوښكي و بهيږي كه څه هم چي هغه اوښكي د مچ د سر برابر وي بيا هغه اوښكي د هغه د مخ يو حصې ته ورسيږي خو دا چي الله تعالى پر هغه د دوږخ اور حرام كړي . ابن ماجه .

# بَابُ تَغيْر النَّاسِ

## (د خلکو د حالاتو د بدلون بيان)

## لومړی فصل

**د خلکو قحطي**

| | |
|---|---|
| (۵۱۲۸): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا النَّاسُ كَالْإِبِلِ الْمِائَةِ لَا تَكَادُ تَجِدُ فِيهَا رَاحِلَةً. متفق عليه. | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: انسان د سلو اوښانو په ډول دي چي په هغو کي به ته يو د سپرلۍ وړ تر لاسه نه کړې. بخاري او مسلم. |

**د مسلمانانو په باره کي يو پيشگويي**

| | |
|---|---|
| (۵۱۲۹): وَعَنْ أَبِي سَعِيد قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَتَتَّبِعُنَّ سَنَنَ مَنْ قَبْلَكُمْ شِبْرًا بِشِبْرٍ وَذِرَاعًا بِذِرَاعٍ حَتّٰى لَوْ دخلوا جُحْرَ ضَبٍّ تبعتموهم قيل يَا رَسُولَ اللّٰهِ الْيَهُودَ وَالنَّصَارٰى قَالَ فَمَنْ. متفق عليه. | د حضرت ابو سعيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو خلك به يقينا د هغو خلکو د طريقو پيروي کوئ کوم چي ستاسو مخکي تير سوي دي ، لوېشت برابر د لوېشت او لاس برابر د لاس تر دي که هغوئ د سمسارې په سوري کي |

ننوځي نو تاسو به هم په هغه کي ننوزئ ، پوښتنه وسول اې د الله رسوله ! (ايا ستاسو مراد) يهود او نصارا دي، رسول الله ﷺ وفرمايل: (هغوئ نه نو) نور څوك ؟ بخاري ا ومسلم.

**په دنيا کي درجه په درجه بنه خلک کميږي**

| | |
|---|---|
| (۵۱۳۰): وَعَنْ مِرْدَاسٍ الْأَسْلَمِيِّ قَالَ قَالَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْهَبُ الصَّالِحُونَ الْأَوَّلُ فَالْأَوَّلُ و تبقى حُفَالَةٌ كَحُفَالَةِ الشَّعِيرِ أَوِ التَّمْرِ لَا يُبَالِيهِمُ اللّٰهُ بَالَةً. رواه البخاري. | د حضرت مرداس اسلمي ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: نيك بخت خلك به يو په بل پسې مره کيږي او بيکاره خلك به پاته سي چي الله تعالى د اوربشو د پرور يا د خرماوو |

د هډوکو په ډول د هغوئ پروا نه کوي. بخاري.

# دويم فصل

**يو پيشګوئي چي صحيح ثابته سوه**

(۵۱۳۱): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا مَشَتْ أُمَّتِي الْمُطَيْطِيَاء وَخَدَمَهُم أَبْنَاءُ الْمُلُوكِ أَبْنَاءُ فَارِسَ وَالرُّومِ سلطَ اللّٰه شِرَارُهَا عَلَى خِيَارِهَا. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چي زما د امت خلك په تكبر سره ګرځي او خدمت وكړي د دوئ زامنو د فارس او روم د پاچاهانو د اولاد نو الله تعالى به ددې امت خراب خلك پر ښو خلكو مسلط كړي. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

**قيامت به كله قائم سي**

(۵۱۳۲): وَعَنْ حُذَيْفَةَ أَنَّ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَقْتُلُوا إِمَامَكُمْ وَتَجْتَلِدُوا بِأَسْيَافِكُمْ وَيَرِثَ دُنْيَاكُمْ شِرَارُكُمْ. رواه الترمذي.

د حضرت حذيفه ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: قيامت به تر هغه وخته پوري نه راځي تر څو پوري چي تاسو خپل امام قتل نه كړئ او په خپل منځ كي يو بل په توره ونه وهئ او ستاسو ددنيا مالكان ستاسو شرير او بد خلك نه سي. ترمذي.

**د قيامت يوه نښه**

(۵۱۳۳): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَكُونَ أَسْعَدَ النَّاسِ بِالدُّنْيَا لُكَعُ ابْنُ لُكَعٍ. رواه الترمذي والبيهقي في دلائل النبوة.

د حضرت حذيفه ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: قيامت به تر هغه وخته پوري نه راځي تر څو پوري چي په دنيا كي تر ټولو زيات نصيب خور او شتمن هغه كس نه سي چي احمق (بې عقله) وي او د بې عقل زوی وي. ترمذي او بيهقي.

**د عيش او راحت ژوند**

(۵۱۳۴): وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ الْقُرَظِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي مَنْ سَمِعَ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ قَالَ إِنَّا لَجُلُوسٌ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ فاطَّلَعَ علينا مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ مَا عَلَيْهِ إِلَّا بُرْدَةٌ لَهُ مَرْقُوعَةٌ بِفَرْوٍ فَلَمَّا رَآهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت محمد بن كعب قرظي ﷺ څخه روايت دئ چي ما ته يو سړي بيان وكړ چي هغه د حضرت علي بن ابي طالب ﷺ څخه اوريدلي وه يعني حضرت علي ﷺ وويل: موږ خلك په مسجد نبوي كي د رسول الله ﷺ سره ناست وو

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَكَى لِلَّذِي كَانَ فِيهِ مِنَ النِّعْمَةِ وَالَّذِي هُوَ فِيهِ الْيَوْمَ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ بِكُمْ إِذَا غَدَا أَحَدُكُمْ فِي حُلَّةٍ وَرَاحَ فِي حُلَّةٍ وَوُضِعَتْ بَيْنَ يَدَيْهِ صَحْفَةٌ وَرُفِعَتْ أُخْرَى وَسَتَرْتُمْ بُيُوتَكُمْ كَمَا تُسْتَرُ الْكَعْبَةُ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ نَحْنُ يَوْمَئِذٍ خَيْرٌ مِنَّا الْيَوْمَ نَتَفَرَّغُ لِلْعِبَادَةِ وَنُكْفَى الْمُؤْنَةَ قَالَ لَا انتم الْيَوْمَ خَيْرٌ مِنْكُمْ يَوْمَئِذٍ. رواه الترمذي.

چي مصعب بن عمير راغلئ د هغه پر بدن هغه وخت يو څادر وو چي په هغه کي د پوست پيوند لګيدلی وو ، د هغه په ليدو سره رسول الله ﷺ په ژړا سو (او وه يې فرمايل: په يوه زمانه کي هغه (يعني مصعب) څومره خوشحاله وو او نن د هغه څه حالت دئ ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه وخت به ستاسو څه حال وي چي په سهار کي يوه جوړه (جامي) اغوندئ او په ماښام کي بله جوړه او ستا مخته د خوراك يوه پياله کښېښودل سي او بله پورته کړل سي ، او پر خپلو کورونو به داسي پردې واچوئ لکه څرنګه چي پر کعبه اچول سوي ده ، صحابه کرامو وويل: اي د الله رسوله ! موږ به په هغه ورځ د نن څخه په غوره حال کي يو ځکه چي موږ ته به هغه وخت د عبادت لپاره ډير وخت تر لاسه سي او د محنت او بوختيا څخه به بې فکره يو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :يا ، (داسي نه ده بلکه) نن ورځ تاسو د هغه ورځي څخه غوره ياست . ترمذي .

### د فسق او فجور په وخت کي به پر دين قائمېدل مشکل سي

(۵۱۳۵): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ الصَّابِرُ فِيهِمْ عَلَى دِينِهِ كَالْقَابِضِ عَلَى الْجَمْرِ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب اسنادا.

د حضرت انس ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: يوه زمانه به پر خلکو داسي راسي چي په هغه کي به پر دين صبر کونکی د هغه سړي په ډول وي چي هغه په خپل موټ کي سکروټه اخيستی وي . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی په اسنادو کي .

### ژوند ګټه به وي او مرګ ګټه

(۵۱۳۶): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ أُمَرَاؤُكُمْ خِيَارَكُمْ وَأَغْنِيَاؤُكُمْ سُمَحَاءَكُمْ وَأُمُورُكُمْ شُورَى بَيْنَكُمْ فَظَهْرُ الْأَرْضِ خَيْرٌ لَكُمْ مِنْ بَطْنِهَا وَإِذَا كَانَ أُمَرَاؤُكُمْ شِرَارَكُمْ وَأَغْنِيَاؤُكُمْ بُخَلَاءَكُمْ وَأُمُورُكُمْ

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي ستاسو اميران ستاسو غوره خلك وي او شتمن ستاسو سخيان وي او ستاسو کارونه په خپل منځ کي په مشورې سره کيږي نو هغه وخت به د مځکي شا ستاسو لپاره د مځکي د نس څخه غوره وي

إِلَى نِسَائِكُمْ فَبَطْنُ الْأَرْضِ خَيْرٌ لَكُمْ مِنْ ظَهْرِهَا . رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

(يعني ژوند به مو تر مرگ غوره وي) او هر كله چي ستاسو اميران شرير او بد خلك وي او ستاسو شتمن بخيل وي او ستاسو كارونه ستاسو د ښځو په لاس كي وي نو دغه وخت به ستاسو لپاره د مځكي نس د مځكي تر شا غوره وي . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ .

**د دنيا سره محبت او د مرگ څخه بېره**

(۵۱۳۷): وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوشِكُ الْأُمَمُ أَنْ تَدَاعَى عَلَيْكُمْ كَمَا تَدَاعَى الْأَكَلَةُ إِلَى قَصْعَتِهَا فَقَالَ قَائِلٌ وَمِنْ قِلَّةٍ نَحْنُ يَوْمَئِذٍ قَالَ بَلْ أَنْتُمْ يَوْمَئِذٍ كَثِيرٌ وَلٰكِنَّكُمْ غُثَاءٌ كَغُثَاءِ السَّيْلِ وَلَيَنْزِعَنَّ اللّٰهُ مِنْ صُدُورِ عَدُوِّكُمُ الْمَهَابَةَ مِنْكُمْ وَلَيَقْذِفَنَّ فِي قُلُوبِكُمُ الْوَهْنَ قَالَ قَائِلٌ يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَمَا الْوَهْنُ قَالَ حُبُّ الدُّنْيَا وَكَرَاهِيَةُ الْمَوْتِ. رواه ابوداؤد والبيهقي في دلائل النبوة.

د حضرت ثوبان ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د گمراه خلكو ډلي نژدې دي چي په هغوئ كي ځيني خلك به ستاسو سره د جنگېدو او ستاسو د شان او شوكت ختمولو لپاره راوغوښتل سي لكه څرنگه چي خوراك خورونكي يو ډله بله ډله د خوراك لپاره بولي ، ددې اوريدو سره صحابه كرامو كي يو چا پوښتنه وكړه ايا هغه خلك به په دې وجه پر موږ غلبه وكړي چي موږ به هغه وخت په شمير كم يو ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هغه زمانه كي به تاسو په ډير شمير كي ياست مگر داسي لكه څرنگه چي د درياب يا ويالېو پر غاړه د اوبو خګ وي (يعني تاسو به ډير كمزوري ياست) ستاسو رعب او هيبت به ددښمنانو د زړونو څخه ووځي او ستاسو په زړونو كي به ضعف او سستي پيدا سي ، بو چا وويل: اي دالله رسوله ! وهن (ضعف او سستي) څه شي ده ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ددنيا مينه او د مرگ څخه بيزاري . ابوداؤد او بيهقي .

## دريم فصل

**يو خو بدي، او د هغو گناه**

(۵۱۳۸): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَا ظَهَرَ الْغُلُولُ فِي قَوْمٍ إِلَّا أَلْقَى اللّٰهُ فِي قُلُوبِهِمُ الرُّعْبَ وَلَا فَشَا الزِّنَا فِي قَوْمٍ إِلَّا كَثُرَ فِيهِمُ الْمَوْتُ وَلَا نَقَصَ قَوْمٌ الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ إِلَّا قُطِعَ عَنْهُمُ الرِّزْقُ وَلَا حَكَمَ قَوْمٌ بِغَيْرِ الْحَقِّ إِلَّا فَشَا فِيهِمُ الدَّمُ وَلَا خَتَرَ قَوْمٌ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي په كوم قوم كي د غنيمت په مال كي د خيانت پيدا سي نو الله تعالى د هغوئ په زړونو كي د دښمن رعب پيدا كړي او په كوم قوم كي چي زنا كاري خپره سي نو په هغوئ كي مرگونه زيات كيږي او

بِالْعَهْدِ إِلَّا سُلِّطَ عَلَيْهِمُ الْعَدُوُّ . رواه مالك.

كوم قوم چي په تول كي كمي كوي نود هغوي رزق به پورته سي او كوم قوم چي ناحق حكم كوي نو په هغوئ كي به ويني تويول يعني وژل خپريږي او كوم قوم چي قول او وعده ماتوي پر هغوئ به دښمن مسلط كيږي . مالك .

# بَابُ الْاِنْذَار وَالتَّحْذِيْر

## (د ويرولو او نصيحت كولو بيان)

## لومړی فصل

### د خدای ﷻ احكام

(٥١٣٩): عَنْ عِيَاضِ بْنِ حِمَارٍ الْمُجَاشِعِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ذَاتَ يَوْمٍ فِي خُطْبَتِهِ أَلَا إِنَّ رَبِّي أَمَرَنِي أَنْ أُعَلِّمَكُمْ مَا جَهِلْتُمْ مِمَّا عَلَّمَنِي يَوْمِي هٰذَا كُلُّ مَالٍ نَحَلْتُهُ عَبْدًا حَلَالٌ وَإِنِّي خَلَقْتُ عِبَادِي حُنَفَاءَ كُلَّهُمْ وَإِنَّهُمْ أَتَتْهُمُ الشَّيَاطِينُ فَاجْتَالَتْهُمْ عَنْ دِينِهِمْ وَحَرَّمَتْ عَلَيْهِمْ مَا أَحْلَلْتُ لَهُمْ وَأَمَرَتْهُمْ أَنْ يُشْرِكُوا بِي مَا لَمْ أُنْزِلْ بِهِ سُلْطَانًا وَإِنَّ اللّٰهَ نَظَرَ إِلَى أَهْلِ الْأَرْضِ فَمَقَتَهُمْ عَرَبَهُمْ وَعَجَمَهُمْ إِلَّا بَقَايَا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَقَالَ إِنَّمَا بَعَثْتُكَ لِأَبْتَلِيَكَ وَأَبْتَلِيَ بِكَ وَأَنْزَلْتُ عَلَيْكَ كِتَابًا لَا يَغْسِلُهُ الْمَاءُ تَقْرَؤُهُ نَائِمًا وَيَقْظَانَ وَإِنَّ اللّٰهَ أَمَرَنِي أَنْ أُحَرِّقَ قُرَيْشًا فَقُلْتُ رَبِّ إِذًا يَثْلَغُوا رَأْسِي فَيَدَعُوهُ خُبْزَةً قَالَ اسْتَخْرِجْهُمْ كَمَا أَخْرَجُوكَ وَاغْزُهُمْ نُغْزِكَ وَأَنْفِقْ فَسَنُنْفِقَ عَلَيْكَ وَابْعَثْ جَيْشًا نَبْعَثْ خَمْسَةً مِثْلَهُ وَقَاتِلْ بِمَنْ أَطَاعَكَ مَنْ عَصَاكَ. رواه مسلم.

د حضرت عياض بن حمار مجاشعي ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ يوه ورځ په خپله خطبه كي وفرمايل خبردار! الله تعالى ما ته دا حكم كړی دی چي زه درته دا خبره ښيم چي تاسو ته نه ده معلومه : الله تعالى نن ما ته د كومو خبرو تعليم راكړی دئ په هغو كي ځيني خبري دادي : (۱) الله تعالى دا فرمايلي دي كوم مال چي ما خپل يو بنده ته وركړی دی هغه حلال دی (۲) او الله تعالى دا فرمايلي دي ما خپل بندگان د حق په لور مائل كړي دي بيا هغوئ ته شيطانان راغلل او هغوئ يې د خپل دين څخه واړول ، او پر هغوئ يې هغه شيان حرام كړل كوم چي ما پر حلال كړي وه او شيطانانو هغوئ ته دا حكم وركړ چي زما سره هغه شی شريك كړي چي د هغه په شريكوالي كي هيڅ دليل نه دئ نازل سوی (۳) او الله تعالى دا فرمايلي دي چي الله پاك د مځكي پر اوسيدونكو نظر واچوئ نو عرب او عجم تولو باندي غضب ناك سو (ځكه چي هغوئ مشركان وه) مگر يوه ډله د اهل كتابو څخه (چي

مشركان نه وه، (۴) او الله تعالى وفرمايل چي ما (محمد ﷺ) ته په دې سبب پيغمبر راليږلى يې چي زه تا وازمويم او ستا سره ستا قوم هم و ازمويم . او ما تاته يو داسي كتاب درليږلى دئ چي هغه اوبه نسي خرابولاى يعني چي په زړونو كي خوندي وي چي ته به يې په خوب او ويښه كي ويلاى سې. (۵) او الله تعالى ما ته حكم راكړى دئ چي زه قريش وسوځم (يعني دقريشو كفار تباه او برباد كړم) ددې حكم اوريدو سره ما وويل: قريش خو به زما سر ميده كړي او د ډوډۍ په ډول به مي توټې توټې كړي ،وويل پروردگار ته هغوئ د وطن څخه وباسه لكه څرنگه چي يې ته د خپل وطن څخه ايستلى وې او د هغوئ سره جهاد وكړه موږ به ستاسو لپاره د جهاد سامان برابر كړو او په خپلو لښكر خرڅ كوه ، موږ به درته دخرڅ كولو انتظام وكړو تاسو د هغوئ په مقابله كي لښكر وليږئ موږ به ددښمن د لښكر پنځه برابر توان سره ستاسو مرسته وكړو او كومو خلكو چي پر تا ايمان راوړ او ستا فرمانبردار دي هغوئ د ځان سره ملگري كړه او د هغه خلكو سره جگړه وكړه چا چي نافرماني او سركښي كړې ده . مسلم .

### قريشو ته د اسلام دعوت

(۵۱۲۰): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ صَعِدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّفَا فَجَعَلَ يُنَادِي يَا بَنِي فِهْرٍ يَا بَنِي عَدِيٍّ لِبُطُونِ قُرَيْشٍ حَتَّى اجْتَمَعُوا فَقَالَ أَرَأَيْتَكُمْ لَوْ أَخْبَرْتُكُمْ أَنَّ خَيْلًا بِالْوَادِي تُرِيدُ أَنْ تُغِيرَ عَلَيْكُمْ أَكُنْتُمْ مُصَدِّقِيَّ قَالُوا نَعَمْ مَا جَرَّبْنَا عَلَيْكَ إِلَّا صِدْقًا قَالَ فَإِنِّي نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ فَقَالَ أَبُو لَهَبٍ تَبًّا لَكَ سَائِرَ الْيَوْمِ أَلِهَذَا جَمَعْتَنَا فَنَزَلَتْ تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ. متفق عليه.
وفي رواية نادى يا بني عبد مناف انما مثلي ومثلكم كمثل رجل راى العدو فانطلق يربا اهله فخشي ان يسبقوه فجعل يهتف يا صباحاه.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي كله دا آيت نازل سو (وانذر عشيرتك الاقربين: و بيروه خپل نژدې خپلوان، نو نبي كريم ﷺ د صفا غونډۍ ته وختى او په لوړ آواز يې قومونه را بلل چي اې بني فهرو!، اې بني عديو!، د قريشو فرقو ته يې دعوت وركوى . كوم وخت چي ټول خلك راجمع سول نو رسول الله ﷺ وفرمايل: كه زه تاسو ته دا ووايم چي دغه شيلې ته يو لښكر را كښته سوى دئ او پر تاسو حمله كول غواړي نو ايا تاسو به زما خبره رښتونې وگڼئ ؟ قريشو وويل هو ته هميشه زموږ په تجربه كي رښتونى ثابت سوى يې ، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: زه د الله جل جلاله د لوري په بيرولو مامور سوى يم ، ستاسو په وړاندې سخت عذاب موجود دئ ، ددې اوريدو سره ابولهب وويل پر تا دې ټوله ورځ هلاكت وي ايا تا ددې لپاره موږ راجمع كړي يو ، پر دې خبره باندې سورة نازل سو (تبت يدا ابي

لهب) : د ابولهب دواړه لاسونه دي هلاك سي ، بخاري او مسلم ، او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ قريش يو ځاى كړل او ورته وه يې فرمايل : اي د عبدمناف اولاده ! زما او ستاسو حال د هغه چا په ډول دئ چي هغه ددښمن لښكر وويني بيا هغه خپل قوم ددښمن څخه د ژغورولو لپاره پر يو غره باندي وخيژوي مګر بيا ددې بيري څخه چي دښمن د هغه ترمخه ونه رسيږي د هغه غره څخه دا ويل شروع كړي يا صباحاه (يعني د دښمن څخه ځان وساتئ) بخاري.

(۵۱۲۱): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ دَعَا النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُرَيْشًا فَاجْتَمَعُوا فَعَمَّ وَخَصَّ فَقَالَ يَا بَنِي كَعْبِ بْنِ لُؤَيٍّ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ يَا بَنِي مُرَّةَ بنِ كَعْبٍ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ يَا بَنِي عَبْدِ شَمْسٍ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ يَا بَنِي عَبْدِ مَنَاف أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ يَا بَنِي هَاشِمٍ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ يَا بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ يَا فَاطِمَةُ أَنْقِذِي نَفْسَكِ مِنَ النَّارِ فَإِنِّي لَا أَمْلِكُ لَكُمْ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا غَيْرَ أَنَّ لَكُمْ رَحِمًا سَأَبُلُّهَا بِبَلَالِهَا. رواه مسلم. وفي المتفق عليه قَالَ يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ اشْتَرُوا أَنْفُسَكُمْ لَا أُغْنِي عَنْكُمْ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا و يَا بَنِي عَبْدِ مناف لَا أُغْنِي عَنْكُمْ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا يَا عَبَّاسَ بْنَ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ لَا أُغْنِي عَنْكَ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا يَا صَفِيَّةُ عَمَّةَ رَسُولِ اللَّهِ لَا أُغْنِي عَنْكِ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا يَا فَاطِمَةُ بِنْتَ رَسُولِ اللَّهِ سَلِينِي مَا شِئْتِ من مالي لَا أُغْنِي عَنْكِ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي كله دا آيت نازل سو (وانذر عشيرتك الاقربين) : يعني خپل نږدې خپلوان وبيروه، نو رسول الله ﷺ قريش راجمع كړل ، كله چي هغوئ يو ځاى سول نو رسول الله ﷺ په خطاب كي تعميم وكړ او تخصيص هم (يعني د ليري نيكه چي ټول پكښي شامل وه او په نامه د نږدې نيكه چي ځيني پكښي شامل وه را وه بلل) هغوئ يې مخاطب كړل او ورته وه يې فرمايل : اي د كعب بن لوئي اولادې ! خپل ځان ددوږخ داور څخه وساتئ ، اي د مروه بن كعب اولاده ! ځان ددوږخ څخه وساتئ ، اي د عبدشمس اولادې ! ځانونه ددوږخ څخه وساتئ ، اي د عبدمناف اولادې ! خپل ځان د اور څخه وژغورئ، اي د هاشم اولادې ! ځانونه خپل مو د دوږخ څخه وساتئ، اي د عبدالمطلب اولادې ! ځانونه مو د دوږخ څخه وساتئ، اي فاطمې ! خلاصه كړه ځان خپل د دوږخ څخه، ځكه چي زه د الله ﷻ د لوري د يو شي مالك نه يم ،البته پر ما ستاسو د خپلوۍ حق دئ چي زه يې د خپلوۍ په لوندوالي لوندوم . مسلم او په متفق عليه حديث كي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اي د قريشو ډلې ! خپل ځانونه (په ايمان راوړلو سره) رانيسي زه تاسو څخه ددوږخ اور نه سم ليري كولاى او اې دعبدمناف اولادې ! زه ستاسو څخه د الله عذاب نه سم دفع كولاى او اي

عباس بن عبدالمطلب زه تا د الله ﷺ د عذاب څخه خلاصولای نه سم او اې صفیې! (د محمد ﷺ عمه) زه تا د الله ﷺ د عذاب څخه خلاصولای نه سم او اې د محمد لورې! فاطمې زما د مال څخه چې څومره غواړې وه یې غواړه مګر تا د الله ﷺ د عذاب څخه نه سم خلاصولای.

## دویم فصل

### د محمدي امت فضیلت

(۵۱۲۲): عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمَّتِي هَذِهِ أُمَّةٌ مَرْحُومَةٌ لَيْسَ عَلَيْهَا عَذَابٌ فِي الْآخِرَةِ عَذَابُهَا فِي الدُّنْيَا الْفِتَنُ وَالزَّلَازِلُ وَالْقَتْلُ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابو موسی ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زما امت امت مرحومه (رحمت کړل سوی) دئ. په آخرت کې به پر دوی عذاب نه وي د دوی عذاب به دنیا کې فتنې دي، زلزلې دي او قتل دئ. ا بوداؤد.

### د مختلفو زمانو په باره کې پیشګوئي

(۵۱۲۳): وَعَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ وَمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ هٰذَا الْأَمْرَ بَدَأَ نُبُوَّةً وَرَحْمَةً ثُمَّ يَكُونُ خِلَافَةً وَرَحْمَةً ثُمَّ مُلْكًا عَضُوضًا ثُمَّ كَائِنٌ جَبْرِيَّةً وَعُتُوًّا وَفَسَادًا فِي الْأَرْضِ يَسْتَحِلُّونَ الْحَرِيرَ وَالْفُرُوجَ وَالْخُمُورَ يُرْزَقُونَ عَلَى ذٰلِكَ وَيُنْصَرُونَ حَتَّى يَلْقَوُا اللهَ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت ابو عبیده او معاذ بن جبل (رض) څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: دا امر (یعني دین) په نبوت او رحمت سره شرګند سوی دئ بیا به د خلافت او رحمت زمانه وي بیا به د ظالم پاچا دور وي او د هغه څخه وروسته دا کیدونکی دئ چې تکبر، له حده تېرېدل او فساد في الارض به وي هغه وخت به خلک د ریښمینو جامو اغوستل حلال ګڼي، د ښځو شرمګاوې او شراب به جائزوګرځوي او سربیره ددې چې هغوی ته به رزق ورکول کیږي او د هغوی مرسته به کیږي تر دې چې هغوی به د الله ﷺ سره یو ځای سي. بیهقي.

### د شرابو په باره کې یو پیشګوئي

(۵۱۲۴): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ أَوَّلَ مَا يُكْفَأُ قَالَ زَيْدُ بْنُ يَحْيَى الرَّاوِيُّ يَعْنِي الْإِسْلَامَ كَمَا يُكْفَأُ الْإِنَاءُ يَعْنِي الْخَمْرَ قِيلَ فَكَيْفَ يَا رَسُولَ اللهِ وَقَدْ بَيَّنَ اللهُ فِيهَا مَا بَيَّنَ قَالَ

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چې فرمایل یې: تر ټولو مخکې چې په اسلام کې کوم شی به واړول سي لکه څرنګه چې ډک لوښی اړول کیږي هغه به شراب وي